

# کوچیانی پانګه

د کوچیانو ژوند ژواک او ګړنې

خان خادم "کوچی"



# کوچیانی پانګه

(د کوچیانو ژوند ژواک او کوچیانی کړنې)

**یادونه:**
په ځینو ځایونو کې د دې پر ځای، چې (زمري له بریالي سره خبرې وکړې) لیکوال دا جمله داسې افاده کړې ده ("پ" له "پ" سره خبرې وکړې) هیله ده لوستونکي هېښنده نه کړي.

لیکوال:
خان خادم "کوچی"

PROPERTY OF ACKU
PROPERTY OF ARIC
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00008970 5

ACKU

# کتاب پېژندنه:


نوم : کوچیانی پانګه

لیکوال : خان خادم "کوچی"

خپروونکی : دانش خپرندویه ټولنه

کمپوزران : محمد نادر، حفیظ الله

چاپ نېټه : ۱۳۷۹_ وږی/ ۲۰۰۰_ ستمبر

چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

چاپځی : دانش کتابتون، قصه خوانی بازار، پېښور

تلیفون: ۲۵٦۴۵۱۳

PROPERTY OF ARIC

# د خپرندويې ټولنې يادښت

دانش خپرندويه ټولنه وياړي، چې د افغاني وياړمن فرهنګ د ودې او غوړېدا په لړ کې دا ځل د خان خادم "کوچي" د "کوچياني پانګې" خپراوي ته متې راونغښتې.

هيله ده خپراوی يې د ګرانو هېوادوالو د فولکوريکې تندې د خړوبولو لامل شي.

کوچياني پانګه چې د نننى افغان ملت د يوې پياوړې پوړۍ د ژوندانه پر فولکوريکه پانګه رڼا اچوي په حقيقت کې يې تر څه بريده د اصل اريايي توکم د ژوند ژواك د خلولو ښه هنداره بللی شو.

"*دانش خپرندويه ټولنه*" د هېواد د يوې خدمتګارې ټولنې په توګه د دې کتاب خپراوی د ځان لپاره وياړ بولي او د فولکوريك ډګر مينه والو ته يې په وړاندې کولو ځان سر لوړی کوي د ښه او بد د ارزونې نياو به ګرانو لوستونکيو ته پرېږدو د ليکوال د همداسې نورو ليکنو د خپرېدا په هيله.

*په درناوي*

*دانش خپرندويه ټولنه، پېښور*

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ACKU

# مننه

د خوږ غږي ویاند ښاغلي "ګوهر رحمان "ګوهر" له ادبي مینې او پښتو پالنې څخه مننه اړینه بریښي، چې همدې ښاغلي د "کوچیانی پانګې" د کمپوز لګښت پر غاړه اخیستی دی.

AOKU

# په نامه د لوی خدای

په اروا د خپل نیکه یانې زما د پلار پلار چې نوم یې په ډېر ادب او احترام سره یاد کړم،

نو به وایم

شهید "طوطي"

چې د ده جنازه د اوښ په شا له یوه ځای څخه بل ځای ته وړل شوې وه، سپین ږیری طوطی شهید ډېر د قوم په مخ کې ځورېدلی.

شهید طوطی ټول ژوند د خدایﷻ په بنده ګی او د قوم په خدمت کې تېر کړی دی، د خوست د لویې ولسوالۍ د سیمې د یوه مشهور پیر مرید و، نوم یې بل څه و، خو مشهور په ژیړي پیر و.

خوشال خان داسې وایي:

په جهان د نیکو نوم بویه خوشاله
چې یادګار به وي تر تلو هم تر تله

خادم

# فهرست


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د سر خبرې | ۱ |
| ۲ | دوه کسه کوچیان د مثال په ډول | ۸ |
| ۳ | د لېمڅي یا مینڅي جوړول | ۱۰ |
| ۴ | سڼی | ۱۴ |
| ۵ | د دوړکنی او د دړې کنی | ۱۸ |
| ۶ | کوچیان له سنیو څخه څه جوړوي؟ | ۲۲ |
| ۷ | له پستکیو څخه څه جوړوي؟ | ۳۲ |
| ۸ | شودې لوشل او نور خواړه ... | ۴۰ |
| ۹ | له خینو شیانو څخه رنګ جوړوي | ۵۵ |
| ۱۰ | نګولی | ۵۶ |
| ۱۱ | د لاس کار (سکوئنې، کردار او ...) | ۵۹ |
| ۱۲ | بوخڅی | ۶۴ |
| ۱۳ | فاطو (لانځکه) | ۶۴ |
| ۱۴ | د ښځو بل ساعت تېری (فال) | ۶۶ |
| ۱۵ | ښځې په ښادیو کې | ۶۸ |
| ۱۶ | کیسی | ۱۲۹ |
| ۱۷ | مخی | ۱۳۲ |
| ۱۸ | سپین ګیرک | ۱۳۴ |
| ۱۹ | پاوکی | ۱۳۵ |
| ۲۰ | سړی په ښادیو کې | ۱۳۵ |
| ۲۱ | توره دېره او ډول | ۱۴۳ |
| ۲۲ | په کوچیانو کې لوبې | ۱۴۴ |
| ۲۳ | د اوښو، اوښانو بوده وو په ... | ۱۶۱ |
| ۲۴ | دواړه مال په ... | ۱۸۵ |
| ۲۵ | د وخت پېژندنه ... | ۲۲۳ |
| | هر ځلې خبرې | ۲۲۷ |


کوچیانی کرنې


| | |
|---|---|
| الف | ۲۲۸ |
| ب ـ | ۲۴۳ |
| پ ـ | ۲۶۵ |
| ت ـ | ۳۱۶ |
| ټ ـ | ۳۳۷ |
| ج ـ | ۳۴۳ |
| چ ـ | ۳۴۶ |
| ح ـ | ۳۵۲ |
| خ ـ | ۳۵۳ |
| څ ـ | ۳۷۴ |
| ځ ـ | ۳۸۲ |
| د ـ | ۳۸۶ |
| ډ ـ | ۴۱۶ |
| ر ـ | ۴۲۱ |
| ړ ـ | ۴۲۶ |
| ز ـ | ۴۲۸ |
| س ـ | ۴۳۹ |
| ش ـ | ۴۶۸ |
| ښ ـ | ۴۷۱ |
| ط ـ | ۴۷۴ |
| غ ـ | ۴۷۵ |
| ق ـ | ۴۸۷ |
| ک ـ | ۴۸۸ |
| ګ ـ | ۵۰۶ |
| ل ـ | ۵۱۹ |
| م ـ | ۵۵۲ |
| ن ـ | ۵۷۱ |
| و ـ | ۵۸۱ |
| ه ـ | ۵۹۴ |
| ي ـ | ۵۹۶ |

ag



# د سر خبرې

د سرخبرې تر سرليك لاندې غواړم چې لومړى ګرانو لوستونكو ته دا په ګوته كړم چې زه څه ليكم دا په هغه لهجه كې ليكم چې كوم خلك له ما راتاو دي دا هم كېداى شي چې ځينې محترم پوهاند ووايي چې له معياري ليكدود څخه يې ولې قلم اړولى دى د هغوى په مخكې دا عرض وړاندې كوم چې زما ليكنې د راتاو خلكو د خولې خبرې دي كليوال ادب يا د كليوالى ادب يوه برخه يادېږي نو زه له دې لهجې څخه نوره هېڅ مودا نلرم دا لهجه زما د ليكونو يوه برخه بولم.

كله كله به زړه راته وويل چې راشه ټول كتاب په دې لهجه كې وليكه بيا مې فكر وكړ چې كه ټول كتاب په دې لهجه كې وليكم دا به د ګرانو لوستونكو د ستړيا سبب شي له هغه څخه مې دا ښه وبلله چې د سرخبرې تر سرليك لاندې څه خبرې په دې لهجه كې د نمونې له پاره وليكم كه ستړي وي هم كمه به وي ګران لوستونكي به ساندره پرې تېرشي.

اوس راځم راتاو خلكو ته پسې تير شه- ما ويل د ګرانو لوستونكو به ډير فكرنه پې خراپيګي خير پيښكي ماته به هم زړه ته رانيږدې پوهاند ټنډه نه تروشه يې چې ولې له معياري ليكدود شكه په بله خوا تللى او دا به نه وايې څي اسپه يې بې كيزې كړې ده او كه بيا په دې‌لهر ليكلو تنډه راته تروه كړي داسې يې وبوله- نو په ستركو كې به يې د غوصې سري ناغې نه راته پيداڅكيګى تا سره خداى په ښكى مل سه- ګرانو لوستونو زما خپل يو كتاب "كوچى" په ۱۳۶۸ كال د سرطان په مياشت كې چاپ او بازار ته وړاند شوى و په "كوچى" كتاب كې مې هم د كوچيانو په باره كې يو څه

لیکلي وو. د کوچیانو د ژوند څه ناڅه عکس مې د ټولنې د لوستونکو مخې ته ایښی و. اوس خوښ یم چې خپل دا کتاب "د کوچي د ژوند بل اړخ" ستاسې قدرمنو لوستونکو په مخ کې ږدم ستاکور دې ودان سي "د کوچي د ژوند بل اړخ" داسې کتاب دی څو د کوچیانو خبرې پکې راټولې سوي باور وکړئ څې په دې لارکې ما قلم پورته کړی د مابل ارماند نه سته بې له دې څې ټولنې ته خدمت وکړم ګرانو ورونو نو زه څې هر شی ستاسې د خوشحالي لپاره لیکم نو د دې امید هم لرم څې تاسې به پې خوښ سی زه داته وایم څې زما لیکنې به ښې وي دا د کوچیانو د ژوند یو اړخ دی که ښه یې بولي او که بد یې بولئ لیکل نمونه یا عکس یې درښکاره کول زما کار ده ښه او بد ګڼل یې ستاسې کار دی.

دما په فکر او زه خپله کړن لاره دا بولم څې د موګ لپاره بایده دی څې هر شی ولیکو د ما په زړه خو د لیکونکی دا چاره وبولی څې په هر شي یو څه ولیکي نوره د ښه او بد "ګنده" بیزاندلو کار "چار" د لوستونو ته پریګدي هغه که د ځان لپاره کوم شي ښه بولي ښه به یې وبولي او که کوم شئ بد بولي بد به یې وبولی تا سره خداي(ج) ښه سه - که لیکوالان لوستونکو ته له هرلوري یا په هرشی یوڅه ولیکی او د هغوی مخې ته یې کېږدي نو هغه په خپله د ځان لپاره یوشي خوښه ولي شي او که په هر شي څه لیکل نه وي نو بیا به د نورو خلکو پوخڅي ګوري د پردیو په بوخڅي کي که هرڅه وي هغه به د موږ په ټولنه اثر کوي (کئ) اخر به یې خپله هستي له خاورو لاندي سي دوي به د پردیو هستي نیستي ته متازه وي.

تا له ایمان ځار سم ما ډیر داسې کتابونه لوستي دي څې په هغه باره کې زموږ په هېواد کې په غرونو او په پنډوپنډو کتابونه لیکل کیدای سي خو زموږ ځینې لیکوالان په ځای ددې څې خپله ځوله راوپلټي د پردیو کتابونه را ترجمه کوي خپلي ځولي ته لاس نه سي تېرولي زه له نورو کتابونو نه د ترجمې مخالف نه یم زه دهغه چا مخالف یم څې یو شي د ما په کور کې وي هغه یې لاندي اچولي وي (کوچیان څې کوم شی د ډیر وخت لپاره کیګدي وایې هغه مې لاندي کړي) د کوچیانو په استلا خپل لاندې کوي او د پردیو صفت راته کوي، هر وخت یې راته ښکاره کوي هرچېرته یې راته ستیي کوم افتخار څې د موږ د هېوادوالو په برخه سوي وي، هغه پریګدي د نورو پردیو شا راته تېوي څې دي داسې کړي دي او د ښاغي

داسې کارنامې دي د دې خبرې د ښه پوهې کېدلو له پاره يو کوچی داسې وايي پردې ته د خواخې خپل ته د ملا ماته ده د خپل مزه يې زياته ده.

تاله دين جارسم خپلې خزانې بايده دې څې راوپلټو او له دې سره سره نوروته هم لاس ورتېر کو کوم افتخار څې د مور د هېواد والو په برخه کېدای سي بايده دي څې هغه بهادري د دوی په تېر وخړو نو که د مور پلرونو نيکونو ميندو او نياگانو هستي يا نيستي د وخت خاورو لاندي کړه دا به د وخت د ليکوالانو گرم تيا وي د ما په فکر که هر څه وي ښه وي يا بد وي هغه راټول کو د ساتلو کوشش يې وکو.

تاکور په کلي کې ماتله سه - که د مور د نن وخت ليکوالان ديوي خبري په باره کې ووايې څې دا خبره د ليکلو ور نده کوم ارزښت نه لري نو دوي خو ښه وايي ځکه څې د دوي لپاره کوم ارزښت نلري څې دوي هروخت ورسره يا هره ورځ ورسره مخامخ کيګي د دوي له مخې تيريګي خو له بله لوري دهغه چا لپاره ډېر ارزښت او خوند لري څې هغه خبره يې نه وي اوريدلي او نه يې هغه وخت او هغه جاي ليدلي وي.

تاسره په نيکي مل سه - که مور او تاسې هريو فکر وکو څې يوه چاره يا يوه خبره د مور او تاسو د وراندي تيره سي په هغه وخت کې هغه کار يا خبري ته د مور وريام هم نه وي خو څې بيا کله اوبه له ورخه تيريسي مور ډير واري لاس پسي ټکولي دي کيداسي تاسو گرانو لوستونکو په تيرو خبرو پسې د ارماند لاس ټکولي وي يا په تيرو او بو پسي مو کره ټنګه ولي وي.

تاسره مل او سيګه - نو د ما دا کتاب "د کوچي د ژوند بل اړخ" يا دما نوري ليکني که نوري هيڅ وانه ارزي دومره خو به وارزي څې ګران لوستونکي يا د ټولني راپيداکيدونکی اولاد دا ووايي څې د مور د ټولنې يوي برخې يا د مور پخوانيو لاڅه څه کارونه کړي دا څه خنده ني وو يوه بله ښه لاره ولټوي په کتاب کې يادې خبرې به بدې ورته ښکاره سي د ځان له پاره به بله لار پيدا کړي چې په اساني سره به ځان پې ورسوي څې خبره لړ ښه بده بوله سي وايې عقل له بې عقله زده کېږي په فارسي کې يو متل لرو وايي داشته ايد به کار گرچه باشد زهر مار.

کورد په کلي کې سه - که په دې باره کې لږڅه درته وليکم بيجايه به نه وي څې کوچيان څه ځيل خلك دي اګر که ددې خبرو ياده مې په "کوچي" کتاب کې کړي ده خو دلته هم مناسب او ښه بولم څې يو څه وليکم کوچيان

ډیر اخلاص من په دین مذهب او وطن مین خلك دي ډیر ساده زړي دي د اسلام په نوم هري قرباني ته تیار دي له دین سره د مینې له امله ملایان او پیرخاني ډیري ښې پې لګیګي د علماء او پیرخانو د خبرو ډیر منونکي دي ډیره تابیه یې کوي هر وخت او هري خبري ته یې لاس په نامه څواب ورکوي که یو څوك په وصولي ډول له څانه ښه مسلمان جوړکي او په خپلو اصولو کې اسلام ډیر یادوي کوچیان له داسي خلکو سره ډیره مینه لري اګر که دهغه په عمل کې د مسلمان بویې هم نه وي خو دوي د قدر په سترګه ورته ګوري د پیرخانو په باره کې وایې دوي که هر رنګه دي خو پلرونه او نیکونه یې ښه خلك تیر سوي دي دا د ښو خلکو اولاده ده خپل مړي یې له نظره نه باسي لنډه یې دا څې د پیرخانو د پیرانو د اولادي، په باره کې ډیره ښه عقیده لري هروخت خپل څان د هغو دعا او نظرته اړ بولي د عالمانو د ملایانو په باره کې وایې څې ملا وایې هغه منه څې ملا کوي هغه مه کوه یعني په وینا او نصیحت یې عمل کوه په بدعمل پسې یې غوګ مه ګرزوه د خپل مالي توان په اندازه له دي خلکوسره ډیر لاس وړي چې وس یې کیګي سر نه تري غړوي.

ایمان د سلامت سه - په د علاوه په کوچیانو کې څیني قومونه او پښې ستانه یادیګي لکه ټول سیدان خو په سیدانو کې د پیشن، وکونړ سیدان، تور ناصر، خروټي، نیازي، میاخیل، ملاخیل، سلیمانزي، حسین خیل، خرسین (غرشین)، د منګلو په قوم کې نیفیا خیل، اینکي، متاني، وردګ ، میچن خیل، ګداخیل، دا خبره به هم هسي نه وي څې ووایم څې په دې پورته څیني قوموکې کیداي سي څې کوم یو ښه سړي تیر سوي وي یا پخوا یوه پښه (کورنی) کې ستانه یادیده خو په دي اوس وخت کې ټولوته د ستانه وو ویل کیګي او په دي قومو کې دم ګري هم زیات وي په دې برسیره د اخونډزاده او صاحب زاده هم ډیر ادب او احترام کوي ډېر د قدر په سترګه ورت ګوري داسي خلکو ته نذراني او شکرانې ورکوي په دې کې بیا د څینو کوچیان څانونه کلنګیان بولي هروخت کلنګ ورکوي ذکاتونه سرسایې او همداراز نګولې ورکوي هروخت دم او تعویز پې کوي دعا څیني غواړي.

کور د په کلي کې ماتله سه - غواړم یو څه خبري نوري درته مایانده کم لکه د کوچیانو په مسیر کې بایده دې کوم خویونه وي یا کوم صیفتونه څې مسیر ولري ښه مسیر یادیګې له هرڅ ړومبی د کوچیانو د مسیر ښه جاي

داده ځي بايده دي ځي مسـير ډير ميلمه نـوازوي خلكـو تـه مـړي وركـوي هروخت پـه ميلمنـو كـې دده ونـډه زياتـه وي ګواكـي ډير ميلمانـه مـړي تـه ولـي ډير سخي وي په ګوډه ماتـه كـې د خپـل او پـردي لـه مينـځه فـرق نـه كـوي دواړو تـه په يـوه سترګه ګوري لـه خلكـو سـره نرمـي كـوي پـه غـم او ښادي كـې د خلكـو احوال اخلي په تنګځه كـې د خلكـو مرسـته كـوي د هـرچـا پـه تبـه پيـكـۍ دسـي يـې وبولـه - لـه سـپين ګيـري سـره سـپين ګيـري وي لـه ځوان سـره ځوان وي لـه ښځې سره ښځه وي لـه واړه سـره اوړ ګوالـي- د هـرچـاپـه تبـه بيـل بيـل پوهيـكي "پيـكي" لـه هرچا سره د هغـه د پوهـي پـه انـدازه رويـه كولـي سـي بـل صفـت ښاي پـه مسـير كـې داوي ځي كسـير تـه نصيحـت كولـي سـي بـل داځي پـه كـوم جـاي كـې دي وي هلتـه بـايده دي ځي غلـط او بـې روشـه كـار هغـه ځوك ونـه كـې ځي دده نصيحت پـي لګيـږي كـه دي پـه كـوم ځاي كـې ځوك پـيزني يـا يـې نـه پـيزنې بـايد دې ځي دي خپـل وس وكـي كـه دي پـه كـوم ځاي كـې وو هلتـه غلـط او بـې لاري كـار كـېده او خپـل وسـي يـې ونـه كـه دي ملامـت ګنـل كيـږي بـل صفـت بـايده دي ځي پـه مسـير كـې دا وي ځي د هـر چـا تـر منـځ جنـګ پيـښ سـي اګر كـه دا جنـګ دده د خپلوانـو او پرديـو لـه مينـځه وي دده لـه پـاره بـايده دي ځي د هغـو ترمنـځ مينـځګړي سي د خلكـو لـه مينـځه كـواښ وكـړي دسـي يـې وښيـه- دي ګوراښندي سي هغـه سره ښېل كې په مينـځ كـې يـې خير وغـواړي مسير تـه بـايده دي كواښرنـدي وي جنګيـره نـه وي پـه اوراويـه تويـه وي تـېل نـه پـې وراړوي بـل ښه والـي دا هـم ښايـي ځي مسـير ولـري ځې كلـه پـه كـور او كلـي كـې بـه ښځه جلكـي او هلـك بـې لاري وويـنـي نصيحـت ورتـه وكـې كـه د وهلـو ضـرورت ورتـه پيـښ سـي بـايده دي ځي د وهلـو سـرفه هـم پـې ونـه كـي مسـير بـايده دي ځي ځومـره تريـخ وي هغومـره خـوګ هـم وي داسـې مسـير داسـې يـاديګي وايـې پلانـي كـه ځوك خيـري كـې ګنـډلي يـې هـم سـي ګوا - ځيـرول او ګنـډل يـې دواړه زده دي مسير بـايد پـه هيـڅ كـاركې خپـل شـخصي غرضونـه لـري هركـاريې بـايده دي د قـوم د ښيـګړې او پـائدي لپـاره وي كـه چـيري د بـل چا لـه مينـځه خفګان پيـښ سـي بـايد مسـير ورسـي هغـه خلـك زيـات خفګان تـه سـره پـري نـه ګدي كـه دده پـه وينـا سـره جوړيـګي دی يـې سره جـوړ كـي او كـه دده پـه وينـا نـه سـره جوړيـګي نـوري ممكنـه لاري د موضـو د حـل لـه پـاره ورتـه ولـټوي ښاي يو صفت داهم ولـري ځي قـوم شـر تـه پريـنګدي بـل هروخـت پـه قـوم پـرده راوالـي

خوار مه سي- د زلمي "ځوان" صيفتونه زلمی باید ډیر حيا ناك وي ډير توريالي وي خو داسي توريالي څې مسير ورته ووايې داكار "چار" وكه هغه چاره ډيره په منډه وكي اګر كه هغه كار د سر په بدل وي دی بيرته مسير ته خواب ورنه كي يايې په امر كې خنډ رانه ولي او كه بيا مسير ورته ووېل مه كوه زلمي هغه كار ونه كی بل دا صيفت باید ولري څې د ښځو مينځ ته ورغي بايده دي څې د ښځو په مينځ كې سترګې ګډې نه كی سترګې بې ضرورته ښځو ته نيغي ونه نيسي كه له ښځو سره د خبرو كولو ضرورت پيښ سي د زلمې لپاره بايده دی څي له يوې مسيري ښځې سره خبري وكي د زلمي بل صيفت دا هم ده څې مسيران سړي او ښځې په نامه بايد څې ونه بولي د هر مسير لپاره بايده دي څې يو نوم خوش كړي په هغه ټاكلي نامه يې وبولي كه داسي يې ونه كړه مسيران يې په خپل نامه وبلل داسي زلمی يا كسير نيغ سترګي بې شرم بې حيا بلل كيګي پرته له خپلوانو د ټولو سپين ګيرو او سپين سرو ليحاز بايد دی څې وكي له هغوي سره مرسته وكی د زلميو يو بل صيفت هم كوچيان كوي وايي پلاني زلمي پلاني رنګ يا مشهدي مولتاني لونګی په سر كړي يا داسي د پلاني زلمي پلاني ركم توېك په وګه كې وو پلاني ركم كمر بند يې له ملا ؤ سپين موټي جوهر داره پيشكوزه (بيبودي يې) وهلي وه په - غوګك كې يې پلاني ركم سكنې څړيده توري خومبك څنې[1] يې دغوګو له شاه وتلي وي تور نري نري بريت يې وو يا تور ببر ببر بريت يي وه سري سري ناغه داري سترګې يې وې له وليوېې غوړ خوتيدلي وو.

تا له مذهب جار شم - د ښځې صفتونه دادي څې ډيره حياناكه وي زبه نه وهي له هر چا سره كل كلي نه وهي په كور كې له ټولو خلكو سره يوه الو پتو كولي سي ښه پوختن او كنډل كولي سي سكوېي كولي سي، د مېلمه ښه خدمت كولي سي ښه خواړه برابرولي سي ښه ليمڅی، څرخي، شړي. دوستارخان په عمومي ډول ښه كنې اوبډې سي كالي خلكوته وراچولي سي څنګك لوښتي ورته كيښودي سي خاي جارو كولي سي په عمومي ډول خاي او جارو كولي سي بد همشينه او شوره ښنته نه وي (كلي ېكو) نه وي شوربشره نه وي وايې ميړونه غرونه دي ښځې يې اړمونه دي بايد داسي ښځه نه وي څې سړي په شر سرّه اړوي بايده دي څې شريره نه وي ګوزموزي هم نه وي وايې- بړه ولي كلي بړه وي ګوزموزي كلي ړنګه وي كوچيان وايې

---

١ - دابايد ووايمه چې ځني له غوكو څخه نه او ګده وي د اوګدو ځنو رواج له جهاد سره پېداسو.

ښځه چې ګوزموزي سې پټ میخونه وهي لنډه په دې ځي د کور په ټولو کارونو کې باید ښځه تکړه وي دوي وایي- په ښځو څوك کاروان "کاپیله" نه کوي خو ځي د کورکارونه کولی سي سپین ګیروو سپین سروته داوداسه اوبه ورکوي د کور او د کلي د خلکو زړه ساتي هر چاته جار او قربان کوي یو بل صیفت هم د ښځو کیږي وایي د پلاني ښځې ډیرښه چارګل په پزه وو، ښه ریښ سریې کړي وو یا دا هم وایي د پلاني ښځې اوګدې اوګدې کوڅې وې په کوڅیو کې یې شنې مرې اچولي وې، او ګدې اوګدې څنې یې په سر پورې کړي وې، شنه شنه خالونه یې وو، په سینه یو کې یې د زرتارو مزې اویدلی، وو یا داڅې دوینښتانو غټې غټې چوټۍ یې وې یا دا څې ټټریې له اصیلو روپیو ډك وو له غجریو یا له چتکیو او روپیو ډك وو لستوڼي یې ډك وو سره مرجان یې په غاړه وو مرغاچې یې په غاړه وې د مریو غاړه کې یې له غاړې وې وګی یې له غاړې وه غوټۍ یې له غاړې وې پیل وتري یې اچولي وې ښه سکنې یې په غوګو وو ګوګرې یې اچولي وې ایتی یې په سر کړي وې باوګان یې په لاس وو وښي یې په لاس وو بنګړي یې په لاس وو پایځي یې په مخ کړي وې ټول بول لکه په ګورت کې نیولي داسې کمیس یې وو دوه لمنې کمیس یې وو چم چم یا چمته چمته لمن یې اوښته رنګه بنګه ځواني یې وه او داسې نورې ډېرې خبرې دي چې د ښځې صفت بلل کیګی

له خیره سره - اوس په پیغله یا جلکۍ راواخلو له ټولو ښه صیفت په پیغله کې داده ځې ډېره حیاناکه وي یوه خبره په اشرفی نه کوي په هرځای کې کینی نه (کینینه) سترګې یوه او بل لورته نه اړوي ډیره غاوره وي ښه قوي (پلونده) وي ښه کارپوره وي له ولیو نه یې غوږ ځوتیدلي وي نور صفتونه یې دا هم بلل کیګي وایي پلاني پیغلي پرتوګګ په ګونځو واهه غلبیلی (ټیك) یې په ټنډه وو تور پیکی یې په مخ را پروت وو توري توري کړاچې کوراچې بوچکی یې وي (بچکی) ښه وچته وه ثاراسته نه وه او دا چې ښه کردار کوي یاډیر کردارونه یې وکړه ښه سکوي یې ده خو باید ووایم ځې ښه صیفت یې حیا ده او کمې خبرې یې دي ځې وایي پلاني داسې پیغله ده ځې غابن یې په امبور وباسې یوه خبر نه کوي په عمومي ډول په کوچیانو کې مرتبت انسان د خلکو بد ایسې دوي وایي مرتبت بلا له کوت مرتبت هغه چاته وایي ځې نه خواګه لري نه ترخه لري ( نه خوګك وي او نه تریخ وي) هر وخت او په هر کار کې نور خلك له ځانه رومبی کوي بل

داچې کوچیان مرزواند او ناراسته انسان هم نه نه ایسئ زه دې جارسمه یې- داوي څو لواړې لواړې خبرې څې د کوچیانو په باره کې مې ستاسو ګرانو لوله ونکو په مخکې وړاندې کړې دسې یې وبولې - څې دا مو ستاسې د خوښی لپاره ولیکلې.

## دوه کسه کوچیان د مثال په ډول

دواړه څکه په یوه ځای لیکم چې په یوه موضوع پورې اړه پیدا کوي،البته یوه چاره په یوه وخت کې تېره شوې، بله په بل وخت کې دواړو کوچیانو دوه ترونه لرل، ترونونه په خپل زړه کې فکر کړې چې لوڼه لري وریرونو ته به یې ورکړي په جمله کې یې یو یادوم خو په اصل کې یو تره او وراره د یو قوم دي او دا بل تره او وراره د بل قوم د ، خیر دا کېدای شي چې ترونو له ډیر فکر وروسته داسې پروګرام جوړ کړي وي چې لور وراره ته ورکړي، دا یوه تره یوه ورځ خپل وراره راکښېنولی په ډېره مینه یې ورته ویل: زویه یا وراره، له ډېره وخته راهیسې مې زړه غوښتل چې تا ته ووایم، خو وخت مې نه شوای پیدا کولی اوس چې وخت پیدا شو او ته مې د بیازې پیدا کړې غواړم چې یادونه درته وکړم، زه دا یوه لور تا ته درکوم، زما دا پلانۍ لور وکړه، زما لور به هم پردې ځای ته نه وزي او ته به هم نه راځخه پردی کېږې، لور مې هم داسې لور نه ده چې له دې څخه ستا لپاره بله ښه ښځه پیدا شي، په دې نژدې وطن کې خو زما د لور ساری (بدیه) نه شته ته په خپله هم په دې پوه یې نو راځه چې زما لور دربانديې مبارکه کړم.

دې وراره خو تره ته په ډېر ادب او احترام سره خواب ورکړي وو، وراره ورته ویلي وو تره یا کاکا! تا ډېره ښه مهرباني وکړه، ډېرې ښې خبرې دې راته وکړې، ستا ټولې خبرې زما لپاره د قبول وړ دي او ستا په ټولو خبرو کښې زما فایده نغښتې ده، زه په دې هم پوه شوم چې ستا خبرې زما لپاره ډېرې دنیایي ګټې هم لري، بله دا چې زما د ټول ژوند له پاره د یو ښه پروګرام سنجولی، د ژوند لاځه چې ستا په خبرو کې زما د اخرت ګټې هم شته، خو زه ستا د خبرو په خواب کې یو عرض لرم، هغه دا چې زه تا ته قسم کوم چې ستا لور ما ته لکه پلانۍ خور داسې ښکاري، ډېره حیا دې وي، زما زړه دې خبرې ته نه پورته کېږي چې زه ستا لور وکړم، ستا لور زما خور ده ما ته له خور کمه نه ښکاره کېږي، دې کار ته زما ډډه نه لګېږي، ستا د لور نکاح کول زما په نفس ته هوارېږي دا خبره هېڅکله زما نفس ته

مني چې ستا لور دې زما ښځه وي دا کار زه نه شم کولی، زما عذر ومنه تره چې هر څومره وینا او نصیحت ورته وکه، وراره به یې په خواب کې دا ویل چې ستا لور ما ته لکه خور داسې ښکاري، دا خبره ما ته د منلو وړ نه ده زما خبره په قسم سره ومنه چې ستا لور ما ته لکه پلاتې خور داسې ښکاري، اخر یې تره عذر ومانه خپله لور یې بل چا ته ورکړه.

اوس راځم بل تره او وراره ته، دا وراره هم خپل تره راکښېنولی و. د خبرو په ترڅ کې یې ورته ویلي وو، وراره چې د تره په خوله کې دا خبره اورېدلې وه له هغه بل ځځه دا دوه ګوتې پاس و، تره لا خبره ورته خلاصه کړې نه وه، چې دی بیا ورته څیګ شوی و، ورته ویلي وو تره ته دا خبر ما ته کوې چې ستا لور وکړم، ته دا خبره ما ته کوې چې خور وکړم اې کافیره اې کافیره ته اوس په ما خپله خور نکاح کوې د ستا لور خو ما ته داسې ښکاري لکه پلاتې خور اوس زه ستا لور پلاتې خور په نکاح کړم بسکه بسکه چې نورې خبرې و نه کړې دا دومره وخت مې خپه کړی نه وې د پلار په سترګه مې درته کاته، داسې خبرې زما زړه نه مني ستا لور زما خور ده، دخبرې ته زه نه یم جوړ، بیخي هېڅ کله داخبره ما ته د قبول وړ نه ده، دی وراره داسې خواب ورکړی و چې د تره په خوله کې یې لا خبرې وچې کړې وې، دا وو دوه کسان کوچیان چې د تره لور ته یې د خور په سترګه کاته.

دې خبرې ته باید ډېر په ژور نظر وکتل شي چې زموږ په ټولنه کې کوچیان کوم مقام لري، دوی ته باید په کوم نظر وکتل شي اصل کوچیان که وکتل شي او د نن وخت فسادونه او فتنې وکتل شي او ځینې نورو وګړو ته وګورو نو دا به ووایو چې کوچیان په کومه بله دنیا کې اوسي او په بله دنیا کې اوسېدلي دي که داکثریت له مخې کوچیان له نورو وګړو سره مقایسه کړو نو دلته وینو چې وراره خپل تره ته داسې وایي: تره! زما زړه نه غواړي چې ستا لور په نکاح کړم، دا خبره زما نفس نه مني، زما زړه دې خبرې ته نه راپورته کېږي دا خبره زما په نفس نه هوارېږي چې ستا لور په نکاح کړم ستا لور زما خور ده.

له بل لوري د اکثریت په نظر کې نیولو کار به ګرانو لوستونکو تاسې ته پرېږدو چې اکثریت وګړي څه کوي کوم کارونه یې نفس مني او کوم یې نه مني.

# د لېمڅي (مېنڅي) جوړول

اوس به په هغو چارو سره پوه شو چې کوچیان له مالدارۍ څخه څه ډول ګټه پورته کوي او د خپل ضرورت کوم کوم شیان له دې لارې څخه پوره کوي، دلته به لومړی د لیمڅي جوړول وګورو:

لیمڅی کوچیان د وریو له وړیو څخه جوړوي، د لیمڅي د ګل لپاره د مېږو ښې کلوښتورې وړۍ په کاروي، د وریو وړۍ وتکول شي په لښته یا د نداف په واسطه چې کله وتکول شي، په خپل مېنځ کې وړۍ سره تاو کړي، هغو تاو کړو وړیو ته بوړۍ وایي، د مېږو کلوښته ورې وړۍ رنګه کړي، ښې یې وښوګه رې د ګڼ موتی او د ښې لاس د ګوتو په واسطه رنګین بوړۍ د ګل کېږدي له پاره نرۍ نرۍ بوړې جوړې کړي، د پسه د کولمو په اندازه په کومو شوړیو کې چې لیمڅي جوړوي، هغوی ته موره وایي، موره باید ډېره له مېنڅي څخه لویه سوره وره اواوږده وي، چې څومره لېمڅی جوړل غواړي موره باید د لیمڅي دوه برابره وي، دموږې له پاره ډېرې شوړې سره ګنډل کېږي، کوچیان هر وخت په غولي او چوترو کې شګه اچوي څه وخت چې لیمڅی کوي موره د ځمکې (منځکې) د شګو په مخ اواره کړي، رنګین بوړۍ د پسه د کولمو په اندازه نرۍ جوړ شوی وي دا لمړۍ راواخلي د موږې په مخ چې څه ډول ګل (کښېږده) په لمېڅي کې غواړي هغه جوړ کړي، یعنې هغه ګل کښېږده د موږې په مخ جوړه کړي ګلان چې جوړ کړل شي اوس وار د وریو د وړیو شي هغه هم خپل خپل رنګ سره بوړۍ شوي وي کوم رنګ چې د لېمڅي د مخ لور ته غواړي هغه لومړۍ د ګل په وړیو برسېره ووهي د وهلو روش یې دا دی چې د بوړۍ وړۍ په ښي لاس کښې ونیول شي، ګڼ خپر د وړیو په لړ سر نیول کېږي چې کله یوه ټوټه وړۍ له بوړۍ بېلې شي بیا نورې د دوارو لاسونو په واسطه په

همدې شان ځنې ښېلېږي. ښځه د شا لور ته په ناستې ځي په ځان پسې د مخ لور ته لېمڅى وهي، ځينو لېمڅيو ته کوچيان کلوښته ور وايي. کلوښته ور هغه لېمڅي ته وايي چې په ځنډه کښېښي يې د مېږو (مېګو) د وړيو اوږدې اوږدې ګلوښتې ورکړې وي، نو کـه چېرې ځوك کلوښته ور لېمڅى جوړوا غواړي، نو کله چې د لېمڅي وړى وهي نيمې وړى ووهي لـه نيمو وړيو برسېره ګلوښته ولګوي، په کلوښته برسېره نورې وړى ووهي په دې ترتيب لېمڅى هم پوره شي او کلوښته هم پکې بنده او محکمه شي، چې کله ليمڅى پوره شي، اېښېدلې اوبه تيارې وي د يو څه په واسطه کنزارې کرارې اوبه پرې پوځ وهلى شي له اوبو پوځ وهلو سره سم چې لاګرم وي د لېمڅي او مورې په راټولولو لاس پورې شي له يوه لورې يې په ډېر احتياط سره رانغاړي د ډېرو لاسونو په مرسته يې په اوارى اوارى سره تاو کړي چې کله يې بورغو کړي په احتياط سره يو پړى ځنې تاو کړي بيايې د ډېرو لاسونو په مرسته په دې ميدان کښې کرار کرار يوه او بل لور ته رغړوي څو وراه يې چې په کوپه ملا ورغړوي بيا نو ټولې ښځې ورته کښېني د لاس د څپړو په واسطه يې ښوروي، څو لاسونه يوه او بل لور ته ژر ژر پرې وړي لپاره د دې چې وړى سره بېلې نه شي، دومره وخت يې په څپړو وښوروي چې پوه شي چې وړى لږ سره ونښتې، بيا نو پړى ځنې خلاص کړي، له مورې او لېمڅې څخه جوړ شوى برغو رنګ کړي بل وار بيا هغه لورى برسېره شي چې لومړى په مينځ کښې راغلى و. له دا بل لورې له مورې سره ليمڅى راتاو شي لکه لومړى وار داسې برغو ځينې جوړ شي دلته هم په څپړو باندې په بيره بيره ښورېږي دا بايد ووايم چې لومړى دواړه وارې ليمڅى د اوږده له لورې څه ټولېږي (ټغښتل [برغو] کېږي) دا دواړه واره چې پوره شي دريم وار لېمڅى له مورې څخه ووځي د ګل (کښېد) لورى يې په منځ کښې کړى د ساره له لورې يې ور برغو ونغاړي د مورې لږ ځنډه پرې ور واړوي، بيا يې هم په څپړو ښوروي څو په څپړو ښه زور کوي په ښورولو کښې يې يوه او بل لور ته اړوي، څلورم وار چې راشي موره کټ په کټ کړي لاندې يې واچوي، ليمڅى بيا هم د سور له پاتې څلورمې ځنډې څخه راتاو کړي د پښوا په شان يې برغو کړي ټولې ښځې ګانډو ورته ووهي، لېمڅي لږ د ځان لور ته را رغړوي، بېرته يې له ځان څخه لرې کوي له څپړو څخه وروسته يې تر ځنګلو لاندې کوي د سينې زور ټول په ځنګلو کوي په دې ترتيب سره يې په څپړو اړوي را اړوي په ځنګلو د ټول بدن زور

کوي، تر څو لېمڅی ښه ټینګ شي دا خبره باید یاده شي چې په هر وار اړولو را اړولو کښې ښځې دا کوښښ کوي چې د لیمڅی څنډې و نه وزي. غوړې څیني و نه کړي، دوه ښځې مقیدې د لیمڅی په ژیو باندې اختـه وي، ټینګه وي یې، دا د مینځ ښځې یوه او بل لور تـه لاس سره اړوي. پـه یـوه او بـل لـوري بـاندې یې زور کـوي کـه چـېرې د لیمـڅي ژی ووتـه بېرتـه یې د سره خلاصوي، ژی د ننه لور تـه پکښې زور کـوي، بیـا ئې د پخـوا پـه شـان برغـو کـوي. د خپرو او څنګلو لـه زور لانـدې یې نیسي پـه دې ترتیب خپلـه یوه اندازه لمیڅی ټینګ شي بیا یې په اوږده څلور کتـه غبرګ کړي، دوه ښځې ورتـه ودرېږي. یوه ښځه یې یـو لـوری پـه دواړو لاسـو کې ونیسـي، بلـه ښځه یې بـل لـوری پـه لاسـو کـښې ونیسـي لـه ځمکې څخـه یې وچتـه پورتـه کړي پـه ډېر زور سره یې بېرتـه پـه ځمکـه ووهـي، لیمـڅی ډېر پـه لـوړ اواز غـږ سره ټنګ وکړي دې تـه د لېمـڅي ټنـګه ول وایـي درې وارې یې یـو لـوری او دری وارې یې بـل لـوری وټنـګوي بیـا یـي کـت پـه کـت کـړي یـوه ورځ یې همداسې کـت پـه کـت کېږي سهار وختـي یې د وچولـو لپـاره وغـوړوي. کلـه چې لمر لږ راتود شي بیا یې ټول کړي. مازدیګر چې لمر کمزوری شي بیا یې وغوړوي (وېږ یې کړي) لنډه دا چې لـه تېز (تونـد) لمـر او د شپې لـه ستوریو څخـه یې ساتي پـه کمزوري لمراو سیوري یې وچـوي، کلـه چې وچ شي د بـل وار ټینګولـو وار یې راشي اوبـه ورتـه سرې شي پـه لیمـڅي دومـره اندازه اوبـه واچول شي چې څنې بـهېږي نـه (ځنې و نـه بـهېږي) مطلب دا چې لوند یې کړي، نور یې پـه بیـا ټینګولـو لاس پـورې کـړي لـه یـو لـوري څخـه ډېرې ښځې پـه یـو وېږ پـه ګاونډو ورتـه کښېني، خـو دلتـه هـم اواری (احتیـاط) کوي چې د لیمـڅي څنډې و نه وزي، غـوړې و نـه کړي پـه یـو وار د مخکې پـه شان ښځې پورتـه کېږي، خـو پـوره نـه کښېني، لیمـڅی د پخـوا پـه شـان د ځان لور تـه راوړي، را رغـړوي، تـر څو یې دڅنګلـو او سینې زور تـه برابـر کړي، همدا راز پـه یـو وار د سینې او څنګلـو زور پـرې وکـړي، پـه دې ترتیب لیمـڅی ټینـګېږي. څیني ښځې پـه یـو اواز (غـږ) د لېمڅې د ټینګولـو پـه وخـت کښې د الله نـوم یـادوي داسې وایـي:

| | |
|---|---|
| الله هو | یـالاآهــه |
| الله هو | یـالاآهــه |
| الله هو | یـالاآهــه |

په ځینو وختو کښې که یو سړی خبره خرابه وکړي یا یو کار ځنې خراب شي نود هغه لپاره داسې ویل هم کېږي:

- له پلاني څخه خبرې غوړې وکړ.
- له پلاني څخه پلاني کار غوړې وکړ.
- یا پلاني خبره غوړې در څخه و نه کړئ.
- پلانی کار غوړې در څخه و نه کړي.

یا د سزا ورکولو په وخت کې داسې هم ویل کېږي وایي:

- داسې به دې وتنګوم لکه لیمڅی، یانې په ځمکه به دې ووهم.

د لېڅې په ارتباط داسې وایي:

- زه سرګردانه ګرځم، تا لیمڅی له کونې لاندې که.
- لېڅی له کونې مه راته لاندې کوه.
- ما کله له کونې لېڅی لاندې کړی.

***

# سنې

بې ځایه به نه وي، چې ووایم چې کوچیان د خپلو ستونزو له مخې د افغانستان د خلکو لپاره یوه بهترینه سرمایه جوړوي، که د بنه نیت له مخې د افغانستان نور وګړي کوچیان یا نور هغه خلك چې مالداري ساتي تقویه کړي، دا چار به د افغانستان د وګړیو لپاره ډېر ښه اثر ولري، په خپل هېواد کې به له هر څه پوره شو، کوچیان خپل زیات ضروریات له خپلې مالدارۍ څخه پوره کوي، هسې خو هره وری او وژغونه چې تاو، ووریسې سنۍ ورته وایي، خو له وژغنو (د وزو له وښتانو) څخه چې کومې سنۍ جوړې کړي هغوی ته وزغنځینې وایي نورو سنیو ته وکرینې وایي وری او وژغنې چې سره ګډې کړي او سنۍ ځینې جوړې کړی هغوی ته شناوی وایي.

کوچیانو ته به تجربه رسېدلې ده چې وکرینې سنۍ ژر زړېږي او د وزغنځینو سنیو عمر زیات دی له وزغنځیو سنیو څخه جوړ شوي شی تر زیات وخت پورې پایدای شي او د وکرینو سنیو شی ژر شکېږي. د دې لپاره چې کوچیان د خپلې مالدای له وریو او وزغنو څخه ګټه پورته کړي مالداري په داسې وخت کښې سکولي چې هوا ډېره ښه وي، نه یخني وي او نه ګرمي وي، ځکه که ګرمي زیاته وي، هلته دا خطر وي چې مالداري ګرمي و نه وهي او که ساړه یات وي یا بارانونه وي نو په دې وخت کې د یخنۍ خطر وي دې ته خیال کوي چې که اوس وری او وزغنې ځینې لرې کړي تر هغه وخته پورې چې وری او وژغونې پرې راشنې کېږي د ګرمۍ یا سړو موسم نه پرې راځي، نو کله چې مېږي (مېګي) وسکولی د ضرورت په اندازه تورې او سپینې داسې وری ځنې رابیلې کړي چې رنګ په اسانۍ سره واخلي کومې وری چې زیاتې وي هغه بازار ته وړاندې او خرڅې یې

کړي. د خپل ځان لپاره چې کومې وړې پرېږدي هغه لومړي پاکې پريمنځي، د يوي مېږې (مېګې) وړيو ته ورګ وايي، ورګ د پرېوللو په وخت کښې سره بېلېږي، نه د يوې توټې په څېر يې لمر ته وغوړوي چې کله ښې وچې شي، بيا يې په ګوتو وبوګوي يانې پخې پخې يې کړي.

د يادونې وړ ده کوم کوچيان چې هزارو ته نږدې وي هزاره ګي ښځې د ورګ د بوګولو (پخې پخې کولو) لپاره خاص خاګمنځې لري دا ګمنځې په يو ډول جوړې وي چې د دوه لوېشتو په اندازه لاندې يوه پرته دره لري چې په دې اوږده دره دوه نورې درې د نغرې د يوه کونج په څېر له پاسه لګېدلې وي (مېخ وي) په کوم ځای کښې چې د دې دوو درو سرونه يو ځای شوي وي په هغه ځای کښې نېغه د مزيو وسپنې ګمنځ لګېدلې وي په دې ګمنځ يې په لاندې دره پښې اېښې وي يوه توټه وړې راواخلي د ګمنځې په غاښو يې له پاسه لوري ووهي لاس ببرته يوسي تر څو د ګمنځې په غاښونو ونه لګېږي. وروسته په دواړو لاسو په ګمنځ وړې وهي لاس په بيره بيره بېرته څينې وړې له غاښو څخه څينې وړې باسي څينې پکې داخلوي (نښلوي) نو د ورګ په بوګولو کښې له هزاره ګيو ښځو څخه څينې خلک مرسته حاصلوي هزاره ګی ښځې په مزدورۍ يا کومکې ورګونه ورته وبوګوي (پخې پخې يې کړي) بيا د اوړي بوړې کړي، بوړۍ بيا ژر نه خرابېږي، يعنې نه سره نښلې، بيا چې کله وخت پيدا کړي، سنۍ وريسي څنې ښځې وړې په مزدورۍ هم ورسي چې وريسکنده ورته وايي، کله چې وړۍ وريسي له غټې بوړۍ لږ وړې رابېلې کړي، هغه سره تاو کړي بيا يې له مرونده تاووي، په مرونډ يې چې تاوه ي هغه ته پوڅې وايي پوڅې په مرونډ تاو کړي سربېره د څنګلې لور ته په وړيو کې بند کړي د وريسلو لوري يې د خچې ګوتې له لوري په رغوی باندې ګتې او مسواك د شا غټې، ګوتې ته ور تېر کړي، د دواړو لاسونو د ګوتو په کومك (مرسته) د يوې لوېشتې په اندازه سنۍ تاو کړي، وروسته له هغه يو لرګی چې څرخلکی ورته وايي د څلورو خپرو ګوتو په اندازه اوږد وي يو او بل سر يې نری وي، مينځ يې پېړړ (پنډ) وي د لومړۍ سنۍ ځای پکې جوړ شوی وي په دې ځای کښې د پوڅي د سر سنۍ وتړي، څرخلکی د ښي لاس په واسطه تاو کړي نور نو د ګوتو په مرسته له پوڅي څخه سنۍ را بېلوي، يعنې راوږده وي يې، څرخلکی ګډېږي، سنۍ د پوڅي لور ته تاو خوري، بيا د دې سنۍ د بندولو لپاره چې څرخی خلاص نه شي له اخري تاندو څخه يو خلی لاندې

کېږي چې کله په ځرخي تانده تاو شي د خرځي له لوري په هغه خلي کې سنی بنده کړي تر ځرخلکي او لاس پورې یا دغې سنی ته تانده وایي (تان ده) ځرخلکی له یوه وخته پکې وي بیا ځنې وایستل شي.

مزی سنی هغه ته وایي چې دوه خوا یا زیاتې سره ملګري کړي که چېرې سنی مزی وي نو دوه خوا سنی سره یو ځای کړي د مزیو سنیو ځرخي له سره هم بنځي تاووي په خلاص مېدان کښې ورته کښېني، چې ځومره کېدای شي، هغومره اوږده تانده ځرخي ته ور پرېږدي، ځرخي کله واري لږ له ځمکې سره لګوي په همدې سره ځرخي ډېر تېزېږي (تونديږي).

بیا چې کله د رنګ لپاره سنی جوړوي هغه ته درینده وایي، د درینده جوړول داسې وي چې د غبرګې سنی لومړی سر په مرونډ او خپر باندې واچوي، وروسته له هغه بیا د یوه ګز په اندازه سنی په مرونډ خلاصه اچوي بیا نوره اچوي په همدې ترتیب له خلاصو سنیو ځخه درینده جوړه شي، بیا یې د اخر سر سرونه سره یو ځای کړي، د دریندې له سنیو ځخه یو وار تاو کړل شوی ول غوټه ور واچوي، د رینده جوړه شي. اوس راځو د وژغونو سینر ته لکه مخکښې چې موږ ویلي د وزغنو سنیو عمر زیات وي، کوچیان کېږدی او پیځوله له همدې سینو ځخه جوړوي، د کېږدی د کښې د چارون لپاره لږ غټې (پېړې) سنی جوړوي، د غټو سنیو د مزي کولو روش همهغه له سره تاوو دي.

اوس راځو هغه خبرو ته چې له سینو او وړیو سره تړون پیدا کوي.

که په یوه چا باندې شهوت زورور وي او هر ځای د (...) په طلب وي، د هغه په باره کښې کوچیان داسې وایي:

- د پلاني سړي د سنی ول ډېر سست دی.

یا

- پلاني د سنی په ول کښې ډېر بې کاره دی، یعنې زر ځنې خلاصېږي.
- هر چا ته په کار ده چې د سنی ول یې ټینګ وي
- د سنی ول مه سسته وه.
- که د سنی ول دې ټینګ وي، داسې به نه کېدل.

که یو سړی یوه معمله ډېره اوږده کړي وایي:

- ځه پوځې یې ترې جوړ کړ.
- تا چې پوځی تاره زه در ځخه ولاړم.

- پوځي مه خنې جوړوه.
- نور ځرخي مه وريسه.
- ځرخي د پورې کړه.
- هره ورځ ځرخي وريسي.
- هره ورځ به د ځرخي پوري کړي و.
- تا چې ځرخي پورې کاوه زه در څه ولاړم.
- د تا خو داسې ځرخي نه دی.
- زه يوه خبره درته وکړم ته ځرخي پورې کړې.
- له هرې خبرې ځرخي مه پورې کوه.

که يو څوك په خوله کې خبره اوږده کړي وايي:

- تاند، دې ډېره اوږده کړه.
- تانده دومره مه اوږده وه.

ځينې خلك داسې اتڼ کوي چې په يوه لورې زر زر ګډېږي وايي:

- پلانی لکه ځرخلکی داسې ګډېده، يا ګډېږي.
- پلانی لکه ځرلکی داسې اوښته.

يا که يو سړی ډېر بې رکمه چابك چابك ګرځي، يا که چا ته د يو سړي ګرځېده ښکارېږي يا يو څوك له قده وړوکی وي وايي:

- پلانی خو داسې ځرخلګی ښکاري.
- پلانی خو لکه ځرخلګی داسې کېده.
- پلانی داسې شی دی لکه ځرخلګی.
- پلانی داسې ګرد تاوېږي کله ځرخلګی.

له بوړی سره په ارتباط داسې وايي:

- د پلاني وېښتان بوړی بوړی خاته يا وخاته.
- وېښتان به د بوړی بوړی دربانديې وکارم.

يا د چا د ږيرې د سپکاوي په خاطر داسې وايي:

- پلانی هم ږيره بوړی بوړی کوله.

# د دوړ کنې او د دړې کنې

د دوړ کنې اګر که نن صبا د پکتیا، پکتیکا او جلال آباد کوچیان په خپله نه جوړوي یعنې په خپل لاس یې نه جوړوي، دا چار یې پر بشي. خو دې کار له کوچیانو څخه رواج موندلی دی. اوس هم په کوچیانو کې داسې خلك شته چې پلرونو او نیکونو یې کېږدی، پڅولې، او ګیلمونه (ټغرونه) اوبدلي دي. خو نن سبا دا کار د دې خلکو په فکر یو بې غزته کسب دی، دې کسب ته یې ملا نه ټینګېږي که ووایم بده به نه وي چې په برو یا دو خلکو کښې دوران یا د دې کسب کسبګر اکاخېل وو چې په لوی سر کې په غلجیو ګډېږي. چې کنې به یې اوبدل که دا نه وی بیا هم کنې د کوچیانو یو ضرورت پوره کوي زه دا ښه ګڼم چې په کنې هم یو څه ولیکم لومړی غواړم د لاس د کنې یادونه وکړم. د لاس یا دړې کنې کوچیانې ښځې اوبي د دړې د کنې جارون برسېره کېږي او د دوړ د کنې جارون په منځ کښې کېږي اوس باید دا په ګوته کړم چې د لاس یا دړې په کنې کښې کوم شیان په کارېږي او د هغوی څه څه نومونه دي، دړه د کنې د اوبدلو له پاره هغه جوړ کړې لرګي ته وایي چې یو لوری یې لږ نری تېره وي او بل لوری یې غټ پنډ وي، په کوم ځای کښې چې یوه سنۍ د بلې سنۍ ځای نیسي، یعنې یوه لاندې کېږي او بله له پاسه کېږي او د سوخښتې سنۍ یوه له بل څخه بېلوي، په خپله دې اوښتون ته دم وایي یو بل لرګی په دې ځای کې پکارېږي چې دم له وړې څخه را تېروي دغه لرګي ته خرانګی وایي د کنې په یوه سر او بل سر کښې چې د جاروون سنۍ په کومو لرګیو ور اړول کېږي هغوی لرګیو ته د پیګتی لرګي وایي په کنې کې چې له سره او له اخره پورې چې کومې سنۍ دم ولې هغوی سنیو ته وړه وایي د وړې سنۍ چې په کوم لرګي اړل شوي وي هغه ته د وړې لرګۍ وایي په کومو دریو لرګیو کښې چې د وړې لرګی بند وي. د دې لپاره چې د وړې لرګی جګ (لوړ) ونیسي او کرار کرار یې کنې اوبدونکی له خپل ځان سره په مخ بیایي هغوی دریو لرګیو ته لکړې وایي

د کنې جارول په داسې شان کېږي چې لومړی څلورمېږوي (میګوي) په دومره فاصله کې دوه دوه ټکوهي. چې څومره د کنې تا جوړول غواړي

دواړه د پیګنـي لـرګي د مېږویـو د شـا لـور تـه کـېښودل کېږي پـه دوو اوږدو پړیو د مـخ لـور تـه پـه یـوه انـدازه وتـړل شـي ډېر پـه سـیې انـدازه اول مـېږوی ټك وهـل شي، بیـا پـه یـوه تولـه د پیګنـي لـرګي لـه څلورو سرو سـره وتـړل شـي پـه یـوه لـوښي کـښې د اوړو نـرۍ شـېره جـوړوي دا شـیره لـږ پـه یـوه کاسـه کـې واچـول شي پـه دې کـې څرخـي کـېښول شـي نـور نـو د کـنې پـه جـارولو لاس پـوري شـي، یـوه ښځه هـم د پیګنـي د لـرګي شـا تـه کـېښني بلـه ښځه دې بـل سـر تـه د پیګنـي د لـرګي شـا تـه کېښني د شـیرې پـه کاسـه یـا بـل لـوښي کـې یـو کـس څرخي کته پورته وري یوه او بـل لـور تـه تـګ او راتـګ کـوي د شـیرې پـه کاسـه کې څرخي تاوېږي، پـه شـیره کـې هـره یـوه سـنې لمـده او ککـړېږي، هـرې ښځې تـه چې څرخـي ورځي د راوړونکـي لـه لـورې څخـه یـې دپیګنـي لـه لـرګي څخـه لانـدې کـوي لـه لانـدې څوا څخـه یـې پـرې را اړوي بېرتـه څرخـي د وړونکـي پـه کاسـه کـښې ور اچـوي همـدا راز د بلـې ښځې تـه چـې راشـي، هغـه یـې هـم د پیګنـي لـه لـرګي څخـه لانـدې کـوي، لـه لانـدې لـورې سنې د پیګنـي پـه لـرګي را اړوي پـه دې ترتیـب کـنې جـار شـي یـو دم پـه کـنې کـې لـه ځایـه یعنـي لـه اولـه راشـي.

کـه څوك غـواړي چـې پـتې پـتې شـړې (شـوړې) کـنې و اوبـي نـو د جـارون پـه وخـت کـې رنـګ رنـګ سـنې. جـار کـړي نـور نـو درې لـرګي د لکـړې لپـاره ودرول شـي د کـنې هغـه لومـړی دم هغـه لـور تـه را اړول شـي لـه کومـه چـې کـنې اوبـل غـواړي نـوره نـو وړه پکـې واچـوي. د وړې د لـرګي دواړه لـوري د لکـړې پـه لرګیـو پـورې وتـړي ښځه ورتـه کښېني پـه خـارنګي د ځان لـور تـه دم را تېروي، سـنې (سـوخښتې) چـې پکـې تـېروي پـه دړه څو وارې سـنې وهـي بیـا څو وارې دم وهـي، پـه دې تـوګه د لاس کـنې اوبـدل کـېږي.

د دوړ پـه کـڼې کـښې کـوم شـیان پـه کـارېږي، څه نومنـه یـې دي دغـه د یـوه او بـل سر لرګیو تـه دوړ هم د پیګنـي لـرګي وایـي خـو د دوړ پـه کـنې کـې دوه او د څینـو شـیانو د اوبدلـو لپـاره څلـور وړې وي د دوړې لرګیـو تـه دوړ هـم د وړې لـرګي وایـي هلتـه دا شـیان زیـات دي، لکـه اوزې، ګمنځې، او اړکـې.

څرنـګه چـې د دوړ کنـي ډېر سـورور وي، ډېر مـېږوي غـواړي، کـابو لـه شپږو او څینو شیانو تـه کم ټك وهـل کـېږي، مـېږوی ټك وهـل شـي د پیګنـي پـه لرګیو کـې د اړه کیـو پـرې واچـول شـي د دوو پړیـو پـه واسـطه د پیګنـي د لرګیـو څلـور سـرونه د مېږویـو د مـخ لـور تـه وتـړل شـي، څلـور تـېږي د پیګنـي د لرګیـو لـه سرو څخـه لانـدې کـړي چـې څرخـي ځینـې وزې، نـور نـو یـو دوړ د یـوه لـرګي

شا تـه کېښني، بـل دوړ د بـل لـرګي شـا تــه کېښني، لکـه څرنـګه مـو چـې د درې پـه کـنې کـې وويـل چـې څرخـې د راوړونکـي لـه لـوري د پيګنـى لـه لـرګي څخه لاندې کېږي دوړ د هغـه پـه خـلاف کـار کـوي دوړ يـې لـه پاسـه لـوري پـرې ور اړوي، وړونکـي تـه يـې پـه کاسـه کـښې د لـرګي لـه ښکـي لـورې راباسـي بـل دوړ تـه چـې څرخـې ورشـي هغـه يـې هـم لـه پاسـه لـوري پـرې ور اړوي. د ګټي ګوتـې د سـور پـه انـدازه درې سنى د پيګنـى لـه لـرګي اړوي د دوړ پـه کـنې کـې اول وار دم نـه راځي دم پـه دوو وړو پکـې اچـوي ځينـې شـيان پـه څلـور وړو کـې هـم اوبـي چـې ګلـه وړى پکـې واچـوي اړکـى تـاو کـړي کـنى ډېر بـې حـده تينـګه شـي د وړې لـرګى د لکړيـو پـه لرګيـو پـورې وتـړي کـابو يـو ګز سـوختښي پکـې چلـېږي مـوړ مخکـې ويلـي چـې د دوړ د سـوخښتي سـنى برسـېره راځي، کـوچيـان پـه دې وخت کـښې د کـېږدى او پيڅولـه د پـائيدو لپـاره لـړ غـوړي يـا سپينکې د دوړ مخې تـه کـېږدي، دوړ لـه مخـې سـره سـنى لـړ لـړ غـوړوي لـه لاس غـوړه پرتـه هـم کـېږدي، يـو وار ښه غـوړېږي چـې کـېږدى غـوړه نـه شـي؛ بيـا د بـاران تـاب نـه لـري دا بـايد زياتـه کـرم چـې تـوري وژغنـې د کـېږدى او پڅولـه لپـاره پکـارېږي ځکـه چـې تـوره وژغنـه ډېر عمـره او سـپينه کـم عمـره يـادېږي. يعنـې د سـپېلني عمـر کـم وي زر زړېږي اوس هغـه خـبرې ليکـم چـې کـوچيـان يې لـه کـنى سره پـه ارتبـاط ځينـې خلکـو تـه کـوي کـه څېرتـه د يـو چـا چـار يـا خبره وخت و نيسـي وايـي:

- پلانى کنې چـار کـه.
- پلانى لـه پلانـي سـره کنى چـار کـه
- کـنې مـه را سـره چـاروه.
- تـا خو پـه پلانـي ځاى کـې کنى جـار کـړل.
- هر ځاى سـړى کـنى نـه جـاروي.
- د تـا کنى خو چې يو وار جار شي بيـا نـه پـرې کـېږي.
- نـور د کنې لـه دې ځايـه پـرې کـړه (وشـکوه).
- نـور دلتـه کنى نـه غـواړم.
- تـا چې کنى جـاراوه د پـرې کېدو فکر خـو بـه دې کـاوه.
- کـه ټک دې راکـړ، پـه نـارې کـې ټک بـه درکـم پـه کـنى کـې.
- تـا څه کـنى جـار کـړي چـې ځي او راځي.
- تـا خو داسـې کنى جار کـه چې شـکېږي نـه.

د دوړي او دړي د کنې د اوړدو سنيو تـه سنيسته وايـي د سنيستې پـه ارتباط داسې وايـي:

- سنيسته د ډېره اوږده ده، ګواکي خپلوان نسب د ډېر دي.
- سنيسته دې لنډه کړه، ناسته ولاړه، ارتباط دې کم او لږ يا لنډ کړه.
- لـه هرچا سره سنيسته مه اچوه، يا پلاني سره دسنيسته اچولې ده.

لـه اړکيو سره پـه تړون داسې وايـي:

- پلانې سړي هر ځای لکه د دوړه کې ورابې شوې وي. کوږ شوی وي. ورا ورا شوی وي.
- د دوړ اړکی لـه خانـه مـه جوړوه.
- پـه هر کار يا وخت کې مه اړکی کېږه.
- اړکی دې لـه ځانه جوړ کړی، لـه پلاني سره اړکی شوی يې، يا سياسي او قانوني اړکی.

د کنې دم پـه داسې ځای کې يادوې وايـي:

- د پلاني کنې دم نـه اخلي وښيه يعنې چل يې نه چلېږي يا يې خبره نه سمېږي. يا د هغه سياسي او قانوني چارې دم نـه اخلي.
- د پلاني خبرې هېڅ دم نه اخلي.
- پلاني کار دم وِاخيست.
- د پلاني کار پـه دې واسطه دم نـه اخلي.
- يو بل شی چې پـه سيپر (شيپر) کې يادوې لـه سوخبنتې سره ارتباط ورکوي.
- د پلاني سړي داسې... سوخبنتي ده.
- سوخبنتې هر وخت پـه اختيار کې لره.
- لـه سوخبنتې سره پام کوه.

# کوچیان له سنیو څخه څه جوړوي

دا مضمون د دې لپاره لیکم چې د ځینو شیانو نومونه درته په ګوته کړم، تر څو تاسې ګران لوستونکي د کوچي له ژوند څخه پوره خبر شئ، د کېږدۍ او پېځولو او ګیلم (ټغر) یادونه مو له کنې سره کړې دی، اوس غواړم نور شیان در وپېژنم. لکه: غونډی، انډی، دمبلا، توبره، د تکلی توبره، رووی نمکدان (مالګین) (مالګه خور)، څښي، کېښکي، کور خای، خوله، خورجین، جوال، پړی، یا د چرسپي رسۍ او پیکی چې ښځې د سر په کولو کې ښې تکی توري وکړینې سنی پکاروي. کله چې سر نه کوځی (کمڅی) کې ږي، کوم وېښته لنډ وي، هغه د پیکي په کومك له نورو وېښتانو سره سمه وي، بیا یې کوځی کوي. بل یو شی چې د یادولو وړ دی، هغه مچنوغزه ده چې اکثره وخت له شپنو سره وي. په کوچیانو کې دا رواج هم شته چې د تاوې اوبن ته ترسېرۍ او متې جوړېږي اوس له سره شروع پرې کوم، لومړی هر یو شی لاښه در پېژنم. بیا د هغه په ارتباط خبرې ستاسې مخ ته ږدم:

غونډی:

دوړ په څپلورو وړو کې اوبې (کوي) چې کله واوبدل شي، د ګنډلو په وخت کې نه سره بېلېږي. په مینځ کې وګنډل شي، دواړه انډې سره یو ځای وي، خولې یې دوه وي، د څنډې ګندلو ته یې تورول وایي. وایي غونډی مې تور کړ، د خولې د بندولو لپاره د سنیو پړی ورته ږدي. هغوی ته تکی وایي، ځینې ښځې د خولې لور ته د سنیو اوږده اوږده څونډې هم جوړوي، شنې اونور رنګونه مری هم ځنې کاږي، ډېر یې ښایسته ډولی جوړ کړي وي. دا خبره هم باید وکړم چې پلار او مور چې لور واده کوي، لور ته په ورکړونکیو کالیو یا کور کې غونډی ضرور وي. پلار او مور حتمی غونډی ورکوي. هسې خو که د خپلې اړتیا له پاره غونډی جوړ شي نو غله

او نـور شيان هم پکې اچول کېږي، خو کـه د پـلار او مـور لـه خـوا نـاوې تـه غونـدی جوړ شـي، پـه هغـه غونـدي کـې نـاوې د خپـل ضـرورت وړ شـيان ږدي بـل هېڅوك د دې حق نـه لري چې د نـاوې غونـدی لـه ځايـه وښوروي (ښځايـه کـړي) د غونـدي د يـوه يـوه انـډي سـور کـابو ګز کـم او زيـات وي، د غونـدي چارون لـه وزغنـو، سنيو او شـناويو څه جوړېږي. پـه مـخ کـې يـې رنګينـې سنـې استعمالېږي. پـه استر کې يې بې رنګه سنې هـم لګولی شـي.

ځينـو خلکـو تـه د غونـدي نيسـبت کـېږي، کـه يـو څوك پـه غوسـه ووينـې وايـي:

- پلانـی لکه غونـدی داسـې شـوی.
- پلانـی پـه پلانـی خبره داسې شـو لکـه غونـدی.
- راتـه غونـدی کـېږه مـه.
- پلانـي پلانـي تـه غونـدی دی، ګويـا ورتـه پـه غوسـه دی.
- زړه مې ورتـه غونـدی شـو.
- دی خو لـه هرې خبرې سـره غونـدی شـي.

يا کـه څوك څه مړه دنيا پيدا کړي يا يـې ډېره کـړي وايـي:

- پلانـی نـور لا څه غونـدی ډکـوي.
- غونـدي خو بـه نـه ترې ډکـوې.
- غونـدي مـه تـرې ډکـوه.
- تـا خـو غونـدی هـم ترې ډك کړ، نوره هـوړه تـه پرېږده.
- يا پـه پلانـي بانـدې د پلانـي غونـدی را سـوری شـو، هـر څه ورکـوي.

يا کـه يو څوك ډارن ولـيـدل شـي، يـا د ډاره خـبره وي داسـې وايـي:

- کـه ډېر ډارېږې پـه غونـدي تـرې ننـوزه.
- پـه غونـدي خـو بـه نـه ترې ننـوزې.
- سر پـه غونـدي مـه منـډه.
- لـه پلانـي پـه غونـدي نـه شـم ننوتـی.
- لـه پلانـي خو پـه غونـدي ننوتـی.
- لـه دې ښمنـه پـه غونـدي نـه شـې ننوتـی.
- تـه خـو بـه پـه غونـدي ننوزې، زه خـو پـه غونـدي نـه شـم ننوتـی.

يـا کـه يـو څوك بـد قـواره وي، ډېر مـزې څورب سـور او اوږده يـې سـره يـو وي د هغـه پـه بـاره کې وايـي:

- پلانـی لکـه غونـدی داسـې شـی دی.

PROPERTY OF ACKU 8970

- د پلانـي لکـه د غونـدي سـاره اوږده يـو دي.
- پلانـي ښځه غونـدې غونـدی کـېږي.
- لـه دې ښځـه هـم غونـدی جـوړ شـوی.

د غونـدي انـډيو د مبـلا خورجيـن او جـوال ټولـو پـه خولـه پـورې ټکـی وي لـه ټکيـو سره پـه ارتبـاط داسـې وايـي:

- د پلانـي د خولـې ټکـی خـراپـه شـوې ده.
- د پلانـي د خولـې ټکـی سســت دی.
- پلانيـه د خولـې ټکـی دې سـم کـړه.
- د خولـې ټکـی دې در سـموم.
- پلانـی دې د خپلې خولـې ټکـی سـم کـړي.
- پلانـی چې د خولـې ټکـی سـم کړي، نـور هـېڅ نـه شتـه.

**انډی:**

د غونـډي پـه څېر جـوړ وي، خـو يـو يـو انـډی وي، هغـه هـم پـه ايينـو مريـو او د سنيو پـه څونډيو ښايسـته شـوی وي.

**دمبلا او خورجـين:**

کـوم خـاص پـرك (فـرق) نـه سـره لـري، د دوارو انـډيو يـا لوريـو خولـې د مينـځ پـه هيسـه کـې وي د کـاليو يـا غـوټيو د ښه سـاتلو لپـاره يـې خولـې تـه ټکـی ورتـه ايـښې وي، پـه ځـنګ پـورې ځونـډي مونـډي ورځوړنـډ وي، ښه ښکولـی شـوی وي.

**توبـره:**

د غلې لپـاره وي، هـر وخـت غلـه پکـې اچـول کـېږي، دلتـه بـايد زياتـه کـړم چـې کـځوړه د رخـت يـا د بـل شـي هغـې توبـرې تـه ويـل کـېږي چـې هـر وخـت جـوړېدای هـم شـي او کـه شـي وغـواړي بيـا يـې زر پـه زر رنـګولای او پـه توبـره کـې تر ځو کـار کـوي، مګر زړه يې لـه کـاره وغـورځوي.

**د ټکلی توبـره:**

لکـه چې لـه نومـه معلومـېږي، چـې مـوږ يـې روږی نـوم هـم اورېدلـی، خـاص د ډوډۍ د سـاتلو لپـاره وي. کلـه چـې پـه مزلــه کـې ټکلـې (ډوډۍ) تـه ضـرورت پـېښ شـي پـه اوښ کـې يـې داسـې ځای ايښی وي چـې لاس ور ورسـېږي، وچـه ډوډۍ هر وخـت د ټکلـې پـه توبـره (روږي) کـې ايـښی وي.

**نمکدان (مالگین، مالګه خور)**

هغه توبرې ته وایي چې هر وخت مالګه څني خوري.

ځینی: د کوزې د ساتلو لپاره وي، له نیمایي پورې د کوزې د ساتلو ځای پکې جوړ وي، له نیمايي کښته د ډول لپاره اوږد شوی وي، په کوز سر پورې یې د سنیو ګلان جوړ شوي وي، برسېره مخ یې په اینو ښایسته شوی وي، ځینی د جال په څېر سوری سوری وي، د مزله په وخت کې د اوښ د وري د شا لور ته ور تړل کېږي. ځینی هم ډېر ښکلی اوبدل (جوړ) شوی وي.

کېښکی:

د تغر په څېر وي، له رنګینو سنیو څخه جوړېږي، دا هم کوچیانو ته دوران جوړوي، د دې جارون هم که کېدای او پیداکېدای شي له وزغنځینو سنیو څه جوړ وي، په کېښکی کې کله کله سوخښتې هم تېروي، خوګل په ګوتو پکې اچول کېږي، د رنګینو سنیو کوړې (کوکړي) جوړې کړی یوه پټه جوړ وي. یعنې کابو د څلور ګوتو په اندازه پټه جوړه وي، بیا د څلورو ګوتو په اندازه ګل پکې جوړوي، څه وخت چې ګل جوړوي، رنګینې کوړې پکې چلوي، د کېښکي او ګیلم (تغر) تر منځه توپیر (بېلوالی) دا وي چې د کېښکي د ګلانو له مینځه بېلتون یا چاودونه وي د هر ګل له مینځه سوری وي، د خښتو په څېر د ګل له مینځه په سوریو باندې کېښکی یادېږي.

**کور ځای:**

نوم هغه جالین شی ته ورکړل شوی دی چې د ډول لپاره په کورځای اچول کېږي یعنې په کېږدی کې یو لور ته ټول کالي لکه بړستنې، غونډی، لیمځی، انډی او داسې نور ټول شوي وي، په دې کور ځای باندې د ساتنې او ډول لپاره تغر (ګیلم) اچول کېږي، په هغه برسېره خاص ډول لپاره جالین کور ځای اچول کېږي، ټول جال په کمڅی (کوڅی) او مارپېښتې جوړ وي. په برسېره مخ یې اینې ګلان ټکوهل شوي وي، په لاندې سر پورې یې هم د سنیو ګلان جوړ شوي وي، مارپېښتې د کوڅې په څېر سنی سره اړول کېږي.

**خوله:**

د نګولی هغې توبرې ته وایي چې د غوړیو ژی، وچې غوښې او داسې نور شیان کې ساتل کېږي، خوله د ډېر وخت د پاښت لپاره له وژغنو سنیو څخه جوړېږي، که وژغنې نه وي وکړینه هم وي لکه څرنګه چې په خوله کې

هر وخت نګولي وي، ډېره غوړه وي، بل دا چې ډېرې غوټې (ګنډې) پکې ساتل کېږي، نو ډېر بې رنګه وي، همدغه راز ځينې خلکو ته د خولې نسبت هم کېږي لکه چې وايي:

- پلانی ځوله ځوله کېږي.
- خوله ځوله مه کېږه.
- پلانی داسې شی دی لکه ځوله.
- د پلاني کالي هم له ځولی څخه کم نه دي.
- څه ځوله دې له خانه جوړه کړې.
- ځان سړی پاك کړي. له خاسه ځوله نه جوړوي.

دلته هم د ډار په ارتباط خبره کېږي داسې وايي:

- له پلاني خو دې په خوله نه شم منډلای.
- ځان په خوله ومنډه.
- په ځوله کې به خلاص شې.

که په يو چا مړه خوا راشي داسې ورته وايي:

- د پلاني سر په ځوله ولاړ وشوه په ښاديو خوشحاليو ګډ شو.
- خوله يې په خوله تللې.
- نه لا خوشحاله نه بې خوله دې په ځوله ولاړه.
- څه ځوله دې په ځوله ولاړه.

جوال:

د درې د کلي هم جوړېدای شي خو زياتو خلکو ته يې دوران جوړوي، جوال د توبرې په شکل وي. خو له توبرې څخه ډېر لوی وي، جوال خاص د وښو او بسو لپاره جوړېږي، ډېر بوس پکې ځايېږي، د سپينو وښو د پرورې شنو وښو يا کتيو لپاره جوړوي.

د جوال په ارتباط هم ځينې خبرې کېږي. داسې وايي:

- پلانی که غلا کوي، پلانی هم د جوال خوله ورته نيسي.
- پلانی که غلا نه کوي، غلو ته د جوال خوله نيسي.

که يو څوك ډېر مزی، غټ، بد موراد، وي او بدې يې بيانوي داسې ورته وايي:

- پلانی هم لکه جوال داسې شوی
- پلانی لکه جوال داسې شی دی.
- جوال جوال مه کېږه.

## پړی:

هسې خو د خپل روزمره بارولو لپاره کوچیان د وژغنو (وژغنځین) یا وکړین پړی کوي، خو چې د پلار له کوره ناوې پرې وړي، د هغه اوښ لپاره پړی یا د چرسپي رسی جوړېږي ځکه چې کوم کور د پلار کاله ورته کړی وي، هغه په اوښ بار کړي، ناوکی د هغه ورې (بار) په منځ کې کښنوي، خو د ناوې لپاره جوړ شوی پړی رنګین وي، یعنې رنګ کړل شوی وي، ښه ښکلی ښکاري.

د ناوې له پړیو سره د چرسپي د رسی په ارتباط غواړم څه ولیکم.

چراسپته په اوښ باندې د بار (ورې) د تړلو یوې خاصې طریقې ته وایي، د چرسپې لپاره دوه لویې رسی جوړېږي، که چېرې چا ته مزری پیدا کېږي، نو د چرسپي رسی له مزریو څخه غښتل کېږي، دا رسی په خپل غښتل شوي شکل بیا هم غبرګېږي، د دې رسیو د یوې په یوه سر کې غوټه وي، د بلې په یوه سر کې، غوړیاسه وي، په دغه غوټې او غوړیسی باندې د چرسپې رسی معلومې (وریتې وي).

کله چې اوښ باروې د ورې (بار) لپاره یې چو (چوك) کړي، یو کس له یوې خوا او بل کس له بلې خوا ورته ودرېږي، یو کس د چرسپې د رسی د غوټې لوری په لاس کې ونیسي، بل کس د غوړیسي لوری ونیسي، د اوښ د سنې د خیګه کې د شا لور ته یعنې ګویا د خېټې لور ته د رسیو سرونه سره بدل کړي هر یو د غوټې او غوړیسی لوری رسي دومره کش کړي د ځان لور ته یې یوسي چې دواړه سرونه یې د اوښ منډو ته ورسېږي. منډو ته یې چې ورسوي په منډو یې ور واړوي، نور یې پرېږدي، وروسته له دې چې په اوښ باندې کالي لوښي، کېږې باروي چې هر څه د اوښ په شا ور بار کړي، اندازه یې معلومه کړي چې کوم لوری سپك یا درونډ نه وي، له هغه وروسته د چرسپې رسیو ته لاس ورتېر کړي، غوټه او غوړیاسه را ونیسي که په ورې (بار) کې کمچی وي هغه هم د رسی په سر کې بنډې کړي سرونه یې سره غوټه کړي. بیا نو لاس د رسی د هر لوري ته تېر کړي، هغلته یې له ورې سره نېژدې واړوي. د رسی د بچوکي لوری د ورې لور ته کړي. دغه ول له ټول ورې څه تاو کړي، یو کټ د رسی د غوټې او غوړیسې له لورې را وکاږي. د ورې له نیمایي پورې یې را ورسوي، ښه یې ټینګه کړي، د بچوکي لوری هم په ورې را واړوي، د ورې په پاس لوري کې یې غوټه کړي، د رسیو بچوکی که څوك وغواړي، چې روستاړی او وړاندنې ته

یې تېر کړي، هم تېرولای یې شي، وروستاړی او وړاندینی یې د دې لپاره کوي چې وری (بار) وروسته او وړاندې نه وي. د وري په منځ کې چې کوم شی کېږدي هغه ته سرباري وايي. د چرسپي په ارتباط هم په کوچیانو کې خبرې کېږي که یو څوك په خبرو کې یا په نورو چارو کې بل لوری بند کړي په دې ارتباط کوچیان داسې وايي:

- پلانی خو یې داسې چراسپه کړ.
- د پلاني چراسپه یې وکړه.
- پلانی چراسپه کړی.
- پلانی ما ته پرېږدئ چې چراسپه یې کړم.
- پلانی زه چراسپه کولای شم.
- که پلانی وغواړي، پلانی چراسپه کولی شي.

له سرباري سره په تړون داسې وینا کوي وايي:

- وری خو لا وری سورباری یې لا بد شو.
- دا چاره یا خبره یې په زړه سرباره شوه.
- وری خو خیر دی، سربای به څرنګه کوي، ګویا یوه چاره یې وری

بله خبره یې چاره یې سرباري

- دا یې وری سو، سرباری یې لا نور دی.
- وری خو به یوسي، له سرباری لاندې به یې څوك پورته کېږي.
- سرباری مه پرې تړه.
- د سرباري زور دې نه لرم.
- دا خبره په ما سربای شوه.
- زه د سرباري توان نه لرم.
- حق خو دې حق دی، نور رابادي سرباری دی.
- بار دې وړم، یاوری دې وړم، خو سرباری دې نه شم وړی.
- زه چې دا وری وړم سرباري خو ته را سره یوسه.
- د پلاني خو وری خیر دی، سرباری یې بد دی.

**مچنوغزه (مچنوغه):**

هغې وسیلې ته وايي چې شپانه یا د ځینو خلکو په ژبه شپونکیان تېږي (تیګي) پرې ولي، د مېږو (مېګو) په راتاوولو (راماتولو) جنګ جګړې، او همدا راز د وحشي ځناورو په ضد له مچنوغزې ځخه کار اخلي، چې دا هم له سنیو ځخه جوړېږي، د مچنوغزې په کوم ځای کې چې تیږه

غونداری (کانی) ابښودل کېږي هغه ته کاڅي یا کیڅي وایي دواړه لوریو ته اوږدو پریوته یې ټکی وایي د یوه ټکي په سر پوري د ګوتې د ورکولو ځای وي، هغه ته ګوتړی وایي، د بل ټکي په سر پوري یې یو نری ټکی اچولی وي، هغه ته بچوکی وایي، بچوکی د تېږي (تیګې) وېشتلو په وخت کې ټینګ (اواز) کوي، ځناور دا احساسوي چې د یو څه ډز رابانديې وشو له ډز څخه یې هر غرنی (سرانی) ځناورو ډارېږي.

د مچنوغزې د جوړلو لپاره لومړی سنی ښې مزی کړی د اوبدلو له پاره لرګی یا کړکی ورته جوړ او ښو ي کړي، غټه یا وړه خو د اندازې له مخې لرګی د څلورو ګوتو په څېر ورته برابر سیخ کړي په دې لرګیو کې د سنی اوبدل پیل کړي د هر لرګي په یوه اړخ باندې سنی ور اړوي، د پلو په لرګي چې سنی راتاوي شي، بیا د لرګي په بل اړخ سنی را اړوي. په دې خیل په لرګیو کې د مچنوغزې اوبدل پوره شي، بل وار هر لرګی ځنې وزي د لرګیو پر ځای یوه غټه سنی پکې اوبدل کېږي، دغې سنی ته مزغی وایي ټول لرګی ځنې وباسي، مزغی ښه زیات پکې واوبي (واچوي) تر څو مچنوغزه ښه کلکه ټینګه او تیکه شي. د مزغي پر سنی باندې د ټکی بندولو ځای هم جوړ شي چې ټکی پکې بند شي ټکی په داسې شان جوړ وي چې څلور اړخه لري ډېر کلك وي، د یوه ټکي په یوه سر کې کوګوړی او د بل ټکي په بل سر کې یې بچوکی جوړ کړي نوره نو شپانه د ټوپانچې په څېر له اوږې ترلې وي، شپانه داسې وایي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| چې ټنګ شي | د بره ګي | د لېوه ماتې شي | پښتـــــــــی |
| چې ټنګ شي | د بره ګي | د لېوه ماتې شي | د یـــو لـــوري پښتـــی |
| چې ټنګ شي | د بره ګي | د ماماتې شي | پښتـــــــــی. |

دا پښتو لنډۍ هم شته:

یار مې د ګنی رمې شپه ده

زه به مچنوغزه د ورېښمنو ورلېږمه.

**کسپوس (کتپوزی، خول بند):**

څرنګه چې د کوچیانو سر وکار له اوښانو سره دی، نو په اوښانو کې داسې اوښان پیداکېږي چې سړ یې خور وي، یا که سړ یې خور نه وي په ځینو اوښانو کې داسې ادتونه وي چې کسپوس ته ضرورت پېښېږي، کومو کوچیانو ته چې مزري پیدا کېږي، کسپوزي د مزریو له پاڼو څه اوبي (جوړوي) څوك چې مرزی نه شي پیدا کولای، له سنیو څخه یې جوړوي،

تور زموږ وضاحت ته اړتیا نه شته، خولبند (کسپوس) کتپوزی د افغانستان تولو وګړیو لیدلی، ښه یې پېژندلی دی، له کسپوس سره په تړون کوچیان د ځینو خلکو لپاره داسې وایي:

- له پلاني سره بله نه کېږي، مګر کسپوس (کتپوزی) ور واچوي.
- که له خبرو خوله نه بندوي نو کسپوس ور واچوه.
- پلانی یې له خبرو بند کړی خول بند یې ور اچولی.
- دا ښه ده چې خوله دې په کتپوزي بنده ده، کنه دنیا به دې خوړلې وه. یا د قانون کسپوس.

مار:

هغه نري پړي ته وايي چې د اوښ په پزه (پوزه) کې یې اچولی وي د دې مار په سر پورې یوه نري سنې د دې لپاره تړي چې که اوښ بېرته زور وکړي، پزه به نه ځیروي (شکوي) دغه نري سنې ته له همدې امله چومار (چم مار) وايي، چې د اوښ د پزې د ساتلو او نه ځیرولو لپاره یې یو چل جوړ کړی وي، مار هم له ستیو څخه جوړېږي، چومار هم سنې وي، په دې ارتباط کوچیان داسې وایي:

- په پلاني سړي کې ښځې مار اچولی دی.
- په پلاني سړي کې پلاني مار اچولی.
- مار خو دې پکې اچولی، خو په کوم لوري یې ولې.
- مار خو دې پکې اچولی خو چې له پانه و نه لوېږي.
- شرم نه لري په خلکو کې دې مار اچولی، کښته پورته دې روان کړي دي.
- ته چې په خلکو کې مار وا نه چوې بل یې څوك اچوي.
- مار خو دې پکې اچولی خو په ناواره یې مه ور وله.
- د ده مار خو دې تا په لاس کې دی.
- په تا کې ښځې مار اچولی.
- په مار یې پېښه کېده، چې در څخه خلاص نه شي.
- دا ځل مار پکې واچوه، چې وریا (لرې) درنه ولاړه نه شي.
- مار یې په غاړه ور واچوه، چې په کوم لوري ځي ورځي دې.
- هره ورځ تا مار پکې اچولی وي، ما ته یې راولې.
- زما سړي ته مار په غاړه ور واچوه.
- تا چې یو وخته مار په غاړه وراچولی وای، ولې به داسې کېده.

- پلانی راوله رامار یې کړه.
- په نورو تولو کې دې مار چولی خو یو پلانی در څخه پاتې دی، په هغه کې یې هم واچوه. یا هغه هم مار کړه.
- په ما کې د کوم لور ته مار اچولی.

د خوست په سیمه کې ځینې ښځې د پوزې (پزې) له سر سره د سپمو له مینځه ځای سوری کوي په هغه کې یوه کیړه اچوي چې نتکی ورته وایي، د نتکی په ارتباط کوچیان دا لاندې وینا کوي، خو په دې ځای کې بلـه دا ده چې د اوښ مار کولو ته ځینې کوچیان نته وایي.

- چې دې نته که، نو دې اور ته که.
- نته یې کړه اور ته یې کړه.
- ښه خو دې نته کړې ده.
- نته کړې دې ده، په هر لوري یې بوی شي.
- پلانی ښځې نته کړې چې په کوم لوري د هغې زړه وي په هغه لوري یې ولي.
- نته پکې واچوه.
- پلانی په هغه خبره یا چاره پلانی نته که.
- پلانی ډېر زورور او سرکښه وو، خو پلانی نته کړی دی.

# له پوستکیو څخه څه جوړوي؟

لومړی باید په دې باره کې وغږېږم چې کوچیان د هر پستوکي (څرمنې) په پخولو کې له کوم شي څخه چې کار اخلي، هغه چې هر څه سره ګډ یاخانګړي وي هغه ته زنه وایي، هره څرمن د زنې په مرسته پخوي، بیایې پکار کوي کوچیان له څرمنو څخه دا شیان جوړوي. لکه د ابو ژی، د غوړیو ژی، ګوډی، کوچلانه او غړك اوس دادرته مایانده (ښکاره) کوم چې دا یاد شوي شیان څه خېل (ډول) پخوي چې بیا خوړل او څکل پکې کوي.

اوربدلي مې دي خو لیدلي مې نه دي چې پخوا وخت کې به څرمن له مړه حیوان څخه را ببله شوه. له هغه څخه به د پښو د ساتلو لپاره څپلۍ (کیړۍ) یا یو شی جوړ شو، هغه ته یې سوګلې ویلې، د سوګلو په ارتباط کوچیان وایي.

- لېوه که سوګلې کولای شوې خان ته به یې کړې وای.
- ما که سوګلې کولای شوې، خان ته به مې کړې وې.
- تا خو خان ته سوګلې وکړې، خو ما ته یې کوې.

**د اوبو ژی:**

دا خبره د یادولو وړ ده چې د اوبو ژی د وزې له څرمنې څخه جوړېږي، کله چې پسه مړ شي، د کونې له لوري دومره ځای پکې پرې شي چې لاس پکې په اسانۍ سره وچلېږي، دې ځای ته پیرواګه وایي. ځینې خلك له پسه څخه څرمن د اورمېږ له لوري شم کاږي، په هر حال کله چې له پسه څخه څرمن (پستوکی) ووېشل شي، د ښخ لوری یې په تیربوزي وګنډل شي. تېربوزی هغه تك یا ګنډلو ته وایي چې د یوه شي دواړه ژۍ (څنډې) سره ونیول شي، هر وار تار د شي په ژي تاوېږي او د ستنې تك د خان لور ته خېژي، هغه تیربوزی شی انار پوست (نرسوی) ښه په تیره وتکول شي، کابو څلور لپې نرسوي او یوه لپه څبلې (ماته) مالګه که څرمن لویه وي له دې

زياته دا دواړه سره يو ځاى كړي، وزني ته يې ور واچوي، همداسې وچ نرسوى او مالګه له يوې ورځې پورې په وزن كې پرې ښودله شي خو دا به كېږي چې مالګه او نرسوى به د وزنې هرې برخې ته رسېږي. لاس به ... وهي چې زنه پكې تيت شي وروسته له يوې ورځې اوبه ورته ګرمې كړي په وزن كې ګرمې اوبه دومره تويه كړي چې پرې لمده (خېشته) شي، هرې برخې ته يې اوبه ورسرېږي. كابو له مياشتې يا شلو ورځو پورې همدا زنه په وزن كې پرته وي. كه چېرې اوبه پكې كمېږي، بيا نورې وراچول كېږي، وخت په وخت بې ښوروي. له څو زنه ښه واخلي يا كوم ځاى خراپه او يونسي، د يادو شوو ورځو اندازه چې پوره شي بيا زنه خېښې تويه شي. ژى پاك پريوايه شي. څو ورځې اوبه پكې راوړلى شي، بيا وكتل شي. كه زنه يې خوړلې وه. خو ښه په ښه كه زنه يې نه وه خوړلې د نورې زنې ضرورت و، نو د بل وار لپاره اومان وتكول شي په سرواوبو كې يې واچوي، چې ښه خوند يې پكې ووزي. بيا نو چنګال شي چې ښه چنګال شي، هغه ور واچول شي. يو څه د اومانو هغه چنګال شوى خځله برسېره هم پرې واچول شي. كابو له شلو ورځو پورې ژى په دې زنه كې پروت وي. بيا پاك (پيځو) پرې وايه شي. نور نو اوبه خنې چكې (څښې) كه چېرې بل وخت ژى خراب يا بوى وكړي بيا هم د اومانو د څېرې اوكيكر (كيښكر) پټ ورته تكول او اېشول كېږي، د هغه زنه وراچوي

د ژي په ارتباط داسې ويل شوي

موري كوچيانو ته مې وركه

د كوچيانو كار كولى شم

زى را د كولى شم

**د غوړيو زى (ژى)**

د غوړيو ژى هم د وزې او ... خوسې له څرمنې څخه جوړېږي، كه دا نه وي نو له مرې پسونكي څخه هم جوړېداى شي. د غوړيو د ژي لومړى زنه هم د نرسوى او مالګې وي خو دلته لږ مالګه زياته وى كه څلور لپې انار پوست (نرسوى) وي نو دوه لپې مالګه وي لندده دا چې د نرسوى په نيمايي مالګه وي له دې سره يوه اندازه خامې شيدې (شودې) ملګرې كړي چې وزن پرې لمدېږي. دا هر څه وزنې ته ور واچوي. كابو له شلو پينځلسو ورځو پورې د زنه په وزن كې پرته وي هر وخت وزن ښودل كېږي. كه شودې (شيدې) يې وچې وي، نورې ور اچوي وزن ښوروي، چې هرې برخې ته ...



ACKU

زنه ورسېږي. وروسته له یو دوه شویو ورځو څخه وزن پیچره پاکه کړي. څرمن په اسمر واړول شي. د بو پخ نیغ په واسطه زیاته غوښه ځینې واړل شي (وکرول شي) بلکه زنه له توتو څخه خوښا ورته وزي: د توتو خوښا هر وار له غوړیو څخه مخکې ور اچوي

د توتو خوښا په دې ډول وزي چې توت په اوبو کې ډېر زیات واچوي بیا توت د نینوونې په واسطه ځنې وټینوي هغه اوبو ډېرې وایشوي. بیا نینګي شي هغه ته خوښا وایي. دا خوښا په غوړیو کې پاتې کېږي. د غوړیو خوند هم پرې ښه وي د غوړیو د ژي په ارتباط کوچیان ځینو خلکو ته داسې وایي

- پلانی داسې له غوړو ډک دی. لکه د غوړیو ژی. وشوه له وازدو ډک دی
- داسې مړی دی لکه د غوړی ژی (زی)
- د غوړی ژی دی

## کوډی

د پخې څرمنې (پوستکي) یو بل ډول دی چې اوړه. غنم. زړنې. غوښه. زړنې سپینکې و همدا راز نور شیان پکې ساتل کېږي. د کوډی پخول په دې ډول دي کله چې څرمن له پسه څخه وایستل شي د څرمنې لویوالي ته وکتل شي. یوه اندازه اوړه او کابو دوه تاکه مالګه په اوبو کې واچول شي په لوښي کې ښه سره حل شي بیا یې وزنې ته ور واچوي. وزن ښه سره ښوروي: چې هرې برخې ته یې زنه ورسېږي. وروسته له هغې یې په یوه خای کې کېږدي. تر هغه پورې ایښی وي چې څرمن سپین رنګ اختیار کړي (خوړواچوي) زنه پکې وچه شي وروسته له دې دا زنه ځینې وباسي. نسر وهلی کرم رنګ پکې واچوي. د لاس په واسطه بې په منبلو پیل وکړي. ښه ډېر یې ومښي. ویې ښوروي. خو دا کوښښ او هڅه کوي چې ځنې وچ نه شي او کوم خای یې مات نه شي چې ښه ډېر یې ومښي یقین یې وشي چې اوس پوخ شو نو رنګ ترې توپې کړي بیا نو یوه پښه ور ننباسي. د کوډی هرې برخې ته پښه ورتېروي. پښه پورې مښي. لږ له یوه وخته چې پښه پکې ووهي. کوډی یو خاص رنګ اختیار کړي. نوره نو پښه ځینې وباسي. که د کوډی کوم خای نور وي. مېږوی (مېکوی) په خمکه (منځکه) کې ټک وهي د مېږوي په سر پورې د کوډی نور خای ومښي ومښي. تر خو هغه خای هم د نور کوډی رنګ اختیا رکړي. که بیا هم شک ورته پیدا شو

چې ګوډی بېچوخسه نه شو، نو نه زړګي ځخه له غمه لمر وهلي شکه نکي واچوي، بنه يې پکې واړووي. راواړي، نو نو ګوډی پوخ شي، بيا ځای به نه وي چې ووايم چې ګوډی ته څيني خلک بنې هم وای

له ګوډی سره په تړون داسې ډېرې خبرې وايي

- داسې سپېره ځرمن دې ده لکه ګوډی
- دماپه برخه دې ګيدړ که. ګيدړ د کلي ګوډی وي، ما شرمه وبنه

که يو څوك له کده (قده) ډېر وړوکی وي او بيا په عين حال کې لږ ډډکی وي، يا که يو کوچنی (وړوکی) کراچۍ ډډه کی يه د غوړکی وي (د به غوړکي غوندې وي) نو وايي

- پلانی داسې شی دی لکه ګوډی
- پلانی سړی د فساد ګوډی دی
- ګوډی ګوډی مه کېږه
- د فساتو ګوډی له خانه مه جوړوه
- پلانی د خبرو ګوډی دی
- پلانی د مرچو ګوډی (بنی) دی دا هغه چا ته وايي چې ډېر ژر غوسه کوي
- وايي په پلاني باندې د پلاني ګوډی ورسوری شو
- په پلاني باندې د حکومت ګوډی ورسوری شوی دی

کله چې مور کوچنی ويده کوي، په هغوی لونګو کې هم ګوډی ته ديګی يادېږي. مور کوچني ته د ويده کولو لپاره وايي

- پلانی داسې ويده دی لکه ګوډی د رنجو

الله اللو للو
پښی مه راخه له غرو
پلانی داسې ويده دی لکه ګوډی د اوړو
الله اللو اللو
پښی مه راځه له غرو
پلانی داسې ويده دی لکه غرکنده پښو
الله اللو اللو
پښی مه راځه له غرو
پلانی داسې ويده دی لکه ځوری د سيو
الله اللو الاو
پښی مه راځه له غرو
پلانی داسې ويده دی لکه ګوډی د سيو
الله اللو اللو
پښی مه راځه له غرو
پلانی داسې ويده دی لکه ګوډی د رنجو
الله اللو اللو الله اللو اللو الله اللو اللو [illegible]

ACKU

### کوچلانه

له څرمني څخه یو بل جوړ شوی شی دی، چې کوچ پکې ساتل کېږي، خو دا هم باید ووایم چې په کوچلانه کې کوچ په پلېندونو کې ساتل او تولېږي. چې کله له پسه څخه څرمن و ایستل شي، بیخ یې تېربوزي کړي د کوچلني د زني لپاره یو بوتی په پلبندو کې پیدا کېږي چې بیخه نومېږي. بیخه یو تریخ تیز شین رنګی بوټی دی. کوچیان دا را وشکوي، بنه یې په تیره وټکوي. د څرمني لوبوالي ته هم کتل کېږي، خو بیا هم دوه یا دري تاکه مالګه ور واچوله شي، بیا یوه اندازه تروي ورګدې کړي دومره تروې چې د څرمني هرې برخې ته ورسېږي، دا زنه له شپږو نیولې کابو تر لسو ورځو پورې په کوچلانه کې پرته وي. که تروې کمې کړي، نورې ور واچوي، هر وخت وزن بوروي، د شپږو او لسو ورځو له مینځه زنه ختي توبه کړي، پاکه پرې وله شي. له پریوللو څخه وروسته مالګه پرې پورې کړي، چې هرې برخې ته یې مالګه ورسېږي، نوره کوچلانه په کار واچوي. کوچ پکښې تولېږي له هر راز بارنیو تاپاکیو څه پاک وي

د کوچلني په ارتباط که یوه بنځه دېره مزې (چاغه - څربه) وي دا وینا ورته کېږي. وایي

- بي بي جانه داسې مزې ده لکه د کوچو کوچلانه
- کوچلانه دې له خانه جوړه کړه
- داسې شوې لکه کوچلانه
- له کوچلنې دې هم تېره کړې ده
- پلاني بې غمه دی. کوچلانه تري جوړه شوه
- بې اندېښني ده. لکه کوچلانه له غوړیو ډک شو

### غرک

د پخې څرمني یو بل خپل (دول) دی. کله چې له پسه څخه پستوکی د باسي، دزنې تیاری ورته نسول کېږي د غرکې لومړی زنه ایره وي. خو د داسې بونیو ایره چې تېزه ایره ولري. کوچیان دا ایره تېزه یادوي. لکه د غوریزد، ـ ري، جنار، ککړ (کېښکر)، زغه او داسې نور چې ښه سپینه وي هغه بنه ایره یادېږي. له هر څه نه مخکې وچه ایره وزنې ته ور واچوي، په ایره پسې سملاسي ګرمې اوبه ور واچوي، څه وخت چې ایره او اوبه ور واچوي بیا غراک په یوه حال نه پرېږدي، هره شپه یې بوروي. دا خکه که د ـ ـ ـ یوه حال پرېږدي نو ایره غراک له منځه وري، خراب کېږي، ـ ی

ACKU

(تیــنــي) غوټــې نــه چــې ایــره ور ولــوېږي. پــه دې وخــت کــې لــه خرمنــې څخــه وړي او وژغنــې هــم پــه اسانۍ ســره شــکېږي. پــه څرمنــې برســېره پــه دې وخــت کې یوه نري ربینه پیدا کېږي. لکه د فیاز په پټ هغه نري پرده هغې ربینې تــه خــور واي د ایــرې پــه واســطه لــه څرمنــې څه خــور هــم واوړي. د څرمنــې مــخ ســپین شــي، ښه ســپینه ښکاره کــېږي. چــې مــخ یــې ښه پــاك (پیجــو) شــي، لــه هغه وروسته د ایــرې اوبــه خینــې تویــه شــي. پــه تــازه یخــو اوبــو پاکــه شــي، چــې کله ښه لــه ایــرې پاکــه پرېولــل شــي، بلــه زنــه د اومــانو ور اچــوي، ټکــول شــوي اومــان را واخلــي، پــه لــوښي کــې یــې د انــدازې لــه مخــې واچــوي. اپشــندلې (خوبن) اوبــه پکــې واچــوي. بیــا یــې وروســته چنــګال کــړي، ښه خــواري پــورې وکــړي چــې پــوه شــي چــې د اومــانو خونــد پــه اوبــو کــې ووت، یــوه انــدازه دننــه غوټــې ته ور واچوي. یــو څه پــه لــوښي کــې پرېږدي بیــا غــوټ پــه همــدې لــوښي کــې کــېږدي تــر څو پــه منــخ او بــاندې پــه زنــه کــې پــټه شــي. زنــه پــه پــوره ډول ورتــه ورســېږي ســهار تــر مــابناه پــورې پــه همــدې زنــه کــې ایــښي وي، تــر څو د اومــانو رنــګ او خونــد ښه واخــل، چــې پــه دې پــوه شــي چــې رنــګ او خونــد یــې واخیســت بیــا لــه هغــه وروســته د اومــانو ټول خــس او خځلــه تــرې راټول شــي اوبــه ټولــې پــه غــوټ کــې دننــه واچــوي. پــه غــوټ کــې پوهــه کــړي یــانې هــوا ورکــړي، ښه ډډه شــي. کــابو یــوه نیمــه ورځ همداســې ډډه پریــښودل شــي. د لمــر پــه وخــت کــې یــې لمــر تــه اړوي را اړي. پــه دې وخــت کــې د غوټــې رنــګ ســور واوړي وروسته بیا هوا خینــې وباسي پــه اسـتر یــې واړوي.

لــه دې څخــه وروســته ډېره نرمــه ســره ورتــه راټولــهٔ کــړي، کــه ســره نــه وي ایــره هــم کېدای شــي، لــه ســرې یــا ایــرې څخــه غــوټ د ډبــې پــه زور ډکــه شــي، ښه یــې تختــه کــړي، کــه د غوټــې خولــه اړادول غــواړي پــه خولــه کــې یــې هــم یــو څه ور تختــه کــړي. یعنــې د اورمــېږه پــه ځای کــې څه ورتختــه کــړي د پســه د پــښو ځای تــه ګوډي وایــي. ګوډي یــې هــم ښې تیکــې کــړي ددې ورځې لاز یاتــه لــه ســرې یــا ایــرې ډکــه غــوټ اېږدي. دا کــېدای شــي چــې د غوټــې پــه اســتر پــورې لــږ لــږ غــوښه شــلېدلې (شــکېدلې) وي. پــه داســې حــال کــې چــې غــوټ لا ډکــه وي، دا ســوښه پــه یــوه پــڅ تیــغ ختــې وکــروي، تــر څو غــوښه ختــې پاکــه شــي. بیــا یــې لــه ســرې یــا ایــرې څخــه خــالي کــړي. پــه دې وخــت کــې غــوټ داســې کلکــه ولاړه وي تحــه ډول. د ســـتېدو خطر وي. لــږ اوبــه پــرې پــوګ وهــي، پــه ډېر احتیــاط ســره غــبرګه نــړي ـــه غــبرګېدو څخــه وروســته ې پــه داســې ځای کــې وځړوي چــې هــوا او ... ګ (دود) یــې وهــي. وروســته بیــا بلــه زنــه غــواړي، بلــه زنــه ښه

سیسه ایرد په اوبو کې وایشوي. له اوره حخه یې چې کوزه کړي. کراره یې په یوه ځای کې کېږدي چې ختّه یې کېښني اوبه نرۍ ونینوي په دې اوبو کې د خیرۍ، کېښکر تکول شوی پټ یا تکول شوی اومان واچوي، په اور یې کېږدي یو جوش ورکړي. وروسته بیا هغه د پاتې تینولې ایرې په ختّه کې غړك پسته کړي په مخ یې واړوي. بیا بره جوړه شوې زنه غړکې ته ور واچوي. په دې زنه کې ډېرې شیپې او ورخې اېښې وي، تر څو د زنې خوند او رنګ به واخلي. خو هره شپېبه غړك بوروي، لټ په لټ یې اړوي، چې له دې زنې څخه غړك پاکه شي، نوره د استعمال وړ شي ښخ یې وکنډل شي، دغو کنډلو ته څېړی وایي. د اوبو د ژې وروستې وار کنډلو ته هم څېړی وایي. د غوړیو د ژي وروستي وار کنډلو ته ازار زون وایي چې کله یې پوخ وګنډي وایي د ژي ازار زون یې وکړ.

اوس به راشو د غړکې په ارتباط خبرو ته له غړکې سره په تړون داسې ویل وایي:

- څوك وايي چې زما د غړکې خوند بد دی
- پلانی ځای داسې پړسېدلی لکه غړك
- په دبي یې کې تخته کړې لکه په غړك کې
- پلانی داسې ډډ شوی لکه په غړك کې چې باد واچوې
- له خوره یې کړه.
- خور څینې واړوه.
- داسې ډډ شوی لکه د مستو غړك.

له پیرواکي سره په تړن دا لاندې ویل کېږي، خو دا د هغه چا په باره کې ویل کېږ چې دی بل چا دومره ګنده کړی وي چې خپل واك څینې پردی وي، د مړي په مثال وي وایي:

- پلانی لړ پاتې دی، پیرواکي ته یې سیخ کړی، پیرواکه به یې وکړي

همداراز که یوه څرمن بل وخت ته ساتي، یعنې سملاسي یې ته یخوي، کله یې چې په کا رشي هلته یې یخوي. له دغسې څرمنې څخه دننه لوري غوښه پاکې کړي. چې غوښه څنې وشکوي، بیا نو مالګه پرې پورې کړي، هرې برخې ته یې مالګه ورسوي، بیا یې هوا ته وځړوي. چې وچه شي که غواړي چې غبرګه کت په کت یې کړي، لړ لړ اوبه پرې پوک وهي. په

ACKU

احتیاط سره یې کټ په کټ غبرګه کړي. بیا یې په یوه سنګلي ځای کې وځروي. چې کله یې پخوي پخولی یې شي.

که چیرې د یو چا پوزه تړي. لکه غوښتنې وي یا یې سر پلن تېره تېره غونډې وي. له هغه سره تېر بوزې یادوي وایي

- د پلاني داسې تېربوزې پوزه ده
- داسې تېربوزې مخ یې دی
- داسې تېربوزې سر یې دی

په پورته د یو شیانو پورې داسې وینا کوي. ویونه تېربوزې ورته یادوي

تیر او تیر بوزې د غره لورې او اوږدې ته هم وایي

لکه غرګ چې کله له ایرو څخه تشوي بیا یې یو او بل لوری ډېوي، تاسو به اورېدلي وي چې پلانکی ډېر ډېبدلی دی. ناپونه او زیانونه یې وکړل وډېبېده یا حکومتونه له مالي پلوه وډېبېدل

***

# شودې لوشل او نور خواړه ځنې جوړول

څرنګه چې مونږ دا خبرې را ټولې دي چې کوچیان څرنګه د ضرورت وړ شیان جوړوي او خپل ضرورتونه له خپلې مالدارۍ څخه پوره کوي، نو دا خبره سودمنه بولم چې د شیدو (شودو) په لاس ته راوړلو او له شودو څخه په نګولې کولو یو څه ولیکم او د خینو شیانو له نومونو سره به هم بلد شو، لومړی غواړو په لوغ څه ووایم

لوغ:

کوچیان د مېږو او وزو لوشلو ته که یې د خبرو په منځ کې یاد کړو، نو به داسې ووایو لوغ کوم یا لوخ مې وکړ یا پلانی بنه لوغ کوي، دا خو هر چا ته وریته (جوته) ده چې کوچیان ډېرې مېږې او بوزې (وزې) ساتي نو د هرې مېږې بېل بېل رانیول او بیا یې لوشل ډېر ګران (ستړی) کار دی، نو د دې لپاره چې ډېرې مېږې یا وزې په یوه ځای وتړي او نورې مېږې هم پورې ونیسي کوچیان یو ډول پړی جوړوي چې ځنګی (زینډې) او ونډر ورته وایي. ځنګی (زینډی) او په ونډري کې د هرې مېږې لپاره یو بېل پړی جوړ شوی وي چې هغه ته غړوندی وایي

په ځنګي باندې ټولې مېږې او وزې وتړي که کومه مېږه یا وزه نیوی نه کوي، هغه هم د ځنګي په لورې را ایساد کړي، هلته په نورو تړل شویو مېږو کې بنده شي په اسانۍ سره رانیول شي، ټولې لنګې مېږې وتړي، که چیرې مېږې یا وزې دومره ډېرې وي چې تړل یې هم ستونزه لري او خلاصول یې هم ډېر ستړي وي نو د داسې مېږو او وزو لپاره یو ایسار جوړېږي دغه ایسار ته ...بوند وایي، د ریوند یو لور خلاص وي د دې لپاره چې لنګې مېږې پرې ننه باسي ټولې لنګې مېږې ریوند ته ننه باسي له خلاص سورې ... څوان ور ایساري کړي د ریوندي په یوه لوري کې بوه ...

غونـدې لاړ وي چې لـه هغـې لاړې لوغـې تـه مـېږې ور وزي، لـه هغـې لاړې مـېږه یـا وزه وباسـي، لوغـی یـې لوشـي، هلتـه د شـودو د ټولـو لپـاره دیـګکی دیګونـه ایښي وي. د دیګیـو پـه سـر بـاندې یـو کېسـم (خـېل) جـالین توکـری غـوټه وي چې نینوتـی ورتـه وایـي، نینونـی د دیګیـو مینـځ تـه هېڅ نـه ورپـرېږدي، نـو کـه چـرې مـېږې پـه څنـګي تړلـې وي، لوغـی د هـرې مـېږې کونـې تـه کېښنـي وروسته پښې یې دومـره سـره بېرسـه (لـرې) کـوي چې پـه غـولانـځه یـې لاس ازاد وهل کېږي. نوره یې د لم لـه لوري لوشي لـه یـوه پلـوه کومـه مـېږه چې لـوه شـي خلاصوي یې څکـه دوی وایـي چې تړلـې مـېږې سترېږي او کـه مـېږې پـه ریونـد کـې وي نـو د ریونـدي لـه لاړې یـوه یـوه مـېږ لـه ریونـدي را ایسـتل کـېږي، د لاړې پـه دواړو لوریو کې لوغیـان ناسـت پـه هغـوی نیـول کـېږي چې کلـه ولوشـل شـي لـه ریونـدي څخـه د بـاندې شـړل کـېږي، پـه دې ور (ترتیـب) لـوغ کـېږي دا هـم سـرې وریتولـی شـي، چې لـه ریونـدي د بـاندې مـېږه او وزه لوشـل شـوې ده د یـادنې وړ ده چې ځینـې مـېږې او زې داسـې عـادت لـري چې د لـوغ پـه وخـت کې پـه لوغـې بـاندې پـه خپلـه درېږي دا بـاید پـه یـاد ولـرو چې کـوچیـان د ډېرو مـېږو او وزو لوشـلو تـه لـوغ وایـي او د یـوې تـه لوشـل او لوسـل وایـي. سیاسـي قـانوني او نظـامي ریونـد څومـره ښکـول ټکـی ده.

کوچیـان لـه څنګي او غړوندي سره پـه تړونـد داسـې وایـي:

- مـال ځینـې راولـه، څنګی هم ځنـې راټول کـړه، وښیـي لـه هـر څه یـې خلاص کـړه.
- ټول یې پـه یـوه څنـګي وتـړل
- د تـا دا زړه دی چې ټول پـه یـوه څنګي سـره وتړو
- ټول قـوم بـاید لـه یـوه غړونـدي سـره سـره وکـاږي.
- کـه څوك د قـوم یووالـی غـواړي. هغـه لـه یـوه غړونـدي سـر سـره کـاږي
- لـه هغـې شـي تـاو شـئ یـا لـه دوښمنـه تـاو شـئ، تـرې غړنـدي شـئ
- مـا ټول عمـر لـه یـوه غړونـدي سـر در سـره ښکلـی و، تـا ځان ځانـي خوښـه کـړه
- چې لـه یـوه غړونـدي سـر سـره و نـه کـاږو خـوارېږو.

که یوڅوك له خلکو څخه ښه مال دولت ګټلی شي د هغه په باره کې داسې وایي:

- پلانـی ښه لوغـی دی
- بیـا بـه د هسـتی تیغ نـه کـاږي، پلانـی لوغـی لـوی دی.
- پلانـی خلـك ښه لوشـي

کنداتی (کنډ):

سترو ورې اوښې او همدارنګه د نورو شودو لرونکیو حیواناتو او هم د ښځې د لومړي وخت او ساعت شودې دي. کله چې بلاربه غوا مېښه یا ورلسه اوښه غولانځ پړسېدلی او د خېټې د بچي ورې، سېرلی، سخوی، مېښکتی، جونګي لپاره په غولانځ کې پې تولوي. هغې ته کوچیان کنداتی وایي. کله چې یوه مېږه، وزه او اوښه لنګه شي لږ شېبه وروسته په مور باندې خپل بچي (وري، سېرلی او جونګی) روږدی شي. یعنې پرې ورودل شي، خو دا باید ووایم چې د روږدېدلو کوښښ یې کوي، د مړولو کوښښ یې نه کوي. دوی وایي کنداتی ډېر قوي غذایي اهمیت لري. که لږ وروي هم بس کېږي یې. خو له دې سره سره دا هم کوي چې د بچي خوله هر تي ته ورسوي، په تولو تیو یې روږدی کوي، په هر تي یې چې بچی روږدی نه کړي دا خبره تاواني ګڼي دا ډېره ضروري ګڼي چې په هر تي به یې روږدی وي، له کنداتیو څخه لومړی د خوراك شی چې څوك جوړوي هغه ته چکه وایي. کله چې له مېږې وزې او اوښې څخه کنداتی را ولوشي، سوچه کنداتي په اور کېږدي، د لوښي په څنډو کې خك راپورته شي، دا یې د اېشېدو نښې وي لږ شېبه وروسته ټول کنداتی په لوښي کې موره شي چکه خنې جوړه شي

سیلۍ:

له لنداتیو څخه جوړه یوه مایه ده چې پوخه پرې مایه کېږي. کله چې یو داسې ورې یا سیرلی مړ کېدو ته نږدې شي چې کنداتی یې رودلی وي، یعنې دومره تندی وي چې د مور له غولانځې څخه یې د لومړي او دویمې ورځې کنداتی خوړلی (رودولی) وي داسې سېرلی یا ورې حلال کړي له نس څخه یې له کنداتیو ډك لړی راوباسي همداسې ډك یې په یوه ساتلي ځای کې سیوري ته هوا ته وځړوي، تر څو ښه وچ کلك شي، نور یې په خوله کې وساتي، که وغواړي چې پوخه جوړه کړي، یوه ټوټه ترې را بېله کړي، په پاك توکي کې یې غوټه کړي، یا یې پکې وګندي، پوخه پرې مایه کوي د پوځې یادون به په خپل ځای وشي.

ورګه:

یو بل ډول مایه خواره دې چې د کنداتیو په مرسته جوړېږي، اوس غواړم د قلم په څوکه اورګه درته جوړه کړم. کله چې یوه مېږه، وزه، اوښه او غوا لنګه شي. له یوې ورځې یوري یا یې که ډېر وکړي له شپې او ورځې

پوري کنداتي کوي په هر حال کنداتي په شودو (شيدو) پوري ډېر ښکاره زېر ښکاره کېږي. يوه اندازه کنداتي را واخلي په شودو (شېندو) کې يې گډ کړي که غواړي چې ورگه ټينګ پاخه کړي نو کنداتي په شودو زيات کړي او که غواړي چې مناسب ورگه جوړ کړي نو دوه برخې شودې کړي يوه برخه يا لږ کنداتي ور گډ کړي. که بيا هم نري (ښکي) ورگه غواړي نو ډېرو شودو ته لږ کنداتي ور گډ کړي

نور نو ديگي (ډېگ) په اور باندې کړي، چونچه مسلسلهچکې ښوروي، هېڅ يې نه کريابه کوي که کنداتي پکې ډېر وي، په خپله جوت ښکاره شي، ټينګ شي او که کنداتي پکې کم وي نو بيا د چونچې له اواز (غږ) څخه معلومېږي چې چونچه په ډېگي کې ښورول کېږي، د ډېگي غږ صاف، وي چې لږ وخت څوشېبې ووزي د چونچې غږ په ډېگي کې دروند شي، که د چونچې په غږ ورگه ځوك نه شي معلومولای نولږ د معلومات لپاره د لوښي په مخ تويهکړي که د لوښي مخ يې سپين کړ نو ورگه جوړ دي، يعنې له شودو څخه ورگه لوښي ډېر سپينوي، چې کله ورگه پاخه شي، سلاسي يې بل لوښي ته اړوي، چونچه پکې وهي، تر څو زر ساړه شي، دا بايد وويل شي چې ورگه ډېر اور نه غواړي که ډېر په اور کېښودل شي يا زر په زر ساړه نه شي نو بيا خرابېږي، چې کوچيان ويران ورته وايي، ويران هغو ورگو ته وايي چې اوبه پکې پيدا شي، وشوه تخې تخې شي، د يادولو وړ ده چې په کوچيانو کې چې - چا غوا لنگه شي، ډېر ورگه ځينې جوړ کړي، ټول کليوال د ورگو لپاره رامبلمانه کړي که د چا غوا لنگه شي او ورگه يې کليوال مېلمانه نه شي دا يوه نامردي گڼل کېږي. د غوا ښتن ته يې تل د کوچيانو په استلا (صطلاح) په غوړ ور وهي

مستې:

مستې خو هر چا ليدلې دي، جوړول يې هم ياد دي، خو بيا هم زه د کوچيانو په ارتباط غږېږم، بايد له مستو څخه يې هم مخ وانه ړوم. کله چې د مېږو د لنگوال څو ورځې ووزي او شودې پخې شي. دا خکه چې کوچيان وايي چې شودې خاې وي يعنې د مېږو د لنگوال ډېرې شپې ورځې نه وي وتلې له داسې شودو څخه مستې هم ښې نه جوړېږي او کوچ هم پکې کم وي. نو چې کله د مېږو او وزو د لنګون ډېرې شپې او ورځې ووزي، بيا نو مستې ترې جوړوي. د مستو د جوړولو لپاره شودې په ډيگي کې واچوي په اور يې کېږدي. اور پسې بل کړي څه وخت چې يو خوښ را پورته

شي نور د يګی لـه اور څخه کوز کړي په يو ساتلي ځای کې يې کېږدي، تر څو لږ سړې شي، چې کله پوه شي چې ماېې ته تياري شوې، د ګرمو او سړو د معلومولو لپاره د لاس د اخرني کوچني (خچې) ګوتې سر پکې ټېټ کړي چې ګوته پکې سوځي و يو نو يو چونچوړی مستې يا تروې ور واچوي، که شودې زياتې وي ما يه هم زياته ور اچول کېږي. کومې مستې يا تروې چې شودو ته ور اچوي. هغوی تـه مايـه وايي، د چونچې پـه واسطه شېدې ښې ولړل شي، چې مايه ښه پکې ګډه شي، نور نو ديګی پـه کراره پرېږدي. چې څومره ديګی ډېر وخت پـه کرار کېښوول شي. هغومره مستې ښې مايه کېږي

مورډېر پخوا د مستو پـه ارتباط لاندې خبرې اورېدلي خو ويونکي يې کوچی نه دی، دا خبره بل چا کړې. کرياني کړی اورېدلي مې هم لـه کرياني ده:

* ښې تينګې مستې وي کډلي مې کې منډ وي ښه مې ځان پې تنډ وي
* ښې تينګې مستې وي کډلي مې کې اوړه وي ښه مې ځان يې موړ وي

- لـه مستو خوږې قران کړی اوبه خو را ولېږه. يانې مستې خوښې هم نـه راکوې. خو اوبه خو راولېږه
- دا پښتو لنډۍ هم پـه دې ارتباط ښه وايي

موږې کوچيانو تـه مې ورکـه
کنډک کنډک مستې به خورم چغه پـه ښه

## کوچ او تروې

څه وخت چې مستې ښې کېږه ودرېږي، وروسته لـه ښه درېدو بيا يې غړکې تـه ور واچوي، هسې خو غړک پـه خمکـه هم منل (ښوروك اشاريل!) کېداى شي. خو څرنګه چې د کوچيانو پې ډېرې وي نو پـه خمکـه ښوروك پي ورته ګران وي. نو غړک ځوړي. د ځړولو لپاره يو لرګی سه کېږدي کې ورته اچوي. چې ځړك ورتـه وايي کـه پـه کېږدۍ پوړې ښې وا نـه چوي. نو درې لرګي ورته تړي چې لکړې ورته وايي پـه دې لکړې پوړې ځړك اچوي، د ځړکې د لرګي پـه وارو سرو کې پرې اچول شوي وي، پاس بيا پـه يوه ځای کې غوټه وي. پـه دې ترتيب د غړکې منل ډېر اسانه وي

نـو کـه چېرې غوارۍ چې غړك وځوږي. د غړکې پـه بېرتـه (وروسـتيو) ګوډيو کې او مخکې ګوډيو کې د ځړېدلو لپاره دوه پړی وي د دې پړيـو پـه مرسـته د غړکې دوه ګوډي د ځړکې د لـرګي پـه يوه سر کې واچوي، او دوه ګوډي پـه بل سر کې واچوي. پـه دې ور غړك وځوږي، غـړك موښونکې

ښوروونکي، ښځه د خولې لـور تـه ورتـه کېښـني. پـه يـوه لاس يـې حوڼـه ونيسي په بل لاس يې گوډی ونيسي نور نو غړک د خولې او بېخ لور ته د پره اوچته په زوره زوره ښوروي. تر ډېره يې ومښي بيا يې خوله خلاصه کړي. څگ ښکاريږي، دا لانه وي مښل شوي نور ژراميل (شاربل) هم غواړي چې کله د کوچو خڅوزي (خاشې) توتې پکې ښکاره شي اوس مښل شوي وي.

اوس د کوچو تولولو ته له لوړ ځای څخه را کوزه شي. په ځمکه يې پر مخ پرته واچوي، د غړکې د بېخ په لوري لږ لاس تينگوي، د خولې لور ته يې تولوي. کوچيان دغه چارې ته د غړکې تولول وايي، تر څو شېبو پورې غړک همداسې تولوي. تر څو کوچ د غړکې د خولې لور ته سره يو ځای شي. چې کله غړک تولـه کړي، کوچ ايستو ته يې تيار کړي، نو په زياتو کوچيانو کې له غړکې څخه کوچ ايستل د واکمنې يوې مشرې سپين سرې ښځې کار گڼل کېږي. دا چاره دهغې د درناوي په خاطر هغې ته سپارل کېږي چې کله کوچو را وباسي، نو لومړی په لوښي کې لږ اوبه واچوي بيا د کوچ په را ايستلو پيل وکړي د لوښي په اوبو کې کوچ ډېر ښه سره يو ځای کېږي. چې کله له غړکې کوچ را وباسي، يو چنگال کوچ په لاس کې را پورته کړي په لاس کې يې پورته اچوي. ته به وايې لوبې پرې کوي. دا د دې لپاره چې اوبه او تروې ځنې ونښږي (تړې بېلې شي) همداسې په لاس کې نيولې کوچلنې ته يې واچوي

د مستو د ډکې يا کتوي په بېخ کې له مستو څخه يو څه پېلوي چې هغې ته گاره وايي. د گارې د ښه پېژندلو لپاره نور څه په خيال کې نه راځي. يوازې دا ب وو ايو چې د مستو بېخ ته گاره وايي.

د گارې په ارتباط داسې وايي

- نه دې وږې پـايم نه دې گاره خورم
- څومره گاړې مې در کړې هېڅ درباندې معلومه نه شوم و
- په گار مې لوی آ رې

## چکه

ښايي د هر چا ياد او زده وي. خو بيا هم موږ د پيو په باب قلم پورته کړی دا نه گڼم چې په دې باره کې مو څه ووايو. يو ډول چکه کوچيان داسې جوړوي چې تروې په توکر يا د رخت په يوه کڅوړه کې واچوي په يو سيتلي ځای کې يې وځړوي چې کله اوبه يې تر [illegible] خواږه په

کخوږ کې پاتې شي نوره نو چکه جوړه شي. ځینې د نرو خوږو نه چکه وايي

بل ډول هم هسې ته ور نږدې ده. هغه داسې چې تروې لږ په اور کېږدي چې لږ ګرمې تودې شي، نور ډېکی له اور نغري څخه را کوز کړي، په یو ساتلي ځای کې یې کېږدي. چې خوټ یې و نه نیوروي، له ډېر اېښودو وروسته پې او اوبه سره بېلې شي اوبه شنې پکې ښکاري. بیا په ډېر اواري (احتیاط) سره اوبه ځنې بېلې کړي. خواږه یې د ځان لپاره پربېږدي.

## مسکه یا مسوه:

د چکې یو بل ډول ده چې په توکري کې تروې واچوي، اوبه ځنې بېلې شي او چکه ورڅخه جوړه شي. دا چکه په یوه ډېګي کې واچول شي، څرنګه چې په چکه کې اوبه ډېرې کمې وي، نو د دې لپاره چې چکه د اور توان ولري. یوه اندازه تروې ورګډې کړي، ډېګی په اور کېږدي. چونچه پکې ووهي، تر څو تروې پکې ګډې شي، مسلسل اور پسې بلېږي، چونچه پکې نیوروي، په اور باندې یې ښه ډېره واېشوي. خو دا خیال کوي چې و نه سوزې. چې ښه پخه شي، ډېګی له اور څخه کوز کړي، تر څو ډېګی ښه سوړ شي وروسته له سړېدو څخه یې په یوه پاك توکر (شوړی) کې واچوي، چې اوبه یې تږې ونینیږي. که داسې هم اوبه ځنې و نه نینیزېږي نو مسوه په توکري کې ښه سره راټوله کړي، لاندې یو لوړ لوښي یا تیږه ځنې کېږدي. برسېره هم یوه تیږه پرې کېږدي. په دې ترتیب ټولې اوبه ځنې ووزي. خواږه یې پاتې شي، وروسته له دې یې را واخلي، د اندازې له مخې خپلې مالګه ورګډه کړي. چې هر ځای ته د مالګې ټوټه ورسېږي، چې مالګه هم ورګډه کړیو اوس نو مسوه جوړه شي. په غرك کې یې واچوي. غرك په تېږو یا بوټیو اواره کېږدي. که مسوه ډېره وچېده لږ لږ تروې ور اچوي. که تروې نه وي د چینې تازه اوبه هم ور اچوي. څه وخت یې چې زړه غواړي خوري یې مسوه له میاشتو میاشتو په غرك کې پاتې کېدای شي

## پتی کورت:

کله چې تروې جوړې کړي څومره چې خپله خوري هغه غرك کې واچوي او کومې تروې چې له خوږو څخه زیاتې وي، د هغوی لپاره یو د رخت سوزوره کخوره جوړوي، چې ځینې کوچیان خلته ورته وایي له درزسه

زیاتې تروې په خلته کې اچوي خلته دومره لویه وي چې د ډېرو ورځو اوږدې پکې ځاییږي. خلته په غټو غټو تیږو ایښې وي. هره ورځ تروې پخې او ځوړ کړي او بیا یې سړی وښیتېږي. یوه تیږه هم له پاسه پرې کېږدي. تیږه د دې لپاره یې ږدي چې اوبه څنې ووزي. تورې تروې ځای کړي بلکه دا ځینې کوچیان داسې وایي چې د دې اوبو په وتو سره د کورتو خوند سمېږي. دا خیل کوچیان په خلته کې د ډېرو ورځو تروې تولې کړي

چې کله یوه شی چې د کورتو تلی ځنې جوړېږي یعنې دومره تروې تولې شوې چې د کورتو تلې ترې پوره کېدای شي. اوس نو د پخولو تیار ورته نیسي د کورتو د پخولو لپاره لوی لوی دیګي لري. دېګونه په اور باندې کړي له خلتې څخه چکه را وباسي په دیګیو کې یې اچوي. د دې لپاره چې په چکه کې اوبه پیدا شي یوه اندازه تروې هم ورګډې کړي. تر څو لږ پرې سړی سي او د اور تاب هم ولري. لږ مالګه ورګډه کړي که د چا زړه غواړي چې سورت سخت کلک جوړ کړي نو لږ وچ اوړه هم ورواچوي. نور نو په دې ې سي اور لاندې کړي چونچه پکې وهي تر څو ښه پاخه شي. ځینې خلک یې بیا داغلي کړي یعنې چې لږ سوی غوندې خوند کوي هغوی کورتو ته داغلي وایي

د دوړو د نیتولو لپاره ځینو خلکو په ځمکه کې ځای ژور کړی وي. د خوړو په مخ یې دورشل. ترخې او د سپېرکي بوټي اچولي وي په هغه برسېره شوړې (شړې) واچوي. پخه کورت په دې کندې کې اچوي او ځینې کوچیان بیا پخه کوروته په داسې نور ځای کې نیتوي چې اوبه یې هم تولوي د کورتو د پخو اوبو یادونه به په خپل ځای کې وشي. په هر حال هر چېرته یې چې نیتوي. خو بیا هم د کورتو د تلې ځای ډېر اوار وي. اندازه یې برابره وي. چې کله پکې واچول شي چونچه پکې ووهي. تلی ښه اوار شي. نور نو نه یوه وخته پورې پرېښوول شي چې لږ ونیتېږي. چې پوه شي اوس کورت دومره وچ شول چې لیکه (خط) پکې تېره شي او بېرته نه سره کدېږي. نو د یو څه په واسطه څلور خانه یې لیکه خطونه پکې تېر شي چې په دې شان څلور کونجه کورت جوړ شي. داسې کورتو ته کوچیان پټۍ کورت وایي

د کورتو په ارتباط یې د کورتو د تلي په ارتباط موږ ته کومه خبره نه ده ورته معلومه، خود شوړې (شړې) په ارتباط داسې ویل کېږي چې

- پلانی خپلې ورې نه شي شوړې کولی. وشوه خپلې چارې نه شي سمولی
- پلانی د خپلې ورې شوړې کړي
- پلانیه تا خو خپلې ورې شوړې کړې خو د نورو خلکو په شریستو کې لګیا یې
- نه دې خپلې ورې شوړې کړه
- که تا خپلې ورې شوړې کړې وای موږ به هم منلې وه
- نه د خپلو وریو د شوړې کولو نه یې
- یا له پلانې ځخه د هغې د چارې به باره کې شوړې شوه
- هغه خبره ترې شوړې شوه
- پلانی له خپله زوره وتوانه ولویده هر څه ترې شوړې شو

که یو څوک پردې غم خپله وي د هغه په باره کې داسې وایي

- پلانی پردیو بارانو نه شوړې نیسي
- پردیو بارانو نه شوړې مه نیسي
- نه پردیو برانو نه شوړې نیسي
- پردیو برانو نه دې شوړې نیولې دا دې حال شو

## نیمکي کورت:

هغو کو: تو نه وایي چې په لاس ګرد ګرد جوړ شوي وي. لکه نن سبا چې په عامو بازارونو کې خرڅیږي. د دې کورتو پخول کوچیان د پتې کورتو په څېر کوي. خو بیلوالی پکې دا وي چې څه وخت یې چې په شوړې (شړې) کې واچوي. د اوارولو په فکر کې یې نه وي په دې کوښښ کې وي چې اوبه زر ترې ونیښوي. که اوبه زر نه ورځخه نینېږي. شوړې سره را تولـه کړي له کورتو پاس یې غوټه کړي نوره نو یوه تیره پرې کېږدي. تر څو اوبه یې ځنې ووزي. چې کله اوبه ترې وڅښېږي. شوړې خلاصه کړي د کورتو په جو.لو لاس یوړې کړي لکه څرنګه چې په پتې کورتو کې مو وویل چې تر مالګه لومړی ور واچوي اوس د جوړولو په وخت کې هم لږ مېده مالګه او اوره ور واچوي. دا باید وویل شي چې له پتې کورتو ځخه په نیمکې کورتو کې مالګه لږ زیاته وي

اوس یې نو لاس نه برابر کړي په چنګالولو یې بینا وکړي لکه څرنګه چې څوک اوړه لمدوي. (اغبږي) همداسې لامده کورت به چنګال وهي هلـه هلـه. تر څو مالګه او اوړه له کورتو سره ښه ګډ کړي له ګدولو وروسته یې

په جوولو پیل وکړي، لږ کورت په ګوتو کې را بېلوي په دوارو لاسونو کې یې سره تاووتي، لږ یې په دوارو لاسو کې سره تاو راتاوي کړي ښه سره ګډ او ګرد غونډې جوړ شي، هلته یې تیار ځای ورته جوړ کړی وي، په هغه ځای کې یو کورت له بل څخه بېل ږدي. په دې کړو باندې ټول کورت جوړ شي، لمر او سیوري ته وچېږي. خو که لمر ډېر توند (تېز) وي بیا سیوري ته وچ شي اخر دومره کلک شي چې د هر چا لپاره یې په غاښونو ماتول ګران وي، که چېرې کورت ډېر کلک وي نو زدویل (سولول) یې سخت وي او د سوله ولو په خت کې سرې (خوښ) اوبه پرې تویې کړي په دغو اوبو یې زدویي (سولوي). که ډېر کلک نه وي، نو په سړو اوبویې سولوي.

خرېین:

یو بل ډول لمده بل دی چې کوچیان یې جوړوي، لکه څنګه چې موږ مخکې وویل چې ځینې کوچیان د پخو کورتو اوبه ټولوي، دا پالتو اوبه په لوښیو کې ټولې کړي، نو یې په دېګي کې په اورباندې کړي په دېګي پسې ډېر زورو اور لاتدې کړي دېګی دومره وایشي چې دا شین رنګې اوبه ټینګې شي چې کله ټینګې شي دیګی له اوره کوز کړي، د کورتو په څېر هوار ځای ورته جوړ کړي، شوږی ورته واچوي، له دیګي څخه سم د ځوښا په څېر خرېین په شوږی کې تویې کړي، چې کله ښه ونینېږي د پټی کورتو په څېر لیکې پکې تېرې کړي پرې پرې یې کړي د خرپین چکې جوړې کړي.

د یادونې وړ ده چې له خرپین څخه ورسره بلد خلک د دوایي کار هم اخلي، د ډېرو ناروغیو لپاره یې پکاروي. یني طبي ګټې پکې بولي.

د مستو کورت:

د نګولي یو بل ډول دی، که څوک غواړي چې د مستو کورت جوړ کړي نو مستې په دېګي کې واچوي. دېګی په اور باندې کړي اور پسې بل کړي یوه شېبه یې په اور کېږدي چې تودې شي له دې تودېدو سره مستې ویرانې شي، مطلب دا چې خواړه او اوبه یې سره بېلېږي، اوبه شنې پکې ښکاره شي، له ویرانېدو سره سم دېګی له اوره څخه را کوز کړي، په شوږی یا رخت کې یې واړوي. د دې لپاره چې اوبه څنې ونینېږي، د پټي کورتو په څېر یې اوار کړي، تلی یې کړي چې کله دومره وچ شي چې چاودونه یې نه سره ګډېږي. بیا د پټي کورتو په څېر لیکې پکې تېرې کړي. خو دا خبره باید په یاد ولرو چې د مستو کورت سیوري ته وچېږي. دا ځکه چې له دې

ځخه غوړي نه وي ايستل شوي له لمر او پيتاوي سره غوړي ځنې وزي بلـه دا چې کورت هم بدرنګېږي تول غوړي تـرې بهېږي.

**خـايدک:**

يو بـل ډول خـواړه دي چـې کـوچيـان يـې لـه پيـو ځخـه جـوړوي. خـايدك يـوازې لـه مسـتو ځخـه او يـوازې لـه شـودو ځخـه هـم جـوړېدای شـي، او کـه شېدې او مستې سره ګډې شـي هـم خـايدک ځنـې جـوړېدای شـي او کـه چـېرې مستو يـا شـودو تـه تـروې ورګډې شـي بيـا هـم خـايدك ځينـې جـوړېږي. کـه ځوك غواړي چې خـايدك تـروش کـړي نـو تروشـې زياتـه يعنـې مسـتې او تـروې زيـاتې پکـې ګډې کـړي او کـه تـروش نـه غـواړي نـو شـودې زيـاتې پکـې واچـوي. پـه دې ترتيب سره هـر څه پـه دېګـي کـې واچـوي، دېګـی پـه اور پـاندې کـړي اور پسـې کړي تـر څو تخـی تخـی او ويرانـې شـي لـه وېرانـېدو ځخـه وروسـته دېګـی لـه اور ځخه را کـوز کـړي يـو پـاك (پيچـو) سـپين توکـری ورتـه تيـاروي، پـه دې کـې يـې واړوي. توکـری ګرد غـوټه کـړي. لږ او ډېرې وبـه دلتـه هـم ځينـې ونينـېږي. بيـا يې په داسې ځای کـې کـېږدي د مثـال پـه ډول وايـم د لـګن پـه بيـخ کـې يـې کېږدي يـا يـې پـه يـو اواره جـګه تيـږه کـېږدي. برسـېره هـم يـوه تيـګه پـرې کېږدي. د دې کـېږدو ګټه دا وي چې يـو خـو اوبـه تـرې ونينـېږي، بلـه دا چـې لـه خـايدك ځخـه يـوه ګرده او پلنـه پتـيره جـوړه شـي چـې کـوچيـان جګـی ورتـه وايـي، پـه داسې حـال کـې لـه ډېره وخـت پـورې خـايدك ايښی وي چـې خومـره زيـات کېښودل شي هغومـره ښه چکـی ځنـې جـوړه شـي.

**پـوڅه:**

يـوه بلـه خوراکـه ده پـوڅه لـه شـيدو ځخـه جـوړېږي. خـو شـودې بـايد تـازه وي، تـازه پـه دې مانـا چـې لـه غـولانـځې ځخـه رالوشـل شـوي وي، پـه داسـې شودو کې لاد بـدن تودوخـه وي د پـوڅې د مـايې لـه پـاره مـوږ مخکـې يـاده کـړه سيلی ده کـه سـيلی نـه وي نـو د خمـحوری (خپسـکي) پـه دانـو بـاندې هـم مايـه کـېږي دا بـوټي د افغانسـتان د خوسـت پـه سـيمه کـې ريـات پيـدا کـېږي. د خمـخوري دانـې پـه پـاك تـ‌ ې توکـرۍ کـې غـوټه کـړي حيرسـيلی يـا د خمـخوري دانـې دا غـوټه پـه شـودو کـې وهـل کـېږي، بيـا پـه ګوتـو کـې بيـنګېږي پـه دې تـوګه لـه کـځورې يـا غـوټې ځخـه مايـه وزي سـيلی يـا خمـحوره (خپسـکي) دومـره پکـې ووهـي چـې د شـودو خونـد بـد نـه کـړي مايـه زياتـه پکـې و نـه هـل شي چـې کلـه د انـدازې لـه مخـې پـوه شـي چـې مايـه يـې بـس ده شـودې لومـړی سـره ښوروي. خـو بيـا يـې هـم سـره وښوروي چـې کلـه مايـه پکـې ګډه شـي، د

لوښي سر پټ کړي په داسې ځای کې يې کېږدي چې څوك ته پرې لګېږي. که چېرې يې څوك وښوروي يا يې زر ماته کړي بيا نو يو رنګ شني اوبه وباسي ورو ورو اوبه کېږي، خپل اصل له لاسه ورکوي. که هوا ډېره سړه وي بيا د پوڅې لوښی لمر ته کښېږدي، خو د لوښي سر له لمر څخه پټ وي، چې د لمر خوند وا نه خلي.

ځينې خلك چې کله پوڅه مايه کوي، په دې وخت کې يې ډوډۍ (ټکله) پکې ماته (وره) کړي، بيا چې کله مايه شي، نو خوري يې، داسې خوراك ته مسته کی وايي، پوڅه چې څومره زيات وخت په يوه ځای کې کښېنودل شي هغومره ښه درېږي (مايه کېږي). بله دا چې د غوا د شودو دومره ښه پوڅه نه درېږي، لکه د مېږې او وزې.

د پوڅې په ارتباط مو داوينا اورېدلې ده: وايي.

- داسې سپينه خوله دې ده لکه پوڅه
- داسې سپينه خوله يې ده لکه پوڅه

دا پښتو لنډۍ هم شته:

موږې کوچيانو ته مې ورکه

کنډك کنډك پوڅه به خورم چاغه به شمه

دا متل هم شته.

پوڅې په پيغام مه خوره.

پلانی پوڅې په پيغام خوري.

**شيره:**

که له نورو شېرو څخه را بېله کړو، نو به ووايو د پيو يا د شودو شيره له نورو شېرو څخه ځکه را بېلوو چې د نورو خوړو هم بېلې بېلې شېرې شته، شېره له شودو څخه جوړېږي، د شېرې لپاره يوه وره غړك جوړوي، دا ځکه چې دا يو د سفر لمده بل دی، چې شپانه يې د ځان لپاره جوړوي.

جوړېدل يې دا دي چې شودې له وزو يا مېږو څخه را ولوشل شي، سملاسي په دغه وره غړك کې واچول شي، که چېرې لومړی وار شيره جوړېږي، نو لږ تروې هم ور واچوي. غړك لمر ته کېږدي او که بل وخت هم په غړك کې شېره جوړه شوې وي نو له همدې شېرې څخه لږ شيره د بل وار مايي ته په غړك کې پرې ښودل کېږي. يعنې لومړی وار په ترو مايه کېږي. وروسته بيا په غړك کې د شيرې مايه پرېښودل کېږي. وروسته بيا په غړك کې د شيرې مايه پرېښودل کېږي هغه مايه له ډېره وخته پکې چلېږي.

هسې خو شېره له نیم ساعت څخه وروسته مایه کېږي، خو موږ داسې لیدلي چې سهار به مېږې په کګه کې ولوشلې شوي، خامې شودې به یې د شیرې په غړك کې واچولې، بیا به یې غړك لمر ته کېښودله بیا دا شیره غرمه خوړله کېده. غرمه به یې بیا شودې پکې واچولې، غړك به په لمر وهلي رنګ کې پټه شوه، بېګاه(ماښام) ته به چې شپنو مېږې بېرته کګې ته راوستې، بیا به یې شیره په دوډۍ (ټکله) او پتیرې پورې غړپوله.

غوړي:

هغه نوم دی چې هر څوك ور سره اشنا دي، دلته زه غواړم چې د کوچیانو د غوړیو په باره کې څه ولیکم. په کوچیانو کې ښه غوړي هغه یادېږي چې له رنګه تك تور او ډېر تېز ترخه وي، او تونند بوی ولري، نو کوم وخت چې غوړي پخوي دا کوښښ کوي چې په داسې لوښي کې یې پاخه کړي چې د نورو پاخه شویو غوړیو کوونې پکې پاتې وي، دا لوښی داسې پیدا کېږي چې په کور او کلي کې یو څوك غوړي رنه (پاخه) کړي بیا نو دا لوښی په ټول کلي کې په نوبت شي، هر څوك په نوبت سره په هغه لوښي کې غوړي ایشوي. که چېرې داسې لوښی پیدا نه شي، نو په خپله یو لوښی ورته تیاروي. یو ډېګی یا تیم د ترو په چکه ککړ (کاګل) کړي، دا ککړ لوښی په اور باندې کېږدي، چې کله دا چکه په لوښي باندې وچېږګنه شي، د کوونې شکل اختیار کړي، نو لږ کوچ ور واچوي، هغه لږ کوچ ښه پکې وایشوي. تر څو ښه بوی وکړي پاخه شي بیا نور دومره کوچ ور واچوي چې څومره په لوښي کې پخېدای شي.

دا هم باید یاده شي چې لږ بادبرك او سپېلنی په اور پسې له غوړیو لاندې دودوي، نور نو اور پسې بلوي چې لږ اور پسې بل کړي. بیا کوچ ځك کوي لږ شېبه وروسته ځك سره بیل شي د غوړیو دې نښې (علامې) ته کوچیان چودل وایي- وایي غوړي وچودل، د چودلو په وخت کې یو بوټی ده سوندریګي ورته وایي دا یو موټی ترلی وي په غوړي کې یې ووهي، په لوښي کې یې یوه او بل لوري ته تاو راتاو کړي. یو موټی سپېرکی هم ترلې وي دا هم په ایشېدونکیو غوړیو کې څومره تاو کړي، دا بوټی د دې لپاره پکې تاووي چې په چودلو او پاکولو کې یې مرسته کوي، چې کله غوړي تور رنګ اختیار کړي او د بختن بوی ترې پورته شي، دا نه چې وسوځي نور یې له اوره کوز کړي. هلته تیار بل لوښی ورته ایښی وي، په هغه کې غوړي تویه کړي. د هغه لوښي سر دروند پټ کړي) لکه وریجو ته چې دم

ورکوي. خپل ټول تاو یې پکې ایسار شي، تر څو ښه ساړه شي، بیا یې نو ري ته ور واچوي.

دا خبره باید بیا هم یاده کړم چې د پښتن له ډېکي څخه یې د دې لپاره نه اړوي چې هلته کې خرابېږي. بل لوښي ته یې د دې لپاره اړوي چې د کوچیانو کوچ خو ډېر زیات وي، د پښتن په لوښي کې نور غوړي پخوي.

د یادولو وړ ده چې کله په کلي - کور کې څوك غوړي رنه (پاخه) او ویلي کړي، ټول ګاونډیان د کور په سر یو یا دوه دوه کسان مېلمانه کوي، د غوړیو مېلمستیا په کوچیانو کې یو ضروري کار او عمل دی.

کله چې غوړي ویلوي، د غوړیو په اور ایښي لوښي ته لړ لړ د ډوډۍ په ځبر اوړه ور اچوي، هغه بیا را کاږي خوري یې هغو ته نخړي وایي نخړی د غوړیو د رېولو په لوی اېښېدونکي لوښي کې پخېږي.

*د نخړي په ارتباط کوچیان داسې وایي:*

که د یو کوچي ډوډۍ ته زړه کېږي او ته پوښتنه ځني وکړي چې ډوډۍ خوري؟ نو ښایي دی ځواب داسې درته وایي: ولې یې نه خورم نخړی خو مې نه دی خوړلی. یا که ورته ووایي: ډوډۍ (ټکله) دې زړه ته کېږي. ولې مې نه کېږي نخړی خو مې نه دی خوړلی.

له پورته وینا څخه معلومېږي چې نخړی طاقت لرونکي خواړه دي.

اوس به راشو هغو خبرو ته چې د غوړیو په ارتباط کېږي، که شتمن له بل شتمن سره ښه کوي د هغوی په باره کې وایي:

- غوړي په غوړیو تویېږي.
- ته هم په غوړ لستوني پسې ګرځي.
- د ما لستوني غوړ نه دی، کنه هره ورځ به مې پوښتنې ته راتلې.
- څومره په غوړو لسونو پسي وګرځېدې، خوهېڅ په لاس درنغلل.
- تا ته د هغه لستوني غوړ ښکاره شو.
- زموږ لستوني سپور دی، د هغه لستوني غوړ دی.
- تا دې خدای لپاره و نه ویل د غوړ لستوني لپاره دې وویل.
- زما لستوني سپوردی، که غوړوای، ډېر به را سره ټېټ او اسك کېدې.

**سرونجه:**

د کوچو ځګ ته وایي، لکه مځکې چې سوړ ویلي چې کېچ په اور کېښودل شي، نویو رنګ ځك وکړي، دغه ځګ ته کوچیان سرونجه وایي

د غوړیو د پخېدو په وخت کې له غوړیو څخه سرونجه را ټولېږي. په یو ښېل لوښي کې یې سره یو ځای کوي، چې کله ټول غوړي رنه (ویلي) کړي، تر له سرونجه راټوله کړي. بیا یوه اندازه تروې ورګډې کړي. د یو څه په واسطه یې ښه پاك کړي، وېښته او خلي ملي که پکې وي هغه ځنې لرې کړي، سرونجه او تروې په دېګي کې په اور باندې کړي، ښه یې وایشوي، تر څو تروې ښې پکې پخې شي او ټینګه هم شي، نور نو دېګي له اوره راکښته کړي، سړېدو ته پرېښودل شي چې کله سوړ شي، که لږ وي په شکاره کې یې واړوي او که ډېر وي په شوړه کې ي تویه کړي، تر څو د تروو اوبه ځنې ونیتېږي. چې دومره وچه شي چې بېرته نه سره ګډېږي په یوه پخه تېږه باندې لیکي په کې تېروي. څلور کونجي کورت تري جوړوي. د غو کورتو ته د سرونجې کورت وایي. دا وو د سرونجې د کورتو په باره کې معلومات.

# له ځینو شیانو څخه رنګ جوړوي

له ځینو شیانو څخه رنګ جوړوي. موږ خکه ویلي دي چې زما په خیال به کوچیان د هېواد په مختلفو سیمو کې له مختلفو بوټیو څخه د رنګ په کولو کې کار اخلي. نو زه ځینې خکه یادوم چې خپل معلومات ډېر نیمګړي بولم. زه په دې ځای کې د دریو شیانو یادونه کوم چې رنګ ځینې جوړېږي او کوچیان خپلې سنې پرې رنګوي.

لورم.

سور رنګ باسي، دا یو څوچې ارغس بوټی دی، چې په افغانستان کې ډېر پیدا کېږي. کوچیان د دې بوټي بېخ راکاږي. یعنې ولې یې را باسي، چې کله یې ولې را وباسي پټوکي ځنې وارووي، هغه د یو څه په واسطه په درغن باندې وټکوي، د بېګاه بانې ماخوستن یې په دېګې کې په اور باندې کړي د اندازې له مخې اوبه ور واچوي. نور نو په دېګې پسې اور مست کړي. د شپې له خوا یې خکه باندې کوي چې دوی وايي د ورځې له خوا به یې کوم دروند یا تاولی غږ وهي، نو د شپې له خوا ټول خلک ویده وي یا خو په کورونو کې وي، دا پټوکي ښه وایشوي. چې کله پوه شي چې اوس یې رنګ پکې ووت، نو لږ زنز (پټکړی) هم ور واچوي. بیا دېګی له اور څخه راکښته کړي. پاکې وړۍ یا سنې پکې تیتې کړي، وړۍ وي او که سنې وي، ښې یې پکې وارووي، را وارووي، له اړولو را اړولو وروسته وړۍ او سنې لاندې کړي، کوم پټوکي چې په اوبو کې وي، هغه چې کوم لاس ته ورشي، په وړیو او سنیو یې برسېره کړي، نورو نو د دېګي سر پټ کړي ښه ډېر کالي پرې واچوي، ښه یې ترېتنه کړي. کابو له دریو ورځو پورې د دېګي سر همداسې پټ وي وروسته له دریو ورځو څخه یې را وباسي نو سنې به سور رنګ اخیستي وي.

څوکرۍ:

څوکرۍ زېړرنګ باسي. دافغانستان دلوګړپه ځینو غرونو کې او همدا راز په ایلبندونو کې په زیاته اندازه بوټي پیدا کېږي. چې پښې بلل کېږي

ښايي د افغانستان ټول خلك يې وپېژني، پلني پاڼې لري، ښبنې په منځ کې يو نار کوي هغه ته کوچيان څوکرې وايي، کله چې څوکرې تنکۍ وي خلك يې خوري، دا څوکرې په خپل ذات کې د شخلي په څېر ګل کوي دا ګل کوچيان را وشکوي، په دېګ کې يې په اوبو کې په اور باندې کړي ښه يې وايشوي چې کله پوه شي چې په اوبو کې يې رنګ ووت بيا لږ زنز (پټکرې) ور واچوي. وروسته له دې سنې يا وړۍ ور تيټې کړي، ديګې له اوره را کښته کړي. وړۍ وي که سنې وي ښې يې په دېګ کې واړوي را واړوي، نور نو د ديګې سر پسې پټ او تربته يې کړي، ډېر کالي پرې واچوي، دا هم کابو تر دريو ورځو پورې تربته وي وروسته له دريو ورځو څخه يې را وباسي د څوکرې ژېړ رنګ يې اخيستي وي.

**د انګور پاڼې:**

ژېړ رنګ ورکوي. د انګور پاڼې را وشکوي، ښې يې وټکوي، په ديګې کې يې په اور باندې کړي، په اندازه اوبه ور واچوي، په دېګي پسې اور واچوي، چې کله پوه شي چې رنګ او خوند يې پکې ووت، يوه اندازه زنز (پټکرې) هم ور واچوي، نور يې له اوره را کوز کړي وړۍ يا سنۍ پکې واچوي، ښې ې پکې تاو کړي، نور د ديګې سر پسې بند کړي، دا هم تقريباً له دريو ورځو پورې ايښې وي. که څوك غواړي چې پوخ سور رنګ ورېو او سنوې ته ورکړي، نو يو وار د څوکرې يا د انګورو د پاڼو ژېړ رنګ ورکړي، چې کله ښې وچې شي، بيا بې په لورم کې تيټې کړي، په دې سره وړۍ يا سنۍ سرې پخې رنګ شي.

# نګولي

بايد ووايم چې نګولي د کوچيانو د خبرو په منځ کې داسې يادېږي لکه چې وايي د ژمي لپاره نګولي لرې. يا د ژمي لپاره د نګولي کړي؟ يا له مالداري څخه د نګولي کړي يا سږ کال مې ډېر نګولي کړي. يا سږ کال مې نه مال مړ شو نه مې لاندې وکړ او نه مې مېږۍ پې. کولې نګولي مې نه دي کړي، يا دومره نګولي مې کړي چې سږ کال ژمی او کال مې ښه پرې تېرېږي. له پورته وينا څخه داسې ښکاره شوه چې کورت غوړي او لاندې نګولي يادېږي، دلته غواړم د لاندې په زړيې کولو څه وليکم.

زړيې غوښه:

کله چې کوچیان یو پسه حلال کړي او غوښه یې مزې (څربه) وي د وچولو خواري او د سترې وازري نو داسې غوښه هم وچوي، او لاندې هم په کوچیانو کې زیات رواج لري د وچولو لپاره غوښه داسې تیاروي چې د پسه د ملا تېر تر لندې څخه بیولې تر اورمېږ پورې له غوښې څخه لرې کوي، د پسه د لندې دوه هډوکي چې کوچیان سوري بښې ورته وایي سره له ګردیو له غوښې څخه وباسي، مخکې پښې چې له پښتیو سره نښلوي هغوی هډوکو ته کوتکې او راشپیلونه وایي هغه هم ترې وباسي نوره غوښه ټوټه ټوټه (کترې کترې) کړي نرۍ نرۍ کترې (ټوټې) څنې جوړې کړي، په هره ټوټه کې سوري وکړي، له اندازې سره مالګه پرې پورې کړي، په پړي کې یې په داسې شان وځړوي چې یوه ټوټه په بله ټوټه و نه لګېږي. که چېرې لمر ډېر تونده وي او غوښه هم سپینه وي، نو له لمر څخه سیوري ته کېږي، یا له لمر څخه د یو کالي په واسطه پټېږي. که لمر تېز نه وي، بیا نو د شپې او ورځې خلاصې هوا ته ځړېږي. تر څو وچه شي، باید ووایم چې په ګرم هېواد کې غوښه په ګرانه وچېږي. بله دا چې د زړیې او نورې غوښې په خوند (ذایقه) کې پرك (فرق) {بېلوالی} پیدا کېږي.

زړيې سپينكې:

د نګولي یوه بله برخه ده چې د تبې لپاره پکارېږي. نورو خوړو ته یې ور تبې کوي، سپینکې که د لم وي او که وازده وي کوچیان یې په دوو طریقو په دوه ډیله زړیې کوي. په یوه وړه خو یې داسې کوي چې سپینکې له غوښې څخه پاك کړي، مالګه پرې واچوي، یو څه وخت یې هوا ته کېږدي، بیا یې په ګوډي کې واچوي، ډېر وخت په ګوډي کې بند ابښې وي، تر شلو ورځو اپلو (اخوا) نور سپینکې زړیې زړیې کېږي. تر څو د زیات زړیې کېدو له امله تریخ نه شي چې تریخ شي بیا نه شي خوړل کېدای، دا باید ووایم چې دوی یې په داسې وخت کې خوري چې زړیې شوی خو وي ولې تریخ شوی نه وي.

بل وړ زړیې کول یې داسې وي چې له غوښې څخه یې پاك کړي، په هر سپینکی یانې لم او وزاده پورې که ډېر لږه غوښه پاتې شي، هغه خوساکېږي. نو چې کله یې له غوښې څخه پاك کړي مالګه پورې کړي. د پسه تازه لرې پاك پرې مینځي، بیا یې په څټ (استر) واړوي، د لرسس لوری یې د باندې شي دې لرې کې سپینکې تخته کړي دومره پکې واچوي چې څو پکې ځایېږي. د لاسونو په زور یې ښه سره چکې کړي، د خولې په

لوري کې بې سپرخې وبيوي، که سپرخي نه وي له لرګي څخه يې ورته جوړ کړي. په هر حال چې سپرخي پکې واوبدل شي، بيا يو پړی يا سنی را واخلي له سپرخي څخه لاندې د لرې خولې ډېره کلکه وتړي له سپرخي څخه پاس زيات لري که وي هغه ځنې پرې کړي.

د سپينکي په لري کې د غوټې ته کوبي وايي چې کله کوبي وتړي بيا يې نو په تيونو (تازه) او ګرمو ايرو کې سپېره کړي، ښه يې په ايرو کې وغړوي، نوره نو کوبي هوا ته وځړوي، کابو له شلو ورځو پورې زړبې کېږي. له هغه ايسته يې خوړاى شي.

د يوې خبرې يادونه کوم هغه دا چې د کوچيانو د تجربې له مخې د وينده پسه سپينکي د وچولو په وخت کې ويلېږي. دوی د دې لپاره خسې پسه ښه خوښوي د کوبي په ارتباط داسې ويل کېږ وايي:

- په پلاني پورې سر نه دی کوبي پورې تړلی
- هېڅ نه پوهېږي سر دې نه دی کوبي دی
- ما ځومره خبرې درته وکړې تا يوه هم وا نه وربده، وا کوبي سريه
- هغه پورې سر نه دی کوبي سری دی.

که يو سړي ډېر بې ډوله بې ډبه وي د هغه په باب کې دا وايي:

- د پلاني دومره سر دی لکه کوبي.
- دومره غټ سر يې دی لکه کوبي.
- داسې خر سپېره دی لکه کوبي

د زړبي په ارتباط داسې ويل کېږي:

- پلاني په سړي پورې زړبي سپينکي مښې ګواکې د هڅوني خبرې ورته کوي.
- پلاني په پلاني پورې زړبي ومښه يا په پلاني پورې چې زړه ئې ومښې ډېر ښه کار کوي،يا د هغې خبرې يا چارې په باره کې ې زړبي پورې ومښه.

که يو څوك يو کار ځنډوي ژر يې نه خلاصوي نو وايي:

- دا خبره يې ولې زړنې کړه.
- دا کار چې ژر نه خلاصوي، زړبي کوي يې
- دا کار دې ډېر زړبي کړ.
- خبره مه زړبي کوه.
- تا چې دا کار زړبي که تاوان ته به ولاړ شې

ACKU

# سکويي (کردار) اوخطې

د ښځې د ضرورت وړ کنډليو يا نورو جوړو کړيوشيانو ته کردار يا سکويي وايي کردار په عمومي ډول د پېغلې کار ګڼل کېږي اوخطي مو د ښځو جامه ياده کړې ده. که څه هم ما په خپل کتاب "کوچي" کې د کردار او د ځينو شيانو نومان اخيستي خو دلته چې په هر شي باندې بېل بېل څه وليکم ښه به وي. نو څرنګه چې زما په خيال کردار او جامې يو د بل برخه ده، موږ له يوه سرليك لاندې په دواړو څه ليکو:

## سرتا:

سر تا د تيکري په هغه ژي (څنډه) پورې ګنډل کېږي چې کومه په سر کېږي. د سر تا مخ د تيکري د استر لور ته ګنډل شوی وي، چې کله تيکری په سر کړي لړ يې په مخ زيات را تېر کړي، بيا يې د سر په خای کې بېرته غبرګ کړي، نو د تيکري له مخ سره سرتا هم په مخ شي د وليو په سر باندې ځوړندېده شي د سر تا به منځ کې ايښي خښې وي، د اينو شاوخوا په تارو، زرتاور، چرمو او وريښمنو ډکه شوې وي. په ژی پورې يې مری ختلې وي، سرتا کابو يو نيم ګز اوږده او د څلورو خپرو ګوتو په اندازه سووروره وي. څرنګه چې ناوې مخ پټوي، سرتا بېرته نه شي اړولی داسې ښځه سرتا په تيکري باندې د وليو په سرو ګنډي، د تيکري څنډه يې د همېشه لپاره په مخ پرته وي او سرتا يې په وليو پرته وي.

## د تيکري منځ:

لکه څنګه يې چې له نامه جوتېږي (معلومېږي) دا د تيکري په منځ کې ايښودل کېږي. د تيکري په منځ کې هم ايني ښخې شوې وي، شاوخوا يې په تارو، زر تارو، چرمو او وريښمنو ډکه وي د تيکري مينځ د تيکري له کوزې ژی څخه را نيولې د ښې اوږې تر سره پورې اوږدوالی لري، سور يې کم او زيات د سرتا په اندازه وي مری تري ختلې وي، ښه د لاس خواري پورې شوې وي.

پیڅه (پیڅکـه):

د ټیکري په کوزه څنډه کې لګېږي. د ټیکري د مخکې لور ته ژې پورې اچول کېږي. په پیڅه کې هم د یادو شویو شیانو په څېر د لاس خواري شوې وي. خو د پیڅې په کوزه ژۍ پورې جړن اچول کېږي. جړن د تارو او مریوڅخه جوړه وي ولاړې مرۍ تړې ختلې وي. ولاړې مرۍ هغه ته وایي چې مرۍ په اړخ ولاړې وي.

پایڅه:

له پرداګه کوزه له وړو پوري په پېښو کېږي. د پایڅې اوږدوالی کابو شپږ تر لوېشتې وي، د څلور خپرو ګوتو په اندازه یې غبرګ سور وي، که چېرې پایڅې دوه ګنډېزې یا درې ګنډېزې وي. دوه ګنډېزې هغه ته وایي چې دوه غبرګې وي او درېګنډېزې هغه وي چې درې غبرګې وي، لنډه داچې لاندې لوري ته که هر رنګ وي خو د پایڅې مخ څو رنګه وي، پټې پټې جوړېږي. بله دا چې پایڅه په پروتې نه ګېنده کېږي. په ولاړې یې ګېنده کوي. دا اوږده پایڅه چې کله په پېښو کوي د وړو (بېډیو) او پرداګه له مینځه په ډېره کمه فاصله کې یې ګونځه په پېښو کړي وي. دا باید وویل شي چې ښځه هغه وخت پایڅې په پېښو کوې چې کله یې وده وي له هغه ایسته یې تر مرګه پورې له پېښو نه کاږي. پایڅې نه په پېښو کول په کوچیانو کې یو پېغور ګڼل کېږي.

خولۍ:

دلته به ووایم چې خولۍ په دوه ډوله دي، یو د لستونیو خولۍ دي او یو د پایڅو خولۍ دي، زه دلته د پایڅو خولۍ در پېژنم. د پایڅو خولۍ په سور باندې د څلور خپرو ګوتو په اندازه وي او اوږده یې چې غبرګ کړي هغه غبرګې د څلور خپرو ګوتو په اندازه وي، مطلب دا چې د پایڅو د خولۍ اوږده د پایڅې له سور سره یو شان وي، د دې زیاته برخه په ټک پټه وي، او د منځ په سیمه یې مرۍ پوښل شوې وي. له ژۍ څخه یې پرتې مرۍ ایستل شوې وي. د پایڅوخوله لکه څرنګه چې له نومه معلومېږي. د پایڅې په خوله پورې اچول کېږي. چې کله پایڅې په پېښو کړي دا جوړه کړي خوله په تولـه پایڅه برسېره کړي. که باد او باران وي یا بل څه وي خو چې د پایڅې خولۍ د بدرنګه کولو ډار وي بیا د پایڅو خولۍ په پښه کې په استرو واړوي ښایسته جوړ شوی مخ پکې پټ کړي تمامه به دې چې د پایڅو خولۍ د ډول له پاره وي ډول پرې کوي.

سرګیري:

د پایڅو د بر سر لور ته ورلوېږي. سور یې د دوو ګوتو په اندازه وي او اوږده یې د پایڅې د سور په اندازه وي، په منځ کې یې اینې خښبې وي د اینو په شاو خوا باندې یې تار او زرتار تاو شوي وي. د سرګیریو د سور له دوارو ژیو څخه ولاړې مرۍ بنکلې شوې وي په اخر کې باید ووایم چې په خولو او سرګیریو باندې پایڅې پوره کېږي. منی چې کله سرګیري او خولې پورې وګنډل شي پایڅه پوره شي.

ګنډ:

په کمیس کې د ټټر پر ځای اېښودل کېږي، ګنډ او ټټر دواړه د کمیس د سینې پر ځای اېښودل کېږي. که یو رخت په ساده ډول وګنډل شي هغه ته ټټر وایي. ګنډ هغه ته وایي چې د لاس د ګنډلو ډېر کار پکې شوی وي. ټول د لاس په خواری جوړ شوی وي، مخ یې ټول په تارو او ورېښمنو ګل پوښ شوی وي، که چېرې په ټټرورپی تك وهل شي هغه ته هم ګنډ ویل کېږي. دا به په ګوته کړم چې د روپیو د هر کتار لپاره یوه بېله څېره ماتېږي. بند کړې روپۍ ټولې په هغه څېره کې پیل کېږي، بیا په ټټر ګنډل کېږي.

تبرغالی (سینه بند):

په ټټر یا ګنډ پورې په ګرېوان کې د ګرېوان په یوه خوا (ژۍ) پورې یو د لوشتې په اندازه ټوکر ګنډي، د دې لپاره چې سینه یې ښکاره نه شي. یعنې د ګرېوان له چاوده څخه یې سینه وریته (ښکاره) نه شي. دې ټوکري ته تربرغالي وایي. په تیونه نرۍ کې نیکتایی تربرغالي وایي.

تخرګی

لکه له نومه چې معلومېږي، له لاس لاندې وي دا یو درې کونجه په اینو او زرتارو جوړه کړي شوې ټوټه وي، چې یو غوږی یې لستوني ته رسېږي. او یو غوږی یې د ټټر د شا او بل غوږی یې د ټټر دمخې برخې سره لګېږي او ګنډل کېږي. وشوه یو غوږی یې د لستوني درز ته ورسیخېږي. لاندې لوري یې تراډې ته ورسي.

تراډه:

هم له لاس لاندې وي. په کوم ځای کې چې ټټر کمیس ته ور ګډېږي. د ټټر یوه ژۍ او بله ژۍ یانې د شا ژۍ او د مخ تراډه سره یو ځای کوي، تراډه هم په اینو تارو او زر تارو یوه جوړه کړې غبرګ، د سور له لوري د دریوګوتو

په اندازه څېره وي. لکه مخکې مو چې ویلي بر سر ته یې تبرغالي لاندې لور ته کمیس ور سره ګنډل کېږي.

### شاګوړي:

د شا لور ته د کمیس له رخته پرته د کمیس له رخته سره یوه بله ټوټه د اوږدو له مخې دوو ګزو په اندازه او د سور له مخې یوه لوېشت ور لوېږي لنډه دا چې د شا ګوړې دا یوه لوېشت سور د ملا په برید برابرېږي او اوږده یې دټول کمیس نیمایي ته رسېږي. خو دشاګوړې اوکمیس ټول رخت ولاړ وي.

### مزی

هغه تار ته وایي چې د کمیس دا لوی سور سره را ټولوي د ټټر له کم سور سره یې سمه وي.

### لمن

لکه له نامه څخه یې چې جوتېږي. د کمیس کوز لوري ژۍ ته ور لوېږي. لمن په لیس او چرمو جوړه وي. د څلورو خپرو ګوتو په اندازه سور لري څینې کوچیانۍ ښځې د کمیس وروستي لوري ته دوه لمنې هم وراچوي، خو پاس لمن د ډول لپاره یوه ستوی رخت ور اچوي او لاندې (ټيټه) لمن غبرګه وي د لمنې کوزې څنډې ته د یوه ستوي استر لور ته یوه څېره ورکوي، پراویز ورته وایي. په عام ډول لمن له څلور ګزه رخت څخه جوړېږي. دوه ګزه مخ او دوه ګزه یې استر کېږي. که درې ګنډیزه وي دوه ګزه استرنورهم پرې لګېږي چې ټوله لمن په دې حساب سره شپږ ګزه کېږي.

### د لستوڼي خولې:

د دوو لوېشتو په اندازه اوږدې وي او د څلورو خپرو ګوتو په اندازه سورور وي، په منځ کې یې اینې خښې وي، شا او خوا یې په تارو وریښمنو او زرتارو پټه وي، د لاس ښه خواري پورې شوې وي.

باید وویل شي چې په عمومي ډول له لستوڼي، لمنې، ټټر، شاګوړې، څخه را نیولې د کمیسه تر رخت پورې د یوې کوچۍ ښځینې مېرمنې کمیس کابو له شپږ وېشت ګزه رخت څخه پوره کېږي. که بیا ټول پټول وښیوو نو به ووایو چې کابو په درې درېش کزه رخت کوچۍ ښځینه مېرمن پېږي.

### څونډې

د کردار یوه بله برخه ده چې هره کوچۍ ښځه یې جوړوي

لونـګين

پـه دوه ځېلـه (ډولـه) يـادېږي. يوځـېل چـې ګونګيـن ورتـه وايـې ژيـاتې مـرۍ او لونـګ پکـې لګېدلـي وي؛ دوه وي. يوډيـوې اوږې لـه سـره راځوړنـد وي لـه تېر کښتـه تېروي بـل دبلـې اوږې لـه سره را ځوړنـد وي، د دې بـل پـه ځېر لـه تېر کښتـه تېر وي. بل ځـېل لونګيـن د زړه لـه سـره کښتـه ځړېږي. لـه لوېشـتې ځـڅه اوږد وي.

زړګی

د زړه پـه سر يـو درې کونجـي د مريـو شـی وي، چـې دوه غـوړې يـې پـه تېر پـورې ګنډلـي وي، يـو غـوړی يـې کښتـه ځړېږي، د زړه پـه سـر ځوړنـد وي. زړګی ورتـه وايـي.

مـټ ګل

د مټ لپـاره وي. پـه مټ يعنې د اوږې پـه سر ګنـډل کـېږي.

وُتی

يـوډول ګردګردشـيان دي چـې برسـېره لورۍيـې پـه سريواوزرتـاروجوړوي.

تاويزنـه:

لـه مريوڅخـه جـوړ وي. دا څلـور کونجـه غـبرګ وي، لـه غـاړې هـم مـرۍ تـاو وي. د يادونې وړ ده چې يو نيم زلمی هم يـو يـو تـايز د اوږې پـه سـر ځړوي.

لجرومـه:

درنجـو لپـاره وي، دايـوه توبـره وي، ولـې يولورۍيـې سـکښتی وتلـی وي، هغـه ته ژبی وايي،چې کله ستړګې پرې توري کړې،لهخولـې سـره يـې سـلايي کـېږدي، دغـه ژبی پرې ورواړوي، د ژبی پـه سر پورې يې تار وي هغـه تـرې تـاو کـړي.

چـرګک:

لـه مريـو ځـڅه جـوړېږي. چـرګك پلنـه ګل داره پـټه وي او بـل ډول جالـی چرګك هـم وي.

د سـر ګلان:

لـه مريـو ځـڅه هـم جـوړېږي، همدارنـګه ځينـې لـه تـارو، رخـت او وربښمـنو ځـڅه هم جوړېږي. سر ګلي پـه ليخه کيو کـې جوړيـږي.

جـړن:

جړن هغـه څه تـه ويـل کېږي چې بر لـوري ئـې چمتـو تيـك او کـوز لـوري يـې تـار تـار يـا بيـل بيـل او شملي شملي وي پـه تيونـه يـا عصـري نـړې کـې پـه موټرو لاريـو پـوري وروسـته وړاي او ځـک پـوري جړنـې کورو دغـه څه لـه تـارو اوسـپنو ځـڅه جړن جـوړه وي.

# بوخچې

بوخچې جوړول او په هغه کې څه ساتل د کوچیانو یو پخوانی دود دی، کوچیانو بوخچې له رخت څخه جوړوي. بوخچیو کې غټه وړه خو ضرور وي، خو بیا هم که د گز رخت بوخچې جوړ وي نو د رخت څلور واړه لورې به گز گز وي. یاني ټول لوري به یې یو رنګ یوه اندازه وي، بوخچې غبرگې جوړېږي. د یوې یوې نیمې گوتې په اندازه گینده پکې تېرېږي. د گینده کړي رخت درې سرونه سره یو ځای کړي. دوه درزونه پکې راشي، هغه ښه په اندازه برابر وگنډي، یوه ژۍ یا غوړۍ د رخت پاتې شي، هغه ته ژبی وایي، په دې پورې یوه اوږده څېره ماته کړي کله چې په بوخچې کې څه شی واچوي، بیا دا څېره برسېره پرې تاو کړي.

د بوخچې په ارتباط داسې ویل کېږي:

• پلانی ښځه بوخچې پوخچې کېږي.
• د پلانې جیب د کونډې بوخچه دی، د عمرونو شیان پکې ساتل شوي دي.
• د پلانې کور د کونډې بوخچې ده، هر څه پکې ساتل شوي دي.
• څه بوخچې ترې جوړوي چې هر څه پکې اچوي.
• د کونډې بوخچې مه ښنې جوړوه، چې هر څه پکې اچوې.
• د زړه بوخچې مو ورته خلاصه کړه.
• ما د زړه بوخچې ورته خلاصه کړه تا داسې راسره وکړه.
• پلانی د خبرو بوخچې ده، یا یې له ځانه د خبرو بوخچې جوړه کړې.
• په بوخچې کې د هر څه شته یو د مرغې پی نه شته.
• هر څه چې پیدا کوي په بوخچې کې یې اچوي.

**پاتو(فاطو- لانځکه)**

پاتو (فاطو) هغې لانځکې ته وايي چې د کلي نجونې (جينکۍ) او پېغلې يې جوړه کړي. بيا يې په ټول کلي ګرځوي. له کليوالو څه خوراکي شيان راټولوي. بيا يې خيراتوي. د دې چارې بنياد داسې وي چې د کلي ټولې نجونې او پېغلې راټولې شي يوه لويه مناسبه د کورتو د لرګو چونجه را واخلي، د انسان په څېر مخ ور جوړ کړي. لاسونه ور جوړ کړي. د وړې جلکۍ کالي ور واغوندي، بېل بېل ډولونه ګاڼه ور واچوي، لنډه دا چې څومره د انسان شکل (څېره) جوړولای شي، هغومره وس (کوښښ) پوره وکړي، چې څه وخت يې ښه جوړه کړي. ښايسته ټيکري لوپټه ور واغوندي، پکې پټه او بوخي يې کړي. يوه پېغله يې په غېږ کې ونيسي، په کوټره کې يې پاتو نيولې وي د کلي ټولې نجونې او پېغلې. له اخره لوټه لوټه او شخړه شخړه پسې اوړي کور په کور يې ګرځوي د کلي له يوه پلوه په ګرځېدو پيل وکړي هر کور ته چې ورشي د کوربنو په غوښتنه د پاتو مخ ور ښکاره کوي. د کور مېرمن د خپل توان له مخې يو څه خوراکي شيان ورکوي، لکه وريجې، اوړه، غوړي، کورت، غوښه او سپينکی له دغه کوره چې خپله برخه وکړي د هر شي لپاره خپل بېل بېل لوښی لري. په لوښي کې يې واچوي. له دې څخه بل کور ته ځي هلته هم په همدې ور د پاتو مخ ښکاره کوي. په دې ور په ټول کلي (ډېره) ګرځي له کليوالو څخه غله او نګولي راټول کړي.
په يوه ځای کې يې کېږدي په دې ځای کې د خيرات پخولو ځای هم سره وټوکي، او وخت هم سره ياد کړي چې په پلانی ورځ په خيرات کوو په خپل وخت سره راټولي شي، له کليوالو څخه دېګی، کاسې، لګنونه او هرکاري (ارکاري) راټولې کړي خيرات پرې باندې کړي د کلي ټولې ښځې وړې او زړې پرې راټولې شي، څوک اور بلوي، څوک وريجې مينځي، څوک اوړه لمدوي، کومه يوه کورت زدويي (سولوي) کومې ځينې تيغنۍ (تبۍ) تودوي، يوه نيمه په اور پسې پچې رالېږي کومه يوه ټکلې اور ته تاووي، ځينې ځينې وريجې په دېګي کې لري او اړوي، څوک په ژيو کې اوبه راوړي، څوک په تره نګرو کې خس (بوټي) راوړي. کومه يوه څپلې غنې راوړي، يوه نيمه په تر نګره کې دوړکې راوړي، لنډه دا چې ټولو کليوالو نجونو په کار زور لګولی وي، هر کار ته لاس اچوي. يوه له بلې ست نه غواړي، هره يوه په خپله مخه اخته وي، يوه هم ځان نه سپموي. څکه دا د

دوی په ښځو کې تیلی خپل خیرات بولي (ګڼي) په دې ها هو کې اخته وي، تر څو خیرات پوخ شي.
اوس وار د مړي د تیارولو راشي. په کاسو کې ډوډۍ وړه (ماته) شي. په لګنو کې وریجې وخیزي څرخنی پکې جوړ کړي. کورت او غوړي پکې تویی کړي، که سپین تاوده شوي وي، هغه هم تیار کړي. یو څو ښځې د خدمت لپاره پاتې شي. نورې په مړي ګډې شي، پینډې پېنډې په تلبرو کېښني. یوې نیمې اوبه په سر پورې ورته نیولې وي چې کومه یوه اوبه وغواړي په منډه یې جام په لاس کې ورته نیولی وي، په دغه وړ ټولې ښځې ډوډۍ (سړی) وخوري.
که ووایم بې ځایه به نه وي چې په دغه خیرات کې ډېر په کم شمېر سړي برخه اخلي دا د ښځو چار او د هغوی حق ګڼل کېږي، که بیا کوم سړی وي هغه به یا هلك اویا په کور او کلي کې کوږ مات سړی وي، که کوم سړي وي نو له ښځو لومړي هغه ته ډوډۍ او مړی ورکول کېږي. ښځې یې له هغوی څخه وروسته خوري. په دغه ټولنه یا وګړو کې دا یو منل شوي دود دي چې سړي ته مړي یا ګوله لمړي ورکوله کیږي همدغه وړ مېلمه ته هم مړي لومړي ورکول کیږي.

## د ښځو بل ساعتیری فال

د فال پرګروام د پېغلو له خوا جوړېږي. د کلي پېغلې د برات په میاشت کې د برات په شپه (شب برات) کې فال اچوي، د دې کار بینا په دې خېل ده چې د ټول کلي ملګرې پېغلې سره راټولې شي ټولې یو داسې کور سره خوښ کړي چې نارینه په کور کې نه وي، بل نارینه ته هم دا اجازه نه وي چې د ښځو ځای ته ورشي. دا نه شي کولای چې هغه کور ته ورشي چې هلته ښځې او پېغلې فال اچوي دا هم لکه د پاتو په څېر د ښځو او پېغلو چار بلل کېږي.
ټولې ملګرې چې سره یو ځای شي، نو یوه کم عمره هوښیاره جلکۍ کېښنوي، یوه کټو یا دېګی یې په مخ کې کېږدي. په دې کې اوبه واچوي په جلکۍ تیکری واچوي. کټو یا دېګی ورسره پټ کړي چې دا پټ کړی هر فال غوښتونکی خپل یو څه شی لکه ګوتې، بنګړي، وښی، چارګل، سلایي، تڼۍ، او داسې نور مناسب شی چې په کټو کې ځای شي راټول کړي، په دغه دېګي کې یې واچوي، د جلکۍ شا اوخوا ته ښځې او پېغلې کېښني

د فال د ښه او بد معلومولو لپاره لاندې توکې ورته وايي چې کله توکې ورته ووايي بيا له جلکی څخه غوښتنه وکړي چې راباسه (باسه يې) هغې ته چې هر څه په لاس ورشي را و ويې کاږي، داسې ورته وايي د تنبې لپاره يې وګوري:

ښه فال دا ګڼل کېږي:

د تېر کوڼه درزېږي — مرغلرې ترې تويېږي.
د کور خوا ته ولاړې — ململ په ګوتو نغاړې
له پاسه مسئله راغله — په ګرد کلي خپره راغله
د سرې ګلې مېرمنې — دور د لوېږه له لمنې
زه ناسته په وته کې — ګل يې را اوړ په وياله کې
د مکې په سپين داګونه — پنې وکاږه را درومه
پورې ګل دی زومبك زومبك کېږي — مابوبه نه ورسېږي
خاصه ادين خاصه — د دين کوزه دمه لوېږه له لاسه
زه ناسته وم په وره کې — ګل يې را اوړ په وياله کې

*بد فال دا ګڼل کېږي*

و پورې بړې — سر دې مه څخه له لړې
پورې اورې کلي — په مېچنو سره ولې
و بوتي مېږې — نه څې په هر وتي درېږي.

*دغه لاندې خندونکي فالونه يادېږي:*

سره سپي — په ملا سوری
له پاسه سره سپی راغله — په ولي سوری راغله
د کورخوا ته ولاړې — مېږه له خدايه غواړې.

# ښځې په ښاديو کې

لکه څرنګه چې په کتاب کې يادې شوې چارې د ښځو له خوا تر سره کېږي، نارينه ډېره کمه ونډه پکې لري. نو زړه مې وغوښتل چې ښځې په ښاديو کې کړه وړه هم په هغې پسې نېږدې وليکم که لږ يې ښه ګرانو لوستونکيو ته ورښکاره کړم. نو به ووايم چې که ورې، مېږې او وزې مېرونه سکولي نو ورې يې ښځې ټولوي د هغوی خدمت کوي پرې مينځي يې او بيا يې وريسې رنګ کوي يې؛ لنډه دا چې ورې د سرېو شوې خو شوړې کوې يې ښځې، پسه که سرې حلالوي، نور ټول خدمت يې ښځه کوي، له هغه څخه نګولي جوړوي، بيا يې ورپخوي، له پوستکيو څخه يې ښځې ژي جوړې، په هغه کې اوبه ورته راوړې، لمدبل ورته جوړوي. مېږې که سړي پيايي د شودو خدمت تر سرونجې پورې د ښځو په غاړه وي، که رخت له بازاره سړی راوړي، نو ګينده کول او پاده کول يې ښځې کوي. اوس به راشم نېژدې ښځې په ښاديو کې زه له زېرې څخه پيل کوم.

## زېری:

په هغه وخت کې کېږي چې په کوم کور کې هلك پيدا شي، د کلي زړې او نيم خالې ښځې د سهار له مخې زېری کوي هلك که هر وخت پيدا شي، خو زېری د سهار له لمانځه څخه سملاسي وروسته کېږي، يوه خبره په ياد ولرئ کوم ټکی چې بيا بيا ويل کېږي هغه زه په هغه شان ليکم او په هغه لهجه کې يې ليکم، دا زړې او نيم خالې ښځې چې د هلك د کاله په وره کې ودرېږي نو د سندرې لپاره دوه دوه سره ملګرې کېږي داسې زېری کوي:

| | | |
|---|---|---|
| زوی وزو | زوی وزو | زوی وزو |
| د پلاني خان | په غولي | زوی وزو |
| د پلاني خان | په غولي | زوی وزو |

په لاندي ټکو کې کلېمــښت (ګاونـدی) سـتايل کـېږي

زوی وزو　　زوی وزو　　زوی وزو
د پلاني خان　　په غوګي　　زوی وزو
د پلاني خان　　په غوګي　　زوی وزو

ښه پلاني ده　　ښه يې غولی　　ښه پلانــي ده ښه يـې غولـــی
ښه پلاني ده　　ښه يې غولی　　ښه پلانـــی ده ښه ې غـــوړی

ښه شرون ده　　ښه يې سوری　　ښه شــرون ده ښه يـې ســوری
ښه پلانی ده　　ښه يې غولی　　ښه پلانــي ده　ښه يــې غولـــی

ښه شرون ده　　ښه يې سوری　　ښه شــرون ده　ښه يــې ســوری
ښه پلانی ده　　ښه يې غوګی　　ښه پلانـــی ده　ښه يــې غـــوړی

شين کچر ياغی سو　په ځنګلو کې　وايي په ځنګلـو کې
د پلاني مې زوی　زوکړي　　په پلانـي بـه زيـری کلـه کـې
وايــي زېری کلـــه کـــې
شين کچر ياغی سو　　په ځنګلو　کـې　وايـي پـه ځنګلـو کـې
د پلاني مې زوی　　زوکړي　　پـه پلانــي بـه زېری کلـه کــې
پــه زېږو ګلــو کـې
وايــي پــه زېږو ګلـو کـې
دردو کورو　　لـه منـــخه ســر کــې زرو زلــېده
وايـي تـر کـې زر وځلـېده
دا زر د موږ　　له څه وه
پــه مــوږ خـدای ورحمــېده
وايـي پــه مــوږ خـدای ور حمـېده

## د ښادۍ سـنـدرې:

پـه هغـه وخـت کـې ويـل کـېږي چـې څوك خپـښې دوسـتي وکـړي، کلـه چـې يـو څوك خـپـښي وکـړي د کـور او کلـي ټولـې پېغلـې او ښځې هغـه کـور تـه را ټولـېږي پـه هغـه کـور کـې خوشـحالي جـوړوي، چـا چـې جلکـۍ کـړې وي هغـه

ـور مېوه راوړي په کليوالو يې ويشي او د کور ته راغليو مېلمنو درناوی کوي. همدا راز پرته له شوقيانو خلك مبارکۍ ته هم ورته راځي اوس به راشو سندرو ته، سندرې په کوم ورځ چې د دوی له خولې وزي زه يې همدغه خپل ليکم

په کور شين زرغون بالښت ده
په بالښت د موره څه دي
په کور شين زرغون بالښت ده
مور ښادي له خدايه غوښته

په کور شين زرغون بالښت ده
دا بالښت ځني را واخلئ
په کور شين زرغون بالښت ده
د پلاني د کور لائيك ده

د کريږي لرګی وچ لکه د بيرې
د مور کلی کمکی ښادي يې د پرې
د کريږي لرګی وچ لکه د بېرې
د مور کلی کمکی ښادي يې ډېرې

د دوو ډولو غربی سو
شينکی رود وبېده
وايي شينکی رود وبېده

د پلاني د ښادي غږ سو
پلانی سپور ودرېده پلانی سپور ودرېده
د دوو ډولو غربی سو
شينکی رود وبېده
وايي شينکی رود وبېده
د پلاني د ښادي غږسو
پلانی بيا وبربښېده
وايي پلانی بيا و بربښېده

د دوو ډولو غربی سو
شينکی رود و بېده
وايي شينکی رود وبېده
ما له پلاني جار کې
پلانی بيا و بريښی بښېده
وايي پلانی بيا و برېښېده
شرنګ په کټوري کې
دا شا مرغلره ده
دا ښادي مې دا وايي
سبا لابله ده
وايي سبا لابله ده

ځه نري شمال د پيڅولونه ښوروي وايي پيڅولونه ښوروي
ښادي مې د پلاني ده
عالمونه خبروي
وای عالمونه خبروي

څه نري شمال ده پیڅولونه ښوروي
ښادي مې د پلاني ده

د دوو ډولو غربی سو

د پلاني دښادی غږ سو

وای پیڅولونه ښوروي
ولسونه ټولوي
وای ولسونه ټولوي
سریندې سولې
وای سریندې سولې
د دوښمنو ناخوني سولې
وای ناخوني سولې

په جګو غرو کې د جای جوړ که

ښادي مې د پلاني وایي

بارنو نه دي
وای بارانونه دي
دې موړ سیلونه دي
وای دې موړ سیلونه دي

لوړ چنارونه
ښادي مې د پلاني وای
څره یخه سپه ده

ښادي مې د پلاني وای

دا پورې غر وایي

دا نن ښادي مې

دا پورې غر وایي،

ښادي مې د پلاني وای

څه نري ژړا وای

نن د ښادي غږ وای

کوز کلی د ممندو

لوړ دې برجونه، لوړ دې برجونه
د موړ سیلونه
شبا ده ورسره
وایي شبا ده وسره
پلانی جوړه ورسره
وای پلانی جوړه ورسره
د کجیرانو ده
د کجیرانو ده
د ښو خوانانو ده
د ښو خوانانو ده
کړو وړو نیولی
وای کړو وړو نیولی
وطن یې ټول نیولی
وطن یې ټول نیولی
په شنو کمرو کې
په شنو کمرو کې
د موړ په کلیو کې
د موړ په کلیو کې
څنګ یې مغلو ده
څنګ یې مغلو ده

نن دور د پلاني وای | پلانـــی مـــې غلـــی ده
پلانـــی مـــې غـــلی ده

شین طوطي ده نوم یې ببر | شـین طوطـي ده نـوم یـې بـبر
پلاني ته داسې وایي | نـــن د بیـــا غـــرېږي دور
ګل د پسرلي وای | پـانې د تـــوې کـــړې
ښاد مې د پلاني وایي | د پلانـــي خونـدي یـې تولـــي کـــړې

سپاندې سپېلنیه سپرو راوستې نیلیـه
د پلاني کلـی خـبر کـې پـه مـوږ غـړ ده د ښادیـه
ښادي مې د پلاني ده | د پلانـــي لونـــګۍ زري ده
څه نري شمال ده پېڅولونه ښوروي | وایـــي پېڅولونـــه ښوروي
ښادي مې د پلاني ده | وطنونـــــه ښوروي
وایـــي وطنونـــه ښوروي

د پلاني له لوري راغ | راغلـــه څوابونـــه
د پلاني له لوري راغ | راغلـــه څوابونـــه
څې د ما په لور کې چا | چـا وکـــړه واکونـــه
څې د ما په لور کې چا | چـا وکـــړه واکونـــه

د پلاني له لوري راغ | راغلـــه څوابونـــه
د پلاني له لوري راغ | راغلـــه څوابونـــه
څې د ما د خورکۍ چا | چـا وکـــړه واکونـــه
څې د ما د خورکۍ چا | چـا وکـــړه واکونـــه

**یادونـه:**

دلتـه خـو یـوازې مـوږ پلانـي یـاد وو ولـې ښځینـه بیـا هلتـه د غـاړې او د سـړي یـا پلانــي د نـوم پـه بدلولـو سـره د هغـوی د سـتاینې او غندنـي لـه املـه پـه خپلـو سندرو کې خوند پیدا کـوي او بـل دا چـې لـه دو او دریـو لوریـو څخـه یـې وایـې

## دسمال:

دسـمال یـا رومـال کلـه چـې یـو څوك خـپښي وکـړي، نـو بیـا دسـمال (رومـال) وړي، د دې یادونـه مـا پـه خپـل کتـاب (کـوچـې) کـې کـړې، چـا چـې جلکـی خینـې کـړې وي هغـه د مېلمنو پـه تـوګه ورځي هلتـه یـې ملېمـه نـوازي کـېږي. مـېوې لونــګی او رومالونــه (دسـمالونه) پـرې وېشـل کـېږي، بیـا د جلکی د خسرانې پـه ډلـه کې پـه دوو دریـو او یـا هـم پـه څلورو کسـو جوړ کړې دوسمالونه یعنـې د لاس کـار پـرې شوې وي د هغـوی پـه سـر یـې ور اچـوي. پـه دې مېلمنـو کــې ښځې هـم ګډې وي څه وخـت چــې د رویمـال د راوړلـو اوازه شـي، ښځې پـه اتـنو او سـندرو لاس پـورې کـړي، بیـا چــې رویمـال کـور تـه راورسـوي، بیـا هـم لـه یـوه وختـه مبـارکي او اتنونـه جـاري وي،د سـندرو نمونـه یې پـه لانـدې ډول ده:

ګور ګورې تورې — سرې یې لمنې – سـرې یـې لمنـې
رویمال یې راوړ — د پېغلـې نجلـی- د پېغلـې نجلـی

ممانی سرې شوې — ګور ګورې تـــــورې
ګورې ګورې تـــــورې
رویما یې راوړ — د خیــــال ګرې
د خیــــال ګرې

د کـابل د مېو بوی راغـی شماله
زه دې جـار شـم د پلانـي د کـور دوسـماله
سترې مه شې — د پلانــي خــان مــورې
د پلانــي خــان مــورې
رویمال دې راوړ — ګونـګړي پـې پـورې
ګونـګړي پـې پـورې

سترې مه سې — د پلانــي مـــورې
د پلانــي مـــورې
دوسمال دې راوړ — لونــګ پـې پـورې
لونــګ پـې پـورې
سترې مه سې — د پلانــي مـــورې

د پلاني موري

رويمال دې راوړ    ځونډی پې پوري

ځونډی پې پوري

سترې مه سې    د پلانې موري

د پلاني موري

دوسما دې راوړ    ګلان پې پوري

ګلان پې پوري

څرنګه چې دوسمال په سر اچوي نو راوړونکي داسې ستايي:

تور ټوپك زيړه كونداغه    تور ټوپك زيړه كونداغه

رويمال يي راوړ    د پلاني په جګه غاړه

كله چې رويمال راوړي بيا يې په كاله كې په كېږدۍ وځړوي

په نريو سرو اور ده لګېدلي    په نريو سرو اور ده لګېدلي

د پلاني په كېږدۍ شال ده غوړولي

په نريو سرو اور ده لګېدلي    په نريو سرو اور ده لګېدلي

د پلاني په كېږدۍ نوی ګل ختلي

## د واده تياري:

كله چې رويمال راوړي، بيا نوبت د واده شي، خپل خپلوان راټول كړي، چې واده وكړي. خېښي اوورا ځان تياروي په اوس اوس كې وي په كور او كلي كې بيم پروت وي چې پلانی واده كوي په دې وخت كې خېښي داسې سندرې كوي وايي:

خور اوس به د    غونډو جلب جوړېږي

خور اوس به د    غونډو جلب جوړېږي

اوس به د پلاني ورا    راټولېږي

جاراوس به د پلاني    ورا راټولېږي

زيرا درايي واى    سپايان ټولېږي

سپايان ټولېږي

سپايان مې د پلاني واى    په كور كوزېږي

په كور كوېږي

زېړه د رائی واى    ځوانان ټولېږي

ځوانان ټولېږي



ACKU

خوانان مې د پلاني وای    په کور کوزېږي
په کور کوزېږي

زېږه درايي وای    سيالان تولېږي
سيالان تولېږي
سيالان مې د پلاني وای    په کور کوزېږي
په کور کوزېږي

سره لمن مې زنګ سوه    له پنو لاندې
وای له پنو لاندې
د پلاني کره ورځمه    په څه نخرو باندې
وای په څه نخرو باندې
سره لمن مې زنګ سوه    له پلو لاندې
وای له پلو لاندې
د پلاني کره ورځم    په دريابو باندې
وای په دريابو باندې
سره لمن مې زنګ سوه    له پلو لاندې
وای له پلو لاندې
د پلاني کره ورځم    په دو ډولو باندې
وای په دو ډولو باندې
زېږه درايي وای    دربېم يې لال ده
دربيم يې لال ده
نن مې د پلاني وای    له کوره کار ده
له کوره کار ده
څه سپينه سپوږی ده    ځې په رنګ بزار کې تلې
وای ځې په رنګ بزار کې تلې

چغزی پښې مې پښو وي    د پلاني کره ورتلې
وای د پلاني کره ورتلې
دم چينکی دم    ښبنې واړه چای خوري.
ښبنې واړه چای خوري.

ACKU

توري ګوړې نه خورو     د کـابل سـپينې بـورې
د کـابل سـپينې بـورې
دم چاينکې دم     نجونـې واړه چـاى خـورې.
نجونـې واړه چـاى خـورې.
توري ګوړې نه خورو     د کـابل سـپينې بـورې
دکـابل سـپينې بـورې.
څه سپينه سپوږمۍ ده     څې پـه ړنـګ بـزار کـې تـلاى
واى څې پـه ړنـګ بـزار کـې تـلاى
څره خيالي ورځ ده     څې پلانـي کـره ورتـلاى
واى څې پلانـي کـره ورتـلاى

سمه نيمه شپه سوه     نـرۍ لار بـه جـوړوو
خدايه زر سبا کې     د پلانـي کـره بـه ځو
واى د پلانـي کـره بـه ځو

سمه نيمه شپه سوه     نـرۍ لار بـه جـوړوو
واى نـرۍ لار بـه جـوړوو
خدايه زر سبا کې     د پلانـي لـه کـوره ځو
واى د پلانـي لـه کـوره ځو

## کله چې ښـځې ورشـي:

دا بـايد ووايـم چـې ښـځې پـه ورا لومـړى وي يـوه ورځ ښـځې ورشـي پـه بلـه ورځ ورا پسـې ورځي، يعنـې يـوه شـپه ښـځې لـه ورا څخـه لومـړۍ وي نـو کله چې ښځې د ښځې کور ته ورشـي داسـې وايـي:

د پلانۍ د کېږدۍ تېر ولې     لوېدلـــــى ده
واى ولـــې لوېدلـــې ده
غږ مې د پلانۍ پې     لګېدلـــــى ده
واى پـــې لګېدلـــى ده
دم چاينکې دم     ښـځې واړه چـې خـوري
توري ګوړې نه خوري     د کـابل سـپينې بـورې
د کـابل سـپينې بـورې

ACKU

دم چاینکې دم | نجونــې واړه چــې خـــورې
تورې ګوړې نه خورو | د کــابل ســپنې بـــورې
 | وای د کــابل ســپینې بـــورې

: ایلبند سرې چیتې | اوبــه یــې لــرې لــرې
 | وای اوبــه یــې لــرې لــرې
د پلاني په غولي ناستې | د پلانـــي ځاي یـــا د زرګل بلبلـــې

که د مېلمنو خېښو عزت ښه و نه شـې داسـې ورتـه وایـي:
موره پلاني ډېرې نازولې یو | مــوره پلانــي ډېرې نــازولې یــو
 | دلتـه تـا پــه خـاورو کېنولـې یـو
 | دلتـه تـا پــه خـاورو کېنولـې یـو
موره د زم زم په | اوبــو ولــې یــو
موره د زم زم په | اوبــو ولــې یــو
موره د پلاني په | نــام راغلــې یـــو
موره د پلاني په | نــام راغلــې یـــو

موره د زم زم | پــه اوبــو ولــې یــو
 | جـار پــه اوبـو ولـې یـو
دلته تا په خاورو | کېنولـــې یـــو
 | وای کېنولـــې یـــو
په سر مې درد ده | درېدی نـــه ســـم
 | وای درېدی نـــه ســـم
د پلاني کور د خرو غوجل ده | کــې کېناســتی نــه ســم
 | وای کــې کېناســتی نــه ســم
رنګه د کوډی ده | چـرګان پکـې رانیـوی نـه سـم
 | وای پکـې رانیـوی نـه سـم
داسې د دستور ده | سـیالانـو تـه کتـی نـه سـم
 | سـیالانـو تـه کتـی نـه سـم
رنګه د کوډی ده | چـرګوړي کـې نیـوی نـه سـم
 | چـرګوړي کـې نیـوی نـه سـم

دا د تا کورگی ده		سیالانو ته کتی نه سم
سیالانو ته کتی نه سم

ړنګه د کوډی ده		چرګوړي پکې نیوی نه سم
چرګوړي پکې نیوی نه سم
دا د تا کورگی ده		یوه زه پکې جایېدی نه سم
یوه زه پکې جایېدی نه سم

په دې لاندې ټکو کې خېښې ځان یعنې ټول مېلمانه ستايي:

اور د بل سکاره د مره دي		اور د بل سکاره د مره دي
پلاني ته داسې وايه		یاچایان د مېلمانه دي

اور د بل سکاره د مره دي		اور د بل سکاره د مره دي
پلاني ته داسې وايه		ښه سیالان د مېلمانه دي

## د کوربنو ښځو لـه خـوا:

ځوابي کنځا پیل کېږي له هر کلي او پوښتنې څخه وروسته د کوربنو جلکۍ پېغلې او یوه نیمه ښځه را پورته کېږي خېښو ته او له خېښو سره درپل ته داسې وايي:

خدای دې وه پلانیه		په لاړ ځرنګه راتلې
په لاړ ځرنګه راتلې
پلانۍ ځې در سره وه		ته لا نه پې شرمېدې
ته لا نه پې شرمېدې
ځو مې درته ویل		ځې زيړه غوا یې په جلګو مه راوله
وای په جلګو مه راوله
ځو مې درته ویل		ځې دا پلانۍ بېشرمه مه راوله
وی بېشرمه مه راوله
خېښې ځې ته راتلې		لکه ګل وخلېدې
وای لکه ګل وخلېدې
ځې جای د رښتیا راغی		لکه سپی وغپېدې
وای لکه سپی وغپېدې

خېښې څې ته راتلې     څره خوشحاله وې
وای څره خوشاله وې
لستونې ګډوې     د اوړکو یاره وې
وای د اوړکو یاره وې
پلانۍ څې ته راتلې     لکه زر وځلېدې
لکه زر وځلېدې
څې جای د رښتیا راغی     لکه خره و سونګېدې
وای لکه خره و سونګېدې
پلانۍ ځې ته راتلې     ته خو خدای و مشرمولې
وای ته خو خدای وشرمولې
یو موتی زنغوزی سوې     دا پلانۍ و شپېلولې
دا پلانۍ و شپېلولې

خېښې ځواب ورکوي، خو د کنځاوو ځواب په کنځا وایي. خېښې مېلمنې داسې وایي:

مورِ ته کنځاه مه کئ     خدای مو نېک اوازي که
مورِ ته کنځا مه کئ     خدای مو نېک اوازي که
خدای مو نېک اوازي که
مورِ سره پلانۍ ده     خدای مو په بدنامې که
خدای مو په بدنامې که

په جب کې مې ګونګړې ده     کړنګوم به یې
وای کړنګوم به یې
پلانۍ مې تازي سپۍ ده     غپوم به یې
وای غپوم به یې
ماته کنځا مه که     سترګې دې کسیرې دي
سترګې دې کسیرې دي
ما سره پلانۍ ده     تېګرى به دې در ځیرې کې
تیکرى به دې در ځیرې کې

دلته بیا کورینې داسې کنځا ورته کوي:

پلانۍ دې څه بلا ده     سر یې پک کونه خوسا ده
سر یې پک کونه خوسا ده

ACKU

پلانی دغې (...) په کراسته　　زه یې پاس په تندي ناسته
زه یې پاس په تندي ناسته

پلاني لاځه سړی ده　　سر یې سپین خوله یې کوږوې ده
سر یې سپین خوله یې کوږوې ده
دې موږ سپې یې و نه خوري　　راته ښکاري سورلنډی ده
راته ښکاري سورلنډی ده

دلته بیا د سري د خوشحاله کولو لپاره داسې وایي، دا ځکه دا وایي چې ځو واري مو هغه بې بدو سري سره وستایه.

د پلاني بلا په ما کې　　له نامه کته یې د تا کې
له نامه کته یې ته تا کې
د پلاني بلا په ما کې　　جنګړي بنګړي یې د تا کې
جنګړي بنګړي ی د تا کې

خېښې داسې هم ورته وایي:

پلانی مې راوستلې ده　　ما تا ته در ښېلې ده
ما تا ته در ښېلې ده
دې ما ورور په تې رودلې ده　　ما تا ته راوستلې ده
ما تا ته راوستلې ده

د ماسخوتن د څملاستو په وخت کې خېښې ته داسې هم ویل کېږي:

ځوك ده نوم يې زده کئ　　دا خېښې ده نوم یې زده کئ
په ځله کې يې ویده کئ　　پلانی خان مې ور ایله کئ
ځوك ده نوم يې زده کئ　　دا پلانی ده نوم یې زده کئ
په شپاله کې يې ویده کئ　　ټول شپانه مې ور ایله کئ
ځوك ده نوم يې زده کئ　　دا خېښې ده نوم یې زده کئ
په وته کې يې ویده کئ　　لېږنو ته ور ناره کئ

## کله چې ورا را رسېږي:

لکه مخکې چې مو وویلي چې ورا وروستی وی خېښې او کوربنې خو نیمه ورځ او ټوله شپه په سندرو کنځاوو او اتڼونو تېره کړي، سبا ورځ د ورا د راتګ وخت نږدې شي، د ورا لپاره توی (خوره) پخېږي، کوربنې ډم (د دیګي باندې کوونکي) ته داسې وايي:

| | |
|---|---|
| توئ تله لی | ډمه باندې که دیګی |
| دا پلانۍ مې داسې ګرځئ | لکه تور تازي سپی |
| توئ تله لی | ډمه باندې که دیګی |
| دا پلانۍ مې داسې ګرځي | لکه ورې سورلنډی |

ډېر داسې کېږي چې ورا د مازیګر وخت ته ځان ور رسوي، نو کله چې ورا د خېښه دوست کور ته ور ورسېږي، له هر کلي ښځه وروسته ښځې په خپل ځای کې اتڼ او سندرې وايي، سړی په خپل میدان کې خپل دود کوي، د ورا د را رسېدو په وخت کې خېښې ښځې خېښ خپله راتلونکې ورا ستایي داسې وایي:

خېښې خپله راتلونکې ورا ستايي

| | |
|---|---|
| له ښکی د سپرو دورې را لتېږي | له ښکی د سپرو دورې را لتېږي |
| پلانۍ د سپرو مېر | اوس را رسېږي |
| پلانۍ د سپرو میر | اوس را رسېږي |
| مازدیګر ده د اور وخت ده | مازدیګر ده د اور وخت ده |
| مور ته خپله ناوې راکئ | د ایلبند د کډو وخت ده |
| له ښکی د سپرو دورې را لتېږي | له ښکی د سپرو دورې را لتېږي |
| پلانۍ د زنیو میر اوس | را رسېږي |
| پلانۍ د زنیو میر اوس | را رسېږي |
| مازدیګر ده د اور وخت | مازدیګر ده د اور وخت ده |
| مور ته خپله ناوې راکئ | د ناور د کډو وخت ده |

| | |
|---|---|
| له ښکی د سپرو ډورې را لتېږي | له ښکی د سپرو دورې را لتېږي |
| پلانۍ په نیلي سپور | اوس را رسېږي |
| کشکي شین غمی په | پیزوانه کې وی |
| کشکي شین غمی په | پیزوانه کې وی |

ACKU

کشکي دا پلانی په | دي واده کـــې وی
کشکي دا پلانی خان په | دي واده کـــې وی

تور ټوپك ده | برېښنـد برېښنـد
تور ټوپك ده | برېښنـد برېښنـد
ما له ټوپك جار کې | پلانـي خـان پـه ولیـو کـېښود
پلانـي خـان پـه ولیـو کـېښود

پلانیه د تا مخ ولې | خولـــې ده
پلانیه د تا مخ ولې | خولـــې ده
پلانی لکه زېړ ګل په | تــا پســې ده
پلانی لکه زېړ ګل په | تــا پســې ده

مشکنې لمر لمر وی | میـدان یـې ښکلـی ده
وای میـدان یـې ښکلـی ده
میدان مې د پلانې | څنیـو نیولـی ده
وای څنیـو نیولـی ده
پیلوترې د میدان | پـه جـای جـوړېږي
پیلوترې د میدان | پـه جـای جـوړېږي
میدان مې له پلاني | سـره جـوړېږي
میدان مې له پلاني | سـره جـوړېږي
ما ته سې وګی شرنګهار | دې راځي
ځې شـــرنګهار دې راځي
د پلانې همزولې ډېر دي | سـهرباد بـه راځي
سـهر بـاد بـه راځي

لکـه څرنـګه چـې خـېښې خپلـه ورا ستايي کورېنـې د هغـوی پـه خواب کـې د هغوی ورا داسې يـاده کـړي

ورا راغله پړي پړي | څوك شـپانه څوك زرنـده ګړي
څو مې درته ویل | ځې زیـر غوایـي پـه جلـګو مـه راولـه
څو مې درته ویل | ځې زیـر غوایـي پـه جلـګو مـه راولـه

ACKU

ځو مې درته ويل — دا پلانـــی دوس دې مـــه راولـــه
وای دوس دې مـــه راولـــه

ورا راغله — بـــوړي بـــوړي
ورا راغله — بـــوړي بـــوړي
ځوك چونـــګښې ځوك كړبـــوړي
ځوك چونـــګښې ځوك كړبـــوړي

## د مړی په سر کنځا:

هسې خو د کنـــځاوو يادونـــه مـــوږ لـــه دې مخکـــې هـــم کـــړې، خـــو زه اوس هغـه کنـځا ليکـم چـې د ډوډۍ خوړلـو پـه وخـت کـې ورابـاڼو او خـپښو تـه کـېږي وربـاڼې او خـپښې دوه وختـه ډوډۍ تـوی او خـوړه د خيـښ پـه کالـه خـوري يـو وار چې ورا ور ورسېږي، هلتـه تـوی (خـوړه) ورکـول کـېږي او دويـم چـې سـهار (ګهـېځ) نـاوې بـاروي، د دې دواړو وختونـو مـړی د خوړلـو پـه وخـت کـې کوربنـې جينکـی، پيغلـې ښځې ورابـاڼو او خيـښو تـه کنـځا کـوي خـېښ او ورابانې کـه کنـځاه نـه غـواړي هغـوی تـه روپـۍ ورکـړي، ډېر وارې داسـې کـېږي چـې کومـې جينکـی، پيغلـې او ښځې کنـځاوو تـه ځان تيـاروي، هغـوی تـه لومړی لا روپـۍ ورکـړي، چـې کنـځا مـه کـوئ، هغـوی بيـا کنـځا نـه ورتـه کـوي، د توی د خوړلو پـه وخت کې داسـې کنـځا کـېږي:

کته کته ګوره — دا د منځکـــې مـــخ ســـپېره ده
دا د منځکـــې مـــخ ســـپېره ده
خدای دې وه پلانيه — يـــو غـــيران پـــه دنيـــا ځه ده
يـــو غـــيران پـــه دنيـــا ځه ده

کته کته ګوره: — دا د منځکـــې مـــخ ســـپېره ده
دا د منځکـــې مـــخ ســـپېره ده
خدای دې وه پلانيه — يـــو لـــوټ پـــه دنيـــا ځه ده
يـــو لـــوټ پـــه دنيـــا ځه ده
کته کته ګوره — دا د منځکـــې مـــخ ســـپېره ده
دا د منځکـــې مـــخ ســـپېره ده
پورته پورته ګوره — يـــو غـــيران پـــه دنيـــا ځه ده
يـــو غـــيران پـــه دنيـــا ځه ده

خدای دې وه پلانیه پینـې ډکـې ډکـې وره
پینـې ډکـې ډکـې وره
خوره بار درته راغلي مـوره مـه پـې شـرموه
مـوره مـه پـې شـرموه

خدای دې وه پلانیه پینـې ډکـې ډکـې وره
پینـې ډکـې ډکـې وره
خوره بار دې راوستلي مـوره مـه پـې شـرموه
مـوره مـه پـې شـرمه وه

•

خدای دې وه پلانیه پینـې ډکـې ډکـې وره
پینـې ډکـې ډکـې وره
خوره مار دې راوستلي مـوره مـه پـې شـرموه
مـوره، مـه پـې شـرمه وه
خدای دې وه پلانیه پینـې ډکـې ډکـې وره
پینـې ډکـې ډکـې وره
ډوډۍ غپ دې راوستلي مـوره مـه پـې شـرموه
مـوره مـه پـې شـرمه
د چا لنډي لاسونه د پلانـې لنـډي لاسـونه
ښنك ته نه رسېږي پـه سـومبې ورتـه څرخـېږي
پـه سـومبې ورتـه څرخـېږي

څوك له پښو لنډي ده دا پلانـې لـه پـښو لنـډي ده
دا پلانـې لـه پـښو لنـډي ده
ښنك ته نه رسېږي پـه سـومبې ورتـه څرخـېږي
پـه سـومبې ورتـه څرخـېږي
د چا ازاد لستوني د پلانـې ازاد لسـتوني
د پلانـې ازاد لسـتوني
مړې څې خولې ته یوسي پـه لسـتوني کـې یـې ولـې
پـه لوسـتوني کـې یـې ولـې

د چا غوټې مړې		د پلانــۍ غــوټې مــړې
د پلانــۍ غــوټې مــړې
په دا ځېټ کې یې وهئ		ځې تــیز یــې ځي لــه نــامیندې
ځې تــیز یــې ځي لــه نــامیندې

مړې لړ لړ خورئ		عسیانو
مړې لړ لړ خورئ		عسیانو
دې مور جای د		بــاچایــانو
غول به چېرته		کــئ هــیرانو

کته رمې تللې رمو گل		خوړلـــی دی
رمـــو گل خوړلـــی دی
د پلانې خېلو گوتې زېړې		نــن یــې ... خوړلــې دي
نــن یــې ... خوړلــې دي

اوس بـه هغـه کنځا را واخلو چې خېښو ته یې کـوي، خیـښې، تـه داسې وایـي:

موره وریږې نه خورو		وریــزې ســئ لــرې
وای وریــزې ســئ لــرې
پلانۍ خور ته یې ورکئ		ځې پــیرې لــرې
وای ځې پــیرې لــرې
د چا مې اوږدې داړې		د پلانـــۍ مـــې اوږدې داړې
خدای دې وه پلانیه		ځې کاســې نــه کــې مــرداري
ځې کاســې نــه کــې مــرداري

•

د چا مې اوږدې داړې		د پلانـــۍ مـــې اوږدې داړې
د پلاړنـــۍ مـــې اوږدې داړې
مړې دې که کرارې		ځې کاســې نــه کــې مــرداري
ځې کاســې نــه کــې مــرداري
مور ځې مړې جوړه کو		پــه خیــال گوتــې ورتــېرې کــو
پــه خیــال گوتــې ورتــېرې کــو
خېښې ځې مړې جوړه کي		پــایځه ورتــه کــځوره کــي
پــایځه ورتــه کــځوره کــي

دې موږه وریزې سرې دي — جـور بـه وا کـــې
دې موږه وریزې سرې دي — جـور بـه وا کـــې
خېښې به په ولاړې — دارې وا کې
خیښې به په ولاړې — دارې وا کې

په گرېوان کې مې سپېنسې دي — پـه گرېوان کـې مـې سپېنســې دي
خلکو ښه پام ورته وکئ — د خېښې سترگې د سپي دي

خېښې څنگ ویه جای تنگ ده — خـېښې څنـگ ویـه جـای تنـگ ده
پلانۍ مې در په څنگ ده — شـوړکۍ یـې درتـه لنـگ ده
خېښې څنگ ویه جای تنگ ده — خـېښې څنـگ ویـه جـای تنـگ ده
پلانۍ مې در په څنگ ده — دوسـتار خـان یـې درتـه لنـگ ده

## ناوې کېښنــول:

ماسـخوتن هغـه وختـه راشـي چـې نـاوې کېښنـوي، بـايد يـاده شـي څه وخت چې خېښې او ورا ورشي پېغله د يوه گاونـډي خپلـوان كـور تـه ورشـي هلتـه وخت تېروي، کلـه چـې د مـاښام خـوړه وخـوړل شـي، لـه هغـه وروسـته ماسـخوتن لـه هغـه كـوره پېغلـه راولـي د پـلار پـه كـور كـې يـې كېښنـوي، د پېغلـو او ښځو غوېمنډ پرې جوړ شـي، سـندرې ورتـه كـوي، د خـبرو پـه منـځ کې دا خبره داسې كوي، وايي نـاوې كېنـوې، يـا مـو كېنولـه، پـه دې وخت کې لومړۍ سندرې د سـر د غوړولـو وي، لـه كېښناسـتو سـره سـم پـه نـاوې سـر غـوړوي، ښځې او پېغلې پـه نـاوې اوړي را اړوي داسـې سـندرې وايـي:

د ناوې سر څې غوړوې — د کـــوځۍ ول نيســـه
وای د کـــوځۍ ول نيســـه
څې مورکۍ یې زړه وي — خولـې تـه پلـو نیسـه
وای خولـې تـه پلـو نیسـه
د ناوې سر څې غوړوې — د کـــوځۍ ول نيســـه
وای د کـــوځۍ ول نيســـه
څې مورکۍ یې خوروې — خولـې تـه پلـو نیسـه
وای خولـې تـه پلـو نیسـه

| | |
|---|---|
| د ناوې سر څې غوړې | د کــوځې ول نیســه |
| | وای د کــوځې ول نیســه |
| څې ترلې یې زړه وي | خولــې تــه پلــو نیســه |
| | وای خولــې تــه پلــو نیســه |
| د ناوې سر څې غوړوې | د کــوځې ول نیســه |
| | وای د کــوځې ول نیســه |
| څې ترلې یې څوروې | خولــې تــه پلــو نیســه |
| | وای خولــې تــه پلــو نیســه |
| د ناوې سر څې غوړوې | د کــوځې ول نیســه |
| | وای د کــوځې ول نیســه |
| څې مورکی یې غموې | خولــې تــه پلــو نیســه |
| | وای خولــې تــه پلــو نیســه |

کله چې سر پرې غوړوي نو کیدای شي چې سر به یې نوري ښځې هم وینې د ناوې په سر پورې داسې وایي:

| | |
|---|---|
| دې مورِ د ناوې سر ولې | شــکېدلی ده |
| دې مورِ د ناوې سر ولې | شــکېدلی ده |
| دا خو د پلانی دوېر | ویلــې ده |
| دا خو د پلانی دوېر | ویلــې ده |
| دې مورِ د ناوې دوه لوستې | تنــدی ده |
| دې مورِ د ناوې دوه لوستې | تنــدی ده |
| ارمان مې د پلانی دخولې | خنــدی ده |
| ارمان مې د پلانی د خولې | خنــدی ده |
| دې مورِ د خورې دوه لوستې | تنــدی ده |
| دې مورِ د خورې دوه لوستې | تنــدی ده |
| ارمان مې د پلانی آډېر | خنــدی ده |
| ارمان مې د پلانی آډېر | خنــدی ده |

| | |
|---|---|
| تلې را وختلې | پیرونــی پرهوتلــې |
| په مورکې گرانې لورې | پــه جنجــال کېوتلــې |
| تلې را وختلې | پــیرونی پرهوتلــې |
| په مورکې گرانې لورې | پــه غمــو کېوتلــې |

تلی را وختلي پیروني پرېوتلي
په مورکې ګراني لورې له ټاله پرېوتلې

څوك له وتو ګوري ناوکی له وتو ګوري
ناوکی له وتو ګوري

بیا به تارې نه وې ځې راځه وروړګل دبولي
ځې راځه وروړګل دبولي

پرون دا وخت دې څره څربي غوړې کړې
پرون دا وخت دې څره څربي غوړې کړې
نن مې د کاله تر څنګه غلې کړې
نن مې د کاله تر څنګه غلې کړې

پرون دا وخت د لښتي ټکولې
پرون دا وخت د لښتي ټکولې
نن مې د کور خوا ته کښولې
نن مې د کور خوا ته کښولې

## چې کالي "جامي" خطي ور بدلوي:

دا هغه کالي - جامې وي چې د ژوند تر پایه پورې یې اغوندي، ګواکې د د پېغلتوب کالي جامې یې د ښځینتوب په کالیو بدل شي:

سپیني پایڅې کاره د سرود وار ده
د سرود وار ده

که سرې دې نه وي دوس دې یار ده
دوس دې یار ده

په ګرد ټولي کې چلم په وار ده
چلم په وار ده

ترلې دې ناستې په تا ترې وار ده
په تا ترې وار ده

وښیارې جلکی عقل ما نه کې
وښیاري جلکی عقل خطا نه کې

پرتوګ دې په پایڅو وربدل نه کې
پرتوګ دې په پایڅو وربدل نه کې

پرون دا وخت دې    نرۍ نرۍ سندرې کړې
پرون دا وخت دې    نرۍ نرۍ سندرې کړې
نن به شین ګېږدی    له پښو نه لرې کړې
نن به شین ګېږدۍ    له پښو نه لرې کړې

پرون دا وخت دې    نرۍ نرۍ سندرې کړې
پرون دا وخت دې    نرۍ نرۍ سندرې کړې
نن به شین ګېږدی    له پښو نه لرې کړې
نن به شین ګېږدۍ    له پښو نه لرې کړې

ته کمکۍ جلکۍ وې    په بامو به شورېدې
په بامو به شورېدې
پلار په سترګو ړوند کې    سر و پایځو مېرمن یې کړې
سر و پایځو مېرمن یې کړې
ته کمکۍ جلکۍ وې    په دېرو به لوبېدلې
په دېرو به لوبېدلې
پلانی په سترګو ړوند کې    سرو پاندرو مېرمن یې کړې
سرو پاندرو مېرمن یې کړې

په شودو یې لویه ولې    په ورګك یې غوړولې
پرتوګ د جلنۍ وو    له پایځو خبره نه وې
له پایځو خبره نه وې

## ناوې زړوي (ژړوي):

هسې خو دا مخکې ټولې سندرې داسې دي چې ناوې ژړوي، خو زه دې سندرو ته ځکه د ژړولو سندرې وایم چې ژړا پکې یادېږي داسې وایي:

ناویه زاړه زاړه    پردېسې به سې
وای پردېسې به سې
پلانۍ کره ځې ورسې    د لېوره د لاس بندي به سې
وای د لاس بندي به سې

ناويه زاړه زاړه — پردېسې به سي
وای پردېسې به سي
پلاني کره ځي ورسي — لېونی به سي
وای لېونی به سي

په جب کې مې ګونګړی ده — شرنګوم به يې
وای شرنګوم به يې
ناوې مې تازي سپی ده — غپوم به يې
وای غپوم به يې،

په خوړ کې کښنه — ځې سين دې يوسي
ځې سين دې يوسي
ترلې دې نه سته — ځې ناز دې يوسي
ځې ناز دې يوسي

څه سپينه سپوږمی ده — ترږمی به سي
جا، ترږمی به سي
څه د خيال جلکی ده — پردېسی به سي
وای پردېسی به سي
څه سپينه سپوږمی ده — ترږمی به سي
واي ترږمی به سي
د پلاني يوه لورکی ده — پردېسی به سي
واي پردېسی به سي

مه زاړه ناويه — د مابنام زړا او بال ده
دې تا پلار په قران لو وړي — دې ما کور په تا حرام ده
وای دې ما کور په تا حرام ده
پلانيه تا خو ويل — ځې لور مې کمه ده
پلانيه تا خو ويل — ځې لور مې کمه ده
دا کمه لور دې لا — په زړه مکمه ده
دا کمه لور دې لا — په زړه مکمه ده

ACKU

دې موږ ناوې مکمه    مـوږ تــه نــه زاړي
دې موږ ناوې مکمه    مـوږ تــه نــه زاړي
پلانی د تیږې شغ سي    نــو بـــه بنه زاړي
پلانی د تیږ شغ سي    نــو بـــه بني زاړي
اوړه به لمده وي باران به    اوري
اوړه به لمده وي باران به    اوري
زمرك به دله ډاره    اکــا بولــــي
منډي به د له ډاره    اکــا بولــــي
اوړه به لمده وي باران به    اوري
اوړه به لمده وي باران به    اوري
د نیږ به دله ډاره    ادي بولـــــي
خوري به دله ډاره    ادي بولـــــي
ناوي کراره کور مه ده    خوبونــه کـــي
ناوي کراره کور مه ده    خوبونــه کـــي
سبا به د غونډك کره    کارونــه کـــي
سبا به د زرك کره    کارونــه کـــي
دې موږ ناوې چغمیته    مـوږ تــه نــه زاړي
دې موږ ناوې چغمیته    مـوږ تــه نــه زاړي
د پلانې د تیږې شغ شي    نــو بـــه بنه زاړي
پلانې د تیږي شغ سي    نــو بـــه بنه زاړي

دې موږ ناوې چغمیته    مـوږ تــه نــه زاړي
دې موږ ناوې چغمیته    مـوږ تــه نــه زاړي

پلاني لغتې وخوري    نــو بـــه بنه زاړي
پلاني لغتي وخوري    نــو پـــه بنه زاړي

دې موږ ناوې بې شرمه    مـوږ تــه نــه زاړي
دې موږ ناوې بې شرمه    مـوږ تــه نــه زاړي



ACKU

پلاني د ډينگري درب سي | نــو يــه ښه زاړي
پلاني د ډينگري درب سي | نــو يــه ښه زاړي

ناويه زړه دې څره | مردانــــه ده
ناويه زړه دې څره | مردانــــه ده
پلاني دې له اتو بنو | گنـــده ده
پلاني دې له اتو بنو | گنـــده ده

گوگړ په پېښبور | اور يــې بلـــېږي
گوگړ په پېښبور | اور يــې بلـــېږي
پلانی په بل وطن | لــور يــې وډېږي
پلانی په بل وطن | لــور يــې وډېږي

گوگړ په پېښبور | اور يــې بلـــېږي
گوگړ په پېښبور | اور يــې بلـــېږي
پلانی په پلاني ځای | لــور يــې وډېږي
پلانی په پلاني ځای | لــور يــې وډېږي

گوگړ په پېښبور | اور يــې بلـــېږي
گوگړ په پېښبور | اور يــې بلـــېږي
پلانی په بل وطن | خــور يــې وډېږي
پلانی په بل وطن | خــور يــې وډېږي

اوس هغـه سندرې او ټکـي ليکـم چې د ناوې خپلوانـې د ښځو پـه وړانـدې را پورتـه کېږي، کوربنـې داسـې وايـي:

دې موږ ناوې ځې زاړې | گرمــه نــه ده
دې موږ ناوې ځې زاړې | گرمــه نــه ده
پلانی له دروېزې | راغلــی نــه ده
پلانی له دروېزې | راغلــی نــه ده
دې موږ ناوې ځې زاړې | پــه وی وی بـــاندې
دې موږ ناوې ځې زاړې | پــه وی وی بـــاندې

وی وی یې د پلانې     پــه مرکــنډي بــاندې
وی وی یې د پلانې     پــه مرکنــډي بــاندې دې

دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
پلانی له خوشیو     راغلــی نـــه ده
پلانی له خوشیو     راغلــی نـــه ده

دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
پلانی خو له گنده بنی     گنــــده ده
پلانی خو له گنده بنی     گنــــده ده

دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
پلانی یې له اتوبنو     گنــــده ده
پلانی له اتو بنو     گنــــده ده

دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
پلاني دې څه لیدلي     نــــادیده ده
پلاني دې څه لیدلي     نــــادیده ده

دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه تـــه ده
دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
پلانکی دې له کنډه بنی     گنــــده ده
پلانکی دې له کنډه بنی     گنــــده ده

دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
دې مورِ ناوې څې زاړې     گرمــه نـــه ده
پلانی د ټولو خلکو     مســــخره ده
پلانی د ټولو خلکو     مســــخره ده



ACKU

دې مورِ ناوې څې زاړې — ګرمه نه ده
دې مورِ ناوې څې زاړې — ګرمه نه ده
پلانی د ترو ښځو — مسخره ده
پلانی د ترو ښځو — مسخره ده

دې مورِ ناوې څې زاړې — ګرمه نه ده
دې مورِ ناوې څې زاړې — ګرمه نه ده
پلانی د ورو غټو — مسخره ده
پلای د ورو غټو — مسخره ده

دې مورِ ناوې څې زاړې — ګرمه نه ده
دې مورِ ناوې څې زاړې — ګرمه نه ده
پلانی د ولسونو — مسخره ده
پلای د ولسونو — مسخره ده

ناوې سترګې مې سرې — ډېر يې زړلې دي
واى ډېر يې زړلې دي
ببګا يې چونګريان — په خوب ليدلې دي
واى په خوب ليدلې دي

ناوې سترګې مې سرې — ډېر يې زړلې دي
واى ډېر يې زړلې دي
ببګا يې دروېزګر — په خوب ليدلې دي
وايې په خوب ليدلې دي
ناوې سترګې مې سرې — ډېر يې زړلې دي
واى ډېر يې زړلې دي
ببګا يې مسلمان (چونګريان) — په خوب ليدلې دي
واى په خوب ليدلې دي

مه زاړه ناوې — زاړه دې ګرانه ده
واى زړا دې ګرانه ده

له تا نه د "کارمل" — مـــرگی اســـانه ده
وای مـــرگی اســـانه ده

مه زاړه ناوې — زاړه دې گرانــــــه ده
وای زړا دې گرانــــــه ده

له تا د پلاني خان — مـــرگی اســـانه ده
وای مـــرگی اســـانه ده

## په ناوې لاس سـره کـوي:

اوس نــو ښه پخـه شـپه شـي، ښـځې او کورنـۍ پـه سـندرو او څوابوڅـو ځان ستړي کـړي، ځینـي خلـك سـر ولـگوي، ښځې پـه نـاوې لاسـونه سـره کـوي، دلتـه هم سندرې ورتـه کوي داسـې وايـي:

خورې درغله خینه — خینــه تینـــگه ونیســـه
خینــه تینـــگه نیســـه

که د مور خاطر ته گورې — خینــه ایســـته وشـــینده
خیســـنه ایســـته وشـــینده

خورې درغله خینه — خینــه تینـــگه ونیســـه
خینــه تینـــگه ونیســـه

که د ورور خاطر ته گورې — خینــه ایســـته وشـــینده
خینــه ایســـته وشـــینده

خورې درغله خینه — خینــه تینـــگه ونیســـه
خینــه تینـــگه ونیســـه

که د پلار زړگی دې ساتې — خینــه ایســـته وشـــینده
خینــه ایســـته وشـــینده

خورې درغله خینه — خینــه تینـــگه ونیســـه
خینــه تینـــگه ونیســـه

که د پلار خاطر ته گورې — خینــه ایســـته وشـــینده
خینــه ایســـته وشـــینده

سمې نیمې شپې سوې — خلکـې پـه خـوب ویـدي ســوې
وای خلکـې پـه خـوب ویـدي ســوې

نورې نجونې ناستې — د نـــاوې منگولـــې ســرې ســوې
وای د نـــاوې منگولـــې ســرې ســوې



ACKU

سمې نیمې شپې سوې   خلکې په خوب ویدې سوې
وای خلکې په خوب ویدې سوې
نورې پېغلې ګرځي   د ناوې منګولې سرې سوې
وای د ناوې منګولې سرې سوې

سمه نیمه شپه سوه   پسې مې ده لیلو
وای پسې مې ده لیلو
سر مې که راپورته د پلاني   د ډول ډنګي ده لیلو
جار د ډول ډنګي ده لیلو
سمه نیمه شپه سوه   پسې مې ده لیلو
جای پسې مې ده لیلو
سر مې که راپورته د پلاني   د اس ششني ده لیلو
وای د اس ششني ده لیلو

سپینه روپۍ خوند کي   له پیکي سره
سپینه روپۍ خوند کي   له پیکي سره
نن خو ماسخوتن سبا به   څو سره
نن خو ماسخوتن سبا به   څو سره

په سر د غوریزه دی   لاړې لاړې
په سر د غوریزه دی   لاړې لاړې
په پښو دې د نکروزیو   ځیړیکي ولاړې
په پښو دې د نکروزیو   ځیړیکي ولاړې

کله چې د ناوې لاسونه سره کړي، نوره نو شپه پرې جوړه کړي، لږ لاډېره سترګه پټه کړي، ګهیځ نوبت سهار خور ته رسیږي، که ووایم چتې به نه وي چې سهار خور نیم خالي او په خېښو کې مشرې ښځې وایي. د ګهیځ له لمانځه څخه لږ وروسته سهار خور وایي:
سهار سبا ده   سهار سبا ده
سهار سبا ده   سهار سبا ده
سهار سبا ده   سهار سبا ده

ACKU

سهار سبا ده
نـاوې لـــه پيونـــد وګورئ
نـــاوې لـــه پيونـــد وګورئ

چيغې کئ ناري کئ
اتکـــى ورتـــه رابولـــئ
اتکـــى ورتـــه رابولـــى

سهار سبا ده
نـــاوې لـــه پيونـــد وګورئ
نـــاوې لـــه پيونـــد وګورئ

چيغي کې ناري کئ
وروركـــى ورتـــه را وبولـــى
وروركـــى ورتـــه راوبولـــى

سهار سبا ده
نـــاوې لـــه پيونـــد وګورئ
نـــاوې لـــه پيونـــد وګورئ

چيغي کې ناري کئ
پـــلار ګل ورتـــه راوبولـــئ
پـــلار ګل ورتـــه راوبولـــئ

سرو اوښو
غـړ غـړې کـړې ســـهار لالـــړې ده
واى ســـهار لالـــړې ده

مورې ته خپلې ناوې راکئ
دې مـــورې جـــاى لالـــړې ده
واى دې مـــورې جـــاى لالـــړې ده

سهار سبا وايي
چـــرګو نـــارې وکـــړې
واى چـــرګو نـــارې وکـــړې

د.پلاني خان واى
ټوپـــك ډيـــډې وکـــړې
واى ټوپـــك ډيـــډې وکـــړې

سهار سترګه راخېژي
مـــلا ئکـــه ده
واى مـــلا ئکـــه ده

پلانى په جاي کې لاس ويي
څې لـــور مـــې ورکـــه ده
واى څې لـــور مـــې ورکـــه ده

د سهر مشکنيه باد
بـــاد رپوينـــه
د سهر مشکنيه باد
بـــاد رپوينـــه
دا بې موره جلکى خوب
خـــوب يـــې زنګوينـــه
دا بې موره جلکي خوب
خوب يې زنګوينه
سهار سترګه را خيژي
مـــلا ئکـــه ده
واى مـــلا ئکـــه ده

ACKU

میر باز پلانی ناري ویي — ځې لور مې ورکه ده
وای ځې لور مې ورکه ده
سهار د لمانځه وخت ده — ټول لمانځه ته ځي
وای ټول لمانځه ته ځي
پلانی مې په زړا سو — پیوانده ته ځي
وای پیوانده ته ځي
سهار سبا وایي — ناوې خبره کې
وای ناوې خبره کې
نن یې ماتله — تر برېخره کې
وای تر برېخره کې
نن یې د پلار وای — د کور واکداره کې
وای د کور واکداره کې

سهار سترګه را خیزي — ملا ئکه ده
سهار سترګه را خیزي — ملا ئکه ده
پلانی سونګټ وی — ځې لور مې ورکه ده
وای ځې لور مې ورکه ده

له بنکي را سبا کېږي — خدای اوس به رڼا کېږي
خدایه اوس به رڼا کیږي
د مورو د لور مینه — خدایه اوس به جلا کېږي
خدایه اوس به جلا کېږي
له بنکي را سبا کېږي — خدایه اوس به رڼا کېږي
خدایه اوس به رڼا کېږي
د پلار و لور مینه — خدایه اوس به جلا کېږي
خدایه اوس به جلا کېږي
له بنکی را سبا کېږي — خدایه اوس به رڼا کېږي
خدایه اوس به رڼا کېږي
د ورور و د خور مینه — خدایه اوس به جلا کېږي
خدایه اوس به جلا کېږي

ACKU

سهار مشکېیه      باد رپه وینه
سهار مشکنیه      باد رپه وینه
د خورې زړا      خو اور را لګوینه
د خورې زړا      خو اور را لګه وینه
ناویه لمونځ کزا که      بیا بې وکې
ناویه لمونځه کزا که      بیا بې وکې
دا تکی دیدن کېمیا ده      بیا بې نا کې
دا تکی دیدن کېمیا ده      بیا بې ناکې
ناویه لمونځ کزا که      بیا به یې وکې
ناویه لمونځ کزا که      بیا به یې وکې
تر لو دیدن کېمیا ده      بیا به نا کې
ترلو دیدن کېمیا ده      بیا به نا کې
سهر سبا ده      مالونه څري
مالونه څري
پردوګک یې پروت ده      لکه د مړي
لکه د مړي

## کله چې په ناوې سر کوي:

په دې وخت کې هم یوه له بلې ځان مخکې کوي، ناوې ته سندرې وایي، د ښځو کرچ و کروچ وي، دلته پېغلې او ښځې نه وي معلومې، د هرې یوې چې په ستوني کې زور وي، په اسك کومې سندرې وایي، تیکې ور اچوي، پېغلو او ښځو تولو زور لګولی وي، د پایځې د ښلولو لپاره د پېغلې ورور یا د تره زوی راولي هغه ته سلایي یا سپرخې په لاس کې ورکړي، لنډه په دې چې پایځه هغه ښلوي، دا یو بختور کار یادېږي، دا چار په ښه شا ګوم ګټل کېږي، له ټنډې نیولي تر ککرې پورې سلائې پکې تېروي، نور دی ترې راوزي د ناوې د سر د کولو څه داسې سندرې وایي:

درغی سرخی      خورې تینګک نیسه تندی
که د وارې دوران که      بیا به نه کې تور پیکی
بیا به نه کې تور پیکی

ACKU

| | |
|---|---|
| درغی سپرخی | خوري ټینګ نیسه تندی |
| که د واري دوران که | بیا به نه وي تور پیکی |
| درغی سپرخی | خوري ټینګ نیسه تندی |
| که د واري دي رنګ که | بیا خپه ده تورپیکي |

| | |
|---|---|
| درغی سپرخی | خوري ټینګ نیسه تندی |
| که د واري د ببل که | ګیله من سو تورپیکی |
| درغی سپرخی | خوري ټینګ نیسه تندی |
| که د واری دي بیل که | ګیله من ده تور پیکی |
| درغی سپرخی | په وربل ټینګ نیسه لاسونه |
| | وای په وربل ټینګ نیسه لاسونه |
| که د واری دوران که | بیا بي نه کي ولونه ولونه |
| | وای بیا به نه کي لوته ولونه |

*پایځه بېلوونکی ته داسي وایي:*

| | |
|---|---|
| ځوك اوښي ځځوي | پلاني اوښي ځځوي |
| | پلاني اوښي ځځوي |
| اوښي پاکیزه که | خوندي هر ځوك ودوي |
| | خوندي هر ځوك ودوي |
| ځوك اوښي ځځوي | پلاني اوښي ځځوي |
| | پلاني اوښي ځځوي |
| اوښي پاکیزه که | ترلي هر ځوك ودوي |
| | ترلي هر ځوك ودوي. |

| | |
|---|---|
| خدای دي وه پلانیه | اوښي ولي ځځوي |
| | اوښي ولي ځځوي |
| خدای دي وه پلانیه | ترلي ولي زړیي |
| | ترلي ولي زړیي |
| خدای دي وه پلانیه | اوښي ولي ځځوي |
| | اوښي ولي ځځوي |
| خدای دي وه پلانیه | خور دي ولي زړیي |
| | خور دي ولي زړیي |



ACKU

پایځه پرې ده پلانیه    خپلې اوښی پاکیزه که
سیالان به درته ګوري    خپلو سترګو ته شمله
خپلو سترګو ته شمله

خورکی څې ودوې    زړه مردانه که
خورکی څې ودوې    زړه مردانه که
پایځه څې بېلوې    شمله اوږده که
پایځه څې بېلوې    شمله اوږده که

پایځه بېلوونکې خو زر ببرته خپلې پښې باسي، د ناوې په سر کې د سلایی یوه لیکه تیره کړي نور چټك ووزي، خو ښځې نورې سندرې هم وایي:

په تور پیکي دې څومره    منډې وکړې
په تور پیکي دې څومره    منډې وکړې
په ورور دې غورې کړې    خلاصه یې نه کړې
په ورور دې غورې کړې    خلاصه یې نه کړې
سر کونډې ده    نه نیو کیږي
سر کونډې ده    نه نیو کیږي
خپله مور ورته    را بولي پردي منډي څه پې پیږي
پردي منډي څه پې پیږي

سر کونډې ده    نه نیو کیږي
سر کونډې ده    نه نیو کیږي
خپله خور ورته    را بولي پردي خونډي څه پې پیږي
پردي خونډي څه پې پیږي

په تورپیکي دې څومره    منډې وکړې
په تور پیکي دې څومره    منډې وکړې
وروړګل دې زورور    خلاصه یې نه کړې
وروړ ګل دې زورور    خلاصه یې نه کړې
په تور پیکي دې څومره    منډې وکړې
په تورپیکي دې څومره    منډې وکړې

| | |
|---|---|
| وروړګل دې کېږجن | خلاصه بې نه کړې |
| نانۍ د کېږجن | خلاصه نې نه کړې |
| څې تور وربل دې جوړاوه | په خيال مينه وې |
| | وای په خيال مينه وې |
| څې وروړګل يې ړنګه وې | اوس ګيله منه يې |
| | وای اوس ګيله من يې |
| زاړه زاړه | توره وربله |
| | توره وربله |
| وربل مېلمه ده | له برې څره |
| | له برې څره |

د ښځو له غويمنډ سندرو کرچ کروچ شور او بګت سره سره د ناوې سر وکړي، لکه مخکې موږ پيکې ښودولې د ناوې پيکې د پيکې په مرسته کوڅې شي، يو ډول خاص تار هم په دې وخت کې پکاروي، چې پاندري ورته وايي، په پاندرو الاوه دړې هم پرې ولګوي، له سر سره په ارتباط بايد چې سرلرګي هم ياد شي، سرلرګی يوې جوړې کړې چکې ته وايي، د سر لرګی جوړول داسې وي چې کنډ، لونګ، نرکچور او داسې نور ښه بوی لرونکي شيان ميده کړي، بيا د اوبو په واسطه چکی څنې جوړه کړي، دا چکی وچه شي، بيا کله چې ښځې سر کوي، د سر لرګی يو لوري مېنبل (سولول) کېږي، هغه په سر پورې مښي.

ډېرې داسې ښځې وي چې د واده لپاره تياری نيسي، نو سر لرګي هم جوړوي، د سر لرګي په چکی باندې د ښايست لپاره غتې غتې مرۍ او کونجکۍ لګېدلې وي.

په هر حال کله چې په ناوې سر وکړي، دړی پرې ولګوي، د ښايسته کولو ټولو خوارې پورې وکړي بيا ټولې ښځې ناوې ګورې خينې يې ودروي خو لنډه په دې چې دلته ه ښځې خپل دود کوي، ناوې ته سندرې وايي:

| | |
|---|---|
| دې موړ ناوې | چنار ودروي |
| دې موړ ناوې | چنار ودروي |
| پلانی لکه سېرلی | تر تاوويې |
| پلانی لکه سېرلی | تر تاوويي |

ناویه جنجالي خالونه     کـــېږده
ناویه جنجالي خالونه     کـــېږده
په خوسر باندې دې درې     [1]نومونـــه کېږده
په خوسر باندې دې درې     نومونـــه کـــېږده

ناویه جنجالي خالونه     کـــېږده
ناویه جنجالي خالونه     کـــېږده
په لېورو باندې لاډېر     نومونـــه کـــېږده
په لېورو باندې لاډېر     نومونـــه کـــېږده

ناویه سترګې پټې که     دا تـــورې
ناویه سترګې پټې که     دا تـــورې
سبا به د پلاني سترګو     تـــه ګورې
سبا به د پلاني سترګو     تـــه ګورې

ناویه سترګې پټې وره     دا تـــورې
ناویه سترګې پټې وره     دا تـــورې
سبا به د پلاني کلي ته     ګورې
سبا به د پلاني کلي ته     ګورې

رنګ رنګ ډرې پې کېږدي     ځې ځلـــېږي
رنګ رنګ ډرې پې کېږدي     ځې ځلـــېږي

دوران ورته رابولي     خوشـــحالېږي
دوران ورته رابولي     خوشـــحالیږي

رنګ رنګ ډرې پې کېږدي     ځې ځلـــېږي
رنګ رنګ ډرې پې کېږدي     ځې ځلـــېږي
له پتېك نه د امیانې یې     خوشـــحالیږي

---

۱- نوم کېښودل د نیک مرغي او بد مرغي یا شاکوم په مانا دې.



ACKU

دې مور ناوې څې جوړه سي    چــدنه سـي
دې مور ناوې څې جوړه سي    چــدنه سـي
خدایه پلانی مړ کې    څې غمجنه شي
خدایه پلانی مړ کې    څې غمجنه سي

ناویه په ښیښنه کې    سترګې سرې کړې
ناویه په ښیښنه کې    سترګې سرې کړې
مورکۍ یې پیڅولو ته    غرغرې کړې
مورکۍ یې پیڅولو ته    غرغرې کړې

ولور دې په کروړو کروړو    تولېږي
ولور دې په کروړو کروړو    تولېږي
جوسه دې د زرې راته    ښکارېږي
جوسه دې د زرې راته    ښکارېږي

دې مور د خورې څوره    دمدمه ده
دې مور د خورې څومره    دمدمه ده
په دې د پلانې خان غاړه    اوږده ده
په دې د پلانې خان غاړه    اوږده ده

دې مور دې ناوې غونډې منډې    شونډې دې
دې مور دې ناوې غونډې منډې    شونډې دنې
ارمان مې د پلانې ا ډېرې    منډې دې
ارمان مې د پلانې ا ډېرې    منډې دې

ولور دې په کروړو کروړو    تولېږي
ولور دې په کروړو کروړو    تولېږي
څرمن دې د زرې راته    ښکارېږي
څرمن دې د زرې راته    ښکارېږي

لور دې په کروړو کروړو    تولېږي
ـلور دې په کروړو کروړو    تولېږي

ښېره دې د زړې راته          ښکارېږي
ښېره دې د زړې راته          ښکارېږي

ولور دې په کروړو کروړو          تولېږي
ولور دې په کروړو کروړو          تولېږي
اورمېږ دې لېونی راته          ښکارېږي
اورمېږ دې لېونی راته          ښکارېږي

دې موږ د خورې څومره          دمدمه ده
دې موږ د خورې څومره          دمدمه ده
په دې د پلاني خان خېږ          اوږده ده
په دې د پلاني خان خېږ          اوږده ده

دې موږ د خورې څومره          دمدمه ده
دې موږ د خورې څومره          دمدمه ده
په دې د پلاني خان څاپېږ          اوږده ده
په دې د پلاني خان څاپېږ          اوږده ده

دې موږ د ناوې دوه          لوېښتې تندی ده
دې موږ د ناوې دوه          لوېښتې تندی ده
ارمان مې دا د دوو          ډولو غربی ده
ارمان مې دا د دوو          ډولو غربی ده
دې موږ د ناوې          دوه لوېښتې څوانې ده
دې موږ د ناوې          دوه لوېښتې څوانې ده
ارمان مې د پلاني          ډېره خوږې ده
ارمان مې د پلاني          ډېره خواې ده

زاړه زاړه          نازکې ناولې          نازکې نازولې
پلار دې په سترګو          ړوند سه
د سرو پاندو مېرمن یې کړې
د ګوښې کور مېرمن یې کړې



ACKU

دلته يادول غوارم چې د سرلرګي په ارتباط يو متل هم شته چې په کوچيانو کې ډېر مشهور دی، وايي:

- چې نر کچـور درسره نه وي، بوی دې نه ځي سرلرګيه.

دا متل هلته ويل کېږي چې په ښکاره يو څوك يو کار وکړي، ولې د هغې چارې په کولو کې د بل چا لاس او مرسته وي، نو په ښکاره کار کوونکي ته داسې ويل کېږي چې ته دومره سړی مېړه نه وې چې دا کار دې کړی وای، ولې تا سره نر کچور دی.

دا به زما په خيال ښه وي چې زوم هم پرې نه ږدم، ځکه چې ښځې يې نه پرېږدي، که زه يې پرېږدم بيا به هم بده وي، زوم ته داسې وايي:

دې موږ زومه زاولنه تـه را ننـوزه دننـه
تـه را ننـوزه دننـه

دې موږ د خورې جار سې تـه يـې رنـګ ګورې کـه ونـه
تـه يـې رنـګ ګورې کـه ونـه

## د ناوې کـور:

هغـه تـه وايي چې د پلار کور يې ورتـه وکړي، کله چې پـه نـاوې سـر وکړي، مخکې مـوږ پـرې يـاد کـړي دا د نـاوې د اوبښ پـرې اوږه واچـول شـي. لنډه دا چې د نـاوې کـور څه پـه پړيـو او هـم پـه نـورو شـيانو واچـوي چې ټول کور حلك ووينـي هغـه شـيان هـم ښکـاره کـړي، چې ورابـانو تـه يې ورکـوي، دا بـه ښه وي چې يـاده شـي چې ورابـانو تـه لونګی دسمالونه، او د هغـوی ټوپکـو تـه څونډې او بندونـه ورکـوي او ښځو يـانې خېښيـو تـه ټيکـری او کـردار (د پيغلې د لاس جـوړ شـوي شـيان) ورکـوي. اوس زه هغـه سـندرې ليکـم چـې د ناوې د کور په ارتباط کېږي وايي:

ناويه له نرې کتان راوګوره
ناويه له نرې کتان راوګوره
دلته د پلاني سامان تـــــه وګوره
دلته د پلاني سامان تـــــه وګوره

زاړه زاړه پـه اسـکه غـاړه
پـه اسـکه غـاړه

پلانی ولاړ ده سـور کـور تـرې غـواړه
سـور کـور تـرې غـواړه

وروره لاس که          پــه کـــځوړه
وروره لاس که          پــه کـــځوړه
اصیل چارګل راباسه          تـاوې ځي د پـلار لـه کـوره
تـاوې ځي د پـلار لـه کـوره

وروره لاس که          پــه کـــځوړه
وروره لاس که          پــه کـــځوړه
اصلي ګاڼه راباسه          تـاوې ځي د پـلار لـه کـوره
تـاوې ځي د پـلار لـه کـوره

وروره لاس که          پــه کـــځوړه
وروره لاس که          پــه کـــځوړه
زري پڼې راباسه          تـاوې ځي د پـلار لـه کـوره
تـاوې ځي د پهلار لـه کـوره

خورچین خلاص کئ          منـــځ یـــې ګوړئ
خورجین خلاص کئ          منـــځ یـــې ګورئ
که سور کناویز نه وي          دا پلانـــی دوس رابولـــئ
دا پلانـــی دوس رابولـــئ

خورجین خلاص کئ          منـــځ یـــې ګورئ
خورجین خلاص کئ          منـــځ یـــې ګورئ
که اصیله ګاڼه نه وي          دا پلانـــی دوس رابولـــئ
دا پلانـــی دوس رابولـــی

که چېرته پلار ښه کور نه وي ورتـه کړی خېښې داسې ورتـه وایـي:
زاړې ناوکی          زاړې پـــه څه بـــاندې
زاړې ناوکی          زاړې پـــه څه بـــاندې
پلانی دې مرور په          امېلـــه بـــاندې
*وای پـــه امېلـــه بـــاندې



ACKU

زاړې ناوکۍ — زاړې پــــه څه بـــاندې
زاړې ناوکۍ — زاړې پــــه څه بـــاندې
پلانی دې مرور په — کمیســـــه بـــاندې دې
پلانی دې مرور په — کمیســـــه بـــاندې دې

ولور دې په کروړو کروړو — تولـــــــېږي
ولور دې په کروړو کروړو — تولـــــــېږي
د پرې کمیس نه راته — ښکــــــارېږي
د پرې کمیس نه راته — ښکــــــارېږي

پلانیه دا دې څه نوی — نـــرخ کـــــېښوده
پلانیه دا دې څه نوی — نـــرخ کـــــېښوده
لورکی ته دې پوزې — پــــه اوښ را کـــــېښوده
لورکی ته دې پوزې — پــــه اوښ را کـــــېښوده

اوس هغــو ســـندرو تــــه خېر شـــي: څه وخــت چــې ورابـــانو او خـــېښو تـــه شـــیان ورکوي داسې وايـي:

له پاسه شین بادرنګ — اوبـــــــو راوړی ده
له پاسه شین بادرنګ — اوبـــــــو راوړی ده
پلانی مې په لمده رسی — ترلــــــی ده
پلانی مې په لمده رسی — ترلــــــی ده
پلاني ته لونګی ورکئ — مرکـــو لـــره بـــه ځي
وای مرکـــو لـــره بـــه ځي
پلاني ته ټوکری ورکئ — خوشـــیو لـــره بـــه ځي
وای خوشیو لره به ځي
پلانی ته لونګی ورکئ — مرکـــو تـــــه ځي
پلانی ته لونګی ورکئ — مرکـــو تـــــه ځي
پلاني ته ټوکری ورکئ — خوشـــیو تـــــه ځي
پلاني ته ټوکری ورکئ — خوشـــیو تـــــه ځي

دلتـه بـره د لونـګی وال هغـه څوك يـاد شـو چـې تـاوې وړي، د خوشـیو وال هغـه څوك ياد شو چې خـور و لـور ودوي.

ACKU

د چا شمله ببره
پلانی ترې لاندې ناست ده

د پلانـــي شـــمله بـــبره
لکـــه مینـــځه مـــروره
لکـــه مینـــځه مـــروره

ناوې ځي رویمال
ناوې ځي رویمال
د ښېښو تیکری نه سته

وینــــــه
وینــــــه
نـــاوې خـــاورې بادوینـــه
نـــاوې خـــاورې بادوینـــه

ناوې ځي رویمال
ناوې ځي رویمال
د ورابانیو لونگۍ نه سته

وینــــــه
وینــــــه
نـــاوې خـــاورې بادوینـــه
نـــاوې خـــاورې بادوینـــه

لوړې د کلا لوړ د

برجونـــــه دي
وای لـــوړ د برجونـــه دي

وباسه پتۍ تول د

لېورونـــــه دي
وای تول دې لورونـــــه دي

سرې اسپې ولاړې
سرې اسپې ولاړې
د پلاني ښېښې ولاړې

گردنـــۍ غـــواړې
گردنـــۍ غـــواړې
ســـرې جولـــې غـــواړې
وای ســـرې جولـــې غـــواړې

سرې اسپې ولاړې دي
سرې اسپې ولاړې دي
د پلاني ښېښې خوشاله دي

ســـرۍ غـــواړي
ســـرۍ غـــواړي
جولـــۍ غـــواړي
وای ســـرې جولـــۍ غـــواړي

سرې اسپې ولاړې

غاړکـــۍ غـــواړي
وای غاړکـــۍ غـــواړي

د پلانۍ ښېښې خوشاله

ســـرې جولـــې غـــواړې
وای ســـرې جولـــې غـــواړي

ACKU

د ناوې د ژړ جوړولو غوښتنه داسې کوي:

| | |
|---|---|
| ناوې زر زر جوړوئ | ناوخته کېږي |
| | وای ناوخته کېږي |
| د پلاني خان اسپه نوکري ده | نه درېږي |
| | وای نه درېږي |
| ناوې زر زر جوړوئ | ناوخته کېږي |
| | وای ناوخته کېږي |
| دا پلاني خان له ګل نازك ده | خولې کېږي |
| | وای خولې کېږي |
| ناوې زر زر جوړوئ | ناوخته کېږي |
| | وای ناوخته کېږي |
| پلاني خان ډېر نازولی | خپه کېږي |
| | وای خپه کېږي |
| پلاني خان له ګل نازك ده | خپه کېږي |
| | وای خپه کېږي |

اوس نو د سپرېدو وخت شي دوه تیکري پرې واچوي او وایي:

| | |
|---|---|
| مه زاړه ناویه | اوس به برېخر راسي |
| | اوس به برېخر راسي |
| اوس به د پلاني اسپه | کېزه راسي |
| | وای اسپه کېزه راسي |
| ناوې مې په سالو کې | سترګې سرې کړې |
| ناوې مې په سالو کې | سترګې سرې کړې |
| مورکۍ یې پیڅوله ته | غرغرې کړې |
| مورکۍ یې پیڅوله ته | غرغرې کړې |
| سترګې توروه | ولاړ وو به دې |
| | وای ولاړ وو به دې |
| سور اوښ درته ولاړ ده | سپرو وو به دې |
| | وای سپرو وو به دې |
| سترګې توروه | ولاړه یې به دې |
| | وای ولاړه یې به دې |

| | |
|---|---|
| پلانی درنه ولاړ ده | ســپریې بــه دې |
| | وای ســپریې بــه دې |
| سترګې توره | ولاړوم بــه دې |
| | وای ولاړم بــه دې |
| له کوره نازولی | نــازوم بــه دې |
| | وای نــازوم بــه دې |

## کله یې چې سپروي:

په دې وخت کې هم ډېرې زیاتې سندرې ویل کېږي. دا نو هغه وخت وي چې څوك سونکړ وي، څوك خوشحاله وي، ځینې پلرونه هم په دې وخت کې د دې وس نه لري چې د لور ژړا او یا د هغې بل چا ته ور سپرول وغزمي داسې پلار ته داسې ویل کوي:

| | |
|---|---|
| خدای دې وه پلانیه | په غره کې غرکی مه که |
| | په غره کې غرکی مه که |
| راسه وپلانیه | دا د لور عزت دې وکه |
| | دا د لور عزت دې وکه |

نورې سندرې په دې ورځ دي:

| | |
|---|---|
| راووزه | له دې رنګې کوډه کیه |
| راووزه | له دې رنګې کوډه کیه |
| پلاني کره به | کینې په غالیه |
| پلاني کره به | کینې په غالیه |
| د کاړك کېږدۍ ته لوړ ورکئ | سکامونه |
| د کاړك کېږدۍ ته لوړ ورکئ | سکامونه |
| کبرجنه لور یې سر نه | تیته وینه |
| کبرجنه لور یې سر نه | تیته وینه |
| ناویه پونده واخله | کدم کېږده |
| ناویه پونده واخله | کدم کېږده |
| له وُرور ګل سره دې کړي | آ چارې پرېږده |
| له ورور ګل سره دې کړي | آ چارې پرېږده |

کېږدۍ دې رنګوم کمچې ورامه
کېږدۍ دې رنګوم کمچې ورامه
پلنیه په تا ګرانه لور دې ورمه
پلنیه په تا ګرانه لور دې ورمه

په دربډه مېچن اوره سوي لونګینه
په دربډه مېچن اوره سوي لونګینه
د پلانۍ غولې نیمګی په شنه خالونه
د پلانۍ غولې نیمګی په شنه خالونه

ناویه پښې دې تینګې په زنځیر که
ناویه پښې دې تینګې په زنځیر که
د پلانۍ کره ورځې زړګی سنګین که
د پلانۍ کره ورځې زړګی سنګین که

په سر دې د خاسه ورېښمنو پخه ده
په سر دې د خاسه ورېښمنو پخه ده
اوس دې پاچایانو ته ورمخه ده
اوس دې پاچایانو ته ورمخه ده

مراندې اوږدې که د پلانۍ مورې
چیغې نارې که د لورکۍ مورې

اد کې مورې مزې د زرغون ده
اد کې مورې مزې د زرغون ده
شیرینې خورې اوس خود بېلتون ده
شیرینې خورې اوس خود بېلتون ده

د کور سرولی نرېږي
د کور سرولی نرېږي

د پلاني يوه لورکی ده | د زړه سـر يـې ويرانـېږي
د زړه سـر بـې ويرانـېږي

د کور سرولی | نـــرېږي
د کور سرولی | نـــرېږي
د پلاني يوه لورکی ده | شـا يـې ورتـه کـړه سـپرېږي
شـا يـې ورتـه کـړه سـپرېږي

د کور سرولی | رنــگېږي
د کور سرولی | رنــگېږي
دا خيالي مېرمن يې نه شته | اوس بــه څوك ور ولاړېږي
اوس بــه څوك ور ولاړېږي

اوښ چوگانډو | ويلـــي
د اوښ چوگانډو | ويلـــي
تر څو به پورته نه سي | څې يـې نـاوې نـه وي وړې

څه مـال (وخت) يـې چـې سـپروي، يـو ورور يـا تربـور يـا کـوم تـره ورشـي، يـو ټوپـك لـه خاتـه سـره وروړي، ټوپـك د لکـړې پـه دود پـه لاس کـې ور کـړي، درې وارې يـې جـگه کـړي، درې وارې يـې خای پـه خای کښـنـوي، دا چـار هـم پـه ښه شـاگوم گڼل کـېږي، درې وارې چـې دا وړ چـار پـوره کـړي، نـوره يـې د اوښ پـه لـوري راولـي، لـه کـوره او د اوښ لـه شـا پـوري جـار ورتـه نيولـی شـوي وي، پـه دې وړ يـې د اوښ شـا تـه و خـېژوي. هلتـه نـورې ښځې پـه خپـل کـرپ وي، سندرې وايـي:

ميرزا يې کدم راواخله | نـري لاز تــېره ده
نـري لاز تــېره ده
د پلاني لايکه نه وې | حکــوم خــدای کــړی ده
حکــوم خــدای کــړی ده

ميرزا يې کدم راواخله | نـري لاز تــېره ده
نـري لاز تــېره ده
د ميدان لايکه نه وې | حکــوم خــدای کــړی ده
حکــوم خــدای کــړی ده
ښه څې ښه څې | څې خپلــو نــه کــړې
څې خپلــو نــه کــړې

پلانۍ ولاړ ده — خاتول سپره ده
خاتول سپره ده
دې مور ناوې خر وار له — تیلو زېړه ده
مور ناوې خروار له — تیلو زېړه ده
نن د پلانۍ خان له واکه — تېره ده
نن د پلانۍ خان له واکه — تېره ده

دې مور ناوې خروار له — تیلو زېړه ده
دې مور ناوې خروار له — تیلو زېړه ده
نن يې د ورور گل له واکه — تېره ده
نن يې د ورور گل له واکه — تېره ده

ښه ځې خپلو نه کړې — موره وکړې
پلانۍ درته ولاړه — موره سپره کړې

ښه ځې خپلو نه کړې — موره وکړې
پلانۍ درته ولاړ — پلانۍ سپره کړې

ښه ځې خپلو نه کړې — موره وکړې
ښه ځې خپلو نه کړې — موره وکړې
پلانۍ سونګټ وي — پلانۍ سپره کړې
پلانۍ سونګټ وي — پلانۍ سپره کړې

ناوې هی که — اسویلي که
ناوې هی که — اسویلي که
وروگل درته ولاړ ده — د وروگل زړه دې نرۍ که
د وروگل زړه دې نرۍ که

ناوې هی که — اسویلي که
ناوې هی که — اسویلي که
همزولې درته ناستې — د همزلو زړه نرۍ که
د همزلو زړه نرۍ که

ACKU

ناوې ولې          اسویلي کې
ناوې ولې          اسویلې کې
سپین ږیری پلار دې راغی          د هغه زړه به نری کې
د هغه زړه به نری کې

اوږدې سوې          دکیرمان غاړې اوږدې سوې
اوږدې سوې          دکېرمان غاړې اوږدې سوې
ادکې روخست ورکه          لاړې دوې سوې
ادکې روخست ورکه          لاړې دوې سوې

اوږدې سوې          دکیرمان غاړې اوږدې سوې
اوږدې سوې          دکیرمان غاړې اوږدې سوې
لورکۍ ته روخست ورکه          لاړې دوې سوې
لورکۍ ته روخست ورکه          لاړې دوې سوې

پلانیه لورکۍ تا ورکړه          بندیه
پلانیه لورکۍ تا ورکړه          بندیه
له پلاني نه یې بیا مه غواړه          پردیه
له پلاني نه یې بیا مه غواړه          پردیه

پلانیه لورکۍ تا ورکړه          بندیه
پلانیه لورکۍ تا ورکړه          بندیه
له پلاني نه یې بیا مه غواړه          زوندیه
له پلاني نه یې بیا مه غواړه          زوندیه

خدای دې وه ناوې          که به اورونه لګوې
وای که به اورونه لګوې
تا به خدای ساتي          دا پلانی ولې زړوې
وای دا پلانی ولې زړوې
خدای دې وه ناوې          که به اورونه لګوې
وای که به اورونه لګوې

ACKU

تا به خدای ساتي
پــــلار گل دې ولــــې زړوې
وای پــــلار گل دې ولــــې زړوې

خدای دې وه ناوې
کــه بــه اورونــه لــګوې
وای کــه بــه اورونــه لــګوې

خدای دې ناوې
کــه بــه تربرونــه زړوې
وای کــه بــه تربرونــه زړوې

له کوره لرې نه تلې
ولــــې ولاړې
له کوره لرې نه تلې
ولــــې ولاړې
ځې مورکۍ دې در په زړه سي
و بــــه زاړې
ځې مورکۍ دې در په زړه سي
و بــــه زاړې

له کوره لرې نه تلې
ولــــې ولاړې
له کوره لرې نه تلې
ولــــې ولاړې
ځې پلار گل دې در په زړه سي
و بــــه زاړې
ځې پلار گل دې در په زړه سي
و بــــه زاړې

له کوره لرې نه تلې
ولــــې ولاړې
له کوره لرې نه تلې
ولــــې ولاړې
ځې وروړك دې در په زړه سي
و بــــه زاړې
ځې وروړك دې در په زړه سي
و بــــه زاړې

له کوره لرې نه تلې
ولــــې ولاړې
له کوره لرې نه تلې
ولــــې ولاړې
ځې ترلې دې در په زړه سي
و بــــه زاړې
ځې ترلې دې در په زړه سي
و بــــه زاړې

اصيله لونګۍ نه سره
غــــبرګـبړي
اصيله لونګۍ نه سره
غــــبرګـبړي
کم اصله په اصيلو
ورګډېږي
کم اصله په اصيلو
ورګډېږي
يوه مېنه پخه سوه
بلــه زېړه زرغونــه ســوه

بلــه زېړه زرغونــه ســوه

د پلانۍ يوه لورکۍ وه     شا يې ورتــه کـړه سـپره سـوه

شا يې ورتــه کـړه سـپره سـوه

پــه دې منــځ کــې دا وړ ســندې هــم کــېږي، خــو دا بــايد وويــل شــي چــې دا د کوربنو لـه خوا ويـل کـېږي، کوربنــې داســې وايــي:

په نيمو شپو سرتور     منلـــګ راغلـــی ده

وای ملنـــګ راغلـــی ده

پلانی مې د څوکی جار     بــاچــا بللـــی ده

بــاچــا بللـــی ده

د څو څو لمبه وکه     سرســايه د ســـر ســـه

وای سرســايه د ســـر ســـه

پلانی درته راغلی     صدقـــه د ســـه

وای صدقـــه د ســـه

په سر د خاسه     ورېښمنـــو پخـــه ده

په سر د خاسه     ورېښمنـــو پخـــه ده

خورې نن دې     چونګړيـــانو تـــه ورمخـــه ده

تـــن د چونګړيـــانو تـــه ورمخـــه ده

دې مورې ناوې ورځه     ســالو ســـرداره ســـې

دې مورې ناوې ورځه     ســالو ســـرداره ســـې

پلانی د چلمچي ته يې     واکـــداره ســـې

پلانی د چلمچي ته يې     واکـــداره ســـې

دې مورې ناوې ورځه     ســالو ســـرداره ســـې

دې مورې ناوې ورځه     ســالو ســـرداره ســـې

پلانی دې پيوانده     تـــه يـــې واکـــداره ســـې

پلانی دې پيوانده     تـــه يـــې واکـــداره ســـې

دې مورې خورې ورځه     ســالو ســـرداره ســـې

پلانی دې خس بنه     تـــه يـــې واکـــداره ســـې

پلانی دې خس بنه     تـــه يـــې واکـــداره ســـې

پــه دې ځای کــې اوښ بــې ګنــاه هــم ملامتــه کــوي، بــوګ ســترګي او بنېرا ورتــه کوي، داسې ورتـه وايـي

ACKU

اوښه وخورې | دا لـــوى ورنونـــه
دا لـــوى ورنونـــه
په شا دې ووړي | بــې مــوره لــونه
بــې مــوره لــونه
اوښه وخورې | دا لـــوى ورنونـــه
دا لـــوى ورنونـــه
په شا دې ووړي | بــې پــلاره لــونه
بــې پــلاره لــونه

*او داسې وايــې:*

ډ اوښ له پايه ولوېدې | رســـــيه
د اوښ له پايه ولوېدې | رســـــيه
په کوم لورې يې وړې ووړى | پردېســـــيه
په کوم لورې يې وړې ووړى | پردېســـــيه

په دې ځاى کې د نـاوې خپلـوان چـې لړزنـد او ورخطـا وې هغوتـه داسـې وايـې:

ناوې د کجاوو | ســرو تــه وختــه
ناوې د کجاوو | ســرو تــه وختــه
پلانې ته کفن ګز کئ | ســا يــې وختــه
پلانې ته کفن ګز کئ | ســا يــې وختــه

کله چـې د نـاوې اوښ جـګ شي نـو د اوښ مـار د نـاوې لـېور نيسـي، کـه لـېور يـې و نـه نيسـي، نـو يـو بـل کـس د خسـراني لـه لـورې د اوښ ترسـهرى ونيسـي؛ اوښ روان کړي په دې وخـت کـې داسـې ورتـه وايـې:

مين مزى دې تاو ده | لــه لمنـــې
مين مزى دې تاو ده | لــه لمنـــې
پلانى لېور دې تا ده | بختورې
پلانى لېور دې تاوده | بختورې
مين مزى دې تاو ده | له لمنې
مين مزى دې تا ده | له لمنې
پلانى لېور دې تا ده | کـــبر جنـــې
پلانى لېور دې تا ده | کـــبر جنـــې
په مخ د تمبلي پې | بنـده مــه اوســې
په مخ د تمبلي پې | بنـده مــه اوســې

تر مخ د پلاني خان پې ښايسته اوسې
تر مخ د پلاني خان پې ښايسته اوسې
په مخ د تمبلي پې بنده مه اوسې
په مخ د تمبلي پې بنده مه اوسې
تر شا د پلاني خان پې ښايسته اوسې
تر شا د پلاني خان پې ښايسته اوسې
ځني د چوتې کړې سيلانې سولې ښه ځې د پلانې له مخ ری سولې.

نور نو وراباڼې او خپښې مزله ته سيخ شي يوه عامه دوعا وشي، د کوربنو سره خدای پاماني وکړي، په خپله مخه روان شي، په دې ځای کې داسې ويل کېږي:

د ورا سر تر کلي تېر سه
د ورا سر تر کلي تېر سه
پلاني ته داسې وايه د پلاني سلام دې هېر سه
پلاني ته داسې وايه د پلاني سلام دې هېر سه
په لار کې داسې هم ورته وايي
سور اوښ په زيو زيو سر يې زنګنو ته ځي
سر يې زنګنو ته ځي
پلاني ته داسې وايه ځې لور دې سرو لمبو ته ځي
ځې لور دې سرو لمبو ته ځي
مه زاره ناوې ورا د برېښنګه ده
وای ورا دې برېښنګه ده
کور دې د پلاني د کور له ځنګه ده
جار د کور د ځنګه ده

د اوښ په شا تپوکره يې ځې ويده نه سې
د اوښ په شا تپوکره يې ځې ويده نه سې
و د دوس لورې ځې کړه نه سې
و د دوس لورې ځې کړه نه سې

شنې شوتلې څه زور د    نیولی ده
شنې شوتلې څه زور د    نیولی ده
شنې چاپکې اوښې    درولی ده
شنې چاپکې اوښې    درولی ده
ښه ځې ځیم له شنو ونو    راتېره کړې
ښه ځې ځیم له شنو ونو    راتېره کړې
پلانی دې په لېښونیو ته یې    وېره کړې
پلانی دې په لېښنو نیو ته یې    وېره وکړې

ښه ځې ځیم له شنو ونو    را تېره کړې
ښه ځې ځیم له شنو ونو    را تېره کړې
پلار د په دونیا سو ته یې    وېره کړې
پلار د په دونیا سو ته یې    وېره کړې

ښه ځې ځیم له شنو ونو    را تېره کړې
ښه ځې ځیم له شنو ونو    را تېره کړې
پلانی دې په ولور سو ته یې    وېره کړې
پلانی دې په ولور سو ته یې    وېره کړې

و د ګلو ونې درغلم    و د ګلو ونې را مې وړې

کله چې ناوې کور ته ورسوي، اوښ چو کړي او ناوې راکښته کوي، ناوې نه کښته کېږي، دا د دې لپاره چې ناوې ته يو څه منل کېږي، بيا د ناوې د خسرانې له لورې يو څوك تېږدې پيدا شي ناوې ته د كميس يا نورې ګاڼې منله (منښته) وكړي، ناوې ته ووايي چې زه به پلانى شى دركوم په دې وخت كې د كور د مشرې يا د ناوې د خوابنې له خوا په اوښ او ناوې باندې مېوه ور وشيندي، كله چې ناوې كوزه شي، د كېږدۍ وره ته ورسېږي، په دې وخت كې لږ اوبه هم پرې را پوګ وهي، بيا چې كله كېږدۍ ته ننوزي، ناوې ته ښځې يو سپرخى په ګوتو كې وركړي، دا سپرخى د خسر په چرګې كې ټك وهي د چرګې ادب او احترام چې پر ځاى كړي هلته چې ناوې په كوم ځاى كې كښېنوي له هغه ځاي څخه جمار

تـاووي، ځينـي نيـازميني نيـازميني ښځې د نـاوې پـه پـالنګ خـرې شـي، نـاوې تـه پـالنګ نـه پـرېږدي بيـا هغـې تـه د نـاوې خسـر يـا لـېور پيسـې ورکـوي چـې کله پيسې ورکـړي پـالنګ نـاوې تـه پـرېږدي، پـه هـر حـال نـاوې لـه چـرګې څخـه روانـه شي پـه چـار کـې پـه خپـل جـوړ شـوي ځـای کښېښـي، پـه دې وخـت کـې نـاوې تـه يـو وړوکـی هلك هم پـه غـېږ کې ورکـړي، نـوره نـاوې پـه خپـل جـار کـې کښېښـي

نـاوې تـه د کښتـه کېدو پـه وخت کې داسې سندرې ټکـي کـوي:

| | |
|---|---|
| اوښه ترسېرى به دې | زنځيـــر کمـــه |
| اوښه ترسېرى به دې | زنځيـــر کمـــه |
| ناويه دا پلاني به دې | زاميـــن کمـــه |
| ناويه دا پلاني به دې | زاميـــن کمـــه |
| ګومل راغی | پـــــورې اورې |
| ګومل راغی | پـــــورې اورې |
| موره داسې ناوې راوړه | خـورې راســه کــه يېې ګورې |
| | خـورې راســه کــه يــې ګورې |
| ګومل راغی | پـــــورې اورې |
| ګومل راغی | پـــــورې اورې |
| موره داسې ناوې راوړه | بـې رنجـو يـې سترګې تـورې |
| | بـې رنجـو يـې سترګې تـورې |
| باران اورې | ترخــــې ځاځې |
| باران اورې | ترخــــې ځاځې |
| موره داسې ناوې راوړه څې | څي لــه ګوتــو يـــې زر ځاځي |
| | څي لــه ګوتــو يـــې زر ځاځي |
| باران اورې | ترخــــې ځاځې |
| باران اورې | ترخــــې ځاځې |
| موره داسې ناوې راوړه | لــه لســتوڼو يـــې زر ځاځي |
| | لــه لســتوڼو يـــې زر ځاځي |
| باران اورې | ترخــــې ځاځې |
| باران اورې | ترخــــې ځاځې |
| موره داسې ناوې راوړه | لــه لمنــې يــې زر ځاځي |
| | لــه لمنــې يــې زر ځاځي |

داسې هم ورته ویل کېږي:

په شګه کې د شنه مټر　　غـــــورا ده
په شګه کې د شنه مټر　　غـــــورا ده
په ورا کې د پلاني د لور　　زړا ده
په ورا کې د پلاني د لور　　زړا ده

د اوښ له ګیډې ولوېدې　　رســــیه
د اوښ له ګیډې ولوېدې　　رســــیه
په نیموشپو دې راوړې　　پردېســــیه
په نیموشپو دې راوړې　　پردېســــیه

اوس به دې تاکي کې　　خمــځوره کــم
اوس به دې تاکي کې　　خمــځوره کــم
سبا به د پلاني　　د کــور مــزدوره کــم
سبا به د پلاني　　د کــور مــزدوره کــم

ښه څې مې تاکي کې　　خمــځوره کــړې
ښه څې مې تاکي کې　　خمــځوره کــړې
ښه څې مې پلاني　　د کــور مــزدوره کــړې
ښه څې مې پلاني　　د کــور مــزدوره کــړې

ښه څې مې تاکي کې　　خمــځوره کــړې
ښه څې مې تاکي کې　　خمــځوره کــړې
ښه څې مې د پلاني　　د لاس مــزدوره کــړې.
ښه څې مې د پلاني　　د لاس مــزدوره کــړې

پورې په ژۍ دوه　　اوښان رواخاتـــــه
پورې په ژۍ دوه　　اوښان راوخاتـــــه
ښه څې له پلاني مې　　لاس راوخاتـــــه
ښه څې له پلاني مې　　لاس راوخاتـــــه

ACKU

پورې په ژی دوه    اوښان رواخاتـــــه
پورې په ژی دوه    اوښان راوخاتـــــه
ښه ځې له پلانې دي    لاس را وخاتـــــه
لاس را وخاتـــــه

پورې په ژی دوه    اوښان رواخاتـــــه
پورې په ژی دوه    اوښان راوخاتـــــه
ښه ځې له پلانې ئي    لاس را وخاتـــــه
ښه ځې له پلانې ئي    لاس را وخاتـــــه

پلانیه وکه    د سرو او    اوښو خیراتونـــــه
د سرو او    اوښو خیراتونـــــه
ځې راخلاصوې    د پلانې    نــې لــه جنجالونــه
ځې راخلاصوې    د پلانې    نــې لــه جنجالونــه

پلانیه وکه    د سرو او    اوښو خیراتونـــــه
د سرو او    اوښو خیراتونـــــه
ځې راخلاصوې    د پلانې    نــې لــه مېنتونــه
ځې راخلاصوې    د پلانې    نــې لــه مېنتونــه

پلانیه وکه    د سرو او    اوښو خیراتونـــــه
د سرو او    اوښو خیراتونـــــه
ځې راخلاصوې    د پلانې    نــې لــه نیســـانونه
ځې راخلاصوې    د پلانې    نــې لــه نیســـانونه

*که چېرته خېښ بد ورسر کړي وي یا هم توکه جوړوي، داسې وایي:*

و پرنګي لورې    د ډولــوپــه زور مـــې راوړې
و پرنګي لورې    د میــړو پــه زور مـــې راوړې

*ناوې ته داسې لارښوونه کوي:*

سپینې ناوکې    ځې کــوډې و نــه کـــې
سپینې ناوکې    ځې کــوډې و نــه کـــې

ACKU

پلانی دې موړه خپل     څې بېلتــون و نــه کــې
وای څې بېلتــون و نــه کــې
سپيني ناوکی     څې کـــوډې و نــه کــې
وای څې کـــوډې و نــه کــې
سپيني ناوکی     څي کـــوډي و نــه کــي
وائي څي کوډي ونه کي
مغبّ د موړه خپل     څه ور په خوله نه کي
وائي څه ور په خوله نه کي

د يـادولو وړ ده کـه چېرتـه ښـځې څه تـېره تمامـه ورسـره وکـړي پـه هـر وخـت کـې يې داسې په غوړ وهي:

پلانيه بوسولمان وې     هنـــدو وختـــې
وای هنـــدو وختـــې
ته خو د پلاني په     کالـــه وختـــې
وای پـــه کالـــه وختـــې
پلانيه بوسولمان وې     هنـــدو وختـــې
وای هنـــدو وختـــې
ته خو د پلاني په     هســتې وختـــې
وای پـــه هســتې وختـــې
پلانيه بوسولمان وې     هنـــدو وختـــې
وای هنـــدو وختـــې
ته خو د پلاني په     رمـــه وختـــې
وای پـــه رمـــه وختـــې
پلانيه بوسولمان وې     هنـــدو وختـــې
وای هنـــدو وختـــې
ته خو د پلاني په     ګلـــه وختـــې
وای پـــه ګلـــه وختـــې

ګرانو لوستونکيو مخکې مو هم د اتڼ يادونه کړې دي، چې ښځې په خپل ځای کې اتڼ او سندرې وايي او کوي او سړي په خپل ميدان کې خپل دود او رواج کوي دلته غوارم درته ښکاره کړم چې په کوچيانو ښځو کې دوه ورځ اتڼ رواج لري، يو دا چې ټولې ښځې ورته ناستې وي يوه ښځه اتڼ ورته راکاږي، که چېرې لږ دي اتڼ سره سندره کوي ټول سر يې دغه يو،

اتڼچي ښځه ورته را وايي، يعنې ټيکي هغه ورته را اچوي او توره يې ناستې ښځې وايي، اتڼچي په ميدان کې لټونه پوره کوي، بېرته ناستو ښځو ته د ټيکي لپاره را تاو شي، تر هغه پورې ناستو ښځو سندره هم پوره کړې وي، اتڼچي بيا ټيکي ورته را اچوي، په دې ور اتڼ کېږي. ښايي ووايم چې دريا هم ورسره وهل کېږي.

بل ور اتڼ داسې وي چې ټولې اتڼچيانې ښځې په يو ميدان کې سره ليکه کيږي، اتڼ کوي، کله چې سندرې هم ورسره کوي، په ليکه کې دوه يا هم درې ځايه دوه دوه ښځې جوړه سندرې کوي.

## د اتڼ غاړه داسې وي:

| | |
|---|---|
| په غرو مې | زيړی لمر ده |
| اوړ | مازديگر ده |
| په غرو مې | زيړی لمر ده |
| اوړ | مازديگر ده |
| درسته ورخ مې شولې | و دا درسته ورخ مې شولې ټکولې |
| بېگا ته کور ته راغلم | سر کې پېزوان مې سرې لمبې ويلې |
| له پانې لاندې مې سترگې | وله پانې لاندې مې سترگې تورولې |
| د پانې زور راباندې راغی | منگولې مې په ورور ولگولې |
| او پښتی چې له لويو | او پښتی چې له لويو غرو را رغښتې |
| او پښتی مې د ورور | او پښتی مې د ورور ورسېدلې |
| دا پورې اورې کلی | و دا پورې اورې کلی مې د ورور دی |
| ورور مې پکې نه سته | زړگی مې په کوگل کې ناکرار ده |
| که کلکې دې شودياري | که کلکې دې شودياري لوټې کلکې |
| و په سترگو روند سې | دا کلکې لوټې راخلې ما پې ولې |
| خدايه ډيلی نه وی و خدايه | ډيلی نه وی جوړوينه |
| خدايه جوړ يې مه کې | لالی په سر سرتور خاورې راوړينه |
| خدايه لاهور نه وی و خدای | لاهور نوی جوړوينه |
| خدايه جوړ يې مه کې | لالی په سر سرتور خاورې راوړينه |

ACKU

ښکې چې مور ویلي چې د اتڼ په لیکه کې دوه یا هم درې ځایه دوه دوه ښځې جوړه او غبرگه سندرې کوي، دلته یو څو نورې سندرې هم ستاسې له نظره تېرول غواړم، دا هم د مخکې په څېر د اتڼ په لیکه کې دوه یا درې ځایه دوه دوه ښځې غبرگه وایي، په دې سندرو کې ښځې یوې او بلې ته داسې ټکونه ورکوي:

ترلې د اتڼ غاړه          راواخله وای
تل خو به نه یو په          یوه وای
تولې کې دواړه          وای
شرینه وی شیرنه وروره

ترلې د ناز غاړه          راواخله وای
تل خو به نه یو په          یوه وای
و تولې کې دواړه          وای
شرینه وی شرینه وروره

اتڼ خو ما مستې          تازه کړه وای
دا راته ناستې          خرې خرې وای
و پېر غوړونه          وای
شیرینه وی شیرینه وروره

دغه د څه وویل          غلتې وایي
په دا غلته خوله          دې زه وایي
ووشرمېدمه          وای
خدایه بېلتون په دنیا مه وای

ما سره سمه          سیاله مه که وای
څې لټ په لټ مې          اړولې وای
و شارې راځینه          وای
خدایه بېلتون په دنیا مه وای

په مخ کې مه راته          ترپېړه وای
څې پلونه          ښوروې وای
وبوی دې راځینه          وای
شرینه اخ شیرینه وروره

ما سره سمه سیالي مه که وای
لکه د بوسو پنډه وو وای
و به دې ترمه وای
شرینه اخ شیرینه وروره

په مخ کې مه راته پرپېږه وای
څې بلونه ګډوې وای
و بوی دې راخینه وای
خدایه بېلتون په دنیا مه وای

ما سره سمه سیال مه که وای
لکه د پچوتلې وی وای
وېره به دې کمه وای
خدایه بېلتون په دنیا مه وای

ما ته د وېرې ټکی مه که وای
دې تا په شانې په غوجل وای
وکېدرومه وای
شرینه جار شرینه وروره

په مخکې مه راته ترپېږه وای
په اور لړنې به دې سترګې
وکه وباسمه وای
شرینه جار شرینه وروره

زیه دې خوله کې نه تاوېږي وای
ګومان مې کېږي څې تېره وای
نه ده نامردي وای
خدای بېلتون په دنیا مه وای

ما سره سمه سیالي مه که وای
موږ عسی خیلې خر په ونه
و که خېزونه وای
خدایه بېلتون په دنیا مه وای

ما سره سمه سیالي مه که وای
لکه د بوسو ټوکرې و وای



ACKU

وا به دې ږومه　　وای
خدایه بې وروره خوندې مړې کې

ترلې راځه ځې　　نور یې بس کو وای
که ژوند لا نور و　　بیا به وو وای
وُکو اتیونه　　وای
خدایه بې وروره خوندې مړې کې

دا راته ناستې ښځې　　خرې کې وای
ما بې څښتن کې ځې　　لګې وای
و پې چلومه　　وای
خدایه بې وروره خوندې مړې کې

دا وو هغه کړه وړه چې ښځې یې په ښادیو کې کوي، اوس د ناوې د جار په ارتباط کومه یوه خبره لیکم. له دې سره باید دا هم درته ووایم چې جار د ډېرې سپیڅانې له امله یادېږي وایي:

- که توره نه شي کولی، نو په جار کې کښېنه.
- له دې څخه دې تا لپاره جار ښه و، خو نه دا سپیڅانه.
- چې له تربره سره ټکرې نه شي ویلی، په جار کې کښېنه.
- دې تا له پاره جار ښه دی، له دښمن سره ډغرې نه شي وهلی.
- ښځې په جار کې ښې ښکاري، دومېړونه پ ځوکۍ کې.

ACKU

# کیسۍ

د کیسیو اچول په کوچیانو کې ډېر زیات رواج لري، په تېره بیا ژمۍ چې د ژمي دېره جوړه وي، یو د بل کور ته د ساعت تېرۍ لپاره ورځي، یا خو د دېرې په یوه برخه کې سره راټولېږي. هلته اور بل کړي، له اوره ځوانان او هلکان راتاو شي، کیسۍ سره اچوي، یا خوهم نکلونه سره اچوي، یانې د پخوا وختونو کیسې سره کوي، اوس چې کیسه او کیسۍ دواړه مخې ته راغلې دا ښه بولم چې دواړه در وپېژنم، کوچیان کیسه یا نکل د تېرو وختونو تېرو خبرو ته وایي، هره خبره چې تېره شوې وي او بیا کېږي، هغې ته نکل او کیسه وایي. کله چې د مجلس ملګري سره راټول شي، په ملګرو کې یو کس داسې وینا وکړي:

ښه وو د خدای کړه وو
شل غټ غنم پاخه وو
چا نه خواړه ترخه وو
پلانی پې را ښکاره سو
ښه یې وخواړه خواړه وو

په پورته ټکیو کې چې د چا نوم یاد شي هغه به کیسه (نکل) کوي، په ټولو ملګریو کې بیا یو کس وښودل شي، هغه ته شپه وایي، د شپانه دا چار تر غاړه وي چې کیسه (نکل) کوونکي ته ښه ښه وایي نوره نو کیسه کوونکی خپله کیسه پیل کړي، شپه ښه ښه ور ته وایي، نورو ټولو اورېدونکیو غوږ ورته نیولی وي

په دې الاوه (سربېره) داسې هم کېږي چې په کور او کلي کې یو څوك کیسه کوونکی څرګند وي چې پلانکی ښه نکلونه او کیسې اچوي لکه مخکې چې موږ ویلي بیا ټول د نکل اورېدونکي د هغه کور ته ورځي، هغه



ACKU

په خوند خوند يوه كيسه ورته كوي، ډېر داسې نكل كوونكي هم وي چې په كيسه كې اورېدونكيو ته د كيسې په ارتباط سندرې هم وايي، نكل د كوچيانو په استلا (اصطلاح) خاښونه لري، ډېر داسې نكلونه وي چې ډېرې شپې دوام كوي، هره شپه اورېدونكي د كيسه كوونكي مخې ته راټولېږي، كيسه كوونكى يو يا هم دوه خاښونه اورېدونكيو ته تماموي

چې كله كيسه كوونكى وغواړي چې نوره كيسه بس كړي، نو په دې خ..ره خپل نكل (كيسه) پرې كوي وايي:

نكل ولاړ هديرې ته
زه راغلم پنډې مركې ته

اوس به كيسې راواخلو، كيسې هغه ساعت تيري ته وايي چې دوه لورې سره تياري شي، يو يو كس يا هم ډېر ډېر كسان سره مقابل (مخ) شي يو لورى كيسې ور واچوي بل لورى د كيسې ځواب وركوي، كه چېرته د كيسې ځواب ور نه كړي، ور خلاصه يې نه كړي، او پړ لورى داسې كيسې ور واچي چې هغه لومړى بر لورى بې ځوابه كړي نو هر يو لورى د خپلې كيسې ځواب په خپله ناستو خلكو ته وركړي، دواړه كيسې په دې ډول خلاصې شي. كه چېرې كيسې ځواب نه كړي يانې كيسې ور خلاصه نه كړي، او نه بر لورى په خپله كيسې باندې لر كړي نو بيا د كيسې د نه ځواب وركولو په پور كې بر لوري ته يوه سيمه يا ځاى وركوي. د مثال په ډول ورته ووايي پلانى ځاى يا سيمه دې د تاسې وي، هغه ورته ووايي ښه، د هغه ځاى لور ته كاته د هغه ځاى خواړه او اوبه او داسې نور په تا حرام په ما حلال وروسته له دې وينا څخه او د ځاى له وركولو نه د خپلې كيسې ځواب ناستو خلكو ته وايي په دې وړه ډېر ځايونه په لر او پړه لورى باندې حرام شي، له هغوى ځايونو څخه بند شي بيا چې كله ټولنه رنګوي، يو او بل لوري ته ښېنه وكړي، هر يو بند شوى ځاى ته ازاد كړي شي اوس د مثال په ډول يو څو كيسې او د هغوى ځوابونه دلته ليكم:

زما يو شى ده، زه يې هم لرم او ته يې هم لرې، خو خداى يې نه لري؟
ځواب: مور او پلار دي

زما يو شى ده، توشى ده، سا نه لري، ژوندى ده؟
ځواب هګۍ ده



ACKU

زما یو شی ده، وړه کټوګی ده، خوږکی یې مړه کی ده
ځواب: چارمغز (غوزه) یا متک

زما یو شی ده، د سرو اوښو کتارونه، ځوارلس یې پښې پینځه سرونه؟
ځواب: په څلور کسو روانه جنازه

زما یو شی ده، ټول کلی ملاست ده، په سر وهلی ناست ده؟
ځواب: مېږوی
زما یو شی ده، یو سر یې په اور کې ده، بل سر یې په زور کې ده، بل سر یې په اوبو کې ده؟
ځواب: چلم

زما یو شی ده، دوه ښکر خواره لري، څلور خاورې خاور لري، دوه لکه لک پري سپاره لري؟
ځواب: وزه

اوښه ده جانبازه، سوخوند وهي کونه یې وازه؟
ځواب: ژرنده ده

زما یو شی ده، یوه ونه ده، دولس یې څانګونه دي، دوه یې ګلونه دي؟
ځواب: یو کال، چې دوولس میاشتې او دوه اختره لري

زما یو شی ده، وړوکی سوندکک ده، له سرو غمیو ډک ده؟
ځواب: انار ده

زما یو شی ده، راغله پسته بلا، ویې خوړه زیږه بلا؟
اوښ ګورګره یا بل کوم ازغن بوټی خوري

زما یو شی ده، نه د خدای بنده ده او نه د پیغمبر امت ده
ځواب: قرآن

زما یو شی ده، لاندې کښتی ده، برسېره دریاب ده؟
ځواب: قرآن کریم ده او له هغه لاندې رهیل کیښتې یا جاله ده

## مخی:

د مخـي تـر سـرليك لانـدې چـې څه ليکـم، لومـړی دا ښه بولـم چـې لوستونکيو ته څرګنده کړم چې کوچيـان هغـو ټولـو خبرو تـه مخـې وايـي چې د ښې خبرې اوريدل و نه شي او خواب يـې بـه يـوه نـاڅه خبره وويـل شـي، يـا کـه يـو څوك پـه يـوه لـوی مجلـس کـې داسـې خـبرې وکـړې چـې د ناسـتو خلکـو د تـاييد وړ وي او ټول يـې منلـو تـه هم تيـار وي. خـو پـه همـدې مجلـس کـې يـو څوك غـواړي چـې خپـل ناسـتی او خـبرې خلکـو تـه وښيـي او د خپـل چـوپ ناستې خـاليګا ډکـه سـړي يـو څه نـا څه خبرې وکـړي خيـال يـې دا وي چـې هغـه وغـږېده، تـه هـم يـو څه ووايـه، يـا کـه چېرتـه يـوه چـا تـه د نصيحـت پـه ډول يـو څوك د هغـه کـوم عيـب وښيـي او هغـه بېرتـه نصيحـت کوونکـي تـه د عيـب ګوتـه ور ونيسـي، د منني پر ځای هغـه عيبونـه چـې پـه ده کـې وي پـه نصيحـت کوونکي کې يې پيدا کړي. که دا ووايـو بـده بـه نـه وي چـې خبرې پـه عمـل نـه خبرې پـه خبرو وېشـتلو تـه مخـی وايـي. د مخيـو لپـاره دوه ډلـې جـوړېږي، يـو لـوری يـوه جملـه ور واوروي، بـل لـوری ځواب داسـې ورکـوي.

| لومړی لوری | وروستی لـــوری |
|---|---|
| دې ما پورته په دا ترح کې | مـوزي تـبر وهـي لينـګی يـې غـوځ |
| دې مال له کلکتې | هنـدوګر کـړې الـه چـې |
| دې ما بيا له کلکتې | د کلکتـــې دړې وروســـتې |
| دې مال له دې جايه | د غنـم دانـــه د درې جايـــه |
| دې ما بيا له دې جايه | د دې ځای تيـره بـې جايـــه |
| دې ما له کندهاره | ســره اوښه دې تـــهاره |
| دې ما له سينه | يـوه سـترګه دې تـوره بلـه دې سـپينه. |
| دې ما له مراندې | مـېږ ولاړه وری تـري لانـدې |
| دې ما له اوبښتی | د ترانـو اسـپې زغښتـــې |
| دې ما له څېړی | مـېږ دې پـتـه پـه وړی |
| دې ما له ړوښتې | خـدای بـه در کـې سـره نيسـتې |
| لرګې واخله دولی | خـدای بـه درکـې کلوښتـــه وزی |
| لرګې واخله د ښو نه | خدای بـه در کـې سـپين او لـه |
| غنم | خـــبرې دې متـم |
| اوربسې | خـــرې د خوســـې |
| پياز | خـبرې دې پـه ليــاز |
| جوار | خـــبرې دې پـــه وار |

ACKU

*د مخوي په اړه داسې هم وايي*

- دا کار د هغه کار مخی ده.
- ما نصیحت درته وکړ، ته مخی راکوي.
- مخی مه راکوه.
- د دې خبرې مخی یې ورکړه
- د دې خبرې مخی نه شی ورکولی.
- پلانی په مخیو کې ډېره تکړه ده.
- مخی خو ده ته پرېږده.
- هر کار کوه، خو د خبرو مخی مه راکوه.
- زه خبره درته وکړم تا مخی د ژبې په سر نیولی وي
- سیال مې یې خو مخی مې نه یې.

## سپین رېبرک:

سپین رېبرك، هغه وسیله ده چې د کلي ځوانان او هلکان له کلیوالو څخه نګولي او غله پرې راټولوي، د ډېرې ټول ژبو، او هلکان سره راټول شي، چې سره یو ځای شي، په یو داسې هلك د سپین رېبرك فیصله وکړي چې خندا نه ورځي، بې ځایه خبرې او بې ځایه لاس نه اچوي، چې کله دا هلك خوښ کړي، لومړی یې مخ په ارمستو اوړو ور ککړ کړي. د رېبرې لپاره یې شي سپینې کلوښتې ورې وړې تیارې کړې وي. د دی لمدو اوړو په مرسته د هلك په مخ پورې وړې ونښلوي. هلك ته ښه سپینه رېبره ور جوړه کړي، مخ ته یې یو ګرد اوړه هم ور وشیندې ټول مخ یې په اوړو سپېره کې، یو مسخره کالي شورې یا بل څه هم ور واغوندي اوږده لکړه په لاس کې ورکړي نوري ئي ځای یې هم چې څه ملنډې په فکر کې راځي لکه د شادوبی. کول په لاسونو پورې څه ورتړل دا ټولې پرې وکړي لنډه دا چې له انسان څخه یوه نخره جوړه کړي، نور نو سپین رېبرك له مخې شي، د کلي د زلمیو او هلکانو یوه ډله پسې جوړه شي، د هر شي د ساتلو لپاره یې یو لوښی له ځان سره اخیستی وي، پر دې سربېره یې د هر شي لپاره پیمانه وهلې وي، د کلي له یوه لورې څخه د نګولي او غلې په ټولولو لاس پورې کوي، تر څو د ډېرې بل سر ته ووزي. هر کور د سپین رېبرك د ډلې پیمانه ور ډکوي، سپین رېبرك چې خبرې کوي ګډوډ غرېږي. په خبرو کې هم ملنډې وهي، د مثال په دود به دا وینا را واخلو، چې کلیوال یې وایي:

سپین رېبرکه! کور دې چېرته ده

*سپین ږیرک وایي: د غره په څوکه.*

- د غره څوکې ته دې کالي او کډه په څه وخېژوله.
- په مېږیو باندې.
- زمن لرې
- هو څلور زمن لرم، یو اتاس، بل پتاس، بل په توره تېږه ناس، بل دې ما په ولیو پاس

که څوك د ښځو پوښتنه تر وکړي، سپین ږیرك وایي، څلور ښځې لرم، یوه استه، بله پسته، بله ورسته، د اوږو د لمدولو مې هم سته.

سپین ږیرك په ټول کلي کې وګرځي. نګولي او غله راټوله شي، په یوه ځای کې یې کېږدي، دا خبره باید یاده شي، چې سپین ږیرك د شپې له خوا جوړوي، د خیرات کولو لپاره یو وخت وټاکي، په ټاکلي وخت د خیرات د پخولو او تیارولو لپاره مشرې ښځې او ځینې سړي او هلکان سره راټول شي، د جومات تر څنګه او یا د دېرې په یوه بله برخه کې د خیرات دیګونه (دیګي) باندې کړي، کوم شی چې په کارېږي، هغه له کلیوالو را ټول کړي. لنډه دا چې د یوه او بل په مرسته خیرات پوخ کړي؛ خوړلو ته مړی تیاره کړي.

څرنګه چې کوچیان مالداري لري، د مالدای د پوویانې له امله دېر کسان په کور نه وي، نو د دې لپاره چې داګ ته تللي خلك راټول شي د دوډۍ ورکول داسې وخت ته کوي چې سراني او کورني ټول سره راټول شي، که کوم کس د مړي خوړلو په وخت کې را و نه رسېږي او د راتلو تمه یې وي، چه را رسېږي هغوی کسانو ته د خیرات برخه پرېښودل کېږي. لنډه په دې چې د سپین ږیرك راټول شوی خیرات ټول کلیوال وخوري.

بې ځایه به نه وي چې ووایم د کلي د زلمیو او هلکانو لپاره د سپین ږیرك خیرات یو د خوشحالۍ ځای وي. د سپین ږیرك په وخت کې هم ساعت تیری وي، ولې چې کله مړی وخوړل شي، له هغه وروسته زلمي سندرې وایي، اتڼونه کوي، له نیمې شپې پورې دا چار او کړه وړه جاري وي.

## ګردو:

ګردو د شپنو هغه خیراته ته وایي چې ژمی وچکالي شي، د پسرلي د ابادۍ لپاره بارانونه نه کېږي، د دې لپاره چې خیرات وکړي، ټول شپانه په کور شي، یانې د مېږو او وزو پوول پرېږدي، د رمو او تویو څښتان په خپل مال

پــــې ولاړ شــې، شــپانه د غلــې او نګولــې لپــاره لــوښي او کــڅوړې تیــارې کړي، د هر شــي لــه پــاره پیمانــه ووهــي، د ډېرې لــه یــوه لــوري څخــه د نګولــې او غلې دانې پــه راټولولــو لاس پــورې کــړي، د ډېرې بــل ســر تــه ووزي، د خیراتــه لپــاره نګولــې او غلــې راټولــې کــړي، سملاســي خــیرات پــرې بــاندې کــړي، د خیرات پــه پخولــو کــې د کلي مشــرې او نیمځالــې ښځې مرســته ورسره وکــړي، کله چې هر څه پاخــه شــي، کلیــوال ټول پــرې راټول شــي، خــواړه وخــوړل شــي، بـاید وویــل شــي چې د ګردو پــه خیرات کــې هــم شــپانه، زلمــي او نــور هلکــان اتڼونه کوي، سندرې وایي، لنډه دا چې یو واده ګی یې جوړ کړی وي.
که چېرې لــه خیراتــه څخــه غله او نګول پاتې شــي، هغــه پــه کــور او کلي کــې یــو داســې چــا تــه ورکــړي چــې د خــیرات حقدار ګڼل کــېږي دا و د شــپنو پــه خــیرات ګردو باندې لنډ لیکل.

## پــاوکی:

اوس بــه راشــو د ســپین ژیریــو خــیرات پــاوکي تــه د ســبین ږیریــو خــیرات تــه پــاوکی ځکــه وایــي چــې د غلــې د ټولولــو لپــاره پــاوی ګرځوي، ســپین ږیــري هــم د نورو پــه څېر د کلي لــه یــوه سره څخــه ســیخبړي تــر څو یــې بــل ســر تــه وووزي، هر کور تــه چې ورشي، سړي سر یــو پــاو غلــه ځنې پوره کــوي. کــه پــه کــور کــې څلور کســه وي یو چــارک غلــه ځنــې وړي، کــه اتــه کســه وي بیــا نــو نیــم مــن غلــه ترې پوره کــوي. غلــه کــه وریجــې وي، کــه اوړه یــا جــواري خــو پــاوکی بــه پــوره ورکــوي، د نګولــې لپــاره تــرل نــه شــته د انــدازې لــه مخــې هــر کلیــوال چــې څه لــري، هغــه نــه تــرې ســپموي، دا خــیرات هــم د مخکــې خــیراتونو پــه څېر پــه یــوه ټاکلي ځای کــې پــوخ شــي، ټول کلیــوال پــرې راټول شــي، مــړه وخــوري، دا و د ســپین ږیریــو خــیرات پــاوکی، چــې د کلــي ســپین ږیــري خپلــه ســیالي لــه نــورو کلیوالو سره لــه سره کــوي.

## سړي په ښادیــو کــې:

دلتــه غــواړم هغــه چارې درتــه پــه ګوتــه کــړم، چــې مېړونــه یــې د ښادۍ پــه وخــت کــې کــوي، لومــړی غــواړم د کــوچیــانو د اتڼ پــه بــاره کــې څه ووایــم، کــوچیــان چــې اتــڼ کــوي پــه اتــڼ کــې ځنې ډېرې اچــوي، پــه ځنو ښورولــو کــې یــو ډول خــاص اچول دي، چــې لکــې ځنې ورتــه وایــي د خــبر خبرو پــه منــځ کــې داســې

وایي، پلانـي لکـې څنې ګډولـي، یـا دا چـې ډېرې ښې لکـې څنې اچـوي. کـه د سر یا څڼو لـه اچولو څه را تـېر شو، تـو و بـه وایـو چې لاس او پـښې هـم پـه اتـڼ کـې ډېر ښوروي، یـو څنـګ او بـل څنـګ تـاوېږي. لټیونـه خـوري، یعنـې پــه لـټو اوړي، د ډم پــه لــوري چــې کلــه ور تــاوېږي، تــو ډېر پــه شــوق او هــوس ور تـاوېږي

پـه کـوچیـانو کـې داسـې تـن اتـڼچـي ډېر بـد کـتـل کـېږي چـې پـه ځمکـه زر زر پـیـښې ښوروي، او میـده میـده ځي، یـا ټول بـدن اوکونـاټي ښوروي، داسـې اتڼچي تـه ډېر پـه بد نظـر ګوري، او بـدې ردې ورتـه وایـي

دلتـه کـه ووایم بې ځایـه بـه نـه وي لکـه څرنـګه چې کـوچیـان پـه ډېرو سیمو کـې ګرځي، نـو د پښتنـو د بېلـو بېلـو ټولنـو اتـڼ پـه کـوچیـانو کـې رواج لـري، خـو پـه دې ځای کـې چـې مـوږ د کومـو اتڼونـو نـوم اورېدلـی پـه هغـه بـاندې یـو څه لیکـم:

## قدم وهـل:

پـه خپـل وار سـره بـاید ووایـم چـې د اتـڼچیـانو (غـورځاوېو) لپـاره ګرد میـدان جـوړ هـواروي، د میـدان پـه منـځ کـې ډم ولاړ وي، د اتـڼ پـه وخـت کـې د ټولـو اتـڼچیـانو هـوس او شـوق د ډم پـه لـوري پـه ګرم اتـڼ کـې ډم د یـو مېکنـاتیس حثیت لري، چې اتڼچیـان لـه ډم څخـه لـږ لـرې پـه ډم بـاندې راتـاوېږي، چـې کلـه د ډم لـور تـه مـخ کـړي، د شـوق ډېرې نـښې یـې د بـدن پـه هـر انـدام کـې ښکـاره شي

اوس راځو، د کـوچیـانو د اتـڼچیـانو (غـورځاوېو) قـدم وهلـو تـه د قـدم وهلـو پـه وخت کې ډم وي او کـه نـه وي اتـڼچیـان یـې پـروا نـه لـري ټول هوسیـان را پورتـه کـېږي، د اتـڼ پـه میـدان کـې تـاوېږي دوه لـه څلـورو پـورې ملـګري یـو ځای روان وي دوه تـر څلـورو ملـګرو پـورې پـه هغـه پسـې وي، داسـې پـه ترتیـب سـره څو څو کسـان پـه میـدان کـې تـاوېږي اتـڼچیـان قـدم وهـل د خبرو پـه مینـځ کـې داسـې وایـي، ملـګرو راځي چـې قـدم ووهـو، د قـدم وهلـو پـه وخـت کـې ځینـې اتڼچیان سندره هـم کـوي، پـه یـوه ډلـ کې دوه کسـان غـبرګه سـندره کـوي چـې دیـوې ډلـې سندرتمامه شي، بیـا یـې پسـې دوه کسـان غـبرګه سـندره کـوي، چې د یوې ډلې سندره تمامـه شـي، بیـا یـې پسـې بلـه ډلـه کـوي، پـه دې ترتیـب پـه میدان کې درې څلور ځایـه سندره کېږي سـندره بـه وروستـه ولیکـل شي

د قدم وهلو په وخت کې که دم پیدا شي، یا خو ډول ټینګه وي، کرار کرار یې ترنګوي. که ډول ډبوي، هم خو ډېر شلم ډول وهي، کله چې د قدم وهل اتڼچیان بس وبولي، له بس کېدو سره سمه د اتڼچیانو لیکه جوړېږي، د لیکې له جوړولو سره سم دم خپل ډول ته زور ورکړي، وچته وچته زر زر یې وډبوي، په دې وخت کې ځینې اتڼچیان ډول ته ځني لوڅې کړي، ډېرې په بیره بیره یې ورته وښوروي (واچوي) نور نو ټول اتڼچیان په لیکه کې ودرېږي، د دم په لوري په هوسو شي.

## دوه قدمه اتڼ:

که ووایم بې ځایه به نه وي چې د کوچیانو سپین ږیري د پاخه عمر څښتنان ډېر کوي، دوه قدمه اتڼ په دې ور کېږي چې سر کې ګڅ (کیڼ) لاس لر پورته کوي، له دم څخه ګڅ لور ته مخ اړوي، په دې ترتیب د هر اتڼچي مخ د خپل وروستي ملګري لور ته شي، بیا بېرته یعنې د ښا په لورې هر اتڼچي د ډول له ډب سره قدمونه اخلي، په دې وخت کې لیکه اوږده هم شي او پراخه شي، اتڼچیان خپاره شي، له څو قدمو وروسته تګ څخه د ښي لاس په لورې د دم خوا ته قدمونه رااخلي، څه وخت چې د میدان د اتڼچیانو لاڑې ته را ورسیږي، بیا لر د ښي لاس په لوري له دم څخه کاره شي، یوه دوه قدمه دلته د ډول له ډب سره کېږدي، بېرته بیا د دم په لور تاو شي، خپاره لټ ته خان ووي، دا خبره به بده نه وي چې ووایم چې په خپاره اتڼ کې اتڼچي له قدمونو لاوسونو څخه ډېر کار اخلي.

## برګ اتڼ:

دا اتڼ هم د دوو قدمونو په څېر وي، خو برګ خکه ورته وایي چې زړې سپین سرې مشرې ښځې پکې ګډې وي، برګ اتڼ هر وخت نه کېږي، په واده کې که یو وار چېرته وشي یا نه.

## درې لټې اتڼ:

د دې اتڼ اتڼچي له دم څخه په خپل ښي لاس تاو شي، لټ وخوري، بېرته دم ته مخ کړي، د ډول له ډب سره د دم لور ته د خپلو لاسونو او پښو. سپکه اشاره وکړي، بېرته بیا له دم څخه د ګڅ (کیڼ) لاس په خواتاو شي، دومره

تاوېږي چې کابو د ډم لور ته يې شا شي، له دې څخه وروسته بيا بېرته په خپل لوري ياني په ګڅ (کيڼ) لاس يې له ډم څخه مخ اړولی وي، بېرته په ښي لاس د ډم لور ته مخ کړي، د ډول له ډب سره د ډم لور ته د لاسو پښو او سر سپکه اشاره وکړي، په دې ترتيب درې لټه پوره شي، بيا دوه يا درې وارې د ډول له ډب سره د ډم لور ته د لاسو او پښو او سر سپکه اشاره وکړي، نور نو بيا لټونو ته ځان تيار کړي.

## پيڅه لټی اتڼ:

په دې ډول کېږي چې د دوه وارې مسلسل ډېر په بيړه له ډم څخه اتنچي په خپل ښي لاس مخ اړوي، ګرد په لټ اوړي، بېرته ډم ته مخ کوي. دواړه لټونه ډېر په تړی وار پوره کوي، په بل وار له ډم څخه د خپل ګڅ (کيڼ) لاس په لوري دومره تاوېږي چې کابو شا د ډم لور ته تاووي. بېرته بيا د ډم لور ته را تاو شي چې د ډم لور ته مخ کړي، کومه اشاره نه کوي، په بيړه بل وار بيا په ښي لاس تاوېږي، په لټ اوړي، د ډم لور ته چې مخ تاو کړي، کومه اشاره نه کوي، په بيړه بل وار بيا په ښي لاس تاوېږي، په لټ اوړي، د ډم لور ته چې مخ تاو کړي، بيا نو د ډول له ډب سره سپکه اشاره وکړي، په دې ترتيب پينځه لټه پوره شي، بيا دوه او درې وارې د ډم لور ته اشارې کوي نورو لټو ته ځان سيخوي.

## خرکاري اتڼ:

: دې اتڼ اتنچيان له ډم څخه د خپل ګڅ (کيڼ) لاس په لوري تاوېږي. دومره مخ تاووي چې کابو د ډم لور ته يې شا شي. بېرته بيا په خپل لوري تاوېږي يعنې له ډم څخه يې په ګڅ لاس مخ اړولی وي، په ښي لاس د ډم لور ته راتاو شي، د ډم لور ته کومه اشاره نه کوي، د ډول له ډب سره خپل سر اچوي. د بل لټ لپاره په ښي لاس تاوېږي چې بيا يې هم د ډم لور ته شا تاو شي بيا هم چې په کوم لوري تاو شوی وي په هغه لوري بېرته د ډم لور ته مخ تاو کړي، د لاس پښو او سر خپلې اشارې د ډم لور ته د ډول له ډب سره پوره کړي، پټه خبره د يادولو وړه ده چې په خرکاري اتڼ کې بېرته او وړاندې تګ ډېر وي، خرکاري اتڼ بېرته وړاندې يو روان اتڼ وي.

## وردګي اتڼ:

د دې اتڼ اتڼچي ډېر په ورو په مخ حرکت کوي، لومړی لټ چې کوي (خوري) اتڼچي له ډم څخه د خپل ښي لاس په لوري تاوېږي. ګرد تاوېږي، تر څو ډم ته مخ کړي، يعنې په لټ واوړي. د ډم لور ته خپل قدم کېږدي. له قدم سره سم د ګڅ لاس په لوري تاوشي. د هر اتڼچي مخ د خپل وروستي ملګري په لور شي، بيا څو وارې د ښي او ګڅ لاس په لوري خپل ځان تاووي، راتاويي دومره انته تاوېږي را تاوېږي چې نه ډم ته مخ را اړوي او نه شا ورته را اړوي، ځينې اتڼچيان سر هم اچوي، خو ډېرو اتڼچيانو لاس په ځنګلو کې غبرګ کړي، تبغ نيولی وي، له څو وارې تاوېدو او راتاوېدو څخه وروسته بېرته بيا د ډم لور ته راتاوېږي لټونه پوره شي، اتڼچيان بيا د ډنګ سره خپلې اشاره کوي.

## کورمې وال اتڼ:

دا اتڼچيان هم د وردګي اتڼ په څېر تاوېږي، وردګي اتڼ ته ورته لټونه خوري، خو بېلوالی يکې دا دی چې کورمې وال اتڼچي توند اتڼ کوي، بلنه دا چې له ډمه بېرته په مخ تلونکی څو ګامه اخلي، بيا د ډم لور ته منډه را اخلي، ډم ته ځينې اتڼچيان لاس ورټکوي، خو په عمومي ډول د لاس او پښو اشاره ډېره اوچته (تونده) وي، دا بايد ووايم چې د نورو "ونو په نسبت په کورمې وال اتڼ کې د لاس ټکول ډېر وي، يا په بلنه وينا چکې پکې ډېرې وي.

په اخر کې دا ښه بولم چې ووايم چې د ښځو اتڼ دوه قدمه اتڼ ته ورته وي، په ګڅ لاس ښځې تاوېږي، ولې په ښي لاس د سړي په څېر ښځې نه تاوېږي، هر وار کيڼ ګڅ لاس ته تاوېږي، دا به هم بې ځايه نه وي چې ووايم چې د ښځو او سړيو دواړو ليکه په ميدان کې په ښي لاس تاوېږي، ښځې له ځان سره ځان ته دريا وهي او د سړيو په ګڅ کيڼ لوري کې ډم ولاړاو ډول وهي.

## د قدم وهلو په وخت کې سندره:

لکه مخکې چې مو‌ړ ويلي وو چې د سړيو د قدم وهلو په وخت کې سندره نه ليکو اوس هغه سندرې ليکل غواړم چې سړي يې د اتڼ په ميدان کې وايي. زه يې په هغه شکل ليکم چې دوی يې وايي:

یاره د ما یاره　دا دواړه　لاسه را واچوه په غاړه
و خدایه له تاده　کمکی مې وده وي　رضا مې نه ده
ړنګ مې کندهاره　ځلور د دروازې　ځلور بازاره
وه له رنګه زېړې　ځوانان دې لېونې کړه، کور دې چېرې
نسپین مخ د خولې ده　نامردې خوب د کړی　د غرمې ده
شنه شنه دې خالونه　پیکی د په مخ روت ده　پروت د ولونه ولونه
شنه شنه دې خالونه　پیکی دې په مخ وړ که　جوړ که ولونه ولونه
و په بام ولاړې　زارۍ درته کوم　که خولګۍ راوړې
وو دې ویستمه　نامردې جوړ به　نه سم و به مرمه
څه نرې شمال ده　لیلی که خولګی راوړې　نن دې وار ده
اسمان یې ځې بې ستنې　اسمان یې ځې بې ستنې　درولی
ستورې یې میوخونه　دا لمر یې شمنا روز پې　غوړولی
څه نرې شمال ده　لیلی که خولګۍ راکې　نن دې وار ده
څه نرې شمال ده　لاله که مې خوله خورې　نن دې وار ده
اتڼ کې نجونې ډېرې　خوګمن زړونه د　وې وړه تکی توري
اتڼ کې نجونې ډېرې　دې ما نظیر په تا ده　تکی توري
اتڼ کې نجونې ډېرې　مین زړونه د　یووړه تکی توري
اتڼ کوې دا نورې　دې ما نظیر په تا ده　تکې توري

شین ده زړه مې شین ده　شیرین یار مې　د غاړې لونګین ده
تکې جلکۍ تکې　لستونی راکوې　منګول ساتې نه
چتې جلکۍ چتې　پولکی دې په مخ پروت ده　کوتی کوتی
تکې جلکۍ تکې　لستونی راکوې　لاس پکې نه شته
چتې جلکۍ چتې　پیکی دې په مخ جوړ که　کوتې کوتې

چتې جلکۍ چتې　د یار کمیس دې جوړ که　کوتې کوتې
چتې جلکۍ چتې　پیکی دې په مخ پروت ده　کوتې کوتې
لتې جلکۍ لتې　پیکې دې په مخ پروت ده　کوتې کوتې
و سر دې سر تور ده　و پېکی دې اړولی　لور په لور ده
ورنګ د زېړی ده　اشنا یار دې راغلی　پیګه نی ده

پاس په بام ولاړې　ښی لاس دې اشاره که　بېرته ولاړې
و خالونو خالدارې　روپۍ دې کتار کړې　که خوله راوړې
و په بام ولاړې　روپۍ دې کتارې کړې　لاړې لاړې



ACKU

و په بام ولاړې　　رویې دې کناري کړې　　کــــه خولـــــه راوړې
و ودې وېـــتمه　　و مين دې په دا　　تـــورو ســـترګو يمـــه
و له ګل نازکې　　دا سپينې پايڅې　　پورتـــه وره لـــه منځکـــې
مرم چکنه مرمه　　د تا ارمان به خاورو　　لـــېره وررمـــه
مرم چکنه مرمه　　چکن په بازار ډېر ده　　را بـــې ورمـــه
مرم چکنه مرمه　　د تا ارمان به　　کلـــه تېرومـــه
سترګې د ډندونه　　و بانه دې　　کودامـــان شـــينکی باغونـــه
سخته تبکه ده　　کنار د اورکو راسي　　دا بـــه ورېتـــه

پيره دوا وکه　　ځې رنګ سي دا ويلي　　قلمونـــــــه
تور ګلونه ډېر دي　　ليلى سينه به اوس　　نيســـي ګلونـــه
د چين کميس يې کړی د چين ټټر يې غاړه　　خـــوږه وينـــه
ټټه سه خوله راکه　　چرې مې　　پـــه ټټر منلـــې دينـــه
چنه خربوزه وه　　عاشقو اورکو　　وی وره لـــه پـــاليزه
ټک ويې لاسونه　　بې درده　　اورکومـــه خـــورئ مروندونـــه
ټک ويئ لاسونه　　دومره بې پرې نه ږدم　　ځې ددې ميـــدان نـــه وباســـم ګردونـــه

لکه مخکې چې موږ ويلي هســـې خو ټولـې سندرې پـه بېلـه بېلـه ډلـه کـې کـېږي، خـو دلتـه زه هغـه سندرې بېلې ليکـم، چـې يـوه برخـه يـې مخکـې ډلـه وايـي او بلـه برخـه يـې ورپسې ډلـه ووايـي

لکه لومړی ډلـه دا ووايـي:
ټک ويئ لاسونه　　و بېګا ته نجونه　　وخـــورئ مروندونـــه
وروستي ډلـه داسې وايـي:
مړوند به ولې وخورې له دمېدان نه　　وباســـئ ګردونـــه
لومړۍ ډلـه
راځئ ځې نن د کوندې　　راځې نن کوندې　　مېلمانـــه ســـو
وروستۍ ډلـه:
د کوندې يوه لور ده　　د کوندې يوه لور ده　　پـه ديـدن بـې مـاړه نـه ســو
لومړۍ ډلـه:
و خالو خالدارې　　په وج ويلي دې خال ده　　کـــه رويبـــه
وروستۍ ډلـه:
نه خال سته نه رويبه　　وړې په سر يې　　کـــبنودې دريـــه
لومړۍ ډلـه
انې په کمرو ګوړې　　و آنې په کمرو ګوړې　　مـــا تولـــې

وروستي ډلـه:

عاشقو ته يې ورکړه    موزیانو ته يې    ګوتــــې لګولــــې
انی په کمرو ګوړې    وانی په کمرو ګوړې    مــــاتولې
موزیانو ته يې ورکړه    عاشقوته يې    ګوتــــې لګولــــې

لومړۍ ډلـه:

تو دېګی د غرمې    تو دېګی د غرمې تنور تــــــور دېګی

وروستی ډلـه:

سامسته ورته نساته    په مخ يې رنګا رنګ    خولــــې بيــــږې

لومړی ډلـه:

له ښکی په دېرو راغلې    وله ښکی په ديروراغلې    ځنې ورې

وروستی ډلـه:

د کوښو د شنکی سو    نـری شمال راغـی لـه لمنـې

لومړی ډلـه:

دا پورې يو سپين ږيری    دا پـورې يـو سـپين ږيـری    سـپيکي غـوارې

وروستی ډلـه:

په زرند کې بې دوړه    په زرند کې يې به دوړه    تيولولــــــه

نومړی ډلـه:

ارمان مې د شمشوبيه    و رامان مې د شمشوبيه    .    ســــــروبيه
يو غوړپ مې ځنې وکه    و ارمان مې سپين پايځې    تــــوره پيکيــــه

لومړی ډلـه

پورې په دامان    و دا پورې په دامان    تــــورې کېږديــــه
وکېږدی مې اوبو    يوړې    د زمــــې شــــپې بــــه چېرتــــه

نېروـمـه

تک ويي لاسونه    د ميدان خوانانو مه خورئ    مړوندونــــــه
تک ويي لاسونه    وله د ميدان نه    وباســــئ ګردونــــه
ترنګ ورکه په زوره    پلانی د ته ولاړ    ســر يــې سـر تــوره

په اتڼ او سندرو پسې کوچيـان په ښاديـو کې ډزونـه کـوي، نـښې ولـي، اسـپې ځغلـوي، د اسـپو پـه شـا بـاندې سـور د ځمکـې لـه مخـه دسـمال پورتـه کـوي، مېږوي وهي، منې په نـېزه مـېږوي وهـي، داس پـه شـاه پـه منـډه کـې نـښه ولـي چې په کوندلو هم ورتـه وايـي. يعنـې پـه کوندلـو نـښه ولـي، پـه کـال کـې د دوو اخترونو ورځې هـم د ښاديـو او خوشـحاليو پـه پنـډ کـې راځي.

پـه ودونـو او نـورو ښاديـو کـې چـې کلـه ډمـان وي، نـو ډم تيـار سـي، ولاړ وي، چې کله ځوك کـوم، توپکچـي نـښه وولـي، يـا پـه سـپونيزه ووهـي. يـانې مـېږوې

ACKU

ووهي، یا هم د څمکې له مخه دسما پورته کړي، نو ډم سم له لاسه ډول ډبه وي، ښه ګڼ ډول وډبه وي، د ډول په ډبولو سره د ټوپکچي نیزه ویونکی د دسمال پورته کوونکی قدر وکړي، سر نامه ورته وکړي.

## توره دیره او ډول:

توره هغه کلي ته وایي چې په وخت د تنګ او مزله کې په یوه ځای سره اړوي او دېره هغه کلي ته وایي چې په ژمي یې سره اړولي وي کوچیان به په توره او دېره دواړو کې له خانه سره ډم ګرزاوو. لکه څرنګه چې د ورشوګانو له امله او همداراز نورې دوښمنۍ کوچیان ډېرې لري، له ډېرو قومونو سره دوی زور ازمېلی دی، په مرګ وهلو او ټکولو برسېره یې له دوښمن څخه نتی راوستي له دوی څخه به یې هم مالونه بیول نو د دې لپاره چې دوی په خیر او شر زر سره خبر شي، ډم به یې له ځان سره ګرځاوه، هر کلیوال ته د ډول د ډبولو لښته او لرګی معلوم وو، لکه د چیغې د وتو ډبول، د کډو د بارولو ډبول چې کله چیغه تیت شي، د هغوی د بېرته راټولېدو ډبول، کله چې چیغه وتلی وي، او دښمن پیدا شي، د دوښمن د پیدا کېدو ډبول په داسې وخت کې چې چیغه خپره شوې وي او ځیني چیغبانې له دوښمن څخه له کوم جنګ او جګړې پرته نته په اسانۍ سره را خلاصه کړي یا ورکه پیدا کړي. بیا په دې وخت کې ډول د خیر په غاړه ډبول کېږي په عمومي ډول د چیغې ډول زر زر ډبول کېږي، په داسې حال کې ډول ته لښته او لرګی دواړه زر زر وراچول کېږي، خو د لوی لرګي پوره اړخ ډول ته نه ورلګېږي، ډم ډول د لرګي په سر ډبه وي، په دې ترتیب د لوی لرګي او لښتې په غږ کې ډېر توپېر نه وي، ډبائی سره نږدې وي، د خیر په غاړه چې څه وخت ډول ډبول کېږي، نو لښته او لوی لرګی دواړه په کرار ور اچول کېږي، یانې ډول شلم وهي، دوی پرې پوهېږي، چې ډول د خیر په غاړه ډبول کېږي.

## په کوچیانو کې لوبې:

په دې ځای کې نیت لرم چې هغه لوبې درته په ګوته کړم کومې چې په کوچیانو کې رواج لري. دا کېدای شي چې له دې لوبو سره ډېر لوستونکي بلد وي، خو زه دا چاره وړ بولم چې په کوچیانو کې کومې لوبې (مستی) کېږي، هغه دروپېژنم. زړه مې غواړي چې په دې لیکلو باندې د هلکانو له ببه کې او له کنځاکیو څخه پیل وکړم چې ببه کې او کنځاکی هم وپېژني، او د ځینو لوبو بېنا هم له ببکې او کنځاکیو څخه کېږي، څرنګه چې کوچیان مالداري لري، نو د مالدارۍ د پوېانې له امله د کلي (دېرې) هلکان د ورځې له مالي په مالدارۍ پسې خپاره وي، مالداري، په ورسو ګرځوي، پيايي يې؛ نو کله چې د ببګا له خوا مالونه کور ته راولي، هلکان لوبو (مستیو) ته وخت پیدا کړي. څه وخت چې د ماښام ډوډۍ وخوري، ګوتې وڅټي، سم له لاسه د لوبو (مستي) میدان ته را ووځي. ډېر هلکان داسې وي چې د ورځې یې سره لیدلي وي یو له بل سره یې دا تړه کړې وي چې ببګا ته به لوبو (مستې) ته در وځم. ډېر هلکان داسې هم کوي چې یو او بل ته ووايي چې ما ته به خرابه او بدې کنځاکي نه اچوې، چې څه وخت په میدان کې ببکې وشي. زه ځان در رسوم. نو کله چې میدان ته لومړي ملګري را ورسېږي، د نورو ملګرو د خبرولو لپاره ببکې کوي، که کوم اوړوکی مني هلك د ببکې په غږ را نه شي، نو داسې هلکانو ته کنځا کې اچوي، د کنځاکیو په زور یې له کوره څخه د لوبو میدان ته را باسي.

ببه کې:

لکه څرنګه چې موږ مخکې ویلي چې ببه کې هغه اوړکي مني هلك کوي کوم چې د لوبو (مستی) میدان ته لومړی راوتلي وي. ببه کې هغه اواز ته وايي چې د حېل لاس استر یعنې د رغوي شا په خوله کېږدي، له خولې څخه په تونديۍ سره اوازباسي، د لاس استر په خوله ښوروي، ببه کې کېږي، دغه غږ ته ببکی وايي.

له ببه کې څخه پرته دا لاندې وینا هم کوي. لپاره د دې چې نور ملګري مستي (لوبو) ته وهڅوي، وايي

ډګه، ډګه چه ر پـه میـدان درتـه تـاوېږم
لـــه هېچـا نـه ډارېږم
له هېچـا نـه ډارېږم

ACKU

ډګه ډګه چه ر — په میدان ته درته تاوېږم
د مست اوښ په شان غورېږم
له هېچا نه ډارېږم

ډګه ډګه چه ر — په میدان درته غورېږم
له هېچا نه پټېږم
له هېچا نه درېږم
ډګه ډګه چه ر — په میدان درته غورېږم
له هېچا نه پټېږم
له هېچا نه درېږم
ډګه ډګه چه ر — سینه ویم را تېر سه
پټیره د ګنډېر سه

ډګه ډګه چه ر — سینه ویم را تېر سه
ټکله د ګنډېر سه
په میدان درته ولاړ یم
له هېچا نه ډارېږم
مستۍ ته هوسېږم
ډګه ډګه چه ر — سینه درته ویم
مسیتۍ ته هوسېږم
په زړه ګي خوړل کېږم
نیم نه پاتې کېږم

**کنځاکي:** که کوم هلك مستۍ ته زړ را و نه وزي، داسې کنځا کي ورلېږل کېږي، وایي:

څوك وزي ننه ووزي — پلاني وزي ننه وزي
څې منستۍ ته نه راوزي
خور یې وترم په مزي

دومره څای کې پرېږدم چې د پلاني یې (...) وزي

اوږکیومند یم غیمه — څې دورخیم غور پر یې اوس مستي ته نه راوځي
اوږکیو مندیم غیمه — څې دورخیم غور و پر وي اوس ولي نه را وځي
تې تې تې زه راغلم له وتې — د اوسپنې مې (غ...) ده له پلو لاندي مې سوتې

تي تي تي زه راغلم له پتي ‏ ‏ داوسپني مې(غ....)ده لــه پلولاڼدي سـوتي
وتي وتي وتي پلانى ننووت په بوتي ‏ ‏ سپېره خولــه لکــه د کــوتي
چا ته و دا داره پلاني ته و دا داره ‏ ‏ خـور يـې پـرې وتـه کـراره
که نن پلانى را نه غى ‏ ‏ دې مــا ســره ســوتي پــې ... ړه

څوك وزي ننه وزي ‏ ‏ پلانـــى وزي ننـــه وزي
که مستي ته نه راوزي ‏ ‏ خـور يـې وتـرم پـه مـزي
دومـره جـاى کـې پـربـږدم چـې د مـا پـې (....) وزي

*چا تـه چې کنځاکى اچـول شـوى وي هغـه داسـې خواب ورکـوي:*
اوركى دې موركوسى ‏ ‏ اور تــه ناســت دى (خ) کســـى
څې اكاګي پې رابنکاره سي ‏ ‏ کـوچـى واچـوي خپـاره ســي
اوکړى دى موركوسى ‏ ‏ اور تــه ناســت دى (خ) کســـى
څې اكاګي پې را بنکاره سي ‏ ‏ څادر واچــوي خپــاره ســـي

**متل:**

مخکې لـه دې چې پـه لوبـو (مسـتي) څه وليکـو، دا بنه بولـم چې لـه هغـه ځخـه لومړى د هلکـانو لـه مينځه متـل، تکـى خـبره کـبږي، دا در وپـېژنـم، کلـه چـې لوبـه (مسـتي) کوونکـي هلکـــان ملـگري ســره راټول او يـو ځاى شـي، ړومبـى دوه مـيران وبنودل (وټاکـل) شـي، پـه دې وخـت کـې دوه دوه هکـلان سـره منـي وايـي، راځي چـې سـره ومنـو، د متلـو لپـاره دوه دوه داسـې هلکـان سـره بـېل شـي، چې د بـدن د تـوان لـه مخې سره برابر وي، هلتــه يـو ملـگرى دوه ګوتـې پورتـه کـړي، پـه دواړه ګوتـو کـې يـوه لمده کړي، خپـل ملـگري تـه ووايـي چې کومـه يـوه غـواړې هغـه وچـه يـا لمـده ونيسـي، په دې سـره هلـك د هغـې ګوتـې شـي، لـه دې وروسـته دواړه بـډيـان د خپلـو مـيرانو مخې ته ودرېږي، يـوه ميرتـه دواړه بنودلـې ګوتـې مخـې تـه نبغـې ونيسـي، ورتـه وايـي، لپـړې لپـړې څو ګوتـې مـير پـه خواب کـې ورتـه ووايې: دوه د خـرې لـه دې ويلـو ځخـه وروسـته دواړه ګوتې بـل مير ته نبغې ونيسـي، مـير تـه ووايـي، وچـه غـواړې کـه لمـده. مـير وچـه يـا لمـده خوبنه کړي، پـه دې وړه پـه هـره ګوتـه پسـې خپـل ملـگري ولاړ شـي، پـه دې متلـو سره ټول لوبغـارې (مسـتي کوونکـي) دوه ډلـې شـي.

دلتــه بــه يــاده وکـړو چـې متـل کلـه واړې داسـې هـم يـادوي لکـه پلانــي او پلانــي د هغې چارې يـا خبرې پـه بـاره کې سره متلې دي، وبولـه يـو د بـل مخـالف دي.

## اوس به راشو لوبــو تــه:

لومړى بـه هغـه لوبې وپېژنو چې د شـپې لـه خـوا يـې کـوچيـان اورکـې کـوي، پـه دې لوبـو کې زه لومړى تـوده کـې در پـېژنـم:

## توده کـې:

دا خپل لوبه ده چې هلکـان د لوبـو (مسـتی) د میـدان پـه مینـځ کې اوربـل کـړي، د لاس دې وار پـه انـدازه څو تـېږې د تـوده کـې لـه پـاره پکـې تـودې کـړي، لـه دې سـره سـم پـه ډلـه کې دوه مـیران وټاکـل شـي، مـیران چې کلـه وښوول شـي، هلکـان هـم سـره ومنـي دوه ډلې شـي، ټولـو هلکـانو تـه د پټارسـی امـر وکـړي، د تـوده کـی غونـداری پـه لاس کې ونیسي. ټولو هلکـانو تـه امـر وکـړي چې سـترګې پټې کـړي، د مـیرانو لـه امـر سـره سم ټول هلکان خپلې سترګې پټې کـړي، میرا تـوده کـی لـرې وشـړي، دومـره لـرې چې هلکـان یـې درب وا نـه وري، یـانې پـه دې پـوه نـه شـي چې میرانو تودهکـی پـه کـوم لوري وشړله، چې کله تـوده کـی پـر ځای ولـګېږي، مـیران هلکـانو تـه د سـترګو لوڅولـو (ځلاصولـو) امـر وکـړي، ټول هلکـان سـترګې لـوڅې کـړي. اوس نـو مـیران هغـه لـوری ورتـه وښيي، چې پـه کـوم لـوري یـې تـوده کـی ختـا کـړې (شـړلې) وي، نـور نـو هلکـان د توده کی په پیدا کولـو پسـې پـه هغـه لـورې خپـاره (تیـت) شـي. پـه کومـه تیـږه یـې چې شـك را ځي، لاس پرې ږدي، چې تـوده کـی بـه وي. هـر هلـك پـه دې لـټه کـې وي چې توده کی ژر تر ژره پیدا کـړي، او خپـل مـیر تـه یـې ورسـوي. بیـا یـې چې کلـه یـو هلـك پیدا کړي، نور ملګري یـې دا کـوښښ کـوي چې لـه هغـه څخـه یـې واخلـي، او پـه خپلـه یـې خپل میر ته ور ورسـوي.

•ډېر وارې داسـې کـېږي چې تـوده کـی یـوه ډلـه میندـه کـړي، بیـا یـې د بلـې ډلـې هلـك تـرې واخلـي، خپـل مـیر تـه یـې پـه منـډه ور ورسـوي. د تـوده کـی د رسـولو میـدان وګټي، داسې هم کېږي، چې یـو هلـك تـوده کـی پیـدا کـړي، پـه ډېره هوښیـاری ملـګري پـه ځان پوه نـه کړي، د هلکانو لـه منځ څخـه د خپـل مـیر لـور تـه پلـو تـه ځان وباسـي، لـه هغه ځایه ترپ وهي، لـه ملـګرو څخـه خـلاص شـي، ځان روغ سـلامت لـه تـوده کـی سـره خپـل مـیر تـه ور ورسـوي، پـه دې شـان میـدان وګټي، بـر شـي د دواړو ډلـو لـه منـځه د توده کی د میندلو او خپـل مـیر تـه د ژر رسـولو مقابلـه وي.

## پټوونکـی:

هـم د وړو د شـپې لـه خـوا ګډه لوبـه ده، ټول ملـګري یـوه ډلـه وي، دا لوبـه پـه دې خـپل بینـا کـېږي، چـې کلـه ټول ملـګري سـره راټول شـي، لومـړی مـیر (مشـر) وښوول شـي، وروسـته مـیر یـو کـس لـه ځان سره خوښ کـړي، د مـیر پـه خـوا کې کېنښـې، پـه نـورو ټولـو مسـتي (لوبـه) کوونکیـو هلکـانو نومونـه کـېږدي، د مـیر لـه واکـه لانـدې هلـك خپلې ګوتې د خپلې زنګون پـه سـر سـره کـړی کـړي نـور لوبـه (مسـتي) کوونکـي هلکـان ټول د ګوتو پـه دې کـړی کـې خپلـه شـا غـټه (مـسـواکي) ګوتـه د چـرګ د مښوکـې پـه څېر زر زر وهي، پـه خولـه بـاندې د چـرګ د رابللو داسـې وینـا کـوي، تـې تـې تـې تـې چې ټول لوبـه کوونکي پـه تـې تـې تـې بـاندې سـره راشـي. پـه ژر ژر ګوتـه پورتـه کولـو او کتـه کولـو کې د هر هلك دا کوښښ وي چې ګوتـه یـې و نـه نیـول شـي، پـه دې منـان کـې د مـیر لـه

واکه لاندي د کړۍ هلك غوټه وکړي، يوه ګوته د خپلو ګوتو په منځ کې ونيسي، د هر هلك ګوته يې چې ونيوه، هغه هلك له ځان سره کښېنوي. سترګې بې پخې پرې پټې کړي، نومول شوي هلکان ټول تيت شي. هر يو ځان ښه پوخ پټ کړي، ځرك پرك نه کوي، ځان په پنايي کې ومنډي، چې ټول هلکان په ځاي شي، په بندي هلك سترګې خلاصي شي، د مير له لوري پوښتنه ترې کېږي چې زما پلانی کوم لور ته تللی؟ هغه د اټکل او د خپل خيال له مخې يوه لوري ته ګوته ونيسي، مير ته وايي: دغه لور ته تللی. د مير مرستندويې غږ ورته وکړي، خپل پرې کښېنوول شوي نوم ورته واخلي، د هغه د غږ کولو لپاره هغه ځانګړې ټکی وي هغه په خپلو ټکو سره غږ ورته وکړي، کله چې په ټولو پټو شويو ملګرو کې يو کس نه وښوول شي، کوم لور ته چې ګوته سيخه شوي وي هغلته غږ وکړي، ټول ملګري راپورته کېږي، بل وار په هغه هلك سترګې پټېږي چې ښودل شوي وي.

اوس به د پټېدونکي نوم او د هغه د غږ ټکی در وښييم، دا پخه خبره وي چې خپل نوم او د غږ ټکی به هر هلك په ياد لري.

| د هلك نوم (پلانيه) | د غږ ټکی (ها) |
| --- | --- |
| تسبيې (تسبيح) | مور و پلار مې وبښي |
| ايينه | مور و پلار مې ښايسته |
| ښکر | مات مېکه لښکر |
| | يا مات مې که دوه نيم زره لښکر |
| ټوپك | له خړواوبو ډك |
| وړې | دجنت په لار مې وړې |
| وېښته | په لار کې چغبده |
| توره | مور دې مه سه پوره |
| خنجر | په دوښمن يم زورور |

*لاندې خندونکي نومونه دي چې هلکان ورته خاندي:*

| | |
| --- | --- |
| لور | (ك...) غواړم په زور |
| بياتي | (ك...) غواړم زياتي |

## خلی پټوونکي:

هم د شپې له خوا هلکان کوي. د دې مستۍ (لوبې) او ساعت تيرۍ پيل په دې وړ وي چې ډېر ملګري دايره کوره کې سره کښېني، په داسې شکل کښېني چې کوناتې او تلی په خمکه کېږدي، د خپلو لينګيو يا پونډيو او ورنو له منځه د خپلو لاسو د تېرولو او راتېرولو لار پرېږدي. څنګ په څنګ هر يو خپل دواړه لاسونه د خپلو پښو په غبرګون کې ومنډي يو ملګرۍ د ټولو په سر څارګن ودرېږي، ناست ملګري يو خلی راواخلي، په خپلو لاسو کې يې يوه او بل ته له څارګن څخه پټ

ورکوي او اخلي. ډېر واري داسې کېږي چې خلی له یوه سره وي خو د ځارګن د تېر ایستلو لپاره ټول ملګري سره لاس او ځان ښوروي، هر یو داسې ځان ښیي چې خلی له ما سره دی، ځارګن هم په دې کې ډنډ وي چې اوس په کوم یوه لاس کېږدي. خلی له کوم یوه سره دی، خکه چې ټول منجېږي (ښورېږي). خو چې کله د ځارګن په کوم یوه باندې زړه غل شي، غوټه پرې وکړي، دواړه لاسونه یې کلک ونیسي، غړ پرې وکړي، ودري، غله تا سره ده که چېرې له چا سره خلی و نه خېژي، لوبه همداسې روانه وي، مغه لومړی درول شوی کس یې ځاري، خو چې کله له کوم یوه ځخه خلی لاس ته راشي، غلا ترې وخیژي هغه ملګری له دایرې کورکی ځخه پورته کېږي د هغه پر ځای لومړی ولاړ ځارګن کښېني، په دې ډول لوبه (مستي) روانه وي.

## اوربوزک:

هم یوه د شپې له خوا لوبه ده چې غټ سړي یې هم ډېره کوي یو ساعت تیری پرې کوي، ټول برخوال ملنډې پکې وهي، خندي پرې کوي او ځینې لټه پیر کوونکي د لټه پیر زمینه ځان ته تیاروي اور بوزك د تودې چرګې د غاړې لوبه ده چې ښې د لرګیو درې او سوټکورې یې په اور اړولې وي او دوی ترې تاو وي. دا لوبه دا ور بینا کېږي چې هسې خو هسم ټول ملګري له اوره تاو وي، نور هم له اوره ګرد کوره کې تاو شي، په دې برسېره ټول ملګري دا تره سره وکړي چې خاندو به نه، ټول به پټه خوله یو، که چا وخندل هغه به پړ (ګرم) وي، له دې ځخه وروسته اور بوزك بینا کړي، په دایره کې یو کس خپل اوربوز د خپل ښي لاس د ملګري لور ته وښوروي، هغه بیا د خپل ښي لاس ملګري ته اوربوز ور وښوروي، دا خپل هر ملګری د ښي لاس ناست ملګري ته خپله اشاره ورکوي، دا اشاره په دایره ګرده تاوېږي، لکه مخکې چې موږ وویل چې ملنډې پکې وهي، هر ملګری دا کوښښ (هڅه - لټه) کوي چې خپل د ښي لاس اندیوال وخندوي او خپلو ملګرو ته یې پړ کړي، کله چې چټي پټي دومره سر و ښورول شي، دا کېدای شي چې کوم یو ملګری یې وخاندي او نورو ته پړ شي، لنډه دا چې اوربوزك ټولې ملنډې وي، خندا ارو مرو پکې پېښیږي؛ خو په اوربوزك کې هر چا ته سزا نه ورکول کېږي، که کوم چا ته ورکول کېده، نو د خنداکوونکی په کیڼ لاس کې چې کوم ملګري ناست وي هغه سزا ورکوي، هسې خو رنګ رنګ سزاوې وي، خو کله کله داسې پښېږي چې خندېدونکي له یوه غوږه ونیسي، یا یې په خرمن کې ټونګره ورخښه کړي، ورته وواییې تر ځو دې نه پرېږدم چې دومره سپین ږیري دې نه وي ښودلي، نو چا چې په اور بوزك کې خندلي وي، هغه اړ دی چې د سپین ږیرو شمېر ور پوره کړي چې چېرته یې سپین ږیري لیدلي وي، هغه له ګڼه ور تېروي، تر ځو بشه ور پوره کړي، ځان له هغه ایسته خلاص کړي، ګواکي ورته وواییې شل یا زیات و کم سپین ږیري و ښیي.

د ځینو کوچیانو له منځه دا خبره هم کېږي وایي:

- پلانی سړی تر څو مه پرېږده، سپین ږیري پرې وشماره.
- چې سپین ږیرې مې نه وي پې شمارلي، له هغه پورې یې نه پرېږدم.
- سپین ږیري یې پرې وشمارل.
- سپین ږیري به پرې شمارم.

## خره ټنډه:

یوه بله مستی (لوبه) ده چې په کوچیانو کې رواج لري، دا لوبه د شپې او ورځې په هر منان کې کېدای شي، دا لوبه دا ور پیل کېږي، چې کله ټول هلکان سره راټول شي، مستی نه ځان تیار کړي، په ټولو ملګریو کې لومړی دوه میران وټوکل شي، نور ټول هلکان سره ومني، سم نیم هلکان د یوه ډله شي، سم نیم د بل ډله شي، یاني ټول مستي کوونکي دوه ونډې شي، له دې شکه (څخه) وروسته دواړه میران سوچ سره ووهي لر او بر لوري سره معلوم کړي، چې کوم لوری او ډله لروخیزي، نو د هغوی ملګرو تر منځ یو هلك نبغ ودرېږي، چې ستن ورته وایي، بل ملګری د هغه یاني له ملا څخه خپل لاسونه تاو کړي، خپل سر د ستنې له څنګ سره کړي، په ملا کې کوپ (کړوپ) ودرېږي، بل ملګری د هغه له دواړو ورنو څخه لاسونه تاو کړي، سر یوه څنګ نه کړي، هغه هم په ملا کې کوپ ودرېږي، په دې ور ټول ملګري سر و پښې په ملا کوپ یو کتار لیکه جوړه کړي.

کله چې کتار جوړ کړي اوس د بر لوری لوبه پیل شي، ټول تیار ولاړ وي د بر لوري له منځ څخه یو کس ورمنډ (ولټوي) په ستن پسې په کوپ هلك باندې پاس سپور شي، بل ملګری ولټوي، په لومړي کړوپ پسې د بل هلك په شا ور کښېني، په دې ترتیب سره د بر لوري ټول ملګري دا کوښښ کوي چې د لر لوري د کتار هلکانو په شار کښېني.

هلته د لر لوري کتار هم دا کوښښ (هڅه، لټه) کوي او له چل څخه کار اخلي، چې کتار هم پرې نه کړي، او د مقابل لوري د ور په شا کېدو مخه هم ونیسي، له خانه یې تش تېر کړي، او ویې سوځي، نو که چېرې د بر لوی کوم ملګری د ملا کړوپو په شا ور سپور نه شي، دا ډله سوی ګڼل کېږي، بل وار به هغه ورته ملا کوپ کېږي، دغه نور به پرې کښېني، په دې ور به لوبه روانه وي.

## خولی اچوونکي:

دا لوبه هم د کوچیانو هلکانو له منځه د شپې او د ورځې کېږي، دا لوبه (مستی) په دې شان کېږي چې ټول لوبغاړي کله سره یو ځای شي، لومړی دوه میران وښودل شي، د میرانو له ټاکلو څخه وروسته ټول هلکان سره ومني، دوه ډلې شي، نیم له یوه میر او نیم له بل میر سره ملګری شي، چې کله دوه ډلې جوړې شي، بیا دواړه میران سوچ سره ووهي، لر او بر لوری جوت (معلوم) کړي، کوم میر چې لر شي، وروسته له هغه لر میر سره له خپلو ملګرو ګرد کور کې کابو د درې ګزه په اندازه

ACKU

یو له بل څخه لرې داسې کوړپ ودرېږي چې لاس یې کلك په څنګنو نیولي وي، د بر مېبر ډله برسیره پرې کېښېني، یو په بل د سپرو هلکانو یوه ګرده کړۍ جوړوي، خولۍ یې په لاس کې وي، سپور مېر خولۍ خپل د ښي لاس ملګري ته ور واچوي، هغه یې خپل د ښي لاس اندیوال ته ور واچوي، هر یو ملګری دا کوښښ کوي چې خولۍ ترې و نه لوېږي. داسې په ترتیب سره خولۍ په دایره تاوېږي، شړل کېږي او نیول کېږي، که چېرې خولۍ ترې ولوېږي لاندې ملګری غوته پرې وکړي، سپاره په بیړه او چټکۍ سره کته شي، د خولۍ له وار څخه ځان خلاصوي او روبا کوي، لاندې ډلې چې خولۍ اخیستې وي هغه یې په خولۍ ولي نو که چېرې د سپرې ډلې په ملګریو باندې خولۍ څرخه شي، یانې د خولۍ په وار ولګېږي، نو دا ډله د بل وار له پاره لره ګټل کېږي. دا به کوپ ورته درېږي، هغه لومړی لاندې ملګری به ور په شا کېږي او که چېرته خولۍ پرې و نه لګېږي نو بیا به هم دوی ورته کړوپ درېږي، هغه بله ونډه به خولۍ یوه او بل ته د دوی په شا اچوي.

## ډمې:

یوه بله لوبه ده چې په کوچیانو کې ډېر زیات رواج لري، ډمې په وړو هلکانو برسېره ژنې او پاخه سړي هم کوي، ډمۍ د سپینې رڼا ورځ لوبه ده، د هوارو رغو او پستو پیلو مستې او ساعت تیر ي ده، ډېر وارې چې مشله ملګري سره یو ځای شي، ډمې په مړۍ (ډوډۍ) ورکولو سره کوي، وایي ډمې (ښبې) سره کوو، په کوم یوه مو چې وارولې ټولو ملګرو ته په مړۍ ورکوي، اوس به راشو دې خبرې ته چې ډمې څه وړ کېږي، ډمی (ښبې) داسې کوي چې کله واړه (ټول) ملګري سره یو ځای شي، په خپل منځ کې یې دوه مشران وي، که واړه هلکان وي، نو سره ومنې او که لوی سړي وي، نو ټول ډمو وېشتونکي سره دوه ډلې شي، سم نیم یوه لور ته او سم نیم بل لور ته شي، که چیرې کوم یو کس سر ته ووزي، یعنې زیات شي، هغه منځو غړاتی شي، منځوغړاتی یو وار له یوې ډلې سره ملګری کېږي، بل وار له بلې سره ملګرتیا کوي، په هر حال کابو د دېرشو (۳۰) ګزو په اندازه یوه یوه ځاپېړه یا لڼ وړې وړې تېږې لکې کړي، د ډمو شمېر له پنځو نیولې تر شلو پورې داسې کم او زیات وي، کله چې ډمې (ښبې) ودورل شي، یو او بل لوري ته ور وړاندې له ډمو څخه د دوو ګزو په اندازه له ډمو څخه لږ غټې دوه تېږې ودروي، چې هغه ته ډم وایي چې کله ډمې او ډم (ډمان) ودورل شي، وار یې د وېشتلو راشي، نو که هر څو ملګري وي، هر ملګری به درې درې واره کوي له دریو وارو څخه زیات نه شي کولای. که یې وکړي وار به یې توی تللی وي، بیا به ملګرو ته یو وار منجورایي ورکوي، یانې یو ورا به کم کوي دلسه حبره دا مخته راځي چې په ډمو یا ډم باندې لومړی وارونه څوك کوي، نو دلته دا وایو که چېرې واړه هلکان وي په دې وار هم سوچ سره وهي، او که سړي وي، بیا په دې خبرو پسې نه ګرځي، که هره ډله لومړی شي، لومړی د تیرو بینا په ډم کېږي. ډله کې چې هر څو کسان وي، درې درې واره

(گوزاره) هر سرې کوي، ټول ملګرې وار تېروي، بل وار هغه بله ډله وارونه کوي، په دې ځای کې باید ووایم چې کله ډم رنګ شي، بیا له مقابل لورې پوښتنه کېږي چې سر دې له کومې یعنې د ډمو له کومه سره د ډمو په رنګولو بینا وکړو، هغه لوری ورته وښيي چې سر مو له هغه لوري دلته باید یاده شي، چې وار کوونکی له ډم سره دریږي، له ټاکلي ځای څخه به پښه نه وړاندې کوي. کله چې د یوه لوري ډمې پای پوکه رنګه شي، بیا دواړه لوري نورې ډمې او ډم لګوي، له سره بینا پرې کوي، د ډمو کولو او نه کولو یا څو وارې کولو څه تر نه وي، څومره یې چې په مټو کې زور وي، له هغه پورې ملګرې ډمې سره کوي، او ولې، کله چېرې د ځمکې په مخ کې توپیر و، یو لوری تیټ او بل لوری پاس لوړ و، یا بل څه توپیر وو، نو بیا هر یو لوری تیټ او بل لوری پاس سره بدلوي.

## خوسی:

خوسی یوه بله مستي (لوبه) ده، چې ډېر خلك ور سره بلد او پېژني یې، خو څرنګه چې موږ په هغو لوبو در سره غږېږو کومې چې په کوچیانو کې رواج لري، نو زه باید ارو مرو په خوسي کې هم وغږېږم، دا لوبه داسې بینا کېږي چې کله ټول لوبغاړي سره راټول شي، دوه میران وټاکل شي، له دې وروسته ټول ملګري سره ومني، لنډه دا چې ټول (واړه) لوبغاړي دوه ټاټیلیه (ډلې) شي، دلته په یوه ډله کې غوا (خوسی) ښودل شوی وي او په بل ډله کې کوټه جوړوي، په دغو دوو شیانو دواړه ډلې سوچ سره ووهي، له سوچ وهلو څخه وروسته یوه ډله کوټه جوړه کړي، په بله ډله کې خوسی (غوا) پیدا شي، ټول لوبغاړي د شا لور ته خپله پښه غبرګه کړي، لاس هم د شا لور ته ور واړوي، د پښې یوه ګټه ګوته یا هم ټوله خپره ونیسي. که په لوبه کې کوچیني هلك ګډ وي، هغه د پښې پر ځای په خپل یوه لاس خپل غوږ ونیسي، چې غومبوچې (غومبېچ) ورته وایي، یعنې اوږ هلك په غومبېچ وي د پښې او غوږ تله نولو څخه پرته خیني هلکان په یوه پښه یعنې په څنډرې هم په خوسي کې ګډون کولی شي، په دې شان لوبه مسته شي، خوسی دا هڅه کوي چې په کوټه ووهي، ملګري یې ساتنه کوي، تر څو خوسی څوك و نه سوزي، او کوټې ته یې روغ رمټ ور رسوي. کوټه پرې ووهي، هلته د کوټې والا ډله دا کوښښ کوي تر څو کوټه هم تري و نه وهي (رنګه یې نه کړي) او که خوسی سیخ شي، هغه هم وسوځي.

که چېرې د خوسي ډله کوټه ووهي، ـا به هم د خوسي لوری ددې ډلې وي او که کوټه و نه وهي، مقابله ډله د خوسي په نوم لوبغاړی تري، سوزوي، بیا به لوری سره بدلوي. د خوسي، ډله په کوټه جوړوي، په بله ډله کې به خوسی نومول کېږي، لوبه به دوام پیدا کوي، ډېر وارې داسې وشي، چې یو لاس لوبه دومره اوږده شي، چې د لوبغاړو لاسونه او پښې ستړې شي. ټول ملګري په یوه خوله غږ وکړیو وایي، هندو چاپ، د هندو چاپ غږ چې وشي، دواړه ټاټیلي پښې پرېږدي، سیاله (دمه) وکړي، سا واخلي بیا خپلې لوبې ته ادامه ورکړي (زور ورکړي).

دا بایډ ښکاره شي چې د کوټې له ویلو (رنګولو) او د خوسي له سوخولو څخه پرته که چېرې له کوم یوه ملګري څخه پښه خلاصه شوه، یا له غومبوچ والا څخه غوږ خلاص شو، یا له چوندرو والا څخه پښه ځمکې ته ټیټه شوه، سوی ګټل کېږي. سوی بیا د لوبې له مقابلې څخه وزي، یوې څنډې ته ناست وي تر څو بیا لوبه سره بینا شي.

د یادولو وړ یې بولم چې د خوسي په لوبه کې ځینې تکره لوبغاړي له ځنګانه څخه کار اخلي، د ځینو لوبغاړو له منځه په ځنګي باندې بندیز لګېږي، لوبغاړي سره ووایي: ځنګی به نه سره اچو، یا پلانی به ځنګی نه اچوي.

دلته د ځنګي په ارتباط لاندي خبرې وګورئ چې له لوبو څخه پرته کېږي:

- پلانی سخت ځنګی اچوي.
- داسې ځنګی یې ورته ټینګ که.
- د پلانې له ځنګي دې خدای ساته.
- په ځنګي اچولو کې خو پلانی ده.
- ځنګی خو پلانې ته پرېږده.
- پلانې پلانې ته په هغه باره کې ځنګی کېښود

اوس به راشو د هندو چاپ کیسې ته وایي لکه پ وایئ چې دا چاره نوره نه کوم، هندو چاپ یانې په هغه باره کې ئې هندو چاپ وویل.

## چندرو یا چوندرو:

یوه بله لوبه ده چې د هلکانو په منځ کې یوه خوندوره لوبه (مستي) یادېږي، چوندرو د ځمکې په مخ داسې کېږي چې کابو د ځمکې په مخ اته ګزه اوږده او یو نیم ګز سوروره، څلور کونجه لیکه تېره شي، د دې په منځ کې بیا پینځه لیکې د هغه د سور په لوري کې تېرې شي، په منځ کې ې شپږ پټې جوړې کړي، چې د لومړۍ پټې نوم یوکالو وي، کابو یو ګز وي، د دویم دوه کاله یو ګز وي، د دریم چنګي له نیم ګز څخه کم وي څلورم دمو کابو دوه ګزه پنځم اونګره یو نیم ګز، شپږ توبس (تپوس) د دوه نیم ګزو په اندازه وي.

کله چې د ځمکې په مخ چوندرو جوړه شي، یعنې لیکې تېرې شي اوس یو بل شي پکارېږي، چې هغه ته سولۍ وایي، سولۍ د دریو ګوتو په اندازه یو ګرد غاړی نری تبنه تیږه وي یا د خورې ټوټه وي، دا هم تیاره شي.

دا باید ووایم چې چوندرو یوه ځان خانې لوبه ده، ډېر ملګري سره یو ځای کېږي، خو د هر چا په خپل سر وي، چوندرو کوونکي لوبغاړي یوه پښه پورته غبرګه نیولې وي، په یوه پښه سولۍ له پټیو څخه باسي، بله دا چې چوندرو کوونکي په څو چارو سوي یادېږي یوه دا چې پښه د لوبې په وخت (منان) کې په ځمکه ترې ولګېږي، بله دا چې پښه په لیکه (خط) ترې ولګېږي، بله دا چې سولۍ په لیکه برسېره ولوېږي بل

به په دې شرط سوزي، چې د ساره لور ته سولې ترې ووزي، بل هغه لوبغاړی سوی يادېږي چې پټي ته دورشړلو په وخت کې سولې د چوندرو له ليکو (خطو) څخه د باندې تري ووزي، که لوبغاړی ستړی شي، پښه يې وچه شي، نو بيا د چوندرو په څلورم پټي دمو کې د دمې کولو ازادي وي، د چوندرو کوونکيو وار څرګند وي، هر ملګری په خپل وار سره راپورته کېږي، کوم ملګری چې وسوزي، له هغه څخه چې څو کسان لومړی وي، هغه به خپل وار تېروي، له هغوی څخه وروسته بيا په مستۍ (لوبه) کې ګډون کولای شي، که چېرته په وار نيولو کې ملګري يو له بل څخه لومړی وار غواړي، نو هر يو د چوندرود ليکې بر سر ته ولاړ شي، هلته د پښې په خپړ سولې کېږدي، په يوه چندري يې کته وشړي، چې کوم يوه تېره کړه لومړی وار د هغه وي منې د کوم لوبغاړي سولې چې لري ولاړه د هغه د لوبې وار به لومړي وي.

اوس به دا ووايو چې لوبغاړی چوندرو کله اخلي کله چې لوبغاړي را پورته شي، سولې په لاس کې واخلې د چوندرو د پټيو په کوز سر کې د يو کال له پټي څخه د باندې ودرېږي، لومړی وار سولې يو کال ته په ورو سره ور واچوي، له دې وروسته يوه پښه پورته کړي، په يوه چندري شي، يو کال ته توپ ور واچوي، کله چې سولې ته ور نږدې شي، د بدن وزن په پوند تکيه کړي، د ګټې ګوتې په سر سولې ووهي، تر څو چې د چوندرو له دننه څخه نې د باندې وباسي، لوبغاړي هم په يوه پښه له چوندري څخه ووزي. بل وار بيا د چوندرو د پټيو کوز سر د يو کال د پټي څخه د باندې و درېږي، د دوه کال پټي ته سولې ډېره په ورو ورو شړي، تر څو په ليکه و نه لوېږي، او يا هم د باندې و نه لوېږي، کله چې په دوه کال کې سولې ولوېږي، لوبغاړی بيا چندري پسې واخلي په يوه پښه په توپو دوه کال ته د سولې څنګ ته خان ور ورسوي، بيا هم د يوه کال په لار سولې له ليکو څخه وباسي، په دې ترتيب د چوندرو له کوز لوري سولې ور اچوي، بيا يې بېرته په همدې ياني د يو کال په لار باسي، که ووايم بې خايه به نه وي چې د لوبغاړو ګټې ګوتې داسې روږدې وي چې يو وار سولې ووهي، هغه که د ګوتې په څنګ وي او که يې په سر وي، ډېره لرې او سيخه يې شړي.

په اخر کې به ووايم چې په وار سره هر پټي ته سولې ور اچوي، بيا يې تري باسي، هر لوبغاړی تر څو لوبه کوي کوي مګر وسوځي.

## ګاتې:

يوه بله لوبه ده چې واړه او غټ برخه پکې اخلي، ګاتې يوه خان خانې لوبه ده، خو دوه درې او څلور کسه يې په يوه خای سره کوي، دا لوبه داسې کېږي چې د ګټې ګوتې د سر په اندازه نهه تېږې هر ملګری راټولې کړي، چې درې درې توکې وي، يعنې دريو تېږو ته يوه توکه وايي، د لوبې د بينا کولو لپاره که هر څو ملګري وي، کوره کې کېنې، په دې منځ کې د دوه لوېشتو په اندازه ګرد ميدان (درينګی)

جوړ کړي. د دې لپاره چې کوم ملګرى لومړى ګاټى پيل کړي، په خپل وار سره هر ملګرى د ټولو ملګرو ګاټي را اخلي د لاس له مخ څخه يې د لاس استر ته اړوي د لاس په استر چې هر ملګرى ډېر ګاټي ونيوه، لومړى لوبه به هغه پيل کوي. يا خو يوه ملګري ته واك ورکړي چې ته لومړى ګاټى واخله لوبه بينا کړه، په هر حال هر يوه چې وي، ټول ګاټي په لپه کې ونيسي، له دې سره سم وچته ښى لاس په استر واړوي، د ښي لاس په استر او د کيڼ لاس په مخ ګاټى ونيسي له دې څخه وروسته کيڼ لاس هم ترې لرې کړي، په دې وخت کې يو څو ګاټي له ښي لاس څخه ولوېږي، لوېدلي ګاټى چې تر څو، تيت ولوېږي، لوبغاړى خوښ وي، کوم ګاټى يې چې د لاس په استر پاتې شي، هغه په ډېر ورو په خيرك تيا سره دومره له لاسه پورته واچوي تر څو لاس په مخ ورته واړوي، ټول ونيسي، د دې اړولو په وخت کې که کوم ګاټى ځمکې ته ترې ولوېږي لوبغاړى سوى ګڼل کېږي، نو دى هڅه کوي چې ټول ګاټي پوره ونيسي کله يې چې دا ګاټى ونيوه، بيا توکي ترې بيلوي، په همدې يوه لاس به درې ګاټي پاتې يوه توکه بل لاس ته ورشړي، که په توکه کې يو ګاټى وروستى شو، يا ځمکې ته ولوېده يا يې يو لاس بل لاس ته د مرستې لپاره ور اوړ، لوبغاړى سوى يادېږي، په دې وړ هر څو توکي چې پوره کېږي، هغه بل لاس ته ترې واچوي، له کومو ګاټيو چې توکه نه بلېږي، هغه په لاس کې ونيسي لکه د مثال په دود دوه ګاټي پاتې شي، يو او يا هم درې ګاټي پاتې شي، دا ګاټيْ به يې په لاس کې نيولي وي، تر څو نور ورسره پيدا کړي، هلته چې نور ګاټي په ميدان پراته وي، هغه په دې ترتيب را اخلي چې ورسره يو ګاټي پورته وشړي، هغه پرېږده چې پورته روان شي، دې په لاندې ګاټو غوټه وکړي، را پورته يې کړي، هغه پورته شړلي ګاټي چې له پاسه را غبرګ شي، هغه هم ونيسي، که چېرته دا شړل شوي ګاټي ترې و لوېږي، لوبغاړى سوى يادېږي، په دې پسې که په لاندې ګاټيو کې کوم ګاټى را اخلي يا ترې ولوېږي يا يو ګاټى را اخلي په بل ګاټي يې ګوتې يا د لاس بله برخه ولګېږي، لوبغاړى سوى دى، په دې ترتيب لوبه کېږي، که يو ملګرى وسوزي، سم له لاسه وار بل ته ورکوي، په کوم لاس کې چې ګاټى کوي، په هغه لاس کې يې چې څومره ګاټي وي، هغه به هم ورکوي.

د ګاټي په لوبه کې ځينې لوبغاړي په انګوچ ګاټي اړوي، انګوچ هغه ته وايي چې د ګوتو په استر باندې ګاټي څه وخت واچوي، نيم ګاټي په ځمکه تويه شي يوه څو توکي د لاس په استر پاتې شي، هغه څه وخت چې له لاسه واچوي، لاس د خپل ځان لور ته ځنې يو سې، ګاټى د بهرته را تيتېدو په وخت کې د ګوتو په سر و تېر کړي، چې څه وخت يې په ګوتو واوړي، ګوتې پسې له اخره کړي، له پاسه لوري ګاټي ټول ونيسي، چې کله يې ونيوه، بيا به مغومره (هغومره) ګاټي له ميدانه څخه ورکول کېږي، څو توکي يې چې په انګوچ اړولي وي، که چېرې په انګوچ اړولو کې کوم ملګرى وسوزي، سم له لاسه يې بل ملګري ته ورکړي، بل ملګرى به هم د انګوچ

ګاټي په انګوچ اړوي، بیا به هغومره توکي ورکول کېږي، وروسته له ورکړي څخه به یې توکه توکه بېلوي.
کله کله داسې هم کېږي چې یو کس ټه ګاټي کوي، بل ملګری یې نښې کوي، له داسې ملګري سره داسې کړه وړه وشي چې ورته ووایي چې ته یې په خور خول را سره کوه، په خور خول ګاټي داسې وي چې په ورو سره په شا غټه او مینځوي ګوتو ګاټي را اخلي بیا یې پورته شړي. له پاسه چې ګاټي را په خوړ شي ویې نسي. سول او نه سول یې د نورو لوبغاړو په دود وي، خو ګاټي په خور خول کې راپورته کوي، ځینې وخت که داسې وشي چې لومړی وار ګاټي د لاس په استر واچوي او ټول ترې توي شي، لاس یې تش پاتې شي، داسې لوبغاړی ژر تر ژره د تش لاس استر په خپله خوله ګدې که چېرې بل ملګري خپل لاس په خپله خوله لومړی کېښودونو د ګاټیو د کولو وار به هغه ته ورکول کیږي لومړی تن سوی ګڼل کېږي.
په پای کې ښه بولم چې درته ووایم چې د ګاټو ښه لوبغاړي هغه څوک ده چې خپلې درې توکې هم وړي او د نورو ملګرو توکي هم وړي او نابوده لوبغاړی هغه څوک وي چې خپلې درې توکې هم نه شي پوره کولی.

## کواتنی:

هم یوه مستی (لوبه) ده چې په کوچیانو کې رواج لري کواتنی در دې ربې ورځې لوبه ده چې کله دوه ملګري د اوښو تر څنګه یا د مېږو وزو، وریو په پوولو کې سره پیدا کړي، په یوه درنګي کې سره کښېني، وړې وړې شګې یا د مال د مېږو او وزو، پچې راټولې کړي، دواړه ملګري یو له یوې خوا او بل له بلې خوا سره مخامخ شي، د دواړو له منځه کابو د دوه لوېشتو په اندازه ګرد مېدانګی جوړ کړي، په دې میدان کې شپږ کوغالي جوړ کړي، چې کواتي ورته وایي، کواتي په داسې وړه جوړ کړي چې د یوې او بلې په منځ کې کابو یو څپك خاېږي، یعنې د یوې او بلې له منځه یو څپك لرېوالی وي، خو کواتي هم د میدان په څېر ګرد وي د شپږو کواتیو په منځ کې یو بل کوغالی وي، چې د هغه نوم زمر کوړ وي، لوبه په دې وړ پیل کېږي چې په یوه کواتي کې کابو لس یا کمې زیاتې پچې یا وړې وړې شګې واچوي، له دې څخه وروسته د لوبې د پیل کوونکي وار سره وښیي هر یوه چې لوبه پیل کوله لاس پرې کته کړي، د یوې کواتي ټولې پچې را واخلي له ښي لوري څخه د اچولو پیل پرې وکړي، په هره کواتي کې یوه پچه اچوي، کله چې د یوې کواتي پچې په کومه یوه کواتي تمامې شي. وروستۍ پچه چې په کومه کواتۍ کې ولوېږي، بل وار له هغې څخه د دویمې کواتۍ ټولې پچې را واخلي، په دې شان هغه هم پرې ووېشي، بیا کله چې په کومه کواتي د اخر پچه ولوېږي، له هغې څخه د دویمې کواتۍ پچه را پورته کړي، تر څو هغه هم تمامې او پرې ووېشي، ... یې را اخلي او وېشي، خو کله چې په لاس کې پچې تمامې شي او په ... یې یوه له پچو تشه کواتۍ پاتې شي، لوبغاړی خوشحاله شي. کواتۍ ته ټپ ورکړي، له

تشـي څخـه د دويمـي كواتـې پچـې وګټي، دا ګټلـې پچـې را واخلـي پـه زمركـوږ كـې يـې واچـوي.
چې دا وګټي، كواتـې تشـه كـړي، لـه هغـې څخـه د دويمـې كواتـې پچـې جـګې كـړي، هغـه هم د مخكې پـه څېر پـه هره يـوه كواتې كـې يـوه پچـه اچـوي، خـو لـه دې لومـړۍ وار ګټلـو سـره سمه بينـا كـوي يـوه پچـه لـه كواتيـو سـره زمركـوږ تـه هـم اچـوي، دا پچـه د لومـړي وار ګټونكـي وي، پـه دې ور لوبـه روانـه وي خـو چې كلـه د لوبغـاړي پـه لاس كـې پچـې تمـامې شـي، او مخـې تـه يـې دوه تشـې كواتـې پـاتې شـي، پـه دې وخـت كـې لوبغـاړى لوبـه بـايلي، دې تـه وايـي سـر پـه څاړه، كلـه چـې لوبغـاړى سـر پـه څاړه ولاړ شي، سم لـه لاسه لوبـه بـل ملګري تـه پرېږدي، لـه دې زمركـوږ څخـه هـم خپلـې پچـې لـرې كـوي، هغـه ملـګرى مسـتي (لوبـه) كـوي، تـر څو سـر پـه څاړه ولاړ شـي، بـايد وويـل شـي چې د كواتـو پـه لوبـه كـې د بـايللو سـبب سر پـه څاړه تلـل وي، بـل دا چـې د خپلـو دريـو كواتيـو پچـې ونيسـي.

## څير څيرک:

هـم د شـپنو او اوښـپنـو يـوه لوبـه ده دا لوبـه (مسـتي) داسـې پيـل كـېږي چـې يـو كـس لـرګى پورتـه وشـړي، نـور ملـګري يـې پـه بـل لـرګي پـه لـوړ يـغـې پـه هـوا كـې ولـي چـې كـوم ملـګرى شـړلي لـرګى ډېر وويـشـت هغـه تكـړه او لوبـې ګټونكـى يـادېږي منـي د څيـر څيرک لوبـه هغـه ګټلې وي.

## خـارجكي:

يـوه بلـه لوبـه ده چـې پـه كـوچيـانو كـې رواج لـري، دا لوبـه پـه دې ور كـېږي چـې د لاس د ګرځولو لـرګى د مخكـې پـه مـخ پـه لـوړ يغـې وشـړي، د خـارجك لـرګى د مخكـې پـه مـخ داسـې څي چې يو سر او بـل سر يـې لـګېږي، چـې يـو ملـګرى يـې كـوم څاى تـه ورسـوي، بـل يې پـه هغـه تېر كړي، هغـه ګټمن يـادېږي، وشـوه هغـه تكـړه وي.

## ډونګ ســي:

دا هـم بـايد يـاد شـي، دا لوبـه داسـې كـېږي چـې يـو ملـګري خپـل يـوه لكـړه يـا يـو لـرګي پـه خمكـه ورتـه واچـوي، بـل ملـګرى يـې پـه لـوړ يغـو ولـي خـو تكـړه پكـې دا وي چـې د لـرګي پـه څوكـه بـه يـې ولـي، كـه چـېرې د لـرګي پـه اړخ ولـګېږي، هغـه شـان وبشـتل تـه ګڼل كـېږي.
دلتـه لانـدې څو هغـه خـبرې ليكـم چـې لـه خـارجك او ډونګسـو سـره پـه تـړون كـېږي وايـي.

- پلانـى داسـې وتښتـېده خـارجكي يـې ووهلـې
- داسـې توپونـه يـې واچـول، خـارجكي يـې ووهلـې.
- پلانى پـه هغـه خـبره كـې خـارجكي وويلـې.
- پلانى خـارجكو تـه مـه پـرېږدئ.

- په هر کار کې سرې خارجکې نـه وهـي.

له ډونګسو سره په ترون داسې وايي:

- پلانی يې په ډونګسو تېر که، وښيـه چا وواهـه.
- ډونګسـې يې ورکـړې و بولـه ويـې واهـه.
- داسې به دې پـه ډونګسـو کـړي.
- ډونګسو تـه مـه خوشحاله کېږه.
- لـه هغو ډنګسو چې ژوندی پاتې شو بيا به نـه مـري.

## سـخوټ:

سـخوټ هـم يـوه داسـې لوبـه ده چـې واړه او لـوی کـوچيـان يـې يـوه نيمـه ورځ کـوي، سخوټ کـوچيـان پـه هـوارو خيـړو خيـړو رغـو کـې کـوي، چـې لاسـي غونـداړې ډېر پکـې پيدا کېږي، ګواکې چې د وېشـتلو تيـږه پکـې ميـندېږي.

سخوټ په دې ور کېږي چې څومـره ملـګري وي، هغـه بـډه بـډه سره ببل شـي، دوه ډلـې جوړې شـي. کـه کـوم کـس پکـې زيـات شـي، هغـه منځوغړاتـي شـي، چـې کلـه ټول ملـګري پـه دوو ډلـو وويشـل شـي، دواړه ډلـې پـه دومـره انـدازه کـې دوه لـوی لـوی غونـداړې سـره کـېږدي، چې وار پـرې لـګېږي، بيـا دا سـره ووايـي چـې وار لـه سـلو يـا اويـا يـا شـپېتو يعنې دومره واره چې هـرې يـوې ډلـې پـوره کـړه هغـه بـه بـره وي، ډېر واړې داسې کېږي چې همزولي سره ووايي چې هـر لـوری پـر شـو، يعنـې لـړ شـو، نـو بـر لوري تـه بـه مرې (ډوډۍ [ګولـه]) ورکـوو، پـه هـر حـال هـر لـوری چې يـاد شـوې، وارونـه پـوره کـړي، هغـه بـر او بـل لـوری لـر ګڼل کـېږي، دلتـه بـايد يـاده شـي، چې پـه سـخوټ بانـدې هـم د ډمـو پـه څېر هـر ملـګری درې درې واره کـوي، چـې درې واره پـوره کـړي، بيـا بـل ملـګری وارونـه پـرې کـوي، پـه دې ترتيـب يـوه ډلـه ټول ملـګري وار تـېروي، بيـا بلې ډلې تـه وار ورکـول کـېږي.

## تېږه اچـول:

د زور ازمـايلو يـوه ځان ځانـي لوبـه ده، چې زلمـي يـې ډېره سره اچـوي، د اچولـو لپـاره يـوه دومـره تـېږه سـره خـوښـه کـړي چې پـه يـوه لاس شـړل کيـږي لـه کومـه ځايـه يـې چـې شـړي. هغـه ځای سـره خـوښ کـړي، لـه هغـه ځايـه څخـه بـه څوك دوه ګوتـې هـم پـښـه نـه شـي وړانـدې کـولای. لـه ټاکلـي ځای څخـه تيـږه اچـول کيـږي هـر يـو هـڅه کـوي چې پـه خپـل ملـګري يـې تـېره کـړي، چـې کلـه يـو ملـګری پـه بـل ملـګري تيـږه تـېره کـړي، بيـا هغـه ځای پـه ګامـو څېکـو او لوېشـت سـره انـدازه کـوي.

## مـوځې:

مـوځې هـم يـو خپـل لوبـه ده، چې پـه کـوچيـانو کـې رواج لـري، دا لوبـه داسـې ده چـې د لوېشـتې پـه انـدازه يـو کوغـالی جـوړ او کيـنـدي، د کوغـالي پـه منـځ کـې يـو مـېږوی

ټکوهي، دلته باید ووایم چې موخې دوه کسي لوبه ده، دواړه ملګري د لوښتي په اندازه ګرد غاړي ګرد غاړي پلنې او پنډې تيږې را واخلي، د دريو ګامو په اندازه لا لرې له کندغوړي او مېږوي څخه بېرته ځاى وټاکي، له ټاکلي ځاى څخه هر ملګري په خپل وار سره د کندغوړي او مېږوي په لوري خپله موخه ور وشړي، هر ملګرى دا هڅه وکړي چې خپله موخه يې د مېږوي تر څنګه ولګېږي، د کوم يوه ملګري موخه چې د مېږوي تر څنګه ولوېږي هغه په خپل ځاى پرته وي، هغه بل ملګرى خپله موخه را واخلي، له ټاکلي ځاى څخه يې د دې لپاره ورشړي تر څو د بل ملګري موخه له هغه ځايه څخه لرې کړي، او دې خپله موخه د مېږوي خوا ته ورنږدې کړي، په دې وخت کې موخه په ژّې ژې (څنده څنده) وېشتل کېږي او لګېږي، خو له مېږوي څخه لرې کېږي، بيا هغه د لرې او نږدې ځايونو په څېکو سره اندازه کوي. وشوه چې د کوم ملګري موخه مېږوي ته ور نږدې شوه، هغه ګټلې وي.

## جوت و تاک:

يوه بله مستي (لوبه) ده چې زيات وختونه د ورو تر منځه کېږي، دا په دې ور کېږي چې د مثال په ډول خستکې (مندکې، مندتې)، زنغوزي، شګې او داسې نور شيان د شا لور ته په موټې کې پټ کړي، بيا لاس د مخ لور ته خپل ساري ته موټى ونسي، ورته ووايي: جوت که تاک؟ هغه جوت يا تاک ورته ووايي، بيا لاس خلاس کړي، په لاس کې نيولي شيان وګوري، جوت او تاک سره معلوم کړي، جوت وريت کړي که سم يې ويلي وي خو هغه شيان يې ګټلي وي که سم يې نه وي ويل هغومره شيان به ورکوي.

## په موټې کې خلې پټول:

دا هم یوه لوبه ده چې د وړو له منځه زیات وختونه کېږي، دا په دې ډول کېږي چې یو وړوکی خلی را واخلي، د شا لور ته لاسونه پرې وا ړوي، یا په خپله لمن کې لاسونه پټ کړي، تر څو یې ملګری پرې و نه پوهېږي، چې خلی یې په کوم لاس کې پټ کړ، چې کله یې په لاس کې پټ پر ځای کړي، بیا دواړه لاسونه د ملګري مخې ته ونیسي، ورته ووایي په کوم لاس کې ده، که چېرته یې خلی و نه ښود، همدا ملګری خلی بیا بیا پټوي او که یې وښود، بیا به د خلي پټولو وار بل ملګري ته ورکوي، کوم ملګری چې ډېر واري خلی وښود، هغه بر ګڼل کېږي.

## میختیک او سولی:

دا یوه بله لوبه ده چې په کوچیانو کې رواج لري، دا لوبه داسې پیل کېږي چې هر هلک د دریو ګوتو په اندازه یوه سولی خاورین کدړی پیدا کړي بیا په رڼه میدان کې اوږ مېږوی ټک وهي چې میختیک ورته وایي له دې وروسته میختیک ته د سولی د وراچولو ځای وټاکي، کابو لس یا اته ګزه له مېږوي څخه لرې درېږي. هر هلک میختیک ته خپله سولی ور وشړي، د کوم هلک سولی چې میختیک ته نږدې ولوېږي، لومړی لوبه هغه هلک بیئا کوي، بیا په خپله سولی مېږوی ولي که مېږوی یې وایست بیا د بل ملګري مېږوی ته نږدی سولی ولي، په دې دو. لوبه پیل کېږي، که چېرته یې وارختا ولاړ هغه ملګري سوی ګڼل کېږي، د لوبې کولو وار بل ملګري ته ورکول کېږي په اخر کې به ووایو چې سولی په منځګیره ګوته ولي او مېږوي ته د سولی د لرې او نږدی لوېدو اندازه په لوېښت او څپک کوي

## غنجالی:

د یوه لرګي نوم دی، چې لوبه پرې کېږي، نو دې لوبې ته هم غنجالی وایي، غنجالی داسې کېږي چې یو لرګی د ځمکې په مخ وچ نېغ ودروي، په ځمکه کې یې ښخ کړي، سر یې تېره جوړ کړي، بل یو په اندازه برابر کابو درې ګزه لرګي را واخلي د نیغ ولاړ لرګی د سر لپاره ځای پکې جوړ کړي، بیا د پاس لرګی په کواتې کې سپینکی او سکور وټکوي، لپاره د دې چې لرګی ښه تاوېږي او غنجې هم کوي بیا د کواتي والا لرګی له پاسه پرېږدي په یو سر یو کس او په بل سر یې بل کس سپور وي، همدارنګه سپور لرګی تاوېږي، پرې سپاره کسان ګرد تاوېږي.

## د اوښو، اوښانو د بوده وو په ارتباط:

څرنګه چې کوچیان له یوه ځای څخه بل ځای ته کډې کوي کال دولس میاشتې په بېلو بېلو ځایونو کې تېروي. نو د کالیو د وړلو لپاره اوښان او اوښې ګرځوي. د کالیو په وړلو برسېره له اوښو څخه دا ګټه پورته کوي چې چله بهیرونه کراوي پرې وړي او ځینې کوچیان د افغانستان له ځنګلونو څخه پاکستان ته په اوښو او اوښانو باندې تمبې راوړي او ځینې وختونه د سونګ لرګي پرې چلوي په دې برسېره وړ بولم چې ووایم چې د بوده وو وړې زیاتره کوچیان په بړستونو کې اچوي. یعنې د اغوستن بړستنې ترې د کوي د اوښ، د شیدو په اړه به دا ووایم چې ځینې کوجیان اوښې لوشي، د مېږو او وزو د پیو په څېر ګټه ترې پورته کوي

اوس به د بوده وو هغه ناروغۍ در یادې کړم چې د کوچیانو په منځ کې یادېږي؛ لکه شومك لیوني ،شومك مرغك لنځوني یا تنځوني رینځك ،تیګه ونې، وګي یا مرې، باد وهلی، پمن یا پون، کبلی، متې اچول، زور باری، د نس بنده، پوزۍ، چینه، پیتا، پوړۍ، اکړۍ، سوخند نیول، کمرۍ، سینګر، تره پی، ګلاپ، خول خوګی، پکه، لګېدلې، په د پسېره له ځینو بوټیو څخه هم مرض اخلي، لکه ښکی، غوړ مرغه، زهر بوټي او برګ ازغي او داسې نور په بېلو سیمو او بېلو نومونو سره

لومړی غواړم هغه شی در یاد کړم چې څلور بول ته په خوله ورکول کېږي، چې مورږ په خپل کتاب "کوچي" کې هم یاد کړي.

## ړوز:

هر هغه شي ته وايي چې د ناروغۍ په مقابل کې او یا هم د څلور بول د پایدې لپاره هغه ته په خوله ورکول کېږي، ړوز د خبرو په منځ کې داسې یادېږي: مېږو ته مې د تمبکو ړوز ورکه، یا اوښ ته مې ړوز ورکه، له ړوز سره په تړون انسان ته هم داسې ویل کېږي، خو چې چا ته زهر ورکړل شي یا کوډې پرې وخورل شي وايي:

- پلانی یې و ړوزا وه. ګواري زهر یا کوډې یې پرې وخوړې
- ړوزولی یې ده
- چې وې نه ړوزه وې
- و به یې ړوزه وې



ACKU

اوس مې زړه غواړي چې په هرې ناروغۍ بېل بېل څه ولیکم لومړی به د ناروغۍ نوم در یاد کړم. وروسته به د ناروغۍ نښې او داسې نورې څېرې چې موږ د کوچیانو له خولې څخه اورېدلې دي

## شـومک:

یوه وژونکې ناجوړي ده چې اوښان او اوښې پرې اخته کېږي، کله چې بوده په دې ناجوړي اخته شي. لاندې نښې په بوده کې ښکاره کېږي

کله چې لمر را وخېژي. بوده په لمر ختو چوکېږي، یا ولاړ وي کله چې لمر وګرځي. بیا هم د لمر په لوري چو او یا ولاړ وي. لنډه دا چې له بوده څخه یو لمر پرس جوړ شي. لمر چې په کومه خوا تاوېږي دی په همغه لوري پسې تاوېږي. بله دا چې د ناجوړه بوده له سترګو څخه زیاتې اوښکې ځي. ځینې وختونه په یوه او بل لټ اوړي را اوړي. یعنې چې کله چو وي په یوه او بل اړخ څملي او خوراك نه کوي

دلته ښایي یادونه وکړم چې په عمومي ډول څلور بول چې ناجوړه شي، سوخوند نه وهي، بله دا چې د شومك په رنځ اخته اوښ (بوده) کلکې او نرۍ نرۍ پچې کوي، د پچو سرونه تېره وي. چې قبض هم ورته ویلای شو. د کوچیانو په عقیده دا ناروغي له ډېرې ستړیا څخه انیستل کېږي همدارنګه کله چې بوده ته مالګه ورکړل شي او بیا په ورځ کې دوه یا درې وارې اوبه ور نه کړي شي بوده د شومك په رنځ اخته کېږي کله چې دا ناجوړي له دریو ورځو څخه واوړي، د کوچیانو د وینا له مخې ناروغي پرې جرېږي له هغه څخه ایسته بوده د کلکو پچو پر ځای له اوبو ډکې سوتې کوي او یا دا چې رخړي، لنډه دا چې د بوده روغتیایي حالت په خرابېدو وي. رنځ یې کومه ښېګړه نه کوي، ورځ په ورځ کته ځي، پورته نه ځي

کوچیان د دې ناروغۍ ښه دپه د بوده د رګ وهل ښیي. دا رګ له سترګو څخه وړاندې د پوزې یا تینګو په سر وهل کېږي. وهل یې دا خېل وي چې بوده له سوندکه ونیسي د چا کوچړی او یا هم د ښتر په څوکه رګ ووهي له څو شېبو پورې وینه ترې ولاړه شي. بیا تازه د توکري ایره ورته جوړه کړي، توده او تازه ایره پرې ونیسي وینه ودروي

د دې ناجوړۍ بله دپه د واړه سېرلي او یا د وزې پسه په سر ښنو وایي په برو دواړو کې چې هر څه وي. ښه خوړین یې ورته پاخه کړي. دا ږوږ چې ورته جوړ کړي هډوکی ترې لرې کړي، شیروا او غوښه بوده ته ور واچوي اوښه یا اوښ په خلانو ښه دروند ېټ کړي تر څو پرې ولګېږي

بل علاج یې داغونه .ي، چې یو داغ څټ ته ورکوي، یانې د غوږو له شا سره دوه تر څلورو داغونو پورې د نس تلي ته ورکوي چې هره لښته له لوښتې څخه لږ زیاته وي، په دې پسې دوه دوه یا درې درې لښتې تسیو ته ورکول کېږي، باید ووایم چې ځینې کوچیان لوی داغ هم ورکوي لوی داغ په دې ډول چې د بوده له تمبوزي څخه نیولې په یو اړخ او بل اړخ یو داغ پرې تېروي تر لکۍ پورې لنډه دا چې د بوده په ټول بدن یو داغ راتاووي، له دې پرته د ګوړې شربت هم ځینې کوچیان ورکوي، دا د شربت روز په ورځ کې دوه جامه لا زیات ناجوړه بوده ته ورکول کېږي.

## مرغک:

هم د یوې ناجوړې نوم یادېږي، خو د ځینو کوچیانو له نظره شومک او مرغک یوه ناروغي ده چې یا دا هم کېدی شي چې د دې دواړو ناجوړ یوې مرحلې ته شومک او بلې ته مرغک ویل کېږي.

## لېونی شومک:

د شومک او لېوني شومک په منځ کې یوازې دا بېلتون وي چې کله بوده د لېوني شومک په رنځ اخته شي نو رنځور بوده یوې او بلې خوا ته لېونی منډې وهي. یوې او بلې خوا ته سترګې لېونی لېونی اړوي، هر لور ته په بد جبار ګورې بوده هېڅ ارام نه لري، تر څو د لېوني حالت کې سا ورکړي، د لېوني شومک دپه هم د شومک په دود ویل کېږي، خو لېونی شومک یوه وژونکې ناروغي ده، له دې رنځ څخه د بوده د جوړېدا هیله نه وي.

## لنځوني یا ننځوني:

یوه بله ناروغي ده د کوچیانو په عقیده په ټول عمر کې یو وار په دغه رنځ بوده اخته کېږي. د ځینو کوچیانو له نظره د انسان په څېر دا د بودوو شنه غاړه یا شنه توخلې ناجوړې ده په دې رنځ اخته بوده په پیچومي تنګ نه شي کولی، په دې پسې هر وخت ډېر سخت توخېږي، خوراك یې له پخوا څخه ډېر کم وي. زیات وختونه چې بوده چو وي سر او ورمېږ یې په ځمکه ایښي وي. د دې ناروغۍ جوت پراکی له لسو ورځو څخه نیولې تر یوې میاشتې پورې وي. د لنځوني په رنځ اخته بوده لپاره کوچیان کوم څرګنده دوا او روز نه لري. خو ځینې داسې لارې چارې لري چې په بوده رنځ اسانه تېرېږي.

له نورو خبرو لومړی باید یادې کړم چې د لنځوني په رنځ اخته بوده ته سرې اوبه نه ورکوي، لومړی اوبه ښې پخوي، چې کله تمنې شي د ضرورت په اندازه یې ورکوي، چې تنده یې پرې ماته وي، کله کله د بوده د لوږې لپاره په دې اوبو کې لږ روغن هم ورګډوي. تر څو د خوړو له لاسه بوده کم توانه نه شي، بلکه دا چې له خپله وسه شنه واښه هم نه ورکوي. د شنو اوښو پر ځای تریت یعنې پروړه او روټی ورکوي. د ننځوني په رنځ اخته بوده ته وله ډېره پایده منه بولي، چې وس یې کېږي وله ورکوي بلکه دا چې له سړې هوا څخه یې پټوي، تر څو مرض پرې او نه جرېږي بلکه دا چې په لنځوني اخته بوده هېڅ وخت نه باروي، دا کوښښ کوي چې هوسا یې وساتي، تر څو ناروغي پرې سخته رټه نه شي.

## رینځک:

د یوې دانې نوم دی چې د بوده په بدن کې راپورته کېږي. دا دانه زیات وختونه د اوښ او اوښې په پزه (پوزه) کې پیدا کېږي. کله چې په بوده کې رینځك وخېژي، نو دا دانه هر وخت سپینه ټینګه زوه او نو کوي. د دې رنځ د دپې لپاره شاید نوري دواوې هم وي، خو د دې رنځ د اسانه تېرولو لپاره: مسورو یا نسکو ږوز هم ورکوي، کابو یوه کلو مسور ښه ورته خوټوي یانې په اوبو کې یې ورته پخوي، بیایې بوده ته ورکوي، دلته باید ووایم چې له شېږو کیلو او شېږ ورخو پورې دا ږوز ورکوي، د کوچیانو له نظره دا ږوز د رینځك دانه سپیازوي.

## تیکه یا تیړوني:

یوه بله ناجوړي ده چې د بوده د مرګ سبب ګرځي، د تیګوني په رنځ بل وخت هم مالداري اخته کېږي. خو د منې په موسم کې د اوښو او اوښانو په دې رنځ د اخته کېدو امکان زیات وي دا ځکه چې کوچیان په اوړي مالداري په وښو او ورشو ګانو ګرځوي. تر څو ښه مړې او څربه شي. نو چې کله منې د کډو وخت شي، بوده څورب او جاي بند (نوښنده) وي په دې وخت کې بار شي زیات شمېر اوښې او اوښان د تیګه وني په ناروغي اخته کېږي. دلته باید وویل شي چې کوم بوده د تیګه ووهي د هغه جوړېدل په یوه خدای وي. یانې جوړېدو امکان یې ډېر کم وي.

اوس به راشو دې خبرې ته چې کوم بوده تیګه ووهي. په هغه کې کومې نښې وې، لومړی وایو چې ناجوړه بوده خوراك نه کوي، کله کله د رنځور

بوده له شونډو څخه څاڅکي څاڅکي اوبه (لاړې) څڅېږي بله لويه او ښکاره نښه يې دا ده چې څلور بول سا ډېره لوټنده کاږي يانې په غوټو غوټو سا کاږي. په دې پسېره سړی که خيال ورته وکړي د څلور بول له بدن څخه ستړې اواز را وځي، سړی پوهېدلی شي چې څلور بول په کوګل کې ډېر ستړی دی، ستړې زګيروي کوي.

د تيګه ونې کومه ځانګړې دپه نه شته، خو بيا هم خينې کوچيان د رنځور بوده د لکۍ سر پرې کوي تر څو لږ وينه ترې ولاړه شي، بله دا چې د شومك د رنځ په څېر ئي د پوزې د سر رګ پرې کوي، يعنې وينه يې کاږي.

## وګی يا مری:

چې د پاکستان د لرې پښتونخوا اوښوال او اوښپالي ورته ګال کتېو وايي، لکه څرنګه چې له نومه جوتېږي دا ناروغي د بوده په مرۍ او ستوني کې پيدا کېږي. دوګي په مرض اخته بوده خوراك کم کوي، بيا هم که چېرې په خوله کې واښه وزدويي، نو تېرولای يې نه شي. د وښو له تېرولو سره تکليف څرګندوي. بله نښه يې دا وي چې هر وخت بوده سر پورته نېغ نيولی وي. له دې پرته دا هم وي چې اوبه او لاړې ډېرې په ستړيا سره تېروي، سړی پرې پوهېږي چې لاړې او وبه نه شي تېرولای. د دې ناروغۍ دپه چې ژر تر ژره و نه ويله شي، د بوده د مرګ احتمال زياتوي.

د دې ناروغۍ دپه داسې وايي چې اوښ چو کړي، په مخکې دواړو پښو يې کلك وترې، يو کس يې له دواړو سونډ کو ونيسي ورمېږي يې بېرته د څټ يانې مندو لور ته تيك کړي چې کله يې مرۍ ښه تکيه شي دويم کس د دريولوېشو په اندازه يو لرګی را واخلي په دواړو لاسونو يې په يوه او بل سر کې ونيسي د مالې په څېر يې څو وارې ماتا څلور او پينځه وارې د اوښې په مرۍ کته او پورته کش کړي تر څود بوده په مرۍ ښه زور ورشي : لرګي د زور او فشار په وسيله د کوچيانو په وينا د بوده وګی ماته شي چې کله دا چاره تر سره شي، په دې پسې سم له لاسه د اوښ په خوله کې کابو يو تاك مالګه ور واچوي.

د وګي بله دپه په دې ډول ده چې د بوده په خوله کې زيړه زيړه واښه ورتخته کړي لکه درب د درګوبانی خو چې ډېره ښه يا ډېرې هغه غوړ که ۱۰ د يوه جارو په اندازه غوړګه را واخلي د اوښ په خوله او ستوني کې ورتخته کړي چې کله دا کار وکړي سم له لاسه مالګه په خوله کې ور واچوي.

د وګې يا وګې ته د ورته ناجوړۍ يوه دېـه پـه سپنګمو کې هم ويـل کـېږي. پـه دوارو سپږمو کې يې ګوتې ننـه باسي، پـه کوم ځای کې چې د ناروغـی نـښې ښکاره کېږي. هغه د ګوتـو پـه توان سره وزوروي. لـږ مـالګه ور واچـوي، نـور نـو بـوده ښه شـي دا چـې د مـال پـه تينکـي يـا تينکيوکـي ګوتـي وهـل کيـږي د اتيوتي نړي يا ساڼنس هغـي درملني تـه ورتـه ده جـه نـن يـي د کـتيوك يـا وچـي مري او تينکيوتر منخ پيـدا کـوي.

## باد وهلـی:

دا نـاروغي کلـه کلـه پـه اوښانـو کـې پيـدا کـېږي، خـو دا نـاجوړي لکـه لـه نـوم څخـه چې جوتـېږي، پـه داسـې سيمو کـې لـګېږي چـې بـاد ولـري، او يـا هـم د ځينـو سـيمو ناروغـی ده د مثـال پـه دود کـه هغـه سـيمې يـادې کـړو نـو پـه افغانسـتان کـې بـه د باميـانو د ولايـت غرونـه وښيـو پـه پاکسـتان کـې بـه د کاغانو غرونه ياد کـړو، همدارنـګه د پخوانيـو سپين ږيـرو د وينـا لـه مخـې کـه وواپونـو بـه د افغانسـتان د لـوګر ولايـت د التمـور دښتـې تـه نـژدې د خـروار نوم بـه هـم يـاد کـړو. د دوی پـه وينـا چـې پـه دې سيمو کـې هم پخوا بـوده بـاد وهـل دلتـه بـايږ ووايـو چـې دا د سـړې هـوا نـاروغي هـم نـه ده. ځکـه کـه د سـړې هـوا نـاجوړي وي نـو پـه دې رنـځ بـه پـه ژمـي کـې بـوده اختـه کـېده. اوښې او اوښان پـه داسـې وخت کـې بـاد وهـي چـې کـوچيـان لـه ګرمـو سـيمو څخـه د پسـرلي او دوبـي پـه موسـم کـې سـړو سـيمو تـه ولاړ شـي، نـو پـه دې وخـت کـې کـوم بـوده بـاد وهـي، خـو زيـاتره پـه دې نـاروغـی هغـه بـوده اختـه کـېږي چـې د لومړي ځل لپاره سړو سيمو او يا هم يادو شـويو سـيمو تـه ورشـي.

د دې ناروغـی نـښې دا دي چـې د رنـځور بـوده ټول بـدن او پـه تـېره بيـا د نـس تلـي يـو دم ډډ شـي، ډډون او پـاړسـوب وکـړي کـه چـېرې څوك لـه دې رنـځ سـره تـابلد وي نـو ضـرور بـه دا خيـال وکـړي چـې بـوده زهـر لرونکـي خزنـده چيچلـی دی. کـه چـېرې بـاد وهلـی بـوده مـړ شـي، د غـوښې رنـګ يـې زېړوي او بلـه دا چـې غـوښه يـې اوبلزنـه وي يعنـې اوبلزنـه ښکـاري. د دې رنـځ بلـه نـښه دا ده چې لـه پاړسوب څخه وروسته بوده پـه رغښتـو پيـل کـوي، رغـړي.

د بـادوهلي بـوده لـه پـاره يـو ږوز دا ده چـې کـابو درې يـا هـم څلـور کيلـو د غوايـي يـا د واړه مـال غـوښه ښه ورتـه خوړينـه شـي. بيـا غـوښه لـه شـيروا سـره ور واچـوي، بـل ږوز دا ورکـوي چـې د ورځې کـابو دوه چامـه شـودې لـه دوو پيـالو غوړيـو سره ورکوي. يانې لـه دوه جامـه شـودو سـره دوه پيـالي کورنـي (د غـولانـځې غـوړي) ملـګري کـړي دا ږوز کـابو لـه دريـو ورځو پـوري ورکـول

کېږي دا باید یاده شي چې په دې روز پسې سملاسي اوبه نه ورکول کېږي. له دې سره له بل لوری بوده ډېر ښه پیتوي. شپه او روځ ځلان او نور کالي پرې پراته وي له رنځور بوده څخه پرته نوري اوښې اوښان او جونګیان له سرو څخه ساتي ځکه دا کوچیانو ته ښکاره ده چې په هلبندونو کې شاتوري بوده باد وهي نو ډېر احتیاط اواري کوي، بوده شاتوري نه ګرځوي.
دلته به یاده کړو چې د ځینو خلکو لپاره هم د باد وهلو خبري کېږي لکه چې وایي:

- پلانی باد وهلی دی، چې داسې خبرې یا داسې چارې کوي.
- ته باد وهلی یې
- دا کار دې چې کاوه باد خو نه وې وهلی.

## پمن یا پـون:

دا د څرمنې ناروغي ده چې په بوده برسېره په نوره مالداري هم لګېږي، له مالداري څخه انسان ته هم لګېږي، همدارنګه پون په نورو نومونو سره هم یادېږي، لکه: پان، کورك، ګرګ، په ځینو ټکو کې چیچك هم ورته وایي نو کله چې په بوده کې دا رنځ پیدا شي له څرمنې څخه یې ټولې ورې تویې شي، یعنې له هغه ځایه څخه یې ورې تویې شي، چې په کوم ځای کې د پون سپرغه پیدا شي، د اوښ یو نیم ځای چې پمن شي، کوچیان سپرغه ورته وایي. خو کله چې د بوده ټول بدن په دې رنځ اخته شي، کوچیان خرپون هم ورته وایي، په وریو اچولو برسېره د بوده څرمن خړه سپېره چاودې چاودې ښکاري. بوده ټوله ورځ خپله اتره په ونو دیوال او پایو پورې مښي. په دې پسېره په خپله خوله او نوکانو ډېر زیات ځان ګروي. هر وخت د ځان په شکولو لګیا وي. پمن بوده ورځ په ورځ ناتوانه کېږي. ټولې ورې تویې کړي، سور چیچك شي، د سړې او ګرمې هوا توان هم نه لري، په ځای د دې چې وځري وابنه پیدا کړي په هر شي پورې کښ کوي، ځان پورې مښي. کوچیان د پمن بوده د روغولو له پاره لاندې چارې کوي لومړی باید یاده کړم چې پمن بوده په زړنو غوړوي. که زړنه نه وي دجمیا په تیلو یې هم غوړوي. د بوده د غوړولو لپاره: توکرې ټوټه یا د پیځوله او لیمځی ټوټه چې شمه ورته وایي په لاس کې سره غوټداری کوي هغه ته بوړې وایي. بوړې چې کله په لاس کې را واخلي د زړنو په کاسه کې یې تیت کړي، هغه غوړ بوړې بیا د بوده په څرمن پورې ومښي په دې دود بوده غوړوي. د زړنو او دجمیاوو له تیو پرته په اوړه او مرچك هم پمن بوده

غوړوي د اندازې له مخې مورچك او وړه سره وټکوي په دومره اندازه اوبو کې یې گډ کړي چې پرې غوړېدای شي، دا هم د بورې په وسیله پورې مبنې
څېنې کوچیان سربېره پر غوړولو پمن بوده ته په اوبو کې د سپینکې ړوز هم جوړوي. کابو یوه کیلو د پسه وازده یا لم په اوبو کې خوړین ورته پوخ کړي، بیا یې ښه چنگان کړي. چې په شیروا کې ښه حل شي، یو کس بوده له سونډکه ونیسي بل ړوز د بوده په خوله کې ور تویه کړي وي ...وز وي.
څینې کوچیان پمنو بوده وو ته یو بل ړوز هم ورکوي. هغه دا چې د واړه مال کابو یوه لوښت کولمه پیدا کړي. په هغه کې یوه اندازه زړنه واچوي، یو او بل سر یې غوټه کړي. اوښ له سونډکه ونیسي، کولمه په خوله کې ور واچوي، ترڅو یې روغه تېره کړي. خو دا څینې کوچیان د نورو ناجوړیو سبب بولي. گواکي دا گڼي چې نورې ناروغۍ ترې پیدا کېږي.
دلته باید وویل شي چې د پمن رنځ د کوچیانو په عقیده له داسې ځای څخه اخیستل کېږي چې هلته پخوا خریان مال پکې درېدلي او لدان یې کړي وي، په تېره بیا چې په داسې ځای د لمده بل په وخت کې بوده چو شي او هلته شپې او ورځې تېرې کړي.
اوس به راشو هغو خبرو ته چې په کوچیانو کې له پمن او کښ سره په تړون کېږي وایي:

- پلانی په هر چا پورې کښ کوي، لکه پمن
- په پلاني پورې کښ مه کوه.
- هر ځای ته کښ کوې پمنه
- ځان مه پورې مره (مبنه)
- پلانی په پلاني پورې ځان ومبنه، دا خبره یا دا چاره یې وکړه.
- پلانی چې و نه غربېږي پمنېږي
- تا ځان پورې ومبنه
- کښ مه کوه
- په هر چا پورې ځان مه مبنه
- هغه پمن وو نور یې ورسره پمن کړل
- تا چې کښ نه وي پورې کړی هغه څه کولې
- ته که پمن نه وې داسې به دې نه کول

له بوړې سره په ترون داسې وايي خو دا وینا په داسې وخت کې کېږي چې د یوه خاص مطلب لپاره د یوه سړي بې ځایه صفت کېږي. یا یو ملګرى بل ته ووايي چې د دې مقصد لپاره په پلانى پوړې بوړې ومښه.

- پلانى ډېر ښه بوړي مښې.
- پلانى په پلاني پوړې بوړي ومښه.
- غوږ بوړي پوړې ومښه.
- هر چا پوړې بوړې مښي
- پلانى په پلاني پوړې د دې خبرې يا چارې لپاره بوړې ومښه.

## کبلۍ:

موږ په خپل کتاب [کوچي] کې یاد کړي دا ناجوړي د اوښو په وړکيو جونګيانو کې وي، یانې کله چې اوښه تیونه (تازه) لنګه شي، تندى جونګى په دې ناروغۍ اخته کېږي. دا ناجوړي په وړو جونګيانو برسېره په وړو جنکيو او هلکانو کې هم یادېږي.
د کبلۍ په رنځ اخته تندى جونګى چې نوي (تیون) له موره پیدا شي او د مور تی نه روي داسې ښکاري چې خوږ يې په تس او کولمو کې دي په يو او بل لت اوړي را اوړي ډېر سخت زګيروى غرکې او سکلمي کوي د کوچيانو په عقيده د دې رنځ سبب بد غږ او يا د ناولي انسان غږ يا بوى وي، چې دوى وايي جونګى یا جونګى بوى وهلى. د دې دپه کوچيان دم او تعويذ بولي د کبلي د رنځ د مخنيوي لپاره هر وخت په دم او تعويذ پسې منډې وهي په پيرخانو ملايانو او ستانه خلکو باندې د دې رنځ د مخنيوي لپاره دم او تعويذونه کوي
باید وويل شي چې په دې برسېره کوچيان له ناجوړيو څخه د تندي جونګي د ساتنې او حفاظت لپاره دا ټوټکي هم کوي، لومړى ټوټکه دا ده، کله چې اوښه لنګه شي، سملاسي د جونګي دواړه غوږونه دپ او بند کړل شي، د غوږونو د بندولو لپاره یې لامده اوړه یا د کوم بوټي ژاوله تياره کړي وي. د ګټې ګوتې د سر په اندازه په يو او بل غوږ کې ورکېږدي. تر څو ښه دپ شي چې بد او ناولى غږ وانه وري په دې برسېره چېرته چې تندى جونګى وي هلته نه سر مينځي او نه جامې مينځي دوى په دې عقيده دي چې لمدې جامې او لوند سر هم بوى لري جونګى بوى وهي ځينې کوچيان لا دا هم کوي چې کله تندى جونګى پيدا کېږي سپانده سپيلنى او ځينې نور شيان سره وتکوي په اوبو کې يې ګډ کړي کله چې تندى جونګى پيدا شي له پيدا

کـه و سره سم دا اوبه پرې پوګ وهـي پـه دې برسـېره کـوچیـان تندی جونـګی د نـوپکـو لـه ډزو څخـه هـم سـاتي د ټوپـک غـږ هـم بـد ګڼي بلـه دا چـې د ښار لـه سیمې څخه بې هم لـرې کـوي دوی وایـي د ښار سـیمه بدبویـونـه لـري.

## متې اچـول:

دا د اوښانـو کومـه خانـګړې نـاجوړې نـه ده بلکـې پـه خانـګړو وختونـو کـې اوښانـو او اوښو تـه پیـدا کـېږي. د مـتې اچولـو پـه خـوړو بـوده هلتـه اختـه کـېږي چې تول دوبـی ورې پـرې بـار نـه شـي مـزل یـې نـه وي کـړی جـایښند غونـدې وي، نو کله چې د منې پـه لومړیـو ورخوکـې بـار شـي، پـه تـېره بیـا پـه داسـې لار چـې مـزل پـه مـخ خوړ وي. پـه داسـې وخـت کـې زیـات زور د بـوده پـه مخکـې پـښو بـاندې وي، نـو لـه دې املـه چـې بـوده نـو بنـده او جـایښند وي، مـتې اچـوي، یـانې پـه مخکـې پـښو کـې یـې سـخت خـوږ پیـدا کـېږي، سـړی لـه ورا پـرې پوهېږي چـې د بـوده پـه مخکینـو پـښو کـې خـوږ پیـدا شـول نـه شـي پـرې تـلای، پـل لـه پلـه نـه شي تـېرولای، چـې څې، ډېر پـه زیـګـت سـره روان وي.

د مـتو اچولـو یـا د دې خـوږو پـه مزلـه کـې دپـه وهـل دا دي چـې د بـوده لکـی کلکـه وتـړي، څو واړې پـړی پـرې تـاو راتـاو کـړي. کلـه کلـه یـې چـو کـړي، پـه مـتو یـې ور وخـېژي، خـو چـې کلـه خپـل تاپـې تـه ورسـېږي، پـه میلـه واړوي، مـتې اچوونکـی بـوده ښه درونـد پـټ کـړي، څلان پـرې واچـوي، تـر څو د بـوده بـدن ښه ګرم (تود) شي، چـې کلـه یـې چـو کـړي، چلان او داسـې نـور شـیان پـرې واچـوي، یـو کـس پـه یـوه او بـل کـس پـه بلـه مـتـه زیـات ور وخـېژي، د کـوچیـانو پـه وینـا تـر څو چـې د بـوده مـتې خلاصـې شـي، کـه څوك وغـواړي چـې مـتې اچوونکـی بـوده تـه روز ورکـړي، نـو تـور تـاوده (پیـاوه) شـکنه ورتـه جـوړه کـړي دواړه سـونډ کـه یـې ونیسـي، پیـاوه پـه خولـه کـې ور واچـوي، هغـه یـې روز شـي، پـه پـای کـې بـه دا ووایـو چـې دا خـوږ د کـم وخـت لپـاره وي، بیـا کـرار کـرار د بوده پښې وغـوړېږي، د مزلـه تـوان پکـې پیـدا شـي.

## زور بـاری:

کوچیـان هغـه بـوده تـه وایـي چـې کـوچنـی وي، وري تـوان نـه لـري، د ناتوانـی او وړکتـوب پـه وخـت کـې بـار کـړای شـي، کلـ ـې یـو بـوده زور بـاری شـي، بـدن یـې وده نـه کـوي، ډېر ډنـګر (خـوار) او ـ کـی وي. کلـه کلـه زور بـاری بـوده رغـړي (رغـنبـت کـوي) یـو نیـم زور بـاری بـوده نـری نـری ټوخـېږي، پـه دې برسـېره بوده سـتړې او پـه تـنګ پـورې ناتوانـه څرګنـدېږي.

اوس په راشو هغه روز ته چې کوچیان یې زور باري بوده ته ورکوي، یو روز دا دی چې د کوري د بوټي ونې بنې په اوبو کې و ایشوي. چې اوبه بنې زیړې او ترخې کړي، بیا دا زیړې اوبه زور باري بوده ته په ورځ کې یو ځل کابو یو جام ور اچوي. دوه تر څلور ورځو پورې دا روز ورکوي، خو دا باید یاده کړم چې په ناري (نهاري) یاني د سهار له مخې یې په داسې وخت کې ورکوي چې هیڅ خواړه او اوبه یې نه وي ورکړې، بل روز د ریږدونې د لرګي د مینځ تور زړی ده هغه هم د کوري د لرګي په څېر په اوبو کې ایشوي. چې کله یې په اوبو کې خوند ووزي، دا هم په ورځ کې یو وار دوه تر څلورو ورځو پورې د یوه جام په اندازه ورکوي

ځینې کوچیان زور باري بوده ته پښځلس داني هګۍ له یوه اندازه مل خو زوو سره ګډ وي بیا دا روز ورکوي که چېرته زور باري بوده توخېږي، نیمه پیاله میده کړي سور زنځ په یو جام مستو کې ګډوي بیا دا روز رنځور بوده ته ورکوي. ځینې کوچیان د دې روز د ورکولو په وخت کې داسې هم کوي چې کله دا روز ورکړي بوده په یوه اړخ څملوي دوه لغتې یې په پښتیو باندې له پاسې د سګیو په برید ووهي بیا یې په بل لت څملوي هلته یې هم د سګیو په برید په پښو دوه لغتې ووهي وروسته له دې څو لغتو بوده خپلې مخې ته پرېږدي

## نس بنده یا انګاري:

دلته باید وویل شي چې ځینې کوچیان د نس بنده او انګاري یو رنځ بولي اما ځینې یې دوه سره بېل بېل رنځونه ګڼي. أمّ زما په خیال دواړه د یوې ناجوړۍ نومونه دي، څکه د پکتیا یا کوزمې احمدزي کوچیان د نس بنده ورته وايي او هغه کوچیان چې په پاکستان لرې پښتونخوا ته تګ او راتګ کوي دغه ناروغۍ ته انګاري وايي په دې ناجوړۍ باندې په کوم کال کې کله کله یو نیم بوده اخته کېږي. دا ناروغي کومې خاص نښې نه لري، ښکاره نښه یې دا ده چې بوده لت په لت څملي اوړي را اوړي سړي ته داسې ښکاره شي چې د بوده په نس خوږ دی

د دې رنځ د دپې لپاره یو روز دا دی چې یو جام غوړي کابو یوه کیلو غوړي بوده ته په خوله کې ور تویې کړي که چېرې غوړي نه وي نو د غوړیو پر ځای د شړشمو خواړه تېل د غوړیو په یاده شوې اندازه ور اچول کېږي. که چېرې شودې وي نو غوړي او شودې سره ګډې کړي، د اندازې له مخې بوده ته ور اچول کېږي. له دې روز سره دا خبره ضروري ده چې تر څلور

پينځو ساعتونو پورې بوده اوبو ته نه پرېښودل کېږي چې په روز پسې اوبه وڅښي

ځينې کوچيان په دې رنځ اخته بوده ته داغونه هم ورکوي که چېرې بوده له روز سره ښه نه شي نو د يوې لوښتې په اندازه داغ د لکۍ په بېخ کې له پاس لوري ورکوي په داسې حال کې چې د داغ يو سر يو تبخې ته ور ورسېږي، بل سر يې بل تبخې ته ور ورسېږي، کله کله د نامه غوټۍ ته هم داغ ورکوي، دا څلور داغونه د نامه له غوټۍ څخه تاوېږي. څلور کونجه داغ ترې تاووي.

## پوزی:

دا ناجوړي د بوده د سينې په ځيګه کې پيدا کېږي، په ناجوړۍ برسېره د بوده يو لوی عيب ګڼل کېږي. دا زخم بوده ته په داسې وخت کې پيدا کېږي چې بوده په سخته ځمکه چو شي، نو چې کله په سخته ځمکه چو شي په سينه يا د تتې په ځيګه کې يې زخم پيدا شي، ورو ورو ډډ ېږي (پړسېږي) دلته بايد ووايو چې د بوده د تتې جوړېدل يو نامکمنه خبره ده ځکه که لږ او ډېره جوړېږي بيا بيا بوده پرې چوکېږي، زخم بېرته نوی کېږي. د دې رنځ د دپې لپاره کوچيان يوه چاره کوي هغه دا چې د بوده د سينې له ځيګه کې څخه ګرد يو داغ تاووي تر څو ځيکه کې نور ترې جلا نه شي.

## چينه:

لکه څنګه چې له نامه څخه يې جوتېږي يو داسې زخم دی چې د بوده د بدن په هره برخه کې چې پيدا شي د هر وخت لپاره رنې اوبه کوي. زخم هر وخت اوبلزن وي اوبه ترې روانې وي د دې رنځ دپه هم کوچيان په داغ وايي د چينې د پرهار له شا اوخوا يو داغ تاووي، تر څو چينه وچه شي.

## پيتا:

دا ناروغي که د لوی هندوستان وبلل شي، دا ځکه چې دا ناجوړي په ګرمو سيمو کې په هغه وخت کې بوده ته پيدا کېږي چې بوده يو ناڅاپه په اوبو کې چو شي، پکې ورغړي په ختو ککړ شي بيا چې کله له اوبو څخه راووزي هغه لمده ختېه لمر پرې وچه او ګرمه کړي، په دې وخت کې بوده په پيتا رنځ اخته کېږي، په دې ناجوړۍ کله چې بوده اخته شي، خوراك نه کوي، هر وخت د سيوري په پيدا کولو کې وي، له لمر څخه ډېره بده مني، سري له ورا پرې پوهېږي چې په بوده لمر بدپېدل او اثر کوي سيوری غواړي.

د دې نسخ د دېپې لپاره يو ړوز دا دی چې کابو يو جام اوبو ته د اندازې له مخې لږ سور زنګ ورګډوي، بيا يې بوده ته ور واچوي. تر دريو ورځو پورې دا ړوز ورکوي.
د دې رنګ د دېپې لپاره بل ړوز داسې جوړوي چې کابو پنځه کيلو د جميا و دانې په يوه لوی تيم کې واچوي. تيم له تروو (شرمو) ډك کړي کابو نه دريو ورځو پورې په تيم کې د جمياوو دانې او تروې کېږدي تر څو د جمياوو دانې بنې پکې پستې شي وروسته له هغه د اندازې له مخې دا ګډ ړوز بوده ته په ورځ کې يوه کيلو ورکوي، تر څو دا تيم ړوز ټول پرې تمام کړي.

## پوړۍ

هغه ناروغي ته وايي چې د بوده تله پرې (غوټه) او زخمي شي. که چېرې زخم ښکاره نه وي، هسې د اوبښ تله پړسېدلې وي، نو اوبه ورته ګرمې کړي ښه ډېره مالګه پکې واچوي بيا د بوده تله په دې اوبو کې ټيټه کړي. تر څو پښه ور وتبي. دا د تبلو عمل له ډېرو ورځو ورسره کوي، که چېرته لاندې لور ته په تله کې زخم وي، نو د تنګ په وخت کې د داسې بوده په تله کې شګه او تيره ننبلي بيا دا زخم د هر وخت لپاره ډ بوټي له زاولې يا بل څه ځخه ډکوي، تر څو شګه اوخاوره او نور بدي بلاوې پکې ننه نه وزي. په پای کې بايد وويل شي چې د پوړۍ د زخم د درملنې لپاره کوچيان په دم باندې هم زياته عقيده لري. ډېر داسې دمګري وي چې د پوړۍ د ناجوړۍ د ښه کېدو لپاره دم کوي.

## اکړي:

دلته بايد ووايو چې دا رنځ يوازې په پاکستان کې په بوده وو کې پيدا کېږي. دا ناجوړي په ځانګړي موسم کې له ځينو بوټيو ځخه اخيستل کېږي. کله چې د پشه کال په موسم کې دا بوټي بوده وخوري، د مثال په ډول د شوې پانې (تالی) د توت پانې، بېره او داسې نورې که چېرې له دريو ورځو زياتې بوده ته دې ونو پانې وخوري د اکړ په رنځ اخته کېږي. دا بايد زياته شي چې که بوده په وږې خېټه يوه ورځ د شوې پانې وخوري نو هرو مرو اکړی کېږي.
د اکړ په ناروغي. کله چې بوده اخته شي، ښه نښه يې دا ده چې بوده د سهار له مخې په مخکنيو پښو نه شي پورته کېدای، ياني وروستۍ پښې يې خلاصې او جګې کړې وي په لومړيو پښو نه شي جګېدلای. له ډېره

ـحـه پـه ګوښـېو ولاړ وي. دا ښايـي ووايـو څومـره چې هـوا سړېږي پـه هـم هغـه انـ ـره پـه بـوده بـانديې د اکـړ رنـځ سـختېږي. کلـه کلـه داسـې هـم کيـږي چـې پـه شپـو او ورځو بـوده چو چو وي لـه ځايـه نـه شـي پورتـه کېداى
د دې سـيمې د اوښوالـو د وينـا لـه مخـې لـه اکـړ څخـه بـوده هـېڅ کلـه نـه جوړېږي. د دوى د وينـا لـه مخـې چـې دوى تجربـه پـرې کـړې هغـه دا ده چـې ورلـه اوښه يـاني چـې جونګـى يـې پـه نـس کـې وي بيـا داسـې بـوده چـې پـه اکـړ اختـه شـي خـو چـې کلـه لنګه شـي دوى وايـي بيـا هغـه اوښه لـه هغـه رنـځ څخـه خلاصېږي، ياني لـه لنګوال سره سم اکـړ مـرض اڅوي
دا اکړ پـه رنـځ اختـه بـوده کـه څه هـم خـوراك کـوي، خـو چـې ورځ وزي، نـس يـې چنـګېږي، د داسـې بـوده ګېډه (خـېټه) بيخـې ورکـه شـي، چنـګ شـي، د دې رنـځ د دېـې لپـاره کـوم ځانګړى درمـل نـه نـه شـته،خـو يـوازې لـه رنـځور بـوده سره د مرستې پـه خـاطر دا لانـدې چـارې کـېږي.
لومړى دا چې د بزې د بـوتې چې پـه لـره پښتونخـوا کـې ببکـړ ورتـه وايـي پـانې را وشکوي، ټکېدلې يـا هـم روغـې يـې پـه ديګـي کـې پـه اور بـاندې کـړې، يـوه اندازه اوبـو پکـې واچـوي، ښې يـې واېشـوي. يـانې ځوښ ورکـړي، تـر څو ښه خونـد يـې پـه کـې ووزي، بيـا کـابو پـه ورځ کـې يـو جـام تـر اوو ورځو پـورې دا رو بوده تـه ورکـوي
بلـه مرستـه ورسـره دا ده چې پـه ګرمـو اوبـو کـې ډېره مـالګه ورتـه واچـوي پـه هغـه سره يې پښې د هر وخـت لپـاره تبـې تبـل هـم ډېره ګټه ورتـه رسـوي. پـه پـاى کـې بـه ووايـو چې پـه اکـړ اختـه بـوده چـې باريـږي او ګرځي، مـرض ډېر پـرې سپك وي.

## سوخوند نيـول (شـخوند نيـول):

دا نـاجوړي بـوده وو تـه زيـاتره وختونـه د غـاښونو د خرابيـو لـه املـه پيـدا کـېږي پـه دې رنـځ اختـه بـوده چـې سوخوند را وکـاږي او سـوخوند وهـي نيـم لرسـن يـا خـواړه يـې پـه يـوه سوخوښتي کـې پـاتي کـېږي يـو څه ېرتـه تـېروي. د ژامـې پـه يـوه لـوري کـې دا واښه يـا خـواړه سره يـو ځاى کـېږي،د يـوې کـڅوړې شـکل اختيـار کـړي. هـر وخـت د بـوده يـو لـوري سـخوښتي ډېر ښکـاره کـېږي واښه يـا خـواړه پکـې ولاړ وي. ډك وي د دې د عيـب يـا نـاجوړي يـوه دېـه دا ده چـې سخوښتي يې تش کړل شي کـه بيـا هـم بـوده خپـل حـال تـه را و نـه ګرځي، نـو د يـو نـري مـزي يـا بلـې وسـېنې پـه وسيله هغـه ځاى تـه نـري نـري داغونـه ورکـول کـېږي

## کمري:

په دې رنځ باندې هم په پاکستان کې اوښې او اوښان اخته کېږي په کمري رنځ باندې اخته بوده په وروستيو دوارو پښو نه شي جګېدلای. له کووه وړاندې روغ رمټ ښکاري، خو چې کله جګېږي، روستاړ نه شي پورته کولای، د کوچيانو ا . نظره په دې ناجوړۍ اخته بوده هم نه جوړېږي د دې سبب بوده دروند دروند بارول بولي

## سينګر:

هغې ناجوړۍ يا عيب ته وايي چې د لوېدو يا په کومه بله وسيله د بوده د وروستۍ پښې په لنيده کې پاس لويه وزه سسته شي، خپل عادي حالت پرېږدي، کله چې بوده تګ کوي، پښه سسته پورته کوي، د پورته کېدو په وخت کې وزه غبرګېږي. داسې بوده ته کوچيان سينګړ وايي، دا کوم داسې رنځ نه دی خو بوده پرې عيبجن او معزور وي، سينګره پښه يې له پخوا څه لږ ترې بې اختياره وي اوشله غوندي وي

## تره پی:

هغه بوده ته وايي چې د مخکې پښو وزې يې سستې وي، دا عيب د خپل څښتن د بېغورۍ له امله وي په وړکتوب کې جونګي په ګونده وتړل شي، دا حتمي ده چې هغه بوده تره پی کېږي. چې په کومه لوري پښه جونګۍ يا جونګۍ وتړله شي په هغه پښه تره پی کېږي. نو د دې لپاره چې بوده تره پی نه شي کوچيان له هغه پورې جونګۍ په ګونډه نه ترې چې تر څو دوه غاښي (دوک) شي له هغه ايسته که وتړل شي بيا نه ترپی کېږي

## ګلاپ:

ګلاپ هم يوه ناجوړي ده چې بوده پرې اخته کېږي، که ووايم بې ځايه به نه وي چې دا ناجوړي د انسانانو د ګوزر (فالج) ناروغي ته ډېر ورته والی لري، د دې ناروغۍ څه ځانګړی سبب نه دی څرګندی خو په نابېره د بوده خوله په يوه لوري کږه شي، سونده ترې بېواکه شي، بوده په خپل عادي ډول خوراک او څښاک نه شي کولی، د دې ناروغۍ دپه هم کوچيان په داغونو، دم او تعويذونو کوي. کوم لوري زامه يې چې کږه وي، هغه لوري ته څو نري نري داغونه ورکړي، له داغو ورکولو سره سره دم او تعو... هم ورته کوي

## خول خوګی:

دا ناروغي په هغه جونګيانو کې لګېږي چې تر يو کال پورې عمر لري، په تېره بيا په هغه وخت کې چې د لومړي ځل لپاره کوچنی جونګی اغزي لرونکی بوټی يا ونې ته خوله وروړي، د دې ناروغۍ نښې دا دي چې يو ناڅاپه د جونګي سونډې وپړسېږي (ډډې شي) کله کله د خول خوګي په رنګ د اختې جونګي سونډې دومره ډډې شي (وپړسېږي) چې پاړسوب يې ان تر سترګو پورې ورسېږي، سترګې يې وپړسېږي، په ځينو جونګيانو باندې دا رنګ دومره سخت شي چې سترګې يې زهرمنې او ړندې شي. د جونګي ټول مخ يو ناسور زخم شي، په دې پسې داسې هم کېږي چې جونګی هېڅ خوراك نه شي کولای، ټول وخت يې تيمبوزي يورته نيولی وي.

ددې لپاره چې رنځ اسانه پرې تېر شي، د جونګي خوله او نور زخمونه پرته له سترګو هر وخت په زرېو ور ککړ وي بل دا کوي چې ښې تروشې تروې ګرموي، بيا په هغه باندې هم د جونګي زخونه ککړي (لمدوي) تر څو له خول خوګي څخه جوړ شي.

## پکه:

دا هم د بوده دځرمنې ناروغی ده لکه پون خوله پون سره يې تيپير دا دی چې پون د بوده ټوله ځرمن لاندې کوي، لکه د اور لسبه په مخ پکې روان وي او پکه چېرته د کوم بوده د ځرمنې په يوه برخه کې پيدا شي، د هغې ځای وړي توپې شي، خو ځرمن يې ډېره نه خرابېږي د دې ناروغۍ دپه هم سوکه ده هغه دا چې پك ځای د پسه په سپينکي يا وازده څو وارې غوړ کړي تر څو روغ رمټ شي.

## لګېدلی يا زخم:

کله چې د بوده په شا او ډډو کې د وري (بار) د وړولو له امله کوم زخم پيدا شي، هغه ته لګېدلی وايي، د مثال په دود به ووايو چې د خبرو په منځ کې دا ټکی داسې يادوي، وايي زما د اوښ مندو لګېدلی يا زما د اوښ ډډې لګېدلې دي، يا دا اوښ ښتی لګېدلې دي يا ښې دوډې او لکمنې لګېدلې دي.

د دې زخم يا لګېدلي درملې ځينې کوچيان داسې هم کوي چې يوه برخه مالګه دوه برخې اوړه سره لامده کړي، بيا يې په انګار کې ومنډي چې کله لکه د سکور داسې تور رنګ اختيار کړي، بيا يې ښه ميده کړي له ميده

کېدو څخه وروسته یې د بوده په لګېدلي ځای کې ور اچوي تر څو ورځو وروسته په زخم کې ورسته غوښه را پورته شي، هغه ترې ایسته کړي زخم هر وخت پاك مینځي بیا وروسته له پرېوللو څخه په زخم باندې مهده اومان اچوي، که اومان نه وي نرسوي میده کړي هر وخت یې په زخم باندې دوړوي.

## ښکی:

یو څو کلن بوټی دی چې د افغانستان د وردګو او هزاره جات په سیمه کې ښه ډېر پیدا کېږي، دا د للمیو نلو په څېر سخت شین رنګی بوټی دی، د ګندیالي په څېر له ګندیالي لږ غټ وګی کوي، څرنګه چې په پسرلي کې دا بوټی شین وي، نو یو نیم بوده ډېر په مینه سره خوله ور واچوي، ویې خوري، کله چې دا بوټی بوده وخوري، سخته ناروغي ورته پیدا کېږي، دا بوټی چې بوده وخوري، په نور بدن یې هم بد اثر کوي، خو په پښو کې یې بد اثر ډېر زر جوتېږي، د بوده تلې ډډېږي (پړسېږي) له ډډېدو څخه وروسته داسې هم پښېږي چې تلې یې وغورځي (ولوېږي) او یا خو له غوښې څخه بېلې شي د ښکی خوړل د ځینو بوده د مرګ سبب ګرځي.

که چېرې کوم بوده ښکی وخوري کوچیان سملاسي داسې بوده ته د شودو او غوړیو یو ګډ ړوز جوړوي د یوه جام په اندازه په یوه وار په خوله کې ور اړوي، د بوده توان ته ګوري، هغومره د غوړیو او شودو ګډ ړوز ورکوي، د دې تر څنګ که د پسه غوښه او شروا وي هغه ړوز هم ورکوي ګټور یې بولي.

اما له ټولو ښه او پر ځای چاره دا ګڼي چې کوم بوده له ښکیو سره نابلده وي او خوراك ته یې هوسېږي یوه اندازه ښکی را وشکوي، ښه یې وټکوي بیا یې له سوند که وتیسي، په خوله او سمو پوزې یې تکېدلي ښکی ورومښي چې کله دا ښکی په خوله او سپږمو پوزې ور ومښي، خوله او سپږمې یې په بوی شي، بیا هغه بوده هېڅ وخت ښکي ته خوله نه ور وړي، د تل لپاره ترې ایسار شي، په پای کې دا ویل غواړم چې ښکی د غوړ مرغي په نوم هم ځینې کوچیان یادوي.

## زهر بوټی:

لکه له نوم څخه چې یې جوتېږي، دا یو بوټی دی چې د پاکستان د کاغانو او نارانو په دره کې ډېر پیدا کېږي د دې بوټي جوړښت د ماميري په څېر

دی، د رنګ له مخې سپاندې ته ورته بوټی دی. دا بوټي چې بوده وخوري، لاس په لاس بندیږي د مرګ سبب یې ګرځي

## برګ اغزی:

یو بل بوټی دی چې په پاکستان کې پیدا کیږي، لکه له نوم څخه یې چې ښکاري. دا یو برګ برګ یاني شیني او سپیني نسبې لرونکی ازغی دی، بلنې پلنې اوبلزنې پاڼې لري، د پاکستان په ښاریاتو او اوبه لرونکیو ځمکو کې ډېر ولاړ وي. دا بوټي هر څلور بول په ښه مینه سره خوري، خو بد اثر یوازې په اوښو او اوښانو کوي د کوچیانو د تجربې له مخې دا د بوده لپاره یو خطرناك بوټی دی چې بوده ته ورکول یې هر وخت له زهرو ډك دی. خو په تېره بیا که دا اغزی په وږي خېټه بوده وخوري، زیات خطر لري، همدا راز دا هم کېدای شي چې په افغانستان کې په ځینو سیمو کې داسې بوټي وي چې د هغه خوړل د بوده او نورې مالدارۍ لپاره ضرر لري

اوس به د هغه بوده په باره کې څه ولیکو چې ولوېږي (وغورځېږي، یا ورغړي) د بدن ځینې ځایونه یې وټوکل شي. ولې داسې ځای یې نه ښکاریږي چې سرې یې ژوبل وبولي یا یې کوم هډ مات څرګند شي، نو که د داسې بوده لپاره تب ګټور وي او وغواړي چې بوده ته تب ورکړي، نو د بوده د بدن په اندازه ژوره کنده جوړوي په هغه کورې کې اور بل کړي چې کله پوه شي چې کنده ښه ګرمه کړې شوه بیا اور ختې لرې کړي بوده په دې ګرم کورې کې چو کړي ښه ډېر خلان او برستنې پرې واچوي، ښه دروند یې پټ کړي، تر څو د بوده ټول بدن تکور (وتبل) شي

اوس د بوده یوې بلې ناروغۍ ته را څو. هغه دا چې که یو بوده ولوېږي یا داسې ضربه وخوري چې سرې پوه شي چې د اوښ (بوده) د بدن غوښې کوم ځای له څرمنې لاندې زخم او ژوبل شوی دی، یاني په پټ پرهار د بوده غوښه زیانمنه شوې ده. د داسې ځای طبابت کوچیان داسې کوي چې په یوه لوښي کې نری ختته جوړه کړي، ښه ډېره مالګه هم ورګډه کړي بیا دا ختته په اور باندې کړي چې کله سه ګرمه شي. د اندازې له مخې د بوده په خوږ او زخمي ځای دا ګرمه ختته ور وپېي، تر ډېرو ورځو پورې دا طبابت پرې کوي، تر څو بوده روغ رمت شي

که چېرې یو بوده په کومه یوه پښه ونګوښي لومړی هغه ځای په سترګو معلوموي چې د بوده کوم ځای زیانمن شوی دی، که په سترګو ورته جوته نه شوه بیا لاس پرې وهي له کومه ځای څخه چې بوده بده منله هغه ځای یې

زیانمن ګڼل کېږي، بیا نو داسې ځایونو ته په عمومي ډول مناسب داغونه ورکول کېږي، په داغو برسېره بوده ته ارام ورکوي، له ډېره وخته پورې داسې بوده نه یاروي. په تېرو شویو خبرو سره د اوښو او اوښانو (بودوو) د ناروغیو په ارتباط خبرې پای ته رسوو. د اوښانو او اوښو په ارتباط بله بیلبره کې څه لیکو.

مستي:

مستي کول یا مستېدل یوازې د نر اوښ کار دی، دا حالت یوازې په نرانو اوښانو باندې د شهواني غریضې له امله راځي، دلته باید ووایو چې په عمومي ډول ټول نران اوښان په ژمي کې مستېږي، که چېرته کوم اوښ بل وخت مست شي د هغه مستي بې وخته ګڼل کېږي، کله چې اوښ مست شي له یوې میاشتې څخه نیولې تر دوو میشاتو پورې مستي کوي غوړېږي هر وخت یې په خوله پګړې پګړې سپین ځګ پروت وي، یا یې سپینې بګړې ځګ له تیمبوزې څخه لوېږي، هر وخت خلتم وهي، کله کله په سپږمو کې کوتېږي. کله چې بیا خپل زور ښکاره کوي وروستی دواړه پښې لږ سره ارتې (ازادې) کړي خپله لکۍ ښوروي، لم وهي د مستي په وخت کې ځینې اوښان سرې خواره شي، هر چا ته چې وي خوله اچوي، لنډه دا چې په داسې وخت کې له اوښ څخه خپل ځان ورك وي، هېڅ په ځان نه پوهېږي، ځان په جهان ورته زورور ښکاري، خوراك کم کړي، اوبه زیاتې څښي، نس کم کړي، لکه چاکو داسې چنګ شي کولمې پکې ورکې شي ډېر زیات غوړېږي هر وخت په ښځو اوښو پسې ګرځي.
د کوچیانو د تجربې له مخې که مست اوښ اوښو ته پرې نه ښودل شي هم نقصان کوي او که زیاتو اوښو ته پرې ښودل شي هم تاوان کوي. نو مست اوښ د نسل د ډېرېدلو او اوښ ته د ګټې د ور اړولو لپاره له پینځو څخه نیولې لسو اوښو ته ور پرېږدي. له دې څخه زیاتو اوښو ته د اوښ پرېښوول ضررناك او تاواني بولي.
که چېرې داسې پېښه شي چې اوښ له مناسب وخت څخه مستي زیاته وکړي، یانې مستي زر پرېنږدي نو داسې اوښ ته لاندې روزونه ورکول کېږي، تر څو زیاته او بې وخته مستي و نه کړي.
د مستي د اچولو یو روز دا دی چې د بوده د توان په اندازه د سهار له مخې په ورې ګېډه یوه اندازه مستي له دریو ورځو پورې ور اچول کېږي، یانې هره ورځ د یو جام په اندازه مستې مست اوښ ته ورکوي. بل روز یې مولی.

دی، د یو کیلو په اندازه مولی وتکوي، بیا تکېدلی مولی په وړې ګېډه مست اوښ ته له دریو ورځو پورې ورکړي په پای کې به وواېو چې بل ړوز فیاض وتکوي تکېدلی فیاض د مستو او مولی په څېر په نهره (وړې ګیډه) مست اوښ ته ورکړي، تر څو مستي پرېږدي یا د کوچیانو په ژبه مستي واچوي

اوس به د مست اوښ د مستي په اړه هغه خبرې در یادې کړو چې د کوچیانو په منځ کې کېږي. که یو څوك ډېر مال او مېږونه ولري یا یې په کومه بله واسطه خپل پخواني عادي حال بدل شي د کبر او زور غاړه راواخلي د هغه په باره کې داسې وایي:

- پلانی هم مست شوی په سپږمو کې کوتېږي
- پلانی داسې غوړېږي
- چې نن نه غوړېږي کله به غوړېږېږ
- لکه مست اوښ خوله مه ګډوه.
- هر چا ته خوله اچوي لکه مست اوښ.

د مست اوښ د لم یا لکۍ ښورولو په اړه داسې وایي:

- پلانی داسې لم وهي لکه مست اوښ، یانې زور ښکاره کوي
- هر چا ته لم وهي
- ما ته لم مه وهه.
- دلته د خپل کور کې لم بینا کړی ده.
- د باندې ووزه بل چا ته لم ووه.

کله چې مست اوښ لم وهي (لکۍ ښوروي) ورسره ورسره متیازې هم کوي، که د اوښ لکۍ یوې خوا ته نه وي ترلې، متیازې هر لور ته الوزي د دې په ارتباط کوچیان داسې وایي:

- پلانی لم وهي، متیازې هر لور ته الوزوي
- بل ور ته متیازې مه الوزوه
- ډېرو خلکو ته به متیازې ور والوزوې.
- دا دلم وهل چې د تا وي ډېر خلك به بې لمازه اوغولموه کړې.
- پلانی ډېرو خلکو ته متیازې ور والوزي

اوس راځو د بوده د نسل او ډولونو په باب ځینو خبرو ته، البته د هغو اوښو او اوښانو په باره کې به در سره غږېږو، چې د افغانستان کوچیان یې

روزنـه کـوي لومـړی غـواړم د هغـه اوښ نـوم در یـاد کـړم چـې د نسـل لپـاره ساتل کېږي یا داچـې د ځنیسـتي اوکوړمـي لپـاره.

## سان:

هغـه اوښ تـه وایـي چـې د نسـل د ډېرولـو لپـاره سـاتل کـېږي. خـو دا خـبره د یـادولو وړ ده چې سـان هـر اوښوال نـه سـاتلی شـي، او نـه یـې سـاتي، سـان هغـه څوك سـاتي چـې ډېرې ښځې اوښې ولـري، پـوره ښځ ګلـه ګلـه ولـري، سـان داسـې اوښ وي چـې ښه قـوي هـډه وور د ډېرو ښېګړو لرونکـی بـوده وي، کلـه چې مست شـي، بیـا یـې پـه اوښو چـو کـوي تـر څو یـې ذات ډېر شـي، سـان داسې یو عـادت پیـدا کـړي چـې خپلـې ګلـې تـه پـردې بـوده نـه را پـرېږدي، د څر پـه وخت کـې یـو ډول د اوښو سـاتنه کـوي کلـه د اوښو یـو او کلـه یـې بـل لـور تـه وزي، د تـګ پـه وخـت کـې اوښو تـه وروسـتي او ړومبـی کـېږي او داسـې نـور ډېر ښه ښه صفتونـه پکـې وي.

اوس بـه د اوښو او اوښانـو د ذات د تـوپـیر خـبره وکـړو دلتـه بـه ووایـو چـې پـه افغانسـتان کـې د ذات لـه پلـوه شـپږ ډولـه اوښان او اوښې سـاتل کـېږي. لکـه اري یـا اړبګان، مایـه، شـغال، بـوګی، سـاده او دوه غـوټي مایـه پـه دالاوه ځنـې بـوده (اوښې اوښان) د یـوې خـاصې سـیمې پـه نـوم هـم یـادېږي، لکـه کندهـاري، ترکسـتاني او داسـې نـور شـو، کـه ووایـو بـې ځایـه بـه نـه وي کـوم اوښ او اوښې چـې د پاکسـتان لـه لـوري راځي هغـه د ښیکینیـو پـه نـوم هـم یادېږي، دلتـه دا خبره ښه بولـم چې پـه هـر ذات بـېل بـېل څه ولیکم.

## اری:

هغـه اوښ تـه وایـي چـې دوه کـوه لـري، کـوچیـان دا یـو بختـور بـوده ګڼي، د بـارولو ئـي نـه بولـي او نـه یـې بـاروي، اری یـوازې د نسـل د ډېرولـو او غـوښې لپـاره سـاتي، اری اوښ چـې سـاده اوښې تـه ورکـړي مایـه زیـږوي.

## مایه (مـایکی):

د سـاده اوښې او د اري اوښ زوی وي، بـېر اورمـېږ او بـېرې مـتې یـې وي، پـه وریـو ښه پټ وي، د تـوان او وري د وړلـو لـه پلـوه پـه ټولـو بـوده وو کـې لومـړی ځای لـري، همدارنـګه پـه غرنیـو سـیمو او ختو کـې ډېره ښه چلـه کـوي پـه سـړو سـیمو او واورو کـې ډېر توانمـن دی، لنـډه دا چـې کومـې ښېګړې پـه مـایکي کـې وي، هغـه پـه بـل بوده کې نـه شتـه، لـه هره پلـوه مایـه ښه ګڼل کـېږي.

## شغال:

د بوده وو هغه ذات دی چې کله مایه اوښ ساده اوښې ته ورکړي نو بیا شغال وزیږوي، شغال بوده د ساده اوښ په پرتله لږ ببر غونډې وي. ورمېږ او متې یې له ساده بوده څخه لږ تیسن وي خو د توان او اصل له مخې شغال بوده د تولو اوښو او اوښانو پښې ګیل کېږي، یانې له تولو څخه ګنده او بېکاره یادېږي، بل دا چې د بارولو په وخت کې ډېر زیات کغېږي، ډېر شر و شور کوي، بل دا چې د بارولو په وخت کې لرسن هم اچوي چې دا یې د ناتوانی لویه نښه ده، ګواکې خولې ته سوخوند وګاږي، بیا یې شیندي.

که ووایو بې ځایه به نه وي چې د شغال بوده له کغېدا سره په تړون ځینې خلکو ته داسې ویل کېږي.

- په پلانې باندې پلانې زور اچولی داسې ورته کغېږي لکه شغال اوښ هر چا ته کغېږي، هر وخت کېږي.
- هر وخت مه کغېږي، لکه شغال اوښ.
- پلانی هم شغالي راته ښکاره شو. شغالي دی.
- چې په څنګ یې څوك تېرېږي، هم دی لکه شغال اوښ کغېږي.

که چېرې یو څوك چا ته بې ګرمې بې درکه بې خرکه خبرې وکړي، د هغه په باره کې داسې ویل کېږي:

- لکه شغال اوښ سوخوند شیده مه اچوه. وشوه بدې کیسې مه کړه.
- لکه شغال اوښ لرسن مه خلك مه غولموه کوه.
- هر لور ته لرسن شیندې
- چې سرې ښه خبره درته وکړي، ته سخوندور وشیندې

## بوګی:

هغه بوده ته وایې کله چې شغال اوښ ساده اوښې ته ورکړي، بیا نو بوګي ترې پیدا کېږي، له هره پلوه په خپل پلار شغال باندې ښه وي، په بوګي بوده کې دا نښه وي چې سترګې او غوږونه یې ببر (تېسن) وي، که چېرې د یو انسان غوږونه ور وځي او د پوزې سر ببر وي یا یې په مخ زیات وېښتان وي. کوچیان هغه ته هم بوګی وایې او داسې یې یادوي خو بوګي نوم نه ...غه راونه ترې کم ده:

- ... بوګی هم راغلی و، ګواکې پلانی تېسن بزی یا تېسن غوږی راغلی و.
- ... ګی ... خبرې کولې
- هلته به بوګی هم راشي.

ACKU

## دوه غوټی مایـه:

کلـه چـې اری اوښ مایـه اوښې تـه ورکـړي، نـو دوه غـوټی مایـه زېږوي، د دوه غـوټي مایـه هـر څه مایـه تـه ورتـه وي، خـو چـې کـوو یـې وګوري نـو د کـوو سـر یـې دوه غـوټې لـري. پـه ټولـیز ډول لـه یـادو شـویو بـودوو څخـه پرتـه نـور ټول اوښې او اوښان پـه سـاده وو کـې اچـول کـېږي، پـه پـای کـې بـه پـه عمومـي ډول دا هـم ووایـو چـې پـه غرونـو او خـټو کـې هغـه بـوده ښه چلـه کـوي چـې تلـې یـې وړې وړې وي.

اوس غـواړو ستاسـې ګرانـو لوسـتونکیو پـام د بـوده د پټولـو او بـار پـه ارتبـاط ځینـو لارو چـارو او د ځینـو شـیانو نومنـو تـه را واړوو، تـر څو د کـوچیـانو لـه ژونـد سره لا ښه بلد شـي لومړی غـواړم د بـوده د پټولـو شیان در وپـېژنـم:

## کته:

هسـې خـو د هـر بـار وړونکـي لـه بـار څخـه د شـا د روغ سـاتلو شـي تـه کتـه وایـي، لکـه د وري وړونکـی غوایـي کتـه، د خـره کتـه او داسـې نـوري دلتـه کـه ووایـو بـې ځایـه بـه نـه وي چـې د افغانسـتان د جنوبـي د لـوړې کـوچیـان زیـاتره کتـه پـه کـار کـوي، د کتـې برسـېره مـخ ترنـګړ وي چـې کتمخـی هـم ورتـه وایـي ځینـې داسـې کتـې وي چـې دواړه لـوري یـې سره بـېل بـېل وي، بیـا یـې دواړه لـوري لـه کـوو څخـه مخکـې او لـه کـوو څخـه ببرتـه یـانې د منـدو او لکمـی لـور تـه دواړه لـوري یـې پـه یـوه نـري پـړي سـره بنـد کـړي وي، او ځینـې بیـا داسـې کتـې وي چـې وروسـتی لـوري یـې لـه ځایـه بنـد جـوړ کـړي، د منـدو لـوري بیـا پـه نري پړي سـره بنـد او وګي.

## مـوتی:

د لوشـتې پـه انـدازه سـوروري وي او اوږده یـې لـه کتـې سـره سـم وي دوه اوږدې کـڅوړې جـوړې شـي، بیـا د بوسـو او یـا لـه لوخـو ډکـې شـي دا ډکـې مـوتې د کتـې لانـدې استر سـره د بـوده لـه اړخ سـره د کـوو یـوې او بلـې خـوا تـه ونښتي د دې ګندلو لپاره خاکرې ستن وي چې د کتـو یـا مـوړې ستن ورتـه واسـي

## موره یـا ولی:

مـوره هغـې کتـې تـه ویـل کـېږی چـې پـه هغـه د اوښ د منـدو لـه ... یـو پلـس او کـوږ لـرګی لګېدلـی وي، ولـې خکـه ورتـه و یـي چـې پـه خـوا وحـت کـې ... لـرګی د کومـې ونـې لـه کـرې ولـې حځـه جـوړېږه یـې لـه حیـه ...

ونې کړه ولې را وایسته بیا به یې په کته ولګوله. د ولې په یوه او بل لوري کې د سور له لوري سوری وکړي په هغو سوریو کې لرګي ورکړي د دې لرګیو په مرسته کته او ولې سره ونښلوي.

## څل:

د برستنې په دود جوړ وي، خو د بوده د کوو ځای یې سوري وي، کله چې په بوده واچول شي، کوو یې څنې ووزي د بوده کوو هر وخت خلاص او وریت وي.

## ځلون:

د اړتیا په وخت کې هغه وري ته وايي چې په اوښ باندې ناروغه یا مړي له یوه ځای څخه بل ځای ته وړي، نو د دې لپاره چې ناروغه یا مړی پرې تم شي، کوچیان اوښ ته د پښتو کالیو وری جوړوي، لکه برستنې لیمڅي او ځلان سره وري کړي هغه ته ځلون وايي.

## ګیونی:

هغه پړیو ته وايي چې په ترنګره کې وری پرې تړل او ګنډل کېږي.

## وائی:

هغه نریو پړیو ته وايي چې د اوښ په شا باندې دواړه انډې سره نښلوي. یو انډي له یوې خوا ورته راپورته شي، بل انډي له بلې خوا ورته راپورته کړي. بیا له یو لرګي او بل لرګي څخه وايي، تاو کړي وائی ووهي.

له وایو سره په ترون ځینو خلکو ته داسې ویل کېږي وايي:

- په هغه خبره کې د پلاني وايی ډېرې سستې وې.
- د هغه نورې وائی سستې شوې.
- پلانی د پلاني وای وکړې، ګواد یوې چارې په باره کې.

## سربنډل:

هغه پړیو ته وايي چې کله په بوده د نمبو وری بار شي. وايی یې ووهل شي، بیا د سر بنډلو په واسطه د تمبو دواړه سرونه سره وتړل شي، تر څو نه ښورېږي او بوده ته زور ور نه کړي. هغه پړي سربنډل یا بنډل یادوي.

## سربانې:

زياتره وختونه د غلې په وري کې پکارېږي، کله چې د غلې وری په بوده بار شي، وائي يې ووهي، بيا دوه پړې د بار (وري) په سر واچوي، تر څو وری د اوښ په شا پاس ونيسي او بوده ته زور ور نه کړي.

هو: ربښتيا ښه به وه چې د بوده وو د غاښونو يا عمر په باره کې مو دمخه څه ليکلي واى، خو اوس هم د يادونې وړ ده بايد ياده يې کړو هسې خو لومړى (تيون) چې هر څه انسان يا په ځانګړې ډول حيوان چې پيدا شي، نو تندى ورته وايي، خو کله چې جونګى يا جونګى د يوه کال شي کوچيان يو سکولى ورته وايي، چې دوه کلن شي دوه سکولى شي، په همدې وړ چې درې کلن شي درې سکولى ورته وايي. کله چې بيا څلور کلن شي نوچتر يا چترى شې، يانې د مخې غاښونه يې چتر شي، له هغه وروسته بيا د مخې له لوري د شودو دوه غاښونه غورځوي، د هغو پر ځاى دوه نور غاښونه را شنه کېږي، کله چې د بوده دا دوه غاښونه را شنه شي، نو کوچيان دوك ورته واي، له هغو دوو غاښونو څخه وروسته بيا دوه نور را شنه کېږي، هغه ته بيا څلور غښى يا څلور ډاړى وايي، له هغو څخه وروسته دوه غاښونه نور را شنه شي، چې کله د بوده دا دوه غاښونه پوره شي، نو بوده پينځه کلن شي بايد ياده شي چې چارسال او پانګ سال هم ورته وايي، د مخې د غاښو له پوره کېدو څخه وروسته بيا څلور نېښونه باسي، کله چې نېښونه وکاږي، کوچيان نېښ ورته وايي، چې بوده نېښ شي نو پوره اوښ شي، د کوچيانو د وينا له مخې له نېښې پورې بوده پورته ځي، يانې توانمن کېږي، دوى وايي چې کله بوده نېښ شي، بيا درې کاله په ځاى ولاړ وي، له درې کلو وروسته بيا کښته ځي، ښه ساتنه غواړي بايد ياده يې کړو چې کوچيان داسې هم وايي

چې دوك شي ورى ته لك شي
چې نېښ شي په وري پېښ شي
چې درې کاله له نېښې تېرې شي، عيبونه يې ډېر شي

## د واړه مال په ارتباط خبرې:

دلته چې د واړه مال په ارتباط خبرې کوو لومړى غواړو اوړ مال په دوو برخو ووېشو، لکه مېږې او وزې يا مرئې او اوزې.

لومړی غواړم د مېږو یانې مړنـې مـال پـه بـاره کـې څه ولیکـو، څرنګه چـې موږ په خپـل کتـاب "کـوچـې" کـې د مېږو د پـېژندلـو پـه اړه یـو څه لیکلـي دي، دلتـه مناسـب نـه بولـم چـې پـه دغـه لـوري کـې څه ولیکـم، البتـه د مېږو د وړیـو د جوړښت پـه برخـه کـې بـه دومـره ووایـو چـې مـېږې د وړیـو د جـوړښت لـه پلـوه پـه لا ندې ډول نومـول کـېږي لکـه کلوښتـه وره، کبـل ورګې، کوسـا، ترنـګ ورګې او د ګڼ لـه پلـوه چـې لـه پنـځو سـو مـېږو څخـه کمـې وي، هغـه تـه کنډك وایـي، چې لـه یـاد شـوي ګڼ څخـه زیـاتې وي، هغـه تـه رمـه وایـي، بـې ځایـه بـه نـه وي پـه کـوم ځای کـې چـې مـېږې د شـپې لـه خـوا پنډېږي، هغـه ځای تـه "کـه ګه" (کـړه) وایـي کـه چېرتـه د ژمـي پـه وخـت کـې ایسـار ورتـه جـوړ شـي، بـانې دېوال، بـاره یـا غنـي او منډور تـه واچول او جـوړ شـي، هغـه تـه شـپول او ویـاړه هـم ورتـه واي. کـه چېرې پـه کـوم ځای کـې لـړ یـا ډېرې مـېږې پنـډې شـي، یـا پنـډېږي، هغـه ځای تـه پنډغـالی هـم وایـي، چـې کـوچیـان پنډغـالي د خبرو پـه منـځ کـې داسـې یادوي نن غرمـه زمـا مېږو لـړ پنډغـالی وکـړ. یـا نـن مـې مـېږې خپـل پنډغـالي تـه و نـه رسولې یـا د غرمې لـه مخې مـېږې پـه کـرار پرېږده، چې پنـډ غـالی کـوې پـه دې لاندې څو خبرو کـې بـه وزنـي او مړنـي مـال ګډ سـره یـاد کـړو لکـه د رمـې او تـوی پـه سـر کـې چـې کـوم پسـه هـر وخـت لومـړی ځي هغـه تـه سـرکښ واي، خـو بـایـد یـاده کـړو چـې سـرکښ زیـاتره وزنـي وي، منـې نـر وزنـي یـا بـه ووایـو چـې سـرکښ وزګوری وي، کـوم پسـه چـې د څر پـه وخـت کـې د مـال پـه پلـو کـې څرې او د پنډغـالي پـه وخـت کـې د مـال پـه پلـو کـې څملـې، هغـه تـه پلوکـښ وایـي، همدارنـګه هغـه مـېږ یـا وزه چـې د لـوغ (لوشلو) پـه وخـت کـې یـا د سـکول او روز ورکولـو پـه وخـت کـې تراګنـده "ډارنـه" مـال پـه څنـګ کـې دریـږي، هغـه تـه سېږه وایـي، کـوم پسـه چـې د سـرکښ پـه ضـد د مـال پـه اخـر کـې روان وي، کـه څه هـم داسـې پسـه غـوښن وي، هغــه تـه اخرکـښ وایـي، همدارنـګه کـوم پسـه چـې د اوبـو څښلـو پـه وخـت کـې اوبـه سـمې نـه څښي د اوبـو بـر لـور تـه منـډې وهي، هغه که ګوبی بولـي.

اوس هغه خبرې یادوم چې د پنډغـالي پـه ارتبـاط کـېږي وایـي.

- د پلانـي کـور د پلانـي خپلـو پنډغـالي دی، هر وخت دالتـه ناست وي. پنډ غالي ئي ترې جوړ کړي دي.
- د هغـه لـه کـوره پنـډ غـالی مـه جـوړوه
- هر وخت هلتـه پنـډ وي

- د پلو کښښ په ارتباط داسې وايي، که څوك له چا څنګلېرى ګرځي، وايي:
- مېك پلو ته ګروځي پلو کښښ دي
- پلانى ډېر پلوکښښ دى.
- له ځانه د پلوکښښى جوړ کړي.
- هر وخت ته پلوکښښى ګرځي.

د که ګوبي په ارتباط داسې وايي، خو دا هغه چا ته ويل کېږي چې د هر چا کره خواړه اوبه نه خوري، يا يې ښځه نه خوښېږي، وايي:

- پلانى ډېر که ګوبى دى، هر چېرته لاس نه تيتوي.
- دهغه هم نه خوښېږي، ډېر که ګوبى دى.
- له ځانه که ګوبى مه جوړوه.
- ډېر که ګوبى يې.

بايد بې له يادو پاتې نه شي چې ډېر واړه (تندي) وري سره يو ځاى شي هغه ته اُوله وايي، کله چې تندى وري له مېږو څخه په يو ځاى بېلوي، هغه ته امرل وايي امرل د خبرو په منځ کې داسې يادوي، وايي راځئ چې وري وامرو، يا مې وري وامرل يا وري وامري، له امرلو سره په تړون لاندې ويل هم کېږي.

- ټن په بازار کې حکومت جب غله داسې راوامرل ټول يې ونيول.
- ښځې له سريو څخه را بېلې کړې، ښځې راوامرې همدغه وړ د خيرو امرل.
- واړه هلکان له سريو څخه روامري.

اوس راځو وزو ته د ګڼ له پلوه وزې چې له پنځو سو څخه زياتې وي هغه ته توى وايي، کرم خلك چې د تل لپاره وزې ساتي هغه ته وزباکى وايي د وزو پونکي ته وزبه ويل کېږي.

په دې ځاى کې ښه بولم چې د مېږو او وزو ناروغي در يادې کړم، لکه وچنتوب، تبك، لېونتوب، ورخاړې، سپېښين، کريڅښ، ين، خوړينې، مکرين، تېنګك، لمى، لوه، وښى، څورنګي، اجس، د رينډى، پون، بوزمرګک، ټك، تيګه يا تيګه ونې، ترغلون، شينې، تنډېدل، بر، کوه وى، غوزې زېږ زامى، د زخم چنجى، پکه، متوره، پچغلن، پيريه داره، داړلې،

ګونګان خوړل، زهر بوټي خوړل، لګېدلی یا زخمي ...ړه مال څېرول یا جراحي پرخه یا شبنم اخیستل متیازي بندیدل، ګوډه.
اوس مې نیت دی چې هره ناروغي بېله در یاده کړم او ورسره په ترلو خبرو بېل بېل څه ولیکم، تر څو دا وریته (جوته) شي چې کوچیان دواړه مال پالنه څه وړ (خېل) کوي.

## وچنتوب:

دا رنځ په یوه رمه کې تر دریو کالو پورې اوږدېږي، څرنګه چې د دې ناروغی پړاکی ډېر اوږد دی، نو هرکال چې مېږې په لنګوال پیل کوي، یانې پسرلی د وري (حمل) او غوایی (ثور) په میاشت کې په مېږو کې د دې رنځ نښې ښکاره کېږي، کوم پسه چې په دې رنځ اخته وي، د زمري (اسد) او وږي (سنبلي) په ماشتو کې په کرار کرار په جوړېدو شي، دا ناروغي د ډېرو مېږو د مرګ سبب ګرځي. د یادونې وړ ده چې د دې ناروغی نښې نښانې یه ښځو میږو کې جوتېږي. بله دا چې تر کومې اندازې چې هوا سړه وي، یا سیمه سړه وي په همغه اندازه دا ناروغي په مېږو کې سختېږي.
دلته ښه بولو چې د دې رنځ ځینې نښې په ګوته کړو.
په لنګو مېږو کې د دې ناروغی ښکاره نښه دا ده چې کله له مېږې څخه پی (شودې) راولوشي، شېدې یې په غولانځه کې ویرانې وي، نیمې شینې اوبه یا زوه وي، ورسره د شودو سپین سپین تارونه وي، کله کله د مېږې غولانځ خرابه او پاړسوب پیدا کړي، دا پاړسوب (ډډون) د ځینو مېږو د غولانځې د شړېدو سبب هم ګرځي.
بله دا چې په وچن رنځ اخته د ځینو مېږو د پښو بندونه وپړسېږي، ځینې مېږې بیا داسې شي چې د ښدو څرمن یې سوری شي بیا نو ونه کوي، د دې رنځ بله نښه دا ده چې د یو نیم پسه سترګې ډیر زیاتې پاړسوب (ډډون) وکړي، شنې شنې راوځېږي،اخر دا چې بوټي بوټي ووزې خو دلته باید وویل شي چې دا حالت په سلو کې په څلورو یا پینځو پسونو باندې راځي، که څه هم په وچن رنځ اخته پسه خوراك او څښاك کوي، ولې چې ورځ وزي، ناتوانه کېږي. خپل توان له لاسه ورکوي، پسه نو نځه وي.
اوس به هغه چارو ته راشو چې کوچیان یې د دې لپاره کوي چې مال یې په دې رنځ اخته نه شي، که چېرې په دې رنځ مال اخته شي، بیا څه ورسره کوي؟

لومړی خو دا کوي چې په کوم ځای کې چې په وچن رنځ اخته مال پنډ یا ځرلی وي، له هغه ځایه خپل مال یا رمه ډېره لرې ګرځوي، هېڅ وخت داسې نه کوي چې په هغه ورشو یا پنډغالي خپله رمه وروليي، که چیر ته له وچن رنځ اخته رمې څخه کوم پسه ورته راشي، هغه هم رمې ته نږدې نه را پرېږدي، له لرې څخه یې ایساروي، تر څو مېږو ته را ګډ نه شي.

که چېرته د یو چا په مال کې دا رنځ ګډ شي، د داسې مال څښتن هلبندونو او سړو سیمو ته نه ځي، په داسې ځای کې اوسي چې ګرمه او ښه هوا ولري، بلکه دا چې په دې رنځ اخته مېږې ډېرې نه ګرځوي،تر څو چې کېدای شي دمه (سیاله) ورکوي.

څرنګه چې د دې رنځ پراکې له دریو کلونو پورې ډېر اوږد دی چې په دریو کلو کې له یوې رمې څخه وزې یانې ټوله رمه ترې تېرې نو کوچیان د دې رنځ د ژر تېرېدواولنډولو لپاره داسې تدبیر کوي چې په وچن رنځ اخته میږې را ولوشي، د اندازې له مخې یې په میده مالګه ګډې کړې دلته باید ووایو چې شپانه مال ته د مالګې د ورکولو لپاره غتې غتې مخ لرونکې تېږې ګدې بیا په هغوی تېږو باندې مالګه ورته واچوي،چې کله یې ورته واچوي بیا یې مال مېږې او وزې ځتي اوس به راشو خپلې خبرې ته کله چې دا د رنځورو مېږو پې په مالګه ګډې کړي، بیا دا مالګه په تېږو ورته واچوي تر څو یې ټولې مېږې وځتې.

په وچن رنځ اخته مېږو ته ځینې کوچیان د غرڅه د شېروا روز هم ورکوي، ټولې رمې ته د غرڅه شېروا ور واچوي، همدارنګه ځینې کوچیان د کب (ماهي) د غوښې شېروا ورکول هم ګټور بولي. څرنګه چې وچنتوب یوه اغیکلي ستونزمنه ناروغي ده بیا په ډېرو پښتو کې یادېږي ولې په اتیونه نړي کي موږ سیاسي قضایي او اقتصادي وچن نظامونه یادولي شو.

## تبک:

دا رنځ په مېږو پسېره په وریو سېرلیو او وزو کې هم لګېږي، په واړه مال برسېره غوین مال هم په دې ناروغی اخته کېږي، د تبکجن پسه ښه ښه دا ده چې د څلور بول له خولې څخه لاړې بهېږي. په پښو تلای نه شي، کوترنګ کوترنګ کېږي. په خوله سم خوراك نه شي کولای، له بلې پلوه د څلور بول بدن ځیږ بیږ وي د تبك جن پسه که نور هر ځای خوږېږي خو زیات اثر یې په پښو باندې ښکاره کېږي. په دې رنځ د اخته کېدو څلور بول له دریو ورځو پورې ډېره سخته تبه وي، نه خوراك کولی شي اونه تګ کولی

شـي، دانـاروغي د يـوه نيـم پسـه پـه پـښو بـاندې دومـره اثـر وكـړي چـې د پـښو ښنګري يې ولـوېږي. كـه چـېرې پـه داسـې وخـت كـې دا رنـځ پـه مـېږو يـا وزو كـې ولـګېږي چـې بلاربـې وي يـانې وري او سـېرلي يـې پـه نـس كـې وي، نـو زيـاتره مـال بچـي اچـوي كـه چـېرې پـه وړو وريـو او سـېرلكيو كـې دا نـاروغي ولـګېږي پـه سلو كې نـوي (۹۰%) وژنـي.

پـه پـاى كـې بـه ووايـو چـې د دې رنـځ د دپـې لپـاره كـوچيـان كـوم ځانـګړى ړوز نـه لـري، يـوازې پـه دم تعويـذ بـاندې تكيــه كـوي، يـانې د دې رنــځ د دپـې لپـاره دمونـه كـوي.

## لېونتوب يا لېونــي كـېدل:

پـه دې رنـځ بــاندې مـېږې او وزې دواړه اختــه كـېداى شـي او امـا واړه وري او سـېرلكي لـه دې ناروغـۍ څخـه خـلاص دي، ګواكـي پـه دې رنـځ نـه اختــه كېږيي، د لېونتـوب رنځ د وچې ګيا پـه وخت كـې نـه وي كـه بيـا وي هغـه نشـت يـادېږي، څه وخت چې د پسـرلي شـين كـنډى ولـګېږي، دا نـاروغي پـه مـېږو او وزو كـې پيـدا او ډېره شـي، كـوم پسـه چـې پـه دې رنـځ اختــه شـي، دجـوړېدو امكان يې ډېر كـم وي، نـو د دې لپـاره چـې مـال پـه دې ناروغـۍ اختـه نـه شـي، كوچيان ځينې ړوزنـه پسـرلي روغـو مـېږ او وزو تـه وركـوي، پـه دې ړوزنـو كـې بـه لومـړي ړوز ګمبېلـه يـاده كـړو ښه صافـه (پيجـوه) ګمبېلـه لمـده كـړي، لـه نيمـې كيلـو څخـه كـابو څلوېښت ګولـۍ يـا غـوټۍ د اندازې لپـاره جـوړې كـړي كلـه چـې ړوزې مـېږ يـا وزه را ونيسـي پـه لـږ اوبـو كـې دا غــوټه يـا ګولــۍ رنــګوي، بيـا ئـي پســه تـه وراچـوي، پـه دې ترتيـب د سـهار لـه مخــې دا ړوز وركـړي بيـا يـې اوبـه خـور تـه بـوزي، ښې جـلاب شـي ورخـرېږ ، كولمـې يـې ښې سـوتره (پېجـوي) شـي پـه دې پسـې بـل ړوز نيـل توتيـا وركـوي، كـابو د يـوې سپينې كابلۍ روپۍ تولـه نيـل توتيـا پـه پنځوس بلغمـي پيـالو اوبـو كـې اچـوي بيـا يې پنځوسو مېږو تـه وركـوي.

همدارنــګه د غوايــي د غــوښې غوټينــه شـېروا هـم وركـوي، شـېروا جـوړه كړي، كـابو يـوه پيالـه شېروا يـو پسـه تـه ور اچـوي، كـه چـېرې پـه دې رنـځ پســه اختـه شي، لومـړى نـښه يـې دا ده چې پسـه ډېر زيـات ورخـړى يـانې پـه رخښتـو پيـل وكـړي. بلـه دا چـې پسـه روان وي، پـښې پـه خپـل ځاى نـه شـي كـښېودى، الوتـه الوتـه پـښې بړدي پسـه تـه ځان د رمـې پـه منـځ كـې ځانـګړي ښكـاري لنـډه دا چې دمـاغي حالت يې ګډوډ وي، كلـه كلـه داسـې بـې هوښه شـي سـړى خيـال كـوي چـې ويـده دى، كـابو يـو سـاعت يـا دوه سـاعته پسـه دا پورتـه يـادې نـښې

ښکاره کوي، وروسته له هغه څلور بول بې اختیاره لوېږي لکه د لېونتوب ناروغي چې ورته وایي، له څملاستو څخه وروسته خوله سر او سترګې لېونی لېونی بې واکه ښوروي،لګتې وهي سر په ځمکه ځمکه وهي تر څوسا ورکړي مړ شي

لکه مخکې چې موږ ویلي له لېونتوب څخه د پسه جوړېدل ناممکن وي، خو بیا هم دا روز نه ورکوي، لکه تمباکو بوره د څېړې د پېټ اوبه مستې او تروې، که چېرې تمباکو ورکوي د اندازې له مخې کابو یو چارماغ (غوز) تمباکو په اوبو کې ورته نري کړي، بیا یې لېوني پسه ته ور واچوي، همداسې نور هم د اندازې له مخې ورکوي اما ځینې کوچیان په رنځ د اخته پسه غوږونه او سر ور داغي، یانې سر او غوږونو ته واړه واړه داغونه ورکوي.

## ورخاړي:

د ېر کوچیان د ورخاړي او لېونتوب ناجوړي سره یوه بولي، اما ځینې مالدار کوچیان بیا دا ناروغي یوه له بلې څخه بېلې ګڼي، کوم پسه چې د ورخاړې په رنځ اخته شي، په رخښتو پیل وکړي، کومې نورې نښې چې په لېوني پسه کې موندل کېږي، هغه په ورخاړي کې نه وي، د ورخاړي پسه رخړې رخړې تر څو د ناتوانی له امله مړ شي، د دې رنځ د دپې لپاره هم کوچیان کوم روز نه لري، یوازې دا کوي چې مال ته ورشو او میله بدله کړي، مني له یوه ځای څخه ئې بل ځای ته بوزي.

## سپېښین:

دا ناروغي یوازې په مېږو کې پیدا کېږي،په دې رنځ باندې وزې ډېرې کمې اخته کېږي. په دې رنځ اخته پسه کې دا نښې وې، چې توخېږي، له پوزې (پزې) څخه یې سره ګرنګ راوزي. یانې سره ګرنګ کوي بله نښه یې دا ده چې پسه ججوري کوي، هسې خو کرڅېن پسه هم ججوري کوي خو د سپېښین پسه ججورې ډېر لوی وي. تر لاندې شونډې څخه نیولې تر کتوك پورې وي په دې رنځ اخته پسه چې توخېږي، مری او سږې یې ډېر شور کوي ته به وایي چې مری یې له څګه ډکه ده. د دې رنځ نښې په مال کې هغه وخت ښکاره کېږي چې مني په اخر او د ژمني پیل وي په دې رنځ اخته پسه ته چې څومره ښه خواړه ورکول کېږي، هېڅ ګټه نه ورته رسوي. چې ورځ

وزي، مـال كـم توانـه كـېږي، تـر څو مـړ شـي،د دې رنـځ د دېـې لپـاره چـې کوچيان کوم ږوز نه ورکوي،په هغوی کې به لومړی خوسا ږوز ياد کړو.

خوسـا ږوز داسـې جـوړوي چـې د مـېږو د انـدازې لـه مخـې يـوه انـدازه ينجـه، اوړه، ترخـه يـا مسـتياره، ترخـه او پـه ډېره کمـه انـدازه سـره مـرچ دا ټول سره ګډ کـړي، اوبـه پکـې واچوي، لـوښی د سرې پـه ډېران کـې ومنډي. تـر اوو ورځو پـورې يـې پـه ډېران کـې منـډلی وي، تـر څو ښه خوسـا شـي، بيـا يـې چـې کلـه راوباسـي، لـه نـري رخت څخـه يـې چـڼ کـړي، دا چـڼ کـړی ږوز بيـا يـوه ګوتمه د هر پسه په کينه سپږمه کې ور اچوي، تر څو يـې سږيو (سـګيو) تـه ور ورسـېږي، دلتـه يـې بـايد يـاده کـړو چـې سپـېـسـی يـو ژونـدی چنجـی دی چـې د تاروغه پسه په سږو (سـګيو)کې يې په زيـات شـمېر سـره ځای نيولـی وي.

د سپـېسـين رنـځ بلـه دوايـي د څغـځي يـا اوبښتـي د بمبلـو (پـانو) دوګ دی چـې د اوبښتـي ونـه يـا بـوټی د افغانسـتان د پکتيـا او د پاکسـتان د کاغـانو پـه غرونو او درو کـې پيـدا کـېږي، دا بـوټی د سـروې پـه څېر بمبـل يـا پـاڼي او شـين کنډي لـري خواوبښيتـه ډېر تيـټ بـوټی يـا ونـه لـري، د څمکـې پـه مـخ يـې هـم خاښونـه پراتـه وي، دا بـوټی کـوچيـان راوشـکوي، مـېږې پـه ښـده کـوټه يـا سـمڅ خـوال او ګاره کـې ورتـه ودروي چـې پـه دې ښه پـوه شـي چـې تـوک د بـاندې نـه تـرې وزي نـور نـوپـه دې ايسـار کـې د څغـځي (اوبښتـي) دوګ (دود) ورتـه جـوړ کـړي تـر څو يـې ټولـې مـېږې د سـا ښکلـو يـا تنفـس لـه لارې وڅکـوي،او سـږيو (سـګيو) تـه يـې تـېر کـړي، پـه پـای کـې بـه دا ووايـو چـې ډېر پـه زياتـه انـدازه د اوبښتـي دوګ (دود) پـه مـېږو تنفـس کـوي.

## کـرېڅين:

د يـادولو وړ ده چـې کـرېڅي يـو ژونـدی شـي ده چـې د پسـه پـه ينـه کـې استوګنه لري، کرېڅي پـه واړه مـال برسـېره پـه لـوی مـال کـې هـم ليـدل کـېږي، د دې رنـځ نښې پـه پسـه يـانې مـېږو او وزوکـې د لينـدی او لـړم پـه مياشـتو کـې ښکـاره کـېږي، کـوم پسـه چـې کـرېڅين وي،لومـړی نـښـه پکـې دا ويـې چـې وړوکـې جـجـورې وکـړي، لکـه مخکـې چـې مـوږ ويلـي چـې د سپـېسـين پسـه جـجـورې لويـې وي، نـو د کرېڅيـن پسـه جـجـورې ډېر اوږدزنـې پـه لانـدې خـوا غـوچوړې کې را پيدا شي،کوم مال چې پـه يـوه ورشـو کـې سـره څروتـی وي،کـه چـېرې پـه هغـوی کـې يـو پسـه جـجـورې وکـړي، نـو دا جوتـه شـي چـې ټول مـال کرېڅيـن دی، بيـا نـو کـوچيـان دا ښه ګڼي چـې ټول مـال وږوزوي، ږوز ورکـړي.

ددې رنګ د دې لپاره يو روز د مستياري (تريخ بوټى دى) چې د افغانستان د کابل لوګر او وردګو په سيمه کې پيدا کېږي، دا ترخه کوچيان را وشکوي ټکولې يا نه ټکولې يې په ديګي يا ټيم کې واچوي، اوبه ور واچوي، ديګ ئ په اور کېږدي، ښه زياته يې و ايشوي. تر څو يې په اوبو کې ښه خوند ووزي، او اوبه ښې ترخې کړې، بيا خځله ځينې لرې کړي، د ترخې اوبه د اندازې له مخې پسه ته يوه بلغمي پياله ورکړي.

د دې رنګ د دې لپاره بل روز زرېره ده دا بوټى د لوګر په غرونوکې پيدا کېږي، کوچيان د دې بوټي بيخ ولې را کاږي، دا هم په اوبو کې وځوښوي، تر څو اوبه ښې ترخې کړي، دا روز هم کابو يوه پياله هر پسه ته ورکوي.

په پاى کې به زياته کړو چې کوچيان ښه لار دا ګڼي چې د منى په موسم کې په شلګرو (شول ګرو) او جرينو سيمو کې مال و نه پول شي، تر څو مال سپنسي او کرېځي و نه کړي، په دې ناوړه ناروغيو اخته نه شي.

## ين خوړينې:

لکه له نوم څخه چې يې جوتېږي، په دې رنګ د اخته پسه په ينه کې نقصان وي، بياد وويل شي چې په دې رنګ باندې مېږې او وزې دواړه اخته کېږي، دا تبا کوونکې ناروغى د منى په اخر د ژمي په پيل کې په مال کې ښکاره کېږي. کله چې په دې رنګ کوم پسه اخته شي، ډېر وخت نه توانېږي، مري، خو کوچيان چې کله په خپل مال کې د دې ناروغى نښې ووينې ټول مال ته روز ورکوي. دلته بايد ووايو چې د ين خوړينې پسه يوه نښه دا ده چې د پسه له پچو سره وينه راځي، يانې کله چې پسه پچې کوي، ورسره ورسره د وينې نتار او ټوټه وي، بله دا وي چې يو نيم پسه چې کله پچې کوي، له پچو کولو سره ستو (زور) کوي، په دې ناروغى اخته پسه چې کله مر شي، او ينه يې اور ته ونيول شي، په ينه کې يې د اور توان نه وي، شنېره پيره تويه شي، هسې رنګه تله شي.

اوس راځو هغو روزو ته چې کوچيان يې ين خوړينى پسه ته ورکوي پّه دې روز کې به لومړى ياده شوې زرېره ياده کړو لکه مخکې مو چې ياده کړې ده، دا زرېره وځوښوي، هغه ترخې اوبه کابو يوه بلغمي پياله هر يوه پسه ته وراچوي دين خوړينې رنګ ددې لپاره بل روز کور يې دي کور ئي يوازغن بوټى دى چې د پکتيا په غريزو سيمو وست کې پيدا کېږي د دې بوټي هم د زريړي په څير ولې را کاږي بيا يې د زريړي په څېر په اوبو کې

ایشوي چې کله یې په اوبو کې خوند ووزي خټله ترې چاڼ کړي دغه اوبه روز هم یوه پیاله هر یو پسه ته ور اچول کېږي همدغه رنګه ددې رنځ ددپې لپاره یو بل روز سره ککنه ده ددې هم بیخ را ایستل کېږي بیا ایشول کېږي ترخې اوبه یوه پیاله پسه ته وراچول کېږي.

باید زیاته کړو چې ددې رنځ د دپې لپاره یو بل روز چې ډېر ګټور ګڼل کېږي د انګورو سورکه ده دا روز منې سرکه هم په بلغمې پیاله یا لږ کم یوه پسه ته ور کول کېږي.

## مکړین:

مکړین یا مکړن رنج د کوچیانو د وینا له مخې له خړو اوبو څخه اخیستل کېږي ددې رنځ نښې که په رمه کې ولیدل شي کوچیان سم له لاسه ټولې رمې ته روز ورکوي د دې ناجوړي ښکاره نښه داده چې د وچې ګیا (وښو) په وخت کې یو ناڅاپه پسه ډېر بد بد ورخړي یو نیم یا کوم یو پسه له رخښتو سره له کولمو څخه مکړي وغورځوي له د ناروغې څخه هم د مال د خلاصون لپاره کوچیان یو روز ګمبیله ورکوي د مال د اندازې له مخې ګمبیله لمده کړي کابو له یوې کیلو ګمبیلې څخه اتیا غوټې جوړې کړي بیا چې کله روزي په پسه باندې پښ واړوي هر پسه ته په یوه پیاله اوبو کې یوه غوټه رنګوي بیا یې په خوله کې ور تویه وي یا ور اچوي.

د مکړین رنځ د دپې لپاره بل روز تمباکو دي کابو یوه کیلو تمباکو لامده کړي پنځوس غوټې ترې جوړې کړي بیا پسه ته د ورکولو په وخت کې په یوه پیاله اوبو کې یوه غوټه رنګوي ور اچوي یې.

## ټینګ لمی:

دا ناروغي کوچیان له ډېرو سړو څخه را پیدا کېدونکې ګڼي، دلته باید دا په ګوته کړو چې په دا ناروغۍ باندې مړیې مال په ژمي کې اخته کېږي، د دې ناروغۍ جوته (څرګندنه) نښه دا ده چې په ژمي کې به د پسه لم سپینه نه کمېږي، کله چې لم ته لاس ور وړي، لم به یې داسې کلک وي لکه تیږه (ډبره) څکه خو ټینګ لمی ورته وایي، دلته به ووایو چې لم یې پر ځای وي، خو پسه ورځ په ورځ ناتوانه کېږي، بې ځایه به نه وي چې ووایو چې په دې ناروغۍ باندې ټوله رمه نه بلکې په رمه کې یو نیم پسه اخته کېږي، نو کله چې کوم یو پسه ټینګ لمی شي، په دوام لرونکې ډول ګرمه (توده) ډوډۍ (ټکله) ورکوي، له خپله وسه داسې پسه تود ساتي. د دې رنځ

د دېې لپاره د تمبکو او د غنمو د اوبو روږ هم ورکوي، بياد جوته کړو چې يوه اندازه غنم په اوبو کې واېشول شي بيا پتوکې (پوستکي) تري لرې کړي، يوازې شيره يې د يوې پيالې په اندازه اچول کېږي، ورسره د تمبکو يوه غوټه رنګېږي، بيا ټينګ لمې پسه ته ور اچول کېږي، د تمبکو اندازه مو په مکړين رنځ کې ښودلې ده.

له دې ناروغۍ څخه د پسه د ښېګړې لپاره بل روږ د مالګې سورکه (سرکه) ده يو کنډک مالګه راواخلي يوه شپه او يوه ورځ يې په اور کې کېږدي، کله ئي چې را وباسي، ښه يې ميده کړي، داندازې له مخې په يوه پياله اوبو کې لږ مالګه اچوي، هر ټينګ لمي پسه ته يې ور کوي.

اوس به هغه خبرې يادې کړو چې د ټينګ لمي په ارتباط کېږي، دوی وايي:

- دا وطن يا سيمه خوډېره سړه ده، چې پکې ټينګ لمی نه شو.
- په دې کوټه کې سړی ټينګ لمی کېږي.
- داسې ساړه دی چې ټينګ لمی شوو.

## لوه:

دا يو بل رنځ دی چې ښبې يې په مړيې مال کې ليدل کېږي، د کوچيانو د وينا له مخې لوه په دوه ځيله يادېږي، توره لوه او سپينه لوه د توري اوسپنې لوی د رنځ په ښبنو کې کوم بېلوالی نه يادېږي، خو کوم پسه چې ډېر وخورېږي، هغې ناروغۍ ته د توري لوی نوم ورکول کېږي، وايي د دې پسه توره لوه ده. د لوی په رنځ په رنځور پسه کې دا ښبې وي چې خوراك نه کوي، بدن يې خيږ ښېږ ښکاري. په مخکې دواړو پښو تګ نه شي کولای، په دواړوپښو تپرېږي، ته به وايي چې په کوګل کې د ګنډلی دی، کله کله د لوی په ناروغي اخته پسه سرې متيازې وکړي يعنې د وينې رنګ په کې وي.

کله چې په دې رنځ پسه اخته شي، لومړی مرسته له رنځور پسه سره شپه دا کوي چې دواړه غوږونه يې وچته وچته کلك کلك مروړي، دواړه ولې يې مښي (کښمنډي يې) بيا دواړو پښو ته داسې ورزښت ورکړي چې يو وار يو ه پښه په اور مېږ ور واړوي، بل وار بله پښه په ور مېږ ور واړوي.

د دې رنځ د دېې لپاره يو کار دا هم کوي چې د بل تور پسه متيازې يوه اندازه په سپږمو کې ور اچوي، همدارنګه د دې رنځ يوه بله دوايي داسې کوي چې دوه تيږې (ډبرې) په اور کې سرې کړي، بيا يې په دواړو غوږونو

کې دننه لور ته ور کېږدي، غوړونه يې ټينګ پرې ونيسي، تر څو يې په سرو (ګرمو) تېږو داړه غوړونه وسوزي. د لوی په ناروغي رنځور پسه باندې يو بل طبابت هم کوي، هغه دا چې دواړه غوړونه يې په سرو (ګرمو) اوبو کې تيته وي تر څو ښه وسوزي.

د لوی په رنځ اخته پسه ته اومه هګۍ هم ورکوي دا ړوز داسې ورکوي چې پسه ونيسي اومه هګۍ په خوله کې ورماته کړي، تر څو هګۍ له پټوکيو سره وخوري د هګيو د شمېر په باره کې دومره وايو چې په ورځ کې کابو درې هګۍ ورکوي تر دريو يا څلور ورځو پورې.

په پای کې بايد زياته کړو چې د لوی رنځ نښې که په کومه رمه کې وليدل شي کوچيان د رنځ د مخنيوي لپاره د مونه هم کوي ځينې دمګري بيا يو بل ور کار هم کوي، چې ټوټکه بايد ورته ووايو دا چاره داسې کوي چې د غولانځي په غوړيو کې درې يا زياتې وړې وړې ټکلې (ډوډۍ) څوکې د دمګر په امر او لارښوونه پخې شي، چې کله څوکۍ پخې شي د مګر د رمې په منځ کې کښېني، ډوډۍ (څوکې) مخې ته کېږدي، يو کس له دمګر څخه لرې ودرېږي، دا اواز ګار کس دمګری ته غږ وکړي ورته ووای فقيره (ستانه) يا ملا صاحب يا صاحبزاده صاحب يا ملنګه څه شی خورې؟ فقيري ملا ملنګ يا صاحبزاده په ځواب کې ورته وايي، لوه خورم له دې وينا سره سمه يوه خوله ډوډۍ وخوري په دې ترتيب سره وزګار کس پوښتنه تري کوي څه خورې؟ دمګری په ځواب کې وايي لوه خورم، د لوي د خوړلو چاری پای مومي.

دلته بايد دا جوته شي چې د لوي په رنځ باندې ټوله رمه يو مخيزنه اخته کېږي، په ډېره ګنه (خنګه) رمه کې د ګوتو په شمېر يو څو پسه ناروغه يا د لوی د رنځ نښې پکې ښکاره کېږي.

### وښئ:

دا نـاروغي د مرېـې مـال پـه پـښو کـې ښکـاره کـېږي، لـګېږي، کـه ووايـو بـې ځايـه نـه دي، چـې دا نـاروغي د کـوچيـانو پـه منـځ کـې پـه بېلـو بېلـو نومونـو سـره يـادېږي چـې د مثـال پـه دود بـه ووايـو د هغـو کـوچيـانو پـه منـځ کـې د ښنـګري د دانـې پـه نـوم يـادېږي، چـې پـه پخـوا بـه يـې پاکسـتان تـه تـګ او راتـګ کـاوه او د افغانسـتان د شـمالي سيمو مـالدار يې د مويـك پـه نامـه يـادوي، همدارنـګه دغـه نـاروغي د پکتيـا د لـوري احمـدزي کـوچيـان د وښي پـه نـوم سـره يـادوي، د وښي د رنـځ پـه ارتبـاط بـه دا هـم ووايـو چـې دا نـاروغي پـه ځينـو سيمـو کـې پـه مـال بـاندې ډېره سخته شي او پـه ځينوسيمو کـې بيـا اسـانه پـرې تـېره شـي.

د دې ناروغۍ لومړۍ اوجوتـه نښـه دا ده چـې د څلـور بـول پـه يـوه يـا دوو يـا هـم څلورو واړو پـښو کـې د دواړو ښنګريـو لـه منـځـه يـوه وړه دانـه پيـدا شـي، لـه دې سره سم پسه تبجن غونډې ځير بير شـي کـه چېرتـه پـه پسـه بـاندې اسـانه تـېرېږي، نـو دانـه ډېره وړه ښه شـي ځو ورځې پسـه نـګوښي رنـځور شـي، سـووکه لـه ناروغـۍ څخه تېر شي. دلتـه بايد يـاده کړو چـې دا نـاروغي پـه پاکسـتان کـې پـه مـال بـاندې دومـره سـختېږي چـې د مـال ښنـګري ولـوېږي ان چـې د ځينـو مېږو واړه وخـېژي کـاره شي، د کـوچيـانو د وينـا لـه مخـې پـه پاکسـتان کـې چـې پـه يـوه رمـه کـې ګډ شي تر دريوکـالو پکې تـوګېږي چـې پـه د بينـا سـاري او يـو بـل تـه تلونکـي نـاروغي ورتـه ويلای شـو.

د افغانسـتان پـه شـمالي برخـو کـې د مـالدارو د وينـا لـه مخـې کـه چېرې پـه پسـه کـې دانـه وليـدل شـي، يـانې پـه لومـړي وخـت کـې نـو د دانـې د سـپيازولو ښه لاړ دا ګڼي چې د دانـې پـه سـر کـې د زوسـپين تـار وي دا تـار چـې د ګوتـو يـا توسـې پـه وسيله تـرې را وايسـتل شـي نـو بيـا دانـه لـه خپلـې ودې څخـه لـوېږي ډېر زور نـه نيسـي، پسـه ژر تـرې جـوړېږي.

کـه چېرې د پسـه پـه پښه کـې زخم پيدا شـي، نـو بيـا کـوچيـان پـه پرهـار بـاندې د ځينـو شـيانو پـتـې ورلـګوي، لکـه د خولـې ژاولـه. ښايـي جوتـه شـي چـې خولـه د ځمکې پـه مـخ يـو کـوچنـی پلـن پـانی بـوټی دی چـې پـه افغانسـتان کـې پـه هلبندونـو کـې د هـزاره جـات پـه سـيمه کـې ښه ډېر پيـدا کـېږي، همدارنـګه د ګنـده نـار، زنغـوزي، منـځـې د ژاولـې پـتـې هم پـرې لـګوي، پـه يـادو شـويو ژاولـو برسـېره د يـوې نيمـې پـتـې لپـاره اومـان وايشـوي چـې کلـه ښه وخوښي بيـا ځخلـه تـرې لـرې کـړي اوبـه يـې بيـا ډېرې وايشـوي تـر ځو ځوښا تـرې جـوړه کـړي، هغـه هـم پـه پرهـار ور لـګوي، د يـادولو وړ ده چـې يـو بـل بـوټـی هـم د پـتـې پـه دود د وښې پـه زخـم ورلـګوي، دا بـوټـی پـه لـوي هندوسـتان کـې پـه هديـرو کـې پـه قـبرونو ولاړ او شـين

وي، چې د کرغوندل زقوم په نوم سره یادېږي. د دې بوټي پاڼې را وشکوي، په اور (پوړنده) کې یې لږ ګرمې کړې بیا یې په زخم (پرهار) وروتړي، په پای کې باید ووایو چې ډېر مال یا رمه پټې کول یا پټی. پرې لګول یو ګران کار دی، خو یاد شوي شیان د زخم (پرهر) د جوړولو لپاره ګټور ګڼل کېږي، دلته باید زیاته کړو چې د یادو شویو شیانو پټې کوچیان د انسان په زخم (پرهر) باندې هم ږدي، هر وخت د زخم د ښه کولولپاره یادې پټی. په ښه راولي.

د کوچیانو د وینا له مخې د وښي یا د ښنګریو د دانې د دپې او ښه کولو لپاره ډاکټران په زړه پورې او پوره دوا نه لري، کومه دوایي چې کوچیان د دې رنځ د دپې لپاره په کار راولي هغه د "اوسکي تتراسېکلین" یا "تړیماسین" پنځوس سیسي ستنې دي چې د مال په غوښه کې یې ورپېچکاري کوي او هم یې د رنځور پسه په زخم ورپوري کوي او څڅوي.

په پای کې باید دا هم یاده کړو چې د دې رنځ د دپې لپاره کوچیان دم او تعویذ ته هم لاس اچوي، ستانه وو، پیرخانو، ملایانواو ملنګانو باندې دمونه او تعویذونه کوي.

## څورنګی:

دا ناروغي په تندیو (کوچنیو) وریو کې په هغه وخت کې لګېږي کله چې د پسرلي په اول وخت کې میږه لنګېږي کله چې پسرلي په اول وخت کې مېږې لنګې شي وری لاد مور شودې خوري (روي) د څو رنګي د ناروغی. نښه دا ده چې وری په یوه یا دوو یا هم په څلورواړوپښو شل غوندې یا خوږمن شي، د یوه نیم وري په ورمېږ کې هم د دې ناروغی. نښې ښکاره شي، ورمېږیې خوږمن یا کوږ غوندې شي، سری له ورا پرې پوهېږي چې د وري خوږ په پښو او ورمېږه دي باید جوته کړو چې د دې رنځ د دپې لپاره کوچیان کوم رغ یا دوایي نه لري، د دې رنځ دپه دم او تعویذ تکوو پتري بولي، هر وخت د څورنګي له رنځ څخه د مال د خلاصون لپاره دمونه او تعویذونه کوي.

## اجس:

یوه بله ناروغي ده چې زاړې وري او مېږې په دې ناروغی. اخته کېږي، د کوچیانو د وینا له مخې د ا ناروغي مېږو ته په بېلو بېلو وختونو کې لګېږي او د لګېدو ئي بېل بېل سببونه وي، کله کله په ژمي کې په دې رنځ مېږې اخته کېږي، د ژمي په موسم کې د ناروغی. د راتلو سبب دا ګڼل کېږي چې د مېږو د شپې د اوسېدو ځای و یاړه یا شپول ډېر تنګ وي او مال پکې ډېر وي یو په بل سره اوړي راوړي نو مېږې اجس کوي.

بـل وخـت د اجـس د لـګېدو هغـه ښوول شـوی چې د پسـرلي د سـر شـپې ورځې ولـګېږي ځرمونـی شـي لـور پـه لـور سـيمه شـين کنـډي شـي، يـانې شـين شـي، خـرك ولـګېږي، پـه دې وخـت کـې چـې دوه دروګه يـا دوه ځايـه مـال سـره ګډ شـي، نـو اجس کوي، د اجس نـاروغي پکـې لـګېږي.

بـل سـبب يې دا ښودل شوي ده چې کـه پـه رمـه کـې يـوې يـا څو کـم ښـمېر مـېږو تـه غـوړ ړوز ورکـول شي، بيـا ړوزول شـوی مـېږې لـه نـورو مـېږو سـره شـپه تـېره کړي، نو د اجس نـاروغي پکـې لـګېږي.

اوس بـه را شـو د اجـس رنـځ نـښـو نښانـو تـه د دې رنـځ جوتـه او لومـړی نـښـه دا ده چې د مـېږو د وړيـو رنـګ بـدل شـي، خپـل عـادي رنـګ او ځلا يـې ورکـه شـي، د وړيـو رنـګ يې لـه خپـل اصل غـوړپيسـن (غـوړچـك) خيرن او تـور غونـډې شـي، يـا پـه بله وينا د وړيو ګل يـې بـد رنـګ او شـوته شـي، بـل نـښـه يـې دا ده چـې مـېږ لـه خپـل عـادي بـوی څخـه پرتـه بـل ځيـل بـوی کـوي، د کـوچيـانو د پوهـې لـه مخـې لـه خپـل عـادي بـوی سـره تـوپير لـري، چـې دوی پـه جوتـه پـرې پوهـېږي، بلـه دا چـې توخـېږي.

اوس ښه بولـم چې د ژمـي د اجـس د دېې پـه بـاره کـې څه ووايـو کـه چېرتـه پـه ژمـي کـې پـه مـېږو کـې اجـس ولـګېږي، نـو دا ښه ګڼل کـېږي چـې لـه شـپاله څخـه مـال ووزي، پـه داسـې ځای کـې پنـډ شـي چـې خلاصـه سـپيځلې هـوا ولـري، بـل دا چاره ښه يـادېږي چې د شـپې لـه خـوا څو واره مـال وکشـېږي، تـر څود شـپې ځر او هـوا خـور وکـړي، خـوا وغـړوي، د پسـرلي او ځرمـوني د اجـس پـه بـاره کـې بـه دا ووايـو چې هېڅ کوچـۍ داسـې نـه کـوي چـې ځرمـوني دوه دروګه يـا دوه کنډکـه مـال سره ګډ او يو ځای کړي، کـه چېرتـه د يـو چـا خپـل مـال پـه ژمـي کـې دوه ځايـه وي، د اجس د رنـځ د پيـدا کـېدو لپـاره يـې تـر هغـه پـورې نـه سـره ګډوي، تـر څو چـې پسرلی تولـې مـېږې پـه شنه ښه وي مړې شوې، يـا تولـې مـالدارې شـنه نـه وي کـړې، پـه پـای کې بـه د غـوړ ړوز پـه ارتبـاط دومـره ووايـو چې اول خـو غـوړ ړوز پـه رمـه کـې څو پسـونو تـه نـه ورکـوي، بيـا يـې کـه کـوم پسـه تـه د ضـرورت لـه مخـې ورکـړي، هغـه ړوزول شـوي مـال لـه رمـې څخـه د لنـډ وخـت لپـاره بېلـېږي، تـر څو د غـوړ ړوز اثر پکـې ورك شـي.

ښايـې جوتـه کـړو چـې د اجـس لـه رنـځ څخـه د مـال د ښه کـېدو او ښه دوا شـنه وابنه ګڼل کيږي، د کوچيـانو پـه مـال کـې چـې کلـه اجـس ګډ شـي، يـا اجـس واخلـي نو پـه شنو يې مړوي، دا کـوښښ کـوي چـې زيـات شـنه پـه مـال بـاندې وخـوري، تـر څو اجـس واچـوي.

د يـادونې وړ ده، کـه چېرتـه د پسـرلي پـه موسـم کـې پـه بلاربـو مـېږو کـې اجـس ولـګېږي (اجس وکړي) بيـا زيـاتره مـېږې وړې اچـوي، يـا خـړېږي.

په دې ځای کې سودمنه ګڼم، چې د وریو د اجس په ارتباط هم څه ولیکل شي. کله چې وری ښه غټ زاړی شي، عمر یې له دریو میاشتو پورې شي له مینډو څخه بېل شي، دومره عمر ته ورسېږي، چې په خپله خوله څرې لو ځان مړولی شي. نو که په دې وخت کې وری د ډېر وخت لپاره په نمناکه ځمکه پنډغالي وکړي او یا دا چې د تندې په وخت کې ښې پاکې (پېچوی) اوبه ورته و نه رسېږي، بیا داسې پېښېږي چې وری هم په اجس اخته کېږي، د وړو وریو د رنځ نښې هم د مېږ د نښو په څېر وي، د وریو رنګ یې بدل شي، بوی کوي، خو وری رټ زیات تو خېږي، د وریو د اجس د دېي لپاره کوچیان لاندې روزونه ورکوي.

په دې روز کې به لومړي د کښتې نوم یاد کړو ښه تروه (تروشه) کښته په لوښي کې واچوي، سړې اوبه پکې توبه کړي، ګهیخ له بېګا یا له بېګا تر ګهیخ پورې یې کېږدي، تر څو کښته په اوبو کې ښه خورینه شي، بیا یې ښه چنګال کړي، کښته پکې رنګه کړي، شربت ترې جوړ کړي، بیا دا د شربت روز یوه پیاله هر وري ته د ښکر په واسطه په خوله کې ور اچوي.

بل روز نکریزې دي، په نکروزو کې سړې اوبه واچوي (تلي کړي) تر دوو ورځو پورې یې کېږدي، تر څو د نکریزو خوند او رنګ پکې ووزي، بیا دا د نکروزو د اوبو روز یوه پیاله هر وري ته ورکوي.

## درینډې:

دا ناجوړي په واړه مال برسېره په اوښانو کې هم پیدا کېږي، د دې رنځ نښه دا ده چې پسه لټ په لټ کونډې کونډې اوړي، سړی داسې پرې پوهېږي چې د پسه په نس او کولمو کې خوږ دي، د درینډې په رنځ اخته پسه چې مړ شي، یوه ټوټه کولمه یې بیخي توره وي، نورې کولمې یې سپینې اوښتې وي، یانې سپینې له باده ډکې وي.

که څه هم کوچیان د دې رنځ لپاره کومه ځانګړې دوا نه لري، خو بیا هم ځینې شیان رنځور پسه ته ورکوي، لکه سپېرکی او بادیان دا دواړه په اوبو کې واېشوي له خوښ څخه وروسته یې ساړه کړي، یوه اندازه د شړشمو تېل (خواړه) تېل ور سره ملګري او ګډ کړي، بیا څو ساعته وروسته پسه ته یوه پیاله دا روز ورکوي. بله مرسته له پسه سره دا کوي چې له سرو اوبو څخه یې ایساروي، که بیا چېرته پسه ترې ورته ښکاره شي، اوبه ورته پخوي، چې کله سړې شي بیا پخې اوبه ورکوي تر څو د پسه تنده پرې ماته شي.

## پـون:

لکه مخکې چې مـونږ يـاده کـړې چې د پـون پـه رنـځ ټول مـال اختـه کـېږي، لـه مـال څخه انسـان تـه هم پون ځي، کوم سړی چـې لـه پمـن مـال سـره نـږدې اوسـېږي، يـا پـه کـوم ځای کـې چـې پمـن مـال اوسـېدلی وي، هلتـه ناسـتـه.ولاړه وکـړي يـا دا چې پمن مال ته په بې احتياطی سره ورلګېږي او يـا دا چې پمن مـال غـوړوي بيـا هغـه ځايونـه ښه پـاك پـرې نـه مينـځي، چـې پمـن تـه ور لګېدلـي وي،نـو بيـا دا رنـځ انسـان تـه هم ځي پون د انسـان د پـاره هم يـوه بـده نـاروغي دي.

پـه هر حال، اوس راځو د مـېږو پـون تـه کـه ووايـو بـې ځايـه بـه نـه وي چـې مـېږې د افغانسـتـان د جـلال آبـاد پـه ګرمـو او تـودو سـيمو کـې د پـون پـه نـاروغي اختـه کـېږي د مثـال پـه ډول لکـه جـلال آبـاد، د پکتيـا ولايـت د خوسـت سـيمه شـوه او همداراز لوي هندوستان شو پـه يـادو شـويو ځايونـو کـې پـه سـلو کـې يـوه تـر څلـورو مـېږو پـورې د پـون پـه رنـځ ضرور اختـه کـېږي.

زيـات واري داسـې پـېښېږي چـې د مـېږو پـه لـم يـا ګونډي کـې د دې نـاروغـی نـښـه ښکـاره شـي، پـه هـر حـال پـه هـر ځای کـې چـې وي پمـن ځای وړی واچـوي، سپېره چاودې چاودې ځرمـن ښکـاره او جوتـه شـي.

د مـېږو د پـون د روغتيـا لپـاره کوچيـان يـوه انـدازه تمبـاکو پـه اوبـو کـې واچوي، چې د تمباکو خونـد پـه اوبـو کـې ووزي، بيـا پمن ځای پـرې غـوړ او لونـد کـړي، څوواري چې داسـې وکـړي، هغـه ښه کيـږي، بـايد زياتـه کـړو چـې د مـېږو د پون لپـاره د لـم غـوړي هـم کـټور بولـي چې پمـن پسـه پـرې غـوړ کـړي، خـو زيـاتره کوچيـان بيـا د پـون پـه بـاره کـې لـه سـپينکي څخـه کـار نـه اخلـي، ځکـه دوی وايـي چې کـه پـه رمـه کې کوم يـو پسـه غـوړ شـي، مبـادا نـور مـال اجس تـرې وا نـه خلـي، لـه يـوې څخـه بلـه جوړه نـه شـي.

اوس غـواړم چـې د وزو د پـون پـه پـاره کـې څو خـبرې جوتـې کـړو دلتـه بـايد ووايـو چـې لـه اوښو او مـېږو څخـه د وزو ډېر بـد او ګنـده پـون ده يـو خـو پـه د ګنـده ورتـه وايـي چـې وزې پمنـې شـي، نـو د دې خـبرې زيـات امکـان شـتـه چـې د څښتـن کـور والاوو تـه پـون تـرې لګېږي، دا ځکـه چې پـه هـر وخـت او لـه هـر شـي سـره د وزې کـار وي، پـه دې بـاره کې پـه کـوچيـانو کـې يـو متـل هـم دی، دوی وايـي: "لکـه پمنـه وزه پـه هـر شـي پورې کـښ کـوي".

بـل پـه دې ګنـده ورتـه وايـي چـې کـه پـه منـي کـې پـه وزو پـون ولـګېږي، او د ژمـي سـاړه پـرې راشـي، نـو امکـان لـري چـې ټولـې پمنـې وزې مـړې شـي، ځکـه پـه سړو کـې وزه هسـې هـم سـړيچنه ده، نـو چـې د پـون پـه وجـه وژغنـې هـم تويـه کـړي، او تـود ځای هم و نـه سـاتل شـي، ضرور بـه تـاوان کـوي، يـوه بلـه خبره چـې د يـادولو

ور ده هغه دا ده چي په وزو کې پون دومره ژر خي چې په لنډ وخت کې له يوې وزې څخه ټول توی پمنبږي.

اوس به د پمنو وزو د غوړولو په لارو چارو څه وليکو، هسې خو يوه نيمه وزه د بورۍ په واسطه هم غوړېږي، په يوه اندازه زړېو کې لږ اوبه واچوي، بيا کراره کراره پمنه وزه پرې غوړه کړي، خو څرنګه چې دا رنځ په وزو کې زر خپرېږي، نو دا خبره ناشونې ده چې په توی کې د لږ شمېر وزې پمنې شي، نو کله چې د ټول توی د غوړولو ضرورت پېښ شي. شنه سپانده شين ليغونی او داسې بل کوم ازمويل شوی بوټي را وشکوي، ښه يې وټکوي، بيا يې په ښو ډېرو اوبو کې چنګال کړي، تر څو يې خوند ښه پکې ووزي. بيا د ځمکې په مخ کابو ګز ګز کې کنده او غوچوړی جوړ کړي، خو غوچوړی په داسې ځمکې جوړوي چې زياتې اوبه و نه زغمي، په دې کند غوړي کې دومره اندازه د بوټي جوړې شوي او نورې اوبه واچوي چې وزه پکې پټېږي بيا د اوبو ته د وزې له مخې سره يوه اندازه زړېه ور اچوي، چې زړ ښه ور واچوي، سملاسي وزه ونيسي، په ډنډ کې يې پرته له سره ټوله ډوبه کړي چې په دې پوهه شي چې په جوړو شويو اوبو او زړېو غوړه او لمده شوه، بيا يې راوباسي له سترګو څخه پرته سر يې هم ور غوړ کړي، نوره نو وزه غوړه شي، پرې يې ږدي کله چېرې يو وار غوړولو سره وزې ښې نه شي بيا بيا يې غوړې کړي، تر څو ښې شي.

## وزمرګيا بوز مرګ

لکه څرنګه چې له نوم څخه جوتېږي، په دې رنځ باندې يوازې وزې اخته کېږي، د دې ناروغۍ نښه په وزې مال کې دا ښکاره کېږي چې يو ناڅاپه به خوراك پرېږدي،له خولې څخه يې ځاځکي ځاځکي لاړې (توکاڼې) لوېږي، دلته بايد وويل شي چې په دې ناروغۍ اخته پسه ډېر ژر مري. بله دا چې دا رنځ په مال کې دومره زر خپرېږي چې د کوچيانو په ژبه لکه د اور لمبه په لنډ وخت کې ټول توی ناروغه کېږي، په مرګ پيل کوي چې يو تبا کوونکی رنځ بايد ورته ووايو.

په نه خوړلو او لاړې برسېره وزمرګ جن پسه ډېر بد زګېروي کوي کله چې په دې رنځ اخته پسه مړ شي سږی (پرپوس) يې تك تور وي.

دلته به جوته کړو چې کوچيان د دې تباه کوونکي رنځ د دپې لپاره کوم په زړه پورې روز نه لري، البته ځينې ستانه او ووده ګري خلك د دې رنځ د مخنيوي لپاره ډېره ښه او پايدمنه (ګټوره) لار لري هغه دا ده چې ستانه پيرخانه او ووده ګر د تل لپاره له ځان سره د بوز مرګ وهلي پسه يوه ټوټه سږي ګرځوي

کله چې په يوه سيمه کې وزمرګك ولګېږي، بيا د اوزباکي په غوښته هغه ځای ته ورځي د هغې سيمې ټولې وزې په ور کوي.

د کوچيانو په خبره ور داسې کېږي چې د بوزمرګك د وژلې پسه د وچ سږي يوه ټوټه ميده کړي،ستانه يا ووده ګر خپلې لاړې ښې ډېرې پرې تو کړي، بيا هره وزه را نيول کېږي. د غوږ د برسېره لوري ځرمن يې په ځه پخه او تېره سره بېرته کوي، په زخم کې له پوستکي څخه د ګوتو په واسطه لږ سږي ورلانډې کوي، بيا ځرمن پرې ور بند وي، څو واره له پاس لوري ستن پرې ور چوخوي، تر څو سږی ترې ونه ولوېږي په دې ور ټولې روغې وزې په ور کوي چې کله روغې وزې په ور شي بيا يې وزمرګك نه نيس که يې ونيسي ډېر اسانه پرې تېرېږي د مرګك خطر له منځه ځي.

## ټک:

دا ناروغي په مرني او وزې مال دوارو لګېږي لکه له نوم څخه چې ښکارېږي دا يوه ژر وژونکې ناجوړي ده چې مال په ټك يا له ټکه سره وژني، دا ناروغي په مال کې د کال په هر وخت کې لګېږي، خو زيات وارې د منې په موسم کې لګېږي چې په دې وخت کې مثال ښه مزي "ځورب" په غوښه پټ وي د يادولو ور ده چې کوچيانو ته د دې ناروغۍ د لګېدو هېڅ سبب نه دی جوت (ښکاره).

کله چې په دې ناروغۍ کوم پسه اخته شي، يو مخيزه ځر او خوراك پرېږدي، له دې سره د پسه په ګېډه کې پرسوب ښکاره شي، ياتې نس يې وپړسېږي، په دې برسېره د ټك په ناروغۍ اخته پسه سرې متيازې کوي، د ټك په رنځ اخته پسه له يوې ګړۍ وخت څخه زيات نه شي توانېدای، کابو د يوې ګړۍ په وخت کې مري.

کله چې د ټك په رنځ اخته پسه مړ شي په ينه برسېره تريخی يې ډېر له اوبو ډك وي، همدارنګه د يوه نيم پسه د سږي کوم غوږی يا څنډه تور وي بله دا چې د کوم يوه پسه په ينه باندې داغونه او خالونه وي بايد بې ياده پاتې نه شي. چې د حلالولو په وخت کې له ټك وهلي پسه څخه ډېره کمه وينه ځي، دومره کمه وينه ترې ځي چې سړی دا خيال کوي چې پسه مردار شو،ځکه وينه نه ځينې ځي،کوم څاڅکي وينه چې ترې ولاړه شي، هغه توره او ټينګه وي، ياتې وينه يېټوره غوندې اوښتې وي،له خپل اصل څخه لږ ټينګه ښکاره کېږي. کله که د ټك وهلي پسه غوښه چې خوړل کېږي، غوښه يې ډېره بېخونده وي، په بې خوندۍ برسېره د ناروغيو سبب ګرځي.

په پای کې باید زیاته کړو چې کوچیان د ټک د رنځ د دپې لپاره هېڅ روز نه لري، یوازې دم تعویذ او ټوټکي کوي، په ستانه وو پیرخانو، ملایانو او ملنګانو باندې دمونه کوي، یا په یادو شویو خلکو کې یو نیم داسې هم پیدا شي چې د رمې یا توی په منځ کې ودرېږي، ټوپک یا تومانچه په لاس کې واخلي هوایي ډزونه د رنځ د دپې لپاره وکړي.

البته دا کوي چې په کومه میله د ټک رنځ په مال کې ولګېږي، له هغه ځای ځخه میله بدلوي، بله دا چې کوم مال د ټک په رنځ مړوي حلال یا مردار له خپله وسه یې اول خو په ځمکه منډي بیا یې که منډلی نه شي، په داسې ځای کې یې اچوي چې نور مال نه پرې ورځي، د مال مخه ترې چپه وي، ان تر دې چې د ټک وهلي پسه غوښه په کور کې نه پخوي، ځکه چې دا تبا کوونکي رنځ خپور اوزیات نه شي.

## تیګه یا تیګه ونې:

دا ناروغي مخکې مو په بوده وو کې هم یاده کړې ده، دلته به ووایو چې په د ناروغۍ باندې اوړ او غوین مال هم اخته کېږي، ولې د غټ مال لکه اوښ او غوین په پرتله په واړه مال کې دا ناروغي دومره سخته یا او رټه تاواني نه وي، اوړ مال که په دې رنځ اخته شي، د جوړېدو امکان یې وي، دلته باید یاده کړو چې په کالکې په رمه یا توی کې د ګوتو په ګڼ کوم یو مال د تیګه ونې په ناروغۍ اخته کیږي.

د دې رنځ د پېښېدو په لړ کې به ووایو چې کله کله هغه پسه په دې رنځ اخته کېږي، چې ډېر مزی (ځورب) وي په دې حال کې منډه وکړي، ستړی شي او یا دا چې په مخ پورته (پېچومي) مزل (تګ) وکړي، په دې پسېره کوم یو پسه د روز ورکولو په وخت کې هم د تیګه ونې په ناروغۍ اخته کېږي، خو په دې وخت کې یې سببونه دا ګڼل کیږي چې روزي د مال په خوله کې روز سم ور وا نه چوي، یا یې په خوله کې ښکر ځنډمن کړي او یې روز په وچه غاړه ولاړ شي، او دا چې د ګرمۍ په موسم کې مال ته غوړ یا روز ورکول شي، نوکېدای شي چې کوم یو پسه تېګه ووهې په پای کې به ووایو چې کله واړې هغه پسه هم د تیګه ونې په ناروغۍ اخته کېږي چې مخکې یې کومه ناروغي تېره کړې او خوربدلی وي.

اوس راځو د تیګه ونې ویونکي پسه علامو ته دا خبره د یادولو وړ ده چې د تیګې په رنځ اخته مېږ یا وزه هم د اوښ په څېر سا لو تنډه کاږي، کله چې سا په وجود کې را تولـه کړي د ویستو په وخت کې یې یودم په یو وار د باندې

باسي چې په دې وخت کې يې ګيډه او بدن پړسوږي، له بدن څخه يې د سا وېستو په وخت کې يو ستړې اواز راوزي.

د دې رنځ د دپې په باره کې بـه ووايو چې لومړی خو دا خبره د تيګه ويونکی پسه په باره کې پايده منه (کټوره) يادېږي چې هغه ته بايد دمه (سياله) ورکړل شي، يانې په کراره پرې ښودل شي، تر څو استراحت وکړي، له دې سره سره په ورځ کې درې يا زيات وارې په شودو کې ميده سخوريي ګډوي، ناروغه پسه ته په وار يوه پياله ورکوي، که د چا ويلو چا چا ويلو په خوله زياته کړو بده به نه وي چې ځينې کوچيان د تيګاويونکي پسه په تيمبوزي کې د بېزې په سر رګ هم وهي تر څو لږ وينه ترې ولاړه شي او ځينې دا هم کوي چې د دوارو غوږونو سرونه يې پرې کوي.

## ترغلون:

دې ناروغی ته د غولانځي ناروغي هم ويلای شو، په دې ناروغی د مال د اخته کېدو زياته وېره هلته وي چې مال نوی (تيون) لنګ شي، د کوچيانو د وينا له مخې تر غلون دوه ډوله وي، چې يوه ته تور ترغلون او بل ته سپين ترغلون ويل کېږي. د کومې مېږې غولانځه چې وشړېږي، زياته خرابه شي هغه ته تور ترغلون وايي او په کومه مېږه چې دا رنځ سوکه (اسانه) تېر شي، يا خو يې غولانځه وچه کړي، يا يې يو تی وچ شي، غولانځ يې و نه شړېږي، هغه ته سپين ترغلون وايي.

کله چې لوی يا ووړ مال لنګ شي، نو په دې وخت کې کوچيان ډېر پرې ډارېږي، چې مبادا ترغلون يې و نه وهي، په دې وخت کې د ترغلون څو سببونه يادوي، لومړی دا چې مال نوی لنګ شي، د لوغ(لوشلو)په وخت کې يې غولانځ تشه (ښه پوچه) نه شي، کنډاتې پکې پاتې شي، بل دا چې که د مال غولانځ په ټاکلي وخت تشه نه شي او وتوسېږي چې کوچيان توسېدل ورته وايي، يانې ورنه توسيږي، که چېرې و توسېده، نو د ترغلون په ناروغی اخته کېږي، بل هغه پسه هم د ترغلانه په رنځ اخته کېږي چې غولانځه يې د څه شي په واسطه زخمي او وټوکل شي، يا يې څه زهر لرونکي خزنده وچيچي، په پای کې بايد جوته کړو چې غولانځه لرونکي مال که په ګرمه ځمکه يا تيږه څملي، نو د ترغلانه په ناروغی اخته کېږي، يانې په داسې ځای غولانځ کېږدي چې ګرم وي يا په تيګه غولانځ کېږدي،نو د ترغلون وهلو ډار يې شته.

که چېرې يو پسه د ترغلانه په ناروغی اخته شي، لومړی نښه يې دا ده چې غولانځه يې غور شي، په شودو کې يې وينه پيدا شي، وروسته يې غولانځ

سره شي، شودي خپل اصل رنګ بد کړي، د شیدو پر ځای د مال له غولانځې څخه وینې او زوه را وزي.

کوچیان د دې ناروغۍ ښه او په وخت علاج دا ګڼي چې د مال په سپاخڅه برسېره یو رګ غولانځ ته تللی ښکاره (وریت) لوی څرګندېږي، دا رګ ووهل شي که چېرته له اوله وخته خبره تېره شي،نو بیا دا خبره ګټمنه نه بلل کېږي، له رګ وهلو سره چې په ورځ کې څو واره د مال غولانځ په ګرمو (تودو) تېلو غوړه شي، تر څو ښه شي.

دلته باید یادونه وشي چې کوچیان د دې نارغۍ لپاره په دم او تعویذ باندې ډېر زیات باور لري، هر وخت هر ځای او په هر چا باندې چې وي د ترغلانه د رنځ د دې لپاره دمونه او تعویذونه کوي.

## شیني:

یو ژوندی خزنده دی چې د بدن د جوړښت له پلوه سپږې ته ورته دی، شیني چې کله په مال کې پیدا شي، له وړیو او وژغنو لاندې په څرمن برسېره استوګنه اختیاروي،د څرمنې په مخ ځای په ځای لوټه لوټه په مال پورې خښ وي، خولې یې په څرمن کې بندې کړې وي، کونه یې بېرته شنه ولاړه وي، په واړه مال برسېره کله کله اوښان هم شیني کوي، دلته باید جوته کړو چې شینې په ژمي کې هغه مال ډېر کوي چې ډنګر وي،یانې بې غوښې وي، خواري لاندې کړي وي د شینو په باره کې کوچیان وایي: "مال له خواري‌شینی کړې دي"

که چېرته کوم پسه شیني وکړي، نو کوچیان د دې هڅه کوي چې داسې یو څه پرې پورې کړي چې شیني ورك او له منځه لاړې شي. ځکه دوی وایي چې شیني مال ورځ په ورځ کمزوری (ناتوانه) کوي، د مرګ لور ته یې نږدې کوي. د شینیو د له منځه وړلو لپاره په هلبند کې د بامیانو د ولایت د پنجاب د ولسوالۍ په سیمه کې یو بوټی پیدا کېږي، دا یو شین رنګی غوړیسن د ځمکې په مخ بوټي دی چې پاڼې یې د ټکلې بوټي ته ورته لږ لويې دي، دا یو بې نومه بوټی دی چې د دې سیمې کوچیانو د سردارو یا شنو درو نوم پرې ایښی دی.

دا یو بد بویه بوټی دی چې له بوی څخه یې د انسان سر ګرځي، د دې لپاره چې د سړي سر و نه ګرځوي، نو خوړ شي لکه ګوړه بوره او داسې نور به په خوله کې ورته نیسي چې خواږه څه په خوله کې ورته ونیسي، بیا دا بوټي راوشکوي، وچ یې کړي، نو کوموکوچیانو ته چې دا بوټی پیدا کېږي د نسوارو په دود یې ښه میده کړي، بیا د دوو ګوتو په واسطه سره د وړیو په بېخ کې د څرمنې په مخ په هغه ځای بورې مښي چېرته چې شیني وي.

د شینو د لـه منځه وړلـو لپـاره بـل شـی تمبـاکو دی څانګړی تمبـاکو ښه میـده کـړي، هغـه هـم پـه دوو ګوتـو کـې را اخلـي، پـه هغـه ځای پـوري یـې مـښي، چـې شینیو نیولی وي او خولې یـې پکـې خـښې کـړې وي.

پـه دې برسـېره د خـاورو تـېل هـم شـینې وژنـي، خـو د خـاورو تـېل دومـره پـرې پورې کوي چې مـازې بوی پکـې کـوي، کـه زیـات پـرې پـورې کـړي بیـا د مـال وړی او وژغنې تویوي. د څرمنې لپـاره هـم بـد یـادېږي.

دلتـه بـاید زیاتـه کـړو چـې پـه شـینیو برسـېره دوه ډولـه خزنـده نـور هـم دي چـې کوچیان یې د مـال لپـاره مضر ګڼي، یوه تـه کنـك وایـي بـل تـه وریـزی وایـي، دا هـم د شنیو پـه څېر پـه هر مـال کې پیـدا کـېږي.

اوس غـوارو هغـه خبرې یـادې کـړو چـې لـه شـینیو سره پـه تړون کې یـې وایـي:

- پلانی چې و نـه غـړېږي شینې کـوي.
- پلانی داسې خبرې کولې چې شینې مـې ورتـه وکـړه.
- تـه دا کـار ولې نـه کـوې،مـوږ شینې درتـه وکـړه.
- داسې کارونـه دې دي چـې سـړی شـینې درتـه کـوي.
- یـا داسـي جوتیـږي چـي هغـي سیاسـي اقتصـاد او نظـامي اداري اوس شینې وکـړل.

## تـنـدېدل:

دا نـاروغي یـا سـتونزه ښایـي ډېرو خلکـو تـه جوتـه وي، چـې هـر لـري لرونکـی څلـور بـول تـنـدېږي، کـه څه هـم ځینـې وختونـه تـنـدېدل اسـانه تـېر شـي، خـو ځینـې وخـت بیـا داسـې هـم کـېږي چـې د ډېر زیـات مـال د مـرګ سـبب کـېږي، دا سـتونزه لـري لرونکـي څلـور بـول تـه د ځینـو وښو (ګیـاوو) د خوړلـو لـه املـه پیـدا کـېږي. لکـه رېشـکه (رشـقه)، شـوتله، شـاخل او همدارنـګه ځینـي صحرایـي واښه هـم مـال تـنـدوي، لکـه ښکـري، ګولـې، خنـګی، اوریـې، پشـتری او لیونـی پشـتري.

کلـه چـې مـال تـنـدې شـي، لومـړی چـاره یـې دا کـوي چـې نـس یـې تینـګوي، (کنبـکاري)، پـه دې برسـېره تـروې، تـېل، غـوړي، مسـتې، هـم ورکـوي. دلتـه بـاید ووایـو چـې ښه چـاره دا یـادېږي چـې یـادو شـویو وښو تـه پـه وړې ګېـده یـا د دې وښو پـه یوه وار زیـات خوراك تـه مـال پرېنـږدي.

## بـو:

هغـې نـاروغـي تـه وایـي چې پسـه یـا بـل کـوم لـوی مـال پـه روسـتاړ لنـډه حرکـت نـه شـي کولای، یـانې هغـې نـاروغـي تـه بـر ویـل کـېږي چـې مـال پـه شـمزي نـه شـي کتـه پورتـه کېدای. هسـې خـو دا کـېدای شـي چـې مـال د یـو څه پـه واسـطه پـه لنـډه تـپ وخـوري، ښنـې یـې لـه حرکتـه ولـوېږي، د بـر پـه نـاروغـي د لنـډې پـه نـاروغـي

اختـه شـي، خـو کلـه واري بيـا داسـې هـم پېښېږي چې يـوه نيمـه ميـږه د لنـګوال پـه وخت کې په دې ناروغۍ اختــه کېږي.

د بـر وهلـي مـېږي د روغـېدو لپـاره کـوچيـان داسـې کـوي چې لومـړی خـو يـې لنډې وزړې يـا وژغنـې سـره راټولـوي، چـې کلـه يـې دا سـره تـاو او بنـدې کـړي، بيـا پـرې د پاسـه د لـېڅي، پيڅولـه، يـا د رخـت ټوټه ور ګنـډي، تـر څو يـې لنـډه تکيـه شـي، پـه دې برسـېره يـې پـه ورځ کـې څو واره غـوړوي او تــب ورکــوي، يــانې د مـالګې کنډك يـا تيـږه پـه اور کې ورتـه ګرموي، بيـا د پسـه لنـډه پـرې تبـي، کلـه بيـا دا هـم کوي چې بر وهلي پسـه تـه د څمکـې مـخ تـه نـژدې د ترنـګرې زانـګو واچـوي د بـدن لپـاره ځای پوست (نـرم) ورتـه جـوړ کـړي. پـښې يـې لـه زانـګو څخـه د څمکـې لـور تـه وباسـي. مونـږ پـه ډاډه زړه سـرهبروهلي اداري نظامونـه او سياسـي چلنـد يـادولي شـو.

## کـووی:

ښايـي ذدې ناروغـۍ نـوم هـر څوك وپـېژنـي، څکـه چې پـه مـال برسـېره پـه دې ناروغـۍ بـاندې انسـانان هـم اختـه کـېږي، کلـه چـې دا نـاروغي سـخته (رټه) شـي د څرمـن پـه شـړولو يـا څرمـن خوړينـه کـړي نوکـوچيـان يـاغي کـووی ورتـه وايـي، دا نـاروغي لکـه څرنـګه چـې د انسـانانو لپـاره خطرناکـه ده، همـدا راز د څلـور بـول لپـاره هـم بـده ده خـو پـه تـېره بيـا چې کـوچنـی (تنـدی) وری او سـېرلي پـه دې ناروغـۍ اختـه شـي، يـا دا نـاروغي پکـې ولـګېږي، د هغـوی د مـرګ او تباهـۍ سـبب ګرځي.

کله چې مېږ او وزه لومـړی پـه دې ناروغـۍ اختـه شي، تر دريـو يـا شـپږو ورځو پـورې يـې بـې چوټه تبـه وي، هـر وخـت پسـه داهڅه کـوي چـې لـه لمـر څخـه ځان سيوري تـه پنـا کـړي، وروسـته بيـا د پسـه پـه بـدن بـاندې دانـې را خـېژي، خـو دلتـه بـايد پـه ګوتـه کـړو چـې د پسـه پـه ټولـه څرمـن بـاندې دانـې ښې نـه ښکـاره کـېږي. يـوازې پـه سـورلنو کې يې دانې پـه څرګنـد ډول ليـدل کـېدای شـي لکـه لـه لـم لانـدې پـه تخرګونـو او کجـه کيـو کـې جوتـېږي، بيـا وروسـتـه دانـې مـخ واړوي، د پسـه پـډن برګ بـرګ شـي، خينې ځايونـه يـې وړې هـم واچـوي.

کـه ووايـو بـې ځايـه بـه نـه وي چـې د دې ناروغـۍ لپـاره کـوچيـان کـوم ړوز نــه لـري. يـوازې لـه ناروغـه پسـه سـره دا مرسـتـه کـوي چـې هوسـا يـې ګرزوي، نـرم خـوراك او خـواړه ورکـوي. پـه دې برسـېره ددې ناروغـۍ د دپـې لپـاره دمونـه او تعويذونـه کـوي، زيـارتونو تـه رمـې او تـوی ورولـي، هلتـه مـال پکـې حلالـوي، بيـا يې خيرات کوي، يـا هلتـه د الله پـه نامـه د پسـه غـوږ پـرې کـړي، بيـا هغـه پسـه چـا تـه خيرات ورکړي. مني خداي پري تـې ورکـړي.

د یادولو وړ ده چې ځینې کوچیان په دې عقیده دي چې که د دې رنځ د هودې لپاره هغه سړی یا ښځه د مال په خوله کې لاړې ور تو کړي چې یاغي کوي یې تېر کړی وي،نو مال په هوده کېږي، کوه وی اسانه پرې تېرېږي، بلـه دا خبره ګټوره ګڼل کې چې د هغه چا قبر ته مال وروستل شي چې ښکاره یاغي کووي وژلي وي، یاني د یاغي کووي په رنځ اخته او مړ وي، د هغه قبر "مړستون" هم ښه وُده بولي.

## غوزي:

غوزه یو سپین چنجی دی چې غوین مال اویه تېره بیا په وزو کې لـه څرمنې لاندې پیدا کېږي، دا چینجی د مال د ملا په تېر کې پیدا کېږي،دا رنځ یا د غوزې چنچنی کوم خطرناك رنځ یا چنجی نه یادېږي، خو چې کوم مال غوزه کړي وي او بیا په هغه وخت کې مړ شي، څرمن یې دکوچیانو په ښمر نه ورځي، خکه سوری سوري وي، د زیو او غړکو لپاره کار نه تري اخېستل کېږي. دا چینجی په ژمي کې زیات په هغو وزو کې پیدا کېږي چې خواري وي، کله چې ژمی تېر شي، وزې مزې (څربې) شي، غوزې په خپله په څرمن کې مړې او ورکې شي، د دې لپاره چې په وزو کې غوزې کمتوانه یا ورکې کړې، ځینې کوچیان وزو ته څو ورځې وروسته مالګه ورکوي، وچه مالګه په یو څه ور تـه واچوي وزې یې خټي.

## زېړ ژامی:

هغې ناروغی ته وایي چې د وزې یا مېږې لاندې ژامه کړه شي، بیا خوراك نه شي پرې کولای. د دې ناروغی د روغېدو لپاره داسې کوي چې یوه نری غوندې وسپنه په اور کې سره (ګرمه) کړي، بیا کړې ژامې ته دوه داغونه لښتې ورکړي، د داغونو په ورکولو برسېره د ژېړ ژامې د ناروغۍ لپاره دمونه هم ښه زیات کوي.

## د زخم چنجی:

کـه څه هم دا چنجی دومره خطرناك نه ګڼل کېږي، خو بیا هم که چېرته د لړو مخه و نه نیول شي، او د لـه منځه وړلو تکل یې و نه شي، نو کېدای شي چې د مال د مرګ سبب شي، خکه لـه یوې خوا دا چینجی ډېر زیات بچې اچوي، ډېر ژر ژر ډېرېږي لـه بل پلوه هر وخت د مال په غوښو اخته وي پکې غونځېږي.

په دغه خای کې ښه بولم چې والمه او پیخاړی در وپېژنم، والمه لـه لم څخه لاندې هغوسره یو ځای شویو وړیو ته وایي چې د متیازو او خولې په واسطه

لمدې شوې او سره يو ځای شوي يا په بله وينا ځپولی ځپولی سره نښتي وي. پېخارې له لم څخه لاندې د وړيو په يوه کلوښته پورې خو شارې خاورې خښکې راټولې شوي وي، وړې وړې کلکې غوټۍ په مال پورې ځوړندې وي، دلته بُايد جوته کړو چې که په يوه نيم پسه کې والمې او پيخارې له ډېره وخته پاتې شي، نو د وړيو بېخ زخمي کېږي. په دې زخم کې بيا چنجی پيدا کيږي، يا داسې وشي چې د مال ځښتن له مال څخه والمې او پيخارې پرې کوي. د مال څرمن ترې ژوبله شي. بيا هغه و نه کتل شي. وروسته چنچي وکړي په دې برسېره داسې هم کېږي چې د مال بل کوم ځای ژوبل شي. بيا چنجي وکړي.

که کوم وخت داسې پېښه شي چې مال چنجي وکړي، نولومړی دا کوي چې د نوسې يا بل شي په واسطه چينجي ترې باسي، برهار ښه پيجو (پاکوي يې) له پاکولو څخه وروسته په ژوبل يا د چينجيو پر ځای نسوار، ميده تمباکو اچوي بل د چينجيو د مخ نيوي دارو ترخه ده. د ترخې شين بمبل (پانې) را وشکوي بيا يې وټکوي، د چنجيو په جوړو کړيو ځايونو کې يې ورکېږدي. د چنجيو د ورکولو لپاره بل هغه بې نومه بوټی دی چې شنه دارو يا د سردارو نوم کوچيانو ورکړي. موږ يې مځکې د شينيو په دېه کې ياده کړي. همدارنګه يو بل بوټی په هلبندونو کې پيدا کېږي، چې موږ د کوچلني په پخولو کې ښودلي ده، دا بوټی ښه شين رنګ لري، د ځمکې په مخ نيږغ ولاړ بوټی دی، د مال د خوراك لپاره ډېر ګټور يادېږي. د دې بوټي (بېخې)، بمبل (پانې)، را وشکوي، ويې ټکوي، د چينجيو د استوګنې په ځای کې يې ورکېږدي، له چنجيو څخه د مال د خلاصولو بله دوا (دارو) د دې بېخې خوله به ورته وواېو دا د بيخ ته سپين ميده پوډر پيدا کېږي، هم هغه راټول کړي، په ژوبل ځای کې يې ور واچوي. د چينجي د زخم بل تاکو تور مچ دی، تور مرچ ميده کړي، په هغه ځای کې يې ور واچوي چې چينجي ژوبل کړی وي او ژوند پکې کوي.

بايد جوته کړو چې ياد شوي شيونه (ځيزونه) يوازې دا نه چې چينجی وژني، يا يې ورکوي، د چينجيو له ورکولو سره سره ژوبل او زخمي ځای جوړوي، د بېخې په ارتباط به دا خبره ښکاره کړوچې که چېرته اس يا خر دا بوټی په نابلدۍ سره وخوري، سترګې يې شنې کېږي، په پای کې يې د دې بوټي خوړل ړوندوي.

## پکه:

دا ناروغي موږ په اوښو کې هم ياده کړې ده، دا هم د پون په دود د څرمنې ناجوړي ده، خو ښلوالی پکې دا دی چې پون ټول بدن نيسي او پکه په يو او بل ځای کې پيدا کېږي. دلته به ښکاره کړو چې په واړه مال کې دا ناروغي ځينې

ځای د ګوتې د سر په اندازه او ځينې ځای د رغوي په اندازه لګېږي. په کوم پسه کې چې د پکې نښه پيدا شي، هغه ځای له وړيو څخه خالي شي، د وړيو يو ځای يو رکم خړ سپېره پټوکي ونيسي، دا کومه خطرناکه ناروغي نه يادېږي. بې ياده دې پاتې نه وي چې زيات وارې د دې ناروغۍ نښې د پسه په تيمبوزې کې له خولې سره نژدې ښکاره کېږي. د دې ناروغۍ د دېې لپاره سپينکي ويلوي، بيا په تودو (ګرمُو) هغه پټک ځای غوړوي تر څو چې ښه او پوست شي. دغې ناروغۍ ته د انسان په اتره کې "بونې" ويلې شو "بونې" د څرمنې وړه ناروغي دي.

## متوره:

دا ناروغي مال ته يوازې او يوازې د خوړو له امله پيدا کېږي، يانې د غلې د خوړلو له پلوه ورته پيدا کېږي، کوم مال چې ډېره غله وخوري او بيا د غلې د خوړلو له امله ناروغه شي، هغه ته کوچيان متوره وايي. د کوچيانو په عقيده کله چې مال تکله (ډوډۍ)، وريژې، غنم، جوار، وربشې، اوړه روټي، شاخل، باکولي (باقولي) او داسې نور ډېر وخوري، د هضم توان يې کمزوري شي، خواړه يې ځای پر ځای په ګېډه کې ودرېږي، د مال د مرګ خطر پيدا شي، زيات مال له دې امله مري.

کله چې مال غله دانه وخوري، متوره شي، کوچيان دا ښه بولي چې داسې مال ته اوبه ور نه کړي، سملاسي په متوره مال باندې اوبه بندوي، د تشو اوبو پر ځای يوه اندازه سپېرکي او باديان په اوبو کې ايشوي، چې کله يې خوند پکې ووزي، بيا دا اوبه سړې کړي، دلته به جوته کړو چې ښه خو دا ګڼل کېږي چې دا اوبه مال په خپله وڅښي، که يې مال په خپله خوښه و نه څښي، بيا يې د ښکر په واسطه ور اچوي، د سپيرکي او باديانو د اوبو تر څنګ کابو نيمه پياله غوړي يا تېل هم ورکوي، ځينې کوچيان بيا دا هم کوي چې د سپينکي تور تاوده ورته جوړ کړي، بيا يې ور واچوي، چې ځينې خلک زومنه او پياوه هم ورته وايي. هسې متوره په ډېرو پېښو کې ياديږي خو په علمي بڼه او رنګ کې؛ ځينې خبرو ته هم متوره خبريولي شو.

## پچغلن:

لکه څرنګه چې له نوم څخه ښکاره کېږي، دا د پچو د نه کېدولو ناروغي ده چې کله کله کوم يو پسه پرې اخته کېږي چې قبض هم ورته ويلې شو. د دې ناروغۍ نښه دا وي چې پسه د پچو کولو په وخت کې ستو يا زور کوي، نو کله چې په مال کې د پچغلن نښه ښکاره شي، کوچيان داسې پسه ته د غولانځي غوړي ورکوي، کله کله په غوړيو کې تور تاوده ورته جوړ کړي، هغه ور

واچي، که چېرې د پچغلن رنځ نښې د پچکولمې خولې تـه نـژدې ښکاره نـو بيـا لـږ غوړي پـه پچکولمه کې ورګډ تر څو مال پچې په اسانۍ سره وکړي. دلتـه يـوه بلـه خبره د يـادولو وړ ده هغـه دا چـي پـوچ کولمـه او پچکولمـه پـوچ کولمـه د انســان کـوزې کولمـې تـه ويـل کيدلـي شـي ځکـه پـوچ د پوجنـد ګدې پـهمانا ده او پـچ د پچو سره تـړون لـري نـو د څروي پـچ کولمـه او د انسـاند کـوزې کولمـي يـوې اوږدې برخې ته پوچ کولمه ويلي شو.

## پيريــه داره:

کله کله په مال کې يو نيم داسې پسه پيدا شي چې د رمې يـا تـوی پـه منـځ کې په ريـدا او کـه وزه وي په بغـېدا پيـل وکړي. د مـال پـه منـځ کـې يـوه او بـل لـور ته لېونی لېونی ګرځي، سړی فکر کوي چې نور مال بيخـي پـه سترګو نـه وينـي نـو کله چي کوچيـان پـه مـېږ يـا وزه کـې داسـې نښې ووينـي دا د پيريـانو اثـر بولـي. د دغـې ناروغـۍ لپـاره خـو دم او تعويـذ حتمـي کـوي. د دې تـر څنـګ د غـرڅه يـوه ټوټه څرمـن پيـدا کـوي، د رنځـور پسـه غوږونـه ورتـه سـوري کـوي، پـه دې سـوريو کې لږ لږ د غرڅه څرمـن وراړدي. ځينـې کـوچيـان د لېوه د غـاښ هډوکـی د پيريـه دار پسـه پـه غـاړه کـې ور اچـوي، ځينـې بيـا لاډا کـوي چـې د رنـځور پسـه د سـر ککرۍ تـه ووړ غونـډې داغ ور کـوي.

## داړلي:

کـوم پسـه يـا څـور بـول چـې د خوړونکـي ځنـاور پـه غـاښونو ژوبـل شـي، هغـه تـه کـوچيـان داړل وايـي، هسـې خـو کـه د مـال د بـدن کـوم ځای ځنـاور وداړي، د نـورو ژوبلو ځايو په څېر يې غوړوي، لـه مچـانو ځخـه د زخـم سـاتنه کـوي، کـه بـل وړ يـې نـه شـي ځينـې سـاتلی، پـه ژوبـل ځای برسـېره لـه پـاس لـوري يـو نـری توکـری ورګنډي، په دې پسـېره دا هـم کـوي چـې د زخـم پـه سـيمه کـې د زرنـو بوټـي کـوي، تر څو په پرهر مچـان کښېنني. خو دلتـه زه د غـاړې د داړلـو يـادول غـواړم.

څرنګه چې لـېوه، سـورلنډی، يـږ، پړانـګ، کوګ او داسـې نـور هـر يـو چـې پـه مـال غوټه کوي، لومړی دا هڅه کوي چې مال پـه سـتوني او مـرۍ کـې ونيسـي، نـو کله چې مال په ستوني کې ونيسي، نو دا حتمـي ده چـې وچـه غـاړه (مـرۍ) بـه يـې سـوري کـېږي، کلـه چـې د پسـه مـرۍ يـا غـاړه وداړل شـي، د داسـې داړلـي د روغېدلو لپاره کوچيان دا کـوي چـې د داړلـي يـا ژوبـل ځای پـه انـدازه سـپينې مـخ لرونکـي شـګې (تيـږې) راټولـوي، بيـا يـې پـه اور کـې يـا پـه لـوښي کـې ښې سـرې کړي، همداسې سـرې (ګرمـې) يـې راواخلـي پـه داړلـي زخـم پـورې يـې ور ونښلـوي، بيـا برسېره توکوري پرې تـاو کړي، هر وخت يـې غـوړوي.

## ګونګان خوړل:

دلته باید جوته کړو چې ګونګه د یو بوټي نوم دی، چې د افغانستان د لوګر، وردګو، غزني، زرمت، او ګردېز په سیمو کې پیدا کېږي، دا یو شین رنګی بوټی دی، چې خمځوری ځپینګی ته ډېر ورته ده خو خمځوره په ګرمو لکه خوست داسې سیمو کې شینه کېږي او ګونګه په سړو سیمو کې په ژمي وچ په پسرلي کې شین کېږي، هسې خو په ګونګه باندې مال ډېره مینه نه کوي، خو ځرنګه چې اول پسرلی وي نور واښه لا شنه نه وي، ګونګان شنه ولاړ وي، نو مال یې د لوږې له امله خوري، کله چې په وږې ګېډه ګونګان وخوري، بسملاسې یې ناجوړه کړي، سر او غوږونه یې وپړسوي.

کله چې مال ګونګان وخوري، د داسې مال له مرګ ځخه د خلاصون لپاره ښه کار دا یادېږي چې ښه ډېر د ګونګانو بوټي را وشکوي سره کوټه یې کړي، کوم مال چې ګونګان خوړلي وي، هغه ترې تاو کړي، یانې ورته را نږدې یې کړي، چې کله یې ورته را نږدې کړي، د ګونګانو کوټې ته اور ورته کړي، ښه لوګی (دود) ورته جوړ کړي، رنځور مال داسې ورته ونیسي، تر ځو د ساه (تنفس) له لارې دګونګانو لوګی (دود) ښه وڅکوي، ګواکې تنفس یې کړي، په لوګي برسېره ګونګان خوړلي مال ته د ترو او کورتو روږ هم ورکوي، د ګونګانو دود او تور شی یې دوا یادېږي.

## زهر بوټی خوړل:

دلته باید ووېل شي چې په بېلو بېلو سیمو کې بېل بېل بوټي پیدا کېږي، چې له خوړلو سره په تګ مال وژني، د مثال په دود د هلبند د ځینو کوچیانو په مېله کې یو شین بوټی د ډکه جای په نوم یادېږي، دا بوټی چې د لومړي ځل لپاره مال وخوري، له ... لو سره سم یې وژني، او که په مړه ګېډه لږ لږ په مال وخوړل شي، وروسته مال عادت ورسره اخلي، هر وخت یې خوري، د مرګ خطر یې بیخي له منځه ځي، په دې برسېره بیا د مال له پاره ډېر ښه واښه ګڼل کېږي، یو بل بوټي چې د زهر بوټي په نوم یادېږي، د وردګو په سیمه کې ډېر پیداکېږي، دا بوټی چې مال وخوري، د تروو، مستو او شودو روږ کوچیان ورکوي.

همدارنګه یو بل د مال لپاره مضر بوټی ښکی (غوړمرغه) دی، چې موږ د بودوو لپاره هم موږېر (مضر) یاد کړی دی، دا بوټی که په پسرلي کې مال وخوري، د مرګ سبب یې ګرځي، له ښکیو غوړمرغو ځخه د مال د ایسارولو ښه چاره دا ګڼل کېږي چې ښکی وټکول شي، د مال په خوله پورې ور ومښل

شي، چې موږ يې مخکې يادونه کړې دی. کله چې مېږ يا وزه ښکې وخوري. بيا د اندازې لـه مخې د شودو ړوز ور اچوي.

په همدې دود د پاکستان تان په کاغانو او تارانو کې يو شين رنګی بوټي د زهر بوټي په نوم يادېږي، چې موږ يې مخکې يادونه کړی، کله چې دا بوټي مېږ او وزه وخوري، ګېډه يې پړسېږي، د مرګ تر بريده پورې رسېږي، د داسې پسه د روغېدو لپاره ښه دارو واوره يادېږي، کوچيان داسې پسه ته واوره په خوله هم ورکوي او په بدن يې هم د واورې اوبه ور اچوي، څومره چې پسه سوړ کړي، هغومره زر جوړېږي.

په پای کې بايد زياته کړوچې د منې په موسم کې د شوي پانې د مېږ وزو لپاره ازاري يادېږي، همدارنګه د انار دونې تنکۍ پاڼې د وزو لپاره موزېږې (مضر) ګڼل کېږي، کله چې وزه د انار تنکۍ پاڼې وخوري کوچيان تروو ړوز ورکوي.

## لګېدلی يا زخمي:

کله کله داسې وشي چې له زړه يا له نه زړه دمال له څښتن شپانه او ليريانه څخه مال ولګېږي، زخمي شي او يا دا چې کنډه يې ووهي، نو که چېرته د پسه سر يا پاسنۍ برخه لګېدلی ورته ښکاره شي، نو د داسې لګېدلی پسه سترګې سملاسيْ د څو شېبو لپاره په خپلو لاسونو او دمال په غوږونو کلکې پټوي، وروسته له څو دقيقو سترګې پرې لوڅوي. بيا که چېرته دا ورته څرګنده شي،چې پسه په لړمانه کې زخمي شه، نو سږمې او خوله يې کلك نيسي، د لګېدلي پسه ساه د څو شېبو لپاره بنده وي.

په يادو شويو لومړيو مرستو برسېره کوچيان لګېدلي پسه ته ځينې ړوزونه هم ورکوي، د لګېدلي پسه لپاره يو ړوز خرغوږ دی، خر غوږ يو ډول بوټی دی چې د افغانستان په وچو خوړونو او دښتو کې شين کېږي، دا بوټی پلنې پلنې پاڼې لري، د ځمکې په مخ پروت وي، د تخم لپاره په وروستي وخت کې نار کوي، د خرغوږ د بوټي ببرې ببرې ياني تيسنی تيسنی پاڼې وي، ولې په شين توب کې خاورين رنګ لري، يا دا چې د خرغوږ بوټي ګلی ختمې ته ورته وي.

کوچيان د دې بوټي پاڼې په اندازه وشکوي، ويې ټکوي، په شودو کې يې ګډې کړي، چې کله دا ړوز جوړ کړي، بيا زخمي (لګېدلي) پسه ته کابو يوه پياله په ورځ کې يو تر دريو وارو پورې ورکوي، د لګېدلي پسه د جوړېدو لپاره بل دارو مولايي ده، کابو د جوار د دانې په اندازه مولايي په يوه بلغمي پياله شودو کې اچوي، بيا يې رنځور پسه ته په ورځ کې يو يا دوه ځله ورکوي، د لګېدلی پسه د روغېدلو لپاره بل ړوز د تېږې ګل يا د کمره ګل دی، دا ګل د

تیرې په مخ په یوه خای واړه واړه پتوکي نښتي وي، دا ګل کوچیان له کمره څخه د چړې (بېکی) یا چاقو په واسطه را وګروي، بیا یې ښه میده کړي، کابوه یوه کاچوغه په یوه پیاله شودو کې ګډوي، بیا یې په ورځ کې څو وارې رنځور پسه ته ورکوي. د لګېدلي پسه بل روز کوري دی، چې مورږ یې د ین خوړینې په رنځ کې یادونه کړی دی، د کوري ولي او بېخ ایشوي، چې کله یې په اوبو کې خوند ووزي، له سړېدو څخه وروسته کابو یوه پیاله په ورځ کې یو تر دریو وارو پورې رنځور پسه ته ور اچوي.

## پرخه یا شبنم اخیستل:

د پرخې اخیستل هم یوه ناوړه ناروغي ګڼل کېږي، پرخه یوازې د مېږو لپاره ازارمنه کېږي، دا ناروغي په هغو مېږو کې پیدا کېږي چې د شپې له خوا یې په هغو سیمو کې څر کړی وي چې د شپې پرخه پرې لوېږي. خو دلته باید ښکاره کړو چې داسې خایونه په لوی هندوستان کې ډېر دي چې د شپې له خوا پرخه پرې لوېږي.

کله چې مېږې پرخه (شبنم) واخلي، د دې زارمنتوب نښې په مېږو کې په پسرلي کې ښکاره کېږي. که څه هم په پسرلي کې ټول مال مرغلین کېږي، خو چې کوم مال پرخه اخیستي وي، هغه ورځ په ورځ کته خي، پورته نه ځي، خوراك کوي، خو خوراك په خپله دا خوري، له دې سره سره نری نری رخړې، د یادونې وړ ده چې پرخه اخیستي مېږ خورېږي خورېږي، تر څو مړه شي، کله چې په دې ناروغۍ اخته مېږمړه شي، لومړی دا چې سږی یې د مړه زوړکي په څېر مړ پړ او کم توانه وي، د سږي رنګ یې د سره په پرتله زیات سپین وي. بله دا چې زړه یې د تشي کخوړې په څېر وي، هېڅ غوښه نه لري، په زړه برسېره برزالك (پرده) یې له پربې یا زېړرنګه اوبو څخه ډکه وي.

کله چې په ژوندۍ یا مړه مېږ کې د پرخه اخیستې رنځ نښې ښکاره شي، نو کوچیان هغه ټول مال مېږې روز وي، چې په یوه خای کې سره څړلي وي، له دې رنځ څخه د مېږې د روغېدو لپاره یوه ګوتمه زرنه په یوه پیاله شودو کې اچوي. بیا یې مېږې ته ورکوي، په دې ترتیب ټولې مېږې روزوي، که چېرته داسې پېښه شي چې شودې نه وي، نو یوه ګوتمه زرنه له یوې پیاله تروو سره ملګرې کوي که چېرې تروې پیدا نه شي نو بیا یوه اندازه اوړه په اوبو کې اچوي له هغو څخه یوه پیاله اوبه را اچوي، یوه ګوتمه زرنه پکې اړوي، بیا یې یوې مېږې ته ورکوي.

## د مال مېتيازې بندېدل:

کله چې د مال مېتيازې بندې شي، داسې پسه ته کوچيان لورم ور اچوي، چې موږ په رنګ کولو کې ياد کړي دي، د لورم د بېخ ولې را وباسي بيا يې بې په اوبو کې و ايشوي چې کله يې خوند پکې ووزي، له سرېدو څخه وروسته يوه پياله د لورم اوبه کابو نيمه پياله غوړي چې مېږ او وزه يې سهلې شي، سره ګډ کړي، بيا يې رنځور پسه ته ور واچوي، د دې ناروغۍ بل دارو غوره لنګ يادېږي، غوره لنګ يو څېړ بېږ د ځمکې په مخ بوټی دی چې ولې يې لوڅې شي، د وليو په پټو کې ئې سور رنګ دی، د غوره لنګ ولې ايشوي، له هغو اوبو او غوړيو څخه د لورم په اندازه ياد شوی روز جوړېږي، بيا يې ناروغه پسه ته ور اچوي.

## ګوډه تړل:

څرنګه چې کوچيان په غرونو او له ښارونو څخه لرې دښتو کې ژوند کوي، چې هلته د ډاکترانو درك (لوری - لودن) نه وي نو په دوی کې داسې ښځې او سړي وي چې په مال پسېره د انسانانو ګوډ شوی لاس او پښې، وړ تيږي، دلته ښه بولم چې سکينيده يا چچه در وپېژنم،سکينده يا چچه هغه سړی جوړې شوې دړې ته وايي چې د مات لاس او پښې اړخ ته يې ورکوي، سکينده يا چچه له داسې لرګي څخه جوړېږي چې يوخو ډېر سپك وي، بل دا چې وچ وي، لکه د ولې د ونې لرګی چې وچ شي،په دې ځای کې به د دړو د جوړولو لپاره د انسان د مړوند مثال راوړو،که چېرې د انسان مړوند په نيمايي يا غوټ منځ کې مات شي، نو د دې لپاره دومره اوږدې سکيندې يا چچې جوړېږي چې يو سر يې کابو په ځنګل واوړي او بل سر يې له کوز بند څخه د خپړې لور ته تېر شي، د لاس د اندازې يا د مړوند د سور د اندازې له مخې د دوو چچو سور کابو دوه يا دري ګوتې وي او نورې دوه بيا کم سوری وي، د نري والي له پلوه چچې چې څومره نری جوړېدای شي، هغومره يې نری او سپکه جوړوي، په همدې ترتيب مات هډوکي ته کتل کېږي، چچه يا سکينده ورته جوړېږي بيا ورکول کېږي.

اوس راځو دې خبرې ته چې ګوډه څه ډول تړي، که چېرې هګۍ پيدا شي، هګۍ په پاك توکري ماته کړي، تر ـ ري ښه پرې ککړ کړي، که چېرې دا جوته وي چې هډوکی دړه دی، نو همداسې لومړی د هګۍ د پښې توکري پرې تاو کړي، چې کله يوه اندازه توکري پرې تاو کړي، بيا برسېره چچې پرې ورکړي، نوره سنې يا لږ غټ تار پرې تاو کړي، بس ويې تړي،که د انسان لاس وي په غاړه کې يې ور واچوي، که چېرې داسې وي چې هډوکی مات وي، په ماتېدو برسېره کوږ وي، نو لومړی سيخ کشکول کېږي، چې کله په کراري کش کړای

شي، په ډېر احتیاط سره په مات ځای ګوتې ووهي، تر څو د هډوکي کومه لښته بې ځایه پاتې نه شي، ډېر ګوډه ترونکې داسې هم کوي چې روغ اندام ورسره وغځوي، تر څو مات هډوکي بېرته ځای ته ورغی، بيا وروسته له هغه په هګۍ ککړ توکرې پرې تاوکړي، په ککړ توکر برسېره بل توکرې هم تاو راتاو کړي، تر څو هډوکي بنه ونيسي، بيا برسېره چجې يا سکيندي پرې ولګوي، برسېره يې په سنۍ يا مزي تار وتړي. که چېرې د يوې چجې يا سکيندي د وتو داروي نو له ترلو څخه لومړې د تړلو چجو دواړه سرونه سره وتړي، تر څو چجې (سکيندي) کوملور نه و نه وزي.

همسې خو ګوډه ترونکې مات اندام ته مخامخ کښېني، يا درېږي، تر څو مات اندام يې کش او وتړل شي، خو دلته دواړه مال او همدارنګه د ګوډه ترونکي لاس ته د نږدې اندام د ترلو لپاره يوه بله چاره هم ګوډه ترونکي خپله وي، هغه دا چې ګوډه ترونکی له خپلې ملا څخه پرې يا بل څه وتړي، کله چې اندام کش کړي، د خپرې او يا د ښنګري لوري ته يې د ملا په پرې پورې زورلی وتړي، له هغه وروسته يې په ترلو لاس پورې کړي، دلته بايد ياده کړو چې شپانه او وزبانه د بل پرې پر ځای له خپل پرتوګاښ څخه د مال د ترلو په وخت کې کار اخلي، يانې کله چې ګوډه تړي، پښه يې د پرتوګاښ په سر پورې زورلی وتړي، وروسته له هغه يې د ګوډ ځای په ترلو پيل کوي.

رښتيا که چېرې د مال داسې ځای مات شي چې چجې او پټۍ نه پورې تم کېږي، نو بيا کوچيان هغه سپرخی کوي، سپرخی دې ته وايي چې د يوې لوېی چجې (سکيندي) برسر سوری کړي، دلته ښه بولم چې د مېږي د مخ د پښې مته مثال راوړم، که کله داسې پېښه شي چې د مېږي يا وزې د مخ پښې د متې بر سر تخرګ ته نږدې هډوکی مات شي، نو د سوري چجې (سکيندي) له بر سوري څخه د مال ورۍ يا وژغنې باسي، هغه سره تړي، بيا ريوندك د اوسپنې يا د لرګي جوړ کړي، سپرخی تړې باسي، تر څو چجه ځای پر ځای ودرېږي، که چېرې يې ورۍ او وژغنې تړې سوکښتې او نه وي نو بيا له سوري څخه د هغه ځای څرمن باسي، هغه سوری کوي سپرخي پکې ورکوي، نور تړل يې همغه ور وي، لکه مخکې مو يې چې يادونه کړې دي.

## د واړه مال څيرول يا جراحي:

کله کله داسې پېښېږي چې د مال د څرمنې څيرولو ته خبره ورسېږي، لکه د مال کوم ځای اوږنه اخيستې او نيولې وي، په بل شان نه تړې راوزي، تر څو يې څرمن څيرې کړي، يا زيات وارې د مال په ورمېږ او تخرګونو کې دلته څرمنې

لانـدې يـوه پوکـانه پيـدا کـېږي، چـې کـوچيـان اوبـتې ورتــه وايــي او بـنې لــه سـرښتناکو اوبـو ډکـه وي، چې پـه لويـودو سره د مـال د خوړونـې او مشـکل سـبب ګرځي، نو په د صورت کې کوچيـان د اوبتې له پاسـه څرمـن څيـروي اوبتې لـه اوبـو ډکـه ثابتـه او بنده لـه پسـه څخـه راباسـي لـه هغـه وروستـه څيـرې ځاى بيرتـه سـره وګنډي.

همدارنـګه يـوه بلـه جراحـي کـوچيـان کـوي چـې د څيـرېدو وړ ده، هغـه دا ده چې که يوه بلاربه داسې مېږ يـا وزه مـري چـې ګونډه او يـا لنـګوال تـه يـې لـږ شـېې او ورځې پاتې وي، يـانې پـه لنـډ وخـت کـې لنـګېږي، کـابولس پينځلس ورځې يـې کونډ تـه پـاتې وي، خـو پـه يـو څه واسطه مـړه کـېږي، نـو د دې لپـاره چـې ورى يـا سېرلى يې ژوندى پاتې شي، کوچيـان داسـې کـوي چـې يـو کـس بـر پسـه حلالـوي، بـل کس په بيړه سره کوز نس پـرې څيـرې کـړي، تـر څو پـورې چـې د بلاربـې مـېږې يـا وزې وينـه نه ږيږي او بـدن يـې سـړېږي، کـوچيـان ژونـدى ورى يـا سـېرلى تـرې وباسي، هغه بيا په بلـه مېږ يـا وزه لـوى کـړي.

## د تاکت روزونــه:

په دې ځاى کې ښه بولـم چې هغـه روزونـه در يـاد کـړم چـې کـوچيـان يـې مـال تـه د تـاکت (طـاقت) او مزيتـوب (څربوالـي) لپـاره ورکـوي، خـو دلتـه بـايد جوتـه شـي چې د داسـې روزونـو ورکـول پـه پسـرلي کـې هغـه وخـت ښه يـادېږي چـې مـال پـه اوښو مـوږ هـر لـور تـه سيمه شنه وي، بـل دا چـې دا هغـه وخـت وي چـې مـال نـوې غوښه اخلي نو کوچيـان دا هـڅه کـوي چـې مـال وړزوي، ويـې پيـايي، تـر څو غـوښه واخلي او ښه مـزي (څربـه) شـي.

د تـاکت (طـاقت) د روزونـو پـه سـر کــې غـوارم د توتـو خوښا او خـواړه تـېل در پـه ګوتـه کـړم. ښايـي دلتـه څرګنده کـړم چـې د توتـو خوښا مـوږ مخکـې د غوړيـو د ژې په زنـه کې هم يـاده کـړې ده، لـه توتـو څخـه خوښا داسـې باسـي چـې يـوه انـدازه تـوت پـه دېګى کې واچـوي اوبـه پکـې تويـه کـړي، ښه يـې وايشـوي، چـې ګلـه پـوه شي چې د بوټو خوند پکې ووت، بيـا يـې لـه اور څخـه کښتـه کـړي پـه نينونـي کـې يـې واچـوي اوبـه تـرې ونينـوي د توتـو خـل پـل ايسـته واچـوي اوبـه يـې بيـا پـه اور کـېږدي، تر څو يې ټينـګې شـي، بيـا نـو کـوچيـان يـوه پيالـه خوښا لـه نيمـې پيالې خوږو تېلو سره ګډوي يوه پسه، مېږې يا وزې تـه يـې ور اچـوي.

بـل د مزيتـوب روز د مېږو او وزو غـوړي دي چې لـه شـودو سره يـې ملـګرې کوي، نيمه پيالـه غـوړي لـه يـوې پيـالې شـودو سره ګډوي، پسـه تـه يـې ور اچـوي، چې کوچيان غوړ روز هم ورتـه وايـي

همدارنګه ... روز غنم او ممیز (وڅکي) یادېږي، دا روز داسې جوړوي چې د سلو مېږو یا وزو په سر کابو له اوو کیلو غنمو سره دوه یا درې کیلو سره ممیز (وڅکي) یو ځای کړي، په دېګي یا تیم کې یې واچوي، د مېږو په اندازه اوبه ور اچوي، بیا دا لوښی تر اوو ورځو پورې په ډېران کې منډي، تر څو غنم او ممیز پکې خوړین نرم او خوسا شي، وروسته له اوو ورځو څخه یې چې راوکاږي، لاس پکې واچوي، ښه ډېر یې چنګال کړي، چې کله غنم او ممیز ښه میده میده کړي، بیا یې له رخت څخه ونینوي، خل پل ایسته تري واچوي، بیا دا د ممیزو او غنمو روز هرې مېږې او وزې ته یوه پیاله ور اچوي، دغه روز ته کوچیان خوږ روز هم وایي.

خینې کوچیان د غوړیو له ژي څخه روز ورته جوړوي، دا روز داسې تیاروي چې د غوړیو زوړ ژی را واخلي په دېګي کې یې واچوي، د مېږو په اندازه اوبه پکې واچوي، له دېګي څخه زوروز اور لاندې کړي، تر هغه پورې اور پسې بلوي تر څو د ژي خوند په اوبو کې وباسي، بیا دیګی له اوره کښته کړي،له سړېدو څخه وروسته هرې مېږې وزې ته یوه پیاله د ژي روز ور اچوي.

څرنګه چې د واړه مال د ناروغیو او روزونو په تړون خبرې اوس پای ته رسوو، د دې خبرې په روستارو کې غواړم دژته یاده کړم چې په مخ کې پاڼو کې موږ ډېر واړې زرڼه یاد کړی دلته باید جوته شي چې کوچیان د هر وخت لپاره د لمنځي زرڼه په کار کوي، ګواکې که د ځرمنې د غوړولو لپاره وي او که په روز کې وي، باید د منځي له ولیو څخه وتلې پاك (پیجو) او سوچه زرڼه وي.

## هغه نومونه چې مېږې پرې یادېږي:

په دې ځای کې لومړی غواړم د هغو خبرو یادونه درته وکړم چې کوچیان په تېره بیا احمدزي کوچیان د عمر له پلوه مېږې پرې پېژني اوپرې یادوي یې دلته ښه بولم چې دا نومونه له تندي وري څخه بینا کړم چې موږ یې مخکې هم څو واري نوم یاد کړی کله چې له موره وری پیدا شي،هغه ته تندی ویل کېږي، همدا رنګه چې په مېږو کې کومه مېږ وروستی لنګه شي، هغه ته هم تندی لنګه وایي، چې د خبرو په منځ کې یې داسې یادوي:

"زما تر غوږي مېږ تندی لنګه ده، یا زما تره خولی مېږ تندی لنګه شوه.

په همدې وړ وری چې لږ لوی شي کابو د وښو د خوړلو شي، هغه ته زاړې وایي، که چېرته په منې کې وری پیدا شي، هغه ته منګنی وایي، په همدې ترتیب که په ژمي کې وری پیدا شي هغه ته ژمګنی وایي، دلته باید یاده شي چې په یادو شویو نومونو سره ښځه وری هم یادېږي، خو بېلوالی پکې دا وي چې د ښځې وري نوم ښځینه (مونث) یادېږي کله چې وری د یوه کال عمر ته

ورسېږي نر وري ته يې وچکول او ښځې ته وچکوله وايي، کله چې د دوو کالو شي له هغه ایسته د شودو پخوانـي غاښونه اچوي، دوه مخ تـه لومړي غاښونـه يې نور را شنه شي، دوه غاښي شي، نر پسه ته پشېړل او ښځې تـه پشېړله وايي، چې کله څلور غاښي شي، هغه ته د شېړله او د شېړل وايي، بيا چې کله د څلورو کالو شي د هغې غاښونه پوره د لويې مېږې په نامه يادېږي نرمګه تـه ورګ ويل کېږي، له هغه څخه ايسته د ګرد غاښ په نوم يادېږي، تر څو غاښونه ووهي يا يې وښوروي.

دلته غوارم د ليري په باره کې ښينه درته وکړم، کله چې مېږ په لومړي وار ياني پشېړله لنګه شي، کوچيان هغې مېږې ته له يوه يا اول لېږې وايي کله چې دويم ځل لنګه شي کوچيان وايي دويم ليري لنګه شوه، يا دا چې کله څلورم وار لنګه شي، وايي څلورم لېږې ده په همدې ډول کله چې پينځم وار لنګه شي، وايي پينځم ليري ده، په پای کې غوارم په دې خبره مو سر خلاس کړم چې د کوچيانو مالداري زياتره وختونه په خپله خوله څر کوي، هر وخت خپل غاښونه له لوټو تيږو او خاورو سره لګوي، نو له همدې امله د مال غاښونه ژر زاړه او وهل کېږي، نو د کوچيانو له نظره دا وجه ده چې له اووم ليري پورې مېږ نه شي رسېدی، ياکه له شپږم ليري څخه پورته کومې مېږې لنګېږي هغه به ډېرې کمې د ګوتو په شمېر وي.

په دې ځای کې غوارم چې د مېږو او وزو د غاښونو په بيلېره کې څه ووايم د کوچيانو د وينا له مخې که يوه مېږ يا وزه د مخ لوري غاوښونه د زوړوالي په وخت کې د ببخ له لوري را جګ کړي، يا په بله وينا د ببخ له لوري را خام او وښوريږي، نو داسې پسه ښه نه يادېږي، ځکه داسې پسه ژر زړېږي. دا ښه نسل (ذات) نه ګڼل کېږي، نو د غاښونو له پلوه ښه نسل هغه مال يادېږي چې غاښونه يې د ببخ له لوري په ځای ولاړ وي، د زوړوالي په وخت کې د سر له لوري غاوښونه وهي، يا يې وخوري، تر څو يې ټول غاښونه وخوړل شي، چه په اوريو پورې يې بيخونه پاتې شي، په هغه صورت کې کوچيان داسې غاښونو تـه کوچنډ وايي په دې ځای کې بايد ياده کړو چې که د انسان مخته غاښونه په او وريو کې واړه واړه ښکاره کېږي، کوچيان هغو غاښو ته کوچنډ او هغه انسان ته هم کوچنډ ويل کېږي، خو په شا شا.

## مينده (وينده):

هسې خو ټول هغه مال ته مينده ويل کېږي چې خوټې نه وي ور څخه ختلي، ياني خسي او تکبدلي نه وي، خو دلته زه د هغه مينده يادونه کوم چې کوچيان يې د نسل (ذات) د ډېرولو لپاره ساتي، دلته بايد جوته شي چې

کوچیان د مینده په خوښولو کې ډېره هڅه کوي، تر څو داسې مینده مېږو او وزو ته پېرېږدي چې مور او پورته ذات یې پیور وي، ګواکې پې کوي؛ دی په خپله په هډوکیو او لم کې ښه سیخ او ښه چسپانده (غښتلی) وي، په وریو او وژغنو کې ښه پټ وي، یاني ښه تېسن وي، په دې پسېره باید مینده ښه رنګ ولري، د رنګ خوښول د هر چا خپل زړه وي، چې کوم رنګ یې خوښ وي هغه رنګ مینده پرېږدي. د یادونې وړ ده چې د مینده د ژبې رنګ ته هم ګوري، ځکه دوی دا ګڼي چې که د مینده د ژبې رنګ له وریو څخه بدل وي، نو په ځینسته کې به یې بل رنګ وری پیدا شي. دلته به د مثال په دود یادونه وکړو چې که سپین مینده خوښوي خو د مینده ژبه توره وي، نو د کوچیانو د تجربې له مخې به د داسې مینده په راتلونکي نسل کې تور وری زیات پیدا کېږي.

په دې ځای کې ښه بولم چې یاده کړو چې د ځینو کوچیانو په تېره بیا د احمدزیو کوچیانو د پوهې له مخې سپینه مېږ د کال نازکه او له تولو سخته توره مېږ یادېږي، وزې هم په همدې وړه د مینده د خبرو په پای کې د ځیرېدلو وړ خبره دا ده چې کوچیان داسلام د مبین دین له ارشاداتو سره سم او د پښتني تینګې عقیدې له مخې له دوو کالو څخه زیات یو مینده په مېږو او وزو کې نه پرېږدي، ځکه چې وروسته له دوو کالو د مینده لوڼه په رمه کې سترېږي، نو که پخوانی مینده په مېږو او وزو کې پاتې شي، مینده ته د هغه د لوڼو د درېدو امکان وي، په همدې وړ مور هم مینده ته نه نیول کېږي. له دوو کالو میندولی څخه وروسته مینده خرڅوي.

## ګرځنده:

هغې مېږې او وزې ته وایي چې د مینده د ور پرېښودلو په وخت کې مینده ته ودرېږي، تېره شي، بل وار بیا مینده ته درېږي، چې کوچیان یې د خبرو په منځ کې داسې یادوي:

زما مېږ وګرځېده، یا زما مېږ ګرځي.

دلته باید جوته شي چې کله کوچیان مېږو ته مینده ور وشړي، مېږې تېرېږي، خو بیا څلوېښت ورځې د ګرزندو حسابېږي، یاني له یوار تېرېدو څخه وروسته څلوېښت ورځې وروسته ځینې مېږې ګرځي، دوه وارې په مینده راځي، نو دا شپې ورځې د ګرزندو یادېږي.

## نارلګه:

هر هغه مال ته وایي لکه ښځه او ښه غوا، مېږ او ښځه وزه چې په مینده راځي خو لنګېږي نه، داسې یې وبوله چې لنګون نه کوي، هغه ته کوچیان نارلګه وایي.

نـارلگه نـوم هغـه ښځو تـه هـم يـادېږي چې ښځـي يـې اولاد نـه کـېږي، لکـه "د پلانـي ښځه نـارلگه ده، يـا نـارلگه شـوه."

## سپیازه:

دا نـوم يـوازې د اوښې لپـاره اخيسـتل کـېږي، کلـه چـې کـوچيـان ښځې اوښې تـه اوښ ورکـړي، نـو لـه لسـو ورځو نيولـي تـر شـلو ورځو پـورې پـه اوښه کـې د ورلتـوب نـښې ښکـاره شـي، نښې يـې دا دي چـې ورلـه اوښه چـې کلـه چـو کـېږي، ښه نه چوکېږي، ځان کنجوي، يانې ژر نـه چـو کـېږي، تـر ټولـو جوتـه نـښه يـې دا ده چـې کلـه انسـان او يـا نـر اوښ ورتـه را نـژدې شـي، ورلـه اوښه لکـۍ اخلـي، يـانې لکۍ پورتـه کوي، لکۍ جګوي، د لکۍ لـه جګولـو سـره لـړ لـړ مېتيـازې هـم کوي، نو کـه چېرې لـه دريـو مياشـتو مخکـې ور لـه اوښه نـر اوښ پسـې واخلـي، يـا يـې پـه ډکـه ووهـي، يـا ووهلـه او وډاره شـي، درنـده بـار شـي او يـاهم چېرتـه ولوېږي، او وډاره شي، بې لـه دې چـې کومـه نـښه ښکـاره کـړي، ښه مانـا دا چـې نه وينه کوي او نـه رمـه کوي خو سـپيازېږي هـر ځـه يـې چـې پـه نـس کـې وي هغـه پکې ورکـېږي، پـه خپـل وخت سره بيـا اوښيمـه کـېږي.

## خړه:

دا نـوم د هغـه مـېږو او وزو لپـاره اخيسـتل کـېږي چـې ميـنـده تـه درېدلـې وي، بيـا ډېرې ورځې وروسـتـه هغـه مايـه تـرې ووزي، خـو پـه اوښ او واړه مـال کـې دا بېلوالـى وي چـې اوښه وچ پـه وچـه سـيپازه شـي ووړ مـال د اوښې پـه خـلاف وينـه يـا وينې تـه نژدې نښې ښکـاره کـړي، چې پـه نـښو يـې هـر څوك پوهـېداى شـي، چـې دا مېږ يـا وزه خړه شوې ده. سره يـا زيـړې رنګه رمه زوه يـا خراشـکي نـي کـړي دي.

## زاړندکه يـا زاړنـده:

کوچيـان هغـه پسـه تـه وايـي چـې د خپلـې او بلـې رمـې او تـوى فـرق پـرې يـو وي. نن لـه يوې رمې سـره وي، صبـا لـه بلـې رمـې او تـوى سـره وي، دلتـه کـه يـاده کـړو بـده بـه نـه وي چـې دا نـوم د ځينـو ارجـايزو وګړيـو لپـاره هـم پـه خولـه اخيسـتل کـېږي.

- پلانی هم لکه زاړندکـه پـه هـر خاى کـې ګرځي.
- هغـه يـو زاړنـدك انسـان دى.
- هغـه لکـه زاړنـدك داسـې دى.

*زاړندك لـه ځانـه مـه جـوړوه.*

يـا د وګړ ګونـدي پـه منځ کې هغـه خلـك زاړنـدك دي چـې نـن لـه يـوې او سبا لـه بلې سيلسې ډلـې سـره وي.

ځرنګه چې د مال په ارتباط خبرې پای ته رسوم، له بېښني ځخه وروسته غواړم څو خبرې نورې هم درته په ګوته کړم، دا هم کېدای شي چې دا خبرې د ډېرو وګړيو زده وي، خو زه يې دلته په دې خاطر يادول ښه بولم چې له مال سره تړلې خبرې دي، او بل دا چې زموږ ليکل د کوچيانو د خولې خبرې دي.

اوس راځو خپل بريد ته کله چې مېږ په مينده يا مګه راشي، کوچيان ورېمه (وګيمه) ورته وايي، په همدې ډول وزې ته وزيمه اوښې ته اوښيمه، خرې ته خريمه اسپې ته اسيمه غوا ته غويمه او سپي ته سپيمه وايي. په پای کې بايد زياته کړو چې په پورته نومونو کې ځينې نومونه ښځو ته د سپکاوي کنځا او بدې وينا پر ځای يادېږي، همدا رنګه د هونګي خره او د سپيمې د سپي نوم د ځينو سړيو له پاره هم يادېږي، خو بايد ياده کړو چې له داسې ويلو ځخه د بدې تخم جوړېږي، ګواکې داسې خبرې د بدې تخمن شي يا د بدي تومنه او زيګنده شي.

د ځينو خلکو په اړوند دغه له پيغوره ډکه خبره هم کېږي وايي هغه يا دغه خلك مينده ګډ دي يا دا چې خور او مور نه دي پکې او جوت مينده ګډ دي يا مينده ګډ له ځانه مه جوړوه يا لکه په دغه اتيو نو نويو اوځيني عصري ټولنو او مليتونو پسې چې د مينده ګډ خبري کېږي يا دا چې ګوتې پسې لګي دي.

## په کوچيانو کې د وخت پېژندنه

په ډېر زړبدی سره وايم چې زما دا د وخت د اټکل مضمون ډېر نيمګړی دی، خو بيا هم دا خبره ښه نه بولم چې دا لږ معلومات چتې کړم، هسې اسانه يې ونيسم، د قلم څوکې ته يې و نه سپارم، د دې پر ځای چتې چې اسانه يې و نيسم، وبولم دا يوه ولجه بولم ځکه چې د کوچيانو په منځ کې نن سبا هغه ببر ببر کراخ کراخ سپين ږيري نه شته چې د ټرليو زمريو په څير به بوګی بوګی سرې سترګې ناست وو او کشرانو ته به يې د تېرو وختونو کيسې کولې او په خپله پرې تېر شوي حالونه به يې ورته ويل، د وخت په اړه به يې کال په څو فصلونو ورته وېشه، د ورځې د لوېدو او د شپو د ورکي کېدو حال به يې ورته ښوده، د لمر او سپوږمی يو له بل ځخه د تېرېدو وخت به يې ورځرګنداوه يو له بل ځخه د تېرېدونکيو ستورو نومونه به يې ورته ښوده هغه وخت به يې ور ياداوه، چې د باران د اورېدو امکان به پکې زيات وو چې کوچيان توغل ورته وايي د سپوږمۍ لمر او ستوريو يو له بل ځخه د تېرېدو توغل به يې ور ښودل د نهه نيمو توغل ادرکي بدرکي د دريو توغل (سي توغل) او د نهم توغل به يې ورته په بڼ کاوونو دلته بيا هم موږه وايو چې په پورته يادو خبرو زموږ مضمون نيمکله او نيمګړی ده. بيا هم بيلبړه يادوو.

ځرنګه چې کوچیان له ځرمه بې لیکه او بې لوسته دي، نو دوی د وخت د پېژندلو لپاره د جنتري او ګړۍ (ساعت) پر ځای له خپل نظر او د خدای له کایناتو څخه کار اخلي، هغوی ته ګوري دا ځان ته معلوموي چې دومره ورځ او یادومره شپه ووته،په دې شیانو کې مور د دې یادونه کوو، لکه لمر د خپل تن یا بل څه په سیوري د شپې له خوا سپوږمۍ په اسمان کې لار، پیروني، تلې، کنې، لیلی او لجروم (لیلا مجنون) د سهار سترګه، تېرې، سپېدې، سپېده چاود یا سپېدې او د تلو سترګه په دې پسیره د چرګ په اذان هم د شپې له خوا وخت معلوموي، خو چې چرګ ازمېل شوی وي، چې ښه وخت او په خپل وخت اذان کوي، په دې ځای کې باید یاده کړو چې د کوچیانود وینا له مخې چرګ په شپه کې درې وارې اذان کوي چې دوی ورته اول چرګ غږ دویم چرګ غږ او درېیم چرګ غږ وایي، دلته باید یاده کړو چې شپه په څو فصلونو سره یادوي، لکه ږومبی شومه نیمه شپه وروستۍ شومه او سباوون.

اوس به راشو برو یادو شویو نومونو ته چې په هر یوه بېل بېل یو څه ولیکو په اسمان کې د لارې په یادولو کې به دا ووایو لکه له نوم څخه چې جوتېږي ماسوختن په اسمانکې یوه سپینه لار یا د ځینو خلکو په وینا د ګیو سوریو د موقعیت سپینه لار ښکاره کېږي. د دې لارې تګ کوچیانو د ځمکې له مخ غرونو او غونډیو سره په نښه کړي وي په دې ډول چې لار ماسوختن د ځمکې په مخ غره غونډۍ (وته کې) او پښتۍ په دې برید ولاړه ده،د شپې لومړۍ شومه چې شي هغه ځای ته به رسېږي. په همدې ور د شپې وروستۍ شومه چې شي د غره غونډۍ وتې او پښتی هغه برید ته به تاوېږي.

## پیروني:

کوچیان هغو غوړسکه ستوریو ته وایي چې شمېر یې کابو اوو ستوري جوتېږي. دا غونډ ستوري د پسرلي د وروستۍ میاشتې په پای کې د اوړي (دوبي) په لومړۍ شپه یا پیل کې سباوون کې را خېژي (سباوون وخت کښې را خېژي) یوه بله خبره چې کېږي هغه دا ده چې په دغه شپه کوچیان مالداري سورلن ته پنډوي او دروي په داسې ځای کې مال دروي چې د لومړۍ ورځې د پیرونیو له راختو څخه پنا وي، د کوچیانو په وینا چې پیرونۍ یې ونه وهي، په هر حال وروسته بیا د هرې شپې په تېرېدو سره پیروني د تېرې شپې له راختو څخه دمخه را خېژي. د افغانستان په حساب د ژمي په لومړۍ شپه سباوون یا دا چې د ملا اذان په وخت کې د غره سر ته ځان رسوي. د کوچیانو په وینا لوېږي، د پیرونیو له لوېدو سره کوچیان دا خبره هم کوي چې د پیرونیو د

لویدو په وخت کې د غرځه و منیده گڼېږي، یا په بله وینا د پیرونیو د لوېدو په وخت کې غرځه تېرېږي، گواکې له هغه ایسته غرڅه مینده ته درېږي.

## تلی:

په دې ځای کښې باید یاده کړو چې دوه یادیږي یوې ته د مسلمانانو او بلی ته د کافرو تله وایي کومه تله چې د مسلمانانو بولی د هغې دری واړه ستوری په یو برابر ځلکند او روښانه دی او کومه تله چې د کافرانو یادوی د هغې تلی ستوری یو له بل څه تغیره دی د دواړو تلو د کوز سر ستوریو تر څنگ یو یو ستوری بل هم شته چې هغه ته پاوی یاني د تول اندازه وایې په هغوی دواړو کښې هم کوم ستوری چې د مسلمانانو له تلی سره ښکاره کېږي هغه ځلکند او روښانه ښکاری کوم چې د کافرانو له تلی سره ښکاره کېږي هغه ډیر تغیره او پیکه جوتیږي په هر حال که چیرته موږ داسی ودریږو چې مخ مو د لمر خاته و لور ته وی نو تلی د اسمان له نیمایي څخه په ښی لوری کښې خپل مزل کوی دواړه تلی د هر وخت لپاره سره نیژدی او په یوه اندازه سره ولاړی وی یعنی له مزله څخه پرته په خپل مینځ کښې ته سره ښوریږي.

## کښې:

یوه بله اندازه ده چې کوچیان شپه پری بیلوی د گنې د لیدو لپاره که په ختیزو دریگونو د اسمان د روښانه برغوالی له نیمای څخه په کیڼ لوری کښې یې لیدي شو دا ځلور ستوری دی ځلور کونجه ښکاره کېږي خو یو لوری یې سورور او بل لوری یې کم سوري ښکاری له دسره سره یې دوه کونجونه ور ننه وتلی او دوه وتلی جوتیږي یعنی دواړه یو بل ته مخامخ کونجونو یې وتلی ښکاری له دیوه کونج څخه را ورسته یې یو بل ستوری ده هغه بوډی بولی که د بوډی له لوری ورته وگورو نو د ښی لاس دواړه ستوری سره نژدی ښکاری له هغه څخه وروسته لږ کوز یو بل ستوری دی هغه ته د بوډی میږ وایې د هغه ستوری په څنگ کښې یو بل وړوکی پیکه ستوری ده هغه ته د میږی وری وایې له هغه څه وروسته یو بل ستوری ده هغه ته لیوه وایې په هر حال ددی کښې او ورسره ستورو په مزله او تگ باندی د شپې وخت پیژنی.

## لیلا و لجروم:

دا لیلی و مجنون، کوچیان په اسمان کښې دوو ځلکندو ستوریو ته وایې کوم هغه ډیر زیات ځلکند ستوري چې د لیلا په نوم یادوی هغه ډیر زیات ځلکند سپینه رڼا او شوغلی وهی کوم ستوری چې لجروم د مجنون، یادوی هغه هم تازه ولی خو سره شوغله کوی سور مایې وایې باید یاده ږشی چې لیلا

کوچي او لجروم د یشین یادوی کوچیان وایي چې دا ستوري په کال کښې دوه واري سره تیریږي یو له بل څخه د تیریدو وخت یې منی او پسرلی یادیږی باید یاده کړو چې د لجروم "مجنون تر څنګ سره یو ستوری ده چې د مجنون سپی یادیږی د لجروم ستوری د هغه په سپی پیژندل کیدای شی.

## د سهار سترګه:

ښایي هر څوك یې وپېژني چې سهار را خیږي، د تیرو سپېدو او سپیدو په باره کې دومره ویل بس بولو چې ووایو چې تېرې سپېدې کهیخ د لمر خاته له لوري یوه نېغه رڼایي پیدا شي، چې زموږ په دیني کتابونو کې ورته صبح کاذیب وایي بیا وروسته خپره رڼا پیدا شي چې ورته صبح صادق وایي، کوچیان ورته تیرې سپېدې او سپېده چاود وایي، بله د تلو سترګه ده، دا لکه له نوم څخه چې جوتېږي له تلو سره مزل کوي، خو هغه داسې چې کله له تلو څخه لرې روانه وي او خیني وختونه بیا وروسره نژدې روانه او مزل کوي په پای کې باید زیاته کړو چې د ستوریو له تګ سره د کوچیان نظر پوخ وي، د اسمان په پراخه ډګر کې دا په ښه کولی شي، چې که دا ستوري د اسمان هغه خای ته ورشي، هغلته دومره شپه وتلې وي او که بیا هغه خای ته ورشي نو هاغلته دومره شپه پاتې وي او چې هغه ځای ته ورسېږي بیا نو ګیڅ کېږي، لمر هم په همدې ور په ښه کوي، د سیوري په باره کې به دا ووایو چې هغه هم په ښه کوي چې که سیوری دغه ځای ته راشي دا وخت وي او که هغه برید ته ورسېږي دا وخت راځي، په همدې ور د سیوری خیني خلك په پله کوي، یانې د خپل تن سیوری په خپل پله باندې اندازه کوي، یا دا خپله لوښت په ځمکه نېغه ودروي.

دلته غواړو د سهار له سترګې سره په تړون دوه خبرې ښکاره [illegible] هغه دا چې خینو خلکو ته د سهار سترګه په ښېراوو کې د بد نامي لپاره یادېږي او خینو خلکو ته د نېکنامي لپاره یادېږي داسې ورته وایي:

- خدای دې داسې را ووینه لکه د سهار سترګه یانې داسې بد نام او په شرمبنده ګۍ مشهور شي چې تول خلك دې ووینې.
- خدای دې داسې را ووینه لکه د سهار ستوری، یانې داسې په ښه نامه مشهور شې چې تول وګړي دې ووینې.

کتاب مخي ته نیسو داسې کینو چې کین لاس مو ختیز او ښي لوري مو لویدیز لور ته وي پورته اسمان ته ګورو.

# ارجلې خبرې

په دې خای کې مې نمت دی چې د کوچیانو له خولې څخه هغه خبرې ولیکم چې د تکنه کړې شنې تېرې په خبر یې د خبرو په باره کې لکوي، خینې لوستونکي بنایي ووایي چې موږ ټول پښتانه یو دا خبرې مو یادې دي او هره ګړۍ یې کو، د هغوی خبر پر خای ده دلته باید جوته کړو چې افغانان له یوې خوا هم نیمګړی نه دي د خدای‌په بنده ګانو کې یو په دین مین توریالي باهمته باجورعته په ازادۍ مین او د ډېرو صفتونو لرونکی قوم دی، افغانان له هر لوري یوه داسې چینه ده چې د ډېرو خلکو تنده ماتولی شي. ولې د دې چیې وار نوروخلکو نیولی دی، موږ به هلته پښتانه او افغانان کېږو چې هر څه ډېر ولیکو ولولو او ګورو سره وپېژنو او په دې سربېره نور قومونه وګورو چې لومړی یې څه کول بیا یې څه وکړل اوس څه کوي چې کله مو لیک او لوست زیات شي، له هغه وروسته به دوست او دښمن وپېژنو، خپل افغانان خپله سپینه پښتو به وپېژنو.

د دې لپاره چې له خپل اصل مطلب څخه لرې ولاړ نه شو، ګرانو لوستونکیو ته ښکاره کووچې راتلونکي خبرې موږ ډېرې د خبرو له توکیو څخه رابکلې دي، بیا مو د الفبا توریوپه بڼ سره بند کړي دي که په دې جوړښت کې څه کمی له موږ څخه شوی وي هیله ده چې پرې خواشیني نه شئ، بلکه دا چې په دې تکیو کې مو کمې کړې د مثال په دود (ژ) مو پرېښې ده، د (ژ) پر خای مو (ز) لیکلې، ګواکې بو تکی (توری٠ مو په بل توري بدل کړی هره خبره مو په هغه وړ لیکلې چې اورېدلې مو ده. راخو د الف توري ته خو یوه خبره درته یادول غواړم هغه دا چې په کوم خای کې په نوم یادولوباندې خبر سمېږي هغلته د نوم یانې پلانې پر خای یوازې (پ) لیکم، له (پ) څخه به جوته وي چې پلانی یادېږي.

# د کوچیانو ګړنې

# الف

اباسي : پ یوه اباسۍ په جېب کې نه لري، د یوې اباسۍ وس نه لري.

ابۍ و ټګۍ : وایي پ او پ سره خپلوان دي، سره ابۍ و ټګي دي یا څو ورځې دمخه یې ځانونه سره ابۍ و ټګي کړي وو اوس بېرته سره پردي شول یا هغه مشر چې کشرانو ته ټګي ورته ویل.

اپت : په ښېراوو کې ډېر یادېږي، لکه خدای دې اپت پرې ولګوي، یا اپت پرې لګېدلی دی.

اپړی : په مړی (ډوډی) ګډو داسې اپړی یې ویلې اپړی مه ویه یا پ اپړی وهي د وینا دولت ډېر وي په د وینا پسې اړپړی وهي، یا پ ډېرې اپړی ووهلې خو هېڅ په لاس ور نه غلل، یا پ په هغه چار یا خبره کې ډېرې اپړۍ ووهلې.

اپلټي : پ په هر مجلس کې چې کښېني، اپلټې ولي یا وایي له هر چا سره اپلټې ولي. یا هغه هسې سیاسي اپلټي ولي.

اپال : دا ټکی د خوی او ادب په ځای یادېږي. پ ډېر بد اپاله، سړی دی، یا دا یو ډېر بداپال دئ.

اپیلل : په هوټل کې خلکو ټول پ داسې خواړه اپیلل داسې ګډوډ خوراك کوي چې څه مخته ورته کېږي اپیلی یې (اپیلل کوي) یا پ د قوم سته واپیلل.

اتو اوسسو : دا نوم د ځینو خلکو د سپکاوي له پاره یادېږي لکه پلانی ځای کې ټول اتو اوسسو سره را ټول شوي وو یا کوم خلك چې هلته ناست وو ټول اتو اوسسو وو.

اټاله : لکه پ هغه شي اټاله خرڅ کړ، منې ښه وګنده ټول یې په ځای خرڅ کړه. یا اټاله یې راکړه.

اټاوز : په بازار کې د خلکو داسې اتاوز و یا یو مخ یې اټاوز جوړ کړی و، هره ورځ د پ په کور کې اټاوز وي.

اټکل : اندازه یا پ په اټکل غږېږي یا له اټکله دې وویل یا له اټکله مه غږېږه وایي لکه د ترورمۍ سپی په اټکل مه غپېږه.

اټېرلي : دا نوم هغه چا ته یادېږي چې د ډېر خوراك له امله ناروغه شي، خو باید ووایو چې په شا شا ورته ویل کېږي، لکه پ پرون پردي خیرات خوړلی اوس اټېرلی ده، تل دې اټېرلی وي،

وايي دا اټېرلي اساني په خپله کونه ده. يا اټېرلي خبري کوي

اټير : دا نوم بدرنګو جوړو کړيو خوړو ته يادېږي. لکه دا د څه اټير جوړ کړی دی، هر څه مه سره ګډه وه، څه اټېر ترې جوړوي.

اچيرني ادم خان : لکه پ هم اوس اچيرني ادم خان نه ده.

اچيرني خوبونه: وايي اچيرني خوبونه مه وينه، يا پ اچيرني خوبونه ويني

اخته : وايي پ په هغه چاره يا خبره اخته وو. وشوه پري لګيا و. يا خو به په بدو بدو چارو کې اخته وي

اخيستل : وايي په هغه بېلبره کې پ - پ پسې واخيست، يا په هغه خبره کې پ اخيستی بوله يا په يوه لوري کې هم پ نشي پسې اخيستی. يا لکه ورله اوښه لکی. مه اخله

اخيسته : دا ويل د هغه چا په باره کې ويل کېږي چې په بد نيت د شهوت په لاربوونه پورته شي. وايي پ اخيسته اخيستی وه. يا پ اخيسته اخلي يا اخيسته وا نه خلي

ادا کول : پ پ ته پور ورادا که، يا پور نه شي ادا کولی

ادتي : پ ادتي ده ته داسې کارونه کوي ادتي ادتي مه کېږه، وايي ادتي دا ادتيپر بړده

ادر : له بدو ادر په کار ده، پ له پ خخه ادر وکه

ادل بدل غوړونه: وايي پ به بيا هغه خبره يا چاره نه کوي ادل بدل غوړونه يې ونيول يا هغه ني نه پرګدي چي اول بدل غوګونه پري ونه نيسي

اډی : دې چارې ته د خلکو اډی شوه، دې موږ د ورته اډی کړه د تا ښادي ده، د خلکو درته اډي شوه اډی په اصل کې د ستوني يوه درد (خوږ) ته وايي چې د تنکی ژبې په يوه او بل لوري کې خوږ پيدا شي هغه اډي يادېږي.

اډيل : پ په ي غيسي ور وار کړ، خو هغه په تيره پوري ناست و. تيرې ترې واډي يا چې تيرې نه وي ترې اډېلي بيا يې وژلی و، يا په پ يې د توري وار وکه، خو سپر ترې واډيله يا خبتي ته يې پېښکوزه ور پوري وهله. خو ملا بند ترې واډيله يا په تېره لرګي ني چې مخامخ ووايه خو ملا بند ترترې واډي يا پ يې په پ وا نه ډي بل څوك يې نه شي اډيلی يا پ هغې خبرې واډيه په هغه خبره يا چاره اډيل کېږي. يا که اټيون نړي ياده کړو نو شوروي لوري په افغانستان کې وا اډيل شو

ارتاویزی : وایي میرك چیتي چیتي خبرې وکړي ارتاوزی یې وویستې، یا سړی په هر مجلس کې ارتاوزی نه ولي یا پ او پ سره ناست وو ارتاوزی یې سره ویلې یا پ هغه چاره یا خبره کې ارتاوزی وویلې. منې یو او بل یې په خبرو کې سره را ارتاوول ارتا د غورخولو په مانه هم راخي

ارت : لکه ارت کینه، ګواکې ازاد کېنه یاد دې شې خو له آزاده ده، ارته ده، یا دا شی یا خای ارت پکار و سړي یا ښځې ته که ارته وویل شي بیا پیغور ده.

ارتکه : وایي په پ تنګڅه وه اوس پې ارتکه شوه یا پ ارتکه پې راوسته. یا خداي دا رتکه در باندې راولی.

ارته پرته : د پ مازغه خرابه دي، ارته پرته غږېږي، یا یوه خبره یې هم په واك نه ده، ارته پرته غږېږي، یا که د غوصې په وخت کې کوم څوك ګډ وډ وغږېږي، ورته وایي ارته پرته مه غږېږه، ډېر ارته پرته وغږېدلې، یا د پ سر زخمي و، ارته پرته غږېده. یا پښې ئي بې واکه ارته پرته کېښودې. یا موږ ویلي شو چې سیاسي چارې ئي ارته پرته شوي.

ارغندي برغندي: پ دا چاره نه کوي هسې ارغندي برغندي کوي یا د کار ته جوړ نه ده په ارغنده برغندو وخت اړوي، یا که دا کار کوي و که کته ارغندي برغندي مه کوه، ډېرې ارغندي برغندي دې وکړ. یا دا چې : افغانستان په ورانې او افغان وی وژنه کې هر چا خپل وس وکه ولي په سوله او ودانې کې ارغندي پر غندي کوي.

ارغومك : وایي پ ښته ډېر ارغومك انسان ده یا هر وخت ارغومك کېږي، یا د هغه خبرې ارغومکې دي.

ارکاړی نن خو پ بیا په خبرو ګرم شوی داسې ارکاړي ولي (وایي) یا که غم وي که ښادي وي ته ارکاړي ولې. پ له پ سره ناست وو ارکاړي یې ورته کولې (وېستې).

ارکوڼي . د پ ښځه مړه شوه واړه ارکوڼي یې پاتې شوه. خدای دې د چا ښځه نه وژني واړه ارکوڼي به څرنګه کوي.

ارګی پ وایې چې جواری وخورم ارګی مې بدوي، د ډېرو خوړو په خوړلو سره ارګی بدېږي، یا دا چې داسې بدې خبرې مې اورېدلې چې ارګی مې بد ده، یا په بدو خبرو ډېر وخت د سړي ارګی بد وي، یا په داسې چارو یا خبرو یا دولت د پ

ارگی هم نه خوسا کېږي. یا د هغه له سیاسي چلند څخه د خلکو ارګي بد شو.

ارګیمی: پ ته خوب ورځي، داسې ارګیمی کاږي، یا د سهار له خوب را جګ و ارګیمی یې ښکلي چې دښمن حمله پرې وروړه.

ارله یاهرله : وايي پلانی ښځه یا سړی ارله (هرله) انسان ده، یوه ګړی په یوه حال وي بله ګړی په بل حال وینې په اخلاقو او ادت کې یې فرق راځي، یا ارله هرله مه کېږه.

ارمست: هغو مایاتو ته وايي چې کنډئی مات شي، لږ نرې غونډي شي، لکه غوړي د لمر ته کېښود ارمست شوه یا داسې ارمست ورګه دې پاخه کړل. یا مستې ارمتسې وي.

ارومرو : ضرور به دا کار کوې. یا کوم کار چې چا درته وسپاره ارو مرو به یې کوې.

اړ : نن سبا پ ډېر اړ ده خدای دې له اړي وساته، اړی ډېره بده ده، یا تل سړی نه وې اړ یا ته ورته اړ یې، خدای تا ته نه ده اړ یا یوه ورځ به اړ شي، بله دا چې وايي یو اړ بل اړ له خدایه غوښت. یا چوغې لونګي ته اړ ورکړي.

اړخ : وايي د پ دې چارې ته اړخ نه لګي، یا په دې خبره کې اړخ ته نبغ شوی.اړخ د غره یو لوري ته وايي همدغه وړ د هر څه یو لوري ته .

اړخ تري سول: د پ له پ څخه ډېر اړ سوزي، یا اړخ مې در څخه سوزي، یا اړخ دې نه را څخه سوزي، که اړخ دې را څخه سوي داسې به دې نه کول. د زمکې په مخ هېوادونه دي چې یو له بل څخه یې اړخ سوزي.

اړخ له مځکې جك: دا چاره (کار) مې نه کېږي، اړخ مې ډېر له ځمکې جګ دی، یا ورونه مې په کروانه تللي، اړخ مې ډېر له ځمکې جګ دی، یا ډېر کارونه راته پراته دي، اړخ مې له ځمکې جګ دی. یا د هغې خبرې لپاره یې اړخ له ځمکې جګ دی

اړم : پ دې کار ته اړم دی یا هرې خبرې ته اړم یې، یا اړم دې له خانه جوړ کړی دی. یا دا چې وايي مېړونه غرونه دي ښځې نې اړمونه دي. یا هغه غواړي چې سیاسي یا قانوني اړم تري لاندې کړي.

اړویه : لکه پ د خلکو په خبرو کې غرېږي، خو د اړویې لپاره چې په کومه خبره کې د ده اړویه نه وي په هغو خبرو کې نه غرېږي،



ACKU

ګواري چې کومه خبره کې يې خپله ګټه نه وي، په هغه کې نه غږېږي، يا پ مړ شو پ يې اړوېې ته خوشحاله دی. يا پ په هغه چاره کې ځان ته اړوپه جوړوي.

اړ و غوړو : پ ته پلار دومره خبرې وکړې خو دی هېڅ اړ و غوړ نه شو. د پلاني په خبرو چې اړ و غوړ نه شوې، د چا په خبرو به اړ و غوړ کېږې، په پ دومره تنګځي تېرې شوې خو دی نه اړ شو، نه غوړ، هېڅ اړ و غوړ نه شو، يا نه به اړ شي ته به غوړ شي.

اړوك : د پ او پ ډېر پخوانـي اړوك ده سره يادې تا خپل اړوك وو د ما هېڅ غم نه وو درسره، له هغو سره د ده اړوك ده. ګواکي بديې ورسره دي. اړوك د اختلاف په مانا هم راتلاي شي.

اړوند : پ د خلکو اړه چلوي، ډېر اړوند سړی ده يا هرې خبرې ته لټ ورکوي، اړونده يا ښه سړی ده په هر لټ پوهه دی اړوند دی.

اړه : وايي پ – پ ته اړه ور واچوله، يا پ اړې اچوي يا د پ اړه په دې خبره رنځل کېږي يا د پ دا خبره اړه وبولـه بنـده تـي نيولې ده. يا همدغه وړ سياسي اړي.

ازارمن : کوم ځای چې ازارمن شي بايد هلته سړی ور نه شي پ په ازارمنو خبرو کې کار لري يا په ازارمنو ځايونو کې کار پيدا کوي دا ځای ډېر ازارمن دی

ازار کتيلي : پ ډېر ازار ګتيلی دی، يا د خلکو ازاژونه يې وړې دي، يا ډېر ازاري سړی يا بل څه نه کوي ازارونه ګټي.

ازاده کورمه: دا خبره د هغه سړي لپاره يادېږي چې غوسه نه کوي، لکه پ ازاده کورمه ده، خپل مزلونه پکې کوه، ډېر ښه سړی دی، ازاده کورمه ده يا د سياسي او واکمني چلند له مخې ازاده کورمه دي.

ازغي (اغزي): پ سړی مې په سترګه کې ازغی دی، داسې را ته ښکاري لکه په سترګه کې ازغی يا دا زما دسترګې ازغی دی.

ازمار : وايي پ ډېر ازمار سړی يا ازماره ښځه ده، خلك تېر باسي. يا پ ازما رازمارو غږېده يا يې سترګې ازماري واړولې را واړولې وينې له مکره ډکې يې اړولې.

ازيمته : په هغه خبره پ ډېر ازيمته شو يا دا خبره مه ورته کوه پرې ازيمته کېږي، مه يې ازيمته کوه ازيمته به شي

اسك كومي : وايي پلانی ښځه په اسك كومي وغږېده، يا پ له هغه املـه يا په هغه باره کې په اسك كومي غږېږده، يا د پ له وېرې ځوك

په اس کومي غرېدی شي یا داښېراچې وایي. دا اسکومی دې خاوري شه.

اسمان او ځمکه سره ګنډل: پ خان ډېر زورور ښکاروي، اسمان او ځمکه سره ګنډي یا اسمان او ځمکه مه سره ګنډه، یا اسمان او ځمکه سره وګنډه

اسمان پرې شین کول: په پ بده ورخ ده، پلاني ه څه اسمان پرې شین کړي یا اسمان به په خلکو شین کړي یا تا کله په خلکو اسمان شین کړي.

اسمان په پسکو وېستل: پ اسمان په پسکو ولي یا اسمان په پسکو مه وله، د هغه دا اپال دي چې اسمان په پسکو ولي.

اسمان ته زینې کېښودل: پ دومره کبر نیولی چې اسمان ته زینې کېږدي یا دومره زورور یې چې اسمان ته زینې ږدې.

اسمان ته پښې نیول: دومره له خانه زورور مه جوړوه چې پښې اسمان ته نیسې، یا پښې اسمان ته ولې نیسي یا پښې اسمان ته مه نیسه.

اسما ته کتل: پ کبر نیولي ځمکي ته نه ګوري، اسمان ته ګوري، یا اسمان ته ګوره اسمان ته ولې ګوري، یا نظیر یې ډېر جګ دی اسمان ته ګوري. یا هغه د سیاسي غرور له امله اسمان ته ګوري.

استاوزی : در ګرده استاوزی ورلېږي، استاوزی یې ور ولېږه

اسوده : پ ډېر په کراره (اسوده) عمر تېر کړ، ژوند یې ډېر اسوده دی، اسوده ژوندمه تېره، خواري بدرنګي وکړه

اغېږ : هغې طبې یا ناروغي ته وایي چې له ځینو خوړو څخه د نفرت له امله یا دمردار شي په ډوډۍ (خوړو) کې د لیدو او یا د مرداریو د لیدو له امله انسان ته ورپېښه شي. وایي په خوړو کې مې مچ ولید، وایي غېږلم یا ولې اغېږلی خوراك کوي، یا اغېږلی خبرې کوي یا له هغې خبرې راهیسې اغېږلې غوندې ده، یا په کوم لوښي کې چې انسان واغېږل شي بیا په هغه لوښي کې مړه خوند نه ورکوي. یا د پ اغېږ په بندو شه یا له هغې چارې را وروسته د پ اغېږ په بندو یا هډو شه.

اغېزه : په اصل کې هغه غځېدو ته وایي چې له خوب کولو څخه وروسته ښني خلك غځېږي، وایي د پ څره اغېزه دی. یا د پ په هغه پخوانۍ خبره په زړه کې اغېزه دی یا یې په هغه خبره پ ته په زړه کې اغېز ده، یا د پ او ب ډېر پخوانۍ

اغېزه دی سره یا ې چې چېرتـه کبرجن سړی وونیـې د ده پـه زړه کـې اغـېزه ورتـه پیـدا شـي. یـا لویدیـزي او ختـیزي نـړې خپـل اغیزه په افغانستان کي سـره ویوستـه.

اغېګل : ې خبر ډېره اغـېګي یـا خـبره دې ډېره و اغېګلـه، دومـره اغـېګل خونـد نـه کـوي، خـبره چـې پیـدا کـړې ډېره یـې اغـېګې، دومـره اغېګل ښه نه دي. یا د افغانسـتان شـخړه یـي سره واغیګلـه

اغه و دغه : ې دا کـار نـه کـوي، هسـې اغـه و دغـه کـوي، کـه چاره یـې کـوې وې کـه، کنـه چیـتي اغـه و دغـه مـه کـوه پـه اغـه و دغـه خلـك مـه تېر باسـه. یـا دا ټول سیاسـي هغـه و دغـه دي.

اك بك : ې خپلـې لاس تنـګی تـه اك بـك دی، یـا د دې خـبرې لـه اورېدو سره اك بك شو یا خینو چارو ته سړی اك بك شـي

اکه پکه : وایي اکه پکه به دا کار کوي وښیـه حتمي بـه یـې کـوي یـا کـه پـه هغه خای کې ې وي اکه پکه یـې داسـې کـول

اګایي : یوه سړي اګایي ورکړه چې دوښمـن حملـه دربـاندې کـوي، چـې تـه راغلې اګاهي بـه دې راکولـه یـا اګایـي یـې ورکـړه.

اګپه : د کورنـی یـه خای یـادېږي، لکـه دا د ې اګپـه ده. یـا دا ټول سـره یـوه اګه پـه دي شـوي.

الاوسا : کوچني ژړل لـوی سـړي الاوسـا کـړ یـا هغـه سـړی ډېر قـهرېدلی و، خـو خلکـو الاوسـا کـړ یـا هغـه دوه کسـان ډېر سـره پـه غوصـه وو، نـورو خلکـو سـره والاوسـا کـړه. دغـه ټکـي دال او د سـاه نـه اخیسـتل شـوي دي.

الاوتي : ې سمې خبرې نـه کـوي الاوتـې وایـي یـا تـا پـرون څه الوتـې ویسـتې (ویلې) هـر وخـت سـړی الاوتـی نـه ولـې.

الپوس : ې هسې پـه هغـو خـبرو کـې یادېږي. هغـه الپـوس هـم نـه دی کـړی، یـا بیـا بـه الپـوس هـم درسـر و نـه کـړم. یـا بیـا بـه سـتا پـه خـبرو کـې الپـوس هـم و نـه کـړم یـا سیاسـي الپوس د نـه زغمـل کیـږي.

الـواد زیـان کـول: پلانـی ښځې دمیاشـتې الـواد زیـان کـړ یـا د دریـو میاشـتو الـواد یـې زیـان کـړ، یـا پیـدا کېدو تـه نـېږدې الـواد یـې زیـان کـړ.

الواندېښنه : ې د چـارې تـه پـه الوانـدېښه دی، یـا د څه خلـك ه الـو اندېښنـه کـړي دي، یـا دا کـار ژر وکـړه هغـه پـه الـو اندېښنـه مـه کـوه. یـا هغـې خبرې تـه الواندېښنـه ده

الوبل: نسوار خو الوبل چې چلم یې نه څکولی یا دا چاره دې وکړه دا خو الوبل دا بله دې ولې کوله یا پ خو الوبل پ چې پرې رابنکاره شو تول یې کونې ته کښنودل

الو پتو: وایي دی پ زوی یا وروو مړ و، الو پتو مې ورسره وکړه یا پ ته تاوان ورناوښتی ور شه ټر هبت الوپتو ورسره وکړه.

الوتی رنګ: پ وډار شو رنګ یې والوت یا په پلاني موټر اوښتی و، رنګ یې ډېر الوتی و، یا غله چې کله عسکر ولیدل رنګ یې والوت له ورخطا ورخې یې رنګ والوت یا په هغه خبره یا چاره د پ رنګ والوت. یا د هغه له خبرو اوس سیاسي رنګ الوتی.

الوته الوته: په بزار (بازار) کې سړی چیشي خوړلي وونښه وو، الوته الوته پښې یې اخیستي یا الوته الوته روان وو یا لېونی و، الوته الوته سترګې یې اړولې یا دحکومتونو اوسیاسي الوتهه الوته چاري

الون بلون: وایي پ زښته ناروغه و، الون بلون یې کاوه، تولـه شپه ناکراره و، الون بلون یې کاوو، یا پ ته درونـد غم ورپېښ و الون بلون یې کاله. یا حکومت او سیاسي ډله داسي الون بلون کوي.

الونیا: لکه پ د پ له سترګو څخه الونیا دی، یا پ دې له غره الونیا که، یا الونیا په پادشاه پسې هم بد ویل کېږي.

الوی: لکه الوی داسې به دو سرو یم خولې ته به دې واچوم، یا داسې نه ورته ښکاري لکه الوی یا لکه الویی داسې به دو سرویې پوهه به دې هم نه کي، خولې ته به دې واچوي. کله چې غنم په وګي کې په اور پاخه شي هغه ته الوي وائي.

الوویی: پ ډېر الوویی انسان دی، هیڅ وخت یې داسې و نه ویل چې زه وسې یم هر وخت الووی الووي کېږي، ډېر الووی دی.

الیل: لکه پسه مړ شو، د وچولو لیاره یې په اور والیه، یا په اور والیل شو، یا پخلنځی اور اخیستی و، پختنچې والیل شو یا د پ وښتان والیل شول، یا د پ مخ او ځرمن توره الیلی ښکارېده یا د پ تولـه الواده داسې ښکارېده لکـه په اور الیلي د اور سپکه لمبه چې څه ووهي هغه الیل کیږي.

امباري: نوی کالي یې په غوټه کې امباري شول یا په دوکان کې تانوته امباري شوه، یا ارمان به دې په سینه کې امباري شي

**امته داره** : لکه ته راتلې د تا د راتلو ته امته داره وم، یا هغه ته امته داره کېنه یا پ ته ټول قوم امته داره و چې ښه ښه کارونه به کوي یا هغې خبرې یا چارې ته امته داره یو.

**امره** : دا یو خو رنګ بدی و، د بل امره یې ورسره بده کړه، یا ته خپله امره مه بدوه، یا ولې خپله امره په د خبرو بدوي. یا د هغه سیاسي امره بده یا بدرنګه شوه

**امنا** : ټول قوم سره راټول و، په یوه خبره یې امنا وکړه یا دلیل به سره ووایو خو په یوه خبره به امنا سره کوو یا د مور په هغه خبره درسره امنا ده. امنا منښته یا د سیاسي امنا له مخې داسې کېږي.

**امه وتمه** : د چا دې خبرې ته ور امه و تمه نه وه یا دې چارې ته د چا امه و تمه وه یا نه مې امه وي نه مې تمه وي، ډب غم کور ته راشي.

**اناوټ** : لکه په پ باندې خپل مال اناوټ ده یا دا یوه چاره اناوټ در باندې کول غواړم یا دغه خبره راباندې اناوټ شوه یا په پ باندې یو مېلمه اناوټ شو یا مور و پلار پرې اناوټ دي.

**انجړ** : په اصل کې تار یا سنی، چې نه سره بېلېږي هغه ته انجړ وایي، په دې برسېره وایي دا خبرې ډېرې انجړ شوې یا خبر مه انجړ کوه یا داسې انجړ کارون دې دي چې هېڅ سر یې نه وزي.

**اند** : وایي ما له خپله انده داسې کار وکړ، یا که هغه چاره تا له خپل هانده کړې وي خو ښه ده یا په هغه باره کې پ چا له خپله انده وا نه ړاوه، له خپله انده نه اوړي.

**اندرغپه** : وائیي پ هغه چاره اندرغپه پرې ښودله یا په هغه باره کې دا خبره اندرغپه پاتې شوه یا په هغه حساب کې ډېر څه اندرغپ پاتې شو یا پ ټول خلك په اندرغپه کې وویل.

**اندرېل** : یو متی به دا خبره یاده کړو چې په خوستی لهجه کې د خولې پرېولو ته د خولې اندرېل وایي لکه خوله واندریه بیا دا خبره

• کوه یا دا چې خوله واندریه بیا د الله نوم یادوه، خو په کوچیانو کې که یو پړی یو ځای بل یو لوري بل لوري بند شي وایي دا پړی یې ډېر اندریلی دی، یا یې په هغه شي (څیز) پړی ډېر تاو کړی دی، هغه شی یې ډېر اندرېلی ده، بیا دا ټکی داسې هم یادېږي، لکه پ دا خبر یا موضوع (بېلیره) ډیره واندریله، یا پ دا خبره په خوله کې و اندریله.

انديښمن : پ خپلو کارو تـه ډېر انديښمـن دی يـا لـړ حـو سـړی خان انديښمـن کـړي.

انگار لړل : د پ او پ سره دوښمني ده دا انـگار پ لړلی دی، يـا د خلکـو لـه منـخه انـگار مـه لـړه، يـا ځومـره دې د خلکـو پـه منـخ کـې انگارونـه ولـړل. يـا دا چې پـه افغانسـتان کـې بيـا بيـا د جنـگ انـگار څوك لـړي؟

انگاری : کوچيان د سکروټو پـه مـخ يـو ډول پټـيره پخـوي، هغـه تـه انـگاری وايـي، ځينـو ښځو تـه هـم انـگاری نـوم اخيسـتل کـېږي، لکـه پلانـی انـگاری.

انگازه : هغـه غـږ تـه وايـي چـې ډز وشـي پـه غـره کـې يـې اواز خپـور شـي. وايـي د دې چـارې انـگازه ډېره لـرې ولاړه، يـا کـه دا کـار وشـو انگازه بـه يې تـه هم واوري. يـا دا هسـې يـوه انـگازه خـبره ده.

انگام : پـه کلي کـې انـگام دی چـې پ پ وژلـی يـا دا د دروغـو انـگام دی چټې انگامي مـه کډوه، يـا ځومـره انگامونـه دې کډ کـړل.

انگر : پـه پنجابيـانو کـې د بـاد د پـري کـېدو هېڅ انـگر نـه شـته. ډېر بـې انـگره خلـك دي، يـا پ ډېر بـې انـگره دی، يـا لـه پ څخـه ښځې انگر نـه کوي، يا پـه هغـه خـبره يـا چـاره کـې پ لـه پ څخـه انـگر و نـه کـړ يـا پ هغـه خبره ځان تـه انگر نـه کـړه يا پ انگر نـه لـري.

انگېرل : پ تـه چـې دا تـاوان ورغـی هغـه يـې لـه پ انـگري يـا تـا لـه چـا و انگېرلـه يا پ تـه تـاوان خدای ورولـی دی يې لـه خلکـو انـگري.

انگيځه : لـه زورورو څخـه انگيـځه کوي يـا دې لـه چـا انگيـځه وکـړه يـا ولـې انگېځه را څخـه کوې زه خو دې ورور يـم. تـري پـه ځنـگ کيدنـه.

انډوخور : لکـه هلتـه ډېرې ښځې وې، يـو خـپل انـډو خـور يـې جـوړ کـړی و. يـا د سـړيو او د هلکـانو انـډوخور و، يـا پ خلکـو ځملولـی و. انډوخور يـې پـې اچولـی يـا پـه خـوړو او اوبـو دخلکـو انـډونخور و. يـا نـاوې چـې ښځې کينـوي نـو انډو خـور پـري جـوړ کـړي يـا دا يـو سياسـي انډو خـور دي.

انهر : وايـي پ ناروغـه و، خـو اوس پـه انهـر کـې سـم (سـبت) و. يـا دمـال حيوانـاتو وروسـو، ښه ده مـال پـه انهـر کـي سـم يـا ښه ده، يـا څو ورځې کـېږي چـې پ پـه انهـر کـې نـه ده سـم يـا يـې انهـر نـه دی ښه يـا پ پيسـې دولـت پيدا کـړل انـهر يـې ډېر سـيخ شـوی دی.

اواري : لکـه لـه مـات هـډوکي سـره اواري پکـار دی، يـا لـه هغـه شـي سـره مـې ډېر اواري وکـړ، وبولـه احتيـاط مـې ورسـره وکـړ.

ACKU

اوازه : لکه د کلیوالو په منځ کې داسې اوازه ده چې پ – پ وژلې دی، یا دا هسې اوازې ګډې دي یا پ اوازې ګډوي.

اوبنې : دا نوم هغې له اوبو ډکې پر دې ته وايي چې کله تیون (نوی، تازه) لومړی د انسان یا حیوان بچې پیدا کېږي، نو لومړی اوبنې شکاره کېږي.لکه اوبنې وچاوده د کوچنې یا وري او سیرلي سر لاندې راغلې یا جوت شوي.

اوبه پرې رغړول : لکه په هغه ماملـه یې اوبو ورغړولې، یا په هغه خبره مو اوبه ورغړولې یا اوبه مه پرې رغړوئ یا دوه سره جوړوي په خبره یې هسې اوبه ورغړولې.

اوبه پرې خوړندول: له پ سره روپۍ نه شته، مه یې ترې غواړئ، اوبه مه پرې خوړندوئ، له هغه څخه یې چې غواړئ اوبه پرې خوړندوي، یا دا چاره هغه نه شي کولی اوبه مه پرې خوړندوه، یا په هغه چاره کې پ په پ اوبه خوړندې کړې. یا هغه غواړي چې په حکومت باندې اوبه خوړندې کړي.

اوبه ګنده کېدل: دا خبره زيات وارې د شرم ځای نیسي لکه په هر ځای کې د پ اوبه ګنده وي، یا اوبه د ګنده سه یا ولې دا اوبه ګنده شوې. یا داسې هم موږ ویلي شو چې په سیاسي او مالي چارو کې د هغه اوبه ګنده شوې.

اوبه له چینې رڼېدل: هره خبره له بیخه را سپنېږي، اوبه له چینې رڼېږي، یا خبر له بیخه را سپینه کړه، اوبه له چینې را رڼې کړه، اوبه له چینې رڼېږي یا اوبه دې له چینې نه دې رڼې کړې.

اوبه ورخړول : پ پ ته خبر ورخراپوي، اوبه ورخړوي، یا یوه سمه خبر ورته کوله هغه بل اوبه ورخړولې، یا ده ریښتیا ویل تا اوبه ورخړولې، یا اوبه مه را خړوه، دلته یوه بله خبره هم کېږي هغه دا چې پ اوبه خړوي ماهیان پکې نیسي.

اوبه وره : هغې ښځې ته اوبه وره وايي چې کور ته اوبه را اخلي لکه پلانۍ ښځه د دې کور اوبه وره ده.

اوتې بوتې : د پ مازغه خراپ دي اوتې بوتې ولي، یا په سر لګېدلي اوتې بوتې ولي یا سم غرېږي اوتې بوتې مه وله هر ځای ه اوتې بوتې ولي. یا سیاسي اوتې بوتې وائي.

اوته بوته : وايي د پ او پ سره اوته بوته شوه، وښیه زړه بدونکې خبرې یې سره بدلې را بدلې کړې یا د پ او پ په هغه خبره یا چاره

سره اوته بوته شوه. یا پ او پ تل په سیاسي اوته بوته کې سره ښکیل وي.

اوځار : که خبره لې پیچوه کړونو اوځار په ډېرو ځایونو کې یادېږي لکه پ خلك په بدی سره ډېر یادوي اوځار شو یانې په بدی یاد او معلوم شو یا دا د غوصي وینا چې وه او ځاره ته خو اوځار یې نور خلك مه در سره اوځاروه. او ځارمني جوت ځرګند وريت وتلي.

اوربلی : دا تکی کله کله د ښځې لپاره یادېږي لکه د پ اوربلی نه شته یانې ښځه یې نه شته. او که د سړیو په نوم شي بیا به خس او خشاك شي.

اور پرې تویېدل: وایي په دې خبره په پ اور تویي شو یا داسې شو لکه اور چې پرې تویي شو یا اور ولې دربانډې تویي شو ما خو بد نه دي ویلي. یا له هغه امله په سیاسي ډلو اور تويه شو.

اور په اوبو کې بلېدل: وایي د پ اور په اوبو کې بلېږي، یا له دې چارې سره د اور په اوبو کې بل شو، یا بخت يې سم شوی اور يې په اوبو کې بلېږي. یا د غټانو هسي اور په اوبو کې بلیږي.

اور ته نیول : وایي د پ له لاسه په پ ډېر بد ژوند تېرېږي اور ته يې نیولی ده، یا په هغه چاره یا خبره یې اور ته نیولې یا اور ته به یې ونیسي. یا د خپلې سیاسي بیدارۍ له امله هغه اورته نیول کیږي.

اور تري لاندې : وایي له پ ځخه د دې چارې له امله اور لاندې دی، یا په هغه خبره اور تري لاندې شو. یا خلکو اور تري لاندي که هغه ډېر سوړ ناست وو.

اورغاړی : پ له هرې ښې وتلې د چرګې په غاړه پروت دی. اورغاړی دی، بله دا چې ځینې خلکو ته الواد د ښېرا په ډول ویل کېږي، وایي درته اورغاړی یې کړي یا درته اورغاړی به شي یا هغه اورغاړی دی.

اوږده نیول : پ ډېره اوږده نیولې ده، دومره اوږده یې مه نیسه.

اورلړونی : د پ او پ په منځ کې چې کراري شي پ بیا اور لړونی پکې تاو کړي اور ورته تازه کړي یا د خلکو په منځ کې اور مه لړه اور لړونی واچوه یا په هغه چاره کې پ اور لړونی وواهه.

اورمېږ : وایي پ – پ ته اورمېږ تېټ که، ټا په هغه چاره یا خبره د هغه اورمېږ تېټ شو. یا د پ اورمېږ ډېر جګ دی.

اورېزي : په کـوم ځای کـې چـې د اوبـو ژی، منـگی یـانې د اوبـو لـوښي اېښودل کېږي، هغـه جـوړ کـړي ځای تـه اورېزي وايـي.

اوزا : لکـه پ تـه د ټول قـوم اوزا ښه نـه وه، يـانې ورتـه پـه غوصـه و، يـا پ تـه د پ اوزا ښه نـه وه، يـا پـه هغـه بـاره کـې د پ اوزا ښه نـه وه يـا د هغـې سـيمې د ټولـو خلکـو اوزا ښه نـه وه يـا د هغـه هېواد اوزا نـه وه ښه.

اوسون : کلـه کلـه سـپي خپـل تيمبـوزی نـېغ نيسـي پـه لـوړه سـاه اوسـون کـاږي يـو ډول (خيـل) اواز غونـدې کـوی دی سـاه تـه اوسـون وايـي د سـپي دا اوسـون سـپېره گڼل (بلـل) کـېږي، نـو ځينـې وختونـه کـه يـو چـا تـه مـالي تـاوان يـا ځانـي ضايعـه ور رسـېږي وايي د پ مـال يـا مـېړو تـه اوسـون شـوی ده. يـا د پلانـي سياسـي اوسـون يـا لويديـزه نـړي د اقتصـادي اوسـو لـه مخـې د وينـا خوري.

اوښ د سرې وښ باسي: وايي اوښ (بـوده) چـې د چـا مـړ شـي وښ يـې پـرې وزي يـا سـتړی سـاه چـې څوك وباسـي د سـړي وښ باسـي. يـا پـه دغـه کـار سره هغـه د حکومـت وښ باسـي.

اووښه : وايـي پ پـه هـر کـار کـې پيـره کـوي ډېر اووښه انسـان ده يـا لـه بـېړې سـره اوښکـې کـوي وينـې سـوړ اوسـيلی باسـي اووښه انسـان ده. اووښه د ارام او اسـوده تـوب پـه خـلاف راځي.

اوښې پـاکول: وايـي د پ اوښې هېچـا پيچـوې (پـاکې) نـه کـړې يـا پـه دې بـاره کـې بـه دې څوك اوښې پـاکې کـړي يـا د پ اوښې پ وچـې کـړې.

اول يې شته اخر يې نه شته: دا خبره د هغـه چـا پـه بـاره کـې کـېږي چـې اول لـه يـو چـا سـره هـر ډول ښېگڼه کـوي وروسـته يـې پـرېږدي، نـو وايـي د پ اول شته اخر يې نـه شته يـا دا چـې سړی هغـه يـادوه چـه اول يې نـه وي اخر يې وي د ده اول شته اخر يـې نـه شته.

اوليزانده : لکـه د پ تـگ اولـيزانده ده يـا هغـه شـی اولـيزانده ده د لويـدو وېره يـې ده يـا پ اولـيزانده اولـيزانده سـترگې اړولـې. يـا حکومتـي اولـيزانده چـاري.

اومړی تار : لکـه پ ناروغـه دی، لکـه اومـړی تـار داسـې دی.

اوم غدن : وشـوه لـړ اوم اوم غـدن. يـا د هغـه او مغـدن سياسـت يـا اومغدنـي چـاري.

اومیند خور: پ ډېر اومیدخور سړی دی پ یې په چل کې راوست مړ یې کړ، په چل کې یې راوست اومیند یې پرې وخوړ. اومیند خور ده یا هر څه کوه خو اومیندخورګي مه کوه.

اوم یې خوري که پوخ: دا خبره په داسې وخت کې کېږي چې یو څوك چاته وسپارل شي، وایي ما تا ته درکه اوم یې خوري که پوخ.

او وری: د غره ډېره کوچنی (ورِه) برخه ده په دې ارتباط وایي سترګې یې په او وری پورې تر پنا کړې، یا ځان په او وری پرې پنا کوي، یا دوښمن ته او وری په مخ کې ورکوه، یا ډېر له تا لرې نه وم، یوه او وری در څخه الونیا وم. یا هغه ته د ډیپلوماسي او وري په مخ کې ور کوي.

او وړ: د پ د مشرې ښځې زمن (زامن) غټ (لوی) دي چې دا وینې یې دا یې د روستی ښځې وروستی اوړ ده، زموږ د کلي نور هلکان او جینکۍ غټې دي دا روستی اووړه ده یا په موږ خو تېره شوه خو چې زموږ وروستي او وړ بې زده کړې پاتې نه شي.

ایدك: دا توم ښه خوان ته یادېږي. وایې پ داسې ایدك زلمی و یا داسې ایدك خوان زنی دی. یا داسې هم ویلي شو چې هغه د خپل ایدك چلند یا سیاست له مخې داسې وکړل.

ایراغ: پ واده ته خلك نه ولې، خو هسې ایراغ یې په خلکو واچاوه، چې راځي یا هغه ایراغ در باندې واچاوه، که تاسې دا کار کوئ او که نه یې کوئ د هغه له ایراغه ځان خلاص کړی په تاسې یې واچاوه، یا ته ایراغ پرې واچوه، هغه که خیراته ته راځي او که نه راځي ایراغ د پرې او کرمې په مانا ده.

ایسار: نن سبا پیسې نه لري ډېر ایسار ده یا د خلکو ایساره چلوه یا به هر وخت د خلکو ایساره چلوي بله دا چې وایي ایسار ګیدړ زمری ته په غېږ ورځي.

ایسي: د پ له کوره ور ایسي د پ کور ده یا له ما در ایسي شه هلته ایسي چې هر څه کوي یا دا ایسته ایسي څوك دی

ایسېدل: پ مې ډېر ښه ایسېده، خو اوس مې ښه نه ایسي، یا داسې مې ایسېږي لکه په خوږ کې مالکه یا چې دې د ښه نه ایسي ته یې هم ښه نه ایسي.

**ابښېدل** : د ب طبه وه داسې ابښېده يا پ له ډېرې غوسې داسې ابښېده سور وخوتېده يا له ډېرې غوسې داسې وابښېده تور و شين سره واوښت. يا د هغه ابښېدلي سياسي وينا

**ابښی** : کله چې اوبه وره له لرې ځایه اوبه راوړي په لاز کې د دسې (سیالې) ضرورت وي، د ژي د جګ لوړ. ابښودلو لپاره يې د سنده د ناستې په اندازه لوړ ځای جوړ کړی وي، تر څو ژی لوړ پرې کېږدي چې بيا يې د پورته کولو په وخت کې په اسانی سره پورته کړي، دغه څو لوېشته کې ځای ته ابښی وايي، په همدې وړه ایښی د ګودر په غاړه هم جوړېږي. بيا ایښی ډېر ځایه يادېږي، لکه پ چې دا چاره تر سره کوي ډېر ایښی به وکړي يا پ هر ځای ایښی لري ګواکې له هر چا او هر ځای کې د ناستې ځای لري يا د دې خبرې يا چارې لپاره به پ ډېر ایښی وکړي

**ایغك** : يا ايغ هغه چا ته ويل کېږي چې سم ښېغ قد و قامت ولري

**ابغره (ابرغه)** : پ ايغره زلمی يا پلانی ابغره سخه ده

**ایکارلی** : وايي پ تيار بېدار او ایکارلی ولاړ دی. يا ولې ایګارلي ولاړ دی يا هلته فوځيان ور بلل شوي دي په هره چوله او کوځه کې ایکارلي ځوانان ولاړ دي

**آیګل** : وايي خپل سپی دي په خله ایګل کړه باسړی د درایګل کړه

**ایل و یاغي** : لکه پ نه ايل پېژني نه یاغی ایل و یاغي پرې يو دی

**اینده** : پ په دې خبره اینده کړی چې کده نه کوم يا يې اینده کړي چې دا و نه ويم يانې اینده يې کړې چې دا ونه به ړنګوم با دا چې اینډی کوي هغه پينډې کوي کواکې خلکو ته خواړه ورکوي يا په دې کار کې اینده مه کوه. يا په دغه سياسي اینده کې هغه وبايلله

**ایند مینډ** : لکه پ د پ په کور کې ایند مینډ ناست دی. يا دهغې چارې يا خبرې لپاره اېند مینډ ناست دی. يا پ ته ایند مینډ ناست دی يا له حکومته له مشرانو دا غوښتنه کوي خلك ایند مینډ ناست دي

**اینکی** : داخبره له نظره تربل (غوزخول) ته ده پکار چې احمدزي کوچيان د ناوې ژړاته اینکی وايي. لکه د پ خور و لور ښه ساکنده اینکی وايه. دا متل هم کيږي وايي که دا داري وريدم اینکي مې ښه زده دي مني که بيا مې دا کار کاوه نو ښه به يې وکړم

# ب

**بابړی** لکه ب په خوړو اوبو موړ دی، له خوړو اوبو سره بابړی ویی یا یې بابړی ورسره ویلی اوس هېڅ نه شته، یا پ له پیسو سره بابړی وبی یا پ د پ په دوینا و دولت باندې بابړی وویلی یا پ په هغه خای کې خوشحاله دی، په بابړیو کېده. یا سیاسي بابړي.

**با پ** لکه په کوچیانو کي ناوي په اوبن وړل با پ دي یا د کوچیانو په ښخو کي دا با پ دي چي سر په کنډو ککړوي یادا چي با پ د رواج او دود په مانا دي.

**بابڼ** لکه پ د ښځو بابڼ دی. یا یې له خانه د ښځو بابڼ جوړ کړی دی، وښیه د ښځو خدمت کوي، د ښځو بابڼ دی

**بابېزه** پ ته ګرانه چاره په مخ کې پرته ده خو دی یې بابېزه بولي. له دې خبرې ګیره مه تېره وه، بابېزه یې مه بوله، دا هسې بابېزه کار نه دی. یا ته خو یې بابېزه بولې، خو درته ګرانه به شي

**بابېړی** د پ د لور ولور څلوېښت زره وه، خو له خېښ څخه یې پنځوس زره واخیستې لس زره یې بابېړی پرې وکړ یا که دې په ناروغی کې بد پرهېز ي وکړه بابېړی درباندې کوي یا د ناجوړې بابېړی وکړ. یا د نړي والو لاس وهني وي چي دافغانستان جنګ بابېړي وکړ

**باتور** پ ډېر باتور سړی دی، د هغه د توري خای ته بل څوك نه شي ورتلای. په قوم کې باتوران پیدا کېږي.

**باټ** چړې (بې کي) ته باټ ورکه یا پ خو د ډېر په باټ کړ یا پ بونه ورخ خلك باټوي (په باټ کوي) یا پ لړ نور هم په باټ

کړه، یاپ خلکو ته مه ورباتوه. هغوي دغه وباتول هر څه ئي پرې وران ویجاړ کړل.

باج : پ د پلانـي خېلو ورشو تـه مـال ور وستـی و، هغـوی بـاج تـرې غوښت یا هلته موږ مال ور وستی و، باج مو نه ورکاوه، چې پردي ملکونه خوري باج به خود ورکوي.

باڅاره : څوك چې دماغي توازون لـه لاسـه ور کـړي، خلـك بـاڅاره هـم ورتـه وایـي، لکـه پ بـاڅاره شـوی یـا بـاڅاره خـو بـه نـه یـې. یـا سیاسي باڅاري چاري.

باریکه : د پ زړه ډېر باریکـه شـوی یـا پ سـپین ږیـری شـو، اوس ډېر باریکه شوی په نه خبره خپه کېږي، یـا دا ډېره باریکـه خبره ده مه یکې غږېږه، یا ته خو باریکه ځای نه پېژنې.

باړه اخیستل :دا خبره د هغه چا لپاره کېږي چې په پردی حیا باندي پیسې واخلي لکه پ په ښځو باړی اخلي یا داسې بې غرته دی چې په خپله ښځه به هم باړه واخلي یا د خپلې ښځې باړه به هم واخلي. یا په سیاسي چارو کي باړي اخلي.

بازو : که تربور مې کړې خپل بازو به پرې کړې، یا خپل بازو مه پرې کوه. یا هغه غوري چي د هغه سیاسي بازو اومړوند تاوګ کړي.

باز نه پرې کېناستل: پ لوی سړی دی، په دې خبرو یې باز نه کېني، یا په دې چاره یې هېڅ باز نه کېناسته یا د پ په پلانـی ښځه باز نه کېناسته یا د پلانی ښځې په هغه سړي باز نه کېني.

باك : پ ډېر ورته وغږ یده، خو هغه باك هم پرې را نه وړ، یا هغه په داسې خلکو باك نه راوړي، یا تولـه ورځ غـږېږه، والله کـه بـاك دربانديې راوړم، یا تا په ما باك را نه وړ، یا په هغه خبره یا چاره د باك را نه وړ. وایي د بیبا کومي څه باك وي چي پردي کور یې وتاك وي.

باګټ یا لاټو : دا نوم د هغه چا لپاره یادېږي چې د اتڼ په وخت کې ګرد تاوېږي، لکه پ به په میدان کې داسې باګټ سو او ښتی خلکو ته د سپکاوي په خاطر ویل کېږي وایي داسې ګرد ګرځي، باګټ باګټ کېږي، یا پ د خبرې په منځ کې ګډ سي باګټ شي هسې خو باګټ د کراچیو د ساعت تېري یوه شي نه وایي. منې یوه لیبه ونه ده.

باله : دا ټکی په داسې ځای کې کېږي وایي په پښتنو کې یو صوفي شاعرتېر شوی، عبدالرحمن یې باله یا دا کارما داسې ته باله

**بامه** — پ بنـ ... ن ده خو یوه بامه لري، بنه خوبونه شته پکښي، خو چې بامه یې مه لرلې، یاخینې خلک بامه لري، سم وي، سم وي، خو یو ناڅاپه بامه پکښې پیدا شي. بامه د نظم او سم والي په خلاف ټکي دي. یا داخبره دده د سیاست یوه بامه ده

**بانه** — پ لا پخوا دا کار کاوه، خو بانه یې غوښته یا ته چې دومره بانه پیدا کړې یا پ له دې خبرې تښتې هسې بانه غواړې، یا دا چې وایي که یاري کوې لاړې تېرې دي او که یاري نه کوې باني ډېرې دي، یاکه باني کوې باني ډېرې دي

**بانې چغ** — له کوره غنجالي یا بانې چغ مه جوړه یا پ له پ سره د بانې چغ سر نیولی یا د بانې چغ سر مه ورسره نیسه

**بایسته** — په دې چاره پسې پ بایسته دی، یا په پ پسې ته بایسته شه، یا ته ولې رایسې بایسته یې. بائیسته کلک ورپسې

**بایلل** — پ هغه چاره وبایلله، یا هغه خو بایللې وه، تا ولې بایلوده، داچې وایي تا وګټله ما وبایلله

**ببرې** — پرون پ په مجلس کې ناست و، خلک یې خندول داسې ببری یې ویستې یا ب پ ته داسې ببری کولې یا ډېرې ببرې مه کوه یا ما ته ببری مه کوه زه دې لمه ببرو نه ډارېږم.

**بتی** — دا و نه له ډېره وختـه را ائیسته نه ده متـه شوې، ډېره بتـي ده یا د پ ډېر بتي بدن دی، یا د پ بتي سورت هم اوبه شو یا د پ هغه پخواني بتی سورت اوس نه شته

**بته کول** — پ په هغه خبره ډېر بته (خیله) شو، یا په دې خبره به ضرور هغه بته کړې یا په هغه چاره بته شو یا بته چارې مه کړه

**بجت** — لکه پ بجته بجته ینې تېز تېز، توند توند غږېده، یا یې بجته غږ دی

**بخت له توري تېرې ختلی** — وایي د پ بخت له تورې تېرې ختلی دی، یا یې په هغه باره کې بخت له تورې تېرې ختلی دی، یا له مرګه بچ شو، بخت یې له تورې تېرې ختلی دی

**بخی** — دا چاره زر تر سره کړه، څه بخی پرې کوې، په هر کار تا بخی بینا کړې وي چونیا بخی پرې کوې، چونیا بخي مه کوه

**بڅرکی** — د یوه شي ډېرې کمې برخې ته بڅرکی وایي، لکه یو بڅرکی ټلکه هم نه شته یا یو بڅرکی ډوډۍ به در نه کړم

ACKU

**بد پرې ویل:** پ داسې بد کار وکړچې ټولو خلکو بد پرې ویل. یا که تا بد کار نه وي کړی، چا به بد ولې درباندې ویل یا خلکو هسې بد پرې وویل، کنه ده بد نه دي کړي.

**بدراګه** : دا تکی ډېر متی یادیږي، لکه پ - پ ته ډېر بدراګه شو، یانې ورته په غوسه شو، یا د غوسې حرکات پکې پیدا شول، یا پ قوم ته نه ور نېژندې کېږي، له قومه شکه بدراګه شوي دي یا پ له قوم څه پ بدراګه که یا پ په هغه خبره یا چاره بدراګه شو، یا پ بدراګه ولاړ یا ناست و، یا که لړ ور یا ولاړ شو، نو ویلی شو چې د پ حکومت له هغه امله بدراګه دی یا بدراګه عسکر یادولی شو.

**بدرګه** : هغه لاز ډېره خطرناکه وه، دوی نابلده هم وو، بدرګه یې ونیوه، په بدرګه یې ځان تېر کړ، یا څه په بدرګو به دې تېر و، له ډېرو خلکو مې په بدرګو تېر کړې، یا دا خبره چې مور یې الواد ته کوي وایي. زه د بدرګه شم موږ په "کوچی" کتاب کې یاده کړې د مړي د لومړۍ ورځې خیرات ته هم بدرګه وایي

**بدریشه** : کله چې د مزریو له پانو څخه لومړی پړی وغړي هغه ته بدریشه وایي، بیا یې چې کله یو یو ټک وټکوي، شلده ورته وایي، بله داسې هم ویل کېږي پ هسې غټ دی، خو بې عمله دی، لکه بدریشه رسی. یا په کلکه (شخه) بدریشه یې وتړه.

**بد سولی** : پ به مور کړې خو سولی یې نه مړېږي، ډېر بدسولی دی، یا بد سولی بد سولی مه کېږه، سولی دې ولې نه مړېږي، بدسولی صبر په خوړو نه لري. یا سل وړي به ماړه کړي خو یو بد سولي به مور نه کړي یاداد هغه سیاسي بد سولي ده.

**بد شاګوم** : د چرګې کېنول بدشاګوم کار دی. پلانی چرګه کېنولې وه، بڼه نه پسې ولاړه، یا د پ ډېر بدشاګوم پل دی چې دی راشي موږ ته تاوان راخي، یا چې پ مې شپه کاوه شاګوم مې پورې نیولې و، چې شپږې به یې بڼه راپسې ولاړه شي که بده یا په هر شي پورې شاګم مه نیسه، یا د پ زمن ډېر دي. د شاګوم لپاره یې زما زوی ته زانګو واچوله، (خوړنده کړه).

**بد غونی** : پ سړی ډېر بدغونی دی، یا له هغه څخه لرې ګرزه، ډېر بدغونی دی، یا چې ورځ وزي، بدغوی کېږي

**بدل** : د سـنـدرې پـه ځای یـادېږي. لکـه پ ډېره ښه بـدل وکـړه، یـا بدلـي مـه وایـه، بدلـې مـه کـوه، ورځ د پ بدلـو تـېره کـړه یـا پ یـوه بـدل زده کـړې هـر ځای یـې وایـي، ګوالـي یـوه خـبره یـې زده کـړې ده هـر ځای یـې کـوي یـا دا بـدل دې د ابـا پـه واده بولـه. یـا سیاسي بدلـي.

**بد لمني** : دا نـوم د هغـه ښځې لپـاره یـادېږي، چـې هـر وخـت خپلـه حیـاه تویـوي وایـي پلانـی ډېره بـد لمنـې ده یـا دا ښځه ډېره بدلمنـې ده، لـه بـد لمنـې ښځې څخـه لـرې ګرځي، ګوا لـه فاهشـې.

**بدلنیزې** : دا ټکـی د هغـو ښځو لپـاره کـېږي چـې یـوه د بلـې پـه بـدل تللـی وي وایـي دا دواړه سـره بدلنـیز دي.

**بدو** : پ ډېر بـدو سړی ده لـه ځانـه بدو مـه جوړه، یـا ځانـه مـه بـدو کـوه. یـا هغـه یـو بدو ښاغلي او د بـدو سیاسـي چلنـد چېتـن دي.

**بدی ته تړل** : پ پ بـدی تـه وتـاړه، یـا ځان پـه زوره بـدی تـه مـه تـړه، یـا پ د خبرې بدې ته وتاړه، یـا هغـې چارې بدی ته وتـاړه.

**بدي غنجول** : پ لـه پ سـره څو کالـه بـدي وغنجولـه. یـا داسـې خلـك بـدي نـه شي غنجولی، بلـه دا چې وایـي پ پـه یـوه سـتـه بـدی غنجولـه.

**بدا** : نـه د پ بـدا نـه یـې یـا هغـه دواړه سـره بدایـان دي.

**بده برخه** : پ تـه بـده برخـه ورکـړئ. یـا د ده برخـه هـره ورځ بـده وي، یـا دي بده برخه غواړي. یا غټان هر چیر تـه د بـدو برخـو خـاوندان وي.

**بده بوله** : پـه پ کې پته نه شـته، خبرئې بده بولـه ده، یـا پـه بـده بولـه ورتـه وویـل چې زه دغـه وړ نـه کـوم، یـا خـبره بـده بولـه ښه وي.

**بده لاسي** : پ چـې لاس تـېر کـړي ډیـر شـی ورکـوي، ډېره بـده لاسـي دی، یـا پ ډېره بده لاسـی یـې یـا پ دې پـلار پـه دوینـا و دولـت کـې ډېره بـده لاسـي و، اوس هغومـره بـده لاسـي نـه دی، یـا پـه هغـه شـيِ (څیـز) کې ډېر بـده لاسـي و، ډېر ډېر یـې وکـارو

**بر** : د کـوچنیـانو وړو کـالي او څپلـی کـه اوړده وي. خـیر دی، پـروا نـه کوي، لویېږي بر یـې پـور تـه دی یـا واړه ورځ پـه ورځ لـوېږي بـر یې پـور تـه دی، هـو ...ړو بـر پورتـه دی، یـا پـه پ بـاندې بـر دی، یـا پـه هغـه بـاره کـې یـې بـر دی یـا د هغـه سیاسـي بـر پورتـه دي ځوان دي

**بربادي** : وطنونـه دې بربـاد کـړ... ...ې دې ورسـوله، یـا دا شـی مـه بربـادوه، چنـدان دې داسـې شـیان بـر ـاد کـرل، نـور ولـې بربـادوې

برچ : پ ښځې یا لور تـه مـازې خـبر وکـړه هغـې داسـې پـرې رابـرچ ویـل، یـا زوی داسـې پـرې را بـرچ ویـل یـا لـورې زویـه تـا ولـې دومره بـرچ ویـل. یـا هغـه خپـل خیـالات ځرګند کـړل ولـې هغـوی ټولـو پرې را برچ ویـل.

بړی چیچل: بړ د یوه بوټي نوم دی، خـو دا پـه داسـې وخت کـې یـادېږي چـې یـو څوک چا تـه د بـدی نیت ګرځوي، لکـه پ تـا تـه بـړی چیچـې یا دا ټول خلك تا تـه بړی چیچې، یا کلـی کتـه کلـي پـور تـه ټول خلك تا تـه بړي چیچې، یا ماتـه ولې بړي چیچـې.

برزي* : دومـره زورو مـه کـوه چـې د نـس بـرزې دې وخـوړېږي، یـا دومـره زور مې وکړ چې د نس بـرزی مـې وخـوړېدې. یـا چـه دا چـاره تـر سره کـوې، د نـس بـرزې بـه دې وخـوړېږي، یـا تـا خپلـې بـرزې پـرې وخوګولـې، د نـورو مـه پـرې خـوړوه، یـا لـه هغـې چـارې یـا خـبرې سره بـه دې د نـس بـرزې وشـکېږي. همدغـه ډول سیاسـي او اقتصادي یا نظـامي بـرزي.

بربښ : پ لکه بې بربنه وسپنه هېڅ بـربښ نـه لـري. ډېر بې بـربنه انسـان دی، یـا پ هـم نـن بـربښ ښکـاره کـړ، یـا دلتـه مـا تـه بـربښ مـه ښکـاره کـوه، د بـربښ ځښتـن نـه یـې، یـا مـوږ دې لـه بـربنه نـه ډارېږو، یـا پ ښځې تـه بـربښ ښکـاره کـوي. همدغـه خپـل نظـامي او سیاسـي بـربښ.

برغزي : زوړ شوی برغزی (برغـزو) وایې یـا تـا پـرون څه برغـزو ویلـې، سم غـږېږه، برغزې مه وایـه. یا پ پـه سیاسـي او دینـي بیلـبرو کـې بـر غزو ولـې.

برغنجور : په پ چې موټر اوښتـی، لـه هغـه راهیسـې برغنجـوره ده، یـا چـې اوښ لانـدې کـړی، لـه هغـه راهسـې غـوړمـن دی، نیـم سـړی دی، برغنجـور ده. یـا برغنجـور سیاسـي او اقتصـادي نظـام.

برغوالي : برغوالـی د دیـګي دیګبـر او کـټوې سـر تـه وایـي.

بکره : دا نـوم هغـې پېغلـې یـا ښځې تـه یـادېږي چـې د پـلار پـه کـور سـر سـپین کـړي، ګواکـې مېړه و نـه کـړي، وایـې د پ خـور یـا لـور بکـره کېناسـته. بکـري یـو د سـتاینې نـوم همـده لکـه پ بکـري سړې دي یا بکـري ځوانـې یـې د بکـري چلنـد خـاوند دې.

برکنده : لکـه پلانـی ښځه برکنـد رابـاندې تېره شـوه، یـا دا چـې پ سـړی برکنـد رابـاندې تـېر شـو، یـا پ هلتـه ګرځېده برکنـد برکنـد

کېده. وائي چي تونده ځم نوبرکنده مي بولي چي وروځم نو ځپنده مي بولي یا برکند ګړندي حکومت او سیاست.

برګ سترګی: وایي پ پ ته برګ سترګي وکه، که یا دا د برګ سترګې خبره نه ده چې ته خلکو ته برګ سترګی کوې. یا سیاسي اونظامي برګ سترګي.

برګ برګ کېدل: پ هر چا ته برګ برګ کېږي هر وخت برګ وي، یا پ له پ سره برګ دی. یا ورسره برګ شو، یا مه برګېږه، دا څومره برګ سترګی یې

برګړندی : یا بړ ګړندی د هر کلي او لیدو زیات درناوی ته وایي چې یو د بل زیات درناوی وکړي. لکه پ د پ کور ته ورغی داسې برګړندی یې ورسره وکړ یا مې په بزار (بازار) کې ولیده داسې برګړندی یې راسره وکړه چې ځان یې له پامه را بد کړ، یائې ما له چا سره دومره برګړندی نه دی کړی یا پ او پ اوس هغه برګړندی نه سره کوي یا لویدیز والو اوس له هغوي سره برګړندي پري ښودل.

بره ګی هګی : تاسې چې برګی هګی سره خوړي موږ مو نه در خبرولو، اوس چې څه سره کوئ هغه کوئ. یا برګی هګی تاسې سره خوړې غم مو موږ ته راوړ. یا څو کاله مو برګې هګی سره وخوړې اوس ولې سره خپه کېږي.

برګه ویل : پ یې هر وخت برګه وایي یا برګه یې مه وایه. ګواکي خبربرګه مه کوه. یا هغه ئي نن له لویدیز والو سره برګه وائي.

برلاسی : په دې چاره کې پ به پ ډېر برلاسی دی.

برملا : ښکاره پ هغه ټولې خبرې برملا کړې یا ولې د برملا کړې.

برنخ : پ په لار کې ولاړ و، پ برنخ ورته کاته، یا څه ته برنخ برنخ راته ګوري، یا ولې د برنخ راته وکاته. یا برنخ پولیس په هره چوله کې ولاړ دي.

برند : پ په غوسه یا برند ناست دی، یا خپه دی، برند ناست دی.

برانداز : غرمه مو کروان (بهیر) واړاوه، برنداز مو وکړ، یا مو د شي ته برنداز نه وو ورکړی.

بروډ : څوک چې یو موټی نه وي، له دښمن څخه برود نه شي وړی، یا له پ څخه چا برود نه دی وړئ، یا دا ښېرا چې وایي خدای دې برود نه درکوي. برود د بري په مانا ده.

بره ببول : پ يې ډېره بره ولـي ګواکـي خان لـوی سـړی وينـي (بولـي) يـا خان لوی سړی مه بوله بره يې مه ولـه يـا يې د پ پـه سر بـره ولـي.

بره منه : هغـه ښځه يـادېږي چـې د دې لـه ورتـګ سره د خو سـر پـه کالـه ارتکـه او رڼا راشـي، لکـه چـي وايـي دا ډېره برمنـه ښځه ده، يـا چې دا کور تـه راغلې پـه تـن او مـال پـټ شـوه، يـا چې دا پـه کـور راننـه وتلې پـه سـړيو ګواکـي هلکـانو کـې پـټ شـوه، ډېره بـره منـه ده يـا دا دوعـا چـې وايـي خـدای دې بـره منـه کـړه. بـره مـن سياسـت.

بـرېت تـوری نـه خـوړل: لکـه پ هغـه کـار کـړی دی، اوس يـې بـرېت تـورې نـه خـوري، يـا لـه هغـې خبرې سـره يې بريـت تورونـه خـواړه يـا پ تکړه سړی دی، برېت يې توری نه خـوري يـا د پ بـرېت تـورو نـه خواړه، پ داسې ورسـره وکـړه. يـا دهغـه سياسـي بريـت تـوري نـه خـوري.

برېت غړل : پ لـه هغـې ورځې را ايسـې داسې بـرېت غـړل يـا دا چـاره پ تـر سـره کـړه بـرېت دلتـه پ پـرې غـړي، تـوره بـل کـړي بـرېت دی غړي، د بـل پـه مېړانـه بـرېت غـړل. يـا لويديـزه نـړي اوس پـه دغـه خبره بريت غـړي.

بريت غوړ : وائـي پ پـه کـور کـي هيـڅ نـه لـري بـي لـه بريـت غـوړه چـې منـا تـه راوزي نـو بريت غـوړ کـړي يـا هغـه شـته منـي. د پ بريـت غـوړ هـم نـه کيـږي يـا دافغانسـتان ټول ارزښتونـه د هغـوي پريـت غـوړ شوه يا ښه شوه چې هغوي پريت غـوړ پکـې پيداکـه.

بريد : حـد و دود ، سـرحد بريـد يـې سـره کـېښود، يـا دا چـې پـه هغـه ځای دوښمـن بريـد کـړی دی يـا دا چـې وايـي جنـګ اسـانه دی، خـو بريـد سـخت (ربړ) دی.

بريدی : پ ډېر بريـدي سـړی دی، هـر ځاي لومـړی بريـد هغـه کـړی وي يـا بريـدي ده د خبرو بريـد کـوي يـا پـه نـورو کـړو وړو کـې لومـړی بريد کـوي. بريـدي دي

بړ : د پلانـي خبلـو واده و، ټولـو د ټوپکـو خولـې يـوه لـور تـه واړولـې داسې بړ يې ورکـه وطن يې سور اور کړ، يـا يـو بـړ بـه يـې ورکـړ بيـا بـه يـې سيالـه (دمـه) ورتـه وکـړه يـا هيـڅ سـاه يـې نـه کولـه داسې بړونـه يـې ورکـول يـا پ پـه پ بـړ وچـلاوه، يـا بـړ يـې يـې وکـه، خبرې يـې ورتـه وکـړې يـا نـن هـر ځوان پـه افغانسـتان بـړ چلوي.

بربړ غړېدل: نن پ په مرکه کې ناست، داسې بړ بړ غړېده یا بړ بړ مه غړېږه، یا هغه بړ بړ غړېده ته غلی ناست وي.

برېنگی : پ ډېر ښه منجلس کوي د خلکو ساعت تېروي، برېنگی سړی دی، یا هر وخت ټوکې کوي برېنگی سړی یا برېنگی ښځه ده.

برمبول : دا سپین ږیری پلار دي په اوښ سپور کړی کوم لور ته ئي بروبموې یا دي په شا کړی کوم لور ته یې برمبوې، دا ټکی د هر هغه شي لپاره یادوي چې په لار کې یې اختیاره ښورېږي، لکه دا زړو موټر دې په کوم لوري یا کوم لور ته برمبوې.

بروبدنامه : دا ټکی کله کله ځینو ښځمنو ته یادېږي، وایي پلانی نه شرمېږي هغه بروبدنامه یا هره ورځ خلکو ته ور وتلې وي، بروبدنامه. برو بد نامه یو لېڼه کې پیغور ده.

بروس، : پ ته دې چې دا خبره وکړه، ډېر پرې بروس شو، یادا کوچنی (وړوکی، کراچی) بیا ولې بروس دی، یا ولې بروس شوی ما خو بده خبره نه ده کړې، بروس بروس مه کېږه، یا په هغه چاره بروس دی. یا لویدزه نړې له همدې امله بروسه ده.

برومبی : هسې خو دا خبره داسې هم کېږي لکه پ بروهبی کالي (جامې) اغوستې دي، له دې برته بروهبی داسې هم یادوي وایې په هغه خبره یا چاره پورې بروهبی مه ترېه یا په هغو خبرو پسې بروهبی دی یا په پ پسې خلکو بروهبی ترلی دی، یا په هغه باره کې پ په پ پسې بروهبی ترلی دی. یا سیاسي بروهبي شول.

برېولی : کله چې په نر مینده سیرلې یا وزگوړي باندې شهواني غریزه غلبه وکړي، بیا چې کله وزه ووینې یو رنگ اواز یې له خولې وزي چې هغه ته برېده یا بکېده وایې، نویو څوك چې لوړ غږېږي واي بیا چېرته برېږي، یا پ برېږي، همدارنگه که څوك شرپسنده وي خلکو ته غږېږي د هغه په باره کې داسې ویل کېږي پلانی ښځه یا پ کلی بروي یا خلك بروي یا دا یو برولی دی، بله دا چې وایې برولی کلی بروي، گوز موزي کلی ورانوي.

بسپن : له پ سره خپل قوم بسپن وکړ، یا به بسپن ورسره وکړي.

بسپنغاړی : بسپنغاړي راغلی و، خلکو بسپن ورسره وکړ، یا له بسپنغاړي سره مرسته ښه کار دی.

بسیا : موږ په خپل کور کې بسیا کېدای شو، یا پلار او پر په خپل منځ کې سره بسیا نه دي، یا دغلته یې بسیا لري یا بسیا سره بسیا لري.

بسی : دا نوم کېږدي یا پیخوله ګواکي هري سرپناه ته اخیستل کېږي، لکه پر بسی نه لري یا څه ګنده بسی یې درلوده یا چې دومره بسی وایي چې دوی پکې پټ وي.

بشپړه : په دې سیمه یا ورسو کې تر اوسه پوري مال نه دی ځړلی، بیخي بشپړه ده، یا پر بشپړه او خوړه یا بشپړه یې مه خوره، نور هم در ملګري کړه، یا ته به ولې نه مړ برې، بشپړه دې وخوړه. یا ټوله چاره او خبره بشپړه کوه.

بګوري : په پر سپي بګوري وکړې، یا سپي په مار بګوري وکړي.

بګون : له پر سړي یا پلانی ښځې څخه مې ډېر بګون کرېږي، ګواکې ډار مې تري کېږي، یا مې د شپې یو څه ولیدل له هغې چارې څخه مې بګون دي، ډېر بګون مې تري وشو، یا ډېر بګون مې در څخه کېږي. بګون د ویري اوکرکي یو ګډ نوم دي.

بلا پسي : پر ډېر بلاپسي سړی دی، یا ته بلا بسي یې، یا په هغه سپي بلا یا هغوی خو دومره بلا پسي خلک نه وو چې له افغان جنګ سره یې دومره مرستي کولي.

بلا پسي بوټول: پر په پر پسي بلابوټه کړه، یا په خلکو پسي بلا مه بوټوه، یا دا بلا تا پسي بوټي کړي. دا هغوي وو چي افغانانو ته یې په یوه پسي بله بلا را بوټوله.

بلا و بتر لکه دیګی کاسي ارکاري دا بلا وبتر ټول سره ټول کړه یا دا بلا بتر راواخله. یا بلاو بتر مه سره خوره.

بل جایګه : دا نور ټول ملګري د یوه کلي دي، دوه کسه پکې بل جایګه دي، یا په دې خبرو بل جایګه مه خبروي.

بلد : په هر خای کې بلد دی، یا پر له هغه سره بلد کړه.

بلمنګه خبري: د پر داسې بلمنګه خبري دي یا خبره دې بلمنګه ده.

بلمنګه ځرمن: د پلاني سړي یا ښځې بل منګه ځرمن ده.

بلندره : کواکي پر یې په بلندره راوستلی دی، یا په بلندره مې راغوښتې یې، یا پر مې راغوښتی په بلندره راغلی دی.

بلوا : د هغو خلکو په منځ کې رټه (سخته) بلوا پېښه شوې، یا له دې خبرې بلوا جوړېده.

بلوتي : لکه پ ولاړو پ بلوتي پسې ودرېده، وبوله پسې ودرېده یا پ راغی پ بلوتي پسې راغی یا په هغه باره کې پ او پ یو په بل پسې بلوتي ګرځي، یا د هغې خبرې لپاره پ ولاړ پ بلوتي پسې ورغی یا په افغانستان کې یو په بل پسې بلوتي د دوښمنانو لاس وهنې پیل شوي.

بلوسېږي : وایي کوچنی (وړوکی، کراچی) په خوب کې بلوسېږي، کوچنی په کرار نه وېده کېږي بلوسېږي. کله چې کوچني په خوب ویده وي هغه ډېر واړه خوځښت ته بلوسیده وائي یا هغه غواړي چې د هغه حکومت وبلوسوي.

بلونډي : په دې خبره پسې نور بلونډي دي یا په دې چاره پسې نور ډېر بلونډي دي یا پ راغلی په کونه پسې یې بلونډي دي. یا په دې خبره پسې بلونډي مه تړه یا دا چاره لومړی داسې وه. پ بلونډي پسې تړلې ده، یا پ هر وخت په خبرو پسې بلونډي تړي، یا بلونډي مه پسې تړه، یا په پ پسې خلکو بلونډي تړلي ده. یا ددې خبرې لپاره قانوني ماده شته حکومت بلونډي پسې تړي

بله نه پرې جوړېدل: له پ سره مو ډېرې خبرې وکړې خو ده خپله خبر کوله، بله نه پرې جوړېده، یا بله به رابانديې جوړه نه کړي یا بله به پرې جوړه نه کړي.

بلینډه : یو لاس ګواکې څو مېزې سره وتړي یا یو مېزی ته د سر لور ته اور ورکړي، د دې لپاره چې اور رڼا کړي یا یې بل خای ته یوسې هغه ته بلینډه وایي. بلینډه داسې یادوي، وایي ما غلا کړې. یا نه کړې تا بلینډې ولې راپسې رڼا کولې، یا زما دا خبرې چا ته ښکاره وې؟ تا بلینډې راپسې رڼا کړې. یا پ له ځانه سره تیاره بلینډه ګرځوي، دوه کسو خوله لا نه وي سره چوله کړې دی بلینډه پسې کېږدي، یا په پ پسې پ بلینډه کېښوده، یا د پ په کونه پسې پ بلینډه کېښوده، ګواکې یوې چارې یا خبرې ته یې ور ګرم کړ یا د نړۍ والو لوبو د پیل بلینډې یادولې شو

بمول : پ یو رښتونی ساده زړی سړی و، بیا چا بمولی دی، یا په کوم لوري یې بمولی یا ولې بمبدلی یې، یا خلک دې وبموي ته چېتې غږېږې، یا هر لور ته غږېږي، هره ورخ ته بمبدلی

يې، يا پ يې پ ته ور بمولې دی يا يې هغې چارې يا خبرې ته وربمولې دی،يا پ وبموئ نور تاسې ورته کېنئ.

بنچڼ : پ له پ سره بنچڼ اچولې چې کوم يو به پسې واخلي يا بنچڼ نه شي اچولی يا پ او پ بنچڼ سره اچولی و، پلانی يې را واخيسته يا پ له هر چا سره بنچڼ نيسي.

بندړ : هغه غريې بند کړی و، پلانی بندړ مات کړ يا چې بندړ مات نه کړي که د بندړ مات کړ قوم ته په ناغه ورکوي، هر څوك چې بندړ مات کړي هغه ناغه دی. يا هغه هيواد په نورو باندې اقتصادي بندړ ونه لګوي

بنده : پ هغه خبره منې خو يوه بنده يې نيولې دی يا بنده ولې نيسې، يا هغه دا چاره نه کوي هسې بندي کوي يا که دا کار کوې وېې کړه کنه بندی مه نيسه يا په پ پورې دا بنده ده.

بنډ : وايي ته خپل مال په بنډ کړه يا مو دا حساب په بنډ کړ، يا دا شی په بنډ وويشي. دومره د هغه او دومره د هغه

بنګ : وايي پ د دې خبرې بنګ اورېدلی و، يا د هغه کار بنګ له دې ځايه را ورسېده يا په هغه بنګ پسې مه ځه.

بنګړو : وايي پ چې کېني وايي دا کار کوم، ها کار کوم، په تشو خبرو خپل ځان او خلك خوشحاله کوي. سګړو ده يا پ بنګړو

بنګ ورکول: وايي چې پ ته بنګ ورکړئ داسې کار نه به لاس وا نه چوي يا چې بنګ دې ورکړي وای دا خبره به يې نه وه کړې.

بني ويل : وايي پ په ټوله ورځ دروغ وايي بني وهي با يې په هغه خبره کې بني ووهله يا يې په هغه باره کې سې ويلي وه.

بڼ : ښيني خلك چې پټي يا زومنه جوړوي، په لړ اوبو کې لړ اوړه نري کړي بيا يې لمده بل ته ور واچوي دې اوړو او اوبو ته بڼ وايي، نو کوم څوك چې په مجلس او خبرو کې خپلې خوندورې خبرې ورګډ کړي په خپلو خبرو سره هغه مجلس او خبرې خونده ورې کړي وايي پ خبرو ته بڼ ورکړو يا پ ښه دې په خبرو او مجلس کې بڼ کوي يا پ خپلو سياسي چارو ته نوي نوي بڼ ورکوي.

ښکاوه : پ داسې تازه دی، برسېره کالي پرې خاندې، ډېر ښکاوه دی يا ډېر ښکاوه يې چې داسې ښکاوه وي. يا ښکاوه هيوادونه او زمکې.

بنې پکې تومبل: پ یې هغې خبرې ته ورګرم کړ، بنې یې پکې وتومبلې یا پ دومره سړي نه ده پ یې په کونه کې بنې ورکړي یا دا سړی راباندې وژنې په کونه کې یې بنې مه ورکوه، یا له دې سړي به هېڅ جوړ نه کړې هسې بنې مه پکې تومبه.

بوت: وایي پ څه سړی دی هغه بوت یا بوت راته ولاړ یا ودرېده یا په هغه خبره یا چاره د پ بوت ماتېږي یا له هغه املـه دې پ بوت مات شو، یا د پ بوت پ مات کړ یا له هغه املـه په خپل بوت هم مات که د پ بوت یې هم مات کړه.

بوت منګی: پ داسې ورته غرېده لکه توتي، دی بوت منګی ورته ناست و، یا پ په مجلس کې بوت منګلی ناست و، یا ولې بوت منګی ناست یې، بوت منګی مه کېنه، یا پ هر وخت بوت منګیناست وي، خبرې نه کوي.

بوتی برم تی: د پلاني خپلو او پلاني خپلو سره بدي ده، تل یې سره بوتی برم تی وي، یا د دوی بوتی برم تي سره خلاص نه شوي یا دا بوتی برم تي تل مه سره کوئ.

بوتي ایستل: دا ویل د هغه چا په باره کې کېږي چې په غورو پیل وکړي وایي داسې به وکړم هاسې به وکړم دا به وکړم ها به وکړم وایي پ خو داسې له بیخه بیخه بوتي کاږي، یا یې داسې بوتي وایسته یا بوتي مه کاږه، بلـه دا خبره هم کېږي وایي د پ بوتي لـه دې خایه وکاږه، یا به د بوتي وکاږم، یا به به یې د پ بوتي لـه دې خایه وکاږي، یا بوتي د پ لـه لاسه وخېژي یا دا سړ! چې وایي خدای دې بوتي وکاږه. یا هغه غواړي چې د هغه ساسې بوتي له بیخه وکاږي یا ولوړوي.

بوچي: هسې خو مال هم یادېږي وایي غوړ یې پې پرې کړ، بوچي یې کړ خو د احمدزیو په نرخ (ځلي) لـه ځینو شرایطو د ځینو خلکو غوړ پرې کېږي، بیا هغه غوړ پرې شوي ته دا پېغور ورکول کړي وایي، بوچي یا بوچي داسې وکړل

بوخاري: لکه د ځمنې کومه برخه بوخار کوي تخېږي، یا پ سړی یا پلانی سخه ډېر بوخاري انسان ده، یا یې خبرې بوخاري دي یا د پ هر کار بوخاري ده یا یې په هغه باره کې بوخاري خبرې وکړي.

بوخ: وایي پ هلته دښمن ته بوخ بوخ کېده یا په هغه خبره یا چاره کې بوخ بوخ کېده یا پ بوخ بوخ کاوه، څوورخې یې بوخ

بوڅ که یا یې پ د پ لپاره بوڅ بوڅ کاوه هغه ته یې بوڅ بوڅ کاوه یا یې په هغه باره کې بوڅ بوڅ کاوه.

بوڅکارل : په اصل کې بوڅکارل د شوندو یوه ځانګړې اواز (غږ) ته وایې خو بیا دا خبرو داسې کېږي وایې پ پ د هغې خبرې یا چارې لپاره بوڅکارې یا یې پ ته ور بوڅکارې هغه یې وهي یا یې پرې وژني یا پ په هغه باره کې پ ډېر وبوڅکاره خو هېڅ ترې جوړ نه شوه. یا افغانستان د بوڅکارلیو له لاسه وران او مرګ ژوبله ور پېښه شوه.

بوخڅي بوخڅي : لکه د مور نس هم بوخڅي بوخڅي دی، څو رنګه اولاد یې پیدا کېږي.

بوخت : پ په هغه چاره بوخت دی، یا ته دالته په څه شي بوخت یې، هر ساعت ته بوخت یې یا په کور کې بوخت وې.

بوڅي : هغې ښځې ته وایې چې مخ یې پټ وي وایې پلانۍ بوڅي بوڅي کېږي یا بوڅي بوڅي مه کېږه، یا هغه ښځه بوڅي ده، په دې ځای کې د بدلمنې بوڅې ښځې په باره کې داسې هم ویل کېږي، وایي بره بوڅي کوزه ښوڅي.

بود : وایي پ ته ډېر ورغی راغی خو هېڅ یې ترې بود نه کړل، یا ور به شي خو څه به ترې بود نه کړي، له هغه څه نه بودېږي، هغه لکه تیږه داسې سخت دی.

بودره : د پ په کور کې خلك واته نتواته، چې څه بودره وریښنه وه وایي هېڅ بودره نه وه ښادي یې کړې وه، یا داسې بودره در پېښه مه شه لکه هغه ته چې وریښنه ده، یا خدای دې له بودره وساته یا دا ښېرا چې وایي خدای دې په یوه بودره ککړ کړه. یا هغو هیوادونو ته کورنې بودره ور پېښې شوې.

بورغي بورغي : ګواکې سوري سوري، وایي هغه مرده کېو بورغي بورغي کړی و، یا بورغي بورغي و، یا دا ښېرا چې وایي خدای دې بورغي بورغي کړه.

بوره ګي : دا نوم د پکتیا له لورې احمدزي کوچیان نورو کوچیانو ته اخلي احمدزي کوچیان وایي د بوره ګیو کډې لا پخوا خوست ته تیتې شوې یا د بوره ګیو مالدارې په وخت خوست ته ولاړه یا دا خلك بوره ګي دي. بوره ګي په دې مانا چې په یوه کورمه او قوم پورې نه وي تړلي لکه اقلیت.

بوره هم بدنامه. پلانی ښځې زوی لاندې کړی مړ یې کړ، ګواکې بوره هم شوه بدنامه هم شوه. دا خبره د هغه چا په باره کې هم کېږي چې تاوان یې هم خپل وشي او رنګه یې هم څپله بده شي.

بوربوکی : په دې نوم یو وړوکی اغزن بوټی هم شته او هغه باد یا سیلي ته هم بوربوکی وایي چې د اسمان په لوري نېغه او ګرده تاوېږي، بیا ځینو توندو (متیو) خلکو ته هم بوربوکی یادېږي، لکه پ سړی یا پلانی ښځه بوربوکی.

بوزنده : وایي پ له پ سره سخته خبره نه شوای کولی بوزنده یې ورسره ویله، له هغه سره چې بوزنده خبره و نه کړې سخته نېغه رټه نه ورسره کېږي (ویل کېږي). یا ملګري ملتونه د خپل نوم په خلاف له لویدیزې نړۍ سره خپلي چاري بوزندي شړي.

بوزي بنده : په دې نوم هغه څوك یادېږي چې نه خوله و ژبه لري او نه چا ته مه او نه ویلي شي وایي پ په چا کې ده هغه خو یو بوزی بنده دی، یا له خانه بوزی بنده مه جوړوه. یا هغوي د بوزي بنده رول خاوندان دي.

بوزه : هغه چا ته وایي چې د مخ څرمن یې سره یا بد رنګه څګبدلې وي، وایي د هغه سړي یا ښځې داسې بوزه مخ و یا یې داسې سور بوزه مخ و.

بوساړي خرل : نن خو پ داسې غوري کولې داسې بوساړې یې خرلې یا غوري مه کوه بوساړي مه خره یا پ هېڅ نه شي کولی هسې بوساړي خري په وس کې یې څه نه شته یا په سیاست کې بوساړي خرل.

بوغمي : د پ له لاسه مې په زړه بوغمې ولاړې دي، یا زړه مې بوغمې درته وکړې یا د دې چارې یا خبرې له امله یې په زړه بوغمې ولاړې دي، یا پ بېړه شو د زړه بوغمې مې پرې وچاودې یا د زړه بوغمې مې اوس پرې وچاودې یا که داسې درسره وشي د زړه بوغمې به مې دربانديې وچوي.

بوکر : پ بوکر زلمی دی، یا په تا غوندې بوکرو هېڅ بند و واز نه یم یا په ټول قوم کې پ بوکر سړی دی یا پرون دلته ډېر بوکر راغلی و، بله دا چې وایي: زوی دې مړ شه خونه ا بوکر.

بوګلند : لکه دا بوده بوګلند دی. یا مېږ بوګلنده ده وشوه هر وخت او په هر ځای کې دار ورسره ملګری دی، دارن دی، یا پ سړی

ACKU

یا ښځه بوګلنده ده، یابوګلند دی یا د هغه هیوادو زه بوګلنده ده.

بوګ غاړې : وایي پ دومره وغرېده چې غاړې یې بوګې شوې یا یې له ډېرو نارو غاړې بوګې شوې یا پ له وړه کینې بوګغاړې ده.

بوګنېدل : دا کوچنی (وړوکی) په خوب کې بوګنېږي، هر وخت چې ویده شي بوګنېږي، یا پ دومره تکړه سړی نه دی چې پ په خوب کې ترې وبوګنېږي یا خلك مه بوړ نه وه. یا هغه غواړي چې حکومت وبوګنوي.

بوګول : د وړیو او ښو پورته کول بوګول یا وړي او واښه وبوګوه یا مې وبوګول یا حکومت یا وګړي غواړي چې دغه هغه خبري یا چاري وبوګوي یا ئي هغه خبره یاچاره وبوګوله یا هغه دروغ وویل بوس یې وبول ګول.

بوګه : د پ له کور څخه مې بوګه کاسه اوړه راوړل یا دې دا د بوسو کوری تخته نه کړ بوګه دې پرېښود، بوګه یې مه راکوه.

بوله : ټن پ ټول مېلمانه په بوله راوستلي یا ته دلته کېنه بیا به دې زه په بوله راولم یا مې څه په بوله را وستلی یې یا چې بوله نه وي د چا کور ته مه ورځه.

بونګه : د پ اوښ غلو بوولی و، بیا یې په بونګه را خلاص کړ، یا که چېرته غله مال در څخه بوزي بیا به بونګه پرې ورکوې بې له بونګې خپل مال نه شې راوستی.

بونیاده : موږ دا خبره نه یادوله، خو پ بونیا ده کړه یا دا خبره دلته مه بونیا ده وه غم ترې جوړېږي.

بوڼ : نوم هغه بوده ته یادوي چې له وړه کینې یې بار کړی نه وي ان تر دې چې څل یې هم نه وي پرې اچولی، په دې ارتباط وایي پ ډېر بوڼ وګرزېده یا بوڼ مه ګرځه څومره بوڼ وګرځېده.

بوی پسې ښکل: پ په پ پسې لاځره بوی کاږي، یا په خلکو پسې د له اخره ډېر بوی وښکه خو هېڅ یې در روانه چول یا پ تمامه ورځ په خلکو پسې بوی کاږي، یا په دې چاره پسې بوی وکاږه یا په دې خبره پسې بوی وکاږه.

بېباکه : پ د تا زوی ډېر بېباکه دی، ټوله ورځ هسې ګرزي یا چې بزار ته ولاړ شې بېباکي کوې یا له پیسو سره بېباکي کوې یا بېباکه بېباکه مه ګرځه، یا یې هغه خبره یا چاره یا ناروغي بېباکه پرې ایسي وه. یا د هغه سیاسي بېباکي.

بې ارخه خبرې: د پ ډېرې بې ارخه خبرې دي، خبره يې هېڅ ارخ نه لري، يا خبرې ته ارخ ورکړه، د دې خبرې هېڅ ارخ نه شته. يا بې ارخه خبرې مه کوه

بې ارخه انسان: پلانی ښځه يا پ ډېر بې ارخه دی، هېڅ ارخ نه لري، داسې بې ارخه انسان مې بل چېرته نه دی ليدلی، داسې هم وايي، انسان بايد سل مخه ولري، يا سل ارخه ولري.

بې الي: دا جونګي ځکه بې الي ده چې له کونډه لومړۍ پيدا ده له کونډه چې ړومبی پيدا شي هغه داسې بې الي وي يا پرون مې په بزار کې بې الي سړی وليده ډېر بې الي وه، يا د ناتوانه زوی او لور بې الي وي. يا د هغه هيواد بې الي سياسي نظام.

بې انديښني: پ ډېر بې انديښنې دی، يا پ ځکه دومره مزی شو چې ډېر بې انديښنې دی، يا انسان چې دومره بې انديښنې شي د هغه خونده نه شته. يا د هغه بې انديښنې حکومت.

بې بسم الله: پ په هره چاره کې بې بسم الله ګډېږي، په دې خبرو کې بې بسم الله ګډ شوی يا دا هلك بې بسم الله پيدا دی، يا د الواد بې بسم الله زيږېدلی دی.

بې پروا: پ د پلار پروا هم نه لري يو بې پروا سړی دی، يا بې پروا ښځه ده، په چا پروا نه راوړي يا له چا پروا نه کوي يا په تا مې څه پروا ده يا پ په دې خبرو پسې سر نه ګرځوي، ډېر بې پروا دی، يا دا خبره ما وکړه، تا به بې پروا پرې ايښې وه.

بې پته: پ يې ډېر بې پته که، يا د قوم مشر بې پتۍ ته مه ورکوه، ياموډا پردي خلك بې پته کوي. يا د هغه بې پته حکومت.

بې پګی: دا مال يا دا انسان ډېر بې پګی دی، ګواکې وړوکی دی. يا د هغوی بې پګي سياسي ژوند.

بې پوره: پ هغه نورو خلکو ډېر بې پوره که يا هر خای دې خلکو بې پوره کړی وي، يا يې وواهه، بې پوره يې کړ، يا يې پر که، بې پوره يې کړ، يا يې بدې ردې ورته وويلې، بې پوره يې کړ.

بې توله: وايي پ ډېر بې توله دی، سپك سړی يا ښځه ده، بې توله ښځه ده، هېڅ تول نه لري، يا دا ښېرا چې وايي، خدای دې بې توله کړه. يا پ د بې توله سياسي ژوند څښتن دی.

بېته: هسې خو د غره يوې کوچنی برخې ته بېته وايي، خو بېته داسې هم يادوي، لکه پ د تول قوم بېته دی، يا پ – د پ

بیته دی یا پ بیته نه لري، یا د پ بیته پخه ده، یا پ گنده بیته دی. یا د هغوي سیاست کومه قانوني بیته نه لري.

بې جوړې : د پ جوړه په دې توګه قوم کې نه شته ډېر بې جوړې سړی یا بې جوړې ښځه ده، یا د دې اوښ او مېږې جوړه نه شته.

بې خایه غوړېدل: پ ډېر بې ځایه غوړېږي، یا بې ځایه مه غوړېږه، یا خومره بې ځایه وغوړېدې.

بې چرګه به هم سبا شي: دا یو چا ته ویل کېږي وایي بې له تا به هم دا کار تر سره یا وشي، بې چرګه به هم سبا شي ګواکې که چرګ اذان و نه کړي بیا هم ګهېځ کېږي، بې له تا به دا چاره وشي.

بې چوته : پ دا ډېر بې چوته کار وکړ، یا پ ډېر بې چوته مزی دی، یا بې چوته ځورب دی.

بې چوخسه : د پ پښه چې ما ته وه اوس بې چوخسه ده، یا یې ملا خوږېده، اوس ښه شوې بې چوخسه ده یا دا چاره بې چوخسه کړه، یا د تا کوم کار بې چوخسه دی.

بې خچه : یوه چاره بې خچه وي پ خچ پکې اچوي، یا خچ ولې پکې اچوي، یا ستا کارونه کله داسې بې خچه دي،

بې خپله کافره : وایي بې خپله کافره مې مه کړې یوه ورځ به په کار شي، دا د بل کافر لپاره به په کار شي، خپل کافر دې چې نه وي د بل کافر به په څه څواب کوې.

بې خلی ممیز: واې ته کله بې خلی ممیز یې، لکه په ما کې چه عیب شته، په تا کې هم شته، دا متل هم شته وایي: داسې ممیزك نه شته چې په کونه یې خلی لك نه شته.

بې خوله : هغې غړکې یا زې ته وایي چې څرمن یې خرابه شي، بیا چې هر څومره زنه ور اچول کېږي، خوند او څرمن یې نه سیخېږي، وایي دا ژی یا غړك بې خوله ده، په دې ارتباط وایي د پ بدن بې خوله شوی یا پ سړی یا ښځه زاړه شول بدن یې بې خوله شوی دا خبره د هغه چا په باره کې هم په شا شا یا په توکه کې کېږي چې د بدن تناسلي او طرحي برخې یې بیواکه شي وایي پ بې خوله دی. یا د هغه هیواد بې خوله سیاست.

بې خولې بې ژبې: وایي پ ډېر بې خولې بې ژبې دی، یا ښځه ده، ګواکې هېڅ خواب چا ته نه شي ورکولی، یا څوك په خپله خبره نه شي پوهولی بې خولې بې ژبې دی.

بې خونده : په دوستۍ کې هېڅ خوند پاتې نه شو، بې خونده شوه، یادا خبره د ډېره بې خونده کړه، یا پ بې خونده خبره وکړه.

بې خیره : وایي پ ډېر بې خیره سړی یا ښځه ده یا بې خیره بې خیره مه کېږه، یا دا چاره بې خیرې ته مه ولمه وبې خیره.

ببخل : کله چې یو څوك د دوښمن له خوا ووژل شي بیا چې د مړي د وینو یا لاش پر خای کومې تیرې تولې شي، هغه ته ببخل وایي ببخل بیا داسې هم یادېږي لکه پ یې وواهه ببخل یې کړ. یا هغه غواړي چې د ه حکومت وروستي بیخل جوړه کړي.

بې څوابه : پ پ ډېر بې څواب کـه، یا ولې بې څوابـه شوې تـه څو نـه بـې څوابه کېدې یا پ هغې چارې یا خبرې بې څوابه کړ.

بې دربغه : وایي پ سړی یې بې دربغه وواهه، یا یې بې دربغه ډزونه وکړه او داسې نور.

بېدو : له کوره چې روان شي، ببدو د بزار سر تـه چې ورشي هغلته پ ناست وي یا ببدو ډ هغې ونې بېخ ته ناست وي، یا د پ کور بېدو د هغې شنې ونې بېخ ته ده یا چې پ دا چاره کوله بېدو په دغه وخت کې پ هم دغه کار وکړ. یا په دغه یین کې.

بې دوده : وایي پ ډېر بې دوده سړی دی، یا بې دوده ښځه ده یا بې دوده وغرېده، یا یې په هغه باره کې بې دوده چاره وکړه.

بې ډبه : د پ ډېره بې ډبه څوانې یا کواره ده یا ډېر بې ډبه جوړه ده، یا بې ډبه غرېږي، یا ئي بې ډبه ګوتې دي یا هغه شی بې ډبه دی.

بې ډوله مست: د پ په کوم خای کې چې کار نه وي هلته کار پیدا کوي، بې ډوله مست دی، یا په دې خای کې د څه کار دی، بې ډوله مست یې، وا بې ډوله مسته.

ببرته هیله لرل: پ ببرته هیله لري ګواکې پیسو، زمنو وروښو او قوم ته هیله لري یا یې ببرته سترګې واړولې یا چې ببرته یې هیله نه وي یا یې سترګې نه اوښتې بیا به داسې نه وو.

ببرته وراندې کتل: وایي له تا سره خو دا جوړېږي چې مخ مخ ته د خاپړې وکاږم، خو زه به ببرته وراند وګورم ګواکې، پلار مور او وروڼو ته به دې ګورم. یا له تا سره دا جوړېږي چې په ونه پورې دې وتړم خو زه به ' پل خان او د تا قوم ته وګورم، ببرته ورا ندې به وګورم. یا ده سره دا بایده وو چې وهلی مې وای.

خو ما ببرته ورانديږ وګاته، يا تا سره دا بنايي چې خدا څه دربانديږ وکړم، خو ببرته ورانډ بڼ به وګورم.

ببرته ورانديږ ورته کېدل: پ په لارو کې پرديو ښځو ته ببرته ورانديږ کېږي، يا پرديو تور سرو ته په لار کې ببرته ورانديږ مه کېږه.

ببرته ورانديږ تلل: پ يوازې خبر وکړي بيا له خپلې خبرې ببرته وتښتي په هره خبر کې دی ببرته ورانديږ ځي، يا مېړه چې خبرو کړې بيا ببرته ورانديږ نه ځي.

ببرلو : کله چې مېږ وزه يا بل کوم حيوان لومړی دواړه پښې د يو څه لپاره پورته کړي، هغه ته ببرلو وايي ببرلو بيا داسې هم يادوي لکه پ له پ سره په ببرلو شوی يا پ او پ ببرلو سره اخيستي، منې په خبرو يا چارو کې زور سره کوي يا دا چې وايي پ د پ دببرلو نه دی. يا هغوي دوارو سياسي يا نظامي بيرلوسره اخيستي ده.

بې روز بي : د ښه صحت لرونکی څلور بول ته وايي لکه دا ډېر بې روزبي څاروی يا بوده دی. يا بې روز بي شخصيت.

بې روه : وايي پ ډېر بې روه سړی يا بې روه ښځه ده، يا بې لارې ده هېڅ کله لارې ته نه سيخېږي. ياد هغه بې دروه سياسي نظريات.

ببرا : دا نوم هغه چا ته يادوي چې په هېڅ کې نه وي يا په هېڅ کې شمار وي وايي هغه ببرا لاپه چا کې دی، يا هغه څه ببرا دی په ببرا پورې يو متل هم شته چې وايي: کامه يې لوټ کړه ببراګان اوس خبرېږي. يا د هغه ببراسياست او سياسي چلند.

بې ازاره : وايي پ ډېر بې ازاره سړی دی، يا بې ازاره ښځه ده، هېڅ ازار يې چا ته نه رسېږي، يا يې په ټول عمر کې چا ته ازار نه دی رسولی، يا يې مېږتون هم له پښې لاندې نه دی ازار شوی يا پ چې پايده در وا نه ړوي ازار يې نه درسېږي، يا دا خبره چې وايي پ بې ازاره مرغۍ ده.

بې ساري : پ په ټول قوم کې ساری نه لري، يا به يې په ټول قوم کې ساری را و نه باسي يا د هغه پښو ته نه شي ورسېدلی هغه بې ساری و.

بې سره و سروابڼي: په هغه بر کلي کې ډېر بې سره وسروابڼي خلک دي يا له موږ څخه هر څوک ښه دي موږ ډېر بې سره و سروابڼي خلک يو يا د دې خبرې سرو سروابڼي ورک دی.

بې سده : دبې حاله خاي ته نيسي وايي په داسي بې سده ولوېده، يا بې سده شو يا په حال يې او كه بې سده يې. يا بې سده بې سده غږېږي، له ځانه دې بې سده جوړ كړى. بې سده مه غږېږه.

بې ښمره : وايي پ ډېر بې ښمره سړى دى دچاهېڅ ښمرنه پرې كېږي، يا زما به څه ښمر درباندې وشي يادا چې وايي په ورځ د ماشر (محشر) په هېچا ښنه نه شته نه به ورور د چا ښمر كېږي نه په زوى د چا ښمر كېږي. يا دا ښيراوي چي ښمر د پري ومه شه.

ګى : دا تكى د ورسو (ځرځاى) لپاره يادېږي، وايي سړ كال وطن لغړ دى، ډېره بې ګى ده، ګواكي وابنه نه شته، بې ګى ده.

بې ګى : دا نوم د سبو او غوښې د چړې لپاره يادېږي چې ځينې خلك چوړكى او اتكپه هم ورته وايي. يا هد كپه.

بې ګاري : په دې خبره هغه خلك سره ببګاره دي يادا كور ډېر سره ببګاره دى، يا كور ته ببګارى مه راولئ، يا په دې ډ ره خبره زموږ په كوركې ببګارى جوړېږي، يادببګارى ولې اجوړه كړه.

بې ګودره ګدېدل: وايي پ په دې خبرو كې بې ګودره ګډ شو، يا خبرې ته پام كوه، بې ګودره مه پرې ګډېږه، يا هغه خبره تا خراپه كړه بې ګودره پرې ګډشوې. يا د هغه ټول سياسي چلند بې ګودره ده.

بې ګوليو ډزونه سره كول: پ او پ بې ګوليو ډزونه سره كوي، يا تر څو به تش دارو سره ډزوې سم سره وولئ، بې ګوليو ډزونه مه سره كوئ، ډېر بې ګوليو ډزونه مو سره وكړل.

بې لاسه بې پښو: دا خبره د هغه چا په باره كې كېږي چې نه يې كار ته لاس ورزي او نه كوم لور ته ډېر تګ كولى شي، وايي پ ډېر بې لاسه بې پښو دى. يا كلونه كلونه وشول چي هلته يو بې لاسه بې پښو حكومت چلېږي.

بيلبره : دلته تاسې په كومه بيلبره راغلى ياست يا هلته په كومه بيلبره تللى وې، ګواكي په څه باره كې تللى وې، يا موږ په دې بيلبره كې نه يو غږېدلي، موږ په بله بيلبره تللي وو.

بې لخكه : كه يو څوك په خوله كې بې واكه وي، هغه ته داسې ويل كېږي د پ ژرنده ډېره بې لخكه ده، يا ژرنده دې مه بې لخكه كوه، يا هغه ورځې د تا ژرنده بې لخكه شوه سبت (سم) نه غږېدې. يا د هغه د واكمني لخك په هغه... خاي كيده.

بې لمازه : هغه چا ته ويل كېږي چې لمونځ او اودس كم كوي په دپسبره هغه چا ته هم ويل كېږي چې اخلاق او ادب يې خراپه (خراب)

وي، وايـي پ ډېر بـې نمـازه سـړی يـا بـې لمـازه ښځه ده، د خلکو په منځ کې شيطاني کوي او پـه دې ور نـور. يـاد هغـوي د واکمنۍ بيم تر لـري لري پوري پـروت دي.

بيم : وايي دا چاره مې چې کوله په خلکو کې مې بيم اچاوه، يا پـه خلکو کې بيم پروت دی يـا پـه خلکـو کـې مې بيم واچاوه، نـور يې څه کوم.

بې مودې : دا کـوچنـی (ايـوان [حيـوان]) چې دومره ناتوانـه دی، بـې مـودې پيـدا شـوی دی، چې ميـاد يې پوره وی بيـا بـه دومـره ناتوانـه او کمزوری نـه و، يا لـه مـا سره دېچې ميـاد ايـښی و، ولـې بـې مودې شوې، په خپل مياد رانه غلې.

بې مخه بې څته: پ ډېر بـې مخـه بـې څته سړی يـا بې مخـه بـې څته ښځه ده، هېڅ مخ نه لـري، نـه يې مخ د ليـدو دی، نـه يـې څټ د ليـدو دی، بـې مخـه بـې څته دی.

بينا پرې کول : پ د شپاله په جوړولو بينـا (پيـل) وکـړه، يـاد ليريانـه لـه راتـګ پورې بينا مه پرې کوه يا پ لـه خپـل زوی سره ولاړ وو، بينـا يـې پرې وکړه په ځاپېرو يې وواهـه.

بې نرخه : پ ډېر بـې نرخـه مـزی دی يا بـې نرخـه غـټ دی، يـا پ بـې نرخـه توندو غرېده، يا بـې لارې بـې نرخـه دی.

بې ننګه : ايـي پ ډېر بـې ننـګه سړی دی، چـا تـه ننـګ نـه کـوې يـا بـې ګي مه کوه يا د پښتانه لپاره دومره بـې ننـګي ښه نـه وي.

بـې واره پـ ګډېدل: پ پـه خـبرو بـې واره ګډېږي، وار تـه ګوره بيـا پـرې ېږه، يـا د مـا داسـې خـوښه نـه وه خـو تـه بـې واره پـرې راګډ رې يا هغه دا چاره کوله خلکو بـې واره کـه.

بې واره : بـ دوښمـن ډېر بـې واره کـړی يـا دومـره ولـې بـېواره شـوې، بـې وا ه کېږې ولې. يـاد هغـه بيـواره سياسـي اداره.

بې واکه : پ ډېر بې واکـه سړی يـا بـې واکـه ښځه ده، يـوه خـبر يـې پـه واك نـه ده هغـه بـل ورور يـې پـه واك دی، هـره خـبره يـې پـه واك ده، خلك . بې واکـه پـه سترګه نـه ورتـه ګوري يـا د پ ټول کارونـه او خبرې بې واکـه دي.

بې وړه : د پ ډېرې بـې وړه خبرې دي يـا بـې وړه مـه غـږېږه، ډېر بـې وړه وغـږېدې، يـا دا دی ډېر بـې وړه کـار وکـړ، بيـا داسـې بـې وړه کار مـ ه کـوه، کلـه دې چې لـه ځان سره يـو کـار ....الـه لـه بلـه سره يې هم ور وبولـه.

# پ

پاتې چونې (پاتې شونې) : په ټول مال کې دا پاتې چونې مال ده یا دا پاتې چونې زه نه غوارم. یا داخلك د هغې واکمنې یاشونې یاچونې دي.

پاڅوکۍ : نور د بر ښه سړی یې، خو په خبرو پسې پاڅوکۍ تړې، پاڅوکۍ مه پسې تړه یا د دې شي بیه دا پوره شوې ده پاڅوکې تړې لرې کړه یا په هغه شي پسې دا پاڅوکي ده. یا دغه څه په قانون پسې پاڅوکي تړې.

پاډي : پ خبره پخه نه کړه پاډې یې پکې ووهلې په خبرو کې پاډې مه وهه، یا یې په دې چاره کې پاډې وهلې، پخه یې نه کړه (یا پخه یې و نه ګڼدله). پاډه اوږده اوږده ګنډل

پار : وایې د تا هم پار په لاس شوی یا بې وسه سړی ته پار په لاس ور مه کړې یا نن سبا د پار په لاس شوی. پار منې پورته والې.

پار پورې نیول : سږ کال پ په خپل شپانه پورې پار نیولی و، چې شپنې به یې پورې بختوره شي که نه، یا د دې شپانه پار در پورې بختور شوی یا په ملا صاحب پورې کلیوالو پار نیولی و، خو دملا صاحب ملا یې نبك شاګومه شوه ګواکې ښه شوه، یا هر څه د خدای په قدرت کې دي په هیڅ شي پورې پار مه نیسئ یا مې په پ پورې پار نیولی و چې دی څه خبرې کوي؟.

پاستی : وایې خلك د غبرګې چې څه وایې هغه دې وایې موږ به د چا په خوله پاستې واچوو، یا د چا په خوله پاستې نه شو اچولی له دې پرته دا هم وایې تنور سور دی هر څوك پاستې ور اچوي

ګواکي چې کومه چار ګرمه شي هغه سور تنور یادوي وایي پ هم په دې خبره کې غرېده، سره تناره ته یې پاستې ور واچول.

پاسره : پ په زړه کې پاسره نه لري، څه يې چې په زړه کې دي، هغه په خوله درته وايي، ډېرې خبرې يې په زړه کې پاسره نه کړې يا، د پ نور ورونه پيسې نه لري خو پ د جب پاسره لري يا د جب پاسره يې کړې ده يا يې ښځې پاسره ساتلې ده.

پاس لمن ترې لاندې (غ): پ پاس لمن نيولې تر لاندې يې (غ) نيولې يا دې پاس (پسېره) لمن نيولې تر لاندې د (غ) نيولې يا پسېره لمن ترې لاندې (غ) مه نيسه ګواکي په ښکاره سوال کوي خو له سوال لاندې زور کوي.

پاس لمن ترې لاندې زور: پ پسېره لمن نيولې تر لاندې يې زور نيولی.

پاسلېيل : وايي يوه ورخ دې مړي (دوډۍ) راکړه هره ورخ يې راپاسلېږي، يا پ ورکړه کوي خو پاسلیي ئي، وايي د تېزنکي کره يې وخوره، د پاسلي يونکي کره يې مه خوره، يا پ له خلکو سره مرسته کوي خو پاسلي يې ګواکي ياده يې کوي او احسان اړوي.

پالتوګان : هغه چا ته وايي چې د يو لوی سړي په شاوخوا کې چېتې روان وي يا دا کار د پالتو وکړ يا پالتو چارې مه کوه يا پ له ځان سره پالتوګان ګرځوي.

پالل : وايي پ له پ سره خېښي پالي يا پ خور يې توب پالي يا (تربګښت) پالي يا دا چې څه خپلوي راسره پالي نور مې نه يې پکار، يا د ګيلې په وړ داسې هم ويل کېږي تا هم ښه خپلوي را سره وپالله يا دې تربګښت راسره وپاله يا پ په واده کې خلکو ته هر څه ورکړه، خلك يې وپالل.

پاني : پانه هغه لرګي يا وسپنې ته وايي چې په ترخخ او توبرګي کې لاستي ورکړې د لاستي د ټينګولو لپاره په څنګ کې پانې ورسره ټکوهي يا چې کله لرګي دړه کوي له توبرګي (تبرګي) سره د لرګي په چاود کې پانه په کار کوي نو له پانې سره په ارتباط داسې وايي پ له پ سره خفه و، خلکو نورې پانې پکې ټکولې يا د خلکو په منخ کې پانې مه ټکوه، يا دا چې وايي هغه خبره نوره هم ټينګه شوه پ پانې پکې ټکوهلې يا دا چاره نوره مه ټينګه وه پانې مه پکې ټکوه.

پاڼ : وايي ړ بې پاڼ ته سيخ کړي چې کله بـه تـرې ولـوېږي يـا کلـه بـه يـې تـرې ولـوه وي يـا تـا دا پـاڼ ښه ليـده زه دې ولـې نـه خبرولم، چې پـه مـخ کـې پـاڼ دی يـا ړ پـه ړ پسـې روان دی لـه پاڼو يې ولواوه، يـا لـه پـاڼو بـه يـې ولـووي يـا د هغـه حکومـت د پاڼ په غـاړه ولاړ ده.

پای پوکه : مال مې پای پوکه خرڅ کړ يا يې پـای پوکـه خـرڅ کـړه يـا مـې له دې کاره پای پوکه خلاص کـړه.

پایځه رګی : ړ لـه ړ سـره پـایځه رګی کـوي ځکـه د هغـه ښځه د ده خوښینـه ده يـا پـایځه رګی ورسـره کـوي د ده ښځه د هغـه ترلـه ده يـا لـه هغـې کورنـۍ سره پـایځه رګی کـوي ښځه يـې د هغـې کورنـۍ ده.

پایندی : وايـي خـدای دې دازوی درتـه پـایندی کـړي يـا بـه دا چـاره دومره پایندی نـه شي يـا دا شـی دومـره پـایندی نـه دی، يـا دا ښېرا چې وايي خدای دې درته پـایندی نـه کـړي.

پپنك : لکـه د کـړاځي (کمکـي، واړه) سـر سـپکو پپنـك کـړی يـا د سپکو له لاسه پپنك دی يا دا سیمه مېږيو پپنـك کـړې ده.

پتارې : دا نـوم هغـه خای تـه يـادېږي چـې پـه کـوم خای کـې مـړی پـرې وايـه شـي (لـه اوبـو وزي) لکـه ړ ې پـه پتـارې واچـاوه يـا هغـه د ړ پتاری دی.يـ دا چـي مـړي پـري ولمبول شـي هغـه خای پتـاري ده.

پتلېز : وايي کـور مـې لاړې تـه مخـامخ و، د لاړې لـه خـوا مـې لـړ پتلـېز جوړ کړ، يا دې خبرې تـه يـو پتلـېز جـوړ کـړي يـا دا زاړه توکـري سره پتلېز کړه،يـا ساړه اوګرمـي ده يـو پتلـېز جـوړه کـړه همدغـه وړ سیاسـي پتلېز.

پتی سړی : ړ هسـې پـت سـاتی د ېر پتـی سـړی دی وايـي: لکـي ښه ده کـه پتـی؟ وايي پتـي!

پتـي سره پخول: دا څو ورځې ړ او ړ سـره خي او راځي چې دوی څه پتـي سـره پاخه کـړي دي يـا څه پتـي سره پخـوي يـا مـوږ لـه ړ سـره ناسـت او ولاړ نـه کـول تـه ورسره تلـې راتلـې پتـي دې ورسـره پاخـه کـړي وو يـا يـې د هغـې چـارې يـا خبرې پـه بـاره کـې پتـي سـره پاخـه کـړي دي يـا هغـه او دغـه حکومتونـه څه پتـي پـه دغـه اړه سـره پخـوي.

پتې : پ رنځور غوندې بنکاري څه پټ پکې مات دي. يا پ ناروغه دي د پر کوښښ مو پوري وکړ خو څه پايده نه ورته رسېږي، نه پوهېږو چې څه پټ پکې مات دي.

پټ په پټه : پ دلته راغلی و، چې موږ پرې خبرېدو دي پټ په پټه له دې ځايه تللی و، يا پ دا کار پټ په پټه کړی و.

پتخ : لکه وانه لومړی تنکي وي چې کله وخت پرې واوري بيا پتخ شي بيا پتخ داسې هم يادوي وايي پ په پتخ پتخ وغږېده. يا شاهي پتخ حکومتونه يا پتخ عرب شيخان.

پتخه : د مېږي مېوې ته پتخه وايي.

پتکی په ملا کول: پ حواري وکړه دولت يې وګاټه، ته هم پتکی په ملا کړه يا هغه پتکی په ملا کړ ته هم پتکی په ملا کړه يا تا به هم پتکی په ملا کړی و. يا هغه دغې سياسي يا ادبي لوبې ته پتکي په ملا تړلي ده.

پټ ميخونه وهل: وايي دا چاره پ دې ځای ته راورسوله هغه پټ ميخونه وهي يا دا ويراني تا کړې داکار د خرابه کړي، ته پټ ميخونه وهي يا پټ ميخونه مه وه، يا ددې چارې يا خبرې په باره کې پ پټ ميخونه وهلي دي. يا د هغه د حکومت د ړنکولو په اړه هغه پټ ميخونه وهي.

پتم : د اوبو مخې ته پتم واچوه، يا په هغه لار کې له هغه امله کدې پتم شوې يا پ ته تولې چارې پتم شوې يا پيسې ورته پتم شوې يا پ په خوله قرآن يادوي قرآنو ته پتم اچوي يا قوم هغې چارې يا خبرې ته پتم شو يا قوم هغه پتم بند که يا قوم غوارې چې هغه پتم ته پ کېږدي. يا قانوني پتمومونه.

پټ و پنا : د هغې خبرې يا چارې په باره کې پ کلي ته راغلی و، پټ و پنا يې کوم سړی ليدلی نور بېرته تللی يا ما ويل زه به تاسې سره پټ و پنا ووينم.

پتوني : دوښمن کلپ ځای ورته ننه وتلی و، ده پتونی ور واخيسته اخر يې دوښمن ووېست، يا څه پتوني دې را اخيستي يا پ په هغه مورچه کې ناست دي، پتونی ور واخله

پتيزې خبرې: لکه پ په هغه ځای کې پتيزې خبرې کولې، يا پ - پ ته پتيږ وغږېده، يا د چا په منځ کې پتيز وغږېده.

پتې وسته : که موږ په داسې ځای کې ودرېږو چې د ښي لاس لور ته مو غر او راغه وي او د کيڼ لاس لور ته مو پتې وي نو د کيڼ

لاس لور تـه مـو پـتي وسـتـه ده، لکـه چـې وايـي مـال مـې پـه پـتي وسته کې پـوو.

پتې نيني چيچل: لکه پـه هغـه خبره کې ږ لـه ږ سره پتې خبرې کـړې دي پـتې نيني يې ور سـره چچلـې يـا د هغـې چـارې پـه بـاره کـې يـې پـتې نيني سـره چيچلـې دي. يـا حکومتونـه او ښاغلـي پـتې نيني سـره چيچـي.

پختن : لکـه ږ پـه هغـه بـاره کـې د خان پختـن کـړى دى يـا ې د هغـې خبرې پخت وکـړ يـا د هغـې چارې پـه بـاره کې پختـن وکـړه.

پخه خټه : هغـو خلکـو تـه هـم پخـه خـټـه وايـي چـې سـتانه او سـيدان وي وايـي د دې خلکو خـټې پخـې دي پـه دې برسېره د هغـه چـا لپـاره هـم دا ټکـى استعمالېږي چـې پلرونـه نيکونـه يـې توريـالي مـړي بـاز او خواب غـاړي تـېر شـوي وي. وايـي دا پخـه خـټه ده ګواکـې خټه يې پخـه ده.

پخوانـي خوبونـه ليـدل: وايـي ږ پخوانـي خوبونـه وينـي يـا پخوانـي خوبونـه مـه وينـه.

پخوانـي ګورې پـه خـوب ليـدل: وايـي ږ سـړى پخوانـي ګورې پـه خـوب وينـي يـا پخوانـي ګورې پـه ډېرې پـه خـوب ووينـې.

پخښېدل : لکـه ږ بـده خبره راتـه وکـړه ينـه مـې ورتـه وپخـښېده، يـا ږ ـ ږ تـه پـه غوسـه شـو ورتـه وپخـښېده، يـا د ږ پـه هغـه چـاره وپخـښېده يـا ږ تـه مـه پخـښېږه، خپـل خان تـه وپخـښېږه، يـا لـوښى لـه خولـې وپخـښېده ډك شـو اوره لامـده يـا تغـن چـې پـه تبـې واچول شي نو پخښيـږي.

پخې پلنول وايـي ږ لـه خپلـه قومـه راغلـى دى پـه بـل قـوم كـې يـې پـه ږ پوري پخې پلنې کـړې دي، يـا لـه هغـه املـه ږ پـه ږ پـوري پخـې پلنې کـړې دي. يـا افغانـانو پـه جهاد والـو پـوري پخـې پلنـې کـړې.

پڅ خولى : ږ د ږ خواب تـه شـوى ويلـى ډېر پـڅ خولـى سـړى دى، يـا ښه سـړى دى خـو ډېر پـڅ خولـى دى.

پڅ و تېره : وايـي پـه لاز كـې بـه دوښمـن يـا لاروهونكـى لاز راتـه نيولـي وي لـه مـوږ سـره پـڅ و تـېره هـم نـه شـتـه يـا مـې پـه هغـه ځاى كـې دوښمن وليـده خو لـه مـا سـره پـڅه و تـېره نـه وه، چـې پـڅ و تـېره را سره وى بيـا مـې نـه پـرېښوده.

پچاړ يا پچاړي کلـه چـې څلـور بـول پـه لومړيـو يـا پـه يـوه وروسـتي او بلـه لومړي پښه وتړل شي يا كه انسـان وتړل شي هغه تـه پچـاړ وايـي

یا کـه د انسـان او څاروي پـه پـښو کـي پـړي او رسـي تاوراتـاو شـي هغـه تـه پچـاړي وايـي پچـاړي بيـا ډيـر ځايـه يادېـږي لکـه پ لـه پ سره پچـاړ شو يـا هغـه د حکومـت پـه پچـاړي کـي راغـي يـا دا ښيرا چې وايي خداى د پـه داسې پچـاړي کې اختـه کـړه چې هـر څه درنـه هـېر شـي پچـاړي يـوه ډېره پراخـه خـبره ده يـا جـالي غني کله چي خپـل ښکار ونيسـي هغـه پچـاړ کـړي.

پدل : وايـي پـه سـړو اوبـو کـې لـږ سـړي اوبـه ګډې کـړه چې پـدل يـې مات شي يـا لـه تعويـذو څخـه مـه ښوره بيـا بـې پدلـه کـېږي پـدل يې مـاتېږي، بايد ووايو چې پـدل د اسـر او تاسـير ځاى نيسـي.

پرار باد : پـه پ څو کالـه وړانـدې مـوټر اوښتـى و، لاتـر اوسـه پـوري پـر ارباد ده يـا د تـهلـه لاسـه زه پراباد ګرځېدم يـا سـتا لـه لاسـه زمـا زړه يـا لړمون پر اباره يـا بـه د براربـاد کـړم.

پرارزلي : پـه هغـه جنګ کـې پ پرارزلـى شـو يـا ډېر خلـك پکـې پرارزلـي شول. يا د هغـه سياسي چلند د هغـه لـه لاسـه پر ارژلـي کيـږي.

پرپرى : کله چې يـو څوك منـډه کـړي او کـالي يـې بـاد ريـه وي دا تکـی لـه هغـه سره تړون لـري وايـي پ عکسـرو پسـې واخيسـت داسـې يـې پـرپـرى کـړ يـا بـه دې داسـې پـرپـرى کـړم يـا لـه پ څخـه ولـې راپرپرى شوې.

پرپړى : دا نـوم د ډېرو ليکيـو کـاغذونو لپـاره يـادوي وايـي دا څه پـرپـړى سره اړوې رااړوې يـا پـه دې پـرپـړو کـې زمـا د پـوروړي کـاغذ يـا سند وګوره يـا مـلا صـاحب ټولـه ورځ پـرپـړى ګوري.

پرپـه هوا يا پر پـاوا : وايي دولـس سـوه افغانـۍ مې د پ او پ پـه مـخ کـې تللـي اوس پنځه سوه يوه او پينځه سـوه بـل منـي دوه سـوه افغانـۍ مـې پر پـه هـوا ولاړې دي يـا مـې نـور حسـاب ورسره وکـړ څو افغانـۍ پر پـه هـوا پـاتې شوې يـا زمـا دولت پر پـه هوا مـه دروه.

پرتل : وايـي پ وېـروت وينـي ولـوېده (وغورځېـده) يـا پ پرتلـى وښيـه د دونيـا دولت لـه لوري پرتلي يـا څه تـاوان ورغـى وېـروت.

پرتوګ ترې ښکل : کـه يو سړى ورسره مخ لـوري پـه خـبرو وهلـو ټکولـو او داسـې نـورو چـارو کـې لـر کـړي نـو د هغـه پـه بـاره کـې دا ويـل کـېږي وايي لـه پ څخه يې دعـوه وګټلـه پـه شرمو يـې وشـرماوه پرتـوګ يي تـرې وښکـه، يـا دې پـه دې خـبرو دومـره وشـرماوه چې پرتـوګ دې تـرې وښکـه، يـا د دې پـر ځاى دې چې پرتـوګ تـرې ښکلـى

وای، هغه ښه وه یا داسې خبره سړي ته وکړي چې پرسوګ سړي وکاږي. یا دا یوه سیاسي پرتوګ ښکنه وه.

پرتوګ ورته کول: دې چارې ته پرتوګ وکړي یا تا خو به داسې ویل چې دغه کار ته به څه پرتوګ کوم یا د دې چارې هېڅ پرتوګ نه شته یا دې کار ته به کوم پرتوګ وکړې.

پرتوګ ور پښو کول: وایي په دې چاره کې له پ څخه پرتوګ ختلی و، پ پر پرتوګ ورپښو کړ یا ته چې پرتوګ ورپښو نه کړې ترې ختلی دی، یا په دې خبره کې پرتوګ را پښو کړه.

پرتوګ بېلوهل: پ په پ پسې پرتوګ بلوهلی دی، نه یې پرېږدي، یا له پ څخه پ پرتوګ بیلواه، ترې وتښتېده، یا پ مخه در څخه کوي تا پرتوګ پسې بیلوهلی یا یې په دهخبره یا چاره پسې پرتګ بیلوهلی دی. یا له سره خلکو سیاسي چارو ته پرتوګ بل واهه.

پرتوګ و کونه سره جنګول: وایي پ داسې شیطان سړی یا ښځه ده چې کونه او پرتوګ په جنګ سره اچوي یا کونه و پرتوګ په جنګ مه سره اچوه یا کونه و پرتوګ سره جنګوي.

پرته پرته : پ په سر لګېدلی پرته پرته غرېږي، یا څه اسر پرېشوی پرته پرته غرېږي، یا پرته پرته مه غرېږه، یا د هغې خبرې یا چارې په باره کې پرته پرته وغرېده. یا هغه سیاسي پرتې وائي.

پرخوړی : پ عسکرو وواهه، پرخوړی یې په هوا کړی یا به د پرخوړی په هوا کړي یا پرخوړی دې په هوا کوم. کله چې یو پوست څه ووهل شي د هغه نري ګرد پرخوړي دي.

پردۍ برخه : وایي خور ولور پردۍ برخه ده.

پردیسي : نوم د هغې ښځې لپاره یا دوی چې له خپله قومه لرې واده شوی وي وایي پلانۍ پردیسې ده یا دې باره کې دا لنډۍ هم شته چې وایي:

پردیسۍ مړه ده ور یې پوري
خدایه شمال کې چې یې پرې شي پیوندونه

پردي کاسې سمه ول : پ له خپله قومه تللی هلته د پ کاسې سموي یا پردۍ کاسې مه سموه یا د پردۍ کاسې ډېرې سمې کړې.

پردي ګوډي ترل : دا ټکی د هغه چا لپاره کېږي چې د نورو خلکو دچارو په سمولو کې اخته وي وایي پ تمامه ورځ پردۍ ګوډي ترې یا خپل کار نه کوي د نورو ګوډي ترې یا دا چې د هر چا ګوډي

مې ترلې دي. يا هغه حکومت غواړي چې د هغې واکمنۍ گوډي ور وتړي.

پردی شپروا ته پاستي غوټه کول: وايي پ پردی شپروا ته پاتسي غوټه کړي دي، يا پردی شپروا (شوروا) ته پاستي مه غوټه کوه.

پردی شپروا ته ټکله متول: پ پردی شپروا ته ټکله مته (ماته) کړي يا پردی شپروا ته ټکله مه متوه (وروه) يا د هغه حکومت لويديزي نړي ته ټکله ماته کړي دي.

پردی شپروا ته پياز په گنده کې وهل: پ پردی شپروا ته پياز گرځوي يا يې پردی شپروا ته پياز په گنده کې وهلي يا ساتلي يا پ پرديو خيراتو ته پياز په جب کې گرځوي.

پرړي : وايي دا کار کولی نه شې، هسې پرړې مه ولـه هسې په خوله وايي چې دا به وکړم ها به وکړم دا ټولې پرړې دي يا څومره پرړې دې وويستې يو کار دې هم و نه کړ، يا دلته ماته پرړې مه ولـه ډېرې پرړې دې وويستي. يا د هغه حکومت هسې پرړي ولي يا وائي.

پړاوو : وايي پ هېڅ هم نه شي کولی هسې پړاوو دی، يا پړاوو پړاوو مه کېږه، يا په دې کلي کې له پ پړاوو سړی نه شته.

پرښه : په پ باندې دوښمنو ټول وس وکړ، خو دی يوه شنه پرښه دی، هېڅ نه شي پرې کولی، يا د ټول قوم په مخ کې لکه پرښه داسې ولاړ دی يا پ له پرښې سخت دی، په دې برسېره که يو څوك ورکړه نه کوي د هغه په باره کې وايي پ هېڅ چا ته نه ورکوي لکه پرښه داسې سخت دی، يا پ وچه پرښه دی، يا پ خان ولې وچه پرښه کړی. بلـه دا چې که يو څوك په غمونو ستړو او ستونزو کې کلك وي د هغه په باره کې هم پرښه يادېږي، لکه چې واي پ داسې سخت دی لکه پرښه يا له پرښې سخت دی. يا دا چې پ د پ په شتو پرښه شوی دی، يا يې په هغه شي پرښه شوی دی، يا پ سړی په پلانی ښځه پرښه شوی وو. يا لکه نن سبا د اتيوني يا عصري ابادي سخت غولي برېښ او برېښ دېوالونه.

پرغرل : پ او پ په دې چاره سره اخته وو، ما ويل پرېږده چې سره پرغړي يا د هغو دواړو سره جنگ وو ما ويل سره پرغړي به يا هغوی دواړه دې سره پرغړي ته لرې کار مه يکې لره يا موږ به

سره پرغړو تاسې کار مه زاکې لرئ، یا بـه مـو هغـوی دواړه سـره پرېښي وو سره پرغړل به یې. یا دغـه سیاسـي پرغړنـه وه.

**پرکټي** : دا هلـك مـوږ مېندلـی دی پرکټی دی، یـا زه هـم ستاسـې ورور یـم پرکټي خو نه یم یا پ سړی یا ښځې پرکټي لـوی کـړی و.

**پرکاله** : دا کوچنی (وړوکـی لـه اوښه ولـوېده، لـه یـوه وختـه پـورې پـر کالـه پـروت و. یـا پ سـخت ناروغــه دی، دوه ورځې کـېږي چـې پـر کالـه پـروت دی. کـه یـو څوك چـا تـه غـږېږي او هغـه ورتـه مـخ لوری پـه چـورت کـې ولاړ شـي چـې هـېڅ خـبره وا نـه وري نظـر یـې بـل لـور ته ولاړ شي هغـه تـه هـم ویـل کـېږي پ ولـی پـر کالـه شـوی یـازه درتـه غـږېږم تـه پر کالـه شوې. یا پر کالـه اداره او ټولنـه.

**پرګه** : د کورنۍ ځای نیسـي لکـه دا د پ پـرګه ده، یـا تـه لـه خپلـې پـرګې سره ووینـه پـه دې برسېره (سربېره) سره ملـګري هـم ځینـې خلـك یـوه پـرګه یـادوي لکـه دا ځینـې خلـك پ تـه یـوه پـرګه شـوې ټول ورتـه یـوه پرګه دی. یا هیوادونـه سـره یـوه پـرګه شـول یـا دغـه یـوه سیاسـي پـرګه ده.

**پرلښتې** : پ قوم سره یو پرلیـښتې کـړې دي یـا یـې قـوم سـره پرلـښتې کـړ، یـا پ خپـل سړی پرلـښتې راواسـته پـر لـښتې یـې واړول.

**پرنا** : وایي ببګا شپه زمـا طبه وه، ټولـه شـپه مـې پرنـا پـه خـوب لیـدې، یـا پ د پ لـه ډاره ټولـه شـپه پرنـا وینـي یـا دومـره نـه در څخـه ډارېږم چې پـه خـوب کـې پرنـا راشـي. پرنـامني ګډوډ خوبونـه.

**پرڼ** : وایـي وینـې داسـې پـرڼ پـرڼ ولاړې وې، یـا پـه شـېږوا شـپه تـېره ده پرڼ ولاړه ده یـا پلانـی. ښځه اوبـه پـرڼ کـوي یـا پ سـړې اوبـه پـرڼ کوي. هغـه داسـې یـو سیاسـي لوبغاړي دي چـي اوبـه پـرن کـوي.

**پروړې بادول** : پ دورغ وایـي پـروړې بـادوي، یـا پـروړې مـه بـاد وه یـا هسـې پروړې بادوې دانـه غنـم نـه شـتـه یکـې یـا د هغـې خـبرې یـا چـارې پـه بـاره کـې پ پ تـه پـروړې بـاد کـړې وې. یـا هغـه سیاسـي پروړي بـادوي.

**پره** : د هغـه پـره مـه کـوه د هغـه پـره دې وکـړه یـا پ او پ سـره یـوه پـره دي یـا پ تـل د پ پـره کـوي.

**پرېټ** : د سر وروستۍ برخې لنډولو تـه یـرېټ وایـي.

**پرې ایښی** : هغـه چـا تـه وایـي چـې ښځه یـې پـرې ایښې وي، د پېغـور پـه دود ورتـه ویـل کـېږي، وه پـرې ایښیـه، یـا هغـه پـرې ایـښی دی، هغـې ښځې تـه هـم پـرې ایښې وای.

پرېښتي ازادول : وايي پ يې مړکړد هغه پرېښتې يې ازادې کړې يا اوس به دې پرېښتې ازادې کړم، د پرېښتو په ارتباط داسې هم ويل کېږي چې کـه هغـه بـد سړی يا ښځه ده تـه کلـه پرېښتـه يـې يا دلتـه ما تـه لـه ځانـه پرېښتـه جوړ کړي.

پرېښوني : وايـي پ څوك پـه پرېښونـې کـې هـم نـه خبروي، يـا يـې پـه برېښونـي کـې هـم نـه پوښتـي، يـا تـه کـه لاڅوك يـې څوك دې پـه پرېښتوني کې نـه پوښتـي يـا دې پرېښتونـي تـه نـه خبروي يـا بـه دې پ پرېښونـي تـه هـم ور و نـه غـواړي يـا پ د هغـه پـه سياسـي يا ګونـدي پريښونـي ناسـت دي.

پرېښونـي خـورك : پ ټول ژونـد پـردي پرېښونـي خوړلـي، پـرې ښوونـي خـورك دی. يـا واړه او خـواران تـل د غټانـو پريښونـي خـورك دي.

پزه ګاره : لکه پ پخوا بد بد کارونـه کـول اوس لـه بـدو چـارو پـزه ګاره دی يـا لـه پ شـکه (ځځـه) ټول قـوم پـزه ګاره دی يـا تـرې پـزه ګناه شوی، يا پ د پ لـه خپلوی پـزه ګاره شـوی دی.

پړ : پ يې پـه دې خبره پړ کـه، يـا بـه دې پـه دې خبره کې پړ کړي يـا تـه پړ يې، يا ځان مـه ورتـه پړوه، يـا خپلـه پـړه وګالـه خپلـه پـړه د بـل غـاړې تـه مـه وراچوه يـا دا چـې وايـي پړ مې کړه مړ مې کړه.

پړاکی : وايـي د دې ناروغـی پړاکـي ډېر اوږد شـو يـا دې خـبرې تـه پړاکـی ورکـړه يـا د ډېر پړاکـي راکـړه يـا داشـی دوه پړاکـه شـو يـا خلـك دوه پړاکـه شـول يـا د هغـه دوه پړاکـه سياسـت.

پړاو : لـه هغـه ځايـه او تـر دې ځايـه پـورې څو پـړاوه ځمکـه ده يـا مـوږ څو پـړاوه ځمکـه ووهلـه.

پړپوتی : وايـي پ راغـی پـړپوتـی يـې ووېستې، خلـك يـې وځنـدول يـا بـې ارزښتـه خـبرې يـې وکـړې پـړپوتـی يـې ووېستې يـا پ پـه هغـه بيلبره کې پـړپوتـی ووېستې يـا پ هـر وخـت پـړپوتـي ولـي وايـي داسـې مـي وکـړل هسـې مـې وکـړل يـا داسـې بـه وکـړم هاسـې بـه وکړم. يـا هغـه سياسـي يـا مذهبي پړپوتي ولي يـا وائـي.

پړ کېدل : پ ورخطـا شـو، داسـې پـړ کـېده لکـه د تـوت پـاڼې يـا پ ډېـر پـه غوسـه شـو، لـه غوسې پړ کـېده. رېګدېدل او پـړ کيـدل.

پړوسن : لکه پړی پړوسن دی، مړ مړ سره خـېژي يـا رخـت پړوسـن دی. يـا د هغـه هيـواد پړوسنه اقتصـادي وده.

پړوکی : وايـي زه بـه مـېږي درېـاندې خـرڅې کـړم، خـو بيسـې بـه پـه درې پړوکيـو راکـوې يـا پـه دوه پړوکيـو نـې در ځځـه غـواړم، يابـه يـو

پړوکـي پيسـې اوس درکـړم بـل پړوکـي بـه څو ورځې وروسـته درکړم. يا هغـه خاې تـه پړوکـي پړوکـي فوځيـان روان دي.

پړومي : وايـي پلانـي ښځه پړومـې پړومـې کـېږي، دا کيسـه هغـې ښځې تـه کـېږي چې کـالي (جـامې) يـې بـې ترتيبـه لنـډې او اوږدې پسـې زنګيـږي، يـا دا چې پـه خـبرو پسـې پړومـي مـه تـړه يـا پ د پ پړومي دی يا پـه پ پسـې پړومـي کـېږي يـا دا شـی پـه هغـه چـاره پسـې پړومـي دی يـا پ پـه هغـه بـاره کـې پـه پ بـاندې پړومـي ور اچوي. يا د هغـه هيوادونـه پـه سياسـي اداره پسـې هـر وخـت فـوځ پړومـي وي.

پړپيل : پ زمـا مخې تـه نـه درېږي خـو خلـك يـې را پـړپي. يـا شـيطانان دې هر لـور تـه پړپي، يـا پ ئي هغې چارې يـا خبرې تـه ورپړيلـې ده.

پسته مړی : واي زه دې لـه پامـه پسـته مـړی درغلـم، يـا پ پسـته مـړی مـه بولـه، يـا ولې خلك پسته مړی درتـه ښکـاري.

پسته ورغـړن : واي دا ځای د پسـته ورغـړن ميندلـی دی، يـا دا خلـك دې پسـته ورغـړن ميندلـي دي يـا لـه دې خلکـو بـل لـور تـه ولاړ نـه شـې دا پسته ورغړن دي يـا پ پسـته ورغـړن درتـه ښکـاري.

پستې ځربې : پ پ تـه داسـې پستې ځربـې غـورې کـوي يـا پـه دې پسـتو ځربـو غـورو دې وطـن وخـوړ، يـا مـا تـه پستې ځربـې غـورې مـه کوه، خلك پـه پستو ځربو مـه تېر باسـه.

پـه شاشا : وايي چې پـه شـا شـا مې څوك لاسونه وتـړي داسـې بـه و نـه کـړم يـا پ پـه پ پسـې پـه شـا شـا خـبرې کـوي يـا پـه شـا شـا دروغ پسـې وايـي. يـا هغـه حکومت پشـا دا چـارې تر سـره کـوي.

پښې پې خندول : پ دومره غـلې تولې کـړې چې پښـې يـې پـرې وخندولـې يـا دا چاره بې داسې وکـړه چې پښې بې پـرې وخندولـې يا پـه دې کـار بـه پښې وخندوم. يا دوی پـه افغانـانو پښـې وخندولـې.

پښه پاتې نه شـوه : پ کلـی پـای پوکـه وتلـی پښـه پکـې پـاتې نـه شـوه، يـا هغـه کورنـی خلك ټول مړه شـول، پښـه يـې پـه ميلـه پـاتې نـه شـوه، يـا دا ښېرا چې وايـي خدای دې پښه پـاتې مـه کـړه.

پښتل (پوښتل) : وايـي پ پـه عـام خيرات کـې څوك نـه پښتـي (پوښتـي) يـا پ پـه وروستيو خـوړو کـې څوك نـه پوښتـي. يـا د دې خـبرې لپـاره پ پښتـل شوی وای يا پـه دې کـار کـې پ وپښتـي يـا پـه هغـه بيلـبره پ – پ پوښتلـی دی يـا دا دوعـا چې واي خـدا يـه بـه دې د قـبر

پښتېدل رابانديې اسانه کړي، د دې ټولو خبرو پښتېدن به کېږي. همدغه ور د ډلو او حکومتونو پوښتل.

پښو ته زور ورکول: وايي هغه له دې ځايه وتښتېده پښو ته يې زور ورکړ، يا نور ولاړ و، ده پښو ته زور ورکه، وتښتېده.

پښو ته شګې وراچول: دا چاره زه کوم خو پ پښو ته شګې را اچوي يا هغه کار پ کولی شوی خو تا پښو ته شګې ور واچولې.

پښته : وايي پ له بدو تښتې پښته په مخ کې ورکوي يا مې سترګې در ځخه پنا کړې پښته مې په مخ کې درکړي.

پښتي پښتون : وايي په دا پښتي پښتانه کې داسې کار چا نه و کړی يا پښتي پښتون به داسې و نه کړي.

پښه ارتی : وايي د خواښې او خوسر کور ته زوم پښه ارتی ورځي د زوم تيون (لومړی) وار ورتګ ته پښه ارتی وايي يا پښه ارتی لا نه دی ورغلی پښه ارتی به ورځي.

پښه ازادول : دا هم د زوم خبره ده وايي لا تر اوسه پوري د زوم پښه د خوسر کره نه ده ور ازاده، يا زوم ورغی چې پښه ازاده کړي.

پښه اوږدول: پ پښه اوږده کړله نور وطن يې ونيوه يا په خپله برخه صبر وکړه نوره پښه مه اوږدوه. يا له هغه تړون ځخه ئي پښه اوږده کړه .

پښه په لوټه نه په تيږه لګېدل: دا خبره په ښېراوو کې هم يادېږي وايي خدای دې پښه په لوټه مه لګوه بې له تيږي يا د پ پښه په لوټه نه لګېږي بې له تيږې، يا د پ پښه دا ځو کاله په تيږه لګېږي.

پښه پې اړول : پ دومره سړی نه و، زوی يې پښه پې اړولې ده، يا پ په پ پښه واړوله، ګوا تري وراندې شو.

پښه خرل : لکه پ – پ ته پښه وخرله په تيږه يا بل څه يې ووبسته، يا پ دې چارې يا خبرې ته پښه خرلې ده يا پ له پ سره پښه خرلې ده. يا ختيزي پرګي هغه او لويديزي نړي دغه څه ته پښې سره خرلې وي.

پښه غړول : وايي په له پ ځخه پښه غړوي، چې هغه چېرته وي دی هلته نه ورځي، يا له هغه کاره يې پښه وغړوله يا له کليوالو پښه غړوي.

پښه سوری : هغه چا ته وايي چې کوم ځای ته ورشي د ده له مخې سره حلاله شوې وي يا غم جوړ وي وايي پ پښه سوری دی، چې چېرته

ولاړ شي هلته غم يا حلاله وي. يا هغه غواړي چې له دغې سياسي لوبې پښه وغړوي.

پښه نيول : دا ډېر وخت کېږي چې پ د پ کره نه ورځي پښه يې ترې نيولې، يا دا ډېر وخت کېږي چې د پ له کوره مې پښه نيولې ده يا زه نه ورځم، پښه مې ترې نيولې دي پښه نه نيسي.

پښه نيولی : پ د پ کور ته ډېرپښه نيولی ورځي يا په وره چې ننوزي ولې پښه نيولی پښه نيولی کېږي، يا پ هغې چارې ياخبرې ته پښه نيولی دی. يا حکومت هلته خپل چارې پښه نيولی کوي.

پښه ور : لکه د پ زوی اوس تلای شي پښه ورکی دی، يا پ د پ کور ته ځي راځي د هغه کور ته ورپښه ور شو، يا په هغه باره کې ور (پښه ورکی) شوی دی. يا حکومت هلته ور پښې ور شو.

پښه يې نه ټينګېږي : وايي پ په هره خبره کې ښويېږي پښه يې نه ټينګېږي، يا ټول ژوند د پ پښه ټينګه نه شوه يا يې هېڅچا ته پښه نه ټينګېږي يادا ښېرا چې پښه دې ټينګه مه شه، يا دې چارې ته د پ پښه نه ټينګېږي. يا د هغه د حکومت پښه نه شوه ټينګه.

پښې ايستل : وايي پ له دې ځايه هسې پښې ويستې يا تا هم له هغه ځايه پښې را ويستې يا له دې ځايه پښې باسه يا له هغې چارې پښې باسې. يا ټل هغوي ددې وس درلود چې له افغانستان څخه پښې وباسي

پښې دربول : پ پ ته هسې پښې دربوي د پښو په دربولو يې ډاروي يا ما ته پښې مه دربوه زه دې د پښو له دربولو نه ډارېږم، يا خلك د پښو په دربولو نه شي ډارولی يا په پ پسې پښې دربوي.

پښې سره خرل : وايي پ او پ په دې خبره پښې سره خرلې دي چې تر څو به يې پښې سره خرلې وي يا په دې خبره پښې مه سره خرئ ياتاسې په چيتي خبره پښې سره خرلې دي.

پښې کول : پ هم اول وړوکی و، اوس يې پښې کړې دي يا تا پښې کړې دي پښې به دې در ماتې کړم، يا که دغه سړي پښې درپسې وکړې ټول به ترې تنګ شو.

پښې کوناټيو ته رسول: وايي په داسې منډې وکړې چې پښې يې کوناټيو ته ورسېدې، يا يې پښې په کوناټيو لګېدې.

پښې مځکې ته نه رسېدل : وايي پ داسې ستړی دی کله يوه ځای ته منډې وهي کله بل ځای ته منډې وي پښې يې ځمکې ته نه رسېږي

یـا یـوه ورځ پـه کـرار نـه دی، پـښې یـې ځمکـې تـه نـه رسـېږي
یـاخلکو پـه هوا کړی پښې یې مځکې ته نه رسېږي

**پکړی**: پ داسـې مجلس جـوړوي ډېر پکـړی سـړی دی یـا پـه دې سـړي ډېري سترې ستونزې تېرې شوې، خو دی یې زړ تـه نـه اچـوي یو پکړی سړی دی یا یوه نیمه پکړې ښځه هم پیـدا کېږي.

**پکو**: وایـي لـه پ څخـه ټول کلیـوال پکـو دي، یـاپـه دې خـبره دې خلـك پکو کړل یاله هغې چارې پ پکـو دی یـا دا خبره چې وایـي اکـو پـه بل پـورې پکـو. یـا هغـه لـه سیاست څخـه پکـو دي یـا خلـك د هغـه لـه مذهبي چلند څخه پکو شول.

**پګې**: وایي دلتـه هره ورځ غرو پر وي، د غـوړو پـګې یـې راوښکـه پـه هـر ساعت نـارې (اوازونـه) راکـوي زمـوږ د غـوړو پـګي دې راوښکـه یـا نـارې مـه راوه د غـوړو پـګې مـه راکـاږه. یـا د هغــه حکومـت پکې کـانه دي.

**پل**: د غلـه پـل یـې وهلـی پـل د پ پـه کـور ورغلـی یـا بـه پـل لـه ځانـه چپوي یا به غـل وي یا د پ پل بـه پټ کـړي ګواکـي پـه بـدی یـا نیکـی کـې پـه هغـه زیـات شـو. یـا ددغـو چـارو لـه املـه د خپـل سیاسي چلند پـل پټوي.

**پل پرې جوړول**: پـه دې خبره پـه پ بـاندې پل جوړ کـړي یـا څه پـل پـرې جـوړوې یـا تـر څو یـې پرېنږدې چې پل مو نـه وي پـرې جـوړ کـړی، ګواکـي پـه ایرو یـا پسـتـه خـاوره کـې یـې لـوڅه لغړه کونـه کېنـوي چـې د اوښ پل جـوړ کـړي. یـا هغـه غـواړي چـې پـه حکومـت بـاندې پـل جـوړ کـړي

**پلترۍ**: وایـي پ پـه پلـتریو ناست و، یـا هغـې خـبرې یـا چـارې تـه یـې پلتری وهلې دي یا پـه هغـه بـاره کـې یـې د پ کـره پلـترۍ وهلـې دي یـا پ پردۍ ټکلې تـه پلـترۍ وهلـې دي.

**پل ترې غړول**: پ لـه پ څخـه پـل وغړاوه یـا پ لـه پ څخـه پـل غـړوي یـا د هغـه ښه نه ایسـي پل تـرې غـړوه یـا لـه چـا سـره دي چـې بـد کـړي وي پـل ترې غړوه، ګواکـي پـه بلـه لار تـرې ځه.

**پلتمل**: د پ کـور پ وپـلاټه یـا څه پلتمنـه کـوي یـا هـر شـی پلـتمې یـا مـې پلانـی راوپلاټه یا مې خولـه مـه در پلـټه.

**پلرینه**: لکـه پ او پ سـره یـوه پلرینـه دي یـا پ هـم د هغـې پلرینـې دی یـا دا ښه یـا نـامرده پلرینـه ده. یـا هغـوي د افغانـانو د تیرایسـتني لپـاره لـه خانـه یـوه پلرینه جوړه کـړې ده.



ACKU

پل کول : لکه د پ څه مال ورك و، ټول وطن يې پسې پل کړ، يا پ د هغې چارې ياخبرې په باره کې ډېرې منډې وکړې وطن يې پل کړ يا د پ له کوره او د پ له کوره پورې خې او راخې لار يې پل کړه. يا د بمې چاودنو له امله پوليس هغه سيمه پل کوي.

پلکه يې ورکول : وايي دا يو بدغوني سړى دى، پلکه يې ورکه کړې يا دوښمنو د پ پلکه ورکوله، خو خداى به يې پلکه نه ورکوله يا پلکه به دې ورکه کړم پلکه دې مه رابانده ورکوه بلـه دا چې دا خبره په ښېراوو کې هم کېږي لکه خداى دې پلکه ورکه کړه يا دې خداى پلکه له بيخه وکاږه يا دا چې واي د پ پلکه له بېخه له دې ځايه وکاږئ يا ورکه کړئ. يا د هغه سياسي پلکه وباسي.

پلمه : که دا کار کوې وېې کړه که نه پلمه مه راته کوه، يا پ دا چاره لاپخوا کوله خو هغسې پلمه يې غوښته يا پلمه غوارې يا پلمه مه راته غواړه يا که دا پلمه نه وايي تا به څه ويل يا دا چې وايي خپل يې په پلمه سره خوري.

پلو : دا خبره زه کوم خو پلو يې ته هم رانيسه، دا خبره نه جوړېده خو د پ د ښځې پلو مې غوټه کړ يا دا سړى وشړه پلو يې ورغوټه کړ يا درځه پلو دې غوټه ياد خلکو سره جنګ وو پلو يې سره واچاوه يا پلو مه راسره اچوه. په احمدزيو کې چې د ښځې پلو غوټه کړي هغه غـټه سوالګري ده.

پلو غوټه : پ خوابنې ته ډېره پلو غوټه را نه وړه يا مور د تا پلو غوټې ته ګورو يا پ پلو غوټه سيخه کړه. يا هغه له دغه حکومته دا پلو غوټه وړي.

پلونډ : وايي پ پلونډ (قوي) سړى دى يا خان درته پلونډ ښکاري.

پلونډه : وايي پلانى ډېره پلونډه ښځه ده يا پلونډه پېغله ده. يا پلونډ حکومتونه

پله پسې : پ ته خداى پله پسې الـواد (اولاد) ورکړى ټول پله پسې (پرله پسې) سره لوى دي يا پله پسې سره ودرېږي، يا پله پسې سره کښېني، يا پ او پ پله پسې سره مړه شول.

پل يې په ايرو کې نه معلومېږي: وايي پ هم خان سړى بولي پل يې په مړو ايرو کې نه معلومېږي (جوتېږي) يا دا څه سړى دى پل يې په ايرو کې نه معلومېږي، يا ما ته خان سړى کوي پل يې په ايرو کې نه ښکاري

پلی : لومړی دا خبره گورو چې وایي پلار دې پلیو مړ کړ که او که سپړو؟ ویل زما له ښې یې ویوست سپړو مړ که (کړ)، که پیلو.

پنا : پ هسې له دې ځایه ستر گې پنا کوي یا له دې ځایه ستر گې مه پنا کوه دلته اوسه یا مخ را څخه پنا کړه یا پ په غره را څخه پنا شو. یا د هغه له سیاسي یا مذهبي چلند څخه ځان پنا یا الونیا کوي.

پنایي : هغه بله ورځ گلی اوربده دومره پنایي نه وه چې زه ورته کښناستلی وای، وروسته مې پنایي پیدا کړه یا پېروني راخیژي مېرې پنایي ته ودروي یا پنایي نه لرو.

پنځېده : یو متی به دا دُعا وگورو چې وایي خدای دې وپنځوه یا وپنځېږې، وښیه دېر شي یا پ دېرو پنځېده یناني زمن لونه لمسي یې دېر شول یا دا قوم وپنځېده.

پندي : پ دېر پندي سړی دی یا پلاني پندي ښځه ده یا پندي سړی ورك مه کړې. یا د هغه سیاسي پند او پندي چلند او ناسته ولاړه.

پند : وایي په لاري را روان وم دېر ځایه مال پند و، یاد پ د کور مخې ته دېر خلك وو چې د څه لپاره پند یا ناست وو یا هره ورځ د پ په مېلمستون کې خلك پند وي یا دلته د څه لپاره پند یې؛ یاپند اوسئ. له خینو وکارو یا لوښو کوديو سره پند د غېټ او پریږ مانا هم ورکوي.

پند و بکر : دا خبره دهغه چا په باره کې یادوي چې په یوه چاره یې ورتوده وي لکه پ ته مې دېر پند و بکر ووهل خو خپو یې هېڅ سپرغي نه کولي، یا پ ته لږ پند ووه یا په داسې پند و بکر د پ خپو نه بلېږي یا دې چارې ته پ پند وهلی یا د اورته پ پند وهلی یا دا خبره یا چاره په دې قوم کې پند و پکر شوه.

پنده خېل خانه : پ پنده خېل خانه لري بله ښځه یې وکړه یا پ ښځه لري د پندې خېلخانې څښتن دی یا سړی چې د پندې خېلخانې څښتن شي د سړي کاروته کوي.

پَنګ : د تلې یو لوری دروند دی، په بل لوري پوري یې پَنګ غوټه کړې یا دا چاره او دا چاره سره سر په سر کېږي خو پَنګ غواړي یا دا خبره پَنګ غواړي.

پنگه : پ اوښ تمبو ته بیا یې خو پنگه نه لري، یا پ دېر بې پنگې دی یا پ چې پنگه لرلی سوداګري به یې کړې وه.

پښاکي :که څاروي د خوشحالۍ یا په بله کومه وجه پورته پورته ولوېږي هغه پورته پورته لوېدو ته پښاکي وايي پښاکي بیاداسې هم یادېږي لکه پ دې چارې یا خبرې ته له خوشحالۍ پښاکي وهي یا پ په هغه خبره یا چاره له بدې ورځې پښاکې وکړې یا پ په هغه خبره پښاکو ته سیخ شو پښاکې به وکړي، یا پ – پ پښاکو ته برابر کړ، یا دا خبره ورته وکړه دی به په خپله پښاکې وکړي. یا هغه حکومت له دې امله پښاکې وهي یا دا هسې سیاسي پښاکې دي.

پنډو : وايي هلته قومونه سره راټول وو، پنډو یې جوړه کړې وه، یا پ له ډېرې پنډو څه جوړ کړل هره ورځ پنډو وي.

پنکې : هسې خو د پرار پتې ته پنکې وايي خو پنکې بیا داسې هم یادوي، وايي په هغه ځای کې پ هم هغه خبره وکړه پنکې یې پرې کېښوده وښیه خندوونکې کیسه یې وکړه. داسې نورې پنکې.

پنهېدل : وايي مېږې او وزې ډېرې خوشحاله دي داسې پنهېږي یا وچ مال پنهېږي یا پ له خوشحالۍ داسې پنهېږي یا چې ډېره خوشحالي دربانډې راسي یا هم مه پنهېږه یا څو ورځې مخکې پ ډېر پنهېده.

پوپنا : وايي د فقیرانو ازار مه وړه پوپنا به دې کړي یا به دې پوپنا کړم، یا دا ښېرا چې خدای دې پوپنا کړه یا دا بوس باد وړې پوپنا یې کړه یا دا شی پوپنا شو.

پوټی : دا نوم کتابچې ته یادوي لکه ملاصاحب زما پور په دې پوټی کې ولیکه یا پوټی راواخلی یا دا پوټی زړه شوه.

پوټې هلکان لوبې سره کوي وطن یا میدان یې پوټې کړ، یا پ او پ غېږ سره باسي وطن یې پوټې کړ یا پ او پ په دې خبره وطن سره پوټې کړ یا به یې سره پوټې کړي وي. په پکتیا کې یوه سیمه هم پوټې بولي.

پوچ سړی : دا نوم هغه چا ته یادېږي چې شکل یې د سړي وي، ولې د سړیتوب کارونه نه ترې کېږي، وايي پ هېڅوک نه دی ډېر پوچ سړی دی یا پ پوچ سړی دی څه باور پرې کوې یا پوچ چارماغ دی. یا هغه د پوچ سیاسي چلند خاوندي یا هلته یو پوچ سیاسي نظام دي.

ACKU

پوچ خولی : دا نوم هغه چا ته یادېږي چې کنځاوې ډېري کوي او یا (ك...، غ... او...) ډېر یادوي وایي پ ډېر پوچ خولی سړی دی یا پوچ خولې ښځه ده یا ته ډېر پوچ خولی یې له خولې سره پام کوه. یا د سیاسي او ملکي بیلبرو په اړه هغه پوچه خوله ښوروي یا خوخوي پوچ خولي دي.

پوچ و پاچ : پ پ ته داسې پوچ پاچ وویلې یا پوچ و پاچ مه وایه یا دومره پوچ و پاچ لکه تا چې وویل بل به یې و نه وایي.

پوچې خبرې: وایي د ښځو د ورانـدې سړی پوچې خبرې نه کي یا دا پوچې خبرې پرېږده د تا کار له پچو خبرو سره دی.

پوخ سړی او پخه ښځه : د عمر له پلوه هم ورته ویل کېږي له دې پرته پوخ سړی هغه چا ته هم ویل کېږي چې کارونه یې پاخه وي وایي پ ډېر پوخ سړی دی هغه چې هر څه ووایي خبرئې پخه ده یا د هغه کارون ډېر پاخه دي هغه چې کوم کار وکړي کار یې پوخ دی.

پورګنی : وایي پورګنی شي دې ورك شه یا دا شی پورګنی شو.

پورې اورې : دا خبره به اوس لاد وختـه اواره وه، خو پ پکـې پـورې اورې شو یا د پ دولت یا بل شی پ پورې اورې کړی یا پ او پ سره پورې اورې کړي یا پ د پ په حق پورې اورې شوی دی.

پوره سړی : وایي پ پوره سړی دی یا له خانه پوره سړی جوړ کړه.

پورې خوړ کېدل: لکه مور و پلار په الواد پورې ډېر خوړل کېږي یا پ په پ پورې ډېر وخوړ شو یا پ په مال او دولت پورې ډېر خوړ کېږي یا له پ سره خان خوری یا له مال او دولت سره خان خوري.

پوړ پوړ : وایي دا رخت وروست شوی پوړ پوړ تویېږي یا دا لیمڅی او پیڅول په خاورو کې وروست شوی پوړ پوړ تویېږي یا به پ داسې خبر درته وکړي چې پوړ پوړ به دې تویه کړي.

پوړنده : په کومو ایرو کې چې اور وي هغه ته پوړنده وایي بیا پوړنده داسې یادېږي لکه په هغه بیلبره کې د پ لاس یا پښه په پوړنده ولاړه یا په هغه باره کې پ په پوړنده ګډ که یا پ داسې دی لکه پوړنده چې لرې (وریا) ورته کېنم، تودېږم نه چې ور نژدې کېږم یا لاس پښې ورلګوم پرې سوزم.

پو-زه : د غره وروستی ورې برخې ته وایي په دې ارتباط ویل کېږي پ په پوزه پورې دروغ وایي یا زه یوه پو- زه در څخه پنا وم تا داسې وکړل.

پوزی : د پوزیو کوډی ته وایي لکه ما سږ ژمی په پوزي کې تېر کړ یا ځیني خلك ژمی په پوزیو کې تېروي یا په لار کې د خرڅینو (غرشینو) پوزی وي. پخوا د کورمې سیمې ته تللی وي نو ډېر پوزي به یې لیدلي وي.

پوس پوسي : د خلکو تر منځ داسې پوس پوسی دی چې پ پ وژلی یاد خلکو په منځ کې داسې پوس پوسی دی چې د پ غلا پ کړي یا په ناستو خلکو کې پوس پوسی شو.

پوسنی پوسنی : لکه پ د پ په غوږ کې څه خبرې ور وکړې په غوږ کې یې پوسني پوسني ورکړه یا پ له پ سره پوسنی پوسني کېده یا په هغه خبره کې نې ډېر پوسني پوسني وکړل یاد هغې چارې په باره کې پ له پ سره پوسنی پوسني کېده.

پوښتنېږي : ګواکي پوښتنه کوونکی. یا پوښتن چي ډله.

پوک : وایي په وچه غرك مې اوبه پوك ویلي یا په څمکه اوبه پوك وهه نرۍ پوك ورکړه. یا هغه بیلبري ته سیاسي پوك ورکوي.

پولی : ګواکي تناکه وایي دواړه په لاس سرې اوبه توبې شوې پولی پولی شو یاد پ د لاس پولی لانه دې چودلې.

پولی : کله چې جوار نینې شي سپینې دانې ته یې پولی وایي په دې ارتباط وایي پ سپین کالي واغوسته خان یې سپینه پولی کړ یا سپین کالي واغونده ځان سپینه پولی کړه یا لکه پولی داسې ښکاري. وانې په پتاسو د اموخته کړم * اوس د جوارو پولي خوند نه راکوینه.

پوله : پ سرې قسمو ته پولې اچولې یا قسمو ته پولې مه اچوې، یا پ قسم ته پولې واچولې، یا په هغه بیلبره کې پ د پ مخې ته هغه خبره ور پوله کړه، یاپې هغه چاره ور پوله کړه.

پوندې په کوناتیو لګېدل: پ داسې وتښتېده چې پوندې یې په کوناتیو ولګېدې یا داسې منډه یې وکړه چې پوندې یې کوناتیو ته ورسېدې.

پونډه : وایې تا د هغه خبرې ته پونډه ورکړه یا د هغه خبر دې پلونډه موکمه (محکمه) کړه پونډه دې ورکړه یا تا خبره وکړه پ د تا خبرې ته پونډه ورکړه. یا لویدیز والو هغه لور ته پونډه اچوله.

پونګی : د کورمې په لورې کې چې کوچیانو یا بل چا مېوه په غله بدلوله هغه ورکړې راکړې ته پونګې وایي. لکه تول ژمی مې پونګي کوله.

پو وابنه : لومړي دا ښيرا چې وائي خداي د پو وابنه کړه یا پو وابنه را ولیدل شي یا په هغه خبره یا چاره پ خلکو پوه وابنه که یا نې خان پوه وابنه که یا که بدې چارې کوي خان به پو وابنه کړي یا هغه سیاسي نظام او حکومت د خلکو په ورانډې پو وابنه شوي دي.

پوڼیاتي : وايي په سړي یا ښځه پوڼیاتي دي وښیه فساد بوټونکي ینا فساد پيښه ده په خلکو پوري کښ او پوڼیاتي چارې کوي یا د هغه حکومت چارې پوڼیاتي دي پوڼیاتي د پون نه اخیستل شوي نوم دي.

پوڼیاتي خبر : وايي هغه سړي یا ښځه ډيرې پوڼیاتي خبرې کوي یا ئې په هغه باره کې پوڼیاتي خبرې وکړي.

په استر : دا شی په مخ دی په استر یې واړوه، یا د پ ډېرې په استر خبرې دي یا په استر خبرې مه کوه یا دا کارونه ټول تا په استر وکړل. یا د هغه هیواد ټولې سیاسي او اداري چارې له هغه امله په استر شوي.

په اشا کاله توبه : وايي زما دې له دې کاره په اشا کاله توبه وي یا به له دې کاره په اشاکاله توبه وکارم.

په اومړي تار ځړېدل : پ يې په اومړي تار ځړولی دی، یا تر څو ب په اومړي تار خوړنده يې یا به د پ تر څو په اومړي تار ځړولی وي.

په اومړي تار توره پرې ځړول : وايي د پ په سر يې په اومړي تار توره ځړولې ده یا تر څو به په اومړي تار توره پرې ځوړنده وي.

په ایرو کې ورته پټول : دا خبره په هغه وخت کې یادېږي چې د یو چا لپاره پټه توتیه (توطئه) جوړ وي وايي پ ته يې په ایرو کې پټ کړي یا په ایرو کې يې درته پټ دي یا د پ ته په ایرو کې پټ کړي وو یا تا هم په ایرو کې راته پټ و.

په بار درنه : دا تکی هیلمنې (امیدوارې) ښځې ته یادېږي وايي پلانی ښځه په باردرنه ده، یا کومه ښځه چې په بار درنه وي هغه ته پکار نه ده چې زورور کار وکړي.

په بار درنه په غېږ سپکه : د پلاني ښځې الواد (اولاد) مري په باردرنه په غېږ سپکه ده بلـه دا چې دا خبره په ښراوو کې هم کېږي لکه په باردرنده په غېږ سپکه اوسې.

په باد راغلي : وايي دا شی سره اواري کوه په باد خونه ده راغلې یا په باد راغلي په باد ئې ورم.

په بد جبار : ې داسې پـه بدجبـار ښکـارېده چـې مـخ يـې د کتـو نـه وو يـا ولـې داسـې پـه بدجبـار يـې څه در شـوي يـا پـه غوسـه وو پـه بـد جبار و يـا ولې ورتـه په بد جبار شـوي.

په برېتـو لاس وهـل : وايـي ې ې تـه پـه برېتـو لاس ووهـل يـا پـه هغـه خـبره يـا چـاره پـه برېتـو لاس وهـي يـا ې تـه پـه برېتـو لاس ووهـه نـور تښتـي.

په برګو سترګو ډارول : وايـي ې يې پـه برګو سترګو وډار کـه؛ يـا خلـك پـه بـرګو سـترګو نـه شـي ډارولـی يـا ې ې پـه بـرګو سـترګو وډار کـه يـا دا چې ې پـه برګو سترګو وطنونـه وخوړل يـا يـې خـوري.

پـه برېوکـی سـپور : وايـي ې هغـه ورځې پـه برېوکـی سـپور شـو ويـل يـې دا بـه وکـړم هـا بـه وکـړم يـا ې پـه پړبوکـی سـپور دی دروغ وايـي يـا ې پـه هغـه بـاره کې پـه برېوکـی سپور شو پـه يـوه وګړي کـې پـه ټولـه دنيـا راتـاو شـو يـا د هغـه هيـواد سياسـت وال او نـوي اتيـون حکومتونـه تـل پـه برېوکـی سـپاره وي.

پـه بدۍ کې خلاص : ې پـه هره بـدۍ کـې خلاص وي يـا ې لـه ګنـده ورځې پـه بـدۍ کـې خـلاص دی، يـا ې د ښه سـرېتوب لـه املـه پـه بـدۍ کـې خـلاص دی، يـا پـه پښتنـو کـې ښځه پـه بـدۍ کـې خلاصـه ده.

پـه بـده سـترګه ورتـه کتـل : وايـي ې پلانـۍ ښځې تـه پـه بـده سـترګه کتلي يـا پردۍ خور و لـور تـه پـه بده سترګه مـه ګوره.

. پـه بده زانګو کې زنګېدل : ې خدای پـه بده زانګو کې زنګولـی هلتـه يـې غـلا وکـړه يـا پـه بـده زانـګو کـې زنګېدلـی زنـا يـې وکـړه يـا پـه بـده زانـګو زنګېدلـی خلـك ازاروي.

پـه بـل پورې کېناستل : وايـي ې تـوره نـه کوي پـه بـل پورې کېنـي يـا پـه بـل پـورې ولـې کېنـي هـر وخـت تـه پـه بـل پورې کېنـې.

پـه بل ډاډه : ې چې دا کارونـه کوي پـه بـل ډاډه دی يـا پـه بـل مـه ډاډه کـېږه ټول کارونـه د بـل پـه ډاډ مـه کـوه.

پـه بلّو بلّو : وايـي ې هغـه ې نـه دی اوس يـې پـه بلـو بلـو سـر دی يـا اوس لـوی سړی دی پـه بلو بلو يې سر دی يـا ې دولتـي شـو پـه بلـو بلـو يـې سر شـو يـا د ميړو ځښتـن شـو پـه بلو بلو شو.

پـه پاغوندو سره ولـی : ې او ې سره ملګري دي کومې خبرې چـې کـوي هغـه پـه پـاغوندو سـره ولـي يـا ې او ې ډېر پـه پـاغوندو سـره وويـسته يـا دوی پـه پـاغوندو سـره ولـي خلك يـې جنـګ بولـي.

پـه پټو پرارو : وايـي ې ښکـاره زخمـي نـه دی پـه پـټو پـرارو ډېر لګېدلـی دی.

په پټو سترګو کول: دا کار به پ په پټو سترګو وکړي يا يې هغه چار په پټو سترګو وکړه يا پ د پ ويل په پټو سترګو منـي.
په پچه ختل: ته په پچه ختلی يې خان ډېر لوړ درته ښکاري يا د اوښ په پچه وختي لري وطن ښاري يا دا متل چې وايي: د اوښ په پچه وختي کشمير دې وليد.
په پردی ټکله لويدل: وايي پ لاځه سړی دی هغه په پردی ټکله لوی شوی دی، يا دا دوعا چې وايي زوی او ورور دې په پردی ټکله لوی مه شه. يا د هغه ټول سياسي ژوند په پردی ټکله شوی دی.
په پرديو خيراتو کې: پ په پرديو خيراتو کې هډوکي وېشي، يا پ پرديو خيراتو کې سپي په ډانګو وهي يا په پرديو خيراتو کې مه ګډېږه.
په پښو کول: وايي پ بد خوا و په پښو کړی پ ته يې ور جنګوي يا هغې چارې ته يې په پښو کړې ده يا بدو ته خلك مه په پښو کوه.
په پښو لك: لکه پ ناروغه دی هسې په پښو لك دی، يا څه انسانيت نه شته پکې هسې په پښو لك دی.
په پوله سره کېښودل: په دې خبره کې توپکو ته اشاره ده وايي پ او پ تيار په پوله سره ايښي يا که نن وي که سبا وي پ او پ به يې په پوله سره کېږدي يا دا چې ته به بدي را سره کوې يا نه خو ما له پخوا په پوله درته ايښې.
په تاوده پله: پ دلته راغلی و، په تاوده پله بېرته ولاړ يا ولې په تاوده پله ګرځې يا په تاوده پله بېرته مه څه يا زه په تاوده پله بېرته ځم.
په تخرګ کې سوری: دا ويل د هغه چا په باره کې کېږي چې بې ځايه غږېږي لکه پ په تخرګ کې سوری دی چې ځای د غږېدا نه وي هلته خبرې کوي يا له تخرګه مه غږېږه يا دا خبر دې له تخرګه وکړه. يا نن سبا سياسي شخصيتونه او حکومتونه له تخرګه غګيږي.
په تخرګ ور ننه وتل: پ د پ په تخرګ ور ننه وتلي دي يا د هغه په تخرګ مه ور ننه وزه يا هغه تل د خلکو په تخرګ کې وخت تيروي.
په تروشه تنده: پ پ ته دا خبرې ټولې په تروشه تنده وکړې يا هغه چاره يې په تورشه تنده پرې وکړه. يا هغه ټول عمر خاني او سياست په تروشه تنده وکړ.
په تشو ګړبو کې تيرې اچول: لکه له پ سره پيسې نه شته دي ګرځي وايي موټرې يا بل څه اخلم په تشو ګړبو کې يې تيرې اچولې دي يا

پ دولتي دی پ هم په تسو ګړبو کې تیرې ورسره اچولې دي
چې هغه کوي دی هم همغه کوي یا د مېړو ځنیتن دی پ هم
په تسو ګړبو کې تیرې ورسره اچولې دي چې هغه څه کوي دی
همغه کوي یا په هغه باره کې پ له پ سره په تسو ګړبو کې
تیرې اچولې دي.

په تنګ : پ بدې ته جوړ ته و خو پ په تنګ یې کړ یا خلک ولې په
تنګوې یا ګواندې دې په تنګ کړ.

په توت کې کېناستل : لکه پ په هغه خبره کې لومړی غږېده اوس په توت
کې کېناسته نه پکې غږېږي یا له هغې بیلبرې څخه په توت
کې کېناسته په خلکو ځان درنده وي څوك یې راکوزولی نه
شي. یا د افغان جګړې په وروستیو ورځو کې لویدیزه نړۍ په
توت کې کیناسته.

په توده برستن ننوتل : وایي پ کوند و اوس ایله په توده برستن ننوت یا ته د
تودې برستنې خوب کوې زه خواري بدرنګي کوم، وښیه
ښځې ته اشاره ده.

په توده کې خندنی : پ په توده کې خندنی دی ګوا دوډۍ چا ته نه ورکوي یا
ولې په توده کې دومره خندنی یې.

په توده ګډېدل : دا خبره هغه چا ته کېږي چې په یوه چاره او خبره کې صبر
نه لري وایي پ یې سرېدو ته نه پرېږدي په توده ګډېږي یا په
توده مه ګډېږه یا پ په توده ګډ شو یا په توده ولې ګډېدې.

په تور ککړ : پ د حکومت په تور ککړ دی یا تا په دې تور ځان ککړ کړ،
یا پ په دې تور ککړ دی یا دا ښېرا چې وایي خدای په تور
ککړ کړه. یا حکومتونه د دروغو په تور ککړ دي.

په توره پچه : وایي دا شی دې په توره پچه رسېدلی یا دا چاره یا خبره یې
په توره پچه ورسېده یا په توره پچه یې غواړي.

په تېرو اوبو پسې کره تنګول : وایي پ اوس په تېرو اوبو پسې کره تنګوې یا
په تېرو اوبو پسې کره مه تنګوه یا بیا په تېرو اوبو پسې کره
نه تنګېږي وبوله تېره چاره تېرې اوبه دي.

په تیك ستوني : پ ډېر په تیك ستوني غږېده یا په تیك ستوني مه سره
غږېږئ. یا نن سبا لویدیزوال په تیك ستوني غګیږي.

په ټاټو : وایي پ له خپله کوره یا له خپله ځایه په ټاټو شو له یوه ځایه
بل ځای ته له بله ځایه بل ځای ته ځي یا له هغه ځایه پ - پ
په ټاټو که یا پ د هغې بېلبرې له امله په ټاټو شو.

په ټنده خړېدل : په دې خبره کې دوښمن ښودل کېږي وايي دا زما د ټنډې (غ...) دی، دا په ټنده مه راخړوئ یا تا په ټنده (غ...) خړولی یا دا تا د ما دښمن راوستلی په ټنده دې د (غ...) راخړولی یا دوښمن د ټندې (غ...) دې په ټند يې مه خړوه.

په ټيټه ملا : وايي پ د وينا و دولت په ټيټه ملاوګاڼه يا به يې په ټيټه ملا ګڼې. يا جاپانيانو په ټيټه ملا صنعتي د پيداوار ميدان وګاټه.

په جګو سترګو: وايي ما دا کار په جګو سترګو وکړ سترګي مې جګې وې.

په جوتو : پ د خبرې يا چارې ته په جوتو ولاړ دی يا يې دې چارې ته قوم په جوتو درولی دی يا دا چې وايي پ دې خبرې ته ډېر خوشحاله دې له ډېرې خوشحالۍ په جوتو جوتو لوېږي.

په جونګو دارو : وايي پ دا کار په جونګو دارو وکړ يا يې دا شی په جونګو دارو پيدا کړ يا دې تمه دار دارې هر چا ته جونګې وي.

په چك کېدل : پ هغه خبر نه مني په چك ولګېده هغه چې يواري په چك ولګېږي بيا يې نه مني يا هغه چاره نه کوي په چك ولګېده.

په چېرې وختو : وايي په چيرې وختو دا دواړه سره ملګري وو يا په چېرې وختو داسې شوي وو.

په حلق کې سل ژبې : د پي په حلق کې سل ژبې دي.

په حلق کې لاړې نښتل : وايي دا خبره چې پ کوله په حلق کې يې لاړې ونښتې يا دا چې وايي په حلق کې به دې لاړې وچې کړم.

په حلوا کې غاښ وتل : وايي د پ په حلوا کې غاښ ووانه، ګواکې دا چاره لکه حلوا داسې پسته وه، خو ده ته زيان پکې ورغی په تاوان ورته تمامه شوه يا په حلوا کې دې غاښ ووانه يا دې ما په حلوا کې غاښ وزي. يا په وريشه کې غاښ وتل.

په خاښو : دا خبره ولاړه په خاښو شوه يا يې دا خبره له ما څخه په خاښو کړه يا پلانی او پلانی پرېږده دا چاره مه په خاښو کوه.

په خبر پورې نښت : وايي پ اوس په هغه خبر پورې نښتی دی يا په هغه ... کې په نه خبره پورې نښتی دی، يا په يوه خبره پورې مه نښله

په خبرو خلك ويلول : په هغه خبره د هغه سرې ويلې کړ، نيم پاتې نه شه يا ... داسې خبرې کوې چې سرې ويلې کوې يا په دې خبره دې ... ويلې کړم. يا له هغه امله د هغه سياسي ژوند او حکومت ... ويليدو دي.

په خبرو خلك خولې كول : په دې خبره دې هغه سړى خولې كړ داسې خولې پرې راماتې شوې تا به ويل چې ډك ژى دې پرې تش كړ.
په خبرو زړه درندول : وايي د پ په خبرو زړه دروند شو يا زما په خبرو زړه مه درنوه. يا په دغو خبرو د هغه حكومت زړه په درنديدو دى.
په خبرو كې تبى : پ په خبرو كې تبى كوي يا په خبرو كې تبى مه كوه يا په خبرو كې تبى ښه وي. هغه په خپلو خبرو كې دغه سياسي تبىٔ او بګار كړي دي.
په خبرو كې خر ګوډول : دا خبرې به يوه شېبه پرېږدو خر به پكې ګوډ كړو، يا دا خبره پرېږده بله پكې راواچوه په دې كې خر ګوډ كړه يا په هغو خبرو كې خر ګوډ شو. په هغه ديموكراسي كې بيا بيا خر ګوډ شوي فوځي واكمنې پكې راغلې دي.
په خبرو كې خوګرى : په هغو خبرو كې نورې خبرې پيدا شوې، وايي په خبرو كې خوګرې پيدا شو چې خوګرې پكې پيدا شو ښه نه شوه يا په دې خبروكې خوګرى مه پيدا كوه. يا په هغه سياسي نظام كې خو ګرې پيدا كوي.
په خبرو كې لګتې وهل : وايي په دې خبرو كې پ لغتې ووهلې يا په دې چاره كې لغتې مه وهه، يا په دې كار كې تا لغتې ووهلې.
په خبرو كې لوېدل : وايي پ په خبرو كې لوېږي موږ خبرو كو، دى پكې راولوېږي يا په خبر كې مه راولوېږه يا په هره خبره كې ته لوېدلى يې په هر كار كې مه لوېږه يا د پ او پ په خبرو كې پ هم ځان ور ولواوه.
په خبرو كې ولونه : د پ په خبرو كې ډېر ولونه وي يا د خبرو په ولو ځان پوه كړه بيا غږېږه د خبرې ولو نه ګورې چې پكې بند نه شې.
په خبرو يې غوږ نه ګرول : پ د پ په خبرو هېڅ غوږ و نه ګراوه.
په خپل زړه : وايي پ ټول كارونه په خپل زړه وكړل، زموږ په زړه يې هېڅ نه دي كړي يانې ټول كارونه ئې په خپله خوښه وكړه.
په خپل عقل مين : وايي پ په خپل عقل مين دى د نورو عقل ورته هېڅ ښكاري، يا په خپل عقل مه مينېږه.
په خپل كور كنډى ور رغړول : دا خبر د هغه چا په باره كې يادېږي چې د خپل ځان او خپل قوم په زيان خبرې كوي لكه پ چې خبرې كوي په خپل كور كنډې ور رغړوي يا پ خپل كور ولې كنډې را رغړوي يا په خپل كور كنډې مه ور رغړوه يا پ دا خبره وكړه په خپل كور يې كنډو ور ورغړوله.

په خپلو ښو د چاسترګې درنې دي : ګواکې ته زما خپل يې خپل بانه مې يې ته که زما په سترګو ودرېږي په تا مې سترګې نه درنېږي.

په خپلو خولو کې ډوب : پ په خپلو خولو کې ډوب دی، ګواکې خپلې سترې يې ډېرې دي له موږ سره به څه مرسته وکړي. يا زه په خپلو خولو کې ډوب يم له تا سره به څه وکړم.

په خپلو غبرګو تلل : په هغه ځای کې خلك سره راټول شوي وو هغه خبر جوړه شوه، هر سړي په خپلو غبرګو ولاړ يا د هر چا په خپلو غبرګو شوه هر څوك به خپل کارکوي. يا چې کله د لويديزوالو مرستې ودريدې د هر چا په خپلو غبرګو شوه.

په خپلو کونګريو غول کول : وايي پ په خپلو کونګريو غول کوي وشوه له خپلو خپلوانو سره بد کوي. يا هغوي ول چې په خپلو کونګريو ئې غول وکړل.

په خپله په ځان کول : پ ته دا پښنه وروشوه، دا يې په خپله په ځان کړې دي يا دا ژوندی مار دې په کور کې پرېښي وو چې اوس ئې تکوهلی تاپه خپله په ځان وکړه. يا افغانانو هر څه په خپله په ځان وکړل.

په خپله خبر مين : وايي په خپله خبر مين دی، د موږ خبر يې غوږ ته نه لوېږي يا پ په خپله خبر مين سړی دی.

په خپله خوله ياخپله خبره پورې خندل : وايي پ له هغه امله په خپله خوله پورې وخندل يا يې په خپله خبره پورې وخندل.

په خړو سترګو : پ د خلکو مال ډېر په خړو سترګو خوري ډېر خړ سترګی سړی دی يا په هغه خبر د پ سترګې ډېرې خړې شوې په خړو سترګو يې بيا هم هغسې وکړه.

په ښوتيګو لاس کته کول : وايي پ په چا وار نه کوي هسې په ښوتيګو لاس کته کوي ځان ګواښوي يا پ تل په ښوتيګو لاس کته کوي. يا هغه حکومت او سياسي اداره په ښوتيګو لاس کته کوي

په خلاص مټ : پ دا کار ډېر په خلاص مټ وکړ يا که دا کارونه په خلاص مټ کړي وي ډېره ښه به وه.

په خلکو خوړېدل : پ په خلکو خوري يا په قوم خوړېږي يا په الواد خوړېږي.

په خوب ځنډېدل : دا خبره په دوعا کې هم کېږي وايي خدای دې پ په خوب هم نه ځنډوي بله دا چې وايي پ دا دومره وخت په خوب هم نه دی ځنډېدلی.

په خوټو بند : وايي ې په هغه چاره کې په خوټو بندشو يا که دا چاره دې وکړه په خوټو به بند شي.
په خولا : ې او ې سره زړه بدي و اوس مو سره په خولا کړه يا دا دواړه سره په خولا کړئ يا موږ سره په خولا يو. يا هغه حکومتونه سره په خولا شول.
په خوله پوري لاس ورمښل : دا خبره که اواروي نو ې ته په خوله پوري لاس ورومښه ياداچاره دې نه تر سره کېږي چې هغه ته په خوله پوري لاس ور و نه مښئ ګوا څه ور نه کړي.
په خوله پوري خندل : تا چې دا خبره ورته وکړه هغه دې په خوله پوري وخندل يا که د چا خبر منې ويې منه کنه په خوله پوري يې مه خانده، يا په دې خبره تا ولې زما په خوله پوري وخندل.
په خوله کې اوبه : وايي هغه ته به ما ښې خبري کړې وي، خو زه ورسره زړبدی يم يانور سببونه دي، په خوله کې مې اوبه دي نه شم ورسره غږېداي، که په خوله کې مې اوبه نه وي ما پوه کاوه، ارمان دا دی چې زما په خوله کې اوبه نه وي.
په خوله کې بخار : د ې په خوله کې بخار دی چې و نه غږېږي ګوزران يې نه کېږي، يا تا ته د سړي خوله بخار کوي يا دې سړی ته زما خوله تخنېږي. يا د سياست په اړه دهغه خوله هر وخت تخيږي
په خوله کې غاښ نه لرل : وايي ې په خوله کې غاښ نه لري که په خوله کې يې غاښ درلودی خولې ته دې ګوته نه وروړه، يا په ې باندې ښه پوه يې چې په خوله کې غاښ نه لري ځکه په خوله کې ګوتې ور وهې ګواکې بې وسه دی.
په خوله کې ګوتې ور وهل : د دې خبرې په باره کې مې ې ته په خوله کې ګوتې ور وهلې خو هغه هېڅ هم راته و نه ويل يا ورسه د ې په خوله کې ګوتي ور ووهه چې هغه څه وايي يا ې راغلی وو ما ته يې په خوله کې ګوتې راوهلې خو ما په دې باره کې هېڅ ورته و نه ويل. يا د ايتمي وکاري په اړه د هغه په خوله کې ګوتې ور وهل کېږي.
په خوله کې ګوته ورکول : څو کاله وشول چې ې ته مې ګوته په خوله کې ورکړې وه، ګواکې مرسته مې ورسره کونه، چې اوس مې ګوته تري وښکله راسره بدي يې شوه، يا تر پرونه پوري يې زما ګوته روده اوس مې چې ګوته تري وښکه دوښمن مې بولي.

په خوله لاس نيول : وايي چې له چا سره دا خبرې کړي دي خو اوس يې په خوله لاس نيولي يا دا کار دې ولې کړی په خوله لاس ونيسه چې چا ته و نه وايي يا له ماسره ډېر بد کېږي خو بيا هم ما په خوله لاس نيولی دی. يا هغه حکومت په خوله لاس نيولي دي.

په خوله کې ورلوېدل : وايي په هغه خبره چې د چې په خوله کې ورلوېده يا چې په قوم کې څوك سره بدشي مشردهر يوه په خوله کې بېل بېل ورلوېدلی وي يا له هغه امله چې دې په خوله کې ورولوېده.

په خوله ولاړه : دا خبره د هغې ښځې په باره کې يادېږي چې الواد (اولاد) يې په نس وي پيدا کېدو ته يې لږ وخت پاتې وي لکه پلانۍ ښځه په خوله ولاړه ده يا په خوله ولاړه يې له ځان سره پام او اواري کوه. يا له وسلو څخه ډك په خوله ولاړ هيوادونه.

په خوله يوه په زړه بله : د چې په خوله يوه په زړه کې يې بله نيولې وي يا تا ماته په خوله دا وويل په زړه کې دې بله وه يا چې په خوله يوه وايي، کوي بل څه.

په خوله يې پياز نه خوړل : وايي په ټول قوم کې د چې په خوله څوك پياز هم نه خوري يا د چې په خوله څوك يو پياز هم نه خرڅوي يا د هغې خبرې يا چارې په باره کې د چې په خوله چا پياز هم خرڅ نه که. يا د حکومت او ډلو په خوله.

په خي وجود : وايي ماپه خي وجود داکار نه ده (دی) کړی.

په ځاپېړو تېرول : چې يې داسې په ځاپېړو تېر کړ.

په ځان اخته : يو متی به دا ښېرا وګورو چې وايي خدای دې په ځان اخته کړه يا چې له هغه امله په خپل ځان اخته شو.

په ځان باندې : چې سړی يا چې ښځه په ځان باندې ده ګوا قوي ده يا په ځان باندې انسان ده. يا ښه په ځان باندې پلونډه ده.

په ځان تمامول : چې ځان يو سړی بولي په ځان يې تماموي، يا په ځان يې مه تماموه يا چې دا خبره په ځان تمامه کړه يا داخبر په ځان مه تماموه چې خلك ووايي چې چې داسې وکړل.

په ځان ګوتې : وايي د هغه چارې لپاره چې په ځان ګوتې وهي خپلځان تياروي يا چې داسې کوي چې هم په ځان ګوتې وهي.

په ځان وچه : په ټولو خلکو کې د ځان ساری نهويني په ځان يې تمامه کړې يا دا خبره ده په ځان وچه کړه چې ما کړي يا دومره لوی سړی نه يې په ځان يې مه وچوه. يا سياسي اړخ ان نې ټول په خپل ځان وچوي.

په خان نیولي : دا ټکی د هغې ښځې لپاره یادېږي چې الواد یې په نس وي لکه پلا نې ښځه په خان نیولې ده درونه کار نه شي کولی.

په څخه (زخه) : وایي پلانیه ډز چې کوي په څخه یې کوه هوایي ډزونه مه کوه یا مې هغه شی په څخه کې پټ کړی چې کله به ډز پرې وکړم یا تا هغه شی په څخه کې پټ کړی وو بل ډز پرې وکړ.

په درګه کې دروی : وایي له ما سره د تا تربره بد کړي زه له تا سره بد کوم ته او هغه سره خپل یې په درګه کې دروی نه غوارم یا د تا د تره زوی وژلی یم تا وژنم په درګه کې دروی نه ګورم.

په دوسنت وهلیو : وایي له ما سره ناروا مه کوه دا خبره په دوسنت وهلیو راسره وګوره چې په دوسنت وهلیو یې سره وګورو هغه به ښه وي یا د دې چارې یا دا خبرې غوټه به دوسنت وهلي رنځې.

په دوګي یا په مېړو : په قومونو کې چې ګټه یا تاوان راشي بیا یې په دوګي یا په مېړو سره وېشي وېني دوګي کور او مېړونه لوی نارینه.

په دوه توته : پ د پ خبر په دوه توته وا نه خیسته یا تا په دوه توته وا نه خیسته یا تا په دوه توته نه اخلم یا د زما راتګ په دوه توته وانه خیسته یا د تا هستې ونیسي په دوه توته نه اخلم.

په دوه دوه لوېدل : وایي پ پ ته په دوه دوه لوېږي یانې داسې کړه وړه ورته کوي چې زور تري ښکاري یا ډېر په دوه دوه ولوېد خو هېڅ یې و نه کړل یا هغې چارې ته په دوه دوه لوېږي وایي چې هغه چاره زه کوم یا پ ته په غوسه دی په دوه دوه ورته لوېږي یا هغې چارې ته له خوشحالۍ په دوه دوه لوېږي.

په ډاګ پاتې کېدل : له پ سره لومړی په دې چاره کې نور خلك هم ملګري وو اوس یوازې دی په ډاګ پاتې شو یا به په دې خبره کې په ډاګ پاتې شې یا یوازې په ډاګ پاتې شوم.

په ډاګ اچول : لکه پ قوم په ډاګ واچاوه یا یې د هغې خبرې یا چارې په باره کې په ډاګ اچولې ده یا پ - پ په ډاګ واچاوه.

په ډاګ شپه : وایي د کور خلك او الواد یې بې ادبه دي په ډاګ یې شپه ده یا په کور کې په الواد کې یې پوه څوك نه شته به ډاګ یې شپه ده.

په ډانګ پېیلي : پ دا خبره په ډانګ پېیلي ورته وکړه یا د پ خبرې ډانګ پېیلي دي یا د داسې ډانګ پېیلي ولې ورته ویل.

په ډډه : پ ولې په ډډه در څخه تېرېږي یا پ ډېر په ډډه در څخه وګرځېده، یا ډېر وخت له قوم څخه په ډډه وګرځېدي اوس

قوم وپېژنه یا که په دې خبره په یوه ډډه درته ځملاستم بیا به مې څوك وا نهړوي بلـه دا چې ډډه د غـره لاندې برخـې تـه هـم وايي لکه مېږي په دې ډډه ډډه راوله.

په ډډه ګېره : دا خبره په ډډه ګيره پ وکړه هغـه خو به دروغ نـه وېـل یـا تـا بـه ولې په ډډه ګيره (ږيره) داسې کول يا هغـه پـه ډډه ګيره سوال درته وکړ تا و نه مانه يا مـا بـه پـه ډډه ګيره ولې داسې کـول دا مـا نـه دي کړي. يا هغوي د افغانانو پـه اړه پـه ډډه ګيره داسـې وکړل.

په ډډو غرنديو : پ او پ سره پـه غوسـه وو، پـه ډډو غرنديـو سره غـړېدل يـا پـه ډډو غرنديو مه غړېږه يا غرندي ډډ ډډ مه کوه يـا د تـا غرنـدی ولې ډډ شوی دي ولې په څه خبره په غوسـه شوي يې.

په ډو ډي : وايي پ لـه پ سره پـه ډوډي ګرځي وينې تـرې خپـه دی، يـا پ لـه پ سـره پـه ډوډي ټومبلـي دي، وښيـه تـوره يـې پـه ډوډي ټومبلې ده يا په هغـه ببلېره پ او پ سره پـه يـوه ډوډي دي.

په ړډو سترګو : لکه پ پـه ړډو سترګو ورتـه کاتـه پ دا چاره وکړه. يـا پـه ړډو سترګو دروغ وائـي.

په روزي پسې ګوډمېړتون : دا خبره پـه ښېرا کې هم کېږي وايي خداى دې پـه روزي پسې ګوډ مېړتـون کـړه يـا دا چې وايي پ پـه روزي پسـې ګوډمېړتـون دی.

په روغ زړه : پ داسـې انسـان دی چـې هیـڅوك یـې پـه روغ زړه نـه دي پـرې اېښې يا د کله خلـك پـه روغ زړه پـرې ښوده.

په روغه ټنډه : کـوم کارتـا پـه روغـه ټنـډه کـړى، يـا دا چاره پـه روغـه ټنډه تـر سره شوه يا دا چاره بـه کله پـه روغه ټنډه وشـي.

په روغه سته : دا کـار دې لاپخوا پـه روغـه سـته ولـې نـه کـاوه.

په رېږدېدلو ګوتو : لـه پ څخه يې هغه شي په رېږدېدلـو ګوتـو واخيسـت يـا پ رېږدېدلـو ګوتـو ئـې تـرې واخلې. يـا د رېګديدلـو ګوتـو سـندونه اوکړيتونـه.

په زړه تور و سپين : وايي پ رښتونی دی پـه زړه تـور سـپين نـه لـري.

په زړه کې خچکی : د پ پـه زړه کې خچکی شته يـا د هغـه لـه زړه خچکـی و نـه ووت يـا دا خبره د هغـه پـه زړه کـې خچکـی دی.

په زړه کې خوږ کېدل : دغې خبرې يا چارې تـه پ پـه زړه کې خوږ کېږي، يـا پـه زړه کې مه خوږ کېږه.

په زړه کې زور : وايـي پ چې دا کارونـه کـوي پـه زړه کـې يـې زور دی.

په زړه کې ازغی : وايي دا خبره زما په زړه کې ازغی (اغزی) پاتې شوه، يا هغه خبره يې په زړه ازغی ده، يا دا ښېرا چې وايي خدای دې د زړه ازغی و مه کاږه.

په زړه ډار ننوتل : وايي د ې په زړه هسې ډاره ننوتلی يا هغه خو له تا سره هېڅ نه کوي د تا په زړه ولې ډار ننوتلی ، يا يې د هغې خبرې يا چارې په باره کې په زړه ډار ننوتلی دی.

په زړه کې غلا : وايي د دې خبرې يا چارې په باره کې دې په زړه کې غلا ده، يا د زړه غلا يې وباسه. يا د هغه حکومت په زده کې غلا ده.

په زړه کې کرل او رېبل : وايي ې دې (دغې) چارې ته په زړه کې کرل او رېبل کوي يا په زړه کې يې ډېر کرل او رېبل وکړل.

په زړه کې کندې : وايي په زړه کې ډېرې کندې لرې يا يې په زړه کې کندې وې. يا هغه دواړه حکومتونه په زړه کې کندې سره لري.

په زړه کې وهل کېدل : دا خبره د ې د ورانتدي مه کوئ هغه په زړه کې وهل کېږي يا په دې خبره کې د هغه په مخ کې د هغه خپل مه يادوئ هغه په زړه کې وهل کېږي يا ته مور نه يې ياد کړې ولې په زړه کې ووهل شوې په زړه کې مه وهل کېږه.

په زړه نيولی : ې دې چارې ته ډېر په زړه نيولی دی، يا ولې په زړه کې نيولی يې يا دې خبرې ته په زړه کې نيولی يم.

په زړه ورننوتل: وايي ې د ې په زړه ورننوتلی دی يا په هغه چاره يا خبره کې د ې په زړه ورننوت. يا د حکومتونو او سياسي ادارو په زړه ورننه وتل.

په زړه وينې وراړول : ې له ې ډېر تنګ دی په زړه يې وينې ور اړولې دي يا ولې په زړه وينې را اړوې. همدغه وړ د حکومتونو په زړه وينې وراړول.

په زړو تلو : له ې څخه خور او لور په زړو تلو ووته، ګوا مړه شوه يا دا ښېراوې چې وايي: خدای، دې په زړو تلو را څخه وباسه يا مې دې خدای په زړو تلو درڅخه وباسي.

په زړو سترګو : ې دا چاره په زړو سترګو وکړه.

په زيم پسې ګوتې : وايي ې په خبرو کې زيم پيدا کړ، داسې ګوتې پسې وړې په خبرو کې په زيم کې ګوتې وهي. يا زيمناکه زمکه يا زيم پاڅه "الواد"

پـه سارړه غوړ : وايـي خلك مو پـه سارړه غوړ نـه پـرېږدي يـا خپلـې ټکلـې تـه مـو پـه سارړه غـوړ پـرېدئ يـا پـه سارړه غـوړ بـه شـپې ورځې را څخـه تېرې نـه کـړې. يـا حکومتونـه او واکمنـي پـه سارړه غـوړ څوك نـه پـرې ګـدي.

پـه سپمو وينې ور اړول : وايـي پ موږ تـه پـه سپمو وينـې را اړولـې دي، يـا ولـې پـه سـپمو وينـې را اړوي.

پـه سپمو پوري ورنېښت : پ وغرېده پ يې پـه سپمو پوري ور ونـېښت يـا ولـې دي غوسـه ورتـه وکـړه پـه سـپمو پـوري يـې ور ونېښتـې يـا پـه سـپمو پـوري د چـا مـه ورنېښلـه. يـا هغـه غـواړي چـې د واکمنـي پـه سپمو پوري ونيښلـي.

پـه سپينو پايڅو : داخبره د هغـي ښځې پـه باره کـې کـېږي چـې د پـلار لـه کـوره لـه يـو چـا سره ولاړه شـي وايـي پـه سـپينو پـايڅو ولاړه ګواکـي پـايڅې يـې سرې نـه شـوې دلتـه بـايد جوتـه کـړو چـې احمـدزي هغې پېغلې تـه سپين پـايڅې. وايي چې د مړي پـه روغـه کـې يـې لومړۍ ورځ د هغـه کـور تـه ورولـي.

پـه سپينو پښو : وايـي پـه سـپينو پـښو ولاړه ګـواکـي پـښې يـې سرې نـه شـوې دا هـم د هغـې ښځې پـه باره کې ويـل کـېږي چـې د پـلار لـه کـوره لـه يو چـا سره ولاړه شـي.

پـه سپېره لښتـه وهلـی : وايـي پ خدای پـه سپېره لښتـه وهلـی پـه ټول ژونـد کـې يې هستي و نـه ليده. يـا د هغـه حکومـت پـه سـپيره لښتـه ووهـل شـو.

پـه سترګو غړېدل : پ پـه سترګو غـړېږي يـا پـه سترګو مـه غـړېږه.

پـه سترګو کـې خـاورې ور اچـول : وايـي پ خلکـو تـه پـه سترګو کـې خـاورې ور اچوي يـا پـه سترګو کې خاورې مـه ور اچـوه.

پـه سترګو کې اخيستل : پ سترګي داسـې بـرګې بـرګې اړولـې تـا بـه ويـل چـې پـه سترګو کـې يـې واخيستم يـا سترګې بـرګې مـه نيسـه خلـك پـه سترګو کې مـه اخلـه، يـا سترګې ولـې بـرګوې پـه سترګو کـې خـو بـه مې نـه اخلې. يـا هغـه غـواړي چـې د هغـه حکومـت پـه سـترګو کـې واخلـي.

پـه سترګو کې ورختـل : پ د سړي پـه سترګو کـې ورخـېژي يـا هغـه کار يـې کـړی و، بيـا يـې ويـل ما نـه دی کـړی مـا تـه پـه سترګو کـې راوخـوت يـا پـه سترګو کـې مـه را خـېژه. يـا هغـه سياسـي ډلـګي د خلکـو پـه سترګو کـې ورخيـژي.

په سترګو ورننوتل : پ د سرې په سترګو ورننوزي يا پ لـه کـاليو سره د سرې
په سترګو کې ورننوزي يا په سترګو مـه را ننوزه.
په سترګو کې پوهول : وايي پ يې په سترګو کې پوه کړ.
په سر اخيستل : لکه پرون په بزار کې مظاهره وه، خلکو بزار (بازار) په سر
اخيستی و، يا په کلي کې واده وو دومره ډېر خلك وو چې
کلی يې په سر اخيستی وو، يا پ سړی خپل زور په سر
اخيستی دی يا پلانی ښخه خپل (ك...) په سر اخيستي يا وه
خوري ولې يې په سر اخيستي يې.
په سر اره کېښودل : وايي دا چاره دې ولې کوله چا دې په سر اره اېښي وه يا
چې څوك مې په سر اره کېږدي داسې به و نه کړم يا په هغه
باره کې خو دې څوك په سر اره نه ږدي يا د هغه واکمنې په
سر اره کېښودې شوي.
په سر کې ژرنده ګرځېدل : وايي دماغ مې بې ارامه دی په سر کې مې ژرندې
ګرځي يا څوارې مې خبره ورته وکړه په خبره نه پوهېږي په
سر کې يې ژرندې ګرځي. يا دوې غوارې چې په هغه سياسي
نظام کې ژرندې وګرزوي.
په سر کې سپي غپېدل : دا هم ويل کېږي دماغ مې نا کراره دی په سر کې
مې سپي غاپي يا ولې په خبره نه پوهېږې په سر کې خو به دې
سپي نه غاپي.
په سر داغ : وايي چې دا کار مې کاوه څه په سر مې داغ کېښود، يا ولې
دې دا چاره کوله په سر دې داغ کېښود يا دا متل چې وايي
چې سر دې نه خوږېږي داغ پرې کېږده.
په سر سوی توکري کېښودل : هغه ورځ جنګ و، خلك په سرو ولګېدل ډېرو
په سر سوی توکری کېښوده يا که دلته جنګ ښخ شو ډېر
خلك به په سر سوی توکری کېږدي يا له ما سره جنګ مه کوه
په سر به سوی توکری کېږدې.
په سر کې چينجي : دا خبره د هغه چا په باره کې کېږي چې په اخلاقو او
ادابو کې يې بدلون راځي لکه پ ښه سړی يا ښه ښخه ده خو
په سر کې چينجي لري يا تور ډېر ښه سړی يې خو په سر کې
چنيجی لري. يا هغه غوارې چې د هيواد د سياسي چارو په
اړوند د هغه د سر چونجي شي.
په سره مخکه : پ شپې ورځې ډېرې په سره ځمکه تېرې کړې، که مخکه
(ځمکه) سره نه وای، دومره شپې ورځې يې نه شوای تېرولی.

یا هغه نه غواړي چې د هغه واکمني دې په سره زمکه پریګدي.

په سرپو کې سرې : وایي پ په سرپو کې سرې دی.

په سره پرار مالګې وردوړول : دا خبره چې ته ما ته کوې لکه په سره پرار چې مالګې را دوړوې، یا دا چاره هغه ته مه وریادوه، په سره پرار مالګه مه ور اچوه یا دا خبره چې تا ورته وکړه په هغه دومره بده ولګېده لکه په سره پرار دې چې مالګه ور دوړولې وي.

په سره غولانځ : وایي په دې خبرې ته ډېر په سره غولانځ دی، یا دې کار ته ولې په سره غولانځ یې دومره په سره غولانځ مه کېږه صبر وکړه. په سره غولانځ هغه شپې ورځې وي کله چې دیوي مور د لنګون ورځې وي.

په سره اور ناست : وایي زه چې دلته ناست یم زړه مې ډېر ناکرار دی لکه په سره اور چې ناست یم، یا په سره اور خو نه یې ناست ارام کېنېنه، یا تاسې په عزت کېنولي یم خو زه لکه په سره اور چې ناست یم. یا په سره اور ولاړ یم یا د هغې چارې یا خبرې په باره کې په سره اور ناست یم. یا هغه حکومت په سره اور ولاړ دی.

په سینه ورتلل : پ پ ته په سینه ورځي یا پ خېږو ته په سینه ورځي یئا ما ته په سینه مه راځه یا هغې چارې ته په سینه ورته.

په سینه کونچکه : وایي چې سبا مې وژني نن مې مړ کړه لاس دې ازاد په سینه مې سپینه کونچکه درته ټکوهلې ده، په دا سینه مې وله یا په سینه مې سپینه کونچکه درته ګنډلې په دې سینه مې وله. یا له دې امله هغه حکومت په سینه سپینه کونچکه ټومبلې ده.

په سرو سترګو : دا ټکی د هغه چا په باره کې کېږي چې خپل څوك یې په نژدې وخت کې مړه وي بیا دا سړی په روغه یا بله کومه چاره کې ولاړ شي نو دا د مړي خپلوان په سرو سترګو یادېږي لکه پ په سرو سترګو درته راغی یا مو په سرو سترګو درته راوستلی دی، نو کوم څوك چې په سرو سترګو چېرته ولاړ شي د هغه مخ منل کېږي قدر یې کېږي.

په سد : او بې سده دواړه سره یادېږي لکه ته په سد یې او که بې سده یې یا په سد شه کنه په سد کوم دې یا پ یوه شپه بې سده ولوېده بیا وروسته په سد شو.

په سکښتي کفن پروت : وايي پ سخت ناروغه دی په سکښتي کفن پروت دی يا ما ته په سکښتي کفن ناروغان پراته دي ته ډولونه وهي. يا هغه غواړي چي د غه نظام په سکښتي کپن وغورځوي.

په سونډو پوري غوړ لاس ورمښل : وايي انا کوچيانو ته په سونډو (شونډو) پوري غوړ لاس ور ومښه کليوالو ته يې ويل چې غوړي مې ورکړه يا په هغه بيلبره کې پ ته په سونډو پوري غوړ لاس ور ومښه څه يې ورکړه يا يې تېر ايسته په سونډو پوري يې غوړ لاس ور ومښه. يا د واکمنو په خوله پوري تل غوړ لاس مښل کېږي.

په شا تپول : پ دي په شا تپوي ته خلکو ته ورجنګېږي يا دا سړی ته په شا مه تپوه يا تا خو په شا ډېر وتپاوه، خو هېڅ دي تري جوړ نه کړل، يا يې هغې چارې ته په شا تپوي يا يې په هغه بارهکې په شا تپوي. همدغه ور حکومتونه په شا تپول کيږي.

په شا راوړی : دا خبره هغې ښځې ته کېږي چې پلار يا ورور يې يو چا ته ورشي چې زما لور يا خور وکړه د پلار يا ورور دا کړه د واده ښځې لپاره پېغور شي وايي وه په شا راوړې يا دا په شا راوړې يا هغه په شا راوړې ده.

په شکېدلي ګړوان : پ او پ په شکېدلي ګړوان سره بېرته (خلاص) شول يا به زه په شکېدلي ګړوان څه در سره ووايم يا دواړو ګړوانونه سره وشکول. يا هغوي خپل حقوق په شکيدلي ګريوان له حکومت څخه غواړي.

په شنه توره : پ دا کار په شنه توره وکړ يا دا کار دي وکړ شنه توره دي وکړه يا دا چاره چي وکړې شنه توره به وکړې يا پ شنه توره وکړه داسي خبرې يې وکړې.

په شنه کې خوړل : پ د خور و لور ولور په شنه کې خوړلی، ګواکي لا پخوا يې خوړلی دي يا يې د وريو پيسې لا په شنه کې خوړلې يا يې فصل لا په شنه کې وخوړ ګوا په شنه فصل کې يې پيسې اخيستې وې.

په ښرکني ختل : پ ته دا چاره د مېړتنو ښرکنی شوه څه په ښرکني وختې يا په ښرکني ولي ختې يا پ په ښرکني ختلی دی.

په ښرکنې شپې ورځې تېرول : وایي زه شپې ورځې په ښرکنې تېروم یا زما شپې ورځې دې په ښرکنې کړې یا څه په ښرکنې مې شپه شوه یا د پ له پاره دا چاره د مېړتونو ښرکنې شوه.

په ښکر کې توخېدل : پ په خوشحالیو کې و، خو چا یې کور ته اور ور واچاوه په ښکر کې یې وتوخاوه یا پ په ښکر کې وتوخېده یا پ په ښکر کې وتوخوئ.

په ښو کې متیازې کول : پ ډېر ښه درسره وکړل له هغه سره اوس بد مه کوه په ښو کې متیازې مه کوه یا د پ دا ادت دی چې په ښو کې متیازې کوي.

په ښه سترګه کتل : وایي پ ته ټول قوم په ښه سترګه ګوري یا یې د هغې چارې یا خبرې په باره کې په ښه سترګه ورته وکاته یا یې کارونو ته په ښه سترګه ګوري.

په ښۍ یا کینه : دا ټکی په هغه وخت کې کېږي چې پ یوه بېلبره یو څوک تللی وي کله چې بېرته راشي کوم یو کس پوښتنه ترې وکړي وایي په ښۍ راغلې که په کینه، وینې ښۍ ښه ګڼله کېږي کینه بده ګڼل کېږي، هغه په خواب کې وایي په ښۍ راغلم یا په کینه راغلم یا دا چې په هغه بېلبره کې پ په ښۍ راغلی دی یاپه کینه راغلی دی.

په عام خیراته کې نه پښتل : پ څه سړی دی په عام خیراته کې یې څوك نه پښتي (پوښتي).

په غټه تنه : وایي ما دا کار نه دی کړی ما به په غټه تنه ولې داسې کول، یا د په غټه تنه ولې داسې وکړل یا یې په غټه تنه داسې وکړل یا یې په غټه تنه داسې وېل.

په غټه ژبه : وایي په غټه ژبه درته وایم یا په هغه باره کې پ ته په غټه ژبه وغږېده یا په غټه ژبه یې پوه که (کړه).

په غټه سترګه : موږ هغه ته په غټه سترګه کتل خو هغه چیټي سړی دی یا هغه ته ډېر په غټه سرتګه ګورو یا دا دوعا چې خدای د په غټه سترګه ورته وګوري. یا د هغه سیاسي خواك ته په غټه سترګه کتل کېدل.

په غړي : وایي پلار مې ډېر سپین ږیری دی خو لاتر اوسه په غړي دی له غړیو نه دی لوېدلی یا ښه یم په غړي یم.

په غړیو خولې ورلګول : وایي ما دا کار لاپخوا کاوه، خو هغه په غړیو خولې رالګولې چې دا به شي او ها به شي یا خلك پرېږده چې خپل

کارونه تر سره کړي ولې په غړیو خولې ورلګوي څوك چې ښه کارونه کوي زړه یې تکیه کوه په غړیو یې خولې مه ورلګوه. یا ناخوښي د هغه حکومت په غړیو خولې ور لګوي.

په غوښو : لکه پ هستي د قوم په غوښو جوړه کړه یا پ د پ په غوښو داسې مست ګرځي یا د پ په غوښو ئې سوداګري وکړه.

په غوږ وهل : پ د پ لور ته خوله ورنیولې وه هغه ته ورغږېده خو په غوږ یې پ واهه یا دا متل چې وایي: لورې لورې تا ته وایم، بنې بنې تا په غوږ وهمه. یا هغه غواړي چې هغه حکومت په غوږو وهي.

په غوږ لاس نیول : وایي د پ غږ یېدا ښه اورم چې ما ته غږېږي خو ما په غوږ لاس نیولی چې نه اورم یا که هغه هر څه درته وایي ته په غوږ لاس ونیسه وایه نه مې دي اورېدلي یا هغه دواړه سره ګواښېږي تا په غوږ لاس نیولی دی یا تر څو به دې په غوږ لاس نیولی وي. یا حکومت او سیاسي ډلو په غوږ لاس نیولي دي.

په غم ککړ : پ په غم ککړ شو یا دا ښېرا چې وایي خدای دې په غم ککړ کړه یا هغه په داسې غم ککړ دی چې نه یې سر خلاصېږي نه پښې یا په داسې غم ککړ دی چې سر یې خلاص شي پښې یې پکې بندې شي چې پښې یې خلاصې شي سر یې پکې بند شي. یا حکومتونه او سیاسي واکمني له دې امله په دغه غم ککړ دي.

په کچکول کې حلالول : وایي له پ څخه یې دولت ټول یوور په کچکول کې یې حلال کړ، یا یې واړه زاړه په کچکول کې حلال کړل یا په کچکول کې یې مه حلالوه.

په کك یا په لك : دا مامله (معامله) خلاصه شوه په کك یا په لك یا یوه خبره چې خلاصه شي ښه ده په دې پسې یې مه ګرځه چې په کك خلاصه شوه که په لك.

په کړه خوله : دا خبره یې ډېره په کړه خوله کوله دلته یو متل هم شته چې وایي خوله یا په سوال کړېږي یا په مرګ، ګواکې د سوال غاړې یې وکړه په کړه خوله یې وویل.

ه کوپه ملا : وایي هغه دولت پ په کوپه ملا ګټلی دی یا یې په کوپه ملا وګاټه. یا جرمنیانو په کوپه ملا هغه میدان وګاټه.

په کورتو څکه نه کول : وايي پ خان ته يو څوك وايي په کورتو څکه نه کوي
يا د پ چې خواني وه په کورتو يې څکه نه کوله، يا پ په
ليونی، مياشت کې دی په کورتو څکه نه کوي.

په کور خړې : يونکری به دا ښيرا وځيرو چې وايي په کور دې خړې واوره
يا دا چې د پ په کور خړې واوښتې زوی ورور يا بل څوك يې
مړه شول يا دروندتاوان ور واوښت په کور يې خړې واوښتې
يا له هغه امله يا د پ له لاسه پ د پ کور خړې واوښتې.

په کور کې غوبل : دا خبره د هغه چا په باره کې يادېږي چې له خپلو خپلوانو
سره دعوی وهل ټکول کوي وايي پ په کور کې غوبل کوي يا
په کور کې ولې غوبل کوې يا هره ورځ تا په خپل کور کې
غوبل بينا کړی دی. يا د حکومتي چلند له امله هلته غوبل
جوړ شو.

په کور کې د موږك لکۍ نه سپېره کېدل : وايي په کور کې دې د موږك
لکۍ نه سپېره کېږي دلته د لوی سرېتوب دعوه کوې يا دې
په کور کې د موږك (غ...) نه سپېره کېږي يا دې له کوره
موږك په منډه وځي، تا له خانه لوی سړی جوړ کړی دی.

په کور کې ښځه غوړ نه ورته نيسي : دلته يې بره ولي په کور کې ښځه غوړ
نه ورته نيسي دلته د سرېتوب دعوا کوې په کور کې ښځه
غوړ نه ورته نيسي.

په کولمو چړې ورغړول : دا خبره چې ته بيا بيا کوې د ده په کولمو چړې
ورغړوې يا دا خبره چې د ده د وړاندې وکړې لکه چې د پ په
کولمو کې د چړې وغړولې ګوا هغه پرې خوږېده.

په کومه خوله : وايي ما په دې خوله ورته ويلي وو چې دا شی دې ما شه،
اوس په کومه خوله ورته ووايم چې زه يې نه غواړم، يا په هغه
باره کې په کومه خوله دا خبرې کوې يا يې په کومه خوله
وکړه يا ته په کومه خوله هغه ته دا خبره کوې.

په کومو سترګو : دا خبره په هغه وخت کې کېږي چې له دوښمن سره د خبرو
کولو اړتيا پېښيږي وايي زه په کومو سترګو له هغه سره
کېنم. هغه ته مې سترګې نه رغړي يا په کومو سترګو راسره
کښېني يا داسې هم ويل کېږي لکه وايي چې له هغه سره مې
پخوا دا کړه وړه کړي وو اوس ورته ګرم (ملامت) يم په کومو
سترګو ورشم يا ورسره وغږېږم.

په کونه ټغټغی ناست : چې خبره لږ وریته او سپته یاده کړو نو په اسل کې ټغټغی هغه مرغه ته وایي چې د پسرلي په وخت کې په اوبلزنه ځمکه کې ګرځي د سهار او ماښام له مخې په لوني کې ټغ ټغ اواز کوي یا غاړه کوي نو که چېرې په څه واسطه یو څوك ورخطا او ډارن ښکاري وائي د پ په کونه ټغټغی ولې ناست دی. یا د پ په کونه هسې ټغټغی ناست دی هیڅ نه شته یا هغې چارې یا خبرې یې په کونه ټغټغی کېنولی دی یا له هغې ورځې راهسې یې په کونه ټغټغی ناست دی.

په کونه پسې چچ ترل : وایي پ د خپلو چارو د سمولو نه وو د نورو چارې یې هم په غاړه کې واخیستې یا زه خپل کارونه نه شم کولی د نورو کارونه په غاړه نه اخل په کونه پسې چچ نه ترم په دې ځای کې دا متل هم کېږي وایي: مګك د غار د ننوتو نه وو په کونه پسې یې چچ هم وتاړه. یا هغه سیاسي واکمني غواړي چې په ځان پسې چچ وتړي.

په کونه ځموني ورا چول : پ خدای شرمولی دا کار یې کړی دی، ته یې پرده کوي په کونه ځموني ور اچوې په کونه ځموني مه ور اچوه یا په هغه ورځ تا په کونه ځموني ورواچاوو یا ځموني مه پرې اچوه ډېر ځموني دې پرې واچول. یا هغه غواړي چې په خپلو سیاسي چارو داسې ځموني واچول.

په کونه کښېنول : پ له پ څخه نه درېده اوس یې داسې ډکه ورکړه په کونه یې کښېناوه، یا له هغه سره کار مه لره داسې به دې په کونه کښېنوي چې چا کښېنولی نه یې، یا نه ترې درېدې اخر یې په کونه کېنولې. یا هغه غواړي چې هغه ډلي ته سیاسي ماتي ورکړي په کونه یې کېنوي.

په کونه یې نداپان ناست : وایي دوه کسه ناغه شوي وو هغه یو ته اربکی ورغلی دی ناغه ترې اخلي هغه د بل په کونه له ډاره هلته نداپان ناست دي یا د پ او پ په منځ کې خپګان پېښ شوی د دوی په خپګان د پ په کونه هم نداپان ناست دي یا دا دوه ورځ کېږي تروش تروش کېږي ولې د په کونه نداپان ناست دي یا هره ورځ د تا په کونه نداپان ناست دي. یا په هغه باره کې په پ نداپان ناست دي. یا په هغه حکومت له دې امله نداپان ناست دي.

په ګلانو سره وېشتل: وايي پلار او پلار دا خبرې چې سره کوي هسې په ګلانو سره ولي دا د ګلانو وېشتل دي.

په ګلو باغو سر: وايي د پلار په ګلو باغو سر دی، يا يې په ګلو باغو سر شو يا ګلو باغو ته سيخ شوی يا پې ګډ دی.

په ګرېوان کې کتل: وايي تا چې دا کار کاوه يو وار خو به دې په خپل ګرېوان کې کتلي وو يا تا په دې خپل ګرېوان کې و نه کاته دا چاره دې وکړه يا هغه په ګرېوان کې نه ګوري.

په ګوتو کې تېر ايستل: په داسې چلباز سړی دی سړی په ګوتو کې تېر باسي يا خپل چل ته مه خوشحاله کېږه موږ په ګوتو کې نه شي تېر ايستی. يا هغه سياسي واکمني وګړي په ګوتو کې تير باسي.

په ګوډي کې ايرې: لکه پلار ډېر مېلمه دوست سړی دی خو بې وسه دی، په ګوډي کې يې ايرې دي يا پلار به له پلار سره ډېرې پيسې تاوان کړي وي خو په ګوډي کې يې ايرې دي پيسې نه لري.

په ګنده پچارې سر کېدل: دا خبرې د هغه چا په باره کې کېږي چې ښځه يې ګنده وي ګواکي ښځه يې کار نه شي کولی بې ژونده وي ژبه وهي وايي د پلار په ګنده پچارې سر ده يا څوك په ګنده پچارې بند مه کړې يا په ګنده پيچارې کې بند دی يا دا ښرا چې وايي خدای دې په ګنده پېچارې کې بند کړه.

په ګنډلي ګرېوان: وايي پلار او پلار خدای په ګنډلي ګرېوان سره خلاص (بېرته) کړه يا ځان په ګنډلي ګرېوان ورسره خلاص (بېرته) کړه.

په ګېډه راوړې: داخبره د هغه چا لپاره کېږي چې د پلار په کور کې يې الواد په نس او بياوادہ شي وايي دا يې په ګېډه راوړی، يا دې په ګېډه وور يا دا په ګېډه راوړی دی. پورته خبرې د هر چا لپاره پېغور وي. موږ په ګېډه راوړي سياست يادولی شو.

په لار کې کوهی ورته کېندل: پلار پلار ته په لار کې کوهي کېندلی چې کله به يې پرې ور ولي يا چې کله به پرې ورشي يا چا ته په لار کې کوهی مه وهه چې په خپله دې پرې لار نه شي.

په لاسو غرېدل: پلار په لاسو غرېږي لاس ګډوي يا په لاسو مه غرېږه لاس مه ګډوه.

په لکو پېښو: لکه دخلکو سره جنګ وو يو کس چا په لکو پېښو پرې نه ښوده يا ناروغي ګډه وه ټول خلك يې ځملول يو کس په لکو پېښو پاتې نه شو، يا دا چې هغې چارې ته پلار په لکو پېښو

ناست دی یا د پ غر ته په لکو پښو ناست دی. یا دا دوعا چې خدای د په لکو پښو مرګ را کړي.

په لکی یې پښه کښېودل : د پ خبره یې لا نه ده خلاصه په لکی یې پ پښه ایښې ده یا ولې د دې سړي کار نه خلاصوې، په لکی یې پښه ایښې ده یاد هغې چارې یا خبرې په لکی پ پښه اېښې ده. یا د هغې سیاسي بیلبرې په لکی واکمنو پښه ایښې دي.

په لمده لښته وهلي : وایي پ خدای په لمده لښته وهلی دی نه یې د دولت خواري شته نه یې د مېړو خواري شته خدای چې سړی په لمده لښته ووهي هغه داسې وي لکه پ.

په لمن پورې ورنښتل : پ د پ په لمن پورې ور نښتی دی، د هغه لمن یې نیولې یا تا د هغه لمن نیولې زما لمن ونیسه.

په لمن درنده تیره : یو نکری به دا دوعا وګورو چې وایي خدای د په لمن درنده تیره کېږده یا د پلانې ښځې په لمن درنده تیره ایښې ده.

په لمن ورننوتل : پ د پ په لمن ورننوتلې یا ولې د بل په لمن ننوزې، د قوم په لمن کې خان پټ کړه یا د حکومتونو او سیاسي ډلګیو لمنې.

په لوی لاس : وایي پ په لوی لاس دا کار وکړ یا ولې د زه په لوی لاس غلطه کړم.

په لوی سر کې : لکه میرویس نیکه په لوی سر کې غلجی دی، یا خوشال خان په لوی سر کې کریانی دی.

له لمارې کې : یو نکري به دا کیسه وریته کړو کله چې د رخت دوه ژی سره وګنډل شي هغه ګنډلی درځ ته لمارې وایي بیا لمارې داسې هم یادېږي لکه پ هغه خبره بنه ځرګنده ښکاره لوڅه و نه ویله په لمارې کې یې بوتله یا په هغه باره کې پ له پ سره وغږېده خبره یې په لمارې کې بووه.

په لویه سترګه ورته کتل : پ ته ټول قوم په لویه سترګه ګوري یا دا دوعا چې وایي موږ ته چې چا په لویه سترګه کتلي وي خدای دې په لویه سترګه ورته وګوري.

په لینګی : وایي پ له ټول قوم سره په لینګی شوې ده، یا پ او پ سره په لینګی شوي دي وینې داسې کړه وړه سره کوي چې یو پر بل خان زورور کړي یا په هره خبره یا چاره کې په له خلکو سره په

لینګی شوی وي. یا کله کله حکومتونه او عام وګړي هم سره په لنګي کیږي.

په ماشه درول : وایي دا خبره مو په ماشه درولی، یا دا خبره دوی د بې خیری په ماشه سره درولې وه، خو پ ورغی خیر یې پکې وغوښت، یا هره خبر چې کوي په ماشه یې سره ودروي.

په ما نه : کوچنـي (واړه) خدای خبر اول په کومه خبر وزړل (وژړل)، خو اوس په ما نه شوې ده یا پ لکه وړوکی په ما نه شو یا پ ته په نه خبره ما نه دریږي یا پ ولې په مانه شوی یا د پ زړه ته مانه ودریده په ژړا شو یا هغه خلك له حکومت او سیاسي واکمني څخه په مانه شوي دي.

په مخ اوښتی : هغه پیغله په مخ اوښتې یادیږي چې زر ور نه کړه واده نه شي لکه د پ خور و لور په مخ اوښتې پیغله ده یا اوس په مخ واوښته په مخ اوښتي څوك څه کوي. یا په مخ او ښتي خبري.

په موټي کې سوخوند ویل : پ په توده ډوډۍ کې ډېر خندنی دی د چا په مخکې سوخوند نه وهي لپاره د دې چې څوك به یې را څخه وخوري پټ په موټي کې سوخوند وهي، یا په موټي کې سوخوند مه وهه چا ته خواره ورکوه، په موټي کې سوخوند وهي، یا ټول عمر دې په موټي کې سوخوند وواهه یا پ له پ څخه په موټي کې سوخوند وهي.

په موټي کې ټوخېدل : وایي په نن سبا وسې شوي ده ډېر وزیت کوي په موټي کې ټوخیږي یا پ یو څو کاله وسې وو په موټي کې ټوخېده.

په مخ د سپي پستوکی (پوستکی) اچول : پ په مخ د سپي پستوکی اچولی ټوله ورځ سوالونه کوي یامې په مخ د سپي پستوکی راواچاوه دوښمن ته مې سوال وکړ. یا هغه حکومت او سیاسي اداري په مخ د سپي پوستکي اچولي دي.

په مخ نه ویل : واي پ سوال راته وکړ مرسته مې ورسره وکړه په مخ مې و نه واهه، یا چا چې د سوال لاس راته رااوږد کړی په مخ مې نه دی وهلی یا احتیاج خلك په مخ مه وهه، څه ورکوه یا مې پ د دې خبرې یا چارې په باره په مخ نه سو وهلی، یا مې په هغه باره کې په مخ و نه واهه. یا حکومت هغه خلك نا هیلي په مخ ووهل.

په میله خر رغښت : وایي د پ څو زمن دي یو پکې سرې نه دی په میله یې خر رغښتی دی، یا د پ ټول زمن (زامن) مړه شول په میله یې

خـر ورغـښت یـا د پ پـه کورنـۍ خـر ورغـښت، بلـه دا ښېرا چـې وایـي پـه میلـه دې تـور خرورغـړه یـا د مـا پـه میلـه دې تـور خـر ورغړاوه، خدای د تا په میله خـر ورغـړوي. یـا هغـه غـواړي چـي د حکومت په میله تور خـر ورغـړوي.

په مینه سره ماړه : وایي پ او پ لومړی ډېره مینه سره لرلـه اوس پـه مینـه سـره ماړه شول یا پرېږده چې په مینه سره ماړه شـي یـا ولـې پـه مینـه سره ماړه شوي.

په نته : لکـه لـه کـرړې څخـه غلجـي تـه پـه نـته راغلـی یم یـا مـا پـه نـته راوستلی یې یا دا چاره پـه نـته کـړې ده یـا دې تـاکور تـه پـه نـته راغلی یم. یا حکومت له دې املـه لـه وګړو سـره پـه نـته لګیدلـی دي.

په نس تبلي : لکه د پ شپه او مزدرو پـه نـس تبلـی دی څه خـواړه نـه ورکـوي یـا پ د پ لـه لاسـه پـه نـس تبلـی ګرځي یـا پ پـه نـس وتبـه منـي خواړه مه ورکوه. یا په نس تبلي سیاسـي او مذهبـي ډلـګی.

په نس تیـږه کښېږدل : لکه پ هغه خواړه نه خوري پـه نـس یـې تیـږه ایښـې دې یـا دا چې بې ستـه خواړه نـه خورم پـه نـس بـه تیـږه کـېږدم (ږدم).

په نس کې اوبـه نـه تودېدل : لومـړی دا ښېرا ګورو چـې وایـي خـدای دې پـه نـس کـې اوبـه تـودې مـه کـړه تـل دې بـې وسـه بـې شـتو یـې یـا پ د خلکـو ازار وړی دی پـه نـس کـې یـې اوبـه نـه تـودېږي یـا بـه اوبـه کې تودې نه شي. یـا همدغـه ډلـي او ډلـګي دې چـې پـه نـس کـې یې اوبه نه تودېږي.

په نښنه کول : ګواکـي معلومـول دا ځای مـې پـه نـښنه کـړی دی یـا مـا تـه ځای په نښنه کـړه د مـا د پـتي برید لـه کومـه ځایـه دی د تـا بریـد لـه دې ځایه دی دا ځای مې درتـه پـه نـښنه کـړ.

پـه نـري پـاڼ ولاړ : وایـي پـه دا کـوچنـي (واړه، کـراڅي) بـاندې مینـت مـه کـوئ اوس بـه وژاړي ډېر پـه نـري پـاڼ ولاړ دی یـا پـه دې خـبره پ خپـه کـېږي ډېر پـه نـري پـاڼ ولاړ دی یـا ولـې پـه نـري پـاڼ ولاړ یـې، مـا خـو بـده خبره نـه ده درتـه کـړې یـا تـا بـد کـار نـه دی کـړی هغـه هسـې پـه نـري پـاڼ ولاړ دی. یا پـه هغـه خبره چاره او بیلبـړه کـي پـه نـري پـاڼ ولاړ وو.

په نن سبا کېده : کـه لـه یادې خبرې سـره د ښځې تکـی ملـګری کـړو نـو بـه تـرې جوړه شـي پلانـۍ ښځه پـه نـن سـبا کـې ده ګواکـي نـن سـبا یـې الـواد (اولاد) پیـدا کـېږي.

په تنګه درېدل : وايي زه د تا پـه تنـګه ودرېدم يـا د مـا پـه تنـګه مـه درېږه يـا تـه د چـا پـه تنـګه درېدی شـي يـا تـه د هغـه تنـګه مـه کـوه د هغـه تنـګه دې وکړه. يـا حکومتونـه او ډلي ټپلي يـو د بـل تنـګه کـوي.

پـه نمـه (نهمـه) مياشت زور ورمعلومـول : وايـي د دې چـارې زور بـه دې پـه نمـه (نهمـه) مياشت در معلـوم شـي يـا لـه پ سـره دا وشـول خـو دی پـه ځان نـه پوهېږي پـه نمـه مياشـت بـه يـې زور ور معلـوم شـي، دلتـه د ښځې نـو (۹) مياشـتو تـه اشـاره ده.

په نوك حلالول : وايي کـه د پ وس ورسـېد خلـك بـه پـه نـوك حـلال کـړي.

په نيت سره نيول : پ او پ سـره ملـګري يـا دوسـتان دي دواړه پـه نيـت سـره نيولـي دي يـا زه او تـه پـه نيـت سره نيولـي يـو يـا چـې پ چېرتـه وي پ هم ورپيدا شي دواړه پـه نيت سـره نيولـی دی.

په نيمه خوله : کـه د دې کار د کولو مې پ تـه ويلـی وای پـه نيمـه خولـه بـه يـې راتـه کړی وای يـا دا کار يې پـه نيمـه خولـه راتـه وکـړ، يـا پـه نيمـه خولـه ئـي مرسـته راسـره وکـړه، يـا پـه نيمـه خولـه هغـه ځای تـه راسره ولاړ. يـا دا حاکمـه ټولني پـه نيمـه خولـه چاتـه خپلـي چـاري نـه سپاري چې بدِه بولـه نـه وي.

پـه نـه سـترګه ورتـه کتـل : وايـي مـوږ د پ کـور تـه ورغلـو زمـوږ قـدر يـې و نـه کـړ ډېر پـه نـه سـترګه يـې راتـه وکاتـه يـا مېلمـه تـه پـه نـه سـترګه مـه ګوره يـا پـه دې خبـره کـې هغـه تـه ټول قـوم ورغلـی و، قـوم يـې و نـه مانـه پـه نـه سـترګه ئـي ورتـه وکاتـه، يـا هغـې چـارې تـه پـه نـه سـترګه ګوري يـا ښځې تـه پـه نـه سـترګه ګوري. يـا حکومـت تـه پـه نـه سترګه کتـل.

پـه نـه سترګو مينـدل : پـه دې الـواد (اولاد) بـاندې مـې د ډېرو خلکـو مېنتونـه تېر کـړي دا مـې پـه نـه سـترګو لـوی کـړي دی يـا ډېره پـه زيـارتو او ملايـانو ګرځېدلـی يـم پـه نـه سترګو مـې مينـدلی دی يـا دا چـې وايـي دا شـی دې پـه نـه سـترګو ميندلـی، د چـا سـترګې نـه شـته درپـورې. يـا دغـه سياسـي ډلـګی او ښاغلـي پـه نـه سـترګو واکمني کوي دا هر څه يې پـه نـه سـترګو موندلـي دي.

په نه زاله : پ هغـه کـار پـه خوشحالی و نـه کـړ ډېر پـه نـه زالـه يـې وکـړ يـا کـار چې کوې سم يې کوه پـه نـه زالـه يې مـه کـوه، يـا پ دا چـاره ډېره پـه نـه زالـه تـر سره کـړه يـا پـه ځان نيولـی ښځه پـه نـه زالـه پورتـه کېږي يا ناورغـه پورتـه کېدې نـه شـوې ډېر پـه نـه زالـه پورتـه شو. يا پـه نـه زالـه ولاړه اقتصـادي وده.

په وچ زور : پ دا کار په وچ زور په پ باندې وکړ یا په وچ زور دا خبره دربانديې منم یا ما دا خبره نه منله وچ زور راسره وشو.

په وچکو : د پ او پ په منځ کې هیڅ نه دي سره شوي په وچکو بدې سره کوي یا ولې په وچکو بدې راسره کوي یا دا خبره هغه نه وه کړې تا په وچکو په هغه پورې وتړله یا پ ښه وسې دی له سیال سره سیالي نه شي کولی پ ښه بې وسه دی په وچکو یې له سیال سره سیالي سمه (برابره) کړې ده یا پلانی ښځه او پ سړی خلکو په وچکو سره تور کړل.

په وچه کاسه : وایي لنگه مو نه وه کال مو په وچه کاسه تېر کړ یا نګولې پیدا کړه په وچه کاسه وخت نه اوړي.

په وچه کې لامبو وهل : پ وسې ده هره یوه ترې تویه ده، پ بې وسه دی په وچه کې لامبو ورسره وهي یا تا په وچه کې لامبو بینا کړې ده یا پ د دې چارې په باره کې په وچه کې لامبو وهي.

په وري کې گوډ لرگی : پ په وري کې گوډ لرگی دی په هره چاره کې دې گوډ شوی وي یا په وري کې گوډ لرگی دی ټول وری یې نا اندولـه کړی دی. یا د هغه حکومت لپاره په وري کې کوډ لرگي دي.

په وېره ټنډه : کوم کار تا په وېره ټنډه کړی دی یا د پ هغه وېره ټنډه نه شته چې په خوا دې لیده. یا هغه په وېره ټنډه واکمني نه پرېږدي.

په وینو اوښو ژړل : د پ له لاسه پ په وینو اوښو ژاړي یا ما په وینو اوښو درته وژړل چې دا کار مه کوه تا و که اوس په زیان درته تمام شه زما په وینو او ښو ژړا ته دې و نه کاته یا د تا له لاسه ما ته خلك په وینو اوښو ژاړي یا چې بل په اوښو ژړلي ما به په وینو ژړلي وایي یا که هغه په اوښکو وژړلم یا تا کلـه په وینو وژړلم. یا له هغه اداري او سیاسي واکمني ځخه وګړي په وینو اوښکو ژاړي.

په هره سوړه لاس منډل : وایي د شپې له کوره مه وزه څوك به دې مړ کړي په هره سوړه دې لاس منډلی یا پ خدای خبر چا مړ که په هره سوړه یې لاس منډلی وو یا په هره سوړه دې لاس منډلی دی وبوله هره سوړه هر ځای بدي. یا بې ځایه گرځېدل.

په يخ ليکل : په پ د پور باندې دی په يخ يې وليکه يا پـه پ مې پور باندې دی راکړي تـه يې تمـه نـه لـرم مـا هـم پـه يـخ ليکلـي دي يـا هغـه خبره په يخ وليکه يا د حکومتونو ترمنځ په يخ وليکل شول

په يوه پښه : لکه د مېلمنو خدمت تـه پـه يـوه پښه ولاړ وو يـا پ پ تـه پـه يـوه پښه ولاړ يې يا پ ټول وطن پـه يـوه پښه راوغـوښت. يـا پ تـه ټول قوم په يوه پښه ولاړ دی يا پ تـه چې پ ووايي پـه يـوه پښه به ټول وطن راوغواړي يـا د دې چـارې يـا خبرې لپـاره پ پـه يـوه پښه منډې وهي.

په يوه پونده : وايي پ ټول وطن پـه يـوه پونـده راوغـوښت يـا بـه يـې پـه يـوه پونده راوغواړي يا د هغې خبرې يـا چـارې لپـاره پـه يـوه پونـده منډې وهي

په يوه چك : پ تـه دومره خبرې وشوې ده يـوازې چـك وکـړ پـه يـوه چـك يـې خلاصه کړه يا لـه دې خلکـو سـره ډېرې خبرې نـه کېږي پـه يـوه چـك يې ورخلاصه کړه. يا لـه زوره ډك واکمن هرڅه پـه يـوچـك کـوي.

په يـوه خـره سـپړېدل : پ تـه چې څومره خبرې خلکـو وکړې دی لـه خپـل خـره کتـه نـه شو پـه هغـه يـوه خـره سـپور دی هغـه يـوه خبره کـوي يـا مور څومره ويـل درتـه وکړه تـه پـه يـوه خـره سـپور يـې يـا لـه خپلـه خره کتـه نـه شوې. يا واکمن پـه همغه خـره سپاره دي.

په يوه خوله : ټول قوم پـه يـوه خولـه شـه پـه يـوه خولـه يـې پرديـو تـه ځواب ورکـه يا تاسې خوله سره يوه کړې چې خولـه يـوه شـي هـر څـه اسـانه دي يـا هغـه قـوم سـره پـه اينتيـاخ (اتفـاق) دی څه چې وايـي پـه يـوه خوله يې وايي. يا دواړه حکومتونـه سره يـوه خولـه شـول.

پـه يـوه ځاپـېړه سـل مخـه خـوړېدل : د پ بـايده د وهلـو د خـو هلتـه يـې نـور خپلـوان ولاړ و، مـور ويـل هغـه بـه خپـه شـي پـه يـوه ځاپـېړه سـل مخه خوړېږي يـا پ تـه کنځا وکړې خپلـوان بـه يـې پـرې خبر شي پـه يـوه ځاپـېړ سـل مخـه خـوړېږي يـا دا سـړی تـا يـوه ځاپـېړه وواهـه، خـو پـه دې يـوه ځاپـېړه سـل مخـه خـوړېږي يـا پ پـه يـوه ځاپـېړه سل مخه خوړ کـړل.

په يوه درگ : پ د کلـي هلکـانو تـه غـږ وکـړ ټول هلکـان پـه يـوه درگ د ده مخـې تـه ودرېده پـه يـوه درگ ورتـه راغلـه يـا هلکـانو ټول پـه يـوه درگ لـه ما پوري راشي. يا هلته په يوه درگ پوليـس وليـگل شـول

په يوه ساه : پ دا ټول کارونـه پـه يـوه سـاه وکـړه هېڅ دمـه (سـياله) يـې پکـې و نـه کړه يا پـه يـوه ساه کارونـه مـه کـوه گوا پـه ځانګړي سـاه.

په یوه ستنه : پ ټول کارونه په یوه ستنه کوي یا ټولې چارې په یوه ستنه سموي یا ټول قوم ورته یوه لور ته وو دي په یوه ستنه ورته بل لور ته وو په یوه ستنه یې ټول قوم ګرم کړ یا پ یوه ستنه ده خو نره ستنه ده نامرده ستنه نه ده.

په یوه سترګه ورته کتل : وایي پ د قوم مشر و، ټول قوم ته یې په یوه سترګه کاته یا تاسې ټول زموږ دوستان یاستې موږ په یوه سترګه درته ګورو یا تا کله موږته په یوه سترګه کتلي دي.

په یوه کوناتي : وایي پ او پ سره په یوه کوناتي دي، یانې سره خپه دي یا پ له پ شکه (خخه) په یوه کوناتي دي.

په یوه لار : ټول قوم په یوه لار روان دي، دي په بله لار روان دي، یا ولې په شلو لارو روان یې په یوه لار سره روان شئ، یا دوښمنانو شلو لارو ته سیخ کړې یې په یوه لار شئ.

په یوه هډوکي دوه سپي غلطول : وایي پ په یوه هډوکي دوه سپي غلطوي.

پې اړول : دا خبره یې په پ ورو اړوله، یا دا خبره دې نه شوې پرې ور اړولې یا دا چاره پ نه وه کړې، په وچکو یې پې واړوله، یا دا شی نه خرڅېده، په پ یې هسې واړاوه، یا دا شی چیتې شی ده، په هغه یې مه اړوه، یا پ پیسې پې واړولې.

پی (شیدې) پرېښودل : وایي پ او پ نن سبا بیا پی سره پرېښي دي یا پ په پ پی پرېښي دي یا د هغې خبرې یا چارې په باره کې پ پی پرېښي دي وښیه نږدې کټ راکړه ورکړه سره کوي یا د اخلاقو له پلوه سره خوښ دي. همدغه وړ حکومتونه پی (شودې) سره پرېږدي.

پیاګي : ټول یو ځای ناست وو پ راغی زموږ تر څنګه پ ته یې داسې پېغورونه ورکړه، بدې بدې خبرې یې ورته وکړې، دی خو نه شرمېده د موږ پیاګي یې وېستې یا دې چارې ته د ټ پیاګي وتلې دي یا په دې خبرو دې موږ پیاګي مه باسه یا په دې خبره چې هغه خبر شو پیاګي یې ووتې. یا د حکومت او سیاسي ډلو پیاګي ل .عه امله وتلي دي.

پیاړ مه خور : وایي ما باور پرې وکړ ده په اعتبار کې دا شی راخخه وخوړ ډېر پیاړمه خور سړی ده (دی)، ما خپل وباله ده مې مال ته ملا وتړله ډېر پیاړمه خور سړی ده (دی)، یا دا سړی د باور وړ نه ده (دی)، پیاړمه خور ده. د نن منان ټول حکومتونه پیاړمه خواره دي

پیتاورون : چې خبره سبته (جوړه) سمه یاده کړو نو په کومه څمکه چې لمر زیات لګي پیتاورون وي په هغه سیمه کې وښیانه (ګیا) ډېره وي ویښې ښه وابښه وي بیا پیتاورون داسې یادېږي وایي پ پیتاورون ته سیخ شوي وشوه ګټې ته سیخ شوي ده (دی)، یا پ په دې خبرو یا چارو کې پیتاورون ته ځان سموي یا پ په پیتاورون پسې ګرځي. وښیه پیتاورون د ګټې او سورلن د زیان ځای دي.

پیتاوي خبرې : پیتاوې خبرې له کتابي خبرو سره یادېږي وایي دا پیتاوي خبرې دي یا دا کتابي خبرې دي یا دا خبره د پیتاوي وکړه، پیتاوي خبرې مه کوه. یا حکومت په دغه اړه قانوني ماده نه لري دا پیتاوي خبري دي.

پې تیتول : په بزار (بازار) کې جنګ و، عسکر راغله په خلکو یې تیته کړه یا د خلکو سره جنګ شو سره تیته یې کړله، یا خلکو په ډوډۍ تیته کړه یا پرې تیته کړې مه پرېږدئ چې یو سړی په لکو پښو در څخه خلاص نه شي پرې تیته کړئ په لکو پښو یې پرېنږدئ یا په ټولو خلکو کې یې تیته کړي وه ښه ده چې ته په لکو پښو پاتې شوې یا را خلاص شوې.

پیتۍ : دا خبره نوره مه زیاتوه ځان ته پیتۍ مه درند وه، یا په دې خبره دې ځان ته پېتۍ وتاړه یا دا خبره اوس ورته د غېرګو وګو (اوړو) پېتۍ شوه یا پ ته خپل پلار پېتۍ شوې یا که دا چاره دې تر سره کړه خپل پېتۍ به له اوږو کوز کړې یا په پ پورې خپله لور پېتۍ ده یا شوه. یا د هغې واکمې لپاره دا یو دروند پیتۍ دي.

پیچتاوي خبرې : وایي د پ خبرې ډېرې پیچتاوي وي یا یې پ ته د پ لپاره پیچتاوي خبرې وکړې.

پې تینګېدل : پ په دې خبره ډېر تینګ ده، یا ته په دې خبره ولې تینګ یې یا په څه شي پ ډېر تینګ ده (دی)، چا ته یې نه ورکوي یا په خور و لور تینګده (دی)، یا پ په خپل دنیا و دولت ډېر تینګ ده (دی).

پیچومی : د دې خبرې منل پ ته پیچومی شوی دی، یا دا چاره ولې پېچومې درته ښکاري یا دا چاره په خپله تا ځان ته پېچومې کړه یا دا خبرې پ پ ته پېچومې کړې دي.

یې (خی) : د پ په پرګه کې هېڅ د کار سړی نه شته، پرې خی ده یا یو سړی خو به در پکې وي ولې درباندې خی ده یا په موږ ټولو

خې ده يا په مور تولو خو خې نه ده يا د پ کورنۍ تول مړه شوه يې خې شوه. يا هغه غوارې چې په حکومت يا سياسي اداره يې (خې) کړي.

پيخ : وايي پ پ پيخ ککړ که وينې په فساد يې ککړ که يا د پ په پيخ ککړ نه کړي يا په پ باندې داسې پيخ وشو. دا تکي ډيره پرا ختيا لري.

پېروتی : خو په اصل کې يو بوتی دی خو بيا دا تکی داسې هم يادېږي لکه پ پېروتی ولاړ و، يا پېروتی مه درېږه يا په هغه باره کې پ پېروتی شوې ده. يا په دغه اړه حکومت او وګړي سره پېروتي شوي دي.

پيره : وايي څو پرې ولاړم راغلم يا دا چې د پ هره پېره يا د ده يا پ د بوډۍ پېرې کوي يا په پ داسې پېره شوې ده، يا د ملنګانو پېرې مه کوه يا دا پېرې به دې په ورکتوب کې کولې اوس هم هغه د ورکيتوب پېرې کوي.

پېړو : کوچيان چې مېړوته شپه ونيسي دشپړو مياشتوپيسې ورکوي، د شپړو مياشتو ورې ورکوي دغه نغدو پيسو ته پېړو وايي ګواکي د شپړو ميشاتو د شپانه مزدروۍ ته پېړو وايي.

پېرزو : د پ ډېر ښه زمن دي خدای دنې پرې پېرزو کړي پرې پېرزو يې لري يا دا زمن کله د چا درباندې پېرزو وو يا دا شی کله د چا درباندې پېرزو کېږي.

پېزوان : وايي پ ته دا چاره د پزې پيزوان کړه يا دا خبره مه ورته د پزې پېزوان کوه يا دا کار د هغه د پزې پېزوان ده هره ورځ يې پزه پرې څکېږي. يا هغه غوارې چې دغه چاره د حکومت د پزې پيزوان کړي.

پې زده کول : پ په پ باندې مينت کوي خانې پې زده کوي يا پ يې چې په دې زده نه کړي په چا به يې زده کوي يا يې په دې شي زده کوي يا يې په دې خبره زده کوي يا يې په دې چاره زده کوي.

پيس : لکه د پ سرې ډېر لوی پيس دی په لړو پيسو يې پيس نه مړېږي لوی پس وبوله لوی نفس. يا په هغه چاره د هغه پسي نه تېتېږي.

پيسن : وايي په تيلو مې وبښتان لړ پيسن کړه، يا د پ پيسن مخ ده بد مرض نيولی ده (دی). غورپيسن ګوا لړ غوړ يا په مالي غبن کې د غلانو خولې پيسني وي.

پښنه : وايي څه پښنه در شوې يا داسې پښنه راوشوه.

پېښنه : لکه د پ خوله کړه ده اوس دې هم خوله کړه کړه کوي وي د هغه پېښنه کوي یا د هغه پېښې مه کوه یا له ما سره پېښې مه کوه یا ډېرې پېښې دې راسره وکړې نورې مه راسره کوه یا د هغې چارې یا خبرې په باره کې پ له پ سره پېښې وکړې.

پیغراتی : پ هر چا ته پیغرونه ورکوي پیغراتی شي ده یا د پ هېڅ هم د سم سړي نه دي د قوم لپاره پېغور دی، پیغراتی شی ده (دی)، یا هغه پیغراتی د منجلس سړی نه دی په مجلس کې یې مه کښېنوئ ګوا پېغور ده. یا د حکومت او سیاسي ډلو پیغراتي چلند وشوه ناسم.

پېغور : پ دهغې خبرې پېغور ورکه یا ولې پېغورونه ورکوې یا پ پېغور نه لري چې پېغور نه لري د څه پېغور به ورکړې. یا په هغه چاره یا خبره پ - پ ته پېغور ورکه. یا حکومت او ډلې ته پیغور.

پېغوله : وایي راغه چې له بزاره (بازاره) ووځو، د خلکو له ګنې ګوڼې به لرې شو پېغوله به په یوه خای کې کېنو په خبرو به سره پوه شو، یا پ له کلي لرې ولېښه پېغوله یې د هغې پښتي بیخ ته وارول یا د مال له منځه ووځي پیغوله په یوه خای کې کښیني.

پې ګډول : لکه پ د موضوع سر و اخر ته نه ګوري پې ګډوي یې، یا پ بېرته وراندې نه ګوري پې ګډوي یې یا په هغه باره کې خلك لا ناست و، پ پې ګډه کړه.

پیلان تېرول : پ پیلان تېر کړي ته یو میاشې یې، یا د هغه په خېټه کې پیلان پراته دي څوك پرې خبر نه دي په تا به څوك خبر شي هغه پیلان تېروي.

پې لکه : پ له پ سره ډېره مرسته وکړه د عمر یې پرې لکه کړه یا پ ډېر ښه راسره کړي، راباندې لکه یې ده، یا هر چا له تا سره نیکي کړې وي درباندې لکه یې وي، یا د تا هم په ما لکه شوه د نورو خورابـاندې لکه وه یا تا هم یوه کاسه جوارې راکړه راباندې لکه دې کړه. یا له هغه امله په خلکو د حکومت لکه شوه.

پیلوزي : لکه شپه مو را نه کړه خو دا پیلوزي په کونه پسې مه وونړې چې برستنې یې پتولې یا دا خبر خوسمه شوه دا مله سې پیلوزي ده یا په دې چاره پسې پیلوزې م... ندوه بیا میلوزي مه

پورې سرېښ کوه. لکه ددې چارې لپاره قانوني ماده نشته دا دواکمنو پيلوزې دي.

پيمانه : وايي غله يې په پيمانه کړه يا غله په پيمانه ورکړه يا د خبرو خپله پيمانه وي يا دا چې وايي د عقل پيمانې تولې په زې پورې يو رنګ ډکې ده، خو د چا ورې د چا غټې دي.

پې مخې : پ هلك يا جلکې ښاسته دې ګواکي پې مخې ده، يا پ سړی يا ښځه پې مخې ده.

پينډې : د پ خيرات و، پينډې پينډې خلك راتلل، ډېرې پينډې يې وخوړلې يا دا خلك د څه لپاره سره پينډې پينډې کېږي يا په هغه ځاي کې پينډې پينډې خلك ناست وو، يا د څه لپاره دې خلك پينډې پينډې کېنولي دي يا په خپله پينډه پام کوه.

پينځه ګوټه : د قوم مخې ته څوك نه شي درېداى، يا د پينځه ګوني مخې ته څوك نه شي درېداى يا قوم په پينځه سره دا خبره سره غوټه کړه يا د پينځه ګوني په منځ کې مړ مه شي چې مدعي دې ورك شي.

پيور : ښځمن حيوان او هغو ښځو ته پيوره وايي چې پې (شيدې) ډېرې کوي لکه غوا او ښه پيوره ده يا ښځه پيوره ده خو دا کيسه بيا داسې هم کېږي وايي پ په خوله کې ډېر پيور ده (دى)، وښيه ډېرې يا ښې خبرې کوي ډېره پيوره خوله يې ده، خلك خوشحالوي. يا له هغه امله پيور حکومتونه.

پيوند : کله چې په کېږدۍ دوه پېڅولونه بند پورې شي د دواړو پېڅولو د څمکې لورې څنډې سره لرې وي، هغه ځاى ته کوچيان پيوند وايي چې په (کوچې) کتاب کې نيمګړى رسم شوى ده (دى). له دې پرته پيوند بيا ډېر ځايه يادېږي لکه هډوکي په پيوند پرې کېږي يا هره خبره پيوند لري پ د خبرو پيوند ته نه ګوري يا پ او پ سره لرې شوه پيوند يې له منځه پيدا شو، يا په قوم کې پيوند پيدا شو يا پ په هغه باره کې د قوم په منځ کې پيوند جوړ که. دلته به يوه وريته کيسه ياده کړو هغه دا چې احمدزي غله په دوو نومونو سره يادوي يو د کاله يا ناموس غل بل د پيوانده غل. وشوه د مال او دولت غله ته د پيوانده غل وايي لکه پ د پ د کاله غل نه و، د پيوانده غل يې و، يا پ ډېر د خلکو پيوانده ته غل شو.

# ت

تار په تار : لکه هغه قوم اوس تار په تار شو یا له هغه امله تار په تار یا هغه خلك د پ له لاسه تار په تار شوه.

تار سره نیول : د دې خبرې په باره کې پ او پ تار سره نیولی ده (دی)، یا هېڅوك نه وو خبر تاسې دواړو تار سره نیولی و، یا ته له پ سره تار ونیسه.

تار غړل : وایې پ د پ تار غړي یا په هغو خبرو کې پ د پ تار غاړه ګواري د هغه لوری یې نیوه، یا پ له پ سره د دوښمنی تار غاړه. یا فوځیان د هغې سیاسي اداري تار غړي.

تارو نار : پ دا ډېر وخت کېږي چې ناروغه ده (دی)، تار و نار ده (دی)، یا په څه یې ولې تار و نار یې. یا هغه تارونار سیاسي اداره.

تاړتوك : لکه پ په پ پسې له اخره تاړتوك ګرځي یا پ د پ تاړتوك ده (دی). یا هغوي د واکمنو تاړ توکان دي.

تازیله : د دې خبرې لپاره یو استاوزی تازیله ولېږي یا چې دا خبره پېښه شوه تاسې یو سړی تازیله ولی نه رالېږه. تازیله بم یو څوك رالېږلی و، یا هغه خبره تازیله خلاصه (ورنخي).

تازینه : پ د پ له تازینې لاندې ښه کار کوي یا دا چې وایې اسپه دې له بله تازینه دې له څنګله. چې نن نه تیزي نو کله.

تاسیر : په پ باندې هغې خبرې ډېر سخت تاسیر (تاثیر) وکړ، یا ولې دې خبرې دومره بد تاسیر درباندې وکړ یا خوړو بد تاسیر پرې کړی یا پ د پ تر تاسیر لاندې راغی.

تاکبیر : پـه دې خبره پیـنځه قـوم تـاکبیر وکـړ یـا پیرخـانې اوسـتانه وو تـاکبیر ورکـړی ده یـا پ چـې داسـې بـد بخـت ده (دی) تـاکبیر وهلې، تاکبیرونـه چې څوك ووهـې هغـه بیـا ښه ورځ نـه شـي پیـدا کولـی یـا دا چـې وایـې: خـدای درکـړم، مـېږو درکـړم ښکلویـو تـاکبیرو درکـړم.

تاگي (تا) : د لاس دړې خرانـګې دکـنې یـو جـارون تـه تـاگي یـا (تـا) وایـي چـې بیـا دړې یا څلور سوره سره وګنـډې هغـه تـه دړې یـا څلـور تـاگي یـا (تـا) وایي پـه دې ارتبـاط وایـي پ ډېر پـه یـوه تـا ده یـا ولـې پـه یوه تـا یې یـا تـل تـه پـه یـوه تـا یې یـا د دې خبرې یـا چارې پـه بـاره کـې پـه یـوه تـا ده. یـا د ودیـز د ډلګیـو حکومتونـه دوه تـائیز او درې تـائیز.

تالي : وایـي پ ډېر بـې تـالو ده یـا د پ ډېرې ښې تـالي دي یـا تـا لېمـن ده یـا تـه کلـه دومـره تـالېمن یـې یـا د هغـې چارې یـا خبرې پـه بـاره کـې د پ تـالې وې یـا نـه وې، یـا د پ تـالې زوروري دي یـا لـه هغـه شي یـا لـه پ د هغـه تالي نـه شتـه.

تانگ : خو شاهد وپېژني چې پـه اس دې زیـن د ټړلـو پلنـې غونـدې پټې تـه وایـي چې د اس پـر شـا زیـن پـرې تـړل کـېږي پـه همـدې دود ځینـې خلـك د خـره کتـه هـم د خـره پـر شـا پـه تـانگ بـاندې تـړي تـانگ داسـې یـادوي وایـي هغـې چـارې تـه د پ تانگونـه ډېر سسـت وو یـا تانگونـه یـې پ سسـت کـړي دي یـا چـې د تـا تانگونـه سست وو مـا تـه بـه دې لومـړی ویلـي وو یـا دې خبرې تـه د تـا تانگونـه ولـې سسـت دي یـا ولـې د تـا تانگونـه سسـت شـول پـه کومـه خبره سسـت شـوه (شـول)، یـا د پ تانگونـه ټینـګ کـړه یـا مـا یـې تانگونـه ټینـګ کـړي دي، یـا کـوم لـور تـه ځي چـې تانگونـه دې ټینـګ کـړي دي. یـا د حکومـت او ډلـو تانگونـه

تانگنی : کلـه چـې د مـزري دوه دوه یـا یـوه یـوه پـانې اوږدې د یـوه څه د ټرلـو لپـاره سـره غـوټه کـړي گواکـې د پـړې پـر ځای کـار تـري واخلي هغـه تـه تـانگنی وایـي تـانگنی بیـا داسـې هـم یـادوي لکـه پـه یـوه خبره یـا چـاره (موضـوع) پـورې نـورې تـړی تـانگنی تـري جـوړوي یـا تـانگنی مـه تـرې جـوړوه چـې یـوه پـه سر بلـه پـورې تـړې، یـا څلـور بـول ناروغـه بدرنـګ ده (دی)، تـانگنی تـرې جـوړ شـوی ده (دی).

تانګونه ایستل : کله چې بدن وچ یا ستړی شي بیا بدن ته د پایدې رسولو لپاره په شا تیك یا په څنګ کوږ شي په انسان برسېره (سربېره) څلور بول هم تانګونه کاږي چې اغېزه هم ورته وایي په دې ارتباط وایي پ هغې خبرې ته داسې تانګونه کاږي، یا پ ته داسې تانګو کاږي، یا ډېره له پخوا یې ورته سودا وه تانګونه یې ورته ښکله، اخر یې غوټه پرې وکړه.

تاوده نغري : پ خلك ازار کړي دي په تودو نغریو ختلی، ښادي پرې حرامه ده، یا پ غلاوې کړې دي په تودو نغریو ختلی خدازده چې خوشحالي به پیدا کړي یا په تودو نغریو مه خېژه تاوده نغري ازار لري. یا دا لوړه چې ستا په تاوده نغري.

تا وکړه ما وکړه : وایي تېر په وېر کړې له دې خبرې به څه جوړ کړې چې تا وکړه ما وکړه، تا وکړه ما وکړه پرېږدئ.

تا وې ترك : وایي پ ډېر تاوې ترك هلك ده (دی)، یا تاوې ترکه حلکی ده، تېر تېر کېږي ډېر تاوې ترك دي. د تا و او د ترك نه جوړ شوی نوم ده.

تا ویل ما ویل : وایي تاسې خپلې ورکې ودانې ته وګورئ خپل ځان ته وګورئ، تا ویل ما ویل پرېږدئ، تا ویل مه سره وایي، د تا ویلو ما ویلو خبرې پرېږدئ. یا هغوي غواړي چې حکومت په تاویل ما ویل رنګ کړي.

تایه : د پ کره مېلمانه راځي هغوی ته تایه نیسي یا چې مېلمانه دې راغوښت تایه خو به دې ورته نیوله یا هغه کور ته حاجي راځي تایه ورته نیسي.

تبي : پ هلته ناست و، چې هغه جګ شه وروسته یې پ بد بیانول تبي یې پسې کول، ډېر تبي یې پسې وکړه یا په شا شاه په چا پسې تبي مه کوه. یا حکومت په خبرو کې لادا تبي کړي دي.

تې بې : پ غرېدی نه شوای، تې بې به ترې غلطه شویا ولې تې بې در څخه غلطه شوه. یا هغه د سیاست په تې بې نه پوهېږي.

تپاك : د پ هغې خبرې ته ډېر تپاك ده (دی)، چې اوس چا زر ور اوره ولی وایي تپاك به یې مات وی (وای)، یا پ غوښې ته تپېدلی ده (دی)، چې غوښه یې خوړلې وای تپاك به یې مات شوی و، یا په دومره لږ پیسو کله د پ تپاك ماتېږي یا پ له ښځې څخه لرې شوی تپېدلی چې کور ته ولاړ شي تپاك به یې مات شي یا پ ډېر تپنده ده (دی)، هر شي ته چې وګوري زر تپېږي، یا بیا ولې

تېبدلې يې ته ډېر زر تېېږي بيا دې تپاك هم زر يا زر نه ماتېږي. يا د سياسي ډلو او حكومت بيا تاكنو ته تپاك دي.

**تپ تور** : وايي پ په دوارو سترګو ړوند ده (دی)، تپ تور ده (دی)، يا په هغه چاره يا خبره تپ تور شو يا دا ښېرا چې وايي خداى دې تپ تور كړه. يا تپه توره واكمني.

**تپل** : لكه پ تپلي كالي (جامې) اغوستي دي يا هغه خبره يې په پ باندې په دروغه ور وتپله يا دا متل چې وايي اختر چې تېر شي نكريزې په ديوال وتپه.

**تپېدل** : چې تپېدل له تپاك شكه (څخه) بېل كړو نو و به وايو چې پ په څمكه لاس و تپاوه وتپېده تيره يې كته (كتله - غوښته) يا پ هغې چارې ته ډېر وتپېده خو چا ورته پرې نه ښوده يا پ د پ مال ته وتپېده خو په لاس ور نه غى يا پ خبرې ته و تپېده خو ويې نه كړه. يا حكومت دغې چارې ته وړاندې وروسته تپيګي.

**تپې تورې** : پ به ډېرې تپې تورې درته وكړي چې دا كار نه كېږي دا ده و ها ده خو ته د ده تپو تورو ته غوږ مه نيسه خپله مخه كوه يا تا د هغې چارې په باره كې ډېرې تپې تورې راته وكړې خو هغه چاره وشوه، ارمان مې د تا تپې تورې دي، يا د هر كار په كولو كې ته وايي نه كېږي ګران ده (دی)، ستړې لري مشكلات لري بس دا تپې تورې كوي بيا هغه كار وشي د تا تپې تورې پاتې شي يا د پ هغې چارې ته زړه نه ده (دی) تپې تورې درته كوي. يا حكومت په دغه اړوند تپې تورې كوي.

**تت** : وايي دا كنې ډېر تت او بدل شوى ده (دی) يا دا څراغ ډېره تته رڼا اچوي يا د دې وني سيورى ډېر تت ده (دی) يا د پ سرى سيورى ډېر تت ده (دی)، څوك له ګرمى نه شي ساتلى ګنده سيورى بې ده. يا هغه هيواد د تتې ديموكراسي په لاز كې دي.

**تت پت** : پ ته پ وګوابېده تت پت يې كړ ورك كړه يا ولې له بوټې خبرې سره تت و پت دركې ورك شو.، يا پ نه شواى غږېداى تت پت يې وكړه. يا په دغه ا ه حكومت سم خواب رانه كړ تت پت يې وكړل.

تتل : لـه ګیـخه (ګهیـخه) راهیسـې دې ډېر خـواره وخـوړل، ډېر دې وتتل یا دومره مه تته ناروغه به شې ډېر دې وتتل لـږ وتته.

تت وزری : پ پـه پ وارونـه کـول خـو زړور وار یـې نـه شـو پـرې کولـی تـت وزری تـت وزری کـېده یـا پـه دا وره زړور نـسوزه ولـې تـت وزری شـوې، یـا پ دې خبرې تـه ډېر تـت وزری ده (دی)، یـا دې چـارې یـا کـار تـه ډېر تـت وزری کـېږي، بینـا (پیـل) نـه شـي کولی. یا حکومت لـه دې املـه هغـې چـارې تـه تت وزري دي.

تت وت : پ پـه دې خبره چې خـبر شـه تـت وت یـې وواتـه یـا ولـې دې تـت وت وواتـه یـا لـه هغـه راهیسـې د پ تـت وت وتلـي دي.

تخرګ ورتـه غـل : د مـور لـور تـه تـل (هـر وخت) تخرګ غـل وي یـا د پ پ تـه هـر وخت تخرګ غـل وي یـا هر وخت بـه مې تخرګ درتـه غـل وو.

تخرګونـه لـه تیـږو ډک : پـه هروخت لـه زوره ډکـي خبرې کـوې تخرګونـه یـې لـه تیـګو ډك وي.

تخوری : لکـه د پ پـه دوسـتارخان (دسـترخان) کـې تخـوری خـواره تـه پیداکېږي، یـا غوښه تخـوري تخـوري کـړه.

تخه ول : وایي دا کوچنی (وړوکـی) وتخنوه چې وخـاندي یـا یـې مـه تخنوه ډیـر یـې وخنـدل، یـا دا دې تخـه ولـو خـبر نـه ده (دی) چـې لکـه وړوکـی ایوان و مې تخنوې. یـا حکومتونـه تخـه ول کـېږي.

تخی وخی : پ مـړه ده (دی) زړه مـې ډېر پـرې بـد ده (دی)، چـې پـه مـرګ (مړینـه) یـې خبر شـوم زړه مـې پـرې تخـی وخـی شـو، یـا د دې خبرې پـه اورېدو مې زړه تخـی وخـی شـو.

تخی تخی : شودې مستې یا ورګه ویـران شـو تخـی تخـی شـوه، یـا کـوچنـي (واړه) شـودې ورودې خـوا یـې وګرځولـه تخـی تخـی یـې، یـې لـه خولې تویـه شـوې.

تراګند : پ د تـورې او دار پـه حـالت کـې تراګنـد ولاړ ده (دی)، یـا ولـې تراګنـد یـې یـا پ ادتـي (عـادتي) تراګنـده ده (دی)، تراګنـده تراګنـده کـېږي، یـا پ لـه څو ورځو راهسـې تراګنـده ده (دی)، یـا د تبې ننبې مې پـه بدن کې دي بـدن مې تراګنـده غونـدې ده، یـا پ د هغـې خـبرې یـا چـارې پـه بـاره کـې تراګنـده ده (دی). یـا حکومت لـه دغـه املـه تراګند دي.

تراڼ : لکـه پ پـه خپـل مزدور بـاندې تـراڼ وکـړ ځان یـې لـوی ښکـاره کـه بـد رد یـې ورتـه وویـل یـا سرداران پـه بـې وسـو خلکو هسـې

تـرانږ کـوي. یـا حکومـت پـه خلکـو تشـدود یـا تـرانږ وکـړ یـا د
واکمنو ترانږ چلند.

ترایي : پ دې هسې داروي ترایي در اچوي د خلکو له ترایو مه دارېږه یا خلکو ته دار (ترایي) مه ور اچوه یا که ډېرې ترایي را واچوې بیا مې هم دغه چاره په مخ کې ده یا پ پ ته د هغې چار یا خبرې په باره کې ترایي وراچولې ده.

تربګښنت : دا تکي په دوستۍ کې هم یادوي او په زړه بدي کې یې هم یادوي لکه: پ او پ سره خپل دي تربګنښت سره پالي یا تربګښنت ورسره کوي یا پ له هر چا سره تربګښنت اچولی وي.

تربته : د پ ساه یې تربته کړه مړ یې کړ یا هغه یې تربته کړ مړ یې کړ یا پ تربته تربته غګونه وکړه یا په هغه ځای کې تربته تربته ډزونه وشوه. یا هغه غواړي چې حکومتي چاري تربته کړي.

ترتری : وایي کم بران (باران) وشو څو څاڅکي ولوېده، هسې ترتری وشو یا که بران د پ په لاس وای ترتری به یې هم نه وی درباندې کړې خو د خدای په لاس ده (دی).

تر حلقه ترې خوږ : پ ډېر ښه سړی یا ښځه ده خلك تر حلقه ترې خواږه دي یاتر حلقه ترې خواږه یو یا د هغه له سیاسي چلند څخه له ستوني خواږه یو

ترخه هوا : وایي اسمان وریځ ده (دی)، هوا ډېره ترخه ده.

ترخې ښکل : دا کار پ نه شي کولی هسې ترخې کاږي یا د هغې چارې په باره کې پ داسې داسې ترخې وښکلې یا هېڅ د له وسه نه کېږي هسې ترخې مه کاږه.

تر څند : لکه پ مې د هغې خبرې یا چارې په باره کې تر څند ولیده یا مې داخبره تر څند ورته وکړه وښیه بل ته مې وکړه هغه ولاړ و.

ترخ : پ د هرې خبرې په ترخ پوه ده یا خبرې هم ترخ لري یا هر کار په ترخ کېږي بې ترخه کارونه مه کوه.

ترند : وایي پ یوه چاره هم په زړه ورتیا نه شي کولی په هره چاره کې ترند ده یا پ هلته ترند ترند کېده وینې ډارن کېده یا پ په هغه باره کې ترند ده (دی). یا حکومت ددغې چارې په اړه ترند ده مني ویریدونکې

ترنګړ : وایي: وه، ترنګړه یا لیونیه ترنګړه.

ترنګلی : لکه د پ ډېرې ترنګلې خبرې دي وبوله سپینوالی ته ورنږدې دي سختې سپورې نیغې خبرې یې دي

**ترنډه**: پ او پ سره خپل ډي يوه ترنډه ده هغه نور هم د دوی خپل ډي سره يوه ترنډه ده. يا حکومتي او سياسي ترنډي.

**ترکېده**: د پ غوښې ته زړه شوی ترکېدلی ده (دی)، يا ښځينه ډېره تره کېږي، يا کوچني (واړه، کراڅي) وژړل بد بد وترکېده.

**تروټه**: لکه د پ غله څرڅه نه شوه يا خرابه وه يې تروټه شوه يا په تا باندې خپل مال ولې تروټه ده خرڅ به سي يا په پ خور لور تر وټه شوه ريبار يې نه شته يا خور و لور يې تر وټه ده هر سړي ته وايي چې راشه زما خور او لور وکړه. خورا درنده.

**تروك**: وايي ورېږې (وريجې) چې بازار ته يوسې ډېرې تروکې خرڅېږي يا نن سبا ورې. مېږې ډېرې تروکې دي يا پ سړی ډېر تروك پوروړی ده (دی)، پسې تروکې غواړي يا پور تروك غواړي.

**تروْر**: لکه انسان يا حيوان چې وداړ شي تروْر شي نه پوهېږي چې څه وکړم يا پ له هغه امله تروْر شو يا په هغه باره کې پ پ ترور که يا پ ټول قوم تروْر که، يا پ په خبرو کې تروْر شو خبرې يې سمې نه شوې کولی يا په هغه کار کې تروْر شو يا پ له ډېره غصه او له اندېښنې څخه تروْر شو يا حکومت او سياسي ډلګې په خپلو چارو کې تروْر دي.

**تروې مښل**: پ په دې چاره کې اخته ده خو هسې تروې مښې کوچ نه شي ترې ښکلی يا په دې خبره کې مه غړېږه تروې مه مښه، يا پ تروې ومښلې خو کوچ يې ترې و نه ښکل دا ځکه چې کوچ نه وو پکې چيتې تروې مښې.

**ترې پروا**: پ ډېرې غورې ورته کوې خو د هغه ترې پروا نه ده پروا نه يې راوړې يا پ پ وژنې خو د هغه ترې پروا نه ده.

**ترې تم**: د پ مېږې ورکې شوې ترې تم شوې يا پ ترې تم ورك ده ترې تم ده (دی) نه سته. يا هغه غواړي چې دغه سياسي ډله ترې تم کړي.

**تريخی**: پ ډېر بې غيرته سړی ده په ينه تريخی نه لري يا پ داسې بد ورسره وکړه خو هغه په ينه تريخی نه لري چې خپل وار ترې واخلې يا دا چې د سزا په ډول ويل کېږي وايي که دا کار دې داسې و نه کړ تريخی به دې وکاږم يا که در څخه خرابه شو تريخی به دې وکاږم يا په هغه باره کې د هغه تريخی وکاږه

**ترېږه**: ډېر کم لنډ بې تالندې باران ته ترېږه وايي بيا که د يو چا په اخلاقو ناست و ولاړ کې برق راځي هغه ته داسې وايي لکه په

پ بانديٍ يوه ترېږه راخي ترېږه ترېږه انسان ده (دی). يا په پ
بانديٍ په هغه باره کې د تاوان يوه ترېږه تېره شوه.

تري غړول : پ دا خبر تريٍ وغړوله يا پ له چا خبريٍ نه غړوي له چا يې پروا
هم نه وي له پلاره يې هم نه غړوي يا ښکا ماښام په لاز کې
غلو له پ څخه څو مېږې غړولې دي يا غلو اوښې تري غړولې
دي يا پ له پ څخه په هغه باره کې څو خبرې غړولې وي يا
يې له دوښمنه هغه سرې وغړول.

ترېوارېز : پ ډېر ترېوارېز ده، يا دې خبرې ته ډېر ترېوار اخيستیو يا
تري وارېز تري وارېز مه کېږه.

تريده (ترېدل) : وايي لبوه په مېږو راګډ شو مېږې وتريي دلې، يا عسکرو په
خلکو د وهلو بينا (پيل) وکړ خلك يوه او بل لور ته تري
وترېده (وتريي دل)، يا خلك ولې وتريي دل،

تراپړی : لکه د پ زوی مړ و ټولو کليوالو د پ کور ته په تراپړي خان ور
ورساوه، يا پ هغه کار ډېر په تراپړي وکړ ياهغه وخت په
تراپړي پرې تېر شو، يا په هغه باره کې په تراپړي هغه ځای ته
ولاړ. يا هغه غواړي چې حکومت له تراپړي او ستونزو سره مخ
کړي.

ترك : په هغه ترنده کې ډېر مړي وشوه په خلکو رټ (سخت) ترك تېر
شو، يا د زوی او د ورور د مرګ رټ ترك ده (دی)، يا تېر
کال غله نه وه په خلکو سخت ترك تېر شو يا د پ له لاسه په
موږ ډېر ترکونه تېر شوه (شول)، يا پ له ترکو وتلی ده (دی)،
يا وه! له ترکو وتليه له څومره ترکو ووتې. يا حکومت له ترکو
وتلی دي.

ترلي زمری : وايي د تا ترلي زمری مې ليدلی ګواکې د تا توريالی سړی
مې لېدلی دی يا ترلي زمری دې راخوسې کړه يا په هغو ترليو
زمريو به هېڅ توره و نه کړې. يا حکومتي ترلي زمري.

ترنې : په دې خبره دې قامونو تر مينځه ترنې کېدې يا د قومونو تر
منځه په هغه باره کې ترنې وشوې. يا د حکومتونو ترنې.

تريسمار : دا خبره زيات وختونه د ترك ځای نيسي لکه د دې چارې له
امله په خلکو ډېر تريسمار تېر شو، يا هغه سخت تريسمار و
چې په موږ تېر شو. يا هغه غواړي چې حکومت له تريسمار
سره مخ کړي يا تريسمار پرې راولي.

تس کدو : وايي په تس کدو ده (دی)، يا تس (تش) کدو له ځانه مه جوړوه.

تغیره : زه چې داسې خبر وی چې ته په دې چاره دومره تغیر کېږې ما
په نه کوله یا پ د پ خبرو یا کړو وړو تغیره کړ.

تغنول : وایي په دې پوړنده کې پ بلینده وتغنوله یا په دې چاره کې پ
(غ....) وتغناوه، یا په دې چاره کې پ لاس وتغناوه څکه داسې
خراپه شوه یا چې ته ورخبرېدې هغه لاس کې تغنولي وو یا پ
د جواري وګی سوتکه (تانته) په اور کې وتغنوله یا یې پلانۍ
ښځه یا سړی په څمکه وتغنول. یا سپئ سپي وتغناوو.

تکړه : پ تکړه سړی ده یا تکړه شه یا ولې تکړه کېږې نه.

تکه : دا تکی د هغه چا لپاره یادېږي چې د شهواني غریضې نښې
نښانې پکې ښکاره کېږي وایې پ سړی ډېر تکه ده یا تکه
راته ښکاره شو یا تکه غیني دي یا مونږ ویلي شو چې هغه د
بد لمنو تکه و تولي دي.

تکیه : لکه د پ زوی یا ورور مړ ده (دی)، خلک تکیه ورکوي یا پ د
تکیې ځای نه لري یا پ هغې چارې ته تکیه کړې یا پ د
تکیې سړی نه ده (دی)، چې تکیه درکړې یا پ د پ خبرې ته
تکیه ورکوي یا د پ تکیه پ دې یا دا دعا چې وایې خدای
دې تکیه در کړي یا د پ زړه هغې خبرې یا بل شي ته تکیه
ده. یا سیاسي ډلې تکیه لري.

تګی (تړی) : وایي پ دې چارې ته ډېر تګی (تږی) ده یا هغې خبرې ته تګی
ده (دی) یا به ورته تګی شي یا د پ مرګ ته تګی ده (دی)، یا
یې ورکې ته تګی ده یا یې لیدو ته تګی ده.

تګی له اوبو پورې ایستل : پ سړی یا ښځه ډېره چلناکه ده تګی له اوبو
پورې باسي یا هغه ډېرچلناك دی، یا یې د هغې خبرې یا
چارې په پاره کې خلك تږي له اوبو پورې ایستل. یا تګي بم
(به مو) له اوبو پورې باسي. یا سیاسي ډلګي خلك تګي له
اوبو تیروي.

تلولی : لکه پ خبره کوله په خبرو کې تلولی شو یا هغې چارې ته
تلولئ شو یا څه یې پورته کول تلولی شو یا تلولی تلولی
وګرځېده یا ځینې خلك چې د لوی‌سړي مخې ته ورشي تلولی
تلولی کېږي. یا حکومت اوسیاسي ډلې په خپلو چارو کې
تلولي شوي.

تلې ولې : وايي د پير صاحب رنګ ته څوك قـه شي كتى ستر ګې پرې تلې ولې كېږي يا مې ستر ګې پرې تلې ولې شوې يا لـه لوږې مې ستر ګې تلې ولې كېږي. يا حكومتي تلي ولي چاري.

تلغ : لكه د مېز مخ ښوى تلغ ده (دى)، د هغه لوښي مخ تلغ ده (دى)، يا پ ښوى تلغ پروت ده (دى).

تلېسم : ويل څه تلېسم دې رابانديې وكړ يانې څه سحر (جادو) يا كوډې دربانديې وكړې، يا پ په هغه باره كې په پ باندې داسې تلېسم وكړ. يا د حكومت او سياسي ډلو تليسم.

تلی و تندی وهل : لكه بې وسه وم ډېر تلی و تندی مې ووهل، يا پ ډېر تلی و تندی ووهل خو لا تر اوسه پورې خوار و زار ګرځي يا ډېر تلی و تندی مه وهه، خواري مه كوه. يا حكومت له دغه امله تلي و تندي وهي.

تمامه : د پ نوره روزي تمامه وه، يا چې تمامه يې نه شي هغه نه مري يا پ ډېر ښه سړى يا ښه ښځه ده نوره پې تمامه ده هره يوه پې تمامه ده. يا د حكومت په ښو يا بدو چارو تمامه ده.

تمبلي : په دې تمبلۍ كې خو پ ښخ و، نور يې ورسره ښخ كړه يا ورسره ويې نښول يا په دې تمبلۍ كې نور مه در سره نښلوه يا دا چاره يا خبره دې سر يېښو تمبلې ده ډېر خلك به پكې ونښلي يا په هغه چاره خبره تمبلې كې پ ولاړ وو نور يې ورګډ كړل. يا حكومت او ډلګي په اقتصادي تمبلي كي ښخ شوي دي.

تمكه : لكه هغې چارې ته پ تمكه نه شې كولی يا هغې خبرې ته د چا تمكه كېده يا د پ خبرو ته څوك تمكه نه شي كولی.

تمه سنګ : پ خبره ورته وكړه د هغه په خبره پورې يې تمه سنګ وكړ ګواكې خندى يې پورې وكړ يا د خلكو په خبرو پورې تمه سنګ مه كوه يا كوم كار چې خلك كوي ته تمه سنګ پورې كوې، يا پ دخلكو په مال الواد (اولاد) پورې تمه سنګ كوي.

تمبه ول : پ خپل دوښمن ږ ه شا وتمباوه، يا ته چا نه وې تمبولی ولې زه به دې وتمبوم يا ته چې و نه تمبېږې بله نه كېږي.

تن : د ښځنه يا نارينه وروستي او لومړي لمنې ته تن وائي لكه وروستي تن يا لومړي تن ولې دغه تكي په ډېرو ځايونو كې پكاريږي لكه پ هيچا ته تن نه ګدې يا په خبرو او چارو كې چا ته تن نه ګدي يا په هغه بيلبره كې پ پ ته تن نه ږدي يا

د هغه مرستې ته تن نه ږدي منې نه يې ورکوي يا حکومت هغه ډلې يا د خلکو غوښتنو ته تن نه ږدي.

تند روبي : لکه د وچې صار ډېر تند روبي وي وبوله چوست متې وچته او چسپانده وي يا پ ډېر تند روبي دي تند روبي تند روبي گرزي يا د هغه تند روبي متې او گړندي سياسي چلند.

تنګڅه : پ په پ ډېره تنګڅه راورستلې ده يا له کومه لوري دربانډې تنګڅه وه يا پ ډېرې تنګڅې تېرې کړې دا پښتو لنډۍ چې وايي: دا د تنګڅې لالی مې نه يې
د ارتکې لالیه خدای به مې ساتينه.

تنګلاسی : وايي د پ په لاس کې پيسې نه شته ډېر تنګلاسی ده (دی)، يا تا سره خو پيسې وې ولې دومره تنګ لاس شوې يا تنګلاسي ډېره بده ده يا هغه تنګلاسي حکومت.

تنو لستونی: پ د پ خلپوان ده (دی)، تنو لستونی يې ده (دی)، يا تا او هغه خو سره تنو لستونی يئ سره خپل يئ: يا هغه سره نيږدي تنو لستوني شول.

تنګه تنګی : له پ سره نه پيسې شته نه يې غله شته نه يې د مال وابنه شته ډېره تنګه تنګي يې ده يا څه تنګه تنګي دې پرې راوسته يا تل تنګه تنګي نه وي.

تنګېدل : لکه پ په يخ (کرل) وبنوېده، پرې وتنګېده، ډېر بد ولوېده، يا د واورې په سر وتنګېده. يا ويلی شو چې پ له هغه املـه و تنګېده ډېر بد ولوېده. يا هغه په خپل سياسي غرور او چلند وبنوېده وتنګېده.

توبراك : د سوالګر د څنګ کڅوړې ته وايي لکه توبراك به له څنګ کړم خو د تا څپلی به سيخې نه کړم. يا له دې چارې هغه درته ښه وه چې توبراك دې له څنګ کړی وای او په خلکو ګرځېدې.

توبې : پ په پ پسې داسې توبې کول ګواکې پېغورونه يې پسې کول يا په چا پسې توبې مه کوه يا پ ته يې توبې کول يا پلانی ښځې سرې ته توبې کول. يا هغه په حکومت پسې داسې توبې کوي.

تويه : لکه پ او پ سره يوه تويه دي يا پ د پ تويه ده (دی) وښيه د هغه خپلوان ده (دی).

توپير : وايي پ د ښه او بد شي په منځ کې توپير نه شي کولی يا د دې بيې او د دې بې په منځ کې ډېر توپير ده (دی).

توتکه : لکه پلانی ښځه له سړیو سره دعـوې ویلې توتکـه یې ویلـه یا د پ په مرکه کې ناست و، خبرې یې کولې توتکه یې ګډوله یا له پلانی ښځې څخه کلی پکو ده (دی) له هر چا سره یې توتکه ایستلې وي. یا سیاسي ډلګي د خپلو ګټو لپاره توتکي جګي کړي.

توخ : لکه د پ تولې مېږې مړې شوې توخ یا توخـك ور پاتې نه شو چې په پندغالي کې ورته توخ وهي.

توخته : د دې غم توخته څوك نه لري یا پ ډېر بې توختې ده (دی)، یا ته چې هلته لې درېدلی وې توخته دې کړې وی (وای) یا زه دغومره توخته نه لرم. یا په دغه اړه حکومت بې توختي شوي دي.

توخمې تېکار : د پ قوم توخمې تېکار شوي ده په بېلا بېلو خایو کې پراته دي یو په بل نه دي خبر توخمې تېکار دی یا دا شی د توخمي تېکار وچاوه، یا بوس باد یو وړه توخمي تېکار یې کړه یا خلك سره توخمې تېکار شوه یو یو شوه.

توخېك : د دې نوم په یادولو کې ځینې خلك حیا کوي وایي موږ دا چاره نه کوله خو په تا کې توخېك ښوربده چې کوم یې یا په تا کې توخېك وو چې کوم یې یا که په تا کې توخېك نه وی دا جنګ به ولې کېده یا دا چې د پ په (کوته) کې توخېك وو دا کار یې وکړ یا دا خبره یې وکړه. یا هغه غواړي چې په حکومتي چارو کي توخېك پیدا کړي.

توده : وایي دا خبره نن سبا ډېره توده ده لږ دې سړه شي یا پ په پ پسې دا خبره راتوده کړې ده یا نن سبا په بزار کې وریـزې (وریجي) ډېرې تودې دي یاتوله غله توده ده.

توده کی : لکه پ د هغې چارې لپاره ډېري توده کي وکړې وښیـه داسې خبرې یې وکړې چې خلك یې پې ورګرمول، یا یې توده کي کولې تلوار یې کا، یا پ ته تاوان ورغلی و توده کی یې کولې یا یې په هغه ښلبره کې ډېرې توده کي وکړې.

توده کی ورته سړل : پ د پ خبره یا کار نه خلاصوي په نن سبا یې غلطوي هلته وهلته یې لېږي هسې توده کي ورته سړي یا دا چاره یې خلاصه کړه توده کي مه ورته سړه یا پ قوم بې انتیپاخه که توده کی یې ورته وشړلې. یا حکومت وګړګونه په توده کي تیر باسي.

توده یې له تبې تبنتوي : دا خبره د هغه چا په باره کې کېږي چې يوې چارې ته صبر نه لري وايي په هېڅ صبر نه لري توده يې له تبې تبنتوي يا توده يې مه تبنتوه سرېدو ته يې پرېږده.

تور : کومه ښځه او سړی چې بدلمني سره وکړي او خلك پرې پوه شي وايي پ سړی او پلانۍ ښځه سره تور شوه (شول) يا پ سړی په پلانۍ ښځې تور شوی ده (دی).

تور تپ تپ : لکه په بزار (بازار) کې په ګوره د مچانو تور تپ تپ وه، يا د خلکو پرې تور تپ تپ و، يا په هغه دوکان کې د خلکو تور تپ تپ و، يا په بزار کې تل د خلکو تور تپ تپ وي، يا په پ د خلکو تور تپ تپ شو، پرې راتول شول يا په مړه مال د مرغانو تور تپ تپ و. يا سياسي ډلګيو د بيا ټاکنو لپاره تور تپ تپ جوړ کړي دي.

تور تلب : دا چاره د پ په وس کې نه شته هسې تور تلب ورته سوځي، يا پ پ ته مخامخ ډېره بده خبره وکړه د هغه په وس کې هېڅ هم نه وو هسې تور تلب ورته وسو يا ولې تور تلب سوزې يا نامناسبو چارو ته سړی تور تلب سوځي.

تور حلقي : پ چې ښېرا درته وکړي سخته ښېرا يې لګېږي ډېر تور حلقی ده (دی) د تور حلقيو خلکو ازار مه وړه.

تورديګی له منځه تېرېدل : وايي د پ او پ ډېر بد سره ايسي چا يې له منځه تور ډېګی تېر کړی ده (دی). يا د ا بيلبره د دوي ترمنځ تور ديګي شوه.

تورسري : ګواکي ښځې يا ښځمنې.

تورغوبل : وايي په بزار کې ګڼه ګونه وه، خلکو تورغوبل جوړ کړی وو يا دا ښځو يا خلکو څه تور غوبل اچولی ده سره اوري را اوري

تور ليکي : وايي دا هغه اصيل پښتون ده (دی) چې په سر کې يې توري ليکي دي يا دا تور ليکي کريانې ده يا تور ليکي غلجی ده يا په تاستو خلکو کې يو پ تورليکي ده ګواکي اصيل ده يا په قوم کې پ خان تور ليکي بولي.

تورمخ : وايي پ د ډېرو په وره کې په سوال تور مخ ودرېده پ له ب سره بد کړي دي په هغه پورې يې مخ تور ده يا دا ښېرا چې وايي خدای دې تور مخی را وويڼه يا د خدای له پ سره مخ تور کړه، يا پ پ ته تور مخ ورغی.

تورو په سپین اړول : هغه درته وایي دا چاره نه شم کولی ته ورته وایي کولی یې شې دا ده و ها ده په تور او سپین یې لکه مړ مار اړوي، یا په هره خبره کې سرې په تور او سپین اړوې یا دا خبره هسې هم نه منې خو په تور او سپین یې اړوم.

تور و شین : د له ډېرې غوسې تور و شین سره واوښته یا ولې تور و شین سره واوښتې تور و شین مه اوړه یا له ډېرو وهلو سره تور و شین واوښته یا له ډېره خپګانه تور و شین سره اوښته.

توره په کیتې کې کړپول : د هم توره په کېتي کې کړه په وې چې کله به یې وباسي یا د ته توره په کېتي کې کړپوې یا ولې توره په کېتې کې راته کړپوې؟ یا حکومت او سیاسي ډلې توري په کیتې کي سره کړپوي.

توره تېښته : وایي د د له د توره تېښته ده یا له بدو چارو د د توره تېښته ده، یا له روژې او لمانځه د د توره تېښته ده.

توره خلول : لکه د هغه چاره وکړه توره یې وځلوله یا یې ورته لوری سره ښې خبرې وکړې ویې ځلوله یا یې نوې (تیون) کار وکړ توره یې وځلوله یا یې له د سره دا کړه وړه وکړه توره یې وځلوله.

توره کتو له منځه تېرېدل : وایي د او د سره بد دي چا یې له منځه توره کتو تېره کړې ده یا په هغه باره کې د د او د له منځه توره کتو تېره شوې ده یا که یوازې توره کتو یاده کړو وایي تور زړه په توره کتو سپینږي وشوه چې زړونه سره بد شي سره تور شي نو بیا په توره کتو خوږو سره ګډېږي.

توره کول : د هغه جنګ کې ډېره توره وکړه یا کومه توره دې وکړه؟ یا هېڅ توره نه شې کولی، یا توره کوه، یا یې د هغې خبرې یا چارې په باره کې توره وکړه، یا د په هغه باره کې له د سره ډېره توره وکړه. یا حکومت او سیاسي ډلو توره وکړه.

توره یې په سر ځړول : د د په سر یې توره ځړولې یا توره پرې ځوړنده ده، یا توره مه پرې ځړوه. یا په حکومت او سیاسي ډله باندي له دغه املم توره را ځوړنده دي.

توري : د ډېر توری انسان ده (دی)، یا توری شوی یا د له خپله قومه توری ده یا ولې را څخه توری یې چې لرې لرې را څخه ګرځي یا په له هغې چارې یا خبرې را ایسته توری شو.

توري تومبې : په هغه خبره د قومونو تر منځ ناستې توري تومبې دي یا په وړه خبره مو قومونه سره اړولي دي، توري تومبې مو جوړې

کړي دي يالـه دي خـبرې څخـه بـه بلـوا جـوړه شـي، دا تـورې و تومبې رنګې کړئ يا هر وخت د دې قوم پـه منـځ کـې خـبرې وي تـورې وتومبـې يـې وي. يـا واکمـن غـوارې چـې تـوري تومبـې رنګې کړي.

تـورې خـاورې پـه لاس کـې سـره زر : پ داسـې ګټـالی ده (دی) چـې تـورې خـاورې يـې پـه لاس کـې سـره زره کـېږي يـا دا دعـا چـې وايـي: خدای دې تورې خاورې پـه لاس کـې سـره زر کـړه.

تورې وسپيني : وايي لـه ما سـره تـورې وسـپيني مـه کـوه زه تـورو سـپينو تـه نـه يـم خوسـی (وزګار)، يـا تـه هـره ورځ تـورې وسـپيني کـوې، يـا دلتـه تورې سپيني مه کوه چې تـا وويـل مـا وويـل يـا تـا وکـړه مـا وکړه يـا د دې خبرې توره سـپينه وکـړه.

تـورې شـپې خوړلـې : پ د شـپې چـا وژلـی تـورې شـپې وخـوړ د دې مدعـي نـه پيـدا کـېږي دا تـورې شـپې خوړلـی ده (دی) يـا ډېرې تـورې شـپې وخواړه. يا هغـه تورې شـپې خوړلـې حکومـت.

توزی : د پ داسې نبغـه خوانـي ده لکـه تـوزی يـا نـبغ جـګ ده لکـه تـوزی يـا توزی توزی کـېږي. يـا د هغـه توزي ادبـي او سياسـي چلنـد.

توس : د سـپي د سـپمو (سـپږمو) هغـې سـاه تـه وايـي چـې د خـوړو او بـل شـي بـوی پـرې پـېژنـي، سـپی کلـه کلـه پورتـه تيمبـوزی نيسـي تـوس کـاږي او کلـه کلـه د ځمکـې لـور تـه تـوس کـاږي تـوس بيـا ډېر ځای يـادېږي لکـه پ پـه هغـه ښځه پسـې ډېر تـوس وښکـه يـا يې د پ مـال او دولت تـه تـوس ښکـه يا پـه بـدو خـبرو پسـې تـوس کـاږي يـا پـه پ پسـې لـه اخر تـوس کـاږي پـه دې تمـه چـې څه بـه راواچوي يـا خوړو تـه تـوس کـاږي. يـا د واکمنـو تـوس.

تو وس : کلـه چـې لنـګه غـوا، اوښه، مـېږ او وزه څښتـن وچـوي يـوه ورځ وروسـته دوه ورځې وروسـته تـر څو وچـه شـي، هغـو پيـو تـه د تـووس پـی (شـيدې) وايـي لکـه تـووس مـې يـې ويوسـته يـا يـې تـووس وباسـه، کـه دا شـودې تـرې و نـه ايسـتی شـي بيـا د مـال غـولانـخ توسـېږي وايـي وتوسـېده دا خبره بيـا داسـې هم کـېږي، وايـي: پ هغـې چـارې يـا خـبرې تـه وتوسـېده. يـا د شـوندو توسيدل يا حکومت ځينو چـارو تـه تـګي توسـيدلي يـا هيـواد لـه وسلو ډك توسـيدلي.

توسله : د پ دې خوړو تـه توسـله ده يـا يـې د دې خبرې خلاصـېدو تـه ډېره توسـله ده يـا يـې اورېدو تـه ډېره توسـله ده يـا پـه دې چـارو د ده

توسـله نـه مـاتېږي. دلتـه توسـله د تلوسـي ځاي نيسـي داسـي جوتيـږي چـي توسـله د تـوس څخـه او تلوسـه د تـل څخـه اخيسـتل شـوي وي.

توسن : هغـه تمـام عمـر تـوس ښکلـی هغـه توسـن ده (دی).

توش : ورسو (ورشو) ډېره لغـړه ده هسـې مـال پـرې تـوش ده، يـا د پسـرلي شـينکنډی لګېدلـی مـېږې وزې (مـال) پـرې تـوش ده، يـا دا چـې ويـل يـې لـه ښځې سـره د کـار روان ده؟ وايـي سـره تـوش يـو، يـا پ او ښځه يـې سـره تـوش دي. يـا هغـه غـواړي چـې حکومـت تـوش يـا بوخت وسـاتي.

توشېل : لکـه د کونـډې غـوټه چـې را وتوشـېږي د عمرونـو شـيان پکـې پيـدا کولـی شي يا غـوټه را وتوشـېږه هغـه شـی پکـې پيـدا کـړه، يـا کـور يـې وتوشـپه يـا د هغـه د زړه غـوټه را وتوشـپه يـا دوکـان (اټی) غلـو توشـپلي ده ښه شـی يـې تـرې وړی. يـا حکومـت توشـپنه کـوي.

توشول : پ لـه پ سره دوښمني نـه کـوي خـو خلـك يـې ورتوشـوي، يـا تـه چـا ورتوشولی يې، يا پ خلك هغـه چـارې تـه ورتوشـوي.

توغ : لکـه پ بنـدي شـوی، خپلـه ګونـا يـې تـوغ کـړه، يـا د پ حـال او دولت يې خوړلي وو، ببرتـه يـې تـرې واخيسـت تـرې تـوغ يـې کـه (کـړ)، يـا کـه څوك لـه مـور او پـلا سـره بـد وکـړي پـه ژونـد يـا پـه مـرګ بـه يـې تـوغ کـړي. يـا هغـوي غـواړي چـې د خلکـو شـته ملـي تـري تـوغ کـړي.

توغمه : پـه پ بـاندې هغـه خبره ډېره بـده ولـګېده توغمـه يـې پـرې وکـړه يـا توغمـه مـه کـوه يـا پ پـه هغـه چاره کې توغمـه وکـړه.

توغمه ګی : دا نـوم هغـه چـا تـه يـادېږي چـې پـه نـاڅه خبره سـخته (رټه) او بـې بريـده غوسـه کـوي وايـي دا هـم توغمـه ګی ده، يـا پ توغمـه ګی دی. يـا د هغـه توغمـه ګي سياسـت او ډلـه.

نو کړي لاړي : وايـي هغـه چـاره اوس شـوې ده چـې هـر څه شـوي وي هغـه شـوي توکـړي لاړې ببرتـه نـه راپورتـه کـېږي يـا دا خـبره اوس لـه خولـې وتلې توکړي لاړې نـه راخيسـتل کـېږي.

. ګل : وايـي لـه دې ونـې څخـه پـاڼې پـه لاس را وتـوګه يـا يـې پـاڼې تـرې توګلـې يـا بـې غـوښې توګلـې مـخ يـې ده (دی)، يـا پ ناروغـه و غـوښې يې توګلـې دي، يـا سـخت (رټ) غـم پـرې تـېر شـوی د مـخ

غوښې يې توګلې دي يا لـه هـدوكو څخـه غـوښـه تـوګل شـوې ده
پ د قـوم غـوښې توګلې. تـوګل يـا تـورړل.

تول : پـه اصـل كـې تـول هغـه تـګ تـه وايـي چې نـه منـډه وي او نـه ډېر ورو وي لكـه پ لـه دوښمـن څخـه وتولـېده يـا يـې د هغـې خـبرې لـه اورېدو وروسـته تول واخيسـته يـا د تربګښنت لـه خبرو پـه تـول ولاړ يـا هلتـه جنګ و، هغـه پـه تـول خان ويوسـته.

تول بول د وړيو : د پ تـول بـول د وړيـو ده يـا دا ښېرا چې وايـي تـول بـول دې د وړيـو شـه يـا د هغـې چـارې يـا خبرې لـه املـه د پ تـول و بـول د وړيو شه يـا هغـه بې تولـه بې بولـه واكمني او ډلـې.

تول پك : هغـه كوچني (وړوكي) تـه تولپـك يـادوي چـې مېرانـې نـه وي وهلـې ګواكـي نابالغـه تولپـك بولـي، لـه تولپكـي سـره پـه تـړون وايـي اوس تـه هم لـوی شـوې ښه تولپكې دې نـه وه ګواكـي پـه تولپكـې كـې ضـرري وي يـا ښه تولپـك نـه وې يـا لـه تولپكـې او تـر اوسـه پورې د خـوی بـدل نـه كـړ هغـه د تولپكـی خـوی كـوي يـا تولپـك بـه داسې كـار و نـه كـړي لكـه تـه يې چې كـوي.

تومنه : وايـي دا د پ كورنـۍ يـا اولاده ده د هغـه تومنـه ده يـا د پ ډېره خراپـه تومنـه ده، يـا دا هغـه تومنـه ده چې اغـه او هغـه چـارې يـې كـړې وې. د مسـتو جوړولـو لپـاره لـږ مسـتې يـا تـروې چـې شـودو تـه ور اچـول كيـږي هغـه تـه تومنـه يـا مايـه وايـي همدغـه وړ ويلـي شـو چـې دغـه د هغـې سياسـي نظـري تومنـه دې.

تونډكونه : دا ډېر كالـه كـېږي چـې پ تونډكونـه خـوري، يـا پـه دې چـاره كـې يـې تونـډك خوړلـي يـا چـې دا چـارې كـوي ډېر تونډكونـه بـه وخـوري يـا پـه دې خبره كـې يـې تونـډك وواهـه يـا دې چـارې تـه بيـدار شـه ګوره چې تونـډك و نـه وهـې يـا د هغـې چـارې يـا خبرې لـه املـه تونډكونـه خـوري. يـا حكومـت او سياسـي ډلـې تونډكونـه خـوري.

تونـدي ترخـي : د پ او پ تـر منـځـه ډېرې تونـدې ترخـې خـبرې وشـوې يـا دومـره تونـدې و ترخې خبرې ولـې سـره كـوئ.

توني : وايـي د پ سـرې يـا ښځې ډېره ښه تـوني وه، وينـې د بـدن د جـوړښت لـه پلـوه يـې ښه تـوني وه يـا د پ تـوني ښه تـوني ده خـو اخـلاق نـه لـري. تـوني يـو سـيپټي نـوم دي همدغـه وړ تـوني حكومتونـه او سياسـي ډلـې.

تو ونی : په کوم لوښي کې چې یو وار (یونکرې) نینیې پخې شي هغه تـه یو تونی وایي وینې یوه پختن نینو ته یو توونی وایي.
توه گم : وایي دا خبره به اخر توگم (تورم) وکړي یا هغې خبرې ایله بیله اوس توگم (تورم ، بوی) وکړ، یا د مرداري توگم خي.
تویې تلل : د کال کړې خواري، د تویي ولاړه یا دا دومره خواري مې تویې مه وله یا د ما خواري دې ولې تویې بوتله، یا ټوله خواري دې تویې تللې ده، یا پ د پ خواره اوبه تویې ولاړ، یا یې په هغه باره کې چې څه کړي وو هغه تویې ولاړ یا هغه حکومتي خبري تونې ولاړې.
تویې پرې رغړول : وایي د پ او پ په منځ کې خبره وه خلکو سره الاوسا کړه په خبره یې تویې ور ورغړاوه یا په هغه چاره اوس تویې ورغښت یا تویې مه پرې رغړوه یا پ په خبره یا معاملو تویې رغړوي. یا حکومتونه تل په خپلو ژمنو تونې رغړوي.
تیبون تړل : پ او پ د دې لپاره راغلي دي چې د هغې خبرې یو تیبون وتړي یا دې چارې یا خبرې ته تیبون تړل کیږي.
تیپ تیپ : لکه په لار کې تیپ تیپ موټر ولاړ و، یا هلته تیپ تیپ خلك ولاړ وو، یا تیپ تیپ خلك روان وو. یا تیپ تیپ پنډوو.
تیت : د پ قوم یو او بل ځای تیت پروت ده یا ولې سره تیت شوي دي، یا ورکه شوې خلك پسې تیت شوي دي.
تیخوری : وایي پ داسې چارې کوي چې تیخوری به یې هم و نه کړي یا تیخوری خو نه وې چې دا کار دې کاوه، یا دا چې وایي چې سپین سری شي هغه تیخوری شي یا د تیخورې چارې مه کوه. یا د تیخوریو حکومتونه.
تیر تیر غړېدل : پ د خلکو په منځ کې ناست وو ډېر تېر تېر غړېده یا پ ته تېر تېر وغړېده یا دومره تیر تیر مه غړېږه.
• تېر و زیات ویل : وایي پ چیتې سړی یا ښځه ده، تېرو زیات وایي یا بې واکه ده تېر و زیات غړېږي یا تېر و زیات مه وایه.
تېرونی : لکه د پ په کور کې پ ډېر تېرونی ده (دی)، وړاندې تېرېږي یا پ د ټولو کلیوالو په زړه کې ځای لري ورتېرونی ده (دی)، یا پ له خانه تېرونی جوړ کړی، کنه دومره تېرونی نه ده.
تېره : وایي پ ډېر تېره سړی ده (دی)، یا تېره تیره وغړېده، یا لږ تېره سه، یا پ له خایه تېره نه ده (دی) یا دامتل چې وایي: ازغي (اغزي) چې له خایه تېره نه وي بیا نه تېره کېږي.

تېر و تمامه : وايي ﭗ څه تېر و تمامه درسره کړې ده؟ يا هېڅ تـه ، تمامه بـه ځوك درسره و نه کړي يا پـه هغـه بـاره کـي ﭗ لـه ﭗ سـر : سـېر و تمامه وکـړه. يـا د حکومـت او سياسـي ډلـو تـيري وتمـامي بيخـي ډيري شـوي.

تيز پسي برګ مزي : وايي ﭗ ډېر بد کار وکړ تيز يې واچاوه بـرګ مـزي پسـي پوري، ګواکي پـه بد کـار پسـې يې نور نور بد وکـړه، بـرګ مـزي پسـې پوري، لکه ﭗ ورور زوی مـړ کـړ تـيز يـې وچـاوه بـرګ مـزي پسـې پـوري.

تېزل : ﭗ لـه ﭗ سره اسپه تيزې چې د ميدان سـر تـه بـه کـوم يـو زر ووزي يـا ميـدان بـه کـوم يـو وګټـي يـا خلکـو خبرې سـره کولـي ﭗ هـم خبرې کې ور وکړې، کـی وروي تيز لـه يـا مـور خبره سـره کـوو تـا هـم کـی راوتيزلـه يـا ﭗ يې پـه هر مجلس کې تـيزي.

تېغنه پسي رغړول : تېغنـه پـه يـو چـا پسـې لـه اخره رغـړول سپېره او بـد شـاګومه ګڼل کـېږي نـو کلـه چـې يـو ځوك لـه کـوره ووزي يـا پـه سـفر ولاړ شـي يـا لـه يـوه کـاره ځنـې ګوښه شـي نـو د هغـه د بـتـه کولـو لپـاره پـه هغـه پسـي تيغنـه رغـړول کـېږي، لکـه: پـه ﭗ پسـي تېغنـه ورغـړوئ چې خدای يې بيـا لـه دېکاره ور نـه ولـي يـا تېغنـه پسـي ورغـړوی ډېره ښه ده چـې ورك شـه (شـو)، لـه دې کـاره ګوښه او لـرې شـو يـا تېغنـه پسـې ورغـړوئ چـې خـدای يـې ژونـدی را نـه ولـي، وشوه تېغنه پسـې ورغړوئ چـې د بدمرغيـو ښکـار شـي.

تيکير : لکـه ﭗ لـه ﭗ سره پخـوا بـد کـړي اوس پـه هـر کـار کـې تيکـير ورسـره کـوي يـا ﭗ د ﭗ او ﭗ لـه مينـځه تيکـير کـوي يـا پـه هغـه بـاره کـې ﭗ تيکـير کـړی ده (دی).

تيـګي (تيـږي) ټکـول : وايـي پـه ډېر شيطان سـړی يـا ښځه ده، د خلکـو پـه منـځ کې تيـګي (تيـږي) ټکوي يـا د خلکـو پـه منـځ کې تيـږې مـه ټکـوه يـا هغـه تيـګي پکـي وټکولې. يـا دا سياسـي ټکونـي يـا تيـګي ټکونـي دي.

تيـګې اړوي لـړم تر لاندې غـواړي : وايـي ﭗ خان تکړه سـړی بولـي خـو لـه داسـې سـړي سره يـې سـر و کـار شـو چـې هغـه هـم تيـګي (تيـږي) اړوي لـړم تـري لاندې غـواړي، يـا ﭗ سـړی يـا ښځه تيـګي اړوي لـړم تري لاندې غـواړي. يـا حکومـت يـا هغـه ډلـه تيـګي اړوي لـړم تـر لاندي غـواړي.

**تیگه پرې کېښودل** : پ پ تـه وویـل چې پـه دې خبره بـه درنـده تیـګه کـېږدو، بیـا بـه یې نـه سره یادوو یـا پـه دې خبره درنـده تیـګه کـېږده، چې بیـا یې یـاده نـه کړي یـا پـه هغـه چاره مو درنـده تیږه کـېښوده.

تیلو : کله چې وری یا سېرلی مـور بـې وختـه روی لـه مېږي یـا وزې څخـه د بچـي (الـواد - اولاد) د ایسـارولو لپـاره د مـور لــه تــي څخــه یــې لومړی څېره بیا برسېره (سربېره) تـار یـا سنی پرې تـاووي، لپـاره د دې بچې تـه لـه تي څخـه شـودې ور و نـه وځي، هغـه تـه تیلـو وایـي پـه تیلـو کـې ځینـې شـپانـه اوږده دوریـو کلوښتـه هـم ورکـوي دا د دې لپـاره چـې وری یـا سـېرلی د مـور تــی پــه خولــه کــې ونیســي دا کلوښتـه یې تالو تـه تېره شي پـه تالو یې هغـه کلوښتـه بـده لګي بیـا د مـور تی نـه نیسي یـا نـه ئـي رویـي، لـه تیلـو سره پـه ارتبـاط وایـي: داسـې تیلوګی خولـه دې ده، خولـه تیلـو تیلـو مـه کـوه، یـا پ داســې غـرېږي لکـه خولـه یـې چې تیلـو وي. تیلـو بیـا پـه ډېـرو وینـاوو کــې کـارولي شو لکـه حکومتي لوري هـر څه تیلـو کړي.

تیمبوزی : وایـي د پ تیمبـوزی ډېر جـګ ده (دی)، داسـې خـبرو یــا چـارو تــه د هغــه تیمبــوزی نــه تیــتېږي، یــا پ ډېر کــبرجن ده (دی)، تیمبوزی یې ډېر جـګ ده یـا دا چې وایـي پـه داسې ښځو د هغـه تیمبـوزی نـه تیـتېږي. د څاروي یـا انسـان د سـر د مـخ لــوري خـوړښت تیمبوزي دي یـا هغـه دواړه پـه کـاږه تیمبـوزي خـبري سره کوي یـا د هغه تیمبوزي لـه هغـه املـه کـوږدي.

تیمبوزکه : هلتـه غـل و تیمبوزکـه یـې وهلـې وه یـا یـې سـاړه کـېده تیمبوزکــه یې وهلـې وه.

تیمبوزی : هلتـه سړي خان چا تـه نـه وربـېژانـده تیمبـوزی یـې وهلـې وه.

تېندول : لکــه پ د (ا.ب) ســړی ده (دی)، د پ پــور پــرې بــانـدې ده (دی)، هـره ورځ ورتـه وایـي راکـه راکـه، ډېر یـې وتینـداوه، یـا دا خـبره هـره شـېبه ورتـه کـوي پـه دې خبره د هغـه ډېر وتینـداوه، مـه یــې تیندوه، یـا یې پـه هغـه چـاره وتینـداوه. یـا د د پـټو او فرقـه یـیزو وژنـو لـه املـه هغـه حکومـت او خلـك تینـدوي.

تینګ : دا نـوم هغــه شـي تــه یـاد شـوی ده (دی) چې پـه څلـور کسـو بـه یـې مړی لـه یـوه ځایـه بـل ځای تـه کې اوړ. لکـه تینـګ وتـړی یـا تنـګ سـبت او جـوړ کـړی تینـګ پـه څلـورو لرګیـو او رسـی (پـړي) جوړېږي. یـا لکـه نن وخـت ومنـان چې کلـه کلـه فوځیـان لـه ځانـه سره تیګولـه ګرزوي

تی وهل : کله چې تندي څلور بول د مور تي په خوله کې ونيسي او شيدې پکې کمې شي نو د شودو د زياتولو لپاره د مور تي په تيمبوزی وهي په دې ارتباط وايي پ د پ تی ډېر پورته وواهه خو هېڅ شودې (شيدې) نه پرې را پرېږدي يا يې تی وهي يا دا چې پ د پ تی ډېر را کش کړ خو شودې نه ورکوي. يا خوار ځواکي هيوادونه تل د مړو او بډايو حکومتونو تي بيا بيا وهي چې منې شودې يا پی به راکړي.

# ټ

ټاپ : لکه خلك د پ د زوی ډېر ټاپ کوي ګواکي صفت يې کوي يا د دې شي ډېر ټاپ کېږي يا د هغه ټاپ مه کوه هسې بې ځايه ټاپ يې کوي. ياهغه له دې امله دحکومتي چارو ټاپ وکړ.

ټاپې : وايي بهير چې بار کړو، يا ولېږدو خپل ټاپې ته به ځان رسو، په خپل ټاپې به اړوو يا په خپل ټاپې مې واړول.

ټاټيلي : پ او پ سره يو ټاټيلي دي يا پ هم د هغوی ټاټيلی ده (دی)، يا اوس ټول سره يو ټاټيلی دي، يا اوس ټول سره يو ټاټيلي شوي دي وښيه سره ملګري ياخپلوان دي.

ټاك : په هغه خبره کې يې په پ باندې هم ټاك ولګاوه، ګواکي تور يې پرې ولګاوه يا په دې چاره کې په خلکو ټاك مه لګوه.

ټاکو : لکه دا دارو د دې ناروغۍ شينکی ټاکو دی يا د هغې ناروغۍ لپاره هغه دوا شينکی ټاکو ده ګواکي د تورې يا خواب لپاره شينکی ټاکو ده يا دا چې د هغې چارې يا خبرې هغه ټاکو ده. ياد نړي والو چارو د سمون لپاره د يموکراسي يوښه ټاکو دي يا هغه...

ټال : پ لاد خوانۍ په ټال زنګېږي يا د زلميتوب په ټال کې مه زنګېږه اوس سپين ږيری يې، يا تا دا چاره په دي وړه کړې وه ما ويل هغه بل وړ دې کړې ده زه په هغه ټال کې تللی وم، يا تا خبرې راته کولې زما خيال نه و، درته خيال مې په بل ځای کې و، په بل ټال کې تللی وم، يا د ما خبرې ته خيال وکړه په بل ټال کې مه ځه، يا پ د پ په ټال کې زانګي يا دا خبره يا چاره يا دا شی يې ډېر ټال کړ يانې ځنډمن يې کړه، يا پ ته مه

ټال کېږه. یا وګړي د خپلو غوښتنو په ټال کې تللي وي ډلي او مشران کڅوړي ډکوي.

ټالي : یونکرې به دا سندر وګورو چې وايي:

دنیا د غم په ورځ پیدا ده
تل به د غم ټالي وهي ورانه به شینه

یا په هغه بلیبره کې پ د پ په (غ...) ټالي خوري یا به وایو چې د پ په زور پوري ټالي خوري.

ټانګۍ : د غره یوه کوچنۍ ګردې برخې ته وايي، ټانګي داسې هم یادېږي لکه: پ د دوو ښځو ځښتن شو د ټانګیو شو یا پ خود ټانګیو و. پ یې د ټانګیو که (کړ). وښیه دوه ښځې یې ورته وکړې په ټانګي ناست دی. ټانګی بیا داسې هم یادوي وايي په هغه بېلبره کې پ ټانګي ته وخوت یوه نه مني یا پ له هغه امله پ ټانګی ته وخېژاوه. یا د پ او پ سره جنګ او زړه بدی ده (دی)، پ په ټانکی ورته ناست ده (دی).

ټېرا : وايي له هغې مورچې څخه مو دوښمن ټېرا کړ یا پ قوم ټېرا کړی له یوه ځایه بل ځای ته ځي یا ولې له قومه ټېرا شوې یې چې په خپلو کې نه اوسې یا له دې ځایه خو مې ټېرا کړې له هغه ځایه به دې هم ټېرا کړم. یا هغه غواړي چې د هغه حکومت ټېرا کړي یا هغه غواړي چې هغه له سیاست څخه ټېرا کړي.

ټېس : دا د هغه خړار خاړك لوی مرغه نوم ده چې په مړزګه پسې ځي دا نوم داسې یادوي وايي په بزار (بازار) کې خلك عسکرو داسې پسې واخیسته لکه ټېسان یا عسکر به دې پسې واخلي داسې به دې ټېس کړي یا دا خلك هره ورځ پردي مړي (ډوډی) ته پند وي لکه د مرداري ټېسان یا په هغو خوړو داسې راتویه شوه لکه ټېسان یا په هغه ځای داسې راتویې شوه (شول) لکه ټېسان یا په هغه سړي داسې راتویه شوه لکه ټېسان. یا پ لاځه سړي دي هغه ټپوس.

ټېبدل : د زاړه او ناروغ تګ ته که ټېبدل وواېو بده به نه وي، لکه پ زوړ ده په لارې تلای نه شي هسې ټېبېږي یا ناروغه ده تلای نه شي، مازې ټېبېږي یا که له د خبرو تېر شو نو و به وایو چې که پ هغه چاره وکړه پ هم پسې ټېبده پسې روان و. یا دا لا ښه و چې له اخره پسې ټېبده یا پ په تګ کې ډېر ټېبدلی ده.



ACKU

ترپه پر پټول : دا خبره د هغه چا په باره کې کېږي چې يو بد (ګنده) کار تر سره کړي او د هغه کار د پټولو له پاره له هغه لا بد کار وکړي وايي پ ترپه پرپټوي يا ترپه پر نه پټېږي يا تا ترپه پر پټاوو، يا ترپه پر مه پټوه.

تکرې : وايي پ ډېرې تکرې وخوړې ګواکي وهل ټول غمونه او داسې نورې ستونزې يې ولېدې يا يې له بدخواوو سره تکرې ووهلې يا پربېږده چې ځو ورځې تکرې وخورې دې تکرې نه دې خوړلې يا دا چې له تربره سره تکرې وهي.

تکله په يوه مخ نه پخېږي : لکه پ خپله خوشالي او ګټه په نظر کې نيسي تکله په يوه مخ پخوي يو ځان په نظر کې مه نيسه تکله په يوه مخ نه پخېږي يا پ تاته اړ شو تا يې اړه و نه چلوله بيا به ته ورته اړ وې تکله په يوه مخ نه پخېږي.

تکنده غرمه : وايي خلک د شپې غلا کوي پ د تکندې غرمې غل ده په تکنده غرمه غلا کوي يا دا د تکندې غرمې غله.

تکنى : د دې خبرې منلو ته پ تيار نه و چې قوم ورته وکړه دى ډېر پرې تکنى شو اول پرې تکنى شو خو رووسته يې ومنله يا ولې په دې خبره تکنى شوې نې (نه يې) منې يا ولې په دې فيصله تکنى شوې نې منې يا په هغه چاره کې تکنى شو. يا سياسي ډلي او حکومت له دې امله تکني شو.

ټک نه وه بيا زرغون شو : لکه پرون د زوى جماعت ته ولېږه نن بيا ملا شو، ټک نه وو بيا زرغون شو يا پرون د نيال کېښود نن بيا مېوه ترې غواړې ټک نه وو بيا زرغون شو.

ټک و پترى : لکه هغه ورځ مې د سر خوګى (خوږى) دم وکړ ټکو پترى شو يا يې پ ته بڼېرا يا دعا وکړه ټکو پترى پې ولګېدې يا هغه مې په زړه ټکو پترى شوه. يا د حکومت ټکو پترې چارې

ټکه سر : وايي پ په هغه چاره کې ټکه سر وخوړ يا مېړونه چې ټکه سر و نه خورې بيا د يوې ستړې توان هم نه لري، يا د هغې چارې يا خبرې په اړه پ ته ټول قوم ټکه سر ورکه يا يې د قوم له لاسه ټکه سر وخوړ. يا حکومت غواړي چې سياسي ډلې له ټکه سر سره مخ کړي يا حکومت له دې امله ټکه سر وخوړ.

ټکېدل : دا خبره پ نه منله ډېر وټکېده يا په هغه فيصله باندې پ ډېر وټکېده خو بيا يې ومله يا ولې ټکېږې دا خبره د تالپاره هم ښه ده. يا له هغه امله سياسي ډلي ټکيږي يا وټکيدې.

**ټکی** : پ په هغـو خـبرو کـې ټکـی هـم دروغ نـه دي ويلـې يـا پ ټکـی رښتيـا نـه وايـي يـا پـه پ بـاندې خلك ټكی هغـه هـم نـه دی ګرم.

**ټکی په ټکی** : وايي پ تـه بـه تـه خـبرې وکـړې هغـه يـې ټکـی پـه ټکـی بـل تـه کـوي يـا هغـه خبره درتـه وکـړه تـا ټکـی پـه ټکـی بـل تـه وکـړه يـا پـه څه بـاره کې ټکی په ټکی ورتـه ووايـه.

**ټګ** : وايـي پ ناروغـه نـه ده (دی)، هســـې تـګي کـوي ټګ ده (دی)، يـا پ ټګي روانـه کـړې، يـا پـه ټګي يـې وطنونــه وخــواره يابــه د ټګی يې وطنونه رنـګ کـړه ډېر تـګ ده (دې)، يـا وه، تـګه.

**ټګل** : لکـه پـه هغـه شـي کـې ټکـي بـرګي يـاده شـوه وروسـته هغـه شـی (څيـز)وټګل شـويا پ ټول قـوم ټګلـی ده (دی)، يـا پ پـه هغـه بـاره کې وټګل شـو.يادلتـه حکومتـي چـاري ټولـې ټګل شـوي دي.

**ټوپ** : لکـه زوی د پـلار ټوپ تـه شـي وهلـی يـا پ د پ ټوپ وواهـه، يـا پ دنيـا يې لـور تـه بېرتـه ټوپ وهلی ده، هغـوی تـه ورتـه دي يـا پـه هغـه چـاره کې پ خپـل ټوپ تـه خـلاص نـه شـه يـا پ پ لـه ټوپـه ولـواوه، يـا پ ټوپ تـه پـرېږدئ يـا پ پـه هغـه خـبره ټوپ واچـاوه د مطلـب پـه خبره ټوپ اچوي. يـا هغـه حکومت د هغـه بـل ټوپ تـه شـي ويلـي.

**ټوپي خرل** : پ خوسې دروغ وايي هسې ټوپـی خـري يـا ټوپـې مـه خـره هـېڅ دې لـه وسـه نـه کـېږي، يـا پ داسې ټوپـې وخرلـې ګواکـي دا يـې وويـل چې هـا مې وکړه دا مې وکړه هـا بـه وکـړم دا بـه وکـرم غـورې يـې وکړې يـا پ بـل کـار نـه کوي ټولـه ورځ ټوپـي خـري يـا يـې د هغـې چارې پـه بـاره کې ټوپـې وخرلـې. يـا حکومت هسـي ټوپـي خـري.

**ټوپونه وهل** : وايـي پ دا خـبره يـا فيصلـه نـه منلـه ټوپنـه يـې ووهـل يـا ټوپنــه ولـې وهـې يـا يې خبره سبته (سمه) نه کولـه ټوپونه يې وهـل.

**ټوټکی** : لکـه پ مـلا ټوټکـی کـوي يـاخواښې پـه زوم بـاندې ټوټکـی کـړې دی يـا پ پـه پ بـاندې ټوټکـې کـړې چـې څـه ورتـه وايـي هغـه ئـې منـي يـا د پ هغـه يـوه ټوټکـه وه دا يـې بلـه ټوټکـه شـوه. يـا دا سياسـي ټوټکـي دي.

**ټوغ** : *پ ډېر ټوغ زلمـی ده يـا ټوغـه ښځه ده ګواکـي ښې ځوانـی يـې دي، دلتـه بـايد جوتـه شـي چـې پـه ټـا کـې اخلاقـي ښېګړې وي هغـه تـه هـم ټوغ ويـل کـېږي لکـه پـه ټول قـوم کـې بـل داسې ټوغ سړی نـه شـته لکـه پ يـا پلانـی. ډېره ټوغـه ښځه ده.

**ټوك پرې رول** : وايـي هغـه چې غـږېږي د پ د خوشـحاله کولـو لپـاره پـه هغـه پـورې ټوك پـرې روي يـا هغـه بـه بـې لـه دې هـم ډوډی (ټکلـه)

درکړي ټوك مه پرې روه یا پ څومره په هر چا پوري ټوك پرې کړ یا داچاره دې چې کوله په پ پورې دې ټوك پرې راړاو. یا حکومت غواړي چې د هغوي برخه غټه او ټوك یې پرې کړي.

ټول خلك یو غوږ : وایي پ غرېده ټولو خلکو غوږ ورته نیول یو یو غوږ ورته ناست و. یا حکومتي ډلي او واکمن غواړي چې هغي خبري ته خلك یو غوږ کړي.

ټول له چړې تېرول : په دې کړو وړو سره هغه خلك ټول له چړې تېر شوه یا چې له دې خلکو سره دا کړه وړه کوي له هغه دا ښه ده (دی) چې ټول له چړې تېر کړي، یا یې دا بد ورسره وکړل ټول یې له چړې تېر کړه (کړل). یا واکمن ټوله وګړ ګونده له یوي چړې تېرول غواړي.

ټولنه : قوم د دې خبرې لپاره ټولنه کوله یا ټولنه وکړه.

ټومبل : وایي پ له پ سره توره ټومبلې ده د هغه ننګه کوي یا له هغه سره توره کوي یا پ په هغه خبره ټومبلې ده.

ټونګ : پ هغه سړی د پ په ټونګ مړ کړه (کړ) یا د دوښمنو په ټونګ له هغه سره بد مه کوه یا که د تا ټونګ نه وي هغه داسې نه کوي یا هغه خبره یا چاره دهغه په ټونګ کوي. یا ډېر کارونه د سیاسي ډلو او حکومت په هڅونه یو یا ټونګ باندې کېږي یا سیاسي ټونګ.

ټونګرېل : لکه هغه ورځ سړی په بزار (بازار) کې روان و، ښځه یې وتونګریله یا له پ سره چې داسې شول دا د پ ټونګره وه وټونګرېیه چې دا کار وکړه. همدغه وړ سیاسي اقتصادي او نظامي ټونګرینې او چك لګوني.

ټیټکی : په پ باندې هغه خبره سخته (رټه) بده ولګیده، داسې ټیټکي یې وکړې، یا یې په هغه چاره ټیټګي وکړې.

ټیټې واسکی : په پ باندې د خپل عمر په اوږدو کې ډېرې ټیټې واسکې تېرې شوې یا ډېرې ټیټې یې ولیدې، یا د هغې چارې په باره کې دې ډېرې ټیټې واسکې په مخ کې دي.

ټیټې اوبه چکل (څښل) : وایي پ کله له پ څخه ټیټې اوبه چکې یا ټول عمر پ له چا څخه ټیټې اوبه نه دې چکلې.

ټیټه پیټه : په چېرې وختو نو خود پ او پ ډېره ملګرتیا وه سره ټیټه پیټه یې وه ډېره ټیټه پیټه یې سره کوله یا له هغه سره دومره اشنایي مه کوه دومره ټیټه پیټه مه ورسره کوه یا د هغې

چارې لپاره يې سره ټيټه پيټه ده. يا د حکومتونو او سياسي ډلو تر منځه ټيټه پيټه.

تيټه ويل : پ يې پ ته ډېره ټيټه وايي يا دې چارې ته يې ټيټه مه وايه هغه يې درته کوي يا چې لښکر لرې جنګ ته يې ټيټه مه وايه يا پيسو ته ټيټه مه وايه. يا هغه هر چا ته ټيټه غاړه وړي.

تيسره : ګواکي تا نه لکه پ په هغه چاره يا خبره پ ته تا نه تيسره ورکړه يا دې ډېرو خلکو زمنو ښځې وتښتولې ته پ ته دا تيسره مه ورکوه چې د تا زوی ښځه وتښتوله.

تيغ : لومړی دا ښيرا چې وايي خدای دې د هستی تيغ نه درباندې کارې، يا دا چې وايي دا کارونه چې د تا وي د مړي خېټې تيغ به و نه کاږي يا پ ټول عمر تيغ و نه ښکه.

تيکی : تيکی دوه ځايه يادېږي لکه پ سړی يا ښځه له ژړا تيکی شوه يا تيکی تيکی کېږي، بل دا چې د يوي او بلې سندرې څوك سره بيا کوي هغه ته تيکی وايي يا که د سندرې اخر ته څوك بدلون ورکوي هغه ته تيکی وايي. يا د هغه له لوري دا يوه سياسي تيکی وه.

تيکه : لکه په سخته غورمه (ګرمی)کې او رته د چا تيکه نه کېږي يا داسې چارې يا خبرې ته د چا تيکه نه کېږي يا د پ خبروته څوك تيکه نه شي کولی يا په هغه ځای کې د پ تيکه نه کېږي يا د پ تيکه نه شته، پ يې تيکه وو يا دا دعا چې وايي د پ بله تيکه نه شته خدای دې تيکه شي.

تيلبه تيلبه : لکه په بزار کې سړی نښه کړی وه تيلبه تيلبه روان و، يا په سر لګېدلې و، تيلبه تيلبه روان وو لړ پاتې وه نور لوېده. يا سياسي او اقتصادي تيلبه تيلبه نظامونه خوزند وي يا تيله کولو ته اړتيا لري.

تېل ماتېل : د خوشحالی ورځ وه په بزار کې د خلکو تېل ماتېل و. يو له بله په تېل تېرېده يا خلکو تيل واهه. يا دغه يو سياسي او اقتصادي تيل ما تيل دي.

تينګ تن : لکه د هغې خبرې يا چارې تينګ تن يې پرې وکړ يا تينګ تن يې وکړه يا حکومت ډېر تينګ تن کاوه.

تنډ، خېټه : کومه ښځه چې واده نه وي هغې ته داسې ښېرا کېږي لکه خدای دې تنډه خېټه راووينه يا تنډ هخېټه شي يا که يو څوك کومه ښځه سپکه يادوي وايي پلانی تنډه خېټه ده ګواپه خان نيولې ده.

# ج

**جاکنه** : لکه مېږې مې ټولـه شپه وپـووې (وځرولـې) سـهار جـاکنه وي، يـا پ د ډېرو غمونـو لـه املـه جـاکنه ده (دی) يـا بـې خوبـه شـوې جـاکنه ده، يـا يـې اورګه ډېر خوړلـي جـاکنه ده يـا پ لـه ادتـه (عادتـه) جـاکنه ده.

**جال اچول** : وايـي پ پـه ټول قـوم جـال اچولـی ده (دی)، يـا پ پـه ټولـه دنيـا جال اچولـی، يـا هـڅه کـوي چـې پـه خلکـو جـال واچـوي يـا يـې د هغـې خبرې يـا چارې بـه بـاره کې پـه خلکـو جـال اچولـی ده (دی).

**جانجوګی** : وايي پ بې لاسـه بـې پـښو وړوکـی جـانجوګی سـړی ده، يـا مـېږو لـه خنديـه ميندلـې خلکـو ويـل چـې پ جـانجوګی شـی ده، هـېڅ يـې پـه وس کـې نـه کـېږي جـانجوګی دې وليـده چـې دا دا چـارې يې وکـړې.

**جب جوب** : وايي پ پـه خولـو کې جـب و جـوب و يـا پـه وينـو کـې جـب و جـوب و يـا پـه اوبـو کې ولـوېده جـب جـوب شـه.

**جب ورډکول** : د هغـې خـبرې لپـاره يـې پ تـه جـب ور ډك کـړ، يـا جـب مـه ورډکـوه، يـا تـا جب ورډك کـړی ځکـه دې تـا لپـاره خـبرې کـوي.

**جپ** : وايـي پـه لارکـې کـډې جـپ ولاړې وې يـاموټرجب جـب ولاړ وه.(و).

**جره برنګ** : دا ټکـی ډېر ځايـه يـا ديـګی لکـه پ ښځه نـه لـري جـره برنـګ ده يـا پـه سـفر کـې کـور نـه شـتـه ورسـره جـره برنـګ ده يـا جـره برنـګ ګرځي.

**جره لاسی** : لـه پ سـره وسـله نـه وه جـره لاسـی وو يـا ټول جـره لاسـي وو لـه يـوه سـره هـم پـځو تـره نـه وه.

جرېدل : لکه په مال باندې ناروغي دوه وارې بېرته راتاو شوه پې وجرېده یا پې اوړده شوه پې وجرېده یا هغه خبره د دوارو قومونو تر منځه ډېره وجرېده.

جړ : کله چې اوښې اوښان (بوده) بې له مار او ترسېري څخه په لارې له مخې روان وېي وايي بوده مې جړ را واسته یا جړ یې ولم یا تار جړ شوه یا دا خبرې جړ شوې وښيه یوه موضوع جړ شوه.

جړی : سړنی کال بران (باران) کال ده (دی)، داسې جړي دي یا ډېر بارانونه وشول څو ورځې سر په جړی شوې.

جزه ول : وايي پ خلك جزوي ګواکې خلك خوروي، یا خلك مه جزوه ډېر دي وجزول.

جسل : پ پ داسې وجاسه چې بیا به دې لورې ته هم را و نه ګوري یا په دې خبرې کې پ وجسه چې دی وجسي نور په خپله سمېږي یا ولې خلك جسي.

جکه ول : ډېر کاله وشوه چې پ له پ سره بدي وجکوله، یا پ له پ سره دا خبره ډېره وجکوله، یا دومره یې مه ورسره جکه وه ډېره دې وجکوله.

جګ : لکه پ پ ته ډېر جګ جګ وغرېده یا د پ مبال و سړي ډېر شوي جګ غرېږي یا جګ وښيه لوړ.

جګې خبرې : وايي د پ او پ تر منځه خبرې ډېرې جګې شوې، ګواکې په زوره شوې یا زوته شوې.

جګه غاړه : دا خبره په هغه چا پورې یادېږي چې قوم ته یې کوم پېغور نه وي راوړی لکه قوم ته یې څه پېغور نه ده راوړی‌ي د قوم په منځ کې جګه غاړه وړي، یا دا چې ښځې وايي په هر چا پورې مې غاړه جګه ده، یا دا ویل چې وايي: خور مرداره مور مرداره د ما یو ګز جګه غاړه.

جلب : پ زورورسړی یا ښځه ده د هغه جلب څوك نیوی شي یا د هغه جلب پ نیوی شي یا د هغه جلب د پ لاس کې ده.

جم جم : لکه جم جم د خېځې یو کار نه کوي یا په هغه چاره کې یې جم جم وکړه یا یې په هغه خبره کې جم جم وویل یا جم جم کوي خو تګ یې نه شته هسې جم جم یې خېژي.

جمل ماله : لکه پ له پ سره خبره سپینه نه کړه هسې جمل ماله یې پرې ښوده، یا هغه معامله یې جمل ماله پرې ښوده یا پ په هغه باره کې جمل جماله خبر وکړه.

جند : وايي پ په هغه خبره ډېر جند شو يا ولي په هغه خبره جند شوی يا پ ناروغه غوندې ده جند ده يا دا چې دا مال ناروغه ده جند ده يا پ په هغه چاره جند شو.

جندر : لکه مال ټول مړ شو جندر يې ووت، يا د خلکو جدر ووت يا د خلکو جندر يې ويوست.

جنګيره : پ ډېر جنګيره ده يا جنګيره جنګيره مه کېږه.

جنجالي : پ ډېر جنجالي ده يا جنجالي جنجالي مه کېږه.

جوبول : وايي پ له پ سره څو کاله بدي وجوبوله يا يې دعوی ورسره وجوبوله يا مال جوبوي، څو کاله يې مال وجوباوه يا پ ډېر خېل خانه جوبوي يا پ خيرات کړی و، ډېرو خلکو ته يې ډوډۍ ورکړه خلك يې وجوبول.

جوپي : لکه جوپې جوپې ډله خلك راغله يا دا د پ جوپه وه يا څو کاروانونه (بهيرونه) يې وکړه څو جوپې يې وکړې.

جورکی : وايي زوی او ورور چې د چا مړ شي د زړه جورکی يې پرې شي يا هغه ډېر غمونه تېر کړي د زړه جورکی يې پرې دی، يا دا چې وايي:

د زما د زړه جورکی دې پرې کړی.
د تا دې رنګ ي د زړه ګی نری برجونه.

جومات پسې جارو کول : وايي پ بدو سړي يا ښځه ده ټولو کليوالو جومات پسې جارو کړ، چې خدای يې نابود کړي يا پ په پ پسې جومات جارو کړ يا جوماتو پسې جارو کوي.

جنجوتی : وايي پ سخت (رټ) ناروغه دی داسې جنجوتی يې ده يا جنجوتی کوي.

جهان غمګين : وايي پ جهان غمګين ده د جهان غم کوي.

جيګته : په جيګته ټکی کې ښځې ته اشاره ده خو بيا جيګته ټکی ډېر څو څو نکرې (وارې) يادېږي کله په هغه باره کې پ پ جيګته که يا به يې جيګته کړي يا پ هره چاره کې پ د پ جيګته هم نه ده يا دا خبره چې وه! جيتګتی.

جيګی : وايي تربور دې په جيګيو نه پرېږدي چې زورور نه ويني يا پ پ ته زاري جيګي کوي يا په جيګيو نه خلاصېږي ژنځل کېږي.

# چ

چاپ : لکه پ ټول قوم کې یـو کـس بـد کـار وکـړ پـه ټول قـوم یـې چـاپ ولـګاوه یـا پ بد کـار وکـړ پـه خپـل ځان یـې چـاپ ولـګاوه یـا یـې پـه هغـه بـاره کې پـه قوم یـا ځان چاپ ولـګاوه یـا پـه هغـه بـاره کې پ پـه پ چاپ ولـګاوه، یـا د پ هغـه خـبره د کونـاټي چـاپ شـوه.

چاك : لکه پ د قوم یـا ورونو لـه منـځه چـاك جـوړ کـه یـا یـې د پ او پ پـه منـځ کـې چـاك واچـاوه یـا پ چـاکي ده چاکونـه اچـوي یـا پـه قـوم کې چاك پیدا شو.

چا وکـړه چاچا وکـړه : لکه پـه هغـه بـاره کې وايي چې چـا وکـړه چاچا وکـړه.

چپړې سن : پـه څه سـړی ده یـو چپـړې سـن شـی ده، یـا دا چپـړې سـن څه کـوي چې د خلکوپ ه منځ کې یـې کېښـوي.

چتر : لکـه د ګمنـځي (ارچـې) چـتر چـتر خاښونـه دي یـا پ د قـوم د سر یـا پـه سـر چـتر ده یـا د جلکـی سـر چـتر غـوټې وي، یـا یـې چـتر غـوټې جـوړې کـړې وي.

چته : وايي پ مـه غـړوئ خبرې یې پـه واك نـه دي چتـه یـې خطـا شـوې یـا پ زوړ ده خـبرې یـې سـبتې (سـمې) نـه دي، چتـه یـې خـراپـه شـوې.

چچلې : لکه پ پـه خپله هم ځان نـه مـړي مېلمانـه تـه هم خـواړه نـه ورکـوي ډېر چچلـی ده یـا هـر وخـت پـه کـور کـې پـه خـوړو اوبـو غـړېږي چچلې ده یـا دا کـور لـه چا سـره ناسـتو ولاړه نـه کـوي چچلی کـور ده.

چخې سه د چا لـه مخې شـه : ګواکي لـړ لـه چا وشـرمېږه لـږ بـل تـه وګوره بېدار تکـړه شـه.

چړ : وایي دا شی خیرن شوی چرك یې اخیستی، نور وایي پ سړی یا ښځه ډېر چرك انسان ده جنګیره ده دعوا جلبه او داسې نورې بدی دي پکې چرك ده له چرك سړی یا ښځې لرې ګرځه.

چړګه : وایي په هغه باره کې پ پ چړګه که یا یې په خبرو کې چړګه که یا یې په کارونو کې چړګه که یا دا پېغور چې وایي څره مې چړګه کړې.

چړګې سړېدل : وایي پ چا ته خواړه اوبه نه ورکوي ډېر اور نه بلوي چړګې یې سړه ده یا یې ښه وروڼه زمن نه دي چړګې یې کړه ده یا اوربلې نه لري چړګی یې سړه ده. یا دا ښېرا چې وایي چړګې دې سړه شه.

چړ : په کوم ځای کې چې اوبه توندې (مستې) ځي هغه ځای ته چړ وایي، چړ بیا ډېر ځایه یادېږي لکه پ په هغه باره کې چړ ګډ شو یا پ پ په هغه باره کې بې ګودره ګډ که، په چړ یې ګډ که یا پ ټول قوم په چړ ګډ که.

چړاپند : وایي په له خولې چړاپند ده خبرې سمې نه شي کولی یا له خولې چړاپنده ده بدې بدې خبرې یې له خولې څخه وزي یا دا خبره چې وایي ته له سینې تنګ یې او زه له خولې چړاپند یم.

چړپ : وایي پ او پ چړپ سره واچاوه، وښیه زړه بدوونکې خبرې یې سره وکړې یا پ په هغه چاره یا خبره پ ته چړپ ور واچاوه یا د پ جړپ ادت (عادت) ګرځېدلی ده هر چا ته چړپ وراچوي.

چړوس : دا تکی داسې هم کېږي وایي پ مردار خور یا ناولی چړوس انسان ده بیا دا تکی داسې هم یادوي لکه پ له پ سره چړوس چړوس کېږي یا په هغه بېلبېره کې چړوس چړوس ګرځي یا دا ویل چه وه چړوسه.

: دا نوم هغه څلور بول په تېره بیا اسپو ته یادوي چې په سترګو کې یې له بریده اپلو نښې وي یا یې سترګې کږې ورننوتلې وي یا یې په دواړو سترګو کې بېلې بېلې نښې وي که چېرته د انسان په سترګو کې داسې نښې وي یا یې د یوې سترګې کسی یو رنګ او د بلې کسی یې خبل وي هغه ته هم چغر وایي باید ښکاره کړو چې چغر نوم د هغه د سپکاوی له اخپاره یادېږي.

چغربه : لکه سپي او لېوه جغرېه سره وکړه یا د سپیو سره جنګ شو چغرېه یې سره وکړه په دې پسېره داسې هم ویل کېږي د پ او پ سره جنګ شو چې د دوی سره چغرېه شوه موږ ورغلو سره بېرته مو کړه یا د پ او پ هر وخت سره چغربه وي

چغزي : لکه پ چغزي څپلۍ (کیړې) په پښو کړې دي یا پ چغزي کور تول کړی ده یا د پ چغزي بدن یا دا کالي کور ښه ښایسته منظم چغزي تول کړه.

چغمیته : لکه پلانی ښځه چغمیته ناسته وه وښیه بې پروا ناسته وه یا پ چغمیتې چغمیتې غړېده یا یې خبرې چغمیتې دي.

چکړ : وایي پ ډېر چکړ سړی ده یا چکړه ښځه ده خلك په چکړ ګډوي یا پ پ په چکړو ورګډوي یا پ پ په چکړ ګډ که یاپ له هغه امله یا په هغه باره کې په چکړ ګډ شو یا په چکړ کې ولاړ ده نور خلك په چکړ ککړوي د یادونې وړده چې د منګلو په قوم کې د هغه وخت د خلکو په استلا د چکړ په نامه یو یاغي یا پراري تېر شوی ده ځینې خلك کله کله چکړ داسې یادوي وایي چکړ منګك له ځانه مه جوړوه یا د چکړ منګك له ځانه جوړ کړی ده.

چکی : لکه پ ته ښځو بدې بدې خبرې وکړې پېغورونه یې ورکړه، داسې چکی یې ورته وکړه یا پ په هغه باره کې ډېره چکی کړې دي.

چکی : دلته به جوته کړه چې دا تکي په احمدزیو کوچیانو کې یادېږي لکه پ خان تکړه سړی بولي خان چکی و تیزی بولي یا دومره تکړه سړی نه راته ښکاري چکی و تیزی له ځانه مه جوړوه یا په هغه قوم کې پ چکی و تیزی ده یا ځان چکی چکی کوې یاځان چکی درته ښکاري دومره چکی نه یې.

چکه چور : پ په هېڅ نه ده ترلی یو چکه چور خوان ده، یا پ په هیڅ نه ده بند یو چکه چور سړی ده (دی).

چلي : پ ډېر چلي ده یا پ له خلکو سره چل ول کوي، چلي ده، یا یې په هغه چاره یا خبره کې چل وکه چلي ده.

چمبه سره اچول : پ او پ چمبه سره اچولې چې کوم یو به پر کړي یا چمبه یې سره اچولې چې کوم یو به واخلي یا له هغه سره چمبه مه اچوه زور نه لري.

چنجي : دا خبره د هغه چا په باره کې کېږي چې په اخلاقو کې يې فرق راځي لکه پښه انسان ده خو په سر کې چنجي لري ټول وخت ښه ووي خو چې کله يې په سر کې چنجي وښوري بيا له انسانيته ووزي يا ټول عمر ښه درسره کوي چې کله يې په سر کې چنجي پورته شي بيا ټول ښه برباد کړي يا د له سره چنجي وباسه.

چنجن : لکه د پ چنجن خوی ده ټوله ورځ په چنجنو چارو کې کار لري، چنجن انسان ده.

چنګاو : وايي د پ او پ تل سره جنګ وي سره چنګاو وي، يا پ لږه خبره سره چنګاو وي يا ولې سره چنګاوېږي.

چنګر : ګواکي ړوند لکه پ په يوه سترګه چنګر ده.

چنګه غړېچي : چنګه غړېچيو يا زنې ته نږغ لاس نيولی بدمرغ يا سپېره ګڼل کېږي، چنګه غړېچي داسې هم يادوي وايي پ پ په چنګه غړېچو چنګه غړېچو وواهه يا په هغه خبره يا چارهه يې له چنګه غړېچيو ګوتې سره تېره کړي.

چني : لکه دا شی خرڅوم يا يې اخلم چنې مه راسره ويه، يا په هغه باره کې پ چنې ويې، چنو ته يې ځان تيار کړی يا پ له پ سره په هغه باره کې ډېرې چنې وويلې.

چڼ . : لکه دا شی ښه ميده کړه بيا يې له توکرۍ چڼ کړه يا يې هغه خبره چڼ کړه يا يې ښه ښه خوانان (زنکي، ژنکي) چڼ کړه، يا په هغه پاره کې پ چڼ کول کوي.

چو : کله چې اوښ د خمکې پر مخ ناست وي هغه ته چو وايي دلته چو داسې يادېږي وايي پ د پ په هستې (شتو) چوده يا د هغه په پيسو چوك ده.

چوخس : پ ناروغه وو لاتر اوسه پورې بې چوخسه نه ده، يا دا شی بې چوخسه نه ده يا دا چاره بې چوسه نه ده.

چوخړل : کلی ته پردی سپی راغلی و، د کلي سپيو وچوخړېيه، يا دا چې پ خلکو سره وچوغړېيه.

چوخول : پ دا چاره نه کوله خو پ چوخولې ده، يا يې هغې خبرې ته وچوخاوه.

چور : د هغه پښه ما ته وه لاتر اوسه پورې چور نه ده جوړ يا تر څو پورې دې کار نه کوي چې چور جوړ شي، يا چوره دا خبره بيا مه يادوئ.

چور رِك : لکه پ د خوسر لـه کوره چوررِك وهـي يـا پ لـه پ سره پـه هغـه باره کې چوررِك وهـي گرد ورسره تـاوېږي، يـا د پ پوهـه د پ پوهـې تـه چـور رِك وهـي يـا پ لـه پلانـې ښځې سـره چـوررِك وهي. يا سياسي چـور رِکونـه او تـاويدني.

چورلټ : لکه دا خبره چورلـټه پرېږده، يـا دا چـاره چورلـټه خلاصـه کړه يـا لـه دې خلکـو چورلـټ ځان لـرې کړه، يـا چورلـټه دا خبره هغـه نـه ده کړې. يا هغه غواړي چې چورلټ يـې لـه سياسـي ميـدان څخـه وباسـي.

چوړچوبی : پـه کـوم ځای کـې چـې اودس يـا غوسـل کـېږي هغــه ځای تـه چوړچوبی وايـي.

چو - رِنګ : د پ داسـې چوړنګـه ځوانـي ده ګواکـې ښه ځوانـي يـې ده يـا خـدای ښه چوړنـګ سورت ورکـړی.

چوغته : ګواکـې وړه ژور د پ او پ سـره جنـګ وو تـرې ايسـته پ پـه چوغتـه کـې پـټ يـا د هغــوی سـره جنـګ و، ده چوغتــه تـرې واخيسته، ګواکـې پـټ تـرې وتښـتېده. يـا دا يـوه سياسـي چوغتـه ده چې لـه خلکو ځان پـټ کـړي.

چوك چوکه : لکه پـه کلي کـې داسې چـوك چوکـه ده چـې د پ زوی مـړ ده خـو دوی نه دي پـرې خبر يـا پخـوا هـم چـوك چوکـه وه، خـو بيـا دروغ شوه. يـا دا يـوه سياسـي چـوك چوکـه دي.

چولګه : پ يې چې چولـګي تـه سـيخ کـړی و، بيـا يـې وژلـی وو چـې هغـه يـې وژلـی وه هغـه سيمه ډېره چـول ده، يـا پ بـه د چولـګي تـه کـړي يـا د دې خـبرې يـا چـارې لپـاره يـې پ چولـګي تـه کـړی ده، چې پ چولـګي تـه ډېر خوشحاله کـېږي چـې څوك نـه وي.

چوله : لکه ډېوالـه چولـه کـړې وه لـه چولـې مـې ورتـه وکاتـه يـا د خلکـو پـه منـځ کې چولـه پيدا شـوه هغـه پـرې ووت يـا د دښمـن پـه منـځ کې چولـه پيـدا شـوه يـا د پ او پ لـه منـځه چولـه پيـدا شـوه، يـا سترګې يې چولـه کـړې يـا خولـه يـې مـه در چولـه کـوه، يـا خولـه يې نه چولـه کوله. يـا د هغوي تر منځه دا يوه علمـي چولـه ده.

چومبی : لکـه پ پـه دا ټنـډه وويسـته، چومبـی يـې پکـې جـوړ کـړ، د ورتـه پـه ډول کـه، يـوڅوك د چـاکو پـه څوکـه ووهـل شـي او سـوری پکې جوړ شي هغـه تـه چومبی نـه ويـل کـېږي کـه د چـاکو پـه خولـه ووهـل شي هغـه تـه چومبې ويـل کـېږي يـا پـه تيـره يـا لـرګي څرمـن سره ښېلـه شوه چومبې پکې جوړ شـو.

چونکي : د کوچني هلك نارينه پردې ته چونکي نوم اخيستل کېږي.
چونګي چونګي : لکه پلانۍ ښځه هره ورځ چونګي چونګي کېږي ژاړي يا
پ د پ له لاسه چونګي چونګي کېږي يا په هغه باره کې پ
پ ته چونګ چونګي کېږي، هره ګړۍ ورته ژاړي.
چونيابخي : دا چاره ولې زر نه کوې څه چونيابخي پري کوې، چونيا بخي
مه پرې کوه يا پ په هر کار کې چونيابخي کوي.
چې پکې خورې هلته خړي : دا خبره د هغه چا په باره کې کوي چې له چا سره
دوستي کوي بيا له هغه دوست سره د دوښمنۍ کره وړه را
واخلي وايي پ چې چېرته خوري هلته خړي، يا پ چې خواړه
هلته يې وخړل.
چې تيره يې له لاسه لوېږي : وايي چې تيره ئي له لاسه لوېده هغه ټول جنګ
ته راغلي وو ګواکي چې وار يې کولی شو يا چې تيره يې له
لاسه لوېږي هغه يو مه پاته کېږي جنګ ته ووزي.
چې سر يې د مار وي څرمبنکۍ وژنه : ګواکي دوښمن مه پرېږده.
چې لامده دي هغه به سره پاخه کړو نور به نه سره لمدوو: ګواکي چې کوم بد
مو سره کړې وي هغه به سره حل و فصل کړو، نور به نه سره
کوو.
چې نوك جاى کړي سوك جايوي : وايي په داسې ادت (عادت) لري چې نوك
خاى کړي هلته سوك ځايوي.
چيغبانی : پ په پ چيغه ګډه کړه پ چيغبانی ورسره راغی يا په هغه
باره کې پ د پ چيغبانی ده يا د پ چيغبانی خان بولي. يا د
هغه سياسي چغباني ده.
چيغه : د شپې مال دښمن بيولی و، چيغه پسې ووته يا چيغه پسې
وباسي دا لور په لور سيمه دوښمن ته ونيسي يا کوم لور ته
چېغه وتلې ده يا هغوی چيغه رابانديې ګډه کړه چې مال مو
ورك ده، يا د دې خبرې لپاره خلك مه خبروه په خلکو کې
چيغي مه ګډوه، يا په خپلوانو يې چيغه ګډه کړه. يا هغه په
پ چيغه ګډه کړې چې بد راسره کېږي، يا په قامو کې چيغي
ګډې دي يا دا چې وايي، زنې به هلته معلومېږي چې چيغې
ګډې شي، نري وهي ډولونه.
چيتي کول : پ خلکو چيتي کړې ده يوې خبرې ته يې ځول ... سوړ نه نيسي
يا خداى دې داسې مه چيتې کوه لکه پ چې خلکو چيتي
کړېو يا پ خپل الواد او ښځې چيتې کړې ده.

# ح

حرکتیز : پ ډېر حرکتیز سړی یا ښځه ده یا حرکتیز مه کېږه یا پ ډېرحرکتیزې خبرې کوې یاحرکتیز کارونه کوې.

ACKU

# خ

خار خوړی: هغـسـې سـيمې تـه وايـي چـې اوبـو پـاڼونـه پـاڼونـه شـيلې شـيلې دړولې وي لکه هغه سيمه ټولـه خـار خوړې ده.

خاړند: لکـه دا زی (ژی) لـه غوړيـو خـاړنده ډك شـو يـا لـه اوبـو خـاړند شـو. ګواکي پوره ډک نه شو. شلم يا خـاړند شـو

خال خال: وايي په خال خال ځايونـو کـې ټولنـې شـوې وې، يـا پـه خـال خـال ځايونو کې جنـګ و

خامه خته: پ چې داسـې بـې ښې ده خـتـه يـې خامـه ده، يـا تـوره نـه شـي کولـی خـتـه يـې خامـه ده. يـا ښې خـبرې او داسـې نـور ښه صفتونـه نـه شـته پکې خـتـه يـې خامـه ده. يـا د هغـوي سياسـي يـا مذهبي خـتـه خامـه وه.

خانجوړې: د پ لـه پ سـره جنـګ و. هغـه يـې را وپـرزاوه پـه ځلوري، يـا پـه خـانجوړې يـې کـړ. لاس او پښې يـې ولـګول، پـه خـانجوړې شـو.

خـاورې يـې ور اړول: پـه پ بـاندې خـاورې واوښتـې ګواکـې مـړ شـو. يـا يـې خـاورې پـرې واړولـې. ګواکـې مـړ يـې کـه: لـه دې ځخـه پرتـه داسـې هـم ويـل کـېږي. وايـې پ پشـا شـا پـه پ بـاندې ډيـرې ګرمـې (پـرې) ور واړولـې خـاورې يـې پـرې واړولـې يـا ولـې ټولـې ګرمـې پـه هغـه ور اړوي خـاورې پـرې ور اړوې يـا تـا خـو پـه هغـه بـاندې خاورې ور واړولې خـو خـدای خـبر چـې هغـه ګرم وي يـا تـه وايي چې ښه يم هغـه بـد بولـې خـاورې پـرې ور اړوي

خـاورې پـه سـر بـادول: لـه پ ځخـه ټول خلـك شـکايت کـوي د ده لـه لاسـه خلـك خاورې پـه سـر بـادوي يـا د هغـه لـه لاسـه مـې ځومـره خـاورې درتـه بـاد کـړې.

خبر اړول : پ په لړ خبره پ سره خبر واړوله ګواکي خبرې يې سره په استر اوړدې شوې په هغه باره کښې خبرې سره واړولې. يا خبره مه ورسره اړوه، په څه دې خبره ورسره واوړله يا دا چې وايي خبرې مه ور سره اړوه، کـه د نوره ور سره واړوله بيا خراپه کېږي يا دا چې پ دا خبره نه کوله خو په خوله کې يې خبر واړوله يا ويل مې يل څه خبر مې واړوله.

خبر په خاى درول : پ لـه پ سره خبره په خاى ودروله يا اوس دې خبره په خاى ودروله.

خبر په غوږ کې ور څڅه ول : پ ته مې دا خبره په غوږ کې ور وڅڅوله، يا د وخته به د دا خبره په غوږ کې ورڅڅولې وه.

خبره په غوږ ورکېښودل : وايي داخبره مې پ ته په غوږ ورکېښوده، يا به هغه خبره په غوږ ورکېږدم.

خبر تاوول : لکه له هغه سره خبرې مه تاووه يا خبر يې ورتاو کړه يا پ تولـه ورخ د خلکو لـه منځه خبرې تاووي، د تا خبر ما ته کوي د ما خبر تا ته کوي يا دا چې خبرې دوښمن ته ورتاوولى شي خواب ورکولى شي. يا په هغه باره کې يې ډېره تاوونه ور سره وکړه منې بحث.

خبر تلا کول : پ په مرکه کې غږېده هغه بل کې ور وغږېده د هغه خبر يې تلا کړه يا خبر مه راتلا کوه

خبر زغاړل : پ له پ سره خبر وزغاړله ګواکي تاو يې کړه يا دا چې خبر له خولې زر نه باسي په خوله کې يې زغاړي.

خبر ژرابل : پ له پ سره خبر ډېره وژرابله يا خبرې دومره مه ژرابه

خبر سپينول : پ له پ سره هغه خبر سپينه کړه يا ولې سپينې راسره کوې يا هغه خبر مو لا يخوا سپينه کړې وه.

خبر کې جونګي : وايي په پ کې خبر جونګي جونګي کېدله اخر يې وکړه يا خبر مه درکې جونګي کوه

خبر کې خوسي : وايي په پ کې خبر خوسي خوسي کېده يا هغه يوه خبره پکې خوسي شوه يا په پ کې خبر زر خوسي شوه

خبر کې ځرخي : په پ کې هغه خبره ځرخي ځرخي کېږي يا ولې خبر درکې ځرخي شي يا خبر راکې ځرخي شي

خبرلوځ : پ ډېر خبر لوځ ده. ډېرې خبرې کوي يا خبر لوځ خبرلوځ مه کېږه يا خبر لوځ ده بې خبرې کوي. يا د ډلي او حکومت خبر لوځ

خبر مردارول: دا خبره پ مرداره کړه یا دا خبره مه مرداروه.

خبرې : پ ډېر زیات غرېږي ټول سره خبرې ده یا خبرې خبرې مه کېږه یا پ دې خلکو خبرې ورې او راورې خبرې ده.

خبرې په هېڅ : پ ته ډېرې خبرې وشوې خو ټولې یې په هېڅ کړې یا هغه ډېرې خبرې ورته وکړې، پ په هېڅ ورتمامې کړې.

خبرې ته رنګ ورکول : هغه کار ده کړی و، خو خبرو ته یې داسې رنګ ورکاوه چې ما نه ده کړی یا دا چاره په دې ډول وه خو ده رنګ ورکاوه چې په بل ډول ده.

خبرې خوړل : پ چې هلته کینې ولاړېږي، هسې خبرې خوري یا که دا چاره کوي وکړه کنه خبرې مه خوره یا د افغانستان په اړه ملګرو ملتونو خبرې خوړې.

خبرې زدول : پ هغه خبره له خولې ښه نه ایسته ډېره یې زدوه، یا پ خبرې نه شي کولی خبرې یې زدولې دي یا پ هغه خبره زدولې وکړه. یا هغه سیاسي خبره زدولې کوي.

خبرې ګډول : وایي پ ټول عمر خبرې ګډوي، د تا خبر ما ته کوي د ما خبره تا ته کوي یا پ په پ باندې ځو وارې دا خبره را ګډه کړه یا پ پ ته هغه خبره ورګډه کړه وښیه ورتاو یې کړه.

خ ... له ... جوړل : پ دا ټولې خبرې له خانه جوړې کړې، یا له خانه خبرې مه جوړوه. د وخت دود ده چې سیاسي خبرې له خانه جوړ ...ېږي.

خبر یې په خوله کې وچول : پ غرېده پ سترګې ورته برګې کړې خبر یې په خوله کې ور وچه کړه یا پ غرېده چې پ ښکاره شو، خبرې یې په خوله کې وچه شوه، یا ولې دې خبرې په خوله کې وچې شوې یا پ خبرې کولې پ بد رد ورته وویل خبرې یې په خوله کې ور وچې کړې یا هغه غوارې چې د هغه سیاسي خبرې په خوله کې ور وچې کړي.

خپاره : مال ورك وو چیغه پسې ووته، په غرو او رغو خلك پسې خپاره شول یا ولې خپاره شوي یا اوبه خپرې دي.

خپرې لګول : وېي پ او پ خپرې سره ولګولې یا پ په پ خپرې ولګولې یا پ د هغې چارې لپاره ډېرې خپرې ولګولې، یا پ ولوېده خپرې یې ولګولې یا هغه سیاسي خپرې لګوي.

خپکې : وایي په خوب کې مې خپکې لاندې کوي.

خپل بخت په لغته وهل : پ خپل بخت په لغته وواهه

خپل پردی کېدل : وايي خدای دې د چا خپل نه پردي کوي : پ خپل پردی شوه

خپل چاري : پ ډېر خپل چاري ده، چې خپله چاره يې وشي د چا غم نه کوي يا خپل چاري خپل چاري مه کېږه يا خپل چاري سياسي ډلګي

خپل خور : پ ډېر خپل خور ده. خپل خوري خپل چکسي

خپل خان په تيږو ويستل : پ چې خبرې کوي خپل خان په تيږو ولي يا په هغه خبره د خپل خان په تيږو وويسته

خپل ساره اوږده نه کتل : پ کم توانه ده، له زورورو سره جبه اچوي خپل ساره اوږده نه نه ګوري يا خپل ساره اوږده نه وګوره هغسي چارې او خبرې کوه يا خپل سياسي سور او اوږده

خپل سيوري ته کتل : پ ته خان له پامه زنې ورځي، خپل سيوري ته يې کتلي ګواکې خپل سيوري له پامه نيايسته ورغلي خان همغسې ورته ښکاري يا پ چې دا او دا چارې کوي يا دا خبرې کوي خپل سيوري ته يې کتلي دي

خپل سپړي ګندل : پ چې د نورو خلکو په چارو کې کار لري خپل سپړي دې وګنډي يا پ خپل سپړي نه شي ګنډلی ګواکې خپلې چارې نه شي سمولی. يا خپل سپړي وګنډه بيا د خلکو په خبرو کې غاګه. يا هغه غواړي چې خپل سياسي سپړي وګنډي

خپل سپی ترې کورې کول : وايي خپل سپی ترې کورې کړه، ګواکې خپل وروڼه زمن قوم ترې ايسار کړه.

خپل غمونه : پ په خپلو غمونو کې تر خنګنو ښخ ده يا خپل غمونه په غوږو ور اوښتي دي يا خپل غمونه په سر ور اوښتي دي، يا له دوو غوږو په خپلو غمو بار ده، يا له دوو غوږو په خپلو غمونو کې ډوب ده.

خپل کور جوړول : پ خپل کور جوړوي، ګواکي خپل قوم سره اينتيپاخ کوي يا پ په هغه باره کې خپل کور لاپخوا جوړ کړی و، يا خپل کور جوړ که بيا هر څه اسانه دي.

خپل لينګي په ترخځ وهل : وايي په دې چاره کې پ خپل لينګي په ترخځ وهي يا دا چاره يې وکړه خپل لينګی يې په ترخځ وواهه.

خپل مخ کوبله ده : ګواکي خپل مخ قبله ده، مخ نه ترې ګرځي.

خپل مټ پرې کول : پ خپل ورور او زوی وژني خپل مټ پرې کوي يا خپل مټ مه پرې کوه.

خپل و پردي پر يو ده : په پ خپل و پردي يو ده، يا دا چې په پ ښځه خپل و پرددي يو ده، يا پ خپل و پردي نه پېژني بايد جوته کړو چې دا د ښه کس نښه نه ګڼل کېږي.

خپلو غبرګو ته خوسی . وایي پ خپلو غبرګو ته خوسي شو یا که خپلو غبرګو ته خوشي شو دا کارونه به وکړي.

خپلوي په اورمړي تار بنده : خپلوي په اومړي تار مه بندوه يا د پ او پ خپلوي په اومړي تار سره بنده ده.

خپله پښه په ترخځ وهل : پ دا چاره وکړه خپله پښه يې په ترخځ ووهله يا ولې خپله پښه په ترخځ وهې.

خپله چرګې جوړول : پ خپله چرګې جوړوي، ګواکې خپل قوم سره اينتپاخ کوي يا لکه دا چې وايي په چرګې کې د مېړتانه وخاته.

خپله خبر د غاړې توك : د پ خپله خبر د غاړې توك شوه يا دا خبر به دې د غاړې توك شي يا خپله خبر د غاړې غړوندی.

خپله خواري ژړل : تا خپله خواري نه ژاړله بدي دې کوله يا پ بدي نه شي کولی خپله خواري ژاړي يا دا چې وايي: خوار خپله خواري نه ژاړي، سره څخوړې غواړي.

خپله شرېشته : پ خپله شرېشته نه شي کولی د نورو خلکو په شرېشتو کې کار لري يا څه شرېشتې راسره کوې خپله شرېشته وکړه.

خپلې سورې : پ خپلې سورې نه شي بندولی، دنورو سورې بندوي يا خپلې ډيرې سورې درته راجوړې دي يا دغه سياسي سورې.

خپلې کړې د نورو په چارو کې سمول: پ په هغه چاره کې خپلې کړې سموي. د افغانستان په چارو کې هغوي خپلې کګې سمې کړي.

خچ : په هغه سودا کې پ خچ راواچاوه، يا په هر شي کې خچ مه اچوه يا په دې خبره کې هېڅ خچ نه شته يا په هغه چاره کې پ خچ راواچاوه. يا په هغه چاره کې قانوني خچ دي.

خچکنی : پ په قومونو کې بد جوړې کړې ښې خچکنې يې وکړې يا دا چارې پ داسې خراپه کړې دي، دا خچکنې يې وکړې دا خچکنې هغه کړې دي يا پلانی ښځې قومونه په دښمنۍ سره ککړ کړه، خچکنې يې وکړې يا څه خچکنې دې وکړې بل څوك داسې خچکنې نه شي کولی يا دا سياسي خچکنی وي چې په افغانانو ئې وکړي.

خڅوزي : پ د خڅوزي سړی ده، یا پ ته چې خڅوزی ور نه کړې دا چاره نه ترسره کوي یا پ ته چې په (غ...) خڅوزی کېږدې پورته کوي یې یا په خوله یې پورته کوي. یا پ ته چې خڅوزی ور اچوي لکه سپی ډېر له لرې به مزل درپسې وکړي.

خخلې پرې بوګول : دا ټکی د هغه چا لپاره یادېږي چې یو بد کار وکړي بیا پرده پرې اچوي لکه پ دا کار وکړ اوس خخلې پرې بوګوي یا خخلې مه پرې بوګوه یا په هغه چاره کړو وړو یې ډېرې خخلې وبوګولې بیا هم رسوا شو. یا دا چاره غیر قانوني ده خو هغه قانوني خخلي پرې بوګوي.

خدای به یې څه پورې ایستلی وو : لکه پ خدای له مرګه خلاص کړ. خدای به یې څه پورې ایستلي وو.

خدای پاري : پ دا کار خدای پاری وکړ، یا پ خدای پاری سړی یا خدای پارې ښځه ده، یا پ خدای پاری ویل وکړه.

خدای هلی : پ خدای هلی سړی ده، د خدا په هله سپور ده، یا د خدای په هله مست ده، په چا نه ده بند.

خدای یو مالګې یې تروې دي. خدای یو مالګې یې تروې دي چې دا کارونه کړم پرې یې نه ږدم یا خدای یو مالګی یې تروې چې دا به کړم.

خرارې : لکه پ ډېر خرارې انسان ده یا د پ خبرې خرارې دي یا یې په هغه باره کې خرارې خبرې وکړې یا د پ هر کار خراري ده وبنیه بوخاري ده. یا تخونکې "تخند" ده.

خراشکی : بلغم لکه پ زوړ شو یا تاروغه ده خراشکی اچوي یا توکي.

خرام جای : دلته د خرام جای میندلی ده، هم دلته راغلی.

خر پچل : پ چې له پ سره لته پیر کړی و، هغه خمکه خرپچل ښکارېده، یا خمکه یې سره خرپچل کړه.

خرپ و ترپ : پ د خرپه و ترپ نه ده، ګواکې ناتوانه ده، یا هلته خرپ و ترپ پېښ شوی ده، یا پ د خرپ و ترپ سړی نه لري، یا دا چې وایې د نر خرپ وي یا یې ترپ وي.

خرپوړه : پ که هلته ولاړ شي څه وطن به خرپوړه کړي، ګواکې څه به وکړي څه یې په وس کې دي یا دا زیات ویل چې وایې هلته مې وطن خړ پوړه کړ یا به یې خرپوړه کړم. یا پ هسې خرپوړه ده، ګواکې دروغژن ده. یا هغه سیاسي او نظامي خرپوړي کوي.

خر په لکی بند : وایي دا چاره تر سره شوې ده، لږ پاتې ده، خر ختلی په لکی بند ده. یا دا چاره دې کړې لږ درته پاتې ده. خر دې ښکلي په لکی بند ده.

خرتیزکي : لکه له توم څخه چې ښکاره کېږي د خره پېښدا ته وایي، په دې ارتباط د وړو هغې منډې ته هم خرتیزکي وایي چې په منډه کې یواړي یوه پښه پورته واچوي بیا بل وار بله پښه پورته واچوي وایي منډې مه وه. خرتیزکي مه وه یا مه وله که چېرته په منجلس کې یو کس بې ځایه خبرې وکړې وایي پ هم خرتیزکي وویستې یا خرتیزکي مه وله یا په هر مجلس کې ته خرتیزکي ولې. یا دا یوه سیاسي خرتیزکه ده چې ده وویل.

خرټ : پ یې له پ سره زور واله وایي په خرټ یې ورسره ځیروي، یا په دې چاره کې زور مه راسره کوه په خرټ یې مه راسره ځیري کوه، یا چې ته یې په خرټ ورسره ځیروې ده ته پښبنه ده.

خرخشې : په اصل کې د غاړې تازه کولو ته خرخشې وایي، په دې ارتباط وایي د پ پ ته په زړه کې خرخشې شته یا دا خبره یې په زړه کې خرخشې ده ، یا پ له پ سره دعوی ووهلې خرخشې یې له زړه سره ویوسته. یا دا یو سیاسي خرخشي وو.

خرخوړي : لکه درخت یا بل شی یوه ټوټه خرخوړي یا د پ په کور کې سم ښه شی نه شته کور یې له خرخوړیو ډك ده یادا چې د هغې چارې یا خبرې په باره کې پ لوڅ بې پردې شوی ده، پ په کونه خرخوړی ور اچوي یا قوم پټ که خرخوړی یې په ده واچاوه، یا خرخوړی مه پې اچوه، یا ډېر خرخوړي پې واچول، بیا کونه لوڅی شو یا که د هغې چارې یا خبرې په باره کې پ بې پردې شوی ده که قوم ډېر خرخوړي پرې واچوي بیا هم پرده نه شي پیدا کولی یا پ غلا کړې ده پ یې په کونه خرخوړې ور اچوي یا بده خبره یې وکړه پ خر خوړی پرې اچوي. یا هغه غواړي چې په هغه خبره باندې قانوني خرخوړي واچوي.

خرك : لکه هغه چاره هېڅ خرك نه لري یا پ بې خرکه وغړېده یا رخت بې خرکه ځیرې شو یا هر کار په خرك خوند کوي.

خر له ختې ښکل : وایي پ څه خر له ختې ښکلی ګواکي څه یې کړي هېڅ یې هم نه دي کړي، یا څه خر به له ختې وکاږې څه به وکړې.

خرمستي : وايي هلته هلكان خرمستي سره كوي يا د پ كور د خرمستي جاى شو يا خلك په نس ماره شوه، خرمستي كوي يا پ د هغې چارې يا خبرې په باره كې خرمستي كوي

خرنى : كله چې يو سپى بل سپي ته ځپل زور ښكاره كوي نو پښې په ځمكه خرې وروسته لور ته خاوروه بادوي نو بايد ووايو چې خرنى خلكو ته هم يادېږي لكه پ پ ته خرنى كوي يا هغه ته ولې خرنى كوي يا دا چې وايي پ هسې خرنى كوي هېڅ هم نه شي كولى يا څه دي وكړه خرنى خو دې ډېرې وكړې يا پ هر چا ته خرنى كړى دى يا دا سياسي خرني دي چې دوي يې يو او بل ته كوي

خروړى : هغه سپي ته وايي چې خلك خوري وايي، د پ خروړى سپى ده، هر سړى يې دارلى ده دا نوم ځينې خلكو ته هم يادوي، لكه پ خروړى سپى ده، خلك يې وخواړه ګواكې د خلكو مال دولت يي وخوړ يا له ځانه خروړى سپى مه جوړوه.

خروسن : هغه چا ته هم ويل كېږي چې په سينه كې خرپېږي، هره شبه بدي خبرې مه كوه خراشكى اچوي، په دې پسېره هغه لرګي ته هم خروسن وايي چې ډېر زر ماتېږي، لاس دې نه وي وروړى يا مات شي له دې پرته دا نوم په نورو ځايونو كې هم يادولى شو لكه خروسن اقتصاد.

خروكى : د ځرمنې برسېره ډېر نرى مخ ته وايي لكه پ ته شيشې ورالوتې وې د مخ خروكى يې ځاي ځاي اوښتى و يا پر ارچه خروكى ونيسي نور جوړېږي يا دا چې وايي د خبرې اوس خروكى نيولى هغه مه ترې اروه، كه خروكى دې ترې واړاوه بېرته وېرانېږي يا له دې خبرې څخه پ خروكى واړاوه.

خره پول : هغه ورځې د خلكو سره جنګ و، داسې يې سره وخرپول يا پ او پ په ډانګونو سره ووهل سره ويې خرپول.

خره پېدل : لكه د پ سينه خرابه ده، په سينه كې خرپېږي، يا دا چې وايي مور نه پوهېږو چې پ له پ سره څه بد كړي دي خو هغه ډېر ورته خرپېږي يا له هغې چاري را په ايسته پ پ ته ډېر خرپېده اخر يې دا ورسره وكړه.

خره تڼده جوړول : وايي دلته څه اوړې راوړې خره تڼده مو جوړه كړې ده يا هره ورځ تاسې خره تڼده جوړه كړې وې لوته لوته كېږي ګرځي

خره چوکی : دا ټکی په ډېرو ځایونو کې یادېږي لکه پ د خلکو په منځ کې شیطاني وکړه خره چوکي یې وکړه یا زنا یې وکړه خره چوکي یې وکړه او داسې نور لکه د پ وس وو یا یې که وس ورسېږي خرچوکي به وکړي یا هغه چې په کړاو کوي دا ټول سیاسي خره چوکي دي.

خره چول : هلته خلکو سره ووهل داسې یې سره وخرچول.

خریاوه : په هغه ځای کې خلك سره اوښته را اوښته خریاوه یې جوړه کړې وه یا دلته مه ګرځئ، خریاوه مه جوړوئ.

خرې پښې : وایي پ له پ سره خرې پښې شوې ده، یا په هغه خبره یا چاره ورسره خرې پښې شوې ده، یا له هر چا سره خرې پښې مه کېږه یا د پ مې خرې پښې بد ایسي چې له هرې خبرې سره خرې پښې شوې وي. یا دغه ټولې سیاسي خرې پښې دي چې دوې ئې سره کوي.

خرې په خرې : لکه دوه کسه په غېږ سره ورغله دواړه خرې په خرې سره ولوېده یا یو هم پرې بر نه شو دواړه سره خرې پهخرې شوې ګواکي دواړه څنګ په څنګ ولوېده خرې په خرې شوه.

خری : پ وچ خری ده چې دا چاره به دا وړ کوم، یا زه وایم چې دا کار داسې نه کېږي ته وچ خری یې چې کېږي یا له هرې خبرې سره خری یې یا هغې خبرې ته خرې ده یا چارې ته خرې ده

خر : لکه پ او پ غېږي سره ایستی، خو پ یې ډېر خر که یا پ په هغه خبره یا چاره پ ډېر خر که یا پ ټول قوم ته خر ده.

خرامبو : دا ټکی هغې ښځې ته یادېږي چې ډېره بې ژونده وي لکه خرامبو کار ته نه شي جګېدي یا جای او جارو نه شي کولی خرامبو ده. یا د هغه هیواد خرامبو اقتصاد.

خر پښتون : پ نر سړی ده، خر پښتون ده یا خره پښتنه ده.

خرتی پرتی : وایي د پ د هغې چارې کولو ته زړه نه وو ځکه یې خرتې پرتې کولې ډېرې خرتې پرتې یې وکړې یا په هغه خبره کې خرتې پرتې مه کوه ګوا پلمې بانې مه کوه. یا سیاسي خرتې پرتې.

خر کانی سره اورول : هغه ورځ د خلکو سره جنګ وو، داسې خر کاني یې سره اورول یا که دړېږي ودرېږه کنه خر کاني به سره اوروو.

خروسکی : د بوی یو بل نوم ده لکه هلته سپی مردار و، داسې خروسکې یې تلې، یا خروسکې یې ختې

خړه خوټنی : په هغه ځای کې تـوپ ولـګېده خـړه خـوټـی یـې پورتـه شـوه، یـا هلتـه د خلکو جنګ ده، وطن خـړه خـوټـنی ده.

خـړې اوبـه مـخ تـه ورشـیندل : لکـه پ چـا وهلـی و. بیـا یـې خلـك کـور تـه ور واسـته خـړې اوبـه یـې مـخ تـه ور وشـیندلې یـا دې وهلـې یـا دې وژلـې لـړ یـا ډېر پـورې یـې ورکـه هسـې خـړې اوبـه یـې مـخ تـه ور وشـیندلې، یـا هسـې پـرده یـې وکـړه خـړې اوبـه یـې مـخ تـه ور وشـیندلې یاکـه لـه چـا سـره دې بـد کـړي وي هسـې یـې مـه پرېږده، خړې اوبه مخ تـه ور وشینده.

خړئي : وایـي پـه هـره چـاره یـا خـبره کـې د پ خړئـي وتلـې وي یـا د پ خړې وزې یا په هغه خبره د هغـه خړې ووت یا پـه هغـه چـاره کـې د خـړې و تـه وزي، یـا هـر وخـت دوښمـن تـه د پ خـړې وتلـی وی دوښمـن تـل پرې بر او سـر وي.

خزنده : دا تکـی خـو هـر چـا تـه وریـت ده، خـو بیـا دا تکـی داسـې هـم یـادېږي، لکـه پ ډېر لـوی خزنـده ده، هېڅ مخـې نـه شـته ورتـه.

خسه کی : پ سړی لکـه خسـه کـی چـرګ داسـې شـی ده.

خښ (ښخ) : پـه هغـه جـای کـې جنګ خښ ده. خښ بیـا داسـې هـم یـادېږي لکـه پ هغـه ځـای یـا پـه هغـه بـاره کـې پ پـه پ پسـې خښ ولاړ و، یـا پ هغـه بـاره کـې پ پـه پ پسـې خښ ولاړ یـا راغـی یـا پ پـه پ پسـې خښ ګرځي یـا چـې هغـه چـاره وشـوه پـه هغـه پسـې ښخ دا کـار وشـو.

خط کوریدل : وایي پ هغـه کـار کـاوو یـا پـه هغـه بیلـبزه کـې غـږ یـده خـو پـه یـوه خبره ورتـه وکـړه. خبره یې وېراتـه وبلله، خط یـې کورشـو.

خط و بریت : وایـي د پ زوی اوس زنکـی ده، خـط و بـریت ده.

خلپلکي : وایـي خلـك اسـمان تـه وخاتـه مـوږ پـه مځکـه لکـه چـرګان خلپلکې وهو، یـا لکـه چـرګ پـه ډېران خلپلکـې مـه وهـه، یـا یـې پـه مردارو خبرو او چارو کـې خلپلکـې وکـړې.

خلپلي : پ وروکـی خلپلـی سـړی و، یاخلپلـی ښځه ده.

خلك خندي : پ لـه ځانـه خلـك خنـدي جـوړ کـړی یـا پ څه سـړی یـا ښځه ده، هغه خلـك خنـدي ده یـا پـه دغـه چـاره بـه خلـك خنـدي شـي یـا چې وایي: خر یې څه تـه باسي وایـي خلك خنـدي تـه.

خلك رنګول : دا خبره د هغـه چا پـه بـاره کـې یـادوي چـې یـوه چـاره یـې خـرابـه شي بیـا پـه هغـه کـې نـور خلـك یـادوي لکـه دا چـاره هغـه داسـې

کړه او هغه بل داسې وکړه نو وايي ب خلك رنګوي يا خلك مه رنګوه. يا په هره خبره يا چاره کې خلك رنګوي

خلك سره ګېډې کول: وايي پ خپل قوم بو ګېډې کړې ده

خلکو په خوله کې ډ حيست: وايي پ خبر وکړه خلکو خولې پرې ورخلاصې کړې. په خوله کې يې واخيست يا ولې يې په خوله کې اخلې

خللي: وايي پ ډېر خللي انسان ده، وينې خلك سره جنګوي خللي ده. خلکو ته ضرر رسوي خللي ده، د خلکو بېلبېلې زار مني کوي خللي ده. يا د پ ټول کارونه خللي دي، يا د پ خبرې خللي دي يا يې په هغه باره کې خللي خبرې وکړې خللي کړه وره يې وکړه. يا دا يو سياسي خلل ده يا په په ټوکه کې خللي شو

خل وندونې: ډېرې يا غړکي د خولې د ترلر نرې پړې ته خل وندونې وايي، په دې ارتباط وايي پ خل وندونې نه لري، ګواکې بې ځايه خبرې کوي يا هغه خل وندونې په خوله تاو کړې وينې ته غړېږي يا پ په خوله خل وندونې پې اچولې

خلوت: هغو غارونو ته خلوت وايي چې د جنګ جګړې په وخت کې له دوښمن څخه د پټو اوسېدو لپاره په غرونو يا پانو کې کندل شوي وي لکه د افغانستان د خوست سيمې ته نږدې د ګورمېښ حاجي صاحب د مجاهدينو خلوتونه چې د انګرېزانو په وخت کې کندل شوي دي

خلی پلی: پ دا کار ته کوي هسې په دې په دې خان وهي خلی پلی کوي، يا څه خلی پلی کوې دا چاره زر وکړه خلی پلی مه کوه، يا يې د هغې خبرې لپاره خلی پلی کول. يا سياسي خلي پلي

خلی په خلې نه کېښودل: دا ډېر وخت وشو چې پ هېڅ خلی په خلي نه ږدي يا ته خلی په خلي نه ږدي. وښيه کار نه کوي

خلی په ځان راماتول: وايي هغه ته ځان مه ګرموه خلی په ځان مه راماتوه يا د هغې خبرې يا چارې په باره کې د په ځان خلی رامات کړ، لا له پ سره ښه دوستي او ملګرتيا کوه خلی په ځان مه راماتوه چې خلك بيا خلی به تا رامات کړي.

خلی پې بوګول: لکه پ بولي وکړې اوس خلی پې بوګوي چې له خلکو يې پټ کړي يا پ داسې او هاسې بد کار وکړ اوس خلی پرې بوګوي يا پ بد کار يا هغه چاره وکړه پ پرده ورکوي خلی

پـې بـوگوي. یـا دا غـیري قـانوني چـاره ده ولـې هعـ. : قـ.
لپاره خلي بري پوکـړي.

خلی خځلی : وايـي پـه ټول قـوم کـې پ او پ سـم يـا ښه سـړی دی. نـ... ...
خلی خځلـی دی، یـا د ټولـه ترنـډه کـې يـوه سـمه ښځه ده ...
ټولـې خلـې خځلـې دي، یـا دا چـي وايـي پ بـې لمـازي ... ...
ګواکي بد کـار يې وکه اوس خلی خځلـی پـرې راټولـوي.

خندنی : پ خندنـی سړی نـه ده، یـا خندنـی ښځه نـه ده، یـا خنـدی ...
مه کوه یا حندی چارې مه کوه.

خنډلی : لکـه پ و چـه دا حنـډلی چې زه بـه د قـوم غـوبنې خـورم یـا ب د
قوم غوبېو تـه وخنډلـه یا لومړی بـه یې دا چاره کولـه یا بـه ... نـه
کولـه اوس یـې خنـډلی وه چې وژنـم بـه یـې خـو خـدای پـرې نـه و
وژلی. خنډلي، خـوښه موخـه مقصـد.

خنګر : دا ټکـی د فسـاد خای نیسـي لکــه دا خنــګر هغــې ښځې کـړې
اوس درګرده خلـك سره وژنـي يـا خنـګر مـه کــوه، وه خنــګرې يــا
دا خنګر پ سړی وکړ یا هغـه ورځې نـژدې لـوی خنـګر شـوی و.

خو : لکه هغه سم کـار کـړی و، تـا خـو پکـې واچولـه، یـا پـه دې چـاره
کې خو مه اچوه یا کـه تـا خو نـه وی پکـې اچولـی هـېڅ خـو نـه وه
پکې یا پـه دې خبره کې خو مـه اچـوه. یـا هغـه سیاسـي خـو پکـې
اچـوي.

خو : وايـي پ پ تـه خوشـوی ده، یـا پ تـه ټول وطـن خـو ده یـا ټول
کلی ورتـه خـو ده یـا پ ورتـه خـو خـو کـوي یـا پ ټولـو خلکـو تـه
ځان خو کـړی ده یـا پ ټی پ تـه خو خو کـاوه. یـا هغـه غــوارې
چي لـه هغـه خبري نـه سیاسـي خو ورتـه جوړه کـړي.

خوا اوښتل : وايي لـه پ ځځه مې خـوا واوښتـه یا پـه هغـه چـاره مې خواتـرې
واوښتـه یا پـه هغـه خبره مې خوا ترې واوښتـه، یا لـه هغـې چـارې
مې خوا واوښتـه.

خوا پرې خـوړېدل : پـه خپـل مـال بـاندې د سـړي خـوا خـوړه شـي یـا پ پـه ډېرو
خلکـو کـې ښه وغـرېده خـوا مـې پـرې خـوړه شـوه یـا د پ ښه
ځوانـي وه، خـوا مـې پـرې خـوړه شـوه یـا تـه څه سـړی یـا ښځه یـې
پـه کوم کـار بـه دې د سـړي خـوا خـوړه شـي یـا دا ښېرا چـې وایـي
خوا دې خوړه مه شه.

خوا توری : وايـي پ دې چـارو خـوا تـوری کـړی ده، یـا دې خـبرو خـوا تـوری
کړی ده، یا پ پ خـوا تـوری کـړی ده.

خــوا تــړې کرځېدل واېــي د پ لــه پ خــوا ګرځي، يــا د پ لــه بــدو کــار وخــوا ګرځي. يـا د پ لـه خپلـه قومـه خـوا ګرځي. منـي خـواړه ګرزول

خوا خوږي لکــه پــه هغــه بــاره کــې پ د پ خواخـــوږې ده، يــا يــې خان خواخـوږي بولـي يـا خان د پ خواخـوږي جـوړوي.

خواړه پرې غمبدل لکـه هغـه اوس زوړ شـوی خـواړه پـرې غمبېږي.

خواستګي د پ سـترګې خواسـتګي دي، هـېڅ کلـه بـه مـوړ نـه شـي، يـا خواسـتګي ده. يـا د هغـه خواسـتګي واکمني يـوه دوره.

خوا شنه کېدل پـه دې خبره د هغـه خـوا شـنه ده يـا خـوا مې شـنه ده، يـا ولـې خواشينې يې

خوار جامې پ سـری يـا ښځه خـوار جـامې ده،هـر وخـت زاړه کـالي اغونـدي

خواري ښکل پ پـه هغـه چـاره کـې ډېره خـواري وښکلـه.

خواړي دا خبره خو منـي کېږي لکـه پ ډېرخـواړه خـوري خـواړي ده يـا دا چې دا خلـك پـه خپـل منـځ کـې جنګوتـه سـره کـوي هـر وخـت سـره خـوري ډېر خـواړي دي. يـا د هغـه د واکمنـي خـواړې دوره چې هر څه يې وخوړل

خوا غړول د پ کالــه تـه غلـه ننوتلي وو، ښه خـوا يـې پکـې غړولــې وه، هـر څه يـې وړي وو، يـا خـوا يـې پکـې غړولـې وه، خـو څه يـې نـه وو ميندلـي يـا پ بزار (بازار) تـه تللی خـوا غـړي يـا پ پـه هغـو ښځو کې خوا غړولې ده. منې ساعت تيري چکـر خـوا غړونـه.

خوا ل د لويـې تيـږې لوی غـار يـا ګوګ تـه خوال وايي چـې لـه شـرم څخـه خبره واوري يـوه نيـم سـړی يـا ښځې تــه ويــل کــېږي وايــي د دې ډېر لـوی خـوال ده. خـوال ډېر پراخـه تـوري ده.

خواله وايي لـه پ سره مې د زړه خوالـه کـاوه، يـا د پ خوالـه لـه پ سره کېږي. پ د ګيلې پـه ډول ويـل کــېږي زه غمجـن وم هـېڅـا خوالـه راسـره و نـه کـړ يـا د دې خـبرې خوالـه ورسـره وکـړه. يـا هغــه غـواړي چې لـه هغوي سره سياسي خوالـه وکـړي.

خوټ پ پـه خپـل کـور کـې ډېر خـوت لګېدلـی. هـېڅ وخـت لـه کـوره نـه وځي، يـا پ پـه دې کلـي کـې ډېر خـوت ده يـا پ لـه پلانـي ښځې سـره ډېر خـوت ده

خوټېدل لکـه د وريزوديـګې پـه اور بـاندې ده خـوټېږي يــا د پ طبــه ده خـوټېږي يـا پ پـه غوسـه وو، لـه ډېرې خوسـې خـوټېده يـا پ پ

نه خوتېږي يا د هغه سياسي قوت يا زړه بداوي په خوتيدا ده ايښيدده.

خوخ پخ — وايي پ د پ په مخ کې خوخ پخ نه شواى کولى يا پ داسې خبرې ورته وکړي چې پ کې يې خوخ پخ ورك کړه.

خوخي موخي — لکه لوښي يا جام له اوبو خوخي موخي ډك ده، يا پ له غوسې خوخي موخي شوى ده.

خُور — په اصل کې د ژرندې خوراك ته خور وايي خو بيا خور داسې بادرې لکه پ په خبرو يا چاره يا باره کې خپل خُور ته پرېږدي.

خور خول — پ قوم وسکونت د خور خول يې ورته تېت کړ، ګواکې دنيا دولت يې تري وخواره يا پ ډېر بنه خور خول ګرځي، وينې له خلکو ګنه کړاى شي.

خورخولى — پ ډېر خور خولى ده، داسې زر زر غږېږي يا خور خولى خور خولى کېږي، زر زر (ژر ژر) خبرې کوي.

خورجايه برجايه — لکه تعويذونه خورجايه برجايه مه کوه هلته و دلته يې مه اچوه يا دا غله د دلته ايښې وي خور جايه برجايه يې نه کړي.

خورخون — لکه دا هلکان يا جنکي د پ خورخون ده، ګواکې د هغه زمن لمسي کړوسي دي يا د پ بنه خورخون نه ده يا د پ بنه خورخون دي يا دا ښېرا چې ټول خورخون دې ورك شه.

خورلنه — د پ سرې داسې ادت (عادت) ده لکه د خورلنې، خورلنه د پلرګنې بنه وګنده دوستو دوښمن ټولو ته وايي تاسې د ما پلرګنې يې زه مو توپير نه کوم.

خورول — پ ډېرو خلکو ته مړى (ډوډى) ورکړه ډېر خلك يې وخورول يا پ دوه کسه هم نه شي خورولى.

خورموز — وايي د ناروغى له امله مې خورموز بند ده يا د خپګان له امله يې خورموز بند ده، يا په هغه باره کې د پ او پ خورموز سره سم نه ده يا پ ډېر بد خورموزه انسان ده. يا سياسي خورموز.

خورندى — وايي د غوريو زى (ژى) خورندى کړى يا نګولي يا دا غله خورندى کړي يا دا چې وايي نه يې خوري او نه يې خورندي نه ورکوي.

خورنېدل — کله چې مينده مړ (مګ) مېږې نه ورنبژدې شي په سپمو (سپږمو) کې يو خپل (رنګ) اواز کوي چې خورنېدل ورته

وایي، نو که چېرته کوم سړی له خپنې ښخو سره بې ځایه ناسته ولاړه کوي وايي پ سړی په هغو ښخو کې خورنیګی.

خوري چکي : پ خوري چکي حساب نه مني، یا خوره وچکه حساب مه منه یا پ هلته خوري وچکي.

خوره خوره : پ پ خوره خوره وویسته یاخورهخورهیې وله.

خورئی : پ داسې خبرې کوي چې بل څوك داسې خبرې نه شي کولی ډېر خورئی سړی ده یا خورئی خورئی مه کېږه یا پ ډېر ښه خوراك کوي خورئی ده یا مال خوری ښه وي.

خوړونی : پ د دې شي خوړونی نه ده یا دا شی خوړونی بولي، یا پ د پ مال و دولت خوړونی بولي یا ته به دا وګڼې چې هغه شی خوړلی شم، خوړونی یې مه درته ښکاره کوه.

خوړین : لکه دا شی ښه پوخ ده، خوړین ده یا دا چې پ زوړ شوی ده، ټول بدن یې خوړین ده یا دا چې پ له خندا څخه خوړین ده یا له ژړا څخه خوړین ده یا پ په هغه چاره ډېر وخت وبوست پرې خوړین شو.

خوزی : دانوم د وریزو په منځ کې څرخنی ته یادېږي چې د ځي په بند کې په وریت (جوت) شي دا هم داسې یادېږي لکه پ یې د پ خان په خوزي پوري کوي، د وړو خلکو په خوزي یې نه پورې کوي. یا هغوي د لويديز والو او ختيز والو په خوزی را ټول شوي وو.

خوسی خوسی : لکه د پ پ ته د بدی زړه کېږي زړه یې ورته خوسی خوسی کېږي یا په هغه باره د پ پ ته خوسی خوسی کېږي یا دا چې ولې دې راته خوسی خوسی کېږي.

خوسی د میوګي په زور مینجېږي : دا خبره په ډېرو ځایونو کې یادېږي لکه پ قوم لري د قوم په زور مینجیګي خوسی د میږوي په زور مینجیګي یا پ د پ په زور مینجیګي خوسی میګوي په زور مینجیګي یا پ د دولت په زور مینجیګي.

خوسی ګډ : دا خبرې پ کوي هغه هسې خوسی ګډ ده یا پ هره ګړی خوسی ګډ وي.

خوګ لون : هغې خاورې ته خوګ لون ویل کېږي چې له پاسه اور پرې بل شوی وي خوګ لون بیا ډېر متې یادېږي لکه په پ باندې هغه خبرې داسې بدې ولګېدې لکه سور خوګ لون دې چې مخ ته ور وشینده یا په هغه چاره یا باره کې داسې شو لکه

خوګ لون دي چې په مخ ور وشینده یاده بـه کـړو چـې پـه خـوګ لون باندې لګېدلـی ځای تبـل کـېږي.

خوګه برخه : لکـه هر شـی چـې سره ببلـوي د پ برخـه دې لـږ زیاتـه یـا درنـده وي په ټولـو کـې دې د هغـه برخـه خـوګه وي یـا پ پـه خـوګه برخـه روږدی ده، پـه هــر شــي کــې د ده برخــه ډېره وي خــوګه وي یــا خـدای پ تـه د زمنـو برخـه خـوګه ورکـړې ده یـا د خـوګې برخـې ښتن ده. یا هغـه غـوارې چـې پـه دغـه سیاسـي غوبـل کـې ځان د خوګي برخې ښتـن کـړي.

خوګه خولی : لکـه پ نسـور نــه ده، خــوګه خولــی ده، ګواکــي د ډېرو خــوړو مینــه وال نــه ده، د ښو خــوړو شـوقي ده، یــا پ ټول عمـر خــوګه خولـی ده، یـا دا چـې خلکـو تـه جـار و قربـان وایـي ډېر خــوګه خولی ده، یا هر چا تـه خوګه (خوږه) خبره کـوي خـوګه خولـی ده.

خوګه ورکول : پ پ تـه خـوګه ورکـړه چـې زه هـرې مرسـتې تـه درتـه تیـار یـم، ورشـه پ مړ کـړه کـه هغــه خـوګه نـه وي ورکـړې پ څوك نـه وژلـه، یـا پ لـه چـا خوګه میندلي یـا خوګه مـه ورکـوه، یـا د هغـې چـارې پـه بـاره کې یې خوګه ورکـړې ده.

خوګند : پ ډېرخوګنـد ده پـه خلکـو خـوګېږي، یـا خوګنـد شـه.

خوګ زوګ : لـه ډېره وختـه راهیسـې د دې دوارو قومونـو تـر منـځ خـوګ زوګ نـه دي پـېښ شـوي یـا دا دعـا چـې وایـي خــوګ زوګ (خـوږ زوږ) درپـېښ مه شه.

خوګمن : هسې خو دا خبره داسې هـم کـېږي چـې پ خوګمـن ده یـاني وهـل شوی ټکـول شـوی یـا پـه بلـه واسطه خوګمـن ده،خـو خوګمـن بیـا داســې هــم یــادېږي لکــه هغــه خــبرې ډېرې خوګمنــې دي پــه خوګمنـو کیسـو کېمـه غـړېږه یـا هغـه ځای خوګمـن یـانې مـرګ ژوبلـه خپـګان ده، پکـې خوګمـن ده، یـا خوګمـن زړونـه شـوه چـې خلك یې داسـې یـادوي وایـي لـه خوګمنـو زړونـو څخـه لـرې ګرځه یا خوګمنو زړو تـه ګوتـې مـه ور وړه یا بـه داسـې ووایـو چـې ټولـې خوګمنې لـه هغـه املـه پـېښې شـوې.

خول خوند : وایي پ تـه خـول خونـد ورکـه یـا یـې پـه هغـه چـاره کـې هغـه تـه خـول خونـد ورکـړی ده یـا دا شـی د هغـه خول خونـد هـم نـه ده.

خول وازی : وایـي تـه خـو وې خــول وازی هغــه دې درسـره خـول وازی کـړ یـا خلك لـه ځان سره مـه خـول وازي کـوه، یـا پ خـول وازی سـړی ده.

خولم : لکه پلانۍ ښځه په څمکه خولمه ناسته وه یا پ سړی خولم ناست وو یا پ په هغه چاره خولم شو یا پ د پ په لیمځي خولم شو.

خول وهښ : وایي هغو خلکو هغه شی په خول وهښ سره ووهښه یا په خول وهښ یې ووهښه.

خوله اچول : وایي پ او پ خوله سره واچوله مني بدې ردې یې سره وویلې یا پ پ ته خوله ور واچوله، کنځا یې ورته وکړې یا خوله یې ور واچوله مینت یې پرې وکړ یا پ هر چا ته خوله ور اچوي. یا هغه سیاسي خوله اچونه ده.

خوله اړول : وایې پ د خلکو خوله ځان ته ور واړوله یا پ پ ته د خلکو خوله ور واړوله یا د پ خوله مه در اړوه یا په هغه خبره د خلکو خوله له ځانه اړوي.

خوله اوبه اوبه کېدل : لکه هغه خوړو ته د پ خوله اوبه اوبه کېده، یا پ چې خواږه (مړې) خوري د خلکو خوله ورته اوبه اوبه کېږي یا هغې خبرې یا چارې یا شي ته د پ خوله اوبه اوبه کېږي.

خوله پټول : وایي پ هغه شي کور ته یو وړ اوس یې خوله پې پټه کړه چې ما نه ده وړی یا د پ په مال و دولت پ خوله پټه کړه یا یې په هغو خبرو خوله پټه کړه.

خوله پوول : لکه پ خو دا خبرې کوي خو له دې خبرو یې هېڅ نه جوړېږي هسې خوله پیایي یا پ هلته خبرې وکړې خوله یې وپووه یا پ د خلکو په خبرو کې خوله پیایي.

خوله پې خوږېدل : وایي پ داسې خبرې کولې چې په هغو خبرو د بل سړي (چا) خوله خوګېږي، یا په ځینو خبرو د سړي خوله خوګېږي، نه یې شي کولی یا د هغه سیاسي ناخوالو په ویلو خوله خوګیږي.

خوله پې زوروره : وایي د پ هېڅ له وسه نه کېږي هسې خوله پې زوروره ده، خبرې ډېرې کوي یا پ زوړ شو له زوره ولوېده اوس خوله پې زوروره ده.

خوله پې ور پرې کول : وایي پ په پ خوله ورپرې کړه، ډېر بد رد یې ورته وویل یا په پ دې ولې خوله ور پرې کړه.

خوله تپول : وایي هغه خبره پ نه شوای کولی خوله یې وتپوله یا خوله مه تپوه د خولې له تپولو څه نه جوړېږي وغږېږه، یا پ خبرې

کـوي خـو چـې د مطلـب تکـی تـه راشـي پـه هغـه خـبره خولـه وتپـوي.

خوله تخېدل : وايي د پ پ ته خوله تخېده خبرې يې ورتـه کولـې خـو چـا خـبرو ته ورته پرې نه ښوده يا د پ هر وخت خبرو ته خولـه تخـېږي.

خوله خوګه : وايي پ لـه پ سره بد وکړه هغـه بېرتـه څه ورتـه و نـه ويـل د هغـه خولـه خوګه شـوه يـا پـه هغـه چـاره د پ خولـه خـوګه شـوه يـا پ د پ خولـه خوګه کړه. يا د واکمنـو خولـه لـه هغـه املـه خـوګه شـوي دي.

خوله د سوی : لومړی بـه دا خـبره وګورو چـې وايـي د پ خولـه دې سـوی ده، سـوخوند د فيـل يـا د اوښ پـرې وهـي يـا د پ خولـه د سـوي ده دا چاره نه شي کولی يا دا خبرې نه شي کولـی.

خوله سره : وايي په قوم يا کلي کې بـدې خبرې يـا بـد کارونـه پ کـوي خـو خولـه د هغـه بـل سـره ده، ټول خلـك هغـه يـادوي چـې هغـه يـې کـوي يـا دا دعـا چې وايـي خولـه دې سره مـه شـه چـې خولـه دې سره شي يو کار بـه تـا نـه وي کړی خلك بـه وايـي تـا کـړی ده يـا د پ هسـې خولـه سره ده. يـا هغـه غـواړي چـې د مخـالفينو خولـه سره کړي.

خوله سړول : وايـي پ ډېرې خـبرې وکـړې خولـه يـې سـړه کـړه يـا د پ لـه خـبرو هېڅ نـه جوړېږي هغـه هسـې خولـه سړوي.

خوله شکول : لکه پ چې لـه کوره ووزي، الـواد يـې خولـه پسـې شـکولې وې، د وروسته پسـې ژاړي يـا پـه پ پسـې خلـك ښېرا کـوي خلکـو خولـه پسـې شـکولې ده يـا پـه پ پسـې خلـك خـبرې کـوي خلکـو خولـه پسـې شـکولې ده.

خوله ښوېدل : وايي لـه زمنو سره بدې او بې باکـه خبرې مـه کـوه بيـا مـو خولـې سـره ښوېږي، دوی هـم بـدې خـبرې درتـه کـوي يـا د پ لـه پ سـره خولـه ښويـه شـوې ده چـې څه يـې پـه خولـه راځي هغـه سـره وايـي يـا د هغـې خبرې يـا چـارې پـه بـاره کـې د پ او پ خولـې سـره ښوې شـوې. يـا پـه سياسـي خـبرو د سـيالانو خولـې سـره ښويـې دي.

خوله غوړه : وايـي پـه پ بـه دې هـم خولـه غـوړه نـه شـي، يـا بـه دې د پ پـه خـبرو او چـارو خولـه غـوړه نـه شي يـا کـه د پ پـه پـلار او نيکـه دې خولـه غـوړه شوې وی پـه ده بـه دې هـم غـوړه شـي يـا هغـه شـی دې کار نـه ده خولـه بـه دې پـې غـوړه نـه شـي.

خوله کوږ : لکه غلا ګلي کړي خلکو احمد خوله کړی چې احمد کړې يا هغه خبر پ وکړه خو خوله پ شو يا په هره خبره يا چاره کې خپل خان مه خوله کوه، چې خلك وايي پ وکړه او خوله شي.

خوله کې وهل : وايي پ خبره وکړه خلکو په خوله کې وواهه، ګواکي خلکو بد پرې ووېل يا په هغه چاره پ تربرو په خوله خوله کې وواهه منې مينت يې پرې وکړ.

خوله کبل : وايي پ خبرې نه شواى کولى خوله يې کبل شوه يا خوراك يې نه شواى کولى خوله يې کبل شوه.

خوله ګډول : وايي پ غرېده خوله يې ځټ و مخ ګډوله يا خوله مه ګډوه.

خوله ګنډل : وايي د پ خوله پ ګنډلې يا پ د خلکو خولې ګنډلې دي يا پ خبرې نه شواى کولى تا به ويل چا يې خوله ګنډلې وه يا پ خپله خوله ګنډلې ده.

خوله لمنده : وايي پ د پ په مخ کې خوله لمنده نه کړه يا يې خوله نه شوى لمدولى يا يې په هغه بېلبره کې خوله نه شوى لمندولى يانې نه شوى پکې غږېداى.

خوله مښل : وايي پ هغه خبره سمه نه شوى کولى خوله يې پرې ومښله يا په هغه خبره دې ولې خوله ومښله.

خوله موم : وايي پ خبرې نه شوى کولى خوله يې موم وه، يا له خوراکه چکاکه (څښاکه) يې خوله موم وه يا پ ته يې خوله موم شوه.

خوله ناسور : وايي پ په چارو او خبرو کې مه غږوي د هغه خبره خير ته نه ځي، خوله يې ناسور ده، يا پ چې په خبرو کې وغږېږي خبر خرابه کېږي خوله يې ناسور ده.

خوله نه ورته لرل : وايي پ ته د خبرو کولو خوله نه لري چې خبرې ورته وکړي يا د پ خوله ورته جوړه کړه خوله نه ورته لري.

خوله ور (خولور) : وايي پ خوله ور سړي ده، د هغه خولې ته هېڅوك نه شي ټېګېداى، يا پ قوم کې خوله ور ورك مه کړې.

خوله ورته ماته : لکه په هغه خبره کې د پ خوله قوم ته ماته ده، يا پ ته د پ خوله ماته ده، يا په هغه خبره د پ خوله ماته شوه يا په هغه چاره به دې خوله ماته کړي.

خوله ورته کول : لکه د غوړيو زې ته يا د اوړو توبرې ته يې خوله کړې ده خورندى کړى يې ده، يا خوله ورته وکړه.

خوله ولاس چلېدل : وايي پ مال دولت نه لري هسې خوله و لاس يې چلېږي يا نن صبا د پ خوله و لاس وچلېده.

خولې ته جوړه کړې مړی : وايي دا شی پ خولې ته جوړه کړې مړی بولي، يا پ پ خولي ته جوړه کړې مړی بولي يا قوم د پ خولې ته جوړه کړې مړی ده.

خولې ته واك ورکول : پ خولې ته واك ورکړی چې څه يې په خوله ورځي هغه وايي يا خولې ته واك مه ورکوه هر څه مه وايي.

خولې چن : لکه پ بد مرض نيولی خولې چن مخيې نيولی ده.

خولې مولې : هلته جنګ شوی و، خلك په وينو کې خولې مولې پراته وو، يا پ خلکو وهلی وو په وينو کې خولې مولې وو، يا دا ښېرا چې وايي خدای دې په سرو وينو کې خولې مولې کړه.

خولي و سر : لکه په هغه باره کې ټول قوم په يوه اينتيپاخ نه ده، سره خولي و سر دي، يا د پ خولي وسر کور ده يو د بل نه مني يا د هغې خبرې يا چارې په باره کې پ او پ سره خولي او سر دي. يا تنظيمي مشران سره خولي و سر وه.

خونجك : د ژاولو يو زدوونې ته خونجك وايي.

خوند اخيستل : وايي پ چې دا خبره بيا بيا کوي خوند تري اخلي، يا دا چې څوك له خپله تکليفه خوند اخلي او څوك د بل له تکليفه خوند اخلي يا دا چې پ له خپله ژونده څه خوند واخيست يا پ له هغې ښلبرې خوند اخلي.

خوندي : دا شی خوندي کړه يا خوندي مې کړ.

خُوني : هغې مېوې ته خوني ويل کېږي چې د خوشحالۍ په وخت کې ووېشل شي لکه د پ زوی پيدا و خلکو ته يې خوني ورکاوه يا يې ښادي وه خوني يې ووېشه ياد خوشحالۍ خوني يا که پ ته دا خبره وکړې خوني به درکړي.

خووی : لکه پ په څمکه خووی ولګولي يا پ دهغې خبرې د جوړېدو لپاره ډېرې خووی ولګولي يا پ په دې چاره کې ډېرې خووی ولګوي.

خوه ييز : ايي پ د پ خوه ييز ده يا پ د خلکوخوه ييز له خانه جوړ کړی دي خو دومره د چا خوه ييزنه ده يا که پر دې دهر څومره خوه ييز شي له خپله نه ده ښه يا هغه غواړي چې خپل سياسي خوځان په خان را ټول کړي.

خيپت : لکه د پ ميګوخيپت کړی ده ګواکې مرض يې کړی، يا پ ډېر خيپتې سړی يا ښځه ده، خلك په بلا سره اخته کوي يا له

حیثیتي کس ځځه لري ګرځه. یا دغه سیاسي ځیپت هر چا ته لګیدلي دي.

خېټه اچول : وايي پ په ملکونو خېټه واچوله یا د پ په خبره يې خېټه واچوله یا د خلکو په مال خېټه مه اچوه.

خير په خوله کې : د پ په خوله کې هېڅ خير نه شته، ډېره بې خیره خوله یې ده.

خیله : وايي د پ يو زوی ده، نازولی ده ډېر خیله ده. یا هغه ډېر خېله ده، چا په مخ نه ده وهلې، خیله لوی شوې ده. یا پ خېله چاري او خبري کوي یا خیله سیاست.

خیري : د پ په زړه کې هېڅ خیری نه شته، بلا پسې ده. یا د هغه په زړه کې سیاسي خيري شته.

ACKU

# څ

څاپو : کله چې بوده لومړی پښې د یو څه لپاره پورته کړي او په ځمکه یې په زور سره ووهي هغه ته څاپو وایي بیا څاپو داسې یادېږي لکه پ توندتوند روان و، څاپو یې وهلي یا پ به دې له څاپو لاندې کړي یا پ په هغه چاره یا خبره کې دېرې څاپو ووهلي.

څار ځای : وایي په څارځای کې کېښېنه څار کوه.

څارګن : پ څار کوي څارګن ده، یا ته ورته څارګن شه یا دوه چې سره غږېږي دربم ورته څارګن شي یا د هغې خبرې یاچارې په باره کې هغه څارګن و، یا ده یا دا چې وائي څارګن باتور وي.

څارو : وایي پ دا کار کوي پ پسې څارو ده یا ته پسې څارو شه، چې کوم لور ته ځي یا په هر ځای کې ته په ما پسې څارو یې، یا پ په هغه خبره یا چاره پسې څارو ده یا ورته څارو و یا هغه په ټولو سیاسي او قانوني چارو پسې څارو ده.

څپانې : پ خلکو وواهه، څپانې یې که یا څوك به دې وېرېږي څپانې به دې کړي یا دا سړی ووهي څپانې یې کړي یا پ اوښ، اوښانو له پښو لاندې څپانې که. یا له قانون لاندې څپانې.

څپر : لکه د لوخو څپر یې وتاړه کوډې یې تړې جوړه کړه یا په څپر کې به وخت تېر کړم نه د تا په کېږدۍ کې.

څپلۍ (کېړۍ) سمول : پ د پ څپلۍ (کېړۍ) سموي یا د خلکو څپلۍ (کېړۍ) مه سموه یا ټول عمر تا د خلکو څپلۍ سمې کړې، یا د هغې خبرې یا چارې له پاره پ د پ څپلۍ سموي.

**ځپند** : دا ټکی د هغه چا په باره کې کېږي چې په لیارې (لارې) وچته تګ نه شي کولی وایي پ ډېر ځپند ده توند نه شي تلای یا په هغه چاره کې ځپند ده یا پلانۍ ښځه ځپنده ده.

**ځپولی** : لکه هلته ملنګ و، د سر وېښتان یې ځپولي ځپولي شوي وو.

**ځپ وهل** : لکه له قوم څخه دا ځینې خلك ځپ وهیٔ یا پ او پ مو ولې ځپ وهل یا دا مرتبت ځپ وهیٔ. یا سیاسي ځپ وهنه

**څټ ګرول** : پ په هغه خبره ډېر تغیره شو څټ یې پې وګراوه، یا هغه خبره پ ترې وکتله هغه بل څټ پې وګراوه، یا ولې دې څټ پې وګراوه یا بې خواب شو څټ یې وګراوه.

**څټلی** : پ چې ښځه وکړي مړه شي ډېر څټلی ده، یا چې د مېړو او اوښو، پوړیانه یې پیل کړه پسې شو په هغوی ناروغي ولګېدې ټولې مړې شوې ورکې شوې پ ډېر سپېره څټلی ده یا پلانۍ ښځه چې دې کور ته راغله دا کور یې سپېره کړ ډېره څټلې ښځه ده، یا په خوسرانه کې یې مړی وشو څټلې ښځه ده. یا د هغه څټلي سیاسي واکمني.

**څټو مخ** : په هغه ځای کې جنګ ښخ (ښخ) شو، خلك څټو مخ سره تاو شو، یا پ څټ و مخ جنګېږي که چېرته د تودو او ترخو خبرو په وخت کې یو کس بېرته وورانډې خو له تاووي، هر لور ته غړېږي هغه ته هم ویل کېږي وایي پ څټ و مخ جنګېږي یا هغه کور ډېر بې اینتیپاخه ده، ټول کور سره څټ و مخ ده یا پ او پ هر وخت سره څټ و مخ وي یا سره څټ و مخ دی. یا تنظیمي مشران سره څټ و مخ وو.

**څټه** : وایي د خره څټه غی د ښځې ګټه غی، په دې ارتباط نورې خبرې لکه پ د دې خبرې یا چارې څټه په ژرنده واچوله بل چا ته وار نه ورکوي یا پ خبرې بینا کړې څټه یې په ژرنده واچوله یانې د یو څه وار یې ونیوه. یا یوه څټه اوړه.

**څڅوبی** : لکه له برانه (بارانه) پټ شوې څڅوبي ته کېناستې، یا پ د خان لور ته څڅوبی کوي دا خبره باید جوته کړو چې کوچیان بته وریږې پخې کړي د خوراك په وخت کې د لوښي په منځ کې په وریږو کې ځرخنی جوړ کړی په هغه کې کورت او غوړي واچوي نو کله چې مړی جوړه کړي بیا یې په کورتو غوړیو کې ټیټه کړي، خولې ته یې یوسي، ځینې خلك په

ځرخنې کې څو واري مړي، يا منګروسه ټيټوي بيا کوم کورت او غوړي چې پوري راپورته شي هغه د ځان لور ته څڅوي لکه پ ښه سړي يا ښځه ده خو چې د ځان لور ته يې څڅوبې نه کولی يا په دې خبره کې ده د ځان لور ته څڅوبې کړی ده. ګواکي ځان ته د ګټې هڅه يې کړې ده.

ځځېدل : لکه په هغه جنګ کې د پ د زوی ځځېدلی وه هغه پکې مړ شو يا په هغه چاره کې د پ ځځيدلې وه مال دولت يې پکې تاواني شو.

ځرخ : لکه هغه شی دومره ورنژدې کړه چې د پ ګوتې پکې ځرخې شي وښيه پکې بندې شي بيا دا ټکی داسې هم يادوي وايي د پ لاس په هغه خبره يا چاره (ښېلبره( کې ځرخ دی، يا پکې ځرخ شو يا په هغه موضوع (خبره) کې د پ ګوتې ځرخې شوې وي.

ځرخنی : لکه مخکې چې موږ ياده کړه ځرخنی د بته وريزو په منځ کې د لمده بل لپاره جوړېږي دلته ويل کېږي وايي پ يې د لويو خلکو په ځرخني پورې کوي يا د خانانو په ځرخني يې مه پورې کوه. يا دا يو سياسي ځرخني ده تر څو چې دوی پرې راټول کړي.

ځرخك : هغه اتڼ ته ځرخك وايي چې د يو لاس په لوري ډېر په توندی سره سړی ګډېږي لکه پ اتڼ کاوه داسې ځرك يې خواړه يا ځرخك مه خوره سر به دې ګډ شي که يو څوك دې يو چا په مخ کې توند توند تمه دار تمه دار د هغه د خوشحالی لپاره تاوېږي هغه داسې يادېږي وايي پ د پ له خولې سره داسې ځرخك خواړه يا د پ له خولې سره ځرخك مه خوره يا پ د پ له مخې سره ځرخك خوري.

ځرك : لکه د پ مال ورك و، اوس يې ځرك (پته) لګولی، ګونډې پيدا شي يا په پ پسې د دښمن ځرك شته يا د هغه شي په باره کې ځرك ولګوه يا په هغه باره کې پ د پ ځرك ده.

ځرك پرك : لکه پشی چې موږك ته غلی شي ځرك پرك نه کوي يا سپين ږيری ويده (بيده) ده د هغه له ډاره ځرك پرك نه شوی کولی يا د هغې چارې په باره کې ځرك پرك له غوږك کېږي.

ځركند : د دوښمن له لوري ډزونه را کېږده يو کس ځركند ولګېده يا ډېر خلك ځركند پرارژلي شو يا په بزار (بازار) کې روان وم پ

څرکند راباندې تېر شو، یا پ مې څرکند له نظره تېر شو یا هغه خبره مې پ ته څرکنده ور واوروله.

څرمه : لکه دا شی ما ته را څرمه ده، او هغه تا ته در څرمه ده یا له ټول قوم سره له څرمه بدې مه کوه.

حروی : د سړي دقد په اندازه یو تیره په بله تیره یا چمان جګ کړي هغه ته څروی وایي. له څروي سره په تړون ډېرې خبرې کېږي لکه پ څه سړی ده هسې څروی ده یا نورو خلکو جنګ کاوه پ لکه څروی ولاړ و، یا دا چې وایي پ یې په پینځه سره مړکه اوس یې یو پ ورته څروی که چې هغه وژلی ده، یا دا بدي د ټولو وه اوسم (اوس مو) یوازې زه څروی کړم یا په دې چاره کې پ خان په خپله څروی کړ یا دا چاره یوازې ته تر سره کړه موږ ټول به وایو چې موږ کړي تا به نه څروی کوو یاجنګ ټولو کاوه اخر یې پ په میدان لکه څروی ورته پرېښود. یا هغوي غواړي چې سیاسي څروي پري جوړ کړي.

حړ : کله چې مینده په مېږو کې څړي نو د دې امکان وي چې بې وخته یا بې خایه مېږ تېره کړي نو د دې لپاره چې بې وخته یا بې خایه مېږ مینده تېره نه کړي د مینده په خېټه او ملا پورې د لیمخي یا بل شي یوه اوږده ټوټه ورتړي چې د مینده (غ...) پې ایسار شئ هغه ته څړ وایي.

څرموني یا څرموني : د پسرلي لومړنیو شپو او ورځوته ویل کېږي.

څړیکې : لکه تبه (طبعه) مې ده په سورت (بدن) کې مې څړیکې دي یا د پ څړیکه هر خای ته تللې ګواکې هر څای یې خپلوان دي یاڅړیکه یې اوږده ده. یا هغه سیاسي څړیکه هغه خاي ته رسي.

څړي وړي : لکه هغه کلي نور وتلیده څړي وړي پکې پاتې ده، یا نن سبا ګوندي له کلي څخه څړي وړي راشي یا د تاسې له خوا څړي وړي هم نه را لګېږي.

څکر : پینځه دزي ایتالوي ټوپک ته وایي چې په افغانستان کې د وردګي او غوګه ور (غوروړ) په نامه هم یادېږي داتوم نسمو خلکو ته هم یادېږي لکه د پ څکره خواني ده. یا پ څکر زلمی ده یا پ څکر څکر ګرځي.

څکول : په دې خبره کې یې پ څکولی ده ګواکې بدې یې ورکړې یا پ وڅکوه یا په دې چاره کې یې ډېر خلك څکولي.

ځکه ځدره : لکه پ پـه خـوړو اوبـو ځکـه ځدره نـه ده کـړې یـا پ د پ کـره ځکه ځدره نه کوي یا پ ناروغـه ده ځکـه ځدره نـه کـوي.

ځکېدل : لکه پ لك و ځك کـېږي یـا لـك و ځك سـه، ګواکـي بېدار سـه یـا دا چې وایي: خره سپیه که غاپي نه ځك خو سه.

ځګي : د چکلو (ځښلو) د اوبـو لپـاره دري ځلور ګزه ځمکـه ووهـل شـي یـا چې کله ځوك اوبـه تـرې را اخلـي کتـه ور تیـتېږي لکـه پـه ځګي دېرې ښځې ناسـتي وي هـرې یـوې پـه خپـل وار زی (ژی) ترې ډکـاوه.

ځل : پ پ تینـګك نیولـی و، ځل یېنـه شـو تـرې وهـلای، یـا کـه لاس در واچوم ګوتـي درکـې بنـدې کـړم ځل بـه راځخـه و نـه وهـې، یـا پ يې وویسته لـه خایه یـې ځل و نـه واهـه، پـه هغـه خای مـړ شـو یـا پ د پ لـه داره ځل نـه شـي وهلـی یـا تـه ځل ووهـه چـې ځه در سره کېږي. یا دغه یوه سیاسي یـا نظـامي ځل وهنـه بلـل کیدلـي شـي.

ځلی : ځینـې خلـك ځروي تـه ځلـی وایـي لکـه د لـېوه لپـاره مـې د مـېږو او وزو پـه پلـو کـې ځلـی وکـړ، یـا پ داسـې ولاړ ده لکـه د للمیـو ځلی هسـې ځلـی ده.ځلي د تـیري لاري او نـرخ خای هـم نیسـي یـا پـه هغـه بـاندي .... یو سیاسـي ځلي جوړ شو.

ځمه ځریکی : وینـې د مـاښام ځکـالی، شـوپـرك، ځمـه ځریکـی بیـا دېر متـې یـادېږي لکـه پ پـه هـر کـار کـې ځمـه ځریکـی ځمـه ځریکـی کېږي.

ځمه غیلی : لکه د پ کـېږدۍ دېره زړه وه هسـې ځمـه غیلـی و، یـا د توکریـو اوبو جیو ځمه غیلي ئي جوړ کـړی و.

ځندلی یا ځنده : لکه پ په ځنډلي پوري دروغ وویـل وینـې د یـوه شـي پـه ځند یاځندلي پـورې یـې دروغ وویـل.

ځند و ځورګه : لکـه د یـوه شـي ځنـد و ځورګه بیـا ځنـد و ځورګه داسـې هـم یـادېږي لکـه پ پـه هغـه بـاره کـې ځند ځورګه ګرځي، یـا هغـه شـي تـه ځنـد وځورګه ګرځي. یـا دا یـوه سیاسـي ځنده وځورګه ده.

ځنډېدل : لکه پ هغې چـارې تـه ځنـډېږي یـا پ پ تـه ځنـډېږي چې داسـې یا هغسې ورسره کوم، یا پ پ تـه وځنـډېده وښیـه واهـه یـې. یـا هغه سیاست وال یـې قـانون پـه بینـا ښه وځنډل.

ځنګ : پ ټول عمر ځنګ وهلی خدای روزي ورته رسوي یا پ کـه پـه دې چاره کې ځنګ وواهـه بیا یې څوك نـه شي راپورتـه کولی یا زه کتـه (کښتـه) پورتـه منډې وهم تـه ځنګ وهلي ناست نې یـا د هغـه لـور تـه یې ځنګ ور وواهـه. یـا پ دارېده لـه داره یې د پ لـور تـه ځنګ ور وواهـه، یـا چې پ د پ ځنګ کې وي یوې خبرې تـه مـه خپه کېږه یا پـه هغـه خبره یـا چاره کې پ د پ لور تـه ځنګ ور وهـي ګوا ور نـژدې کېږي.

ځنګل : پ پ تـه دومره غوړي ورکړه چې لاس بـه یې تـر ځنګلي غوړوي یا پ چې پـه نببه دز کوي توپك پـه پرتـو ځنګلو ولـي یـا پ او پ سره پـه پرتـو ځنګلو شوي یا د پرتـو ځنګلو سرې جوت وي یـا پ ځنګلې ګډولې پـه ځنګلو غړېده یـا دا چې وایـي:
جنګ دې جوس پټې تـه راغـی
اوړکـي ځنګلي لګوي جوس ګتینـه
یا پ د ځنګلې خرپ نـه ده لیدلی وښیـه چا ویشتلی نـه ده.

ځنګلی : کوچیان د پیڅوله او څمکې تر منځ چولې تـه ځنګلي وایي خو دا بیـا پـه ډېرو ځایونـو کې یادېږي لکـه د پ پـه ځنګلی پوري یې مړي وکړ هغـه پـه خپلـه ځنګلی ننګه و نـه کـړه. ځنګلي دچاپیریال بـه مانا هـم راوړي.

ځنګ لیري : پ لـه خپلـه قومـه ځنګ لیرې ګرځي یـا پ پـه پ باندې ځنګ لیرې تېرېږي یـا پـه مرکـه کې پ پ ځنګ لیرې کړ یـا ځنګلېري ور وغـړېږده. یـا هغـه غـواړي چې لـه سیاستـه ځان ځنګ لیري کړي.

ځنګ و زور : پ او پ سره ځنګ و زر دی، ګواکې سـره خپـل دي یـا تـه د هغـه څه ځنګ و وزر یـې چې پري خوړېږي یاهغـه د مـاځنګ و وزر ده. یـا هغه سره سیاسي نظـر یـا یې ځنګ ووزر دي.

څوب : وایي پـه پ پسې مې ډېر څوب وواهـه، خـو پیدا مې نـه کـړ، یـا ولاړ شه د دې خبرې پـه باره کې څوب ووهـه، یـا کـه پـه دې شـي پسـې څوب ووهې اخر بـه یې پیـدا کـړې. یـا سیاسي څوب.

څوکرۍ : لکـه د پ داسې تنکـی ځوانـي ده لکـه څوکـرۍ یـا څوکـری ځوان زنۍ ده. څوکرۍ د یـوه بوټي نـار تـه هـم وائـي.

څوري : کلـه چـه تیـږه مـا تـه شـي هغـه نـرۍ او تـېره ځای یـا ټوټې تـه یـې څوري وایـي لکـه مـرزی یـې پـه څوري پـرې کـړ یـا پـه څوري اړخ نـه لګېږي یـا پ تـه پ د اړخ څوري شـو.

ځوبنی : د نر حیوان په (غ....) برسېره ځرمنې ته ځوبنی وایي لکه د اوبن ځوبنی د مګه ځوبنی یا د غوایي وزګوري او داسې نورو ځوبنی. د اړتیا له مخي د نارینه نارته هم ځوبني ویلي شو

ځوه ری : کله چې شپانه په ډاګ ګواکي له کوره لري مال پنډ وي یا بهیر خي د هغوی د سفر غلي دانې ته ځوه ری وایي لکه شپنو یا بهیر زنو ته ځوه ری واچوي کله کله بیا داسې کېږي چې په یوه کاله باندې ځوه ری واچوي هغه یې ور پخه وي دوی وایي د پ په کورم ځوری اچولی ده بیا په د اړه وایي ما ویل د یوې ورځې مېلمه به یې تا ځوه ری راسره واچاوه د دې خبرې د خلاصون لپاره هلته ځوه ری واچوه یا دلته ځوری نه شم اچولی یا د هغې چارې لپاره ځوه ری واچوه. یا په لاز درنه به یې ځوه ري نه درکوي دوست هغه بوله چې لاز در وبني او ځوه ري هم درکړي.

څه تري شکه ول : وایي پ ته خو ورغلې څه دې تري وشکول یا څه نه تري شکېده له هغه نه یې ځوك شکولی شي یا مې څه تري وشکول.

څه مخه : یو متی به دا دعا وخیروچه وایي خدای د پ څه مخه نه کوي یعا څه مخه مه شي یابه دې پ څه مخه کړی چې څه مخه دې نه کړي.

څېر تېرول : وایي په دې قوم یا ترنده کې پ توریالي ده په هر کار کې څېر تېروي یا چې هغه څېر تېر نه کړي تاسو هېڅ نه شي کولی یا په ټول قوم کې یو هغه څېر تیر کړي یا ته به څه څېر تیر کړي داسې خلك څېر نه شي تېرولی یا دا چاره یې وکړه څېر یې تیر کړ یا په دغه اړه هغ ، غواړي چې سیاسي یا قانوني څېر تیر کړي.

څېرسترګی : پ ډېر څېر سترګی سړی یا ښځه ده، په هېڅ نه شرمېږي یا سترګې یې کته (کښته) پورته څېرې دې نه له زاړه شرمېږي نه له واړه شرمېږي. یا هغه یوه سیاسي څېر سترګي ده.

څېره : څېنې کوچیان عکس ته هم څېره وایي لکه دا د پ څېره ده یاداچې وایي پ چې دې چارې ته زړه نه ښه کوي څېره په اوبوکې وینې ګواکې خپل کړه وړه اوکردارویني یا دا ښېرا چې وایي څېره دې ورکه شه یا څېره د په بله څېره شه.

ځیرلې خبرې : وایي چې په مجلس کې ناست و، ځیرلې ځیرلې خبرې یې وکړې یا ځیرلې خبرې وکړه یاځیرلی و غږېده.

ځیره : لکه دا ینده چې تر سره کوي د ډېرو خلکو له زنې به سپینې ځیرې وتړي یا که د پ تر زنې زر سپینه ځیره و نه تړل شوه، خدا ځه ځه کارونه به وکړي.

ځیره : وایي پ مړو جنازې ته یې ځیره ځیره خلك راتله یا خلکو ځیره راکړې وه، یاپه کوم لوري سره ځیره شوي یې یا په دې لوري ځیره ځیره خلك رامات دي یا په پ پسې خلك د تمې لپاره ځیره شوي وو، ځیره یې پسې ښکلې وه. یا هغه او دغه ټول یوه سیاسي ځیره ده.

# خ

خان : پ پـه هغـه چـاره کـې خان ببرتـه اچولـی یـا یـې خان نـاخبره اچولـی یـا یـې خان کـوڼ اچولـی یـا خان سـپینوي یـا خان تـه یـې هیله پیدا شـوې ده.

خان په لیتی لړل : پ بد وکارو ته ملا تړلې خان یې په لېتی لړلی ده، یا لـړ سم شه خان ولې په لـېتی لـړې یـا پ هـېڅ کـار نـهکوي خان یـې په لېتی لړلی.

خان پـه خان سـودا : لکـه هـر څوک د خپـل خان لپـاره خـواري کـوي خان پـه خان سودا ده، یـا د هغې چارې په باره کې خان پـه خان سـودا شـوه.

خان پښتې وهل : وایي پ د دې چارې کولو ته نـه ده جـوړ، ګواکـي نـه یـې کـوي هسـې پـه دې و پـه دې خان پـښتې وهـي یـا د پ لـه مـوړ سـره د تـګ زړه نـه وو پـه څپلـی (کـېږي یـې) خان پـښتې واهـه، اخـر راڅخه پاتې شو، یا په دې خبرو خان پـښتې وهـه.

خان ترې ورك : لـه پ سره هېڅوك بدو تـه نـه دی تیـار، خـو دی پـه خلکـو پـورې خان مـښي خان تـرې ورك ده، یـا خان مـه در څخـه ورکـوه، یـا پ دولـې شـو خان تـرې ورك شـو یـا مېړونـه یـې ډېر شـو خان تـرې ورك ده.

خان درندول : د پ د دې چـارې کولـو تـه ښه زړه ده، خـو خلکـو تـه وایـي نـه یـې کـوم پـه خلکـو خان درنـدوي، یـا ډېر د خان پرې دروند کـړ، نـور یې مه پې درنـدوه.

خان ته غره : پ پـه هغـه خبره خان تـه ډېر غره ده یـا تـه دومـره سـړی یـا ښځه نـه یې هسې خان ته مه غره کېږه.

خان ته ډنګول : نور ټول قـوم یـوه لـور تـه ده، پ یـې خان تـه ډنګوي یـا خان تـه یې مه ډنګوه، لـه نورو سره ملګر ي شـه.

خان تـه مماخان ویل : پـه هغـه قوم کـې پ خان تـه مماخـان وایـي.

خان خاني : وايي خان خاني خپله خواري، يا د هر چا په خپل سر ده، خان خان ده. يا هغوي په سياسي خان خاني اخته وو.

خان ښکاره کول : پ په دې چاره کې هسې خان ښکاره کوي، يا په پرديو کارو کې خان مه ښکاره کوه.

خان داغي کول : ټولو ملګرو ويل چې د دې قوم په منځ کې جوړه کوو، پ وويل چې نه يې کوو خان يې داغي کړ، يا په دې خبره کې خان مه داغي کوه يا په هغه چاره کې پ داغي شو.

خان کنجول : پ دا کار کوي خو هغسې په خلکو خان کنجوي وايي نه يې کوم يا په هر کار کې ته خان کنجوې. يا سياسي ګنجونه.

خاني غرغړ : لکه دا ډېر وخت کېږي چې پ ناروغه ده اوس په خاني غرغړ راغلې يا له پ سره د بد کول کول اخر د پ خان غرغړ راوست يا پ زور شوی ده اوس په خاني غرغړ راغلی.

خبل : وايي غني يې وخبلې يا هلوکی به دې وخبي.

خري : په پ پسې د دښمن له خوا خرې پسې ده، شپه په يوه ځای نه شي کولی خو خرې جوت نه ده چې څوك ده، يا پ د پ خرې ده له خولې سره د پام کوي خبرې وړي يا پ د پ خريتوب وکړ اخر يې په دوښمن مړ کړ يا دا چې وايي پ دې مړيو خرې ده، ګواکې ډېر ناتوانه ده.خرې منې جاسوس.

خرخېل : لکه د اور لمبه ورپورته شوه وېښتان يې وخر خېل شول يا پ په اور خرخېل شوې ده. يا هغه غوارې چې د هغه سياسي رول وخرځيږ.

خنبت : لکه پ خنبته ډېره شپنې وکړه يا د اوبه خنبته ډېرې دي پ يا په دې قوم خنبت ده، بد يې ايسي، يا قوم د چا خنبت ده يا که هغه د خنبت وي دوستي به دې نه ورسره کوله يا پ يې په دې خبره ډېر خنبت ده. يا ګندريګي او رټ ده.

خښتېل : وايي پ خلکو په هغه چاره يا خبره ډېر وخښتيه يا پلار زوی وخښتيه، وبوله د هغه کار يا خبرې په باره کې يې داسې خبرې ورته وکړې چې ولې د داسې بد وکړه دا چاره يا خبره دا نقصانونه لري يا په نه خبره څوك مه خښتيه ډېر مه ورته غرېږه. يا دا ټول سياسي خښتيل وو.

څغڅولی : له سپينکې يا وازدې شکه (څخه) چې غوړ (مو) ووزي هغه د سپينکې ټوټې ته څغڅولی وايي.

خل : وايي د دې خبرې خل مه پورته کوه يا د پ خل مه پورته کوه يا که د دې چارې خل دې پورته کړ ځرا به کېږي.

ځنځه : پلانی ښځه ځه ځنځه بلا ده، ځنځه ځنځه کېږي.

ځواب غاړی : پ ډېر ځواب غاړی ده، ښه ځواب وايي يا پ د پ ځواب غاړی ده. يا د هغه سياسي ځواب غاړي داسي وويل.

ځواب د زبې په سر : وايي پ ځواب د زبې په سر لك نيولی ده.

ځور : پ دغي خبرې ته ځور کوي يا له هرې خبرې سره ځورېږي يا دا خبره دومره ځور نه ارزي يا هغې چارې ته ډېر ځور کوي.

ځور : پ خلکو ته ځور ځور کاته ياولې ځورځور ورته ګوري د چا ګومان دې پرې وکړ يا ځور ده.ځور او ځير په يوه مانا دي.

ځورېدل : وايي پ څه وخت مخکې ناروغه و لاتر اوسه پورې ځورېږي يا ډېر وځورېده اخر مړ شو. يا د هغه هيواده ځوريدلي اقتصاد.

ځوړ : د پ ګډې اوس په ځوړ شوی زوړ شو يا پ ناروغه ده چې ورځ وزی ګډی يې په ځوړ کېږي يا پ خپل دښمن اوس په ځوړ کړی ځوړی ته يې سيخ کړ په ځوړ شو.

ځوړندې ډوډی : وايي لکه ته چې له دې ځايه ځې هلته دې چېرته ځوړندې ډوډی ليدلی دي يا هلته به ځوړندې ډوډی پيدا کړي. يا هغه سياسي ډله له خلکو سره د ځوړندو ډوډيو ژمنه کوي.

ځوښ : چې ګړی وته په هغه خبره د پ ځوښ زياتېده يا چې ګړی وته د ده ځوښ کته کېده يا په دې خبره هغه ته سخت ځوښ ورغی، يا زړه ته ځوښ ورکوي.

ځوکه : کله چې وابنه (ګيا) نوی (تيونه) را شنه شي وايي غر و او روغو ځوکه کړی راشنه دي يا پيتاوې ځوکه کړی ده يا ځوکه کله وارې داسې هم يادوي لکه د پ په کور کې ځوکه وه، وښيه خواره ورکې پيدا کېده يا پ په ځوکه پسې ګرځي وينې په ښو خوړو پسې ګرځي.

ځوګمي : وښيه ښاته يا دا چې تري لاندې ځنډې يا د پ بې ښو سري ځوګمې وي يا دي.

ځولی : کله چې د يو څه د ساتلو يا وړلو لپاره د څادر دوه ځنډې سره غوټه (ګنډه) شي هغه ته ځولی وايي،ځولی بيا داسې يادوي وايي: پ د خبرو ځولی ده، يا د پيځونو (فسادونو) ځولی

ده، یا که د یوچا بې ترتیبه جامې وې وایې پ سړی یا پلانی ښخه خولی خولی کېږي

خوم خومی لکه د پ خیرات وو داسې خوم خومی ورته راغلی ؤې یا هلته د پر خلك وو خوم خومی وې یا خوم خومی دې راټولې کړې دي یا پ خلك خوموي

خوی خوی لکه دا شی مات شو. خوی خوی سره بېل شو. خوی خوی شو. یا ریچي ریچي میده میده خځوزي خځوزي شو.

خیری وایې د پ کور خواړه په خیرې خوري یا د خیرې خواړه دې ورك شي د خیرې څه خواړه وي

خیرك وایې د پر خیرك انسان ده هر شی ته یې پام وي یا په خیر ده هرې خبرې ته یې پام وي

خیگ وایې پ د پر خیگ سړی یا خیگه ښځه ده یا پ ټول قوم کې دی خیگ سړی ده، خیگ سړی ورك مه کړي

خیلي پ خیلي سړي یا خیلي ښځه ده یا خیل مه کوه.

خیله په هغه خبره پ د پر خیله شو یا په دغه چاره هغه مه خیله کوي یا مالي ستونځو هغه واکمن په خلکو پوري خیله او پیکه کړل

خینځیر زدول پ پ ته خینځیر زدوي یا پ پ ته د پر خینځیر و، نه وه زده، خو هېڅ یې پرې و نه کړه یا د هغې چارې یا خبرې په باره کې خنځیر ورته زدوني یا هغه سیاسي زور ښکارونه او خینځیر زدوونه وه.

خینځیر و زولانه پ یې خینځیر و زولانه کړ، یا په دې چاره به خینځیرو زولانه شي یا خینځیر و زولانه یې بوته. یا د هغه لوري خینځیر او زولانه سیاست

# د

داتې خاني : دا ټکی په احمدزيو کوچيانو کې ډېر يادېږي لکه پ داتې خاني ده په هېڅ نه شرمېږي يا وه! داتې خانيه په څه به وشرمېږي ياپ په هغه باره کې اړ و غوږ نه شوداتې خاني ده.

د اړخ چنجی : وايي پ د پ د اړخ چنجی ده، يا ته به اخر د ما د اړخ چنجی شي يا دا ښېرا چي وايي خدای دې پ درته د اړخ چنجی کړي. يا هغه د حکومت او سياسي اداري د اړخ چونجي ده.

داړل : لکه پ وداړي چې بيا دلته رانه شي يا ولې يې وداړه يا پ پ په هغه خبره يا چاره وداړه. يا هغه غواړي چي ددغې چاري له املـه سياسي اداره وداړي

داغ : لکه هغه خبره يې تر اوسه په زړه داغ وه، يا دا چاره يې د زړه داغ ده يا په دې خبره يې په خلکو داغ ولګاوه يا دا وايي چې سر دې نه خوږېږي داغ پرې کېده (کېږده [ولګوه]) يا پ دا کار کړي په سر يې داغ لګولی يا دا چاره مه کوه په سر داغ مه ږده.

د ايېز (حافظ) غونداری : وايي پ ډېره بې وړه خبر وکړه، د ايېز غونداري يې وساړه يا په هغه باره کې پ داسي خبر وکړه لکه د حافظ غونداري.

د اوبو په سر ځګ : لکه پ د هيلي او اميد ځای نه لري د اوبو په سر ځګ ده، يا پ بې قومه بې مکامه ده. نن دلته سبا هلته د اوبو په سر ځګ ده، يا له دې امله د اوبو په سر ځګ شو.

د اوسپنو نيني : وايي ما له پ سره سخته ګوزاره وکړه د اوسپنو نيني مې ورسره وچيچلي، يا له پ سره به د اوسپنو نيني چيچي. يا هغه له سياسي ډلو سره د اوسپنو نيني چيچي.

دا نه خور : لکه پ دانه خور ده، چې پيسي ور نه کړې هسې کار نه درته کوي يا دانه خور ده، دانه ورکړه يا يې په هغه باره کې دانه خور کړه. يا هغه اداره دانه خوره ده.

**دانه چونکي** وايي پ په خوړو اوبو ځان نه مړوي دا نه چونکی ده يا يي مېلمانه نه نه ورکوي دانه چونکی ده، يا پ خوړو اوبو غوړېږي دانه چونکی ده.

**دباپ** لکه دا وکاره يا شي پ رانيوی (اخيستی) نه شي، دی هسې د باپ کوي وايي چې اخلم يې پيسې لرم دباپ په کړو وړو کې زياتې ته وايي، دی وايي چې زه ډېرې پيسې لرم دپاپ کوي يا يې په هغه باره کې دا خبره وکړه دباپ يې وکه. يا هغه سياسي دباپ کوي پروړي بادوي.

**دباپيز** لکه پ سړی يا ښځه ډېر د باپيز انسان ده، يا پ د باپيزې د باپيزې خبرې وکړې يا په هغه باره کې د باپيز د باپيز وغړېده. دباپ کوونکي دباپيز ياد شو

**د باد زرنډې ګرځول** پ تمامه ورځ دروغ وايي د باد زرنډې ګرځوي يا د باد زرنډې مه ګرځوه. يا هغه په سياست کې د باد زرنډې ګرزوي

**دب دبه** لکه د پ پيسې او مېړونه ډېر شود ډېر په دب دبه کېده يا نن سبا په دب دبه کېدو يا پ زوی و وړور ته واده وکه خلکو ته يې ډېر شيان ورکړه ډېر په دب دبه واده و.

**دبده بال پخه** پ ډېر سپک سړی يا ښځه ده، د بده بال پخه ده، يا له پ ځخه يې د بده بال پخه جوړ که، خلکو بدرد ورته ووبل يا دا ښېراوې چې خدای د بده بال پخه کړه يا دا چې وايي د بده بال پخه شي د باد له مخه شي. بده بال د ډيلي يا لوخي په توخه پوري وي

**د بلا وخولې** په پ پسې د سلو بلاو خولې سيخې دي، چې کومه يوه بلا به يې وخوري. يا خلك يې د بلاوو خولې ته ور اچوي يا قوم د بلا خولې ته سموي يا په هغه چاره يا خبره د بلاوو خولې پسې سمي شوې. يا پ خلکو د بلاوو خولې ته سم کړ. يا په هغه پسې د عدليې د بلا خوله سمه شوه.

**د بل په خوله** وايي پ د بل په خوله غږېږي يا د بل په خوله جنګېږي، يا په پردی خوله له خلکو سره غږېږي

**د بل په ځړکا پسې تلل** وايي پ د بل په ځړکا پسې ځي يا د بل په ځړکا پسې مه خه په خپله لار پيدا کړه يا د هغه په سياسي ځړکا پسې ولاړ

د بل په ډنډ پورې کول: ب یې د بل په ډنډ پورې کوي. ګواکې د بل په خوزې یا څرخنې یې پورې کوي یا ب د ب په ډنډ پورې کوله اوس یې دا حال شو. یا د هغه بل په قانوني ډنډو کې ئې پورې کوي.

د بل په غوړ و مست: وايي ب د بل په غوړو مست ده یا دا چه وايي. چرګ په پرديو غوړو مست ده.

د بل په دوستار خان مېړنی: وايي ب په پرې دوستار خان مېړنی دی.

د بل په کونه تنوتل: وايي ب ټول عمر د بل په کونه تنوتلی وي یا ولې د بل په کونه تنوزي یا د بل په کونه له هغه امله تنوتلی ده.

د بل په مټ: ب دا ټولې چارې د بل په مټ کوي یا له هغه سره د بل په مټ بدي مه کوه. یا هغه د سیاست په مټ داسې کوي.

د بل په وزرو سپور: ګواکې په څه شي سپور ده. یا دا چې زیان د بل له جب څخه کوي په پرديو وزرو سپور ده. یا ډوډۍ د بل تمامېږي د بل په وزورو سپور ده. یا د یونیفورم په وزرو سپاره.

د بل خوټو ته اوبه ور اچول: لکه ب د بل خوټو ته د ډېرې اوبه ور واچولې. یا هغه د سیاسي بریالي توب له پاره د هر چا خوټو ته اوبه ور اچوي.

د بل د سترګو لپاره: وايي دا کار یې د ب د سترګو لپاره وکړ. یا د تا سترګو ته ګورو. یا په هغه باره کې ب د ب سترګو ته وکاته د هغه د سترګو لپاره یې داسې وکړه.

د بل له سیورې لاندې: ب د بل له سیورې لاندې وخت تېروي یا د هغه له سیورې لاندې یې عمرونه تېر کړه.

د بل له لاس لاندې: ب د ب له لاس لاندې ده یا خوک دې له لاس لاندې دي. یا هلته له لاس لاندې سیاسي نظام ده.

د بل له ورة: وايي ب له پردې ورة غاپي یا د بل له ورة مه راغاپه په ډېر دې بل له ورة را وغپېږه.

د بلې ورخې لار رندول: لکه د ب او ب د بلې ورخې لاره سره رنده شوه یا په دې کار به د بلې ورخې لار رنده شي. ب دا چې په دې چاره به د بلې ورخې لار نه رندوي.

د بیازې        لکه ب د بیازې کاروبه وکړ.

د پشې تراويح: لکه ب قوم ډېر وخوراوه د پشې. ب ... یې ... کړي ... پشې تراويح به دربانده وکړه.

د پړي سر: وايي پلانی پر سره د پړي سر نيولی ده يا په هغه چاره يا خبره کي پر له ټول قوم سره د پړي سر نيولی . کشکاوه يي يا لونديز او ختيز د پړي سر سره نيولي وو خو لونديزوالو د پړي سر تري وور.

د پښتنو سره: لکه پلانی ښځه بدلمني وکړه د پښتنو پېزه سي پري کړه يا پ تورہ وکړه د پښتنو پزه يي کښښوده يا د پښتنو پزه مه پري کوه يا هغه سياسي پزه کيښوده.

د ښنو په سر: وايي پ دي چارې يا خبري ته تيار د ښنو په سر ناست ده يا پ د پ غږ ته د ښنو په سر ناست ده.

د پلار و نيکه په پله پل کېښودل: لکه پ د پلار او نيکه په پله پل ايښی هغه توريالی و، دی هم توريالی ده، يا هغه ډوډۍ ورکوله دی هم ډوډۍ ورکوي. يا په سياسي او نورو چارو کي

د پلوڅي غنه: وايي نه ايسارېږي چي د پلوڅي غنه ورته واچوي يا د پ لپاره دا چاره د پلوڅي غنه شوه د پلوڅي په غنه کي ونښښت يا پ او پ د پلوڅي په غنه کي سره اوښتي دي.

د پمنو په ورغړن کي: وايي پ د پمنو په ورغړن کي رغښتي ده يا د پمنو په ورغړن کي ورغښت ګواکي مرضي ځای يي ناست او ولاړ وکړل يا پ د پمنو په ورغړن کي رغښتي لري تري ګرځي يا د پمنو له ورغړني لري لري ګرځي يا دا قوم يا دا کالي د پمنو ورغړن ده له دي ځايه لري ګرځه د نن يادوديز سياست د پمنو ورغړن ده.

د پنځو صف: پ د پينځو له صفه وتلی دومره سړی نه ده چه د پينځو په صف کي کښېني يا د پنځو له صفه ځان مه باسه يا ته خو د پينځو له صفه وتلی وې زه دي د پينځو له صفه ويستم. يا دا ښېرا چي وايي خدای دې د پينځو له صفه وباسه

د پور ځښتن: په ټول قوم کي پ توريالی سړی ده، د پور ځښتن ده، يا پ د پور ځښتن خاز بولي

د پولی تک ته ناست: پ نن سبا ډېر يي وسه ده، هېڅ نه لري د پولی تک ته ناست ده يا هغه غواړي چي حکومت د پولی تک ته کښنوي

د پ وغپ: لکه پ جا مړ که د پ وغپ يي که مدعي يي هم ورک ده يا دا خبره ورکه کړي، د په غپه يي کړي

د په دوپيا: لکه د ښپي خلک ويده وو د په دوپيا وه. يا په کلی کي هېڅوک نه وو د په دوپيا وه

**د پیسي زوی**  پ څه سړی ده، د پیسي زوی ده ته پیسه ورکوه د تا سړی ده، چې پل پیسه ورکړي بیا د هغه زوی او ورور ده

**د پیل په بنیو**  لکه هغه شی هلته ډېر ده د پیل په بنیو ده یا یې پ ته د پیل په بنیو شیان ورکړه یا پ پ ته د پیل په بنیو پیسې ورکړي یا د افغانانو د وینو د تویه ولو لپاره هغوي  د پیل په بنیو بننه وکړه

**د ترکمی تیره**  وایي په خبره د پوهه نه شوم سم مې پرې پوهه کړه د ترکمی تیره مه راته سره، یا په هغه باره کې وغږېده د ترکمی تیرې یې وسرلې یا پ پ وډار که یا یې ډاراوه د ترکمی تیرې یې ورته وسرلې یا پ پ ته د ترکمی تیرې سرې تیر پاسې یې یا یې ورته وسرلې تیر ني ایسته

**د ترو مچ**  پ لکه د ترو مچ په هره کاسه بنیکې یا چې څوك یې نه غړوي هلته خان ور اچوي لکه د ترو مچ یا د ترو مچ له خانه مه جوړه، د ترو مچه یا هغه په سیاست کې د تروو مچ دي هر خای ته یې خانه غورځي

**د تره لمی پستوکی**  د لمونځ سوي یا ویني خبره نه ده، په خلکو کې تکل ده، تره لمي سو خزنده ده. وایي د دې خرمن به خلکو د تویټکو یا تعویذ په دود په کار کوله نو که څوك د چا د شتو خوړلو ته هوس کوي وایي پ خلکو ته د تره لمی پستوکی ده.یا د تره لمی پستوکی گرځېدلی ده. هر څوك توټه ترې بېلوي

**د ټوپك په خوله**  هغه خبره پ نه منله خو د ټوپك په خوله یې پرې ومنله یا ټول کارونه د ټوپك په خوله نه سمبړي

**د توتو سپی**  وایي پ چې چېرته گرځي هلته دي گرځي هغه د تو تو سپی ده، یا پ څه سړی ده. هغه د توتو سپی یا چېرته چې څه میندېږي هلته گرځي د توتو سپی ده یا هغوي سیاست د تو تو لپاره کوي ټول د توتو سړي دي

**د تورو څرخونه**  لکه دا خبره به هلته هم راباندې و نه منې چې د تورو څرخونه دي تاوېږي یا که تا د تورو څرخونه تاوېږي څوك به درځخه و نه ډار شي

**د توري بنگړې**  وایي پ د توري بنگړې ده، ویني توریالی ده.یا پ د قوم یا پ د پ د توري بنگړې و. یا د پ منځوی روی د توري بنگړې ده یا دهغې وراړي د توري بنگړې ورور مړ شو

ACKU

د توري ژرپ	لکه په دې سيمه کې د پ د توري ژرپ پروت دی. يا به د پ د توري ژرپ له ډېره وخته پوري پروت وي

د توري سړی	د پ د توري سړی پ و. په هغه به يې توري وهلې يا ته د توري سړی نه لرې يا دهغه د سياسي توري سړي هغه دي

د تنګڅي سړی	پ د تنګڅي سړی ده، تنګڅي تېرولی شي، د پ د تنګڅي سړی پ ده چې په ده باندې تنګڅه راشي په هغه چيغه ګډوي يا په قوم کې د تنګڅي سړی يو نيم وي

د تندې پستوکی	وايي د پ د تندې پستوکی ډېر نری ده، چې څوك سوال ورته وکړي "نه" چا ته نه شي کولی، يا د پ د تندې پستوکی پرېږ (ډبل) او پنډ ده

د تيتې زوی	لکه پ د تيتې زوی نه ده چې چا ته يې تيته ووايي، يا د تيتې لور نه ده يا چا ته تيته خبر نه کوي د تيتې زوی نه ده يا هغه په سياسي يا قانوني ميدان کې د تيتې زوي نه دي

د توغو ځلي	يو نکری به دا خبره ووينو چې تربور يې تر بره ته کوي وايي چې ته مېلمه ولې او زه يې بونه خم. د توغو ځلې به رنګ شي، يا په هغه باره کې د توغو ځلې مه رنګ وه. وينې د پلار وينکه نېبه مه رنګوه يا په سياست کې هغه د توغو ځلي رنګ کړه

د تپس بنه	وايي که هر څومره باز شي بيا هم د تپس بنه درکې پيدا کېږي ګواکې که هر څو بنه سړی شي کله کله د نه سړي کار کوي يا په هغه سياسي او نظامي اداره کې د تپس بنې شته

د جره ګانو لار	لکه هلته جره سړی هم نه شي تېرېدی، دجره ګانو لار نه شته جره لار

د جوار دانه	لکه پ له خلکو سره دجوار د دانې بنه هم نه دي کړي

د جوار بمبل	يو متنی به دا ښېرا وګورو چې وايي خدای د دې جوار بمبل کړه يا پ د جوار بمبل ده هېڅ انسان نه ده يا دا چې په هغه سياسي اداره کې د جوارو بمبل دي

ما د ګلايو ګل بللي

ته دجوارو بمبل وختي مينه

د ځه په شمله وتل	وايي زه د تا په شمله جنګېږم د تا په شمله وتلي يم يا پ د پ په شمله وتلی و، يا د هر چا په شمله وتلي وي

د چا خوله بوسول	وايي د دې خبرې په باره کې مې د پ خوله بوی کړه ما ويل چې هغه څه وايي يا و. شه د هغه خوله بوی کړه چې څه

وايي. يا شل كاله وشول چې ملګري ملتونه د افغان جنګ په اړه د خلکو او هيوادونو خوله بويه وي

د چا د خولې اوبه څکل (څښل) : لکه پ چې څه ويل دي هم هغسې وايي د هغه د خولې اوبه يې څکلي دي يا تا نه پېژنم چې د پ د خولې اوبه دې څکلې، ته هم هغه شی يې يا هغسې چارې کوې. يا د افغانانو د بد مرغی په اړوند هغوي ..... د نورو د خولې اوبه څکلي وي.

د چا زړه ساتل : پ د خلکو زړه ساتلی ده، څوك يې نه دی خپه کړی يا هغه د چا زړه نه ده ساتلی، د ده زړه به کله څوك ساتي.

د چا لورې ته تيره اچول : وايي پ د پ په تله کې تيره اچوله دهغه لورى يې درناوه يا په هغه چاره يا خبره کې پ د پ لور ته تيره واچوله. يا هغه سياسي ډله د واکمنو په تله کې کاڼي يا تيګي او ځونډاري اچوي.

د چا له خولې خبرې ښکل : ورشه په دې باره کې د پ له خولې خبرې وکاږه، چې هغه څه وايي يا پ د خلکو له خولې خبرې کاږي هغه بل خای ته وړي.

د چا له سترګې خلی نه اخيستل : پ ټول عمر د چا مرسته نه ده کړې د چا له سترګې يې خلی نه ده ښکلی يا له خلکو شکې (څخه) مرسته غواړي نه د چا له سترګې خلی نه کاږي يا نه باسي. يا هغه غواړي چې د حکومت له سترګ خلي وباسي هغه سياسي ډله نابوده کړي.

د چرګې د غاړې : وايي پ چې په غړی و، د قومونو سړی و، په قومونو کې به يې خبرې کولې اوس د چرګې د غاړې سړی ده يا ناروغه ده د چرګې د غاړې ده. يا اور غاړې ده.

د چوکي سړی يا ښځه : وايي په د چوکي سړی يا د چوکي ښځه ده ګواکي د هرې چارې يا خبرې له پاره چوکه غواړي، چې په چوکه يې چوخ نه کړې هسې نه خبرېږي يا نه پوره نه کېږي.

د چونګښو تول : لکه د دې قوم اينتيپاخ د چونګوښو تول ده، چې يوه په تله کې واچوي بله ترې ټوپ کړي.

دچه : داټکی د هغه چا لپاره يادېږي چې مېړونه دولت او نورې ښادې ولري وايي پ دولت لري په دچه کې ده، مېړونه لري په دچه کې ده، يا پ اوس هغه پخوانی سړی نه ده اوس په دچه

کې ده. خدای د هغسې په دچه کې کوه لکه دی چې په دچه کې ده یا هغه سیاسي ډله په دچه کې ده

د خاش خاش دانه وایي دا خبره به هلته هم راباندې و نه مني چې د خاش خاش دانه مې کړی چې د خاش خاش دانه مې کړی په زړه مې نه حوارېږي

د خان کره کېښودل لکه پ دې خبرې ته ډېر خوشاله ده د خان کره یې ایښې ده یا تا هم د خان کره ایښې ده یا دا چې وایې یو چا په کلي کې نه پرېښوده. ده وویل د ماتوره د خان کره ایښې ده یا مې توره د خان کره کېږدي

د خاورو خمیر وایي د پ زوی و ورور مړ شو نور څوك نه لري د خاورو خمیر شو. یا له هغه امله د خاورو خمیر شو یا پ د پ له لاسه د خاورو خمیر شو یا هغه غواړي چې دغه سیاسي ډله د خاورو خمبره کړي

د خبرو ګل ګل وایي د خبرو ګل ګل راته ووایه یا د خبرو ګل ګل مې درته ووېل

د خبرې بچوکی وایي د دې خبرې بچوکی د پ په لاس کې ده. د هغه له لاسه د خبرې بچوکی راوباسي یا د قوم د ډېرو چارو او خبرو بچوکي د پ په لاس کې ده

د خبرې بوی پ ویل چې هغه خبره په دې ډول ده. خو موږ ته یې بل ډول بوی راغی یا د دې خبرې بوی لاپخوا راغلی و، یا په دې خبره پسې بوی کاږي، یا دا خبره به اخر بوی وکړي یا د هغې خبرې بوی راغی.

د خبرې په خېټه کې چوکېدل پ او پ خبرې سره کولې پ ورغی د خبرو په خېټه کې ور چوسو، یا د خبرې په خېټه کې مه چو کېږه

د خبرې سر تړل لکه د هغې خبرې سر یې داسې ور وتاړه یا د خبرې سر تړه یا یې د هغې خبرې سر غوټه کړه، یا پ او پ د دې لپاره راغلی چې ددې خبرې سر وتړي د هغې خبرې یا چارې سر یې دا ور (خپل) وتاړه.

د خپل کور سړی پ ښه و، د قوم سړی و، د هغه زوی د کور سړی ده، یا د کور سړی چې مړ شي کور پرې خوارېږي پ د قوم سړی وو قوم پرې خوار شو.

ACKU

د خپلې چرګې غم : د خپلې چرګې غم خوري د خپلې چرګې له غمه مړ ده، یا ته د خپلې چرګې غم وخوره یا دا دعا چې وایي خدای دې د خپلې چرګې له غمه وساته

د خپلې مخې څښتن : وایي پلا تر اوسه پورې د خپلې مخې څښتن نه ده، په خپله مخه کار نه شي کولی، د بل په حرکت پسې ځي، یا د خپلې مخې څښتن ده

د خدای په هیله سپور : وایي چې ته هیله نه کوي د خدای په هیله سپور ده

د خدای په مینه مست : وایي له دې دونیا یې کارو څخه بې غمه د خدای په مینه مست ده یا د خدای لپاره کارونه کوي د خدای په مینه مست ده

د خره لکۍ : وایي پلا ته مو ډېرې خبرې وکړې پوه یې هم غوږ ته نه لوېږي که کته (کښته) یې په لوېشت کړی هم هغه د خره لکۍ ده که پورته یې په لوېشت کړې هم هغه د خره لکۍ ده، پوه نه منې

د خره مینه لغته ده : دا خبره د هغه چا په باره کې کېږي چې د مینې کولو په وخت کې خلکو ته ضرر ور اړوي وایي د خره مینه لغته ده، ګواکې پلا مینه کوي خو مینه یې د خلکو د خپګان او خوګو سبب ګرځي

د خلکو په منځ کې جنډه : وایي په دې خبره کې به د خلکو په منځ کې جنډه ودروم، یا پلا خدای دا سې وشرماوه چې د خلکو په منځ کې جنډه شو یا په هغه چاره یا خبره د خلکو په منځ کې جنډه شو یا هغه غواړي چې هغه سیاسي ډله د خلکو په منځ بد نامه جنډو ودروي

د خلکیو پول : وایي د دې چاره په باره کې خلکو پلا ته د خلکیو پول جوړ که، یا پلا هغه خبره کې پلا ته د خلکیو پول جوړ کړی چې پرې پورې وزي، یا په هغه خبره یا چاره مو د پلا لپاره د خلکیو پول جوړ او چوړ مو کړ

د خوارانو پړانګ : پلا د خوارانو پړانګ ده خواران نه شو ترې خلاصولی

د خوارۍ خوب : لکه پلا ډېر مېړونه حېل و خپلوان لري ته د خوارۍ خوب مه ورته وینه یا تا هسې د خوارۍ خوب ورته لیدلی، یا دا چې پلا ته پلا هغه باره کې د خوارۍ خوب لیدلی

د خوږ غنه : وایي پلا د خوږ په غنه کې وښت دا چاره د ده لپاره د خوږ غنه شوه ... د خوږ غنه، یا

ACKU

پ او پ په هغه باره کې د خوړچ په غنه کې سره اوښتي دي یا د هغې قانوني مادي له امله واکمن او سیاسي ډلي د خوړچ په غنه کې سره اوښتي دي

د خولې باد : وايي پ او پ د خولې باد سره ویسته وښیه یوه او بل ته یې زړه بدوونکې خبرې وکړې یا یې په هغه باره کې د خولې باد سره ویسته یا پ خبرې وکړې هغه هسې د خولې باد و یا په هغه باره کې پ د خولې باد ویسته خلك یې په جنګ سره واچول یا افغانستان ته د کراري د راوستو په اړوند هر څوك د خولې باد باسي

د خولې پور : وايي پ او پ د خولې پور سره وکه، وينې زړه بدوونکې خبرې یې سره وکړې یا پ پ ته ور وغړېده دخولې پور یې ور وکه یا پ او پ په هغه باره کې د خولې پور سره وکه یا یې سره کړی و یا لویدیز والو یوازې د خولې پور کاوو زموږ وینې تویه دي

د خولې توپونه : وايي پ او پ هسې د خولې توپونه سره ولي یا ډېر د خولې توپونه یې سره ووېسته

د خولې خوند : په هغه خبره پ او پ د خولې خوند سره بد کړ یا په هغه خبره به د دې خولې خوند بد کړي یا له هغې چارې یا خبرې راهیسې مې د خولې خوند بد ده

د خوګو تپوکري : یونکــري بـــه دا ښېرا وخېرو چـــې وايـــي خـــدای دې د خوګوتپوکري کړه یا پ د خوګوتپوکري دده

د خولې زورور : د پ هېڅ په وس کې نه شته هسې د خولې زوروره ده

د خولې مړی د بل : وايي د پ د خولې مړی د بل ده یانې د خولې مړی بل ته ورکوي

د خیرك ادې : پ په قوم کې څوك د خیرك ادې هم نه بولي یا څوك دې د خیرك ادې نه بولي ته د سرپیوب دعوا کوي. یا په هغه خبره یا چاره کې چا د خیرك ادې و نه بالـه

د خیر په غونډۍ : پ خلك په جنګ سره واچول. دی د خیر په غونډۍ ورته کیناست یا پ خلك سره اچوي دی د خیر په غونډۍ کېني، یا پ او پ سره جنګېږي دی د خیر په غونډۍ ورته ناست ده

د څپلی کنډ : وايي په پ پسې له اخره د څپلی کنډ نه شته وشوه وروسته مېړونه نه شته پسې، یادا ښېرا چې وايي خدای دې د څپلی کنډ درپسې پیدا نه کړی. یا په پ پسې که دڅپلی (کیري،

کښې وای خدای زده څه به یې کول. یا په هغه سیاسي ډله او واکمنو پسې د څپلۍ یا چوټو یا ګاولو او کیږي کښې نشته.

د ځړې غنه : ې لکه د ځړې غنه په ې پوري ونښتت یا ې ته هغه بېلبره د ځړې غنه شوه یا هغه سیاسي ډله په هره واکمنه اداره پوري ځړې وي یا د ځړې غنه وي.

دخان لور ته ترخځ وهل : په هغه چاره کې ې د خان لور ته ترخځ ووهله، یا په دې چاره کې یې د ګټې نیت و، دځان لور ته یې ترخځ وهله. یا هره یوه سیاسي ډله د خپل ځان لور ته ترخځ وهي.

دد : لکه هغه کار ته ې ور دد کړه چې هغه ور دد کړي هر کار کولی شي یا دد شوی ده. یا سیاسي چارو ته ور ددیدل.

ددوښمن غاښ پرې سپینول : وایي دا چاره له هغه سره مه کوه دوښمن مه پرې خوشحاله کوه، د دوښمن غاښ مه پرې سپینوه، یا دوښمنان دې پرې خوشحاله کړه، د هغوی غاښ دې پرې سپین کړ.

د دونیا له نرخه : ې چې دا کارونه کوي د دونیا له نرخه ناخبره ده، یا دا چې وایي ځان د دونیا له نرخه مه باسه یا دا چې وایي: له قامه ووزه، خو له نرخه مه وزه.

د ډار مسلمان : وایي ې د ډار مسلمان ده.

د ډول غږ : وایي ې څه سړی نه ده خو لرې لرې یې اواز د ښه سړي تللی ده، د ډول غږ له لرې ښه خي.

درابند : ې ډیر زیات لوېږي درابند ده یا له پښو درابند ده ځکه لوېږي درابندی پښې ږدي. یا پرانګ غښتلي ده زمري درابنده.

دراخوړه : لکه د پلاني ښخي د راخوړه خواني ده، یاتې ښه ښایسته خواني یې ده، یا د سړي دراخوړه خواني ده، یا په هغه باره کې د راخوړ ګرځي هېڅ تغیره نه شو

دربه : وایي چې کله به په وزیرو پښتنو کې مړی وشو، نو ښځو به په مړي یو خانګړی ماتم اوو یر کاوه. هغه ته به یې دربه ویله دا خبره په کوچیانو کې ډېره باب ده، اګر که هغه ویر یا دربه نه شته پکې خو دا ټکی ډېر یادېږي لکه په هغه باره کې ې له ې سره دربه کوله یا ورشه د هغې خبرې یاچارې په باره کې له ې سره دربه وکړه، یا به د اهل شعیه وو ویر ته دربه ووایو. دغه ویر ته ختیك وګړي ویبه نې وایي

درځ : لکه دا رخت په درځ سپځېدلی ویې ګنډه. یا په قومو کې درځونه پیدا شو. ځوك يې په ګنډلو نه رسېږي یا په قوم کې دا درځ پ واچاوه. یا د حکومت او سیاسي ډلو ترمنځه درځونه په ډېریدو دي

درګرده : خلك درګرده کارونه کوي

درم درم : دا ټکی د هغه چا لپاره یادېږي چې پ اداتو کې يې بدلون راځي وايي پ هم په یو حال نه ده، درم درم ده. یوه ګړی يې په ځان نیت بد وي یوه ګړی يې په کلي نیت بد وي، درم درم ده. یا ش پ په درم کې سیخ ده. یا په بل درم کېږده.

درنډي تلی ته کښل پ درنډي تلې ته ګوري چې د کوم ټاټیلي تله درنده شي هغې ته ټوپ ور واچوي کې کښېني

درنډي درنډي خبرې پ په مجلس کې ناست و، درنډي درنډي خبرې يې کولې یا درنډي خبرې کوه. یا د خپلو سیاسي ګټو لپاره درنډي خبرې کوي

درونې : لکه مړی د ښځو له دروبنه راوباسي یا هلته ډېر خلك وو دروبنې يې جوړ کړی و، یا په هغه شي د خلکو دروبنې و

دروړی : لکه دروړی دروړی لوبني پراته وو یا دروړی دروړی شیان (څیزونه) راوړه یا مې په دروړو راوړي وو یا دروړي خلك وو

دروشته : اصل دروشته هغو وښو ته وايي چې له بوسو سره شنه ګډ شي خو دروشته په نورو ځایونو کې هم یادېږي لکه دا خبرې ټولې مه سره ګډوي دروشته مه ترې جوړوي یا پ هر څه سره ګډوي دروشته ترې جوړوي. یا دلته یو دروشته سیاسي نظام چلیږي

دروغ و رښتیا لکه پ خلکو ته دروغ رښتیا وویل خلك يې په دروغو رښتیاوو غولول یا دروغ و رښتیا مه وایه خلك مه تېر باسه. یا د خپلو سیاسي ګټو لپاره دروغ و رښتیا وايي

دروغي ورځي دوستان لکه پ د روغي ورځي دوست یا ملګری ده.

دروګه وايي دا خبره ولې دروګه دربانډي ولګېده یا يې دروګه مه دربانډي لګوه بل ځای داسي یادېږي لکه څه دربانډي دروګه ده چې ماښام کارونه کوي ونیسه څه دربانډي لازمي ده. یا هغه قانوني یا سیاسي پریکړه په خلکو بانډي دروګه یا رټه او بده ولګېده.

درونه : پ درونـد سړی ده، یـا پلانـی درنـده ښځه ده. یـا دا چـې وایـي درانـده د خـدای درانـده لـري. یـا دا ښېرا چـې وایـي خـدای د درونـد مه کـړه یـا خـدای دې درنـده مـه کـړه، یـا دا چـې وایـي پ درونـد کېښـي سـپك ولاړېږي یــا دا ښېرا چـې وایـي خـدای دې درونـد کېښـوه سـپك دې ولاړېږي. یـا هغـه سیاسـي ډلـه درنــده کیني سپکه پورتـه کیـږي

دروهه : لکه پـه هغـه بـاره کـې پ لـه پ سـره دروهـه وکـړه وینـې تکـي یـې ورسره وکړه یـا یـې پ پـه دروهه کـې وواهـه

دروېزه : لومړی دا خبـره ګورو چـې وایـي چـې وکـي دروېزه هېره بـه بـې نـه کـړې مزه، یـا پ دروېزه کـړې ده د دروېزې مـړی یـې خوړلـې ده یـا پ پ پـه دروېزه سـاتلی ده، یـا یـې پـه دروېزه سـاتي دروېـزه ګرده لکـړه وهـل

درو – یل : لومړی دا دعـا چـې وایـي خـدای دې لـه درویلیـو وسـاته یـا دا چې پ تـه داسـې درویلي ورپېښه ده وینـې غـم یـا تـاوان ورپېښ ده، یـا لـه هغـې خبرې یـا چـارې یـوه درویلـې جـوړه شـوه یـا پ ودرویـل شـو یـا پ نیمـه لار کـې ودرویـل شـو یـا د پ لـه لاسـه درویـل شو. یـا هغـه سیاسـي ډلـه غـواړي چـي واکمـن لـه درویلیـو سره مخ کـړي

دروی : د شپانه یـا وزبانـه هغـه نل تـه دروی وایـي چـې د مېږو یـا وزو پـه پلو کـې ورتـه کینـې او بوغـه وي یـې لکـه هلتـه شپانه یـا وزبانـه دروی وایـه. یـا دغـه هغـه پخوانـي سیاسـي دروی ده

دره بلی : لکـه هغـه لـوښی مـې لـه غلـي دربلـې ورډ کـړ یـا لـه اوړو یـې دربلی کړه. یـا دره بلي بـدن او خوانـي

دره غن : د افغانسـتان د خوسـت پـه سـیمه کـې چـې پـه کومـه پلنـه تېـږه بـاندې برسېره رسی، تکول کېږي هغـه تـه دره غـن وایـي کلـه کلـه دره غـن داسـې یـادېږي وایـي پـه دره غنـو بـه دې وولـه یـا پ یـې پـه درغنو وویښته یـا پـه هغـه چـاره یـا خبـره لویـه درهغـن کېږده یـا دره غن یـې واړوه. یـا واکمـن د خکلو پـه ارادو درغنـي اړوي

دریګو څلی : لکـه د دې قـوم اینتیپـاخ دریـګو څلـی ده. دریـګو څلـی نـه جوړېږي یـا د ریـګو څلی بـه جـوړ شـي خـو د دوی انتیپـاخ نـه جوړېږي یـا دا چې وایـي د سـپیو کلی تـه تښته یـا نـه جوړېږي د ریـګو څلی نـه جـوړېږي. یـا د هغـې سیاسـي ډلـې جـوړول هـم د ریـګو څلي شـو

درینګی: هوار پاك میدان ته درینګی وایي دلته باید وریته (جوته) کړو چې هوایي او داسي نورو میدانونو ته هم د رینګي ویلي شو.

دری وندی: وایي پ دری وندی ده له دوست او دوښمن سره یو ډول "خیل" ناسته ولاړه کوي یا په پ په هغه باره کې دری وندی مه بولی د تاسو خپل ده.

دړدنګ: وایي یو تیز یې واچاوو ویل دا یو دړدنګ بل ئې واچاوو ویل دایې بل دړدنګ یا پ دا چاره وکړه خلکو ویل دا یو دړدنګ بله چاره یې وکړه ویل دابل دړدنګ یا د پ له سره ډېر داسې دړدنګونه تېر شوي. یا دغه یو سیاسي دړدنګ ده یا نظامي دړدنګ.

دړندو بادشاهي: وایي دړندي بادشاهي یې جوړه کړې ده یا دړندو له بادشاهي څخه د خدای وساته.

دړوکی: د لرګیو وړو وړو ټوټو ته دړوکی وایي.

د زرندې ټکټکانی: وایي پ د خلکو په مینځ کې شیطاني کوي دوه په جنګ سره اچوي د زرندي ټکټکاني ده یا د زرندې ټکټکانی له ځانه مه جوړوه یا پ د زرندي ټکټکانی ده له مینځه یې لرې کړی کراره کراري به شي یا که یو چا ته ډېرې ستونځې پیدا شي د هغه په باره کې داسې ویل کېږي وایي لرګي ته چې خدای(ج) په قهر شي د ژرندې ټکټکانی شي پ ته خدای په قهر شوی ده لکه د ژرندې ټکټکانی داسې ستړی ده یا د ژرندې ټکټکانی تری جوړ شوی ده. یا هغه د واکمنو او سیاسي ډلو تر مینځه د زرندي ټکټکاني ده یا د خلکو تر مینځه ټکوني کوي.

د زرندې مستك: د ځینو سیمو په غنمو کې بوه وړه دانه وي د دانې په سر پورې اوګده لسکه وي هغې ته مستك وایي کله چې غنم په ژرنده واچول شي د مستك لسکه بې له دې چې زیان منه شي له ژرندې څخه په اوړو کې ژوندي روغه وزي نو د ځینو خلکو له پاره د زرندې مستك یادیږي وایي د قومونو له مینځه جنګ وو پ لکه د زرندې مستك روغ تری ووت یا د خلکو له مینځ زیان پېښ شو پ لکه د زرندې مستك خان تری ویوست یا پ د زرندې مستك ده هیڅ بلا به یې ونه خوري روغ به پاتې شي. یا هغه سیاسي ډله د ژرندي مستك ده

د زړه تناکي:  وايي دوښمن ته ئي تاوان ورواوښت د زړه تناکي يې وچاودي يا په هغه باره کي په هغه خبره د پ د زړه تناکي وچاودي.

د زړه زورور: وايي د پ هېڅ په وس کې نه شته هسې د زړه زورور ده د زړه زور کوي.

د زړه سترى: وايي پ د زړه سترى ده يا دې خبرې ته په زړه کې سترى ده يا دا چې وايي د دس سترى ښه ده نه د زړه سترى.

د زړه غوټه: پ- پ ته د زړه غوټه "ورنځله" خلاصه کړه يا پ هېچا ته د زړه غوټه ونه رنځله يا له هغه امله د پ په زړه کې غوټه پاتې شوه يا پ او پ سره بد وو سره خفه وو پ ورغى پړه يې ومنله د پ د زړه غوټه يې ړنګه کړه يا په هغه خبره يا چاره د پ د زړه غوټه ړنګه شوه.

د زړه کونج: وايي دا خبره يې د زړه په کونج کې نه وه يا دا چاره يې د زړه په کونج کې نه تېرېده.

د زړه ولى: داسې خبرې د سړي د زړه ولي پرې کوي يا په دغه چاره يې د ما د زړه ولي پرې کړي. يا هغه غواړي چي د هغې سياسي ډلي د زړه ولي پري کړي.

د ژمي انګار: وايي پ دا خبر، د ځان لور ته ګټمنې وکړې دا چاره د ژمي انګار ده هر څوك يې د ځان لور ته خري او لړي يا خپل ځان ته ګټه مه کوه د ژمي انګار د ځان لور ته مه لړه.

د سپيو په کتار کې: لکه پ ته خلکو بد،رد وويل د سپيو په کتار کې يې ودراوو يا پ څوك د سپيو په کتار کې هم نه شماري ګڼي. يا هغه غواړي چي دغه سياسي ډله د سپيو له کتاره ور تيره کړي مني بته يې کړي.

د سپيو له کوځي تېرول: لکه پ ته پ بدرد وويل د سپيو له کوځې يې تېر که يا ټول قوم پ په هغه چاره يا خبره د سپيو له کوځې تېر کړ يا دا چاره مه کوه څوك به د د سپيو له کوځې تېر کړي. ويني بته خازه، جنجړ مړاوي اوشوته به د کړي

د سپي مچ: که چېرته يو څوك له بدوکارو سره او يا له بدو خلکو سره سروکار لري وايي پ د سپي مچ ده. د سپي مچ له نورو مچانو څخه بل خيل دي.

د ستني له سپمه ايستل: لکه پ له پ سره د تنګي تنګي حساب کوي د ستني له سپمه يې ورسره پاسي يا خواره اوبه د ستنې له

سپمه باسي یاله دغي قانوني مادي ځخه نـي د ستني سپم جوړ کـه

د سترګو بڼو لـه مینځه: وایي ما د سترګو بڼو لـه مینځه ورتـه کاتـه پ دا کـار وکړیـا تـه بـه د سترګو بڼو لـه مینځه ورتـه ګوري هغـه بـه غـلا درڅخه وکـړي

د سترګو ګتل پلانـي ډېره بـې حیـا ښځه ده لـه سـړیو سره سترګې ګتي یـا پلانـي بـه چېرتـه ناستـه وي سترګې بـه ګتي ډېرې سترګې یـې وګتلې یـا دا چـې لـه چـا سره د بـد کـړي وي لـه هغـوی سره سترګې مه ګته سترګې ترې پنـا کـوه

د سترګو پـه رپ: لکـه پ د سترګو پـه رپ کـې دا کـار وکـړ یـا دسترګو پـه رپ کـې خې وراخي یـا یـې د سترګو پـه رپ کـې غلیـا وکـړه. یـاد سترګو په څبل کـي

د سترګو تـور: وایـي پ ډېر راپانديڼ ګران ده هغـه مـې د سترګو تـور ده یـا چـې هغـه مـې دوښمـن ده تـه مـې کلـه د سترګو تـور یـې وه د سترګو توره یـا پ د پ د سترګو تـور ده.

د سترګوکګه ول پ تـه څوك لـه ډاره سترګې نشـي ورکـګه ولـې یـا د قـوم پـه مینځ کې واړوه څوك بـه سترګې هـم درکـګي نـه کـړي.

د سترګو اوبنتـل: وایي پ وروبه زمن یـا ترېرونـه نـه لـري ببرتـه یـې سترګې نـه اوړي کـه یـې سترګې اوبښتـي نداڅه بـه یـې کړي وو یـا چـا تـه بـه سترګې واړوي د سترګو د اوبنتـو خاى یـې نـه شـته یـا دونیـا و ـ نـه لـري سترګې یـې نـه اوړي.

د سترګو منـل ـ ـه دا شـی ښه ده سترګې یـې منـي یـا پ ښه خوان ده سترګې یـې منـي یـا هغـه ښځه ببخـي سترګو نـه منلـه یـا دا شـی دوسـره جوړ کـړه چـې سترګې یـې ومنـي

د سترګونو: پ ډېر بې شرم ده په سترګو کې یې نو نه شتـه کـه پـه سترګو کـې یـې نو وای دا چاري بـه یـې نـه کولـې

د سترګې ازغي: وایـي پ مـې بد ایسي چـې ورتـه وګورم پـه سترګو مـې داسـې لګیـګي لکـه ارغـي یـا پ د تـا د سترګې ازغـی ده هغـه بـه زه درڅخه لرې کـړم یـا پ د پ د سترګو ازغـی ده

د سر پـه کاسـه کې اوبـه: وایـي لـه پ څخـه حلـك پـه تنـګ دی دا څو کالـه یـې خلکو تـه د سر پـه کاسـه کـې اوبـه ورکـړې یـا ډېر دخورولـي ده د تـا لـه لاسـه یې د سر پـه کاسـه کې اوبـه چکلـې یـا دا چـې د سر پـه

ACKU

کاسه کې د اوبه راکړې یا د سیاسي او مالي درویلیو له امله خلك د سر په کاسه کي اوبه چکي.

**د سر څنګکه:** وایي دا شی داسې تروش ده چې د سر څنګکه څووي باید وریته "څرګنده" کړو چې په ځینو خلکو کې دا باب "دود" وي چې په کړاځي "کوچني" سر جوړ او ورځي بیا لګ "لړ" کلوبنته پرې پریګدي هغه ته څنګکه وایي.

**د سري اور:** دا خبرې د سري اور دی له ډېره وخته به دوګیګي یا دا خبره د سري اور ده چې ورخ وزي زیاتېږي زر اوبه پرې تویه کړي چې مړ شي. یا باندینیو لاس وهنو او مالي بنسنو د افغانستان جنګ د سري اور که.

**د سرېښو ډنډ:** دا چاره د سرېښو ډنډ ده ډېر خلك به پکې ونیښلي یا دا د سرېښوډنډ پ جوړ کړی یا به پ د سرېښو ډنډ ته ډېر خلك ورګډ کړي. یا د دغې قانوني مادي له امله هغه غواړي چې ټول سیاسي ټاټیلي د سرېښو په ډنډ کي ونیښلوي.

**د سرې په سر:** وایي په بزار کې هر شی تاوده "ګرم" ګران "کیمته" دي د سرې په سر دي یاد سرې په سر یې بیه کوي یا هرڅه د سرې په سر شو. یا په هغه هېواد کې سیاسي واکمني د سرې په سر تمامېږي یا هغوی ... ته د سرې په سر شوه.

**د سندري سر:** لکه د دې چارې په کولو کې د ډېرو خلکو لاس وو اوس د سندرې سر پ شو چې هغه کړي یا په د چاره کې ځان د سندري سر کوه مه چې د سندرې سر شي چې پ وکړه یا په هغه خبره کې پ د سندرې سر شو. یا واکمن د سندري سر شول.

**د سولی خولي ته سیخول:** وائي پ خپل قوم د سولی خولي ته سم کړ یا پ - پ د سولی خولي ته سیخ کړ یا ئي په هغه خبره یا چاره کي د سولی خولي ته سم کړ یا واکن غواړي چي هغه سیاسي ډله د سولی خولي ته سیخ کړي یا ده دوی چې سولی د رټ سخت ځبنته باد مخي او خوځبنت ته هم وائي لکه دا لمري خوله د باد سولی ده یا د غور غور یو سیمه د بادونو سولی ده.

**د سوې غوبنه:** وایي دلته چې کوم خلك سره راټول شوي یو د یوه ځای یو د بل ځای دی ټول د سوي غوبنه سره رایوځای شوي دي یا بېل بېل قومونه د سره ټول کړي دي د سوي غوبنه د سره راټول

کړي دي. یا د نظریاتو د بیلوالي په بینا هغه سیاسي ډله یوه د سوي غوښنه ده.

د سوي پخه: لمړی دا ښېراوي چې وايي داسې سپك شې لکه د سوي پخه یا د سوي پخه شي د باد له مخه شي یا دا چې وايي پ ډېر سپك ده د سوي پخه ده یا داسې یې ورته وویل یا په هغه خبره یا چاره داسې سپك ښکاره شو لکه د سوي پخه. یا واکمن غواړي چې هغه سیاسي ډله د سوي پخه کړي.

د سیالانو تلي: وايي پ څه سړي ده د سیالانو تلی ده یا دا ښېرا چې وايي خدای(ج) د سیالانو تلی کړه یا چې دا چارې یا خبرې کوي خدای(ج) به یې د سیالانو تلی کړي.

د سین دواړه غاړې وهل: لکه دوه قومونه سره بد دي پ د سین دواړه غاړې وهي منې له دواړو لوریو سره ناسته ولاړه لري.

د شادي پرار: له هغې چارې یې د شادي پرار جوړ کړ نوره یې ویرانه کړه یا له دې خبرې د شادي پرار مه جوړوي چې نوره خرابه شي یا پ د شادي پرار ترې جوړ کړ. یا د قانون په بینا واکمن له هغې بیلبرې څخه د شادي پرار جوړوي.

د شمایلي شرطونه: وايي پ پ. هغه باره کې په پ باندې د شمایلي شرطونه پوره ډوي یا به هغه چاره ییګي خو د شمایلو په شرطو. یا د قانون په بینا هغې سیاسي ډلې ته د شمالي شرطونه کېښودل کېږي.

د شوکې سړي: وايي پ د شوکې سړی ده چې شوکه یې درپورې کېږي شوکه درڅخه کوي یا د شوکې سړی ده له هر چا شوکه کوي. یا هغوي د سیاست په نوم باندې شوکه کوي.

د ښې رنګي: لکه دا ښه توپك ده سړی ښه پورې ښکارې د ښې رنګي توپك ده یا د ښې رنګي قوم ده یا د ښې رنګي خواړه اوبه لوښي کېږي ده یا پ د ښې رنګي خبرې وکړې یایې د ښې رنګي چاره وکړه. یا هغه غواړي چې د ښې رنګي سیاست وکړي.

د عذر غاړه: پ قوم ته د عذر غاړه کوله یا له قوم څخه د عذر په غاړه خان خلاصولي شي. د عذر منې تېټه غاړه.

د عرسات جنډه: وايي پ یې د خلکو په مینځ کې وشرماوو د عرسات جنډه یې که یا دا ښېرا چې وايي خدای (ج) د عرسات جنډه کړه یا په هغه خبره یا چاره د عرسات جنډه شو.

د عمر پانې زيره: لکه پ اوس زوړ شوی د عمر پانې يې زېړه ده يا سخت
ناروغه ده په سکښتي کفن پروت ده د عمر پانې يې زېړه ده
يا بل څه د زوال په لور روان ده د عمر پانې يې زېړه ده. يا د
هغې قانوني مادي له امله د واکمنو د عمر پاڼه په زېړيدو ده.
د غټې ونې احمدزی: وايي پ خان د غټې ونې احمدزی بولي يا يې په هغه
باره کې له ځانه د غټې ونې أحمد زی جوړ کړی ده يا په هغه
خبره يا چاره خان د غټې ونې احمدزی ورته ښکاره شو وښيه
ځان لوی سړی ورته ښکاره شو يا له ځانه د غټې ونې احمد
زی مه جوړه وه. جوته د وي په غټه ونه په پکتيا کې وه.
دغدغه: لکه نن سبا پ دونيا و دولت پيدا کړي ډېر په دغدغه کې وه يا يې
مېړونه ډېر شو په دغدغه کې شو يا د قدرت چښتن ده په
دغدغه کې ده يا دا ښيرا چې وايي خدای(ج) د له دې
دغدغې ولوه وه. يا د هغې چارې له امله سياسي ډلې په دغ
دغه کې دي.
د غره له سره: لکه پ له پ څخه هغه شی د غره له سره غواړي د غره له سره
ناري ورته وهي يا يې په هغه باره کې دا خبره د غره له سره
وکړه يا پ ته د وېلي وو د غره له سره ويل د نه منم.
د غره هغه لوري ليدل: وايي پ هوښيار پوهه ده د غره هغه لوري ويني يا د
غره هغه لوري يو نيم سړی ويني.
د غرو سرو ته کتل: وايي پ نن سبا دولت پيدا کړی زمکې ته نه ګوري
تيمبوزي يې پورته نيولي وي د غرو سرو ته ګوري يا له هغې
چارې راهيسې د غرو سرو ته ګوري.
د غرو سرونه ويستل: د پ هېڅ له وسه نه کېږي هسې زيات ويل کوي د
غروسرونه ولي يا پ – پ ته د غرو سرونه وويسته چې دا به
وکړم ها به وکړم په دې يې وډار که يا د غرو سرونه مه وله. يا
سياسي ډلګي او سياست وال تل د غرو سرونه ولي.
د غـګ چښتن: خدای(ج) خبر چې پ چا مړ که خو غـګ پ وکړ چې ما مړ که
د غـګ چښتن هغه شو يا خان د غـګ چښتن مه کوه يا د
هغې چارې د غـګ چښتن پ ده.
د غلو مل: پ غل نه ده خو د غلو مل ده يا پ د غلو مل ده غل غلا کوي دی
د جوال خوله ورته نيسي.

د غم خموني: د ټول قوم د غم خموني پ ده چې چېرته غم پېښ شي خلك په ده چیغه ګډوي. یاهغــه سیاسـي ډلـه د غـم خمـوني بلـل کیـږي چې بلا بوټوي.
د غم کټو وایي د پ هم د غم کټوی باندي دی یا دا ښېرا چې وایـي د غـم کټو د کوزه مـه شـه تـل د پـه اور بـاندې بـاندي وي یـا خـدای د د غـم کـټو مـه کتـه کـوه یـا دا چې لـه هغـه املـه د پ د غـم کـټو باندي شوه یا د پ د غم کټو لاکتـه نـه وه چې بلـه بـاندي شـوه.
هغـې قـانوني مـادې لـه املـه د سیاست والـو د غـم کـټو بـاندي شوه.
د غمو خاله پ نور هېڅ نه ده د غمو ځالـه ده شپه ورځ غمونـه کـوي.
د غمو ټوکرې. لـه پ څخه د غمو ټوکـرې جـوړه شـوې ده.
د غوري: پ د غـوري سـړی ده یـا د غـوري ښځه ده ګواکـې ډېرې ښې ګرې لـري یـا پـه ټول قـوم کـې پ خان د غـوري سـړی بولـي یــا د ټول قـوم د غـوري سـړی پ ده چې غـوري پـرې کـوي یــا دا د غـوري شـیان دي. یـا د غـوري سیاست او واکمن.
د غوړګي نیـول. غـوړګه یـو بـوټی ده چې د افغانسـتان د خوست پـه سیمه کـې زیاتـه پیدا کېږي پـه پاکسـتان کـې افغانسـتان تـه ورڅرمـه سـیمو کې هم ډېره ده غوړګه کـه پـه لاس مـوټی کې سسـته ونیولـه شـي او کـش کړلـه شـي نـو د لاس څرمـن پـرې کـوي او کـه چېرتـه کلکـه ونیولـه شـي او کـش کړلـه شـي نـو شـکیدلی یـا نـه شـکېدلی خـو لاس نـه پـرې غـوڅېږي پـه دې ارتبـاط ویـل کېږي پ د چـارې تـه لاس اچولـی کـه یـې سسـته وي لاس یـې پـې پـرې کـېږي او کـه یـې کـش کـوي شـکولی یـې نـه شـي اوس یـې غـوړګه نیولـی نـه یـې شـکولی شـي نـه یـې سسـته نیولـی شـي. سیاسـي واکمنـي هـم د غـوړګي نیـول دي.
د غـوښ دانـه: وایـي د پ روزي پـه وطـن خپـره ده راټولولـی یـې نـه شـي لکـه د غوښدانـه یـا دا ښېرا چـې وایـي روزي د د غـوښ دانـه شـه چـې درنـه تویـه شـي او راټولولـی یـې نـه شـې یـا پ سـوګت چیچلـي ، نیښـخلـي ، توګلـي سـړي یـا ښځه ده د ګدن یـا غـوښ دانـه سوری کـوي.
د غـوګ والـی "لښتـی": لکـه پ یـوه خبره کـړې ده خلکـو ورتـه د غـوګ والـی "لښتـی" کړې ده هر وخت یې غـوګ پـورې څکـوي یـا هغـه چـاره د پ د غـوګ والـی شوه یـا تـا دا راتـه د غوګ والـی کـړه زه بـه

هغه درته د غوڅ والي کړم. یا د حکومت او سیاسي ډلو د غوڅ والي

د غولو غیسي: لکه پ- پ په بدو کارو کې ګډ که دغولو غیسي یې تري جوړ که یا یې په بدو خبرو کې وغګاوو د غولو غیسي یې تري جوړ که یا په هغه باره کې پ له خانه د غولو غیسي جوړ کړ. یا له هغې سیاسي ډلګي څخه د غولو غیسي جوړوي.

د غونډارې په زور: په پ یې ټولي خبرې د غونډارې په زور ومنلې یا که دا خبره نه مني د غونډارې په زور به یې درباندې ومنم یا پ که دا چاره نه کوي له غونډارې سره به یې وکړي.

د غویو له پښو ختل: لکه د پ، اولاد اوس لویګي ده د غویو له پښو ختلی ده یا پ د پ اولاد د غویو له پښو وښکه یا دا چې پ قوم د غویو له پښو وښکه یا اوس هغه قوم د غویو له پښو ختلی ده.

د "غ..." سترګې: وایي پ- پ ته د "غ..." سترګې ورښکاره کړې یوه نه مني یا په هغه بیلبره کې د "غ..." سترګې ورښکاره کړه.

د "غ..." له سره سره: پ هغه خبره له زوره سره کوله د "غ..." له سره سره یې ویله یا د "غ..." له سره سره یې مه وایه.

د پیاز سر که ببخ: وایي پ لاځه سړی ده د پیاز سرده که د پیاز ببخ ده یا ته هم ځان یو ځوك بولې خو ته د پیاز سر یې او نه یې ببخ یې.

د قوم له پاره سپر: وایي پ قوم ساتلی وو د قوم له پاره سپر وو یا قوم یې ساته دوښمن ته لکه سپر داسې ولاړ وو د قوم سپر وو.

د کاڼي کرښه: لکه د مشرانو خبرې د کاڼي کرښې دي یا د پ خبر د کاڼي کرښه ده یا خبرې نه دي د کاڼي کرښې دي یا د پ خبره پخه شوه د کاڼي کرښه شوه. یا واکمن خپله خبره د کاڼي کرښه بولي.

د کبر په خره سپور: وایي پ کبرجن ده تل د کبر په خره سپور وي یا پ په هغه خبره کې د کبر په خره سپور وو یا که پ د کبر په خره سپور وي ته داسې ورسره وکړه.

د کبر غاړه: وایي پ د کبر په غاړه غړېده یا د کبر په غاړه مه غړېږې د عذر غاړه راواخله.

د کرکنې غنه: پ ته دا چاره د کرکنې غنه شوه د کرکنې په غنه کې ونیښت یا پ د کرکنې غنه ده. یا له هغې قانوني مادې څخه د خوږج یا د کرکنې او د ځرې غنه جوړه شوه.

د کري ټنګاه: وايي پ- پ له خانه رومبي کړله خاورو يې لاندې کړ کره يې پري وټنګه وله يا که په پ کره نه وي ټنګېدلې ډېرې مندې به يې بورې کړې وي. او خونـدي وراري.

د کړکيو لښکر : کړکي د غوړګي او مشکنۍ د نار لړګي ته وائي مشکنې هغه بوټي ده چې چچ خنه جوړيږي خو کړکي بيا داسي هم يادوي لکه د پ څه ملګري دي يا د پ څه لښکر ده د کړکيو لښکر ده يا پ د هغې خبرې بيلبرې او چاري لپاره څوکسان پيدا کړي وو د کړکيو لښکر يې جوړ کړي وو يا هغه قوم د کړکيو لښکر ده يا هغه سياسي ډله د کړکيو لښکر ده منـي بې خونده او پـخه.

د کندې خبرې: وايي پ او پ دا خبره په کنده کې سره جوړه کړې وه يا دا د کندې خبرې نه دي د رغـزي خبرې دي.

د کوترې مار: لکه له پ سره ښه مه کوه هغه د کوترې مار ده يا پ د پ د کوترې مار شو يا دا ښېرا چې وايي پ د خداى درته د کوترې مار کړي. يا هغه سياسي ډله تل د واکمنو د کوترې مار وي.

د کونې پړنګا: وايي له ډاره د پ د کونې پړنګا ده يا له د خبرې څخه پ ډارېږي د کونې پړنګا يې ده.

د کونې خاى: په ټول قوم کې پ د کونې خاى نه دى پرې ابښي ګواکي دوست يې نه ده پرې ابښې چې ورکره کښېني يا له هر چا سره بدي مه کوه د کونې خاى پرېږده يا پ د کونې خاى نشي پيدا کولى. يا هغه سياسي ډله د کونې خاى نه لري.

د کونې له پتېدو ايستل: په هغه دعوا يا خبره کې يې پ ډېر وارخطا کړ د کونې له پتېدو يې ويوست يا له څو يې مه پرېږده چې د کونې له پتېدو يې وباسې.

د کونې وښتـه: وايي ګنده خېل د کونې وښته ده که شکوې يې خوړيږي که پرېږدې يې مردار ده وايي پ سړى يا ښځه د کونې وښتـه ده. ياوه ! د کونې ويښته.

د کوم رنـخ دارو: پ څه سړى يا ' ، ښځه ده د کوم رنـخ دارو ده؟ يا پ بـه د کوم رنخ دارو شي د هېڅ رنـخ دارو نده يا هغه شى د کوم رنـخ دارو ده. يا هغه سياسي او قانوني اداره د کوم رنـخ دارونـه شوه.

د کينې لاس تيـګه: وايي پ د کينې لاس تيـګه ده خاى ته نه رسيږي يا تن سبا پ اچير يې ادم خان نـه ده د کينې لاس تيـګه ده پـه خاى نـه

لرېږي يا څوك د د کېڼ لاس لوټه نه بولي ګواکي د اودس ماتي لوټه دنه بولي.

دګه: پ دي خبرې ته وچ دګه ده چې داسې وايم يا وچ دګه ده چې دا چاره کوم يا چيتي كارو ته مه دګه كېږه يا په هغه باره كې دګه وو چې داسې كوم يا په هغه باره كې له هرچا سره دګه وي.

د ګوتو څټل: لکه ورځ مزدوري د ګوتو څټل دي يا په هغه کار کې زياته ګټه نه وه هسې د ګوتو څټل وو يا پ به له کومه پورې د ګوتو څټل کوي د ګوتو په څټلو به وخت تېروي.

د ګوتو په څوكو: وايي پ نن سبا په دچه کې ده د ګوتو په څوكو روان دی. مني په غوره او خوښيو يا دم او دغدغه کيده.

د ګوتو څوكې: ډېر په خوشحالي کې ده له خلکو سره پوښتنه د ګوتو په څوکو کوي يا پ او پ سره زړېدي دي د ګوتو په څوکو يې پوښتنه سره وکړه که چېرته يو څوك د خولې دوستي او ملګرتيا له يو چا سره کوي هغه ته داسې د ګوتو څوكې يادېږي وايي پ خلکو ته د ګوتو څوکې ورکوي تولـه خپـر تـه ورکوي. يا هغه سياسي ډلګي کله کله د ګوتو څوکې سره ورکوي.

د ګوډې پېښې ماله: لکه پ هغه کارونه کول قوم هم د ګوډې پېښې ماله پسې کوله ګواکي د هغه د پاندې له پاره يې يونيم كار كاوو يا پ له پ سره د ګوډې پېښې ماله کوي. يا هغه سياسي ډلي له واكمنو سره د ګوډې پېښې ما له کوي يا څکوي.

د ګوتې کېښودو ځای: لکه په هغه څيز "شي" کې د ګوتې د کېښودو ځای نه شته چې څوك ګوته پرې کېږدي وشوه عيب نشته ورکې. يا چوخس او خوېکي نه شته.

د ګوړو ترخه: د پ او پ په مينځ کې هيڅ خفګان نه ده پيدا "پېښ" شوی د ګوړو ترخه يې هم ندي سره کړي يا يې دهغې خبرې يا چارې په باره کې د ګوړو ترخه نه وسره کړي

ګېدل: لکه پ په برمه لاس ايښی وو دګيده يا پ دويري يا سړو له زوره تګيګي يا پ هغې چارې داسې ودګاوو يا که لږ وريا "لرې" ولاړ شو وايي د پ حکومت له هغه املـه ودګيده يا دګيګي. يا پلازمينه او سياسي ډلي تول په دګيدا رپيدا ريګديدا شوي.

د لاس ځمونې: وايي مړي پ وکړ لاس يې په پ پورې پاك کړي چې څوك مړي وکړي هم لاس په ده پورې پاکوي چې غلا وکړي هم لاس په ده پورې پاکوي د هرڅه د لاس ځمونې ده.

د لاس او پښو دمه ختل: لکه له څو ورځو راایسې مې د لاس وپښو دمه ختلې ده يا له د چارې سره يې د لاس او پښو دمه وختـه يا له دي غمه سره يې د لاس او پښو دمه ختلې ده يا يې له هغه ي خبرې سره د لاس او پښو دمه وختـه.

دلال : دا خو هر چا ته جوته ده چې دلال د مال خرڅلاو په ځای کې هغه چا ته وايي چې خرڅه ونکي او اخيستونکي سره جوړوي او يوه کمه اندازه پيسې د دلالي په نوم ترې اخلي خو دلال په نورو خبرو کې هم يادېږي لکه په دې چاره کې پ دلالي کوله يا په د خبره کې د پ او پ تر مينځه دلالي پ وکړه.

د لرگي توره: وايي پ د لرگي توره جوړه کړې تل يې پ ته ښوروي هغه پرې داروي يا پ د لرگيتوره پيدا کړي خلکو ته يې له سره تاووي چې وي دار کړي . يا حکومت او سياسي ډلي د لرگي توره سره ښوروي.

د لرگي په توره گډېدل: لکه پ شل منه غله اوره کړي اوس ورته خوشحاله ده د لرگي په توره ورته گډيږي يا د چارې ته خوشحاله و اوس د لرگي په توره ورته گډېږه

د لستوڼي مار: وايي پ د لستوڼي مار دی يا د لستوڼي مار له ځانه مه جوړوه. يا پلازمني ته هغه سياسي ډله د لستوڼي مار شوه.

د لمارې سپکه: وايي پ د لمارې سپکه ده مرمر ښوريږي څوك يې په څه نه پوهيږي يا په لمارې کې روان وي لکه د لمارې سپکه هغه د لمارې سپکه ده يا يو کار هم جوت نشي کولی د لمارې سپکه ده. يا هغه په سياسي چارو کې د لمارې سپکه ده يا درباريان د لمارې سپکي وي.

د لمر او سيرې له مينځه: وايي پ اولاد د لمر او سيرې له مينځه لوی کړي گواکي نه يې په لمر وهلی نه يې په سيورې کې ساتلی شي. يا د لمر او سيورې له مينځه سياست.

د لمدو ختو لر اوبه اجت دی: لکه پ سپين گيري ده کم توانه شوی څو ورځې يې طبه شوه اوس د مرگ بريد ته ورسېده د لمدو ختو لر اوبه اجت دی يا دا خبره هسې هم خرابه وه پ گوتې پکې ووهلې نوره گنده شوه د لمدو ختو لر اوبه اجت وي.

دلي دلي : لکه بوس يې دلی دلی واچول جواريې دلی دلی واچول دا د څرګنده وي چې د جوارو د بمبلو ډېرې تـه هم دلې ويلـه کېږي.
لکـه د هغـې سياسـي ډلـې او واکمنـو خپـل دلی دلی غمونـه پـه وګوري.

د ليمڅيو : کـه څوك بـه لـه پانه ولوېده يـا بـه ووهل شو او يـا بـه پـه بلـه کومـه وجـه لـه پښو ولوېده ګواکـي تـلای بـه نـه شـوي نـو داسـې يـو ناڅاپـه ناروغـه بـه يې پـه دو يـا څلـورو کسـو سـره پـه ليمڅي کې د ضـرورت لـه بريـده پـورې اوړ يـه دې ارتبـاط وايـي د پ او د پ د تـرنـډې سـره جنـګ وو ډېر يـې د ليمڅيـو کـړه يـا د ليمڅيـو بـه دکړي يـا د ليمڅيو د نـه کـړي.

د ليوه وازده : لکـه هغـه خـبره پـه ټول قـوم کـې د ليـوه وازده شـوه ټول يـې بـې اينتيپاخـه کـه يـا پـه هغـه کـور کـې د لـيوه وازده بويـي شـوې ده ټول سره بـې اينتيپاخـه دي يـا پ پـه قـوم کـې د ليـوه وازده شـوې ده يـا دا خـبره يـا چـاره مـه کـوه پـه قـوم کـې د لـيوه وازده مـه بويـوه. يـاد حکومـت او سياسـي ډلـو تـر مينـځـه ډ ليـوه ګي وازده دوګ شـوي ده.

د ماتې ډول : لکه ټول قـوم وايي چې دا کـار کـوو پ وايـي نـه يـې کـوو يـا يـې نـه شو کولـی پ د مـاتې ډول وهـي يـا د هغـې خبرې پـه بـاره کـې قـوم يـو څه وايي پ بـل څه وايـي د مـاتې ډول وهـي يـا د هغـې خبرې پـه بـاره کـې د مـاتې ډول د پ لـه لـورې ووهـل شـو يـا دټول قـوم لـه لـوري ووهل شو.

د مـار لـه حلقـه وتلی: وايـي دا شـی داسـې ميـن يـا ښه جوړ دي لکه د مـار لـه حلقـه وتلـی يـا د پلاټـی پښغلـي داسـې کـردار ده "سـکوټي" ټك ده لکه د مـار لـه حلقه وتلی.

د مـازديګر سيوري تـه کتـل: وايـي پ د مـازديګر سـيوري تـه کتلي ګواکـي ځان يـې لـه پامـه لـوی ورغلـی ده يـا تـا د مـازديګر سـيوري تـه کتلي دي دولـت مـال يـا مېرونـه د ډېر دي.

دُماغي : پ ډېر دُماغي ده پـه هـېڅـا يـې نظر نـه ډکـېږي يـا پلانـي ښځه دُماغي ده پـه ډېرو سـړيو يـې دُماغ نـه ډکـېږي يـا پ دولتـي شـو دُمـاغي شـو يـا د پ زمـن ورونه مېړونـه ډېر دي دُمـاغي ده يـا حکومت او سياسي ډلـي دُماغي خبري کـوي.

دم : دم لکه پ دولت لـري پـه دم کـې ده يـا مېړونـه لـري دم يـې ده يـا نـن سبا يـې دم ده خـداى(ج) دلـه دې دمـه ولـوه وه. يـا د سياسـي ډلـو دم ده.

د مرده کی په زور: پـه پ يـې دا خبره د مـرده کـي پـه زور ومنلـه يـا پ بـه يـې د مردکی پـه زور دربـاندې ومنـي.

د مـرداري مـچ: لکـه پ هـر وخـت پـه بـدو کـارو او بـدو خـبرو کـې بوخـت وي د مـرداري مـچ يـې د ځانـه جوړ کـړى ده يـا يـې لـه مـردارو هـېڅ بڅون نـه کـېږي د مرداري مچ يې لـه ځانـه جوړ کـړى.

د مرچو ګوډی: وايي پ د مرچو ګوډی ده يا د مرچـو ګوډی لـه ځانـه مـه جـوړوه وښيـه غوصـه ناك ده يـا غوصـه مـه کـوه.

د مـرګ پـه لار تلـل: وايـي پ د مـرګ پـه لار تللی يـا پ خـو د مـرګ پـه لار نـده تللی خداى (ج) بـه يې راولـي.

د مـرګ شـری: لکـه پ ببـګا دوښمنـو نيولـی وو د مـرګ شـری پـې تـېري شـوي بيـا خلکـو تري خلاص کـړى وو کـه ژونـدی خـلاص شـو بيـا هـم د مـرګ شـری پـې تـېري شـوي يـا پـه هغـه بـاره کـې د مـرګ شـری پرې تـېري شـوې. يـا د پ لـه ډاره پـه پ بـاندې هـره ګړی د مـرګ شـری تـېرېږي. يـا د سياسـي ډلـو د نارامـی لـه امله پـه خلکـو د مـرګ شري تيريـږي.

د مرغـی پی: لکه پـه هغـه بزار کې يـو د مرغـی پی نشتـه نور هرڅه پکې شتـه يـا يـو د مرغـی پـی مـه غـواړه نـور هـرڅه چـې غـواړې شـتـه يـا د مرغـی پی بـه پيدا شي خـو هغـه څيز "شی" بـه پيـدا نـه شـي. يـا د هغـي واکمنـي لـه املـه هلتـه غلـه دانـه د مرغـي پـې شـوه.

د مرغـه پـه غـاره: وايـي چـې د مرغـه پـه غـاره د احـوال راليږ! وی مـا بـه د احـوال چيـتي نـه وی بللـی يـا د مرغـه پـه غـاره حـل راوليـګه زه تيـاريم يـا پـه هغـه بـاره کـې د مرغـه پـه غـاره احوال ورولـېږه بيـا دا خبره داسـې هـم کـېږي وايـي نـور لاڅه کـوې لـه پ سـره د مرغـه پـه غـاړ وغـږېدم خـو دی پوهـه نـه شـو يـا پ دومـره هوښيـار "پوهـه" سړی ده نور لاڅه چې د مرغـه پـه غـاره هـم پيـږي يـا پ – پ تـه پـه هغـه بـاره کـې د مرغـه پـه غـاره غـږېدلی ده.

د مزریـو ګېډی: لکـه د دې قـوم اینتیـاخ د مزریـو ګېډی ده ډېر زر شـړېږي یـا زر بـه وشـړېږي. یـا د هغـوی سیاسـي ډلـو یـو خایوالـی د مزریـو ګېډي ده بیـا شـړېږي.

د مسـت زړه خـبرې: وایـي د مـوږ لــه زړه تــورې وینــې څاڅي پ د مســت زړه خبرې کوي یا لـه غمجنو سره د مـست زړه خبرې مـه کـوه.

د مچ پـه کونـه ډبیلی منډل: وایي پ دا چاره کـوي د مـچ پـه کونـه ډبیلـی منډي یـا دا چاره مـه کوه د مچ پـه کونـه ډبیلی مـه منډه .

د مچیـو پـه غــار لاس منــډل: پ دا چــاره وکــړه څان تــه یــې غموئــه ډېر کــړل د مچیـو پـه غـار یـې لاس ومانـډه یـا دا خـبره یـې وکـړه د مچیـو پـه غـار یې لاس ومانډه یـا د پ لـه پ سـره کـار شـو د مچیـو پـه غـار یې لاس ومانډه یـا د هغـه لپـاره سیاسـت د مچیـو سـوړه شـوه.

د مچیـو تمبکـي تـه لاس وروړل: پ دا چـاره وکـړه د مچیـــو تمبکـي تـه یـې لاس ورور یـابې پ تـه دا خـبره وکـړه د مچیـو تمبکـي تـه ې لاس ورور. یـا لـه قـانون والو سـره چیـرل د هغـه لپـاره د مچیو تمبکـه شـوه.

د منـدو شـاواده: کـه څه هم پـه دې بـاره کې یـوه رومبنـی "پخوانـی" څنډنـه کیسـه ده خـو مـوږ لنـډ تـرې راتـاوېږو لکـه پ لـه هغـې خـبرې یـا چـارې څخـه د منـدو شـاواده جـوړ کـه وبنیـه څنډ یـې کیوکـه یـا پ پـه هغـه بـاره کې لـه تـګ څخـه د منـدو شـاواده جـوړ کـه یـا لـه هغـې بیلبرې څخـه د مندوشـاواده مـه جـوړوه چـې کلونـه پـرې ووزي.

دم مـامیدم: کـه یـو لـه بـل څخـه پوښتنـه وکـړي چـې پ څه حـال احـوال دې ده خفـه یـې کـه خوشـحاله یــې هغــه بــه څواب کــې وایــي دم مــامیدم ده ژونـده تېرویـږي

د مـور شـودې: وایي دا شـی درباندې داسـې کـړي لکـه د مـور شـودې "شـیدې" د چـې هـېري کـړي دي یـا داسـې هـم ویـل کـېږي وایـي دا شـی د داسـې دارو شـه لکـه د مـور شـودې یـا پ دا شـی داسـې خوړلـي بولـي لکـه د مور شودې یا یې داسې وخوړ لکـه د مـور شـودې.

د مني دانه : لکـه خواړه نـه خورم د مي دانـه مې هم زړه تـه نـه کـېږي یـا پ لـه پ سره د مني د دانې بنه هم نـدې کـړي.

د میردین جمـات: لکـه د پ پـه کـور کـې هـېڅ نـه شتـه کوریـې د مـیردین جمـات ده یـا کـور د دمـیردین جمـات کـه هـېڅ دکـی پـرې نـه بنوده. یـا څینـي غـتان هیوادونـه د مـیر دیــن جمـاعت کـوي.

د مـېږو مـازدیګر: وایـي مـا بـه دا چـار کـړې وی خـو مېږونـه نـه لـرم د مـېږو مـازدیګر ده یـا پـه پ د مېږومـازدیګر ده.

د مېړانې کنډو: وایي د مېړانې ډېر لنډ کنډو ده ګواکې د مېړانې کنډو ته سړی زر ختی شي. یا هغو واکمنو او سیاسي ډلي د مېړانې کنډو وواهه.

د ناکسو ناکسي: لکه داخبره چې وایي خدایه د ناکسو له ناکسي مې وساتي یا پ د ناکسو ناکسه ده.

د نامه چنبتن: په ټول قوم کې پ د نامه چنبتن ده یا ته د نامه چنبتن یې له چتې خلکو سره ځان ولې ګنډه کوې

دنایي : د پ سترګې هېڅ د نایي نه کوي یا تا پوهه ده هېڅ دنایي نه لري.

دندو کار : لکه ته څه دندو کار کوې چې هره ورځ پې اختـه یې یا څه دندوکار ده چې نه تمامېږي یا هغه چاره یو لوی دندو کار شو. یاواکمنو له هغې بیلبرې څخه یوغټ دوندو کار جوړ که

د نس کوټ: وایي هلته خیرات وو د ډېرو خلکو دنس کوټ به پکې ختلی وي یا د پ په کور کې د چا دنس کوټ نه خېږي یا د پ له لاس به د چا دنس کوټ ونه خیږي.

د نغري د غارې: پ د نغري د غارې سړی ده یا چې خوان وو په قامو کې به ناست وو اوس د نغري د غارې ده.

دنګله : لکه پ له هر چا سره د غوا دنګله بینا کړی وي یا د نګلي مه کوه دنګلي سپیري دي یا له پ سره د څه دنګله ده.

د نیمې لارې مل: وایي پ د نیمې لارې ملګری یا د نیمې لارې مل ده سړی په نیمه لار کې پریږدي

دوپ : لکه د ډېر غم او خفګان دوپ مې زړه ته ولوېده یا د پ میګو وزو "غیلو" څه دوپ میندولي ده.

دوپړ : د پ دوپړ ډېر مړ ده نه پوهېږو چې ولې څه اشیني ده دوپړ یې ډېر مړ ده. یا د واکمنو او سیاسي ډلګیو دوپړ ډېر مړ ده د پ غپ غلي دي.

دوپړی : لکه پ ډېر ډېر یا ګران ګران شیان رانیسي "اخلي" دوپړی وهي

د وچ لینګي خرپ: د پ زوی یا ورور نده مړ د وچ لینګي خرپ یې نده لیدلی یا سخت تاوان یې نده لیدلی د وچې لینګي خرپ یې نده لیدلی. یا له همدې امله حکومتي لوري د وچ لینګي خرپ ولیده.

د وچې خان: پ د وچې خان له خانه جوړ کړي يا د وچې خان له خانه مه جوړوه د وچې خانه.

دودوبود : لکه دا ښيرا چې وائي خداي (ج) د دودوبود ورك کړه يا دا چې د پ دود وبود ورك شول يا واکمن غواړي چې دغه سياسي دودوبود ورك کړي.

دودول : لکه پ داسې د روغ و دوده ول يا پ د قوم په منځ کې داسې خواره و دوده ول يا پيسې يې ودوده ولې.

دوران : وايي د پ اوس هغه پخواني دوران نه شته له هغه دورانه لوېدلی ده يا پ د خواني له دورانه لوېدلی ده.

دوربله : لکه پ ته څه دوربله وربېښه ده وښيه مشکله وربېښه شوه. يا سياسي او قانوني دوربله ستونزه درويلې.

دوربلی : دسې يې وبوله چې دوربلی د انسان دواړو پښو ته وايي لکه پ دواړه دوربلی ايستلې وې يا يې غتې يا وړې دوربلی وې. يا هغه غواړي چې سياسي دوربلی ئې ماتې کړي.

د وربښمنو غوټه: يو نکری يواري، به دا ښېرا وگورو چې پيغلو ته گيگی وايي د سرغوټه د خلاصه مه شه ومه رنځل شه، د وربښمنو غوټه يې کړي يا دا خبره موضوع، د وربښمنو غوټه شوه يا د پ له لاسه د وربښمنو غوټه شوه يا پ د وربښمنو غوټه ده په هيڅ شان به ترې خلاص نه شي.

دوړې : له کوم باد سره چې ډېره خاوره روانه وي هغه ته دوړې وايي دوړې داسې هم يادېږي لکه پ دروغ وايي دوړې کوي يا پ دوړه وکړه دروغ يې وويل. يا هغه غواړي چې د هغه سياسي قدرت دوړې کړي.

د وزنو : وايي پ خلکو وواهه د وزنو يې کړه يا چې دا خبره فيصله کېږي ډېر به دوزنو شي يني وبه وهل شي.

دوګېدل : لکه دا ناروغي به له ډېره وخته پورې په کلي کښې ودوګېږي يا هغه خبره لاتراوسه پورې په قوم کې دوګېږي يا به له ډېره وخته ودوګېږي. يا د اړوك په بنياد هغه غواړي چې د حکومت او خلکو تر منځه دا خبره ودوګوي.

دوني : وايي له پ سره يوه دونی هم نشته يا د دوني وس نه لري يا په هغه باره کې يوه دونی هم نه لګوي.

دوه توکه : لکه غړك چېږي شوه دوه توکه شوه يا دا د زور وينا چې وايي سره دوه توکه به د کړم.

دوه خره : لکه چې وايي ته لـه مـا پښـا شـا وشـرمېږه مخـامخ دوه خـره هـم سـره ګروي.

دوه خوا : کله چې غرکی ته اچولی پې مستي د مښلو په وخت کې خراپـه شـي بيـا د کـوچـو واړه خـځوزي نـه پکـې لويـږي چـې ځو مـښل کېږي کـوچ واړه وي داسـې غرکـې تـه دوه خـوا وايـي بيـا دوه خـوا داسـې هـم يـادوي وايـي دا خـبره "موضـوع" دوه خـوا شـوه وښيـه خراپـه شوه يـا د پ لـه لاسـه دوه خوا شوه يـا لـه هغـه املـه دوه خـوا شـوه.

دوه ډزي خبر يـا چاره: وايي پ دوه ډزې خبر وکړه يـا هغـه کـار يـې دوه ډزی کـه يـا پ دوه ډزی ده. يـا د سياسـي بيلـبرو پـه اړه دوه ډزي.

د ويـالې دواړه غـاړې خـوړل: لکـه د دو فريقـو سـره لانجـه ده پ د ويـالې دواړه غـاړې خوري مثـي لـه دواړو غـاړو څخـه "شـوکه" يـا د خان پـه ګټه کـار اخلي. يـا د ويـالې پـه دواړو کـې مـه ځره.

دوه خانه : وايـي پلانـی ښځه دوه خانـه ده ګواکـې اولاد يـې پـه نـس ده.

دوه ژبي : پ ډېر دوه ژبـی سـړی يـا دوه ژبـې ښځه ده يـا دواکمنـو لـه لـوري دوه ژبـي.

دوه مخي : پ دوه مخـی ده. يـا د واکمنـو او سياسـي ډلـو دوه مخـي.

دوېښې مـور زوی وړي: وبولـه غـل ده يـا چالاکـه او چلبـاز ده.

د هډو دوښمن : وايـي پ د پ د هـډو دښمـن ده يـا د هغـه قـوم او د دې سـره د هډو ده. ياهغه سياسي ډلي سـره هـډ مـاتي د هـډو دوښمـن دي.

د هـر ديـګي چونچـه: پ لـه هـر چـا سـره پيژنـي لـه هـر چـا سـره اوسـېدلی ده د هرديګي چونچـه ده. د سياسـي ډلـو د هـر ديـګي چونچـه ده.

د يـوه اوبـل خولـې تـه کتـل: وايـي پ خپلـه نـه پوهـېږي د يـوه و بـل خولـې تـه ګوري يـا د يـوه و بـل خولـې تـه د ډېروکاتـه تـر څو بـه د يـوه و بـل خولـې تـه ګوري.

د يوه تـوت اهميت: د هغـه خبرې تـه څوك د يـوه تـوت اهميـت نـه ورکـوي يـا پ تـه قـوم د يـوه تـوت اهميـت نـه ورکـوي يـا دې چـارې تـه د يـوه تـوت اهميـت نـه ورکـوي.

د يـوې غـوښې شـيروا: لکــه پ او پ دواړه سـره خپـل دي دواړه د يـوي غـوښې شـيروا ده. يـا د نظريـاتو او سياسـت لـه پلـوه سـره ديـوي غـوښي شـيروا دي.

# ډ

ډابوزی : لکه پ وایي چې زه دا چاره کولی شم خو کولی یې نشي هسې ډابوزی کوي یا په هغه باره کې پ ډابوزي راته کړې چې زه به مرسته درسره وکړم. یا هغه یو سیاسي ډابوزي ده نور هیڅ نشي کیدي.

ډار : لکه پ ډار اخیستی یا له دې املـه ډارېږي یا وډار شو ، د پ ډار په زړه ننه وتلی یا له د خبرې په زړه کې ډارن ده یا د ا ډار ورسره ملګری ده.

ډاډګیرنه : پ – پ ته ډاډګیرنه ورکړه. دا چې وایي
زړګی په خپله مردانه کړه
په دا دوس کلي کې نشته ډاډګیرنه

ډانګ پې اچول: لکه پ هسې هم خیرات ته یا واده ته نه راځي خو ته یې راوغواړه ډانګ پې واچوه یا مې په هغه باره کې ډانګ پې واچاوو داسې مې ورته وویل.

ډبرجنګ : وایي د پ له پ سره ښه ډبرجنګ ته زړه کېږده یا له هغه سره ډبرجنګ مه کوه. یا له سیاست نه ډېر جنګ ته خبره واوښته.

ډبه غورکي: لکه داسې ښه ډبه غورکي کوچني کراڅی "اوړ" ده ډبه غورکی ډبه غورکی کېږي. ډبه غور کي کله په بده غورکي هم اوړي

ډپ : لکه د اوبو ډب ببرته تللی یا په لار کې کډې ډپ شوې یا موټر ډپ شو یا ددې خبرې ډپ ډېر لرې رسېږي ډپ به یې له

پ پوري ولاړ شي يا ټاټول كارونه نن ورځې ته ډپ كړي وو يا د هغې چارې ډپ لري خي

ډزو غپ : په هغه زمكه د قومونو سره جنګ ده سره ډزوغپ يې ده يا هلته ډزوغپ شو

ډډبيكي : لكه د پ او پ په هغه خبره ډډبيكي سره ډډ دي يا يې په هغه چاره يا خبره ډډبيكي ډډ ده. د وچې غاړې يا مرۍ يوې او بلې غاړې ته ډډبيكي دي چې شا رګ هم ورته وايي.

ډډوزي : د بوى ځاى ډډوزي هم نيسي لكه هلته خر مردار وو ډډوزي يې تلې يا پ نن سبا پيسې پيداكړې دي ډېر په ډډوزه كې ده.

ډډول : له هغه ځايه يې دُښمن ډډ كړ يا له پخې څوكې دوښمن نه شي ډډولى. يا ئي له خپل سياسي سنګر څخه ډډ او وخوځاوو.

ډډي : وايي پ- پ ته ډېر وغريده چې څه يې په زړه كې وو هغه يې ورته وويل ډډي يې ورته تش كړ يا په غوصه وو ډډي يې پرې تش كه يا پ ته په غوصه وو ډډي يې په پ تش كه.

ډډيي : لكه پ له خپله كوره ډډئي شوى ده يو ځاى بل ځاى ګرزي يا پ- پ له هغه ځايه ډډئي كه يا په هغه باره كې ډډئي ګرزي.

ډك زړه : پ- پ ته ډېر په غوصه ده زړه يې ورته ډك ده چې كله به دا ډك زړه يې تش كړي يا له ډېره غمه د پ زړه ډك ده چې هرڅوك ورسره كشيني خپل زړه ورته تش كړي.

ډغي : لكه پ په مركه كې ناست وو يو ډغي ئي وكه ټول منجلس ته يې شق واچاوو وښيه نا څرګنده يا پښا شا په پ پسي ډغې كوي منې په هغه پسي زړه بدونكي يا خندونكي خبري كوي ډغي پسي كوي يا واكمن ټولي په سياسي ډلو پسي ډغي كوي ډغي د رباب او د ډغ د تار له اواز نه اخيستل شوي او څاريږي.

ډكه : لكه اوبو ته ډكه اچول يا پ ناروغه ده د ډكې تاسير يې ده وبوله د پيري تاسير يې ده يا دا چې په پ باندې په هغه باره كې ډكه وروخوره يا پ او پ سره خفه دي ډكه نه سره خوري يا پ او پ په هغه باره كې ډكه وركړه يا يې ډكه وركړه له هغه شي يې تېر كړيا واكمن سياسي ډلو او عدلي ته ډكه وركوي.

ډكي ورته ښوررول. وايي پ – پ ته په هغه باره كې ډكي ښوررولې ده ګواكي پيسې يې ورته منلې دي يا بلـه منښتـه.

ډګډګو : لکه پ ولاړو و پ په دوارولاسو پوري واهه هغه په ډګډګو شو نيژدي لوېدلی وو يا پ پوري وهه په ډګډګو يې کړه يا که لګک "لړ" وريا لري ولاړ شو چې د پ حکومت په ډګډګو ده يا پ په ډګډګو کړ يا سياسي ډله عدليه په ډګډګو ښکاري.

ډګرمست : لکه پلانی ښځه ډګرمستـه ده وښيه ډګرمستـه وي يا ډګر تـه وزي يا له ډګرمستو خان ساتي.

ډګري سرې* : پ ډګري سرې ده چې بدي درسره کوي هم په ډګر در تـه وايي چې بدي درسره کوم چې دوستي درسره کوي هم په ډګر درتـه وايي کومه خبره چې درکې وويني په ډګر درتـه وايي. يا ډګري سياست.

ډل : په کوم ځای کې چې شين مزري ولاړ وي هغه تـه ډل وايي ويني شنو ډېرو مزريو تـه ډل ويل کېږي يا ډلونـه.

ډله : پ او پ يوه ډلـه ده يا ډلـې ډلبازي د جوړي کړل هلتـه ډلـې ډلې خلك راماتـ وو.

ډنډه ويل : دا خبره د هغه چا په باره کې کېږي چې د تلې په ډنډه کې چل کوي وايي پ ډنډه وهي. د ژبې لاندې بد لمني سرې تـه هم ويل کېږي.

ډنګر بول : لکه د پ ډنګر بول سورت وو.

ډنګ ډنګي : وايي پ ډېر ډنګ ډنګي انسان دی چې خبره واوري په يوه ګينټه کې بيا ټول کلي خبر کړي يا پ په هغه خبره ډنګ ډنګي ټول خلك خبر کړه يا ويل چې وه: ډنګ ډنګي.

ډنګه : وايي که دا چاره د داسې وکړه دا نهه ډنګه افغانستان به درباندې وغګوم يا په دا څوډنګه افغانستان کې داسې نـه دي شوي لکه تا چې وکړه يا په هغه باره کې پ په پ باندي نهه ډنګه افغانستان وغګاوو. يا دا کار دو کړ اوس يې ډنګه وه.

ډنګي ديواله : د پ کور تـه ورغلو په کور کې يې هېڅوك نـه وو کور يې ډنګي ديواله ولاړ وو يا د پ کور يې ډنګي ديواله کړ يا دا ښېرا چې وايي خدای(ج) د کور ډنګي ديواله کړه.

ډنډوره : لکه پ په هغه باره کې ډنډورې ګډې کړې دي يا د هغې خبرې بيلبري ډنډورې چې پ ده يا پ د پ ډنډورچي ده.

ډولی : لکه چې ده پ هېڅ کار نـه کوي سپين لاس سپيني پښې ګرزي ډولـی ګرزي.

ډوبه جاله : وايي پ ناروغه ده ډوبه جاله پروت ده يا هغه خبره په ډوبه جاله کې پرته ده يا هغه چاره په ډوبه جاله کې مه پرې ږده يا په هغه باره کې پ په ډوبه جاله کې پروت ده.

ډوپه : وايي پ ډېر پوروړی ده ډوپه شو يا بې بريده پورونه کوي ډوپې وهي يا له هغه امله يا د پ له لاسه ډوپه شو. ډوپه باز.

ډوډی غرپ: پ چې چا مور که د هغه سري ده هغه څه سري ده ډوډی غرپ ياوه ډوډی غرپه يا د سياسي ډلو ډوډي غرپ.

ډول پې ډنگه ول: لکه پ خپل دونيا و دولت ورك کړه ډول يې پرې وډنگاوو يا دا شی تمام کړه ډول پې وډنگه وه يا د پ په ميله ډول وډنگه وه مني ميږونه يا هستي يې ورکه کړه.

ډول ډول : لکه پ يې په چړو وواهه ډول ډول يې ودراوو يا دوښمن به د ډول ډول کړي.

ډولونه پسې پټول: لکه پ دا چاره وکړه پ ډولونه پسې پټکړي چې داسې يې وکړه هسې يې وکړه يا پ دا کار کړی يا نه کړی خو پ ډولونه پسې پټکړي دي يا يې په هغه باره کې داسې ډولونه پټکړي پسې دي.

ډولونه ترسر تېر: وايي د مور ډولونه ترسر تېر دي دا خو ډمبه کې دي گواکې د مور لوی چارې تر سر تېرې شوې دي دا خو وړې دي يا د پ ډولونه تر سر تېر شوي دي.

ډونگېدل : پ- پ ته پټوینا ډونگېږي چې په څه يې غوصه ورته راغلې ده ياپ لاني ښځه هر وخت له شا ډونگېږي ډونگېدايي ادت ده. ياعدليه سياسي اداري ته ډونگيگي.

ډونډه : لکه د پ ټول زامن مړه شوه ډونډه ميله يا ډونډه يې شوه يا د پ په اولاده کې سم "سبت" سړی نشته ډونډه ميله يې ده يا دا ښيړاوي چې وايي ميله د ډونډه شه يا په ډونډه ميله د شپه شه. ياد سياست والو او واکمنو ميله ډونډول غواړي.

ډنډ : لکه په پ غمجنې خبرې ډېرې شوې اوس يکې ډنډ شوې ده چې څه ووايم يا ستونځې وريښېږي دي اوس ډنډ شوي چې څه وکړي يا له خوشحالی په چارو او خبرو کې ډنډ ده.

ډوبي : د پ په تاغوندي غريبو خلکو ډوبي نه راخي يا پ ورته غگېده هغه ډوني پې رانه وړ يا په هغو خبرو پ ډوني نه راوړي يا په هغه باره کې د پ په خبرو ډوني مه راوړه.

ډی په ډی : پ د اوسېدو ځای نه لري ډی په ډی ګرزي یا د هغې چارې یا خبرې له امله ډی په ډی شو. یا د مالي ستونزو له امله واکمن ډی په ډی کول غواړي

ډیډی : لکه د شپې ډزونه وشول سختې ډیډي وشوې یا د پښتنو په ودونو کې د توپکو ډیډی کېږي یا پ د خبرو ډیډه وکړه.

ډیل : لکه د چارې ته ډیل مه کوه زر په زر يې وکړه یا ډیل د پکې وکړ یا تا خو ویل چې په هغه ځای کې ډیل نه کوم.

ډینګري : د مېږو دي پړی "رسی" چې پرې تکیږي هغه ته ډینګری وایي چې خیني خلك یا د بیازي د خوست خلك ډبیلي ورته وایي، وایي په پ یې دا خبره د ډینګریو په زور ومنله

ACKU

# ر

راسه درسه : دا ډېر وخت کېږي چې پ او پ راسه و درسه نه سره کوي یا ولې راسو درسه نه سره کوي یا پ او پ راسه و درسه نه سره لري. یا واکمن له هغې سیاسي ډلې سره راشه درشه کوي.

راغلوني : په ټول کلي کې پ راغلونی ده یا ولې راغلونی درته ښکاره کېږي هغه خو څه له بله خایه نده راغلی وینې له بله قامه یا له بله خایه راغلی راغلونی شو. یا راغلوني سیاست او نظریات.

راکاګل : پ او پ په ګرېوان کې سره ونیوه سره رایې کاګل یا چې څو وارې یې په ګرېوان کې ونیسي رایې کاګي په خپله به سم شي رایې کاګه.

رانده : وایي زه خدای رانده کړم دا کار مې وکړ یا ته خو پوهه وې ولې رانده شوې دا کار دوکړ یا د هغه رانده سیاسي چاري وبوله ناسمې.

رانې : وایي ولې د رانې راته وړي چې د بدو کړه وړه راسره کوي ما خو بد ندي درسره کړي یا رانې مې درته وړي چې لوبې مې درسره کړي وي یا پ – پ ته هسې رانې وړي.

ربېنه : ونیسه هر شی چې ډېر سري وي هغه ته ربېنه وایي لکه د پیاز نري ربېنه پاستی یا دا شی بیخي نري جوړ ده لکه ربېنه.

ربړي : وایي پ ربړي کوي خلك ربړه وي یا خلك یې ډېر وربړول یا دا ښېرا چې وایي خدای(ج) د وربړوه.

رپ رپ : له پ څخه رپ رپ اوښکې تویه شوې. یا رپ رپ باران.

رپند : لکه له شودو یا اوبو څخه یې لوښي رپند ډك کړی ده.

رتلی : پ رتلی سړی یا رتلي ښځه ده خلك رتي یا پ خلكو رتلی ده یا د پ رتلي رتلي خبري دي یا پ ته يې رتلي رتلي خبري وکړي یا هغه چاره خلكو ورتله. یا رتلي سیاست.

رخه : لکه د پ دونیا و دولت ډېر شو دوښمنان رخه پې کوي یا يې په اولاد رخه کوي یا پ له پ سره په کاسه ناست وي یا کار ورسره کوي هغه رخه پې کوي یا رخه بده ده. یا رخه گر.

رډبډ : پ- پ ته رډ بډ په سترگو ورننه ووت یا پ په پ رډه بډه شاهدي وویله یا پ ته پته خبر وشوه هغه رډه بډه په منجلس کې وکړه. یا هغه رډه بده سیاسي کړنلاره.

رسی په غاړه اچول: لمړی دا خبره چې ویلي يې دي وايي یا د طوطي په شان وغړیږه یا رسی په غاړه واچوه خلکو ته سوال اوزاری وکړه یا دا چې په هغه باره کې پ رسی په غاړه اچولې خلکو ته سوال او زاری کوي.

رسی په غاړه وراړول: پ قوم شړلی رسی يې په غاړه وراړولې یا رسی په غاړه ورواچوه. یا له سیاسي میدان څخه رسی په غاړه ور واچول شوه.

رسمه کي : دا شی یا دا لوښی رسمه کې جوړ ده یا دا چې وايي رسمه کې خبري مه کوه خبرې د رسمه کې دي.

رغستلی : کله چې په زرنده یا میچن غنم غټ غټ مات شي، هغه ته رغستلی وايي که چېرته کوم یو کس ښځایه خبري وکړي یايې بده خبره له خولې ووزي هغه ته رغستلي داسې یادوي وايي پ رغستلی وکړه یا پ مه غړوی رغستلی کوي گوالي بدي بدي خبر ې کوي یا پ- پ ته رغستلي وروکړه یا يې د هغې خبرې په باره کې رغستلي ولوست یا پ ټول قوم شړلي ده په هغه باره کې رغستلی له مینځ وتلی دی یا هغه سیاسي گډي وډي رغستلي لوني.

رغول : د پ زمن لوی شول له ورونو او تربرونو څخه يې ورغوله یا که ته يې ورغوې د مور نه درڅخه رغېږي یا دا چې وايي له خپل څخه نه رغېږي چې هرڅوک ورغوي.

رغی : د پ زړه تور ده لکه د ژمي کیږدی توري رغی يې نیولی دی.

رگه : وايي پ د پ رگه ده یا د پ رگه خرابه ده د ده رگه چې چېرته تللی وي هغه خلك خرابه دي یا پ- پ ونیوه رگه يې نه شوی تري ښورولی یا پ د پ د ورانده رگه نشی.

ښورولی. یا واکمن غواړي چه د هغه سیاسي رګونه له کاره ولووي.

رګه : که د مروتو په لهجه وغږېږو نو مروت لاړي ته رګی. یا رګه وایي خو کوچیان بیا رګه یو خېل "ډول" تګ ته وایي لکه پ په رګه ولاړ. یا یې په رګه ولیګه.

رګېدل : لکه د میګو په پلو سپی راغی میګي تړي ورګېدي یا دا چې په بزار کې جنګ وو چې کله عسکر راغله خلك تړي ورګېده.

رموز : پ لا په خوا ددي خبرې رموز پ ته کړي وو یا ددې چارې په باره کې مې هغه ته یو رموز وکړ.

رنځور غاړي: پ ټول عمر رنځور رنځوروي رنځور غاړی ده. یا رنځور غاړي اقتصاد.

رنځېدل : وایي پ ډېر ناروغه شو ډېر ورنځېده یا هغې خبرې یا چارې ته رنځېږي یا په هغه باره ډېر ورنځېده.

رنډ : ټول قوم وایي چې دا کار نه کوو پ رنډ ده چې خامخا یې کوو ډېر رنډ سړی ده یا هغې خبرې ته وچ رنډ ده یا د پ ګنده رنډي سترګې دي یا په ډوډۍ رنډ شو یا رنډ شو هغه ځای ته نه ته. رنډ کله کله د ستاینې ور وي لکه هوډمن.

رنګ الوت : پ چې ځه په غله لاس کېښود د غله رنګ والوت یا رنګ د ولې الوتی ده څه درېښه ده چې الوتی رنګ ولاړ یې یا یې په هغه خبره رنګ والوت. یا له هغې بیلبري څخه سیاسي رنګ والوت.

رنګ ویرانېدل: وایي ما یوه خبره وکړه پ پې خفه شو رنګ ویران شو یا په هغه چاره هسې رنګ ویران شو. یا خطه کور شو.

رنګه : پ په دغه چاره د خان رنګه بده کړه یا په د خبره د رنګه بدېږي یا د خان رنګه په دې ښه کوي یا رنګه یې پرې بده شوه.

رنګړي : لکه دا فصل رنګړی ده یا د سروېښتان رنګړي دي یا دا چې پ په سرېو کې رنګړی ده سړی یې کم دی که په سرېو کې رنګړی نه وی خداځه به یې کول یا دا ښېرا چې خدای مو رنګړي کړه. یاهغه سیاسي ډله رنګړي ده تښه ده.

رواداره : پ په دې چاره نه وو رواداره چې قوم د داسې توخمي تڼه کار شي یا دې چارې ته یې زړه نه وو په دنه وو رواداره یا په هغه خبره نه ورواداره.

روزي د شنه کوتر له غاړې: وايي دا ډېر کاله کېږي چې د پ روزي د شنه کوتر له غاړې ده منډې پسې وهي يا دا ښېرا چې وايي خداى د روزي د شنه کوتر له غاړې کړه ته پسې گوډمېګه تون شې.

روستى خواره: وايي پ لاڅه سړى ده څوك يې په رستيو خوړو كې نه پوښتي يا څوك به د په وروستيو خوړو کې ونه پوښتي.

روغ سړى : پ روغ سړى يا روغه ښځه ده منى له اخلاقي پلوه روغ دى.

روغ وال : احمدزيو کوچيانو يا د غلجيو چې له کومو وزيرو سره دوښمني يا بوتي برمتي وي له هغو پرته نور وزير وو چې د دواړو لور يو ښه يې غوښتنه ولې په بدى کې گډ نه وو هغوى ته يې روغوال ويل وايي پ په هغه باره کې له خانه روغوال جوړ کړى دى له هر لوري سره ناسته ولاړه لري.

روغ رمې : لکه د قومونو سره جنګ وو پ روغ رمې کې پاتې شو. يا دا دوعا چې وايي خداى(ج) مو روغ رمې وساته.

روګدي : پ په دې خلکو روګدى ده هره ورځ يې وهي تکه وي يا پ دې ميلې ته ورروګدي ده هر وخت دالته ميله کوي يا دا خبره چې بدلمني ته اشاره ده وايي پ په دغه کور کې روګدى ده يا روګدى وو

روګي بوګي: لکه پ سپيو خوړلي ده روګي بوګي ني کړي دي يا خطي جامي کالي ني روګي بوګي دي يا په هغه بيلبره کې به دي كالي روګي بوګي شي وښيه څيري پيري ښزه به شي. يا هغه سياسي ډله روګي بوګي شوه.

ريتاړه : لکه پ ريتاړې ريتاړې كالي اغوستي دي يا دا زمکه ريتاړې ريتاړې سره پيله کړي. ياد سياسي ډلو ريتاړي او ريښكي.

ريچ پيغ : کله چې ښځې سر ګمنځوي دريچو د پاكولو د پيچولو له پاره د ګمنځې غاښونه تري هغه ته ريچ پيغ وايي بيا ريچ پيغ داسې يادوي وايي پ په هغو خبرو پسې ريچ پيغ ترلي ده يا يې ريچ پيغ کوي.

ريښكي : د پ ريښکي ريښکي پتکى په سر وو يا رخت ريښکي ريښکي شو. يا د سياسي ډلو ريتاړي او ريښکي.

ريښه: لکه پ او پ سره يوه ريښه دي يا د پ ډېره ښه يا خرابه ريښه ده يا د پ ريښه پ ته ورکړه ده يا دا ښېرا چې وايي خداى د ريښه ورکه کړه. يا د هغو نظرياتو او سياست ريښه

ریګدیدل : لکه د پ ساړه کېږده له سړو ریګدیده یا له غوصې ریګدېده یا له ډاره رېګدېده. یا د واکمنو او سیاسي ډلو ریګدیدنه.

رینګه : وایي کوچنی "وړوکی" کړاځي رینګه کوي یا په رینګه شو یا پ له پ سره په هغه باره کې رینګه کړی وه یا پ په دې خبره رینګه کړی یا پ خپلې ژرینګه له سره کړه یا په د چاره رینګه مه کوه چې خامخا یې کول غواړې یا پ چې په کومه خبره یا چاره رینګه کړي هغه ورسره ومني.

رینه : وښیه بدمرغه وایي پ ځو ښځې وکړې تولې مړې شوي ډېر رینه سړی ده یا پ هر وخت په مال دولت کې تاواني کېږي ډېر رینه ده یا ئي اولاد نه پایکي رینه ده.

# ړ

ړپ : لکه لاس يې گوزر وهلی ده ړپيګي يا ټول بدن يې ړپيږي ړپ خوري ړپيګي يا دا ښيرا چې خدای(ج) د په گوزر ورپوه.

ړت : وايي د مور نس هم ړت ړت ده څو رنګه اولاد زيږوي يا پ او پ له يوه ړتبه پيدا دی. د خيلانخي بيلي بيلي برخي ړت يا بوخځي.

ړچ : لکه دا شی ښوري ړچ خوري يا زلزله شوه زمکه ورچيږده ړچ يې وخوړ يا که لګ ورچني وريا ولاړ شو نو ويلی شو چې د پ حکومت ته پ ړچ ورکه يا يې له هغه امله ړچ وخوړ يا په ړچه کيده.

ړچند : لکه دا شی ښوري ښورند ده ړچند ده يا که لګ ايسته وښورو وايي د پ حکومت له هغه امله ړچند ده يا د پ له لاسه ړچنده

ړندوکی : کوم څوك چې پېرياني وي د پېرياني له خولې انسان ته ړندوکی وايي.

ړندي لاري : لکه ړندي لاري پ ته ښې جوتې دي د دې چارې په باره کې په ړندولارو هغه تللي او ځي يا که په هغه باره کې پ ته ړنده لار پيدا شي وبه تبنتي يا که ړنده لار ورته پيدا شي څه به وکړي. يا واکمنه ډله هغي سياسي ډلي سره د ړندي لاري په الون بلون کي ده.

ړنګ : لکه پ په توپك ولګيده ويښه ډيره تري ولاړه رنګ شو يا پ ړنګ ړنګ توېګي يا په يوه خبره ټول ناسټ يا ولاړ خلك سره ړنګ شول يا هغه خبره ړنګه شوه يا دا چې وايي چې-

ACKU

د ډول ډنګ شي زړه مې رنګ شي
مور مې میره ده ما واده ته نه پرېږدینه

رنګو : لکه په کلي کښې یو کور ولیښنه وروسته په ټول کلي کې رنګو ګډه شوه ټول ولیښنه یا د هغې خبرې په باره کې په ټول کلي رنګو ګډه شوه یا په قوم رنګو ګډه ده یا ټول قوم ته د پ له خوا رنګو ورګډه شوه داسې رنګو یې ګډه کړه. یا سیاسي رنګو



ACKU

# ز

زات : لکه پ او پ سره یو زات دي یا دا ټول د پ زات ده یا پ ډېر بې زاته انسان ده یا دا ښېرا چې وایي خدای(ج) د زات ډېر مه کړه یا زات د ورك شه.

زاړبوبې : چې کله توکري په اور ولوېږي هغه سوی ډوک ته یې زاړبویې وایي باید وریته شي د شنه توکري دوک د پیریاني انسان له پاره بد یادیګي وایي زاړبوي مه کوی په پ پیریان راځي یا د شیشکې دا خبره چې په یوه نکل کې یادیږي وایي- بوی ده زاړبوی ده خپل نده پردی بوی ده.

زاړنده : وایي پلانی ښځه ډېره زاړي وشوه زاړنده ده یا زاړنده زاړنده مه کېږه یا د پ د کور ښځې ټولې زاړندې دي. یا ژاړنده اداره.

ژاړه خوګړي : لکه پ په دې چاره یا خبره کې ژاړه خوګړي راپلټې یا پ- په پ پسې ژاړه خوګړي راوپلټل یا په هغه خبره یا چاره کې ژاړه خوګړي ډېر دي وښیه زړي بدخولقي یا معاملې ډېرې دي پکې

زاړي : لکه هغه کار زاړي پکار وو چې زاړي شوی وی یښې وختي داسې شوی وای.

زامې زنې سره ختل وایي پ چې دا خبره ورته وکړه د پ زامې زنې سره وختې یا له هغې چارې چې خبر شو زامې زنې یې سره وختې

زاڼي کور : وايي ته هم شپه يې مېږي پيايي زه يې هم پيايم خو بيا به يې په زاڼي کور کړه ګورو چې چا ښې پوولې دي وبوله پسرلی به يې سره ګورو زاڼي کور د زاڼيو مرغه اواز.

زاولن : لکه پ څه انسان دی يا څه سړی دی هغه زاولن يا پ په هغه باره کې زاولنې خبرې وکړې يا زاولن زاولن وغږېده يا د پ ټول کارونه زاولن دي. يا زاولن سياسي چلند.

زاولی خونجاړې: لکه پ او پ سره زړه بدي دي زاولي يې سره خونجاړې دي يا د پ او پ په نه خبره زاولي سره خونجاړې شوې سره خوابدي شوه يا د پ او پ زاولي په هغه باره کې سره خونجاړې شوې.

زاولي سره پکې : لکه د پ او پ په هغه خبره يا چاره زاولي سره پکې دي يا د پ او پ زاولي پ سره پکې کړي ګواري سره زړه بدي يې کړه يا په نه خبره يې زاولی سره پکې شوې

زاولی وزغني : لکه د پ زاولي وزغني کار ده يا دا زاولی وزغني خلك دي يا پ زاولی وزغني وغږېده هېڅ يې د خبرو په بيلتون پوهه نه شوه يا دا چاره يا خبره زاولی وزغني شوه.

زاوني : هغه اندازه زوالو ته زاوني وايي چې په خوله کې زدولی ګيرې لکه يوزاونی زاولی راکړه يا دا لګ شی ده لکه يو زاونی.

زباده : لکه د پ ميله زباده ده ښه ښه زمن يې دي يا پ هغه خبره کړې وه پ پې زباده کړه زبادي ته يې ورسوله يا د پ غلا زباده شوه يا دا ښېرا چې وايي خدای(ج) د سيله زباده مه کړه.

زبر : وايي پ زبر سړی ښځه يا زبر کوچنی "کراچی" ده هره يوړيي تمامه ده.

زبغرانده : لکه د پ کوچنی "کراچی" واړه اوس ژبه کړي ده يوه نيمه خبر کولی شي زبغرانده ده يا زبغراندو کې ده يا دا چې وايي په ټول قوم کې پ زبغرانده سړی ده ښه خواب لري.

زبون : وايي د پ له داره خوله موم شوه غږ يې نه شوی کولی زبون يې ووهل شو يا پ چې خبره ورته وکړه د پ زبون ووهل شو يا ولې ګونګ شوې زبون د ووهل شو زبون د يوه خانګړي کيفيت نوم ده.

زبه اړول : لکه پ خبرې کولې خو له هغې خبرې يې ژبه واړوله يا دا چې وايي زبه لمده ده هرلور ته اوړي يا چې خبر کوي زبه مه اړوه.

زبه ایستل : لکه پلانی ښځه له خلکو سره دعوي وئي یو ګز زبه یې ایستلې ده یا پ په نه خبره زبه ایستلې ده خبرې کوي یا د پ له تندي زبه وتلې ده یا په هغه باره کې پ زبه ویسته هغه څه وو چې ده نه ویل.

زبه رغښت : لکه په هغه خبره د سړي زبه نه رغېږي وښیه بده ده یا د پ د وړاندې د پ زبه نه رغېږي یا له هغه وروسته د پ زبه ورغښته.

زبه ور : وایي پ ډېر زبه ور سړی ده هېڅوك یې ځواب نشي ویلی یا پلانی ښځه زبه وره ده زبه ویې خو زبه وره ښځه بده او زبه ور سړی ښه بلل کېږي.

زبه ورته تکول: کله چې مېږو ته مالګه ورکوله کېږي مالګې ته د مېږو د رابللو له پاره شپانه زبه تکوي د زبې تکا ته مېږي ډېرې په هوس او خوشحالی راخي بیا دا کیسه داسې عام کېږي لکه پ- پ ته په هغه باره کې زبه وټکوله یا پ ټول قوم ته زبه تکوي یا ځینې خلك په خوړو باندې کوچنیانو ته هم زبه تکوي وایي پ په خوړو زبه راته تکوله یا به پ چې پ یاد که د زبې به یې تك شو یا هغه شی "څېز" چې یادوي د زبې یې تك شي ډېر خوښي تري کوي.

زبېښل : یو نکری به دا سندره وګورو چې وایي

چې وده وې اوس یې واده کـه

دا کاغذي سونډې یې مازبېښلي دینه

یا دا چې له پ څخه یې ټول دُنیا و دولت یووړه ټوله هستي یې تري وزبېښله یا پ ټول قوم وزبېښه.

زدولی خبرې : لکه د پ په هغو خبرو کې څه مطلب وو خبرې یې زدولی کولې یا یې هغه خبره په خوله کې وزدوه یا د خلکو په لمنځ کې زدولې خبره مه کوه یا پ ښې خبرې نه کوي خبر زدویې یا خبر ولې زدویې یا یې په هغه باره کې خبره زدولې کوله پاکه پیجوه یې نه کوله.

زدووني : هغو لنګو "لېږو" کورتو ته زدووني وایي چې هر وخت رااخیستل کېږي بیا سوله ول "زدول کېږي" لکه ټول ژمی د پ نګولې نه وو چا یو زدووني کورت ورنه کړه یا د یوه زدووني کورتو وس نه لري.

زده : کوم انسان یا حیوان چې له موره پیدا شي کم توانه وي وایي دا زده ده یا دا زده نور نه لوېږي.

زر زریي : وایي پ ډېر زر زر غږېږي زر زر یې ده زر زر ي مه غږېږه.

زر نه : په کومه زمکه چې اوبه ډېرې ودرېږي په تېره بیا خچنې اوبه د هغې زمکې هغې توري ختې ته زرنه وایي زرنه بیا داسې یادوي وایي پ خوځان په زرنه لړلی ده ته ولې ځان ورسره ککړوې وښیه هغه خو له ځانه بد انسان جوړ کړی ده په بدیو لړلی دی یا پ په زرنه کې ولاړ وو ته هم پکې ودرېدې. یا واکمن غواړي چې هغه سیاسي ډله په زرنه کې ودرولی.

زره ترکی : لکه له ډېرې خندا زره ترکی نه شې یا له وېرې زره ترکی نه شي یا له غمو اندیښنو ډېرو کارونو او خبرو زره ترکی شو یا پ د پ له لاسه زره ترکی شو.

زره چاودی : لکه پ ته دا زره چاودی ور پېښه ده یا زره چاودی مې په برخه ده یا زره چاودې ورسره ملګرې ده یا پ د پ له لاسه زره چاودی شو زره چاودی ګورته ولاړ یا دا چاره ډېره زره چاودی لري بې زره چاودې نه کېږي. یاهغه غواړي چې واکمنو ته زره چاودې پیداکړي.

زړا او انګولا: لکه د پ زړا او انګولا هېچا وانهورېده هغه ډېره زړا و انګولا وکړه یا دا د پ زړاو انګولا پ ته چاونه رسوله یا ترڅو به زړا وانګولا کوې یا پ په پ باندې زړاوانګولا کړې دي هغه ته یې خپله زړا وانګولا ورسوله.

زړبستر : د بوټي کومه برخه چې له یوه کاله بل کال ته پاتې شي او بیا نوی بوټی پکې راشین شي هغه زړې برخې ته یې زړبستر وایي لکه هغه ورسو زړبستر لري زړبستر بیا داسې هم یادېږي وایي د پ کوم دونیا دولت چې په سترګو ښکاري هغه ده نورزړبستر نه لري. یاد کور ډېره وکاره زړ بستر

زړخوګی : لکه پ تولـه ورځ زړخوګی کوي یا پ پ ته زړخوګی کړې دي یا هغې چارې یا خبرې ته زړخوګی کوي یا پ زړخوګیو زور که. یا واکمن او سیاسي ډلي له هغه امله زړ خوګی کوي.

زړخوګی: : د سهار له مخې ناشتې یا سباناري ته زړخوګی وایي لکه پ زړخوګی نده کړې زړخوګی بیا داسې هم یادېږي لکه د پ د تول کاله خواره د پ زړخوګی هم نده د هغه هستي د پ

زړخوګۍ نـه کـېږي يـا پـه هغـه دونيـاو دولـت د پ زړخـوګۍ ونـه شو.

زړغونی — لکـه پ پـه هغـه غـم زړه غونـی شـو يـا پ چـې خـبرې کـوي زړه غونـی غـړېږي. يـا واکمـن او سياسـي ډلـي لـه هغـه املـه زړه غونـي دي.

زړغی — وايـي پ هغـې چـارې تـه زړغـی کـوي يـا دا خـبره دومـره ګرانـه نـده خـو پ ډېرې زړغـی. ورتـه وکـړې يـا کـوم کـار د چـې پـه مـخ کې وي هغـه کـوه زړغـی. مه ورتـه کـوه. يـا د واکمنـو زړغـی.

زړه اوبـه پـې چکـل: لکـه پ تـه زيـان ورورسـيده د دوښمـن زړه يـې اوبـه پـې وچکلـې يـا کـه داسـې درسـره وشـول د دوښمنـو زړونـه بـه اوبـه دربـاندې وچکـي.

زړه بـاغ بـاغ کېدل: وايـي د پ دې خبرې يـا چارې يـا شـي تـه زړه بـاغ بـاغ کـېږي يـا ترڅو بـه د زړه بـاغ بـاغ کـېږي يـا زړه د ډېر بـاغ بـاغ شـو.

زړه پـه کـوګل کـې نـاکراره: لکـه دپ زړه هغـې خبرې يـا چـارې پـه کـوګل کـې نـاکراه کـړی ده.

زړه يې ختل — وايـي د هغـې چـارې يـا خـبرې پـه بـاره کـې د پ زړه پـه پ بـاندې ختلـی ده يـا پـه ښه شـي د چښتـن زړه ختلـی وي يـا پ ښه انسـان دی چـې کـوم کـار ورتـه وسـپارل شـي هغـه پـه ښه شـان کـوي د سرې زړه پـې ختلـی وي.

زړه ترې ډډ — وايـي لـه هغـې چـارې د ب زړه ډډ دی يـا لـه پ د پ زړه پـه يـوه خـبره ډډ وو يـا لـه ټول کلـي ولسـه يـې زړه ډډ وو يـا لـه هغـې خـبرې يـې زړه ډډ دی.

زړه تکيه — لکـه د پ خپـل دونيـاودولت يـا مـېړو تـه زړه تکيـه ده يـا د پ پـه پ زړه تکيـه ده يـا پ تـه غـم ورپـېښ وو تـا بـه يـې زړه تکيـه کـړی وو يـا د پ هغې خـبرې تـه زړه تکيـه ده.

زړه تورېدل — لکـه د پ او پ زړونـه سره تـور شـوي دي يـا لـه هغـې چـارې يـا خبرې شـکه "خخه" يـې زړه تـور شـوی دی.

زړه تلوتـه رسـېدل: وايـي د هغـې خـبرې پـه اورېـدو سـره مـې زړه تلـو تـه ورسـېده يـا ددې خبرې پـه اورېدو سـره بـه د هغـه زړه لـه تلـو کتـه تـېر شـي يـا وډار شـو زړه يـې تلـو تـه ورسـېده يالـه هغـې پـېښې سـره د هغـه زړه تلـو تـه ورسـېده

زړه تـه سـور سـيخ ورورل: وايـي پ هغـه خـبره وکـړه د پ زړه تـه يـې سـور سـيخ وراوړ يـا پ زړه وروړ پ سـور سـيخ وراوړ

ACKU

زړه ته سوری دریدل. وایي پ هغه خبر وکړه د پ زړه ته سوري ودرېده یا زړه ته سوری مه دروه هغه خبره د تا په باره کې نده شوې یا زړه ته یې سوری درڅخه ودرېده یا له هغه امله د پ زړه ته سوري ودرېده. یا د واکمنو او سیاسي ډلو زړه ته سوري دریکي

زړه ته ګوتې ورتېرول. وایي پ غمجنو زړو ته ګوتې ورتېرې کړې یا په هغه چاره یا خبره یې د پ زړه ته ګوتې ورتېرې کړې

زړه جګ : لکه د پ له هغه کاره زړه جګ ده یا یې له هغې خبرې زړه جګ شو یا یې له ښځې اولاد مال او دولت څخه زړه جګ دی یا دا چې هغه شي ته خوشحاله ده زړه یې جګ ده یا زیري پرې وشو زړه یې جګ شو یا دا دوعا چې وایې د ما زړه د جګ کړ خدای(ج) د زړه جګ کړه

زړه جوړېدل: لکه د پ مال و سري ډېر دي زړه یې جوړ ده یا په هغه چاره یا خبره یې زړه جوړ ده یا دا دوعا چې خدای(ج) د زړه جوړ لره. یا د واکمنو زړه له هغه امله جوړه ده.

زړه ختل وایي د پ هغې چارې یا خبرې ته زړه ورختلی ده یا یې په مال او پیسو پسې زړه ختلی ده یا د دې قوم زړه په دې خبره خېږي یا پ نه د پ زړه ورختلی ده یا وګی کم توانه ده زړه یې ختلی ده یا یې هغه شي ته زړه ورختلی ده.

زړه خواږه نه سره خوړل وایي د پ او پ زړه خواږه نه سره خوري یا پ د ټول قوم بد ایسي زړه یې خواږه نه ورسره خوري یا د دوو دوښمنو زړه خواږه نه سره.خوري

زړه خوړل لکه پ هغې خبرې ته زړه خوري یا هغې چارې ته یې ډېر زړه وخوړ یا پیسو ته زړه خوري یا پ دوښمن ته زړه خوري یا واکمن هغې چارې ته زړه خوري.

زړه خوګ : لکه په خپل اولاد هر چا زړه خوګېږي یا مې په هغه شي زړه خوګ شو یا د په هغه شي پ زړه خوګ که بېرته یې نه ورکوي یا د پ په پیسو پ زړه حوګه یا د خلکو په مال زړه مه حوګوه

زړه ډغېدل لکه کاروان "بهیر" تللی ده زړه مې ډغېکي چې کومه دوبله ورته پېښه نه شي یا په هغه باره کې د پ زړه ډغېکي چې داسې ونه شي یا مې زړه ډغېده چې داسې به کېږي. یا د پ له واکه هغه چاره یا خبره ووته، خو دده زړه لا ورته ډغېکي چې بیا به لاس ته راشي

**زړه ريبدل** : لکه په هغه خبره د دې خلکو زړونه وريبدل يا زړونه مه ريبه يا پ د پ زړه ريبدلی ده يا په هغه چاره د د پ زړه وريبده يا دا چې تروې يا مستې تروشې دې زړه ريبې يا دا ښېرا چې وايي تا دمونږ زړونه وريبده د تا زړه د خدای(ج) وريبي. يا د هغه زړه سياست ريبدلی ده.

**زړه ړنګېده** : وايي د پ هغه شي يا خبرې ته زړه ړنګ ړنګ کېږي يا هغې چارې ته يې زړه وړنګېده يا د پ زړه د پ په لورې وړنګېده يا د پ زړه هغې ښغلې ته وړنګېده.

**زړه سړېدل** : لکه هغه چاره يا خبره مې نه تر سره کېږي زړه مې ترې سوړ ده يا دا چې وايي- مېړه مې زوړ ده زړه مې سوړ ده، يا دا چې دوښمن ته يې تاوان ورواوښت زړه يې پرې سوړ شو يا په هغه چاره يا خبره يې زړه سوړ شو يا پ- پ ته په غوصه وو سختې سختې خبرې يې ورته وکړې زړه يې پرې سوړ که.

**زړه سولېدل**: وايي د پ دې خبرې يا چارې ته زړه سولېږي يا خوړو اوبو ته مې زړه سولېږي يا هم ښځې ته.

**زړه لوېدل** : لکه د پ ښه زوی يا ورور مړ ده زړه يې لوېدلی ده يا د هغې خبرې په اورېدو سره يې زړه ولوېده يا له وېرې يې زړه ولوېده يا دا ښېرا چې وايي خدای(ج) د زړه ولووه د ما زړه د ولواوو. يا د سياسي ډلو زړه لوول غواړي.

**زړه له ګټې ګوتې تېرېدل**: وايي وډار شوم زړه مې له ګټې ګوتې تېر شو

**زړه مړېدل** : لکه له پ ښځه اوس د پ زړه موړ ده يا يې له هغه امله زړه ترې موړ ده يا له هغې چارې يا خبرې ښځه د پ زړه موړ ده

**زړه مبتلی** : وايي پ دې چارې ته زړه مبتلی زړه مبتلي کېږي يا هغې خبرې ته زړه مبتلې وو يا زړه مبتلی ده يا پ په هغه کار کې زړه مبتلی ده زړه مبتلی يې کوي.

**زړه منل يا نه منل**: لکه هغه چاره يې زړه مني يا هغه خبره يې زړه ومنله يا دا خبره يې زړه نه مني چې دوښمن پرېږدم.

**زړه نه سره ګډېدل**: وايي د دو دوښمنو زړونه نه سره ګډېږي يا د پ او پ زړه په هغه خبره نه سره ګډېږي

**زړه ورورل** : وايي په هغه خبره يا چاره کې پ ې، ته زړه وراوړ خو هغه د زړه د ورورو سرې يا ښځه نده يا ډېر وارې پ زړه ورور هغه سور سيخ ورور



ACKU

زړه او نازړه : وايي پ هغې خبرې يا چارې ته زړه و نازړه ده يا پـه هغـه كـار کـې زړه و نـازړه وو.

زړه وهل : وايي پ هغې چارې يا خبرې تـه زړه وهـي يـا دا خبره داسـې هـم کېږي لکه د غولانځې غوړي ډېر نه خواړه کېږي زړه وهي يـا د پ زړه پ وهلی ده يا هغو كـارو يـا هغـو خبرو د پ زړه وهلـی ده يا به يې زړه ووهي.

زړې گورنډې : زاړه غولـی يـا زړه ابـادي زړې گورنډې وايـي پ لـه کـوره زړه کورنډه جوړه کړې ده. يـا هغـوي لـه افغانسـتان ځخـه کـورنډه جوړه کړه.

زغ : وايي په دې چاره يـا خبره کې پ لـه پ سره زغ وړی يا پـه هغـه باره کې له پ سره زغ نشي وړی وښيه بې وسه يـا کـم توانـه ده يا پ له چا سره زغ سم نه وړي بې روه ده يا پـه هغـه بـاره کـې پ او پ زغ سره وې نـه وور. يـا هغـوي كلـه ناكلـه سياسـي زغ سـره وړي.

زغروبي : د پ ډېره زغروبي سپی. ده يـاكوچنـی "کـراځی" ډېر زغرولـی ده يـا پ زغروبـي پيـدار چوسـت تكـړه سـړی ده يـا زر زر غـرېږي زغروبـي ده. يـا د هغـه زغروبـي غښتلـي كړنـدي سياسـي پريكړي او چـاري.

زغري : وايـي پ قرانونـه كـړي دي د قرانـو زغـري كـې وښورېدي چـې ورخ وزي بې واكه كېږي يا پـه هغـه بـاره كـې د قرانـو زغـري كـې وښورېدی. زغـري يـا زغـری دلتـه د نـښودپـدل او تاسـير پـه انګيرنه يـادي شـوي.

زغمل : شـګلنه زمكـه اوبـه زغمـي يـا پ ډېرې خـبرې يـا ډېر غمونـه وزغمـل يـا دا چـې پ هغـه خـبره وزغملـه يـا پ د پ ډېرې تـاخوالې وزغملې يا پ مـال دولـت زغمـي.

زغومی : لكـه دا زمكـه زغومـی زغومـی ده اوبـه پكـې ولاړې دي يـا دا چـې د پ كور يـا نـس دالـی زغومـی ده هـېڅ كلـه بـه ډك نـه شـي يـا د پ زړه زغومـی لـري.

زګروی : لكـه پ تاروغـه ده زګروی كـوي يـا د پ لـه لاسـه پ هـر وخـت زګروی كـوي ګواكـي هغـه بـد ورسـره كـوي هروخـت پـر يـاد تـرې كوي يا پ د پ له لاسه هرچا تـه زګروی كـوي.

زللی : نكه په خخنده وكي مګك زللـی ده يـا پ زللـی انسـان ده هـر چـا تـه زلـل رسـوي يـا د پ زلـل پ تـه ورسـېده.

زلنده : وایي د وچې مار ډېر زلنده وي یا پ ډېر زلنده ده وشوه په خبرو یا ناست او ولاړ کې زلنده ده وچته چوست ده.

زمرکوړ : دا ټکی یونکرۍ په کواتېو لوبو مستۍ کې تېر شوی ده بیا دا خبره داسې هم یادېږي لکه پ له خانه زمرکوړ جوړ کړی ده یا د پ کور د پ زمرکوړ ده له هره لوري چې راځي یو څه پکې اچوي یا پ دا شی زمرکوړ ته اچوي په زمرکوړ کې یې ټولوي. د زمرکوړ او مینځ کوړ تر منځ بیلوالي شته.

زمول : وایي په کوچنې کراچي باندي ډیر مینت مه کوي بیا زمول کیږي منې براوښت او وده نه کوي یا بوده چې اوړ بار شي زمول کېږي یا د مور په خیټه کې زمول شوي ده یا زمول اقتصاد.

زنه : لکه پ په ډېرو بدیو یا بدو خبرو کې زنه اخیستي ده یا یې د دې چارې زنه اخیستې ده یا له ښځو او کوچنیانو سره یې په منجلس کې زنه اخیستې ده یا یې د زتیو په خبرو کې زنه اخیستې ده. یا د سیاست زنه یا د اتیونې چغزي نړۍ د ساینس او زده کړې زنه.

زور بلایې زور: لکه نن سبا زوربلایې زور ده چې د چا لاس بر سي سرقه نه کوي لاس نه نیسي زور بلایې زور ده.

زور په ځان کې اچول: وایي د دې خبرې په باره کې پ په ځان کې زور اچولی ده یا یې د هغې چارې په باره کې زور په ځان کې اچولی وو. یا په سیاسي ډله کې تاو او زور اچول.

زور ښکاره کول: لکه پ چې هغه کړه وړه کول ټول زور یې پ ته ورښکاره کاوو یا دا چاره یې د پ له پاره وکړه هغه ته یې زور ورښکاره کاوو.

زور وزیر : وایي پ- پ ښه په زور وزیر پوهه که یا د دې چارې په باره کې یې زور وزیر پوهه کړه یا یې هغه ټولې خبرې په زوروزبر ورته وویلې یا دا خبره چې وایي دلته ما ته زوروزبر مه وایه. یا هغه سیاسي ډله په واکمنو پسې څارو ده چارې ئې په زور او زیر ګوري.

زورنې : لکه پ- پ ته زورنې ورکولې یا ډېرې زورنې یې وکړې

زوري : لکه کډې په لار رواني دي خو زوري یې وروسته ده یا ددې قوم زوري دلته ده یا د پ هغې چارې ته ورزوري ده یا د پ- پ ته ورزوری ده یا د پ له پ شکه څخه زوری ده.

زوګند : وايي د ډېر زوګند کور ده يا زوګند کلي ده هر وخت د کلي والو سره جنګ او خبرې وي. يا زوګند خوځښت او تحريک.

زومنه : وايي د زومنه ده يا د ښه زومنه نده وښيه ښه زمن لمسي او خوريونه يې ندي ښا دا ويل چې له زومني مې د بد راځي زومنه زيګنده زيم يا څه زومنه يا زيمنه کله کله د شير وا په مانا هم راځي.

زوندی زاړند لکه هغه مېږې وزې ژوندی زاړندې ورکې شوې يا د ژوندی زاړند ورك شه.

زيارت پسې جارو کول: وايي په د پسې زيارت. جارو کړ يا په د پسې زيارت جارو کړی چې خدای(ج) بد مرغي ورپيښې کړي.

زياوزيري لکه د دوښمن مړ که د هغه زياوزيري يې خوار کړه يا وړه خيل خانه زياوزيري يې خوار شوه يا دا ښېرا چې وايي خدای(ج) د زيا وزيري خواري کړه يا کوم بد چې تا کړي له زياوزيرو دې وخېژه.

زيرتې : هغو مستو او تروو ته زيرتې وايي چې ډېر وخت په لوښي کې کېښو دلي شي لکه مستې يا تروې ډېره موده کېږي چې ايښې دي زيرتې شوې يا زيرتې دې تروشې دي.

زېړ زبيښلي لکه د ډېر وخت ناروغي تېره کړې ده زېړ زبېښلی ده يا د ودار "ووېرېده" رنګ يې زېړ زبېښلی شو يا د هغې خبرې په اورېدو زېړ زبېښلی شو

زېړه زرغونه : دا خو به هر چاته ورښه وي چې زېړه زرغونه هغه وخت ښکاره کېږي چې په اوريز لګ لګ اورېدونکی اسمان کې کله لمر ښکاره شي نو په هوا کې ځورنګه طبيعي "قدرتي" ليندی پيدا شي چې پارسي وان کماني رستم ورته وايي د زېړې زرغونې په باره کې چا ويل چا چا ويل خپره ده وايي چې له زېړې زرغونې څخه ټوپ واچوي ښځه نر کېږي او نر ښځه کېږي بيا دا خبره ډېرو خلکو ته کېږي خو هغو خلکو ته چې په اخلاقو ناسته او ولاړ کې يې فرق راشي لکه د تربرو په مقابل کې په جنسي يا مالي توګه ناتوانه وو وبوله: ښځې په مثال وو اوس دماغي شو لوني کوی له زېړې زرغونې يې تېرېله يا څه له زېړې زرغونې د ټوپ اچولې چې داسې لويو کارو ته لاس اچوي يا د ته په پخواني سترګه مه ګوره نن



ACKU

سبا يې لوټونه يا مړونه ډېر شوي له زېړې زرغونې يې ټوپ "ګام" اچولی ده.

زېړي : لکه پ بې وسه وولـه خلکو يې ډېرې مرستې "بسپنې" وغوښتې ډېرې زېړي يې تېرې کړې يا بې وسه وو ډېرې زېړې پې تېرې شوې يا پـه هغـه باره کې ډېرې زېړي پې تېرې شوې يا پـه هغـه خبره يا چار کې ډېرې زېړې پې تېرې شوې يا يې د پ له لاسه ډېرې زېړې تېرې کړې يا يې پـه هغـه باره پ تـه مخ زېر کـه زېړې پې تېرې شوې. يا پـه واکمنو او سياسي ډلو باندې زېړي تېرېږي.

زېړې تلې : پ يې مړ کـه زېړې تلې يې واچاوو يا اوس بـه د زېړې تلې واچوي يا زېړې تلې پروت وو

زېندې : لکه پ يې په خپل ځادر زېندې کړ مړ يې کړ.

زېبه : وايي پ د پ زېبه ده ګواکې د پ خپل ده يا د پ زېبه خراپه زېبه ده يا ښه زېبه ده يا دا ښېرا چې خدای(ج) د زېبه ورکه کړه.

# س

سابو په مالګه کول: دا تکی د سزا په وخت کې کېږي لکه د پ سابو یې په مالګه کړه یا سابو به د په مالګه کړم یا د پ سابو پ په مالګه کولی شي.

ساري: لکه پ د پ ساري ده یا له ورو سره ځان مه ساري کوه یا دا چې وایي ساري ګرزي ساري غواړي.

ساره تري کیدل: وایي له پ څخه مې ساره کېږي ګواکې اړخ مې تري سوه زي یا تري ډاریږم یا له هغې چارې مې ساره کېږي یا له هغې خبرې مې ساره وشوه یا د پ له خبرو مې ساره وشوه. یا له سیاسي ډلي او سیاست څخه ساره.

سامي: لکه هلته سامي سامي غله پرته وه یا د بل څه سامي جوړې وې یا سامي سامي شیان پراته وو.

ساندره: لکه په هغه پیچومې مېږې ساندره راوختې یا ې کراري پرې ګډه چې ساندره پرې وخېځي

ساندي غم: پ څه سړی ده د ګټې وتې نده ساندي غم ده یا ساندي غم له خانه مه جوړوه. یا ساندي غم حکومتونه او درباریان.

ساه: لکه پ په یوه سا خبرې کولې یا په یوه ساه یې ډېرې چارې تر سره کړې یا ساه یې پوهه کړه یا په دکار کې یې "سیاله" ساه وکړه یا پرې ګده چې ساه واخلي یا ایله بیله ساه پکې وغړېده یا ساه یې ورکړه مړ شو.

سبره: لکه د پ په دغو خبرو یا لګ (لږ) پیسو سبره نه کیږي یا په لږ خوړو ئي سبره نه کیږي سبره مني صبر.

سپاره کته کول: وایي پلانی ښځه سپاره کته کوي.

سپخول : وایي پ خلکو وسپخاوو ډېرې خبرې یې وکړې یا پـه خپلـه وسپخېده څه څه خبرې یې کولـې یا پ پـه هغـه بـاره کـې وسپخوی. یا دسیاسي اداري جوړښت سپخول.

سپرغی: لکه ناروغه یې له خلکو یوه خوا کینه ولاړېګه نور خلکو تـه سپرغی مه ورشـینده وینـې مـرض مـه ورخپـروه یـا خلکـو تـه پېغرونـه مـه ورکـوه بـدې بـدې خبرې مـه ورتـه کـوه چې نـور خلـك پـرې خفـه شي سپرغی مه شینده یا د هغه جنګ سپرغی لرې لرې ځایـو تـه والوتـی. د اور سپنکي سپرغی.

سپرمغ : ډېر لـږ غوړوالـی چې د اوبـو پـه سر ګرزي هغـه تـه سپرمغ وایـي سپرمغ داسې هم یـادېږي لکـه پـه پ کـې د پوهـې سپرمغ نشـته یا د پ په خبرو کې سپرمغ نشـته.

سپك: پ سړی یا ښځه ډېر بې تولـه سپك دی یـا پ خلکـو ډېر سـپك کـه یـا پ ځان پـه ښـلـه سپك کـه یـا ځان یـې سـپك نیولـی دی یـا خلکـو سـپك نیولـی یـا پ ټول قـوم سپك کـه سپك کـار یـې وکـړ یـا دا ښېرا چې وایي خدای(ج) د سـپك کـړه خلکـو تـه پـه هغـه خبره یـا چاره ډېر سپك ښکـاره شـو.

سپکې سپورې: پ او پ ډېرې بـدې ردې خـبرې سـره وکـړې سـپکې سـپورې یې سره وویلې یا پـه پ پسـې سـپکې سـپورې مـه کـوه ډېرې سپکې سپورې د پسـې وکـړې یـا پ پـه پ پسـې هسـې سـپکې سپورې کولـې.

سپګه وژنـي ریچـه ئـي مزد اخلي: وائـي پ چچلي سخت سړي ده سپګه وژنـي ریچـه ئـي مـزد اخلـي

سپلت لکـه پ د پ پـه کـور کـې ناست ده سپلت یې وهلي ده یا هغـې چـارې او خبرې بیلبرې تـه ناست ده سپلت ئـې وهلـي دې یـا د هغـه خوړو اوبـو تـه سپلت وهلـي ناست ده.

سپل غوټه: د سپي مردارګی تـه سپل غوټه وایي سپل غـوټه بیـا داسـې یـادېږي وایي پ سړی یا ښځې له ځانه د سپي سـپل غـوټه جوړ کړی یـا پ د سپي سـپل غـوټه ده.

سپن : لکه د پ پـه مخ کې پ سـپن نـه شوی کولـی یـا پـه هغـو خبروکې پ سپن هم نده کړی ګواکې الپوس یې نـده کـړی.

سپن سکی: دا خبره د سپي او سپي پـه بـاره کـې کېږي لکـه سپي او سـپی سپن سکی سره اچولـی یـا دا چې وایـي مـوږ خبر نـه وو چـې د دې خبرې یـا چـارې پـه بـاره کې پ او پ سپن کی سره اچولـی

وو یا په دې چاره کې د له پ سره څه سپن سکي اچولي دي یا سیاسي او ه. الي سپن سکي شول.

سپوټ : لکه رخت مې د خرڅ له پاره اخیستی وو سپوټ راباندې پاتې شو یا مې هرڅه پ ته سپوټ وریرې ښوده یا سپوټ ورپاتې شو یا د پ پسې په پ سپوټ پاتې دی.

سپورې ستغې: لکه ب- پ ته سپورې ستغې خبرې وکړې یا سپورې ستغې ولې کوې. یا سیاسي سپورې ستغې.

سپوره : وایي پ هم لوی سړی ځان بولي سپوره یې نه خوري یا پ ګیخ له ببګا ځان وستایه هېڅ وخت یې سپوره نه وه خوړلې.

سپما : وایي پ یې په نسپما ډېروي یا دا چې سپمه ولې سپیو خوړلې.

سپیازول : لکه پ- پ په هغه خبر سپیاز که یا یې په هغه چاره سپیاز که په ځینو خبرو یا چارو ټول قوم سپیازیګي یا پ له هغه امله د پ له لاسه سپیاز شو یا که له پ سره دا کړه وړه وشي نو دی به ډېر سپیاز شي. یا هغه غواړي چې سیاسي چارې سپیازي ویني او مړي او بې پدله کړي.

سپیرتلې : لکه پلانی ښځه چې واده شوه د خوسر په کور او کلي کې مړې وشوه ډېره سپیرتلې ښځه ده یا تاوان ورغی سپیرتلې ده یا پ ډېر سپېرتلی ده یا دا چې پ سپېرتلی ده له چا سره یې چې بدي شي هغه سپېره کوي.

سپېرلټ : وایي پ سپېرلټ انسان دی یا د پ خبرې سپېرلټې دي یایې کارونه چارې سپېرلټې دي یا دا ډېر سپېرلټ کارونه دي سپېرلټ کارونه مه کوی.

سپېخوړی : دا نوم هغه ښخمن مال ته یادېږي چې اوړ "تندی" بچي یې مړ شي لکه د پ مېږ وزه یا غوا سپېخوړي شوه بچي یې مړ شو. مونږ د حکومت ځیني بې ګټې وتې چارې سپیخوړي یادولي شو.

سپېروني : پ خبرې ته سپېروني ورکوي ګواکي دروغ ورسره وایي یا هرې خبرې ته سپیروني مه ورکوه باید یاده کړو په کومو اوړ کې چې میرمن خوغاله جوړوي هغه ته سپیروني وایي.

سپیری تلی. د پ او پ سره جنګ وو پ یې وویسته سپیری تلی یې واچاوو یا ډېر به سپېری تلی ولوېږي.

سپیګانه : هغه چاره کې پ ډېره سپیګانه وکړه چې مېرانه یې کړې ړی ډېره ښه وه. یا د واکمنو او سیاسي ډلو سپیګانه او نامردي.

سپیلته : لکه له پ څخه یې یوه خبره هم پټه نه کړه تولی یې سپیلته ورته وویلي یا خبره سپیلته کوه یا پ سپیلته غل ده سپیلته غلا کوي. سپیلته ویني جوته وریته او ښاره.

سپین تاوده : کله چې کورت وزدول شي بیا د غوړیو یا سپینکی تبې یا بګار وروشي هغه ته سپین تاوده وایي

سپین تنه : د پ بل کار نشته تولـه ورځ سپین تني کوي یا له خلکو سره سپین تني مه کوه چې تاوکړه ما وکړه سپین تنه ښه کار نده یا د هغې خبرې سپین تنه وشوه یا د هغې چارې سپین تنه وکې؛ یا هغه دواړه سیاسي سپین تني سره کوي.

سپین چرګ : وایي په هغه باره ګې پ خان راته سپین چرګ کړ یا سپین چرګ له خانه مه جوړوه یا پ- پ سپین چرګ یاداوو. یا واکمن او سیاسي ډلي خپل خان سپن چرګ بولي.

سپین خلی : د پ خلې سپین شو ګواکي زوړ شو یا له سپینو خلیو حیا کوی. یا هغه په سپینو خلیو سیاست ته ورګډ شو.

سپین مخ : لکه پ له قومه تللی وو بېرته قوم ته سپین مخ راغی هیڅ بد نوم یا پېغور یې رانه ووړ یا په هغه باره کې پ سپین مخ ده. یا سپین مخ سیاسي ډلګي.

سپینه : هسې خو دا خبره داسې هم کېږي چې پ هغه خبره سپینه وي یا په هغه بیلبره کې وغړېږه هغه خبره او چارې تولې سپینې کړه بیا دا کیسه داسې هم یادېږي وایي هغه ښځه سپینه ده یا هغه سړی سپین ده باید یاده کړو چې تور نوم یې د ت په بند کې تېر شوی ده.

سپینه کول : دا تکی ډېر متی د قسم "لوړی" یا تکی پرخای یادېږي لکه سپینه ورکړه یا سپینه راته وکړه زړه مې سپین کړه یا له هغه امله یې پ سپیني ته ایسار کړ سپینه یې پې کوله.

سپینه خوله: لکه پلانی ښځې په سپینه خوله ډېر تېر ایستل یا پ تولـه ورځ سپینو خولو ته ناست وي.

سپینه مامدینه: پ- پ ته سپینه مامدینه وویله چې دا د ښه کار نده کړی یا ولې یې سپینه مامدینه راباندې وایي یا سپینه مامدینه خبر کوه.

سپینې : دپښتو او د لاسو وزو ته سپینې وایي د احمدزیو په نرخ "څلي" د ځینې تورولـه ځینې شرایطو لاندې سپینې "پولي" وزې، پریکېږي بیا دا خبره داسې هم یادېږي لکه پ له پ سره سودا وکړه هغه وغولاوو د هغه سپینې یې پرې کړې یا له پ سره ناست ولاړ مه کوه هغه د خلکو سپینې پرې کوي یا یې په هغه باره کې د پ سپینې پرې کړې. یا له هغه امله د هغه سیاسي سپیني پولي یا وزې پرې شوې.

سپینې خبرې: د پ خبرې سپېڅې دي یا سپینې خبرې مه کوه د کونې د کېښودو خای به د ورک شي.

سپینې لمنې : وایي همه جنګ وو سپینې لمنې خلک رامات وو یا مړي شوي وو سپینې لمنې خلک را مات وو.

سپې پسې : وایي په هغه باره کې په پ پسې سپې پسې شو وښیه شریر خلک پسې سو یا پ په پ پسې سپې پسې کړه.

سپې په خوله کې تړل: وایي پ سپې په خوله کې تړلی ده هر وخت یې بده خبره په خوله کې وي.

سپې ته سوخوند نیول: لکه پ ډېر دانه چونکې انسان دی په خوله کې مړی پټوي سپي ته سوخوند نیسي وینې په خورو خوله ښوروي چې کله څوک وویني خوله ونیسي یا سپي ته سوخوند مه نیسه د چا په مخ کې ټکله وخوره.

سترګک توري: وایي ما پ ته وویل چې دا کار مې د تاله پاره وکړ د هغه سترګې مې ورتورې کړې سترګک توري مي ورکړ یا مې پ ته وویل چې په قوم کې یو ته یې هغه ته مې سترګک توري ورکړ یا په هغه باره کې پ ته سترګک توري ورکوه.

سترګک : لکه پ ښځې ته سترګک وکړ یا ددې خبرې په باره کې یې په خوله داسې نه شوی ویلی خو پ ته یې سترګک وکړ هغه یې په سترګک پوهه کړ د هغې چارې په باره کې پ- پ ته سترګک وکړ. یا د هیوادونو تر منځ سترګک او ایشارې.

سترګه کیښکل: وایي پ- پ ته سترګه کیښکله چې داسې وکړه یا ښځې ته یې سترګه کیښکله یا پ ته یې سترګه کیښکله چې وله یې وهه یې.

سترګه ګوډول: سترګک سترګه کیښکل سترګه ګوډول یو د بل ځای نیسي په یو وړ تول یا ځای کې یادېږي.

سترګه کول : وایي پ له پ څخه سترګه کوي یا پ له هغې چارې څخه سترګه وکړه ګواري ویره یې ترې وکړه.

سترگه نه ترې سول: له زورور قوم څخه د هرچا سترگه سوه زي یا له پ څخه د پ سترگه نه سوه زي گواکي نه ترې ډارېږي یا پ مېړونه نه لري د چا سترگه نه ترې سوزي.

سترگه ور : پ پوهه لري یا سترگه لري سترگه ور سړی ده یا سترگه ور نه ده پتې سترگې سړی ده.

سترگې الك بلك کول: پ سترگې يوه لور ته بل لور ته اړولي یا برگې یې اړولي الك بلك یې اړولي یا سترگې ولې الك بلك کوي.

سترگې پټول : وايي پ د پ په عیبونو سترگې پټوي یا پ د په ښو یا بدو سترگې پټوي.

سترگې پې رڼې: لکه د پ په دُنیـادولت سترگې رڼې دي یـا پـه زمنـو مـېړو یـې سترگې رڼې دي یا د پ په پ سترگې رڼې شوي یا یې په هغه چاره سترگې رڼې شوي یـا دا وینـا وایـي سترگې دې روښانـه زوی دې راغی.

سترگې تسی اوښتل: وايي د پ ورونه زمن نشته سترگې یې تسی تسي اوړي یـا د ا... خبره چې نن یې ښځه نشته سترگې تسی تسی اوړي یا یې مال او دولت نشته سترگې یې تسی تسی او. ي. یا په سیاسي میدان کې د هغه سترگې تشي تشي اوړي.

سترگې ته خلی وروړل: وايي پ ښه خبره درته وکړه نصیحت یې ورته وکړ هغه بـل زړه ازار ونکي خبره ورته وکړه سترگې ته یې خلی وروړ یا پـه هغه باره کې پ د پ سترگې ته خلی وروړ.

سترگې ټیټې: لکه پـه هغه باره کې د پ سترگې پ ته ټیټې دي یا پ له پ سره هغه ښه کړي د هغه سترگې یې ټیټې کړې دي یا پ کوم بد کـار نه ده کړی چې سترگې یې چا ته ټیټې وي یا یې په هغه خبره یا چاره د پ سترگې ټیټه ولې.

سترگې جگې: وايي پ داسې مېړه سړی ده چې د ټول قوم سترگې پې جگې دي یا په ځینو کارو د قوم سترگې جیگېږي یا پ کوم بـد کـار نـده کړی پـه هر چا پورې یې سترگې جگې دي یا په هغه باره کې د پ سترگې پ ته جگې دي.

سترگې څکول: وایـي پ پـه هغه خبره سترگې وڅکولې وښیـه د سترگو څرمن یې وښوروله خبره یې له نظره وترپله.

سترگې درنده ول: وايي د پ سترگې په میلمنو درندې شوې پـه میلمـه سترگې مه درنه وه یايې د پ مالو دولت وخوړ سترگې یې پې درنـې کړې یـا پـه

خپلو بنو یا په خیل اولاد د چا سترګې نه درنېږي. یا د باریان تل د وګړو په شتو سترګې درنه وي.

سترګې سول : وایي خور لور داسې خای سه ودوه چې سترګې پرې سوزي یا مې پ په بده ورځ کې ولیده سترګې مې پې وسوې یا د قوم په بد حال به د چا سترګې نه سوزي.

سترګې د شیطان په رنجو تورې: وایي پ بدبد کارونه کوي سترګې یې د شیطان په رنجو تورې دي یا پ د پ سترګې د شیطان په رنجو ورتورې کړې مړی یې پرې وکړ یایې بد کار پرې وکړ یا په هغه باره کې پ د پ سترګې د شیطان په رنجو ورتورې کړې پا هغوي د افغانانو سترګې د شیطان په رنجو بیا بیا تورولې.

سترګې ړومارل: لکه دوه بنې یوې او بلې ته د یوه کار په باره کې سترګې ړوماري یوه وایي چې هغه ته به یې وکړي بله وایي چې هغه به یې وکړي یا په هغه باره کې پ- پ ته سترګې ړوماري چې هغه به یې وکړي.

سترګې کته پورته: لکه پ سړی یا ښځه په هېڅ نه شرمېږي سترګې یې کته پورته نه کېږي یا یې په هغه باره کې سترګې نه کته شوې نه پورته یـ یې په هغه خبره یا چاره سترګې کته پورته نه شوې. یا سره له ډیرې سپکانې او روېي توب نه دسیاست والو سترګې کته پورته نه کېږي.

سترګې کول : پ اوس په هر کار وپوهېده سترګې یې وکړې یا په دغه چاره کې پ سترګې کړې یا خلك یې وپېژندل سترګې یې وکړې. یا هغه په سیاست کې سترګې وکړې.

سترګې مړې : لکه د پ سترګې مړې دي یا یې د پ په حق سترګې مړې کړې نه یې ورکوي یا یې په هغه خبره سترګې مړې کړې یا په هغه شي یا په هغه باره کې د پ سترګې پ ته مړې دي. یا درباریان په مړو سترګو د هیواد شتمنې خوري.

سترګې نه اوښتل: وایي پ بېرته ورونه زمن نه لري سترګې یې نه اوړي یا پ مال دولت څه نه لرېسترګې یې نه اوښتې اوړي.

سترګې نه پورې لرل: لکه پ له قوم سره بد کړي دي اوس سترګې نه پورې لري چې له قوم څخه مرسته وغواړي یا په هغه چاره کې په قوم پورې سترګې نه لري یا پ په پ پورې سترګې نه لري. یا هغه سیاست وال په خلکو پورې سترګې نه لري.

سترګې نه ترې ختل: لکه هغه پیغله یا ښځه داسې ښایسته وه چې سترګې نه ترې ختې یا دا څیز داسې ښایسته ده چې سترګې نه ترې خیژي.

ACKU

ستړګې ورته لګول: وايي د پ په دې کلي کې ډېر برګرندي کېږي خلك ستړګې ورته لګوي يا د پ کره چې ميلمه ورشي سترګې ورته لګوي يا هغې سياسي ډلي ته خلك سترګې لګوي.

ستروګې: د پ ډېرې وګې سترګې دي ستروګی انسان ده يا ستروګی ستروګی مه کېږه. يا د هغه ستروګي سياسي چلند.

ستره سانګه: لکه پ د پ کورته ورغی د هغه يې ډېر قدر وکړ ډېر په ستره سانګه يې ورته وکاته يا پ ته ټول قوم په ستره سانګه ګوري يا يې په ستره سانګه روغبړ ورسره وکړ.

ستړي وتړي: لکه هلته خلك "وګړي" ناروغه وو ستړي وتړي پراته وو يا مړه وو ستړي وتړي پراته وو يا ستړي وتړي ولوېده.

ستړی: پ په هغه چاره کې ډېرې ستړې تېرې کړې يا د پ ټول عمر ستړی په برخه ده. يا هغه غوارې چې واکمنو ته ستړې دوربلي ور پېښې کړي

ستړی مس: پ او پ دواړه د يوه کلي دي خو ستړی مس نه سره لري يا پ اړ پ سره مرور دي ستړي مس نه سره لري.

ستغ: وبوله تيغ پېچومې ته ستغ وايي لکه پ مېږې يا وزې "غيلی" په ستغ وخېخولې يا يې نېغې ستغ ته سمې کړې بيا ستغ داسې هم يادېږي لکه دا خبره يا چاره ولې ستغ درته ښکاره کېږي يا پ ته دا چاره يا خبره ستغ شوه يا پ په هغه باره کې پ ستغ ته سم کړ.يا سياسي او مالي ستغ

ستلی: لکه هلته هغه شيان "څيزونه" ستلي پراته وو يا خلکو ته څه واقعه بودري ورپېښه وه ستلي پراته وو وښيه يو په بل باندې ستلي وو.

ستُو: هغه زور کولو ته ستُو وايي چې د لنګوال په وخت کې وشي لکه مېږ لنګېږي ستُو کوي يا کـه چا ته زيات وويل شي نو وايي پ چې دا چاره تر سره کوي ډېره ستُو به ورسره وکړي.

ستَو: د غړکي يازي ډېر واړه سوري ته ستو وايي د ستو په ارتباط وايي پ که هرڅو دا خبرې پټې وساتي اخر به ستو وکړي ټولې خبرې به تري ووزي يا په هغو خلکو کې ستو پيدا شو يا د پ او پ په خبرو کې ډېر ستو پيدا شوه، يا په هغه موضوع کې ستو وښيه سوري پيدا شوه. يا د سياست او عدلي په خبرو کي ستوونه پيدا شوه.

ستوان او سوړنی: دا خبره د هغه چا په باره کې کېږي چې ډېرو کارونو ته لاس واچوي لکه د مثال په دود که يو څوك په اسلام او کفر دواړو کې اخته وي وايي پ سوړنی هم وهي ستوان هم خوري يا ستوان او سوړنی دواړه نه سره کېږي يا ستوان وخوره يا سوړنی ووهه.

ستوخ : لکه ځینې خواړه ستوخ وي نه خوړل کېږي یا به ووایو چې د کوچیانو غوړي ستوخ دي اوس به له خوراکي شیانو ځخه اېلو ولاړ شو. وایي ې ډېر قهر جن په غوصه ستوخ ناست وو یا ې- ې ته ډېرې ستوخې خبرې وکړې یا ې په هغه باره کې ډېر ستوخ وغږېده. یا ستوخ سیاسي چلند.

ستوری اوبه: وایي د ې ستوری اوبه شوی دی له خپله زوره لوېدلی ده یا د دولت او مېړو له لوري له زوره لوېدلی دی ستوری یې اوبه شوی دی یا دا چې ستوری یې په اوبه کېدو دی.

ستوری په لوېدو: وایي د ې ستوری په لوېدو ده یا له هغه امله یا د ې له لاسه د ې ستوری په لېدو دی.

ستونی : لکه په هغه باره کې د ې ستونی ډېر جګ "لوړ" وو ډېر په اسك ستوني غږېده یا د ې ستونی ې بند که یا دا ښېرا چې وایي خدای(ج) د ستونی بند یا خاوري کړه.

ستېزه : وایي په دې چاره یا خبره ې- ې ته ستیزه وربښکاروي ېنې زور وربښکاروي یا ې په هغه خبره یا چاره ډېره ستیزه وکړه یا ې- ې ته په مخه ورغی ډېر په ستیزه کې یې تېر شو ې ډېر په ستیزه کې غږېده. ستیزه ډېر پراخوالی لري.

ستیل : لکه هغه شی "ځېر" ې- ې ته ډېر وستیه یا د ې ته ستیلی وي یا یې روته وستییه. یا په سیاست کي ګډون ورته ستیل.

ستیه : لکه سابو چې له یوې ورځې واوړي ستیه شي یا ې دا څو ورځې ډېر ستیه ده یا په د خبره ډېر ستیه شو یا په هغه چاره ستیه شو. ستیه وېني جنجړه خازه شو ته مړاوي.

ستکوري سوتکوري: لکه دوني ستکوري یا هلته کاله اوراخیستی وو خلك سوی وو ستکوري ستکوري پراته وو یا ې هر وخت ستکوري پروت وي یا سوټ بوټ.

ستول : لکه د ې په کور دوښمن حمله وکړه ټول یې له یوې مخې ستول یا بنه ده چې سټ یې نه کړل یا هغې ناروغی ډېر خلك سټ کړل

سته ایستل: لکه د مال ناروغی ګډه وه د مېږو وزو سته یې وایسته ډېر خلك مړه شول سته یې ووته یا ې ډېر خلك مړه کړل د خلکو سته یې ویسته یا له هغه امله به د خلکو سته ووزي وښیه مړه به شي

سجي : لکه ې سجي پښتون ده یا په ټول قوم کې ې سجي سړی ده پلار و نیکه یې سجي خلك تېر شوي. یا د هغې اداري سچي چاري

سخ : وايي سخ د تا پښو ته چې له دې پيټي لاندې ماتې شوې نه دي يا سخ دې زړه ته چې له ډېره غمه ونه چوده يا سخ پ ته چې د پ په بدو هلی شو. يا سخ او شوخ په هغه اداره باندې.

سخره : لکه ددې چارې غوټه سخره شوه يا دا سخره غوټه به څوک خلاصوي يا دا ښهرا چې پېغلو ته کېږي وايي د ښکې غوټه د سخره شه يا ددې چارې يا خبرې د بيلبرى غوټه د پ له لاسه سخره شوه. يا هغه سخره غوټه عدلي ورنخله پرانيسته.

سخري : وايي پ يې په تيګو وويشت يا سخري يې پرې والوزه والی يا پ- پ ته له سخرو لاندې وت يوه يې ورته پورته کوله بوه يې اچوله.

سخې پی پخول: وايي که د دوښمن زوی يا ورور د مړ شي سخی مه پرې پخوه يا په پ باندې د ټولو دوښمنو سخې پخې شوې وښيه داسې پېښې وروشوې چې دوښمن وويل چې داسې ښه شوه چې وشوه يا دا چې وايي په ما به د دوښمنو سخې پخې کړي. يا په دغه سياسي منده دره د خپلو خلکو سخې پخوي.

سرابن : پ په غوښه ډېره مينه کوي ډېر سرابن ده يا دا چې شهواني ده سرابن ده. يا په سياسي چارو کې سرابن.

سرايستل : پ د خبرې سر يوه لور ته باسي يا د دې خبرې چارې سر وباسه يا له هغه ځايه ولاړ سر يې ويوست.

سر پري کړي: لکه چيغه ګډه وه خلك رټان وو پ له خلکو سر پرې کړی وراندې روان و، يا په سرپرې کړی سری ده يا په د چا د سر پرې کړلو پروا نه کوي. سر پري کړي هغه څوك ياد شول چې د خپلې ليکې سر يې پرې کړی وي له خپلو ملونو څخه وړاندې روان وي.

سر اچول : لکه خلکو سر اچولی وو ټول ولاړ يا سر يې واچاوو يا پ په هغه خبره يا چاره سراچولی ده يا په ټول کلي کې پ سر پی اچولی ده.

سرپه : لکه په دوښمن څوك سرپه نه کوي يا سرپه پرې ونه کړي.

سرپه ځاره : لکه پ ځوارې "تکرې" مال واخيست او خرڅ يې کړ چې هرواريې تاوان پکې وکړ سرپه ځاره ولاړ يا پ په هغه بيلبره کې بسرپه ځاره ولاړ. يا د هغه سر په ځاره سياسي منډې.

سرپه ځيری : دا خبر د سزا په وخت کې کېږي لکه سرپه ځيږي به دوځروم ګواکې سرکته پښې پورته "سر په ځيرى" يا دا چې پ يې د هغې خبرې يا چارې په باره کې سر په ځيرى خوړند کړی ده يا پ- پ سر په ځيری وځراوو. يا له سياسي پلوه کلونه کلونه افغانان سر په ځيري وځړول شول.

سر په سر : لکه پ او پ اوښان سر په سر سره بدل کړه بری یوه هم ورنه کړ یا په دې چاره کې پ او پ سره سر په سر شوي دي سر د پ او سر دپ ده یا سر د تاده سر د ماده سره سر په سر شوه. یا هغه ټولي بيلبري سر په سر خلاصې شوې.

سر ترې ټکول: له پ څخه ټول قوم سر ټکوي یا له پ څخه پ ډیر سروټکاو ترې په تنګ وو یا له هغې چارې یا خبرې سر ټکوي. یا سیاسي سر ټکونه.

سر ترې شکول: له پ څخه ډېر خلك سر شکوي ګواکي ترې تنګ دي یا د پ له لاسه یې هر چا ته سروشکاوو یا له هغې خبرې یا چارې سر شکوي. یا له سیاست څخه سر شکونه.

سر ټروني : دوره کې تولپك سر چې په کوم توکري یا جوړ کړی توکری ټړل کېږي هغه ته سر ټروني وايي سر ټروني بیا.داسې هم یادوي لکه په پ مور ښه ټينګه سرټروني ټړلې خکه ښه سړی یا ښه ښځه ده.

سر تمبه : پ ډېر سر تمبه ده چې يوې خبرې یا چارې ته سر تمبه کړي بلـه نـه پرې جوړېږي. سر تمبه رند او خري سړي دي.

سرتوره : وايي د پلانی ښځې سړی "مهره" مړ سر توره شوه یا دا دوعا چې وايي خدای(ج) د له سر تورې ورځې وساته ګواکي کونده مه شې یا سر توره مه شې.

سر توره کتو: وايي ښځه سر توره کتو ده. کتوي ته چوري هم ویل کيږي.

سر ټيټی : لکه په هغه خبره یې ټول سر ټيټی کړي دي یـا پ چې درسره وي پې سر ټيټی به نه شي یا به په هغه چاره سر ټيټی نه شي یا دا دوعا چې خدای(ج) د سر ټيټی مه کړه

سر چل : لکه پ دټول قوم سر چل ده څه چې هغه ووايي ټول قوم هغسې کوي یا پ د ټول قوم سر چل تېر شوی ده یا په هغه بیلبره کې پ سر چل ده یا ددې بيلبرې سرچل پ وو یا ده. یا د هیوادونو تـر منځ په خبرو کې به هغه بیلبره د ټولو خبرو سر چل وي.

سرخاښي : لکه د ونې سرخاښی بیا داسې هم یادېږي وايي په هغه خبره یا چاره کې پ له پ سره سرخاښی شوی ده یا لـه هر سړي سره پ سرخاښي وي ګواکي په هر کار کې ورسره خښ وي. یا پـه ملګرو ملتونو کې څو هیوادونـه د يـوې بيلبرې په اړوند د سر خـاښي کیدلـو برخـه او تقدیر لري.

سر خوړل : وايي پ سر وخوړ وبوله مړ شو یا پ سر خوړلـی خـدای(ج) د يـې وبښي یا په بزار کې هر څه ارزانه شوي دي سر يې خوړلی ده یا هر شی به سر وخوري.

سر خوږېدل : وايي په هغه خبره د پ سر وخوږېده ګواکې پرې خفه شو يا په هغه چاره د پ سر وخوږېده.

سرخيلي : وايي پ ډېر سرخيلی سړی ده يا ښځه ده، ياني سرتمبه.

سر ډډ : وايي په ډېرو خبرو زموږ سرونه ډډ شول يا سر مو مه ډډوه هسې مو سرونه ډډ دي. يا د واکمنو له هغه امله سر ډډ ده.

سر زوري : پ ډېر سرزوری ده يا دا چې وايي پ په هر خبره يا چار کې سر زوري کوي يا يې سر زوري وکړه يا آبې سرزوري وه په اوبو کې يې مخ پورته ګوري "دا يوه قصه ده"

سرسيرن : لکه پ په جنګ کې سرسيرن لګېدلی ده يا پ مې د هغې خبرې يا چارې په باره کې سر سيرن پوهه که يا په هغه باره کې سر سيرن ورسره وغږېدم يا په هغه خبره سر سيرن ورته تېر شوم. ويني سر سري.

سر ښورېدل: وايي د پ په هغه چاره يا خبره سر ښورېدلی ده يا د پ او پ په هغه خبره سر سره وښورېده يا دا ويل چې وايي- تر پرونه چې په کومه خبره سر سره وښوروي بيا هغسې کوي تا له ما ښره په دې باره کې سر ښورولی وو يا د هغه شي "څيز" سر د راته ښرولی ده چې دربه يې کړم.

سرغندی : وايي پ سر غندی تيګې ولي يا په خبرو کې يوه سر غندي خبره پ هم راوويسته. يا هغه قانونۍ نه يوه سياسي سرغندي وه.

سرکاوته : وايي پ سر کاوته شوی ده وښيه دوماغ يې خراپه دی يا يې خبرې سرکاوته دی يا يې کارونه سرکاوته دي.

سرکښ : وايي پ د ټول قوم سرکښ ده يا پ په هغه باره "بيلبره" کې سرکښ وو يا ده. يا د سياست سرکښان.

سر کونډو : څوك چې په سربانډې اوړي هغه ته سرونډو وايي سرکونډو بيا داسې يادېږي لکه پ به په هغه باره کې يا چارو کې ډېرې سرکونډو وخوري وښيه د سر په لوري به ولوېږي.

سرګرول : وايي په خبره کښې پ سر ورته وګراوه ګڼواکې سوال يې وکړ.

سرلاتي : هلته ميګ يا اوښه په اړخ کې ورغښته په سرلاتيو شوه يا پ په هغه باره کې سر لاتی خوري وښيه سر په پښو رغړي.

سر لوينه : لکه حاجي ته مو ډزونه وکړه سرلوينه مو ورته وکړه يا هغه بدې ردې راته وويلې زه ورته غلی شوم سر لوينه مې ورکړه يا مې د هغه صفت وکړ سر مې يې لوی کړ سر لوينه مې يې وکړه. يا په سياست او نظامي چارو کې سر لويني يو او بل ته سره ورکول کېږي.

سر له پښو ځوول: پ داسې بده خبره راته وکړه چې سړی یې سر له پښو ځواوه یاپه دې خبره مې هډو کې وځویده سر له پښو وځویدم.

سرماشه : لکه په قوم کې د ټولو خبرو سرماشه پ ده یا ددې قوم سر ماشه پ ده یا په هغه بیلبره کې سر ماشه پ وو یا پ د ټولو خبرو یا چارو یا قوم سرماشه ځان بولي. یا د خبرو سر ماشه ګرزوي.

سر مزغن : وايي د پ مازغه خراپه دي سرمزغن ده.

سر موره : لکه هغه شی سرموره ایښی ده یا یې سر موره کېښوده یایې سرموره ایښی وو خو پ راواخیسته.

سر نه پسې ګرزول: پ په هره خبر پسې سر نه ګرزوي یا هغه سیاسي ډله په خبرو پسې سر نه ګرزوي.

سرواښی : لکه د پ د خولې سرواښی خراپه ده یایې د خولې سر واښی سست دی بدې بدې خبرې کوي یا یې په هغه باره یا خبرو کې د خولې سرواښی سست کړی وو. سر واښي د برغوالي مانا هم ورکوي.

سروبر : پ د خبل سر و سر او بر ته نه ګوري یا د چارې سر و بر ته نه ګوري یا د هغې چارې یا خبرې سروبر ترې ورك دی.

سر او پښې کول: لکه په هغه چاره خبره یا "بیلبره" کې پ ډېر سروپښې وکړه نه یې منله یایې هسې سروپښې کول.

سرورته کول: لکه پ هغه شي ته سر ورته کړ یا پ هغې خبرې ته سرورته کړی ده یا پ له پ سره په هغه چاره کې سرورته کړی ده یا له هرې خبرې سره سرورته کوي یا له هر چا سره یې سر ورته کړی وي یا په هغه باره کې یې له پ سره سرورته کړ.

سروغر : لکه پ له کوره وتلی ده سر وغر تللی ده یا سروغر ورك شو یا دا ښېرا چې خدای(ج) د سروغر ورك کړه.

سر او کونه تاوېدل: لکه پ په هېڅ نه پوهېږي هسې سر او کونه تاوېږي یا وارخطا ده سرو کونه تاوېږي.

سر و نوك : لکه دا شی، "څيز" سر ونوك سره ورسېده یا به سرونوك سره ورسي یا سرو نوك مالي لګښت.

سرونه خیشته ول: یو نکری به دا خبره وګورو چې وايي پ سل سرونه خیشته کړي دي خو یو یې ونه خریه یا په هغه باره کې پ د پ سرخیشت کړی ده یا پ ډېر سرونه خیشته کړه چې کوم یو به ړومبی ورخئي.

سر – وور : سروور د ناوې هغه خونې یا غوټې او ګنډې ته وايي چې د خوسر له کوره یې د پلار یا پلرګنی کور ته یوسي یا یې د پلار له کوره د

خوسر او خسرانې کورته يوسي بيا سروور داسې هم يادېږي وايي د اناروغي له هغه کلي پ راوړې ده دا سر - وور هغه راوړی دی.

سرويګدي : سرويګدی ښايي وپېژندل شي، ولې په نورو خبرو کې داسې ګډېږي وايي ددې خبرې سرويګدی دا خبره ده وبوله دا خواب يې دي يا دا چاره سرويګدي غواړي يا هغه بيبره کوم قانوني سرويګدی نه لري.

سره اوړي : لکه په بزار کې دېر خلك وو د خلکو سره اوړی وه يا په هغه شي "څيز" سره اوړی وه يا پ خلکو واهه د خلکو پې سره اوړی شوه. يا درايو په پنډونو صندوق د خلکو سره اوړی وه.

سره انډي : لکه پ له پ سره په هغه خبره انډی شو وينې ورسره مخالف شو يا په هغه چاره سر انډی شوه يا په هغه باره کې سره انډی شوه يا پ په نه خبره له خلکو سره انډی شي.

سره به : لکه پ مال حلال کې غوښه يې وخوړه سره به يې وکړه يا پ څوك مړ که سره به يې وکړه يا پ داسې دېر خلك وژلي دي سره بي يې کړی دی. يا د هغه هېواد په ټاکنو کې سره به ارو مرو کېږي.

سره پرغو : لکه پ او پ مېږې يا وزې سره ملګري کړي سره پرغو شوه وښيه سره مرستندوی شوه يا د هغې خبرې يا چارې لپاره سره پرغو شوه يا په هغه بيلبره کې له پ سره پرغو شه.

سره پلکي : لکه مال مېږې وزې "غيلی" له پ سره يو خای کړه دواړه سره پلکی شي دا ټکی هم د پرغو په څېر يادېږي يا کاروان بهير ته ولاړ شي سره ملګري شي سره پلکي شي يا په هغه بيلبره کې سره پلکي شوي دي. يا سياسي او نظامي پلکي.

سره په اوس اوس کې : وايي پ او پ سره په اوس اوس کې دی ګواکې جنګ ته سره ببرلډې شوي.

سره په ښکر: پ او پ سره په ښکر شوي يا پ له هر چا سره په ښکروي يا په هغه باره کې دېر وخت سره په ښکر وو څو کاله يې په ښکر سره تېر کړل. يا د هغې قانوني مادې له امله سره په ښکر شوي.

سره چاروغوښه: لمړی دا ښېرا چې وايي خدای(ج) مو سره چاره و غوښه کړه يا پ او پ سره چاره و غوښه دي.

سره چرګی : لکه د بنې په سره چرګې شپه کېږي يا پ په سره چرګې شپې ورځې تېروي يا يې په هغه باره کې په سره چرګې شپه شوه.

سره خړول : وايي پ له پ سره خړه کړه ګواکې زړه بدګي يې سره پيدا شو يا د پ او پ هغه دوستی او ملګرتيا سره خړه شوه.

سره خوړل : پ او پ سره وخواړه ګواکي جنګ یې سره وکړ یا پ او پ په هېڅ خبره سره خوري

سره خوړلي چکلي: د پ او پ ډېر کاله سره راسه ودر سه وه ډېر وخت یې سره خوړلي و چکلي دي یا تا و هغه ډېر سره خوړلي چکلي دي.

سره خوله : لکه پلانی ښځه سره خوله کونده شوه ګواکي خوانه کونده شوه یا سره خوله جلکی ده

سره خیګه : پ او پ ډېر سره برګ یا سره خیګه دي ګواکي سره په غوصه دي یا په هغه خبره یا چاره سره خیګه شوه.

سره د لاس په اچولو کې: وایي پ او پ سره د لاس په اچولو کې شوه یا سره د لاس په اچولو کې دي نیژدي وه چې لاس یې سره اچاوو.

سره ریدل : په اصل کې د مېږي اواز غګ ته ریدل وایي په دې ارتباط وایي پ او پ بیا سره وریده ګواکي د خپلوی او میني نښې یې سره ښکاره کړې یا په څه سره بې میني وو اوس بیا سره وریده. یا د افغانستان د پښتو په اړه لویدیزوال پکلي سره وریده.

سره سره کېدل: وایي پ- پ ته په غوصه وو سور سور ورته کېده یا پ او پ سره سره سره کېده یا سره سره سره کېږي.

سره سله : لکه دا ښیرا چې وایي خدای (ج) د د پ مالو دولت درته سره سله کړي. یا د قوم شتمني به درته سره سله شي.

سره شیشه : یا سره شیشي وایي په بزار کې ډېر زیات خلك وو، د وګړو سره شیشه وه یا د پ کور ته خلك ورمات وو د خلکو سره شیشه وه یا د ټاکنو د منځ کوړ په لور د خلکو سره شیشه.

سره کشکول : پ او پ دا خبره ډېره سره کشکړه یا دا خبره دومره مه سره کشکاګی.

سره کونډو کپر: لکه د قومونو سره جنګ وو سره وي وهل سره کونډو کپر یې کړه ټول کونډو کپر دي یا کونډو کپر شوه.

سره کونه کونه: لکه د پ قوم بې اینتیپاخه ده ټول قوم کونه کونه ده ګواکي هر سړی خان غټه کونه بولي کوني کوني دي یا دا ښېرا چې وایي خدای(ج) مو سره کوني کوني یا کونه کونه کړه یا ټول قوم پ سره کونه کونه کړی دی.

سره لاس کې: که یو څوك مړی وکړي یا داسې بد شته چې د احمدزیو په نرخ د د هغې بدی په روغه کې ښځې ورکول کېږي هغې ښځې ته په سره لاس کې ورکړي وایي لکه پلانی ښځه یې په سره لاس کې کړی یا یې په سره لاس کې ورکړی ده.

سړه نوك او اوري: لکه پ او پ سره خپل دي سره نوك او اوري دي يا نوك او اوري په سخته سره بيلېږي.

سره منځکه: لکه پلانی ښځې ته د خوابنې يا بني له خوا منځکه سره ده يا په سره منځکه شپې ورځې تېرې يا په هغه باره کې پ په سره منځکه ولاړ يا ناست ده يا په سره منځکه اوسي

سره مي وېی: وايي پ او پ بيا سره خپل شوه سره می او پی شوه يا پ او پ په هغه باره کې سره می او پی دي يا د هغې خبرې يا چارې لپاره سره می او پی دي .

سروتل : وايي د پ او پ تل سره جنګ وي تل سره وتلي وي يا هره ورځ مه سره وزی يا په هغه خبره يا چاره سره وتلي دي يا سره وواته.

سره وسپينه: وايي پلانی ښځه سره و سپينه ده ګواکي تازه ده

سره وره په پيوانده: لکه د پ او پ کورونه ډېر سره نيږدي دي سره وره په پيوانده دي، ويني د يوه ور د بل ځنګلی او پيوند ده

سري بورده : لکه د پ ګډه ولاړه هرڅه يې سره بورده يووړه يا دا هر څه سري بورده وړه چې هېڅ پرې نړدي يا په هغه باره کې پ- پ ته سري بورده واك ورته که.

سری وری : وايي پ دا چاره يا دا خبره سری وری نده کړې يا پ په پ باندې سری وری دا کار يا خبره ورواړوله.

سرې غوښې شاته تړل: وايي پ- پ وژلی سرې غوښې يې شاته تړلې دي.

سر يې له غمه نه ختل: وايي د پ سر له غمه نه خيژي.

سر يې له يوه سره پښې يې له بل سره: د پلانی ښځې سر له يوه سره وي پښې يې له بل سره وي ګواکي بدلمنی وي يا دا ښېرا چې وايي خدای(ج) د داسې ښځه درکړي چې سر يې له تا سره وي پښې يې له بل سره وي.

سر نه پورې پتېدل: په پ پورې د ښځې سر نه پتېږي.

سر يې نه ورته ټيټېدل: پ ته د ښځې سر نه ټيټېږي يا پ دومره سړی نده کله به د ښځې سر ورته ټيټ شي.

سړزی : په پ دوښمنو ډېره بده ورځ راوستلې وه خو قوم سړزی پرې راوسته يا د اورې په پای کې سړزی پيدا شوه يا پ به په چا څه سړزی راجوړه کړي يا په هغه باره کې دا سړزی د پ له لورې وه يا په سياسي منډو دړوکې سړزي

سړلی : لکه پ شپه وساړه يا پ ته پړی په غاړه ورواچوه وي سره يا دا چې وايي زوم نه چا بللی ده نه چا سړلی ده

سروبی : سروبی شاهد ویېژندل شي خو دا خبره به راواخلو چې وایي چې چېرته سپی دی په سرو بی دی دا تېره خبره په ښېنو خلکو پورې کېږي. یا سروبی هغه ډنډ چې له سیوري لاندې جوړ شي.

سره : وایي دا خبره پ سره پرې ایښې ده یا دا چاره سره شي یا دا خبره یا چاره پ سرېدو ته نه پرېږدي د موږ له لوري سره ده.

سره ثنا : لکه غرمه خلك ویده وو سره ثنا وه یا کله چې واړه کوچنیان له کوره ووزي سره ثنا شي شور و زوګه ورك شي یا کلی وتلی وو سره ثنا وه.

سره خوله : لکه پ یې وویشته سره خوله یې وغورځاوو یا یې وواهه سره خوله ولوېده.

سره خوله ویل : وایي پ له هغې چارې یا خبرې څخه سره خوله ویله یا له پ څخه یې سره خوله ویله یا له هغې سیمې څخه یې سره خوله ویله یا له هغه سفره یې سره خوله ویله.

سرې اوبه : لکه د پ او پ سره جنګ ده خدایْ(ج) د یې له مینځه سرې اوبه تویه کړي یا ډېر ګرم شوی وو هغې خبرې سرې اوبه پرې تویه کړې. یا د سیاسي ډلو په الون بلون سرې اوبه تویه ول.

سرې بود : وایي په پ کې هېڅ سرې بود نشته. یا د هغه چارو کې سرې بود نشته

سرې خوا : لکه له ډېرو منډو درړو تیښتو د پ سرې خوا شوه یاله ډېرو درړو د حیوان سرې خوا شو یا چې دا چاره ترسره کوي سرې خوا به دې شي یا د پ په هغه باره کې سرې خوا شوه ویني له بریده زیات ستړی شو.

سرې سر : لکه غله مو سرې سر وویشله یا سرې سر یې ووېشي.

سرې غم : لکه دا دوعا چې وایي مال د مړ شي خدای (ج) مو د له سرې غمه وساتي سرې غم راپېښ مه کړې.

سست : لکه پ په هغه بیلبره کې ډېر سست وو یا په خوله کې ډېر سست ده یا د پ ټول کارونه سست دي یا پ په هغه باره کې پ سست پرې ایښی دی. یا په هغه باره کې پ- پ ته پ ورسست ګه.

سغ و بغ : پ په پ سترګې وربرګې کړې سغوبغ یې کې ورك کړه یا پ د پ له داره سغ و بغ نه شي کولی.

سکروتې : وایي په پ باندې دوښمن ګڼ ډزونه وکړه داسې سرې سکروتې یې پرې تویه کړې یا دا چې وایي

په یار مې سپین کفن غورېږي

په اورېږي د سکروتو برانونه

سکره : د شنه مزري یوه بوټي ته سکره وایي په د ارتباط وایي پ خلکو ته خپل زور ښکاره کوي داسې سکرې کاګې یا خلکو ته وایي دا به وکړم ها به وکړم سکرې کاګي یا په هغه باره کې یې ډېرې سکرې وښکې. یاواکمن غواړي چې د سیاسي ډلو سکره وباسي.

سکښتی سکښت: هسې خو د جامو سکښت هر چا ته وریت دی ي‌بیا سکښت داسې هم یادېږي لکه پ او پ سره خوابدي دي بوپه بل سکښتي سره تېرېږي یا پ- پ ته سکښتی سکښتی لجبرې وکړي ینې غوڅې غوڅې خبرې یې ورته وکړي.

سکني : لکه پ د پ خپل ده سکني یې ده یا ته له کومه راسکنی شوې یا پ او پ بیا سره سکني شول ګواسره نیژې یو د بل خوا خوګي شول.

سکوت : لکه پ بدې بدې خبرې وکړې پ ډېر سکوت ورته وکړ یا پ هغه خبره یا هغه باره کې سکوت شو.

سکونډل : لکه په بزار کې سړي ښځه وسکونډله یا په هغه باره پ- پ وسکونډی چې دا کار وکړه یا په هغه خبره یا چاره باره، کې یې هر وخت سکونډلی؛

سکه می : کله چې حیوان یا انسان تونده ساکاګي وایي د مال یا انسان سکه مې ده خو سکه می بیا داسې هم یادوي وایي دا چاره به دوسکه مه وي یا په هغه باره کې پ- پ وسکه ما وو.

سکیدل : لکه کوچنی کراچی ژاړي سکیږي یا پ د پ له لاسه سکېږي یا پ د پ له لاسه هرچاته سکېږي یا په هغه باره کې پ- پ ته ډېر وسکیده. یا د واکمنو له لاسه سیاسي ډلې سکیږي سونکت وهي.

سلامی : پ- پ ته سلامی شو یا چې سلامی یې نه کړې تر څو یې پرې نه ګدي.

سلګی : د پ له لویګي سلګی دي یا دا ویل چې له لویګي یې سلګی نشي پ چا ته سوال نه کوي. یا د واکمنو او سیاسي ډلو وروستي سلګی دي.

سمانه : وایي د پ دونیا او سړی ډېر دی نن سبا ډېر په سما نه کې وي یا دا څومره په سما نه کې یې یا دا څومره په سما نه کې یې د سمانو سړی یا ښځه نه یې سمانه پرې ګده سمانه مه کوه یا دا ښېرا چې وایي خدای(ج) د له د سمانې وګوه وه. یا د سمانو واده یا د سمانو سیاست او واکمني.

سمغ : په زمکه کې چې د اوسیدو لپاره غاروواهه شي هغه ته سمغ وایي.

سم لاسي : لګه پ دا کار کړی وو سم لاسي پ هم دا کار وکړ.

ستی کول : وايي پ د هغو خلکو نومان راته سنی کړه یا هغه ټولې خبرې يې راته سني کړې چې پرې تېرې شوې وي يا چې څه پرې تېر وو هغه يې راته سني کړه.

سنا وو : وايي پ يو سناوو سړی يا سنا وو ښځه ده هېڅ چاره نه شي کولی يا هر وخت سست پست وي سنا وو يا سوړ ده سناوو ده.

سن و سنا پس: وايي سن مه کوه سناپس د باسم يا که سن د کړی وی سناپس د اوت. یا د واکمنو له ويرې سياسي دلې سن نه شي کولی سنا پسې يې باسي.

سنه ولی : لکه پ په چا ښد ند ده سنه ولی ده يا ډوډی سنه وي سنه ولې ده پاکه له ښتني څخه وروسته لږ وريا ولاړ شو نو وبه وايو چې پ ښځه وسنه وله يا يې سنه ولې ده.

سوتکی : پ په قوم سوتکی جوړه کړه کنه دوښمنو نه پرېښود یا تـه بـه څه سوتکي راباندې راولې که په ما تنګځه ده پ دسوتکی په وخت پيدا کېږي د سوتکی سړی يا د سوتکي ښځه ده.

سوټ بوټ : لکه حيوان يا انسان يې سوټ بوټ وتاړه سوټ بوټ بيا دابسې هم هم يادېږي لکه پ- پ په هغه بيلبره کې سوټ بوټ پر کړ يا يې په هغه خبره سوټ بوټ وتاړه يا پ- پ سوټ بوټ تاوان ته وتاړه.

سوټکی موټکی: لکه پ هغې خبرې يا چارې ته قوم سوټکی موټکی وتاړه يا له هغه امله پ په خپله خان سوټکی موټکی وتاړه يا په هغه باره کې پ پ سوټکی موټکی وتاړه يا د قانون د مادې په بينا سياسي دلـه سوټکي موټکي تړل.

سوتلی بوتلی يا سوتلی موتلی: لکه پ له هغه تاوانه سوتلی بوتلی خان خلاص کړ يا له هغې خبرې هلته ايسته سوتلی بوتلی کيناسته يا په هغه باره کې پ پ سوتلی بوتلی خلاص کړ.

سوچه : لکه سوچه غوړي يا سوچه پښتو يا سوچه بل شی "څيز"

سوخړی پوخړی: لکه کوچنی "کراځی" اور واخيست سوخړی پوخړی وسو يا سوخړی پوخړی شو.

سوخښتی : يونکړی به دا خبره وځيرو چې وايي- دوړ چې پـه غوصـه شي نـو سوخښتې په کونه منډي ياپه هغه بيلبره کې پ سوخښتی وهي يا کني پ چا رکړی سوخښتی پ کې تړوی.

سوخور : وايي د پ په خبرو پورې پ سوخور وکړ ګواکې خندی يې پورې وکړ يا په هرچا پورې سوخور مه کوه يا د ما خبر سوخور ورته ښکاره شوه

یا د پ په مال دولت پوري پ سوخورکوي یا پ سوخور جنی خبرې کوي. وینې تمه سنګ شوندي بوڅول پسخېد.

سوخول : لکه د شپي دېر زیات خلك روان وو سوخول یې وه یا د پ،او پ سره لته پیرو غوګ مې ورته ونیوه سوخول یې سره خوت یا مې د هغې چارې یا خبرې په باره کې سوخول تر غوګ شوی دی.

سوخلی : د غوښې هغې ورې ورې ټوټې ته سوخولې وایي چې د خوراك لپاره جوړېږي دورته په دود سیخ کباب ګواکي سوخولی.

سوخوند : لکه نن سبا له پ سره پیسې دي دېر لوی سوخوند وهي یا د مېړو چښتن ده سوخوند یې دېر لوی ده یا له پ سره په هغه باره کې وغږېدم خو هغه دېر لوی سوخوند ووایه یا پ د پ په باره کې دېر لوی سوخوند ووایه یا یې له هغه امله دېر لوی سوخوند ووایه یني لوی لوی له زوره ډکې خبرې یې وکړې.

سودا پسنګ : لکه دا مال د دسوداګر نه خوښېږي ښه نه ښکاري سودا پسنګ نه ده چې سودا پسنګ وی نو به ښه وه.

سود : وایي پلانی ښځه په پ باندې د زوی سود کوي یا چې ته مې ولیدې د مسافر ورور سود مې درباندې وسو یا دا چې وایي- د بورې سود په بوره کېږي یا پ د پ په کور کې هر وخت ناست وي ګېده یې سود کړی ده یا پ په هغه بیلبره کې ګېده سود کړی ده یني ډوډۍ "مړۍ" خوري هغه یې سود کړې ده یا د پ نفس دېر لوی ده په لږ دنیا و دولت یې سود نه کېږي.

سور : لکه پ په هغه چاره سور شوی ده یا په هغو خبرو سور شوی ده یا دا چې د سپیمی سپی په سپي. سره شوی دی له دې پرته هغه نرمګ یا نر وزګوری چې د میندولی "ولن" لپاره پرې ښودل شوی وی داسې پېښېګي چې نارینه پرده یې زخمي شي هغه هم سور یادېږي لکه مګ سور سوی ده یا وزګوری له هغه امله سور شوی دی. یا په خپلو سیاسي او نورو چارو سور کیدل.

سور اور په خوله منډل: لکه پ د شپې او د ورځې په پیسو ګټلو پسې منډې وهي سور اور په خوله منډي یا په هغه باره کې تلوار کوي منډې وهي سور اور په خوله منډي.

سور بریتي: وایي پ ټول خلك ډار کړی دی دېر سور بریتي ده یا له خانه د سور بریتي جوړ کړی دومره سور بریتي نه راته ښکاري یا په ټول قوم کې پ سور بریتی ده. یا واکمن غواړي چې هر څه په سور بریتي سره وکړي.

سور پلوی : لکه د پلانی ښخې په خنګر "فساد" کې ډېر خلك مړه شول ډېره سور پلوی ښځه ده یا دا ښېرا چې وایي خدای(ج) د سور پلوی کړه. یا سور پلوي خلك په پېغ او خنګر سره ککړ کړل.

سور څلی : لکه پ یې په سر وویسته سری وینې پرې راماتې شوې سور څلی یې ودراوو یا اوس به د څوك وولې سورڅلی به د ودروي.

سور زوړکی: وایي پ خان سور زوړکی کړی دی چې له هر چا سره یې د بدی کړه وړه بینا کړي وي یا له خانه سور زوړکی جوړ کړه یا پ سور زوړکي شوي ده یا په هغه باره کې یې له خانه سور زوړکی جوړ کړی ده یا پ سور زوړکی وو خو په حقه په ناحقه سور زوړکی نه وو. سور زوړکی ویني څوك ګوتي نه شي وروړي یا د قانون او سیاسي په اړه سور زوړکي.

سور سترګی : وایي په ټول قوم کې یو پ سور سترګی سړی ده هر چا ته یې خان وربېژندلی ده یا سور سترګی سور سترګی مه کېږه دومره سور سترګی نه یې یا په هغه باره کې یې له خانه سور سترګی جوړ کړی ده.یا سیاسي او قانوني سور سترګي.

سور لاسی : پ چې لاس کته کړي واروکړي بیا یو کس سور کړي ویولي ډېر سور لاسی ده.

سور لمنی : یو نکری به دا ښېرا وکسو چې وایي خدای د سورلمنی کړه ویني بې وخته اولاد د پیدا شه یا د پ خورو لور سورلمنی شوه ارمونی ماتونګي یې پیدا شو.

سور لن : لکه دا سیمه یا دا خای سور لن ده یا دا چې پ د هغې خبرې په باره کې سور لن ته کړ یا د درباریانو لپاره د واکمنو شا او خوا یو ښه سورلن وي.

سور و سپین : وایي پ تازه وو سور و سپین وو یا د پلاني سور او سپین مخ وو.

سور هډی : هغه چا ته سور هډی وایي چې حرامې غوښې هګۍ او داسې نور څیزونه یې خوړلي وي وایي پ سور هډ خوړلی سور هډی ده.

سوری : لکه په قومونو کې سوری پیدا شوی ښې عیبونه پکې پیدا شوه یا په قومونو کې سوری جوړی شوی سره بې اینتیاخ شوه یا د پ له لاسه یاله هغه امله په قومونو کې سوری جوړی شوي یا دا چې په هغه باره کې پ خپله سوری لته وي چې پې ووزی یا هر سړی سوری پیدا کړه یا د دونیا دولت سوری یې میندی کړی.یا قانوني او سیاسي سوری.

سوری : وایي د پ ګنده سوری ده د هغه سوري ته زړه مه ښه کوه یا دا چې وایي د زوم سوری د څوځ سوری پ د پ له سوري لاندې شپې ورځې تېروي سوري سیوري ده ولې موږ د خلکو په ژبه وویل.

سوریي : وایي پ په سری ماښام بیا کېده تولـه کړی ده ډېر سوریي ده یا سوریي سوریي مه کېږه لړ اواري کوه تر یوار مه کوه ګوا تلواریز ده سوریي ده یا د سیاسي میدان سور ي پیروند کړندي چې یو له بل وراندي تیریږي.

سوری پیسه: وایي پ بې پیسو شوی یوه سوری پیسه هم په کور یا جب کې نه لري یا چا سوری پیسه ورنه کړه.

سروی ښنه : د مال د لنډی هغو دو هډوکو ته سوری ښنې وایي چې د ګردیو د هډوکو سرونه پکې بندوي په د ارتباط وایي پ سوری ښنه پ تـه ورکړه ځینې ګته یا ښه ځیزې هغه نه ورکه یا پ سوری ښنه له ورانه لاندې کړې ګواکې یو ښه او پایده من شی یې د خان لـه یـا پـاره ساتلی ده یا سوری ښنه له ورانه مه لاندې کوه یا په هغه خبره باره کې یې دا خیال ده چې سوری ښنه له ورانه لندې کړې یا سوری ښنه غواړي یا سوري ښنې د واکمنو او درباریانو وي.

سوری سپنه: وایي له پ سره سوری وسپنه نه شته ګواکې وسله نلري یا د سوری وسپنې په ارمان ده.

سوری یې په تیګو ویستل: وایي د پ او پ ډېر بد سره ایسیږي یو د بل سوري په تیګو ولي یا تر پرونه پورې یې د پ سوري په تیګو ویسته اوس سره خپل "سکني" شوي یا د هغې خبرې یا چارې په باره کې پ د پ سوري په تیګو ولي. وینې سیوري.

سوړ : لکه دا اوښ سوړ ده توند تګ نه کوي یا د پ کار ډېر سوړ ده یوی چارې ته هم زر نه پورته کېږي یا پ د پ سوړ دولت منلی ده یا پ د دې خبرې سوړ زیمه وارده یا پ له پ یا هغې حبرې یا چارې څخه سوړ وغږېده یا پ ادتن سوړ سوړ غږېږي.

سوړی : لکه پ په ډېرو سوړو لاس منډلی ده له هر چا سره یا هر خای ناسته ولاړه لري یا پ هر چا سره دبدو کړه وړه کړی دی په ډېرو سوړو یې لاس منډلی ده په یوه سوړه کې خو به یې څه وچچي یا په هغه قوم کې سوړی پیدا شوی یا په قوم کې سوری د پ له لاسه پیدا شوی یا پ په بیلبره کې سوړه لټوي چې ننه وزي یا سوړه لټوي چې وتښتي یا سیاسي او قانوني سوړي یا پ دروغ وایي سوړي ولي.

سوړي بوړي: لکه پ څه سړي یا څه ښځه ده سوړي بوړي انسان ده یا سوړي بوړي خوی یې ده څوك یې په هېڅ نه پوهېږي یا کـه لـږ ورچنی ولاړ شو نو ویلی شو چې د واکمنو او سیاسي ډلو سوړي بوړي جاري.

سوزني یا سزني: هغه پړې ته وایي چې د کوچنې لاس او پښې پرې تـړل کېږي وایي په پ باندې مور کلکه سوزنی تاو کړې ده خکـه داسې ټینـګ یـا ښـه ده.

سوغ بوغ : وایي پ په هغه خبره سوغ بوغ مرورور ده یا پ ډېر څورب شـوی ده سوغ بوغ شوی ده یا په هغه چاره سوغ بوغ ده.

سوغړېدل : لکه کوچنی "کراچی" په خوب کې سوغړېده یا دا چې پ په کـار سوغړېږي کولی یې نه شي یـا پ دا چاره نـه ترسره کوي هسې پرې سوغړېږي یا تر څو به په د کار سوغړېږي

سوغړي بوغړي: لکه پ اغـه و دغـه کوي پـه دې پـه دې خان پـېښ ویـي سـوغړي بوغړي کوي یا د هغې چارې یا خبرې په باره کې سوغړي بوغړي کوي. یـا واکمن او سیاسي ډلې کـار نـه کـوي سـوغړي بوغـړي یـا سوغړېګي.

سوك په سترګه غړول: وایي په د پ له لاسه ژاړي هرچاته سوك پـه سترګه غړوي یا نن به له قومه ولاړ شي سبا به سوك په سترګه غړوي بېرتـه بـه راشـي. یا د واکنو او سیاسي ډلو له لاسه سوك په سترګه غړول.

سوك جګ : پ هغه کار وکړ خو په سوك جګ. یا د واکمنو په سوك جګ خبرې.

سوکو څپراخه: پ او پ جنګ سره وکړ سوك و څپراخه یې سره واچول یـا پ خلکو سوکو څپراخه که

سوکی نوکی : پ خلکو وواهه سوکی نوکی یې کړ یا پ مو ولې سوکی نوکی کړ یا په هغه خبره یا چاره یې سوکی نوکی کړ.

سوګټ : لکه پ په خپله ډوډۍ "مړی" هم خان نه مړوي ډېر سوګټ سړی ده یا چا ته خواړه اوبه نه ورکوي سوګټ ده یا چې ټنګه ویني زوی او ورور نه ویني سوګټ سړی ده. سوګټ د بخیل او کنجوس خاې نیسي.

سونډه په غاښ ب- پ ته سونډه په غاښ کړه یا د هغې خبرې یا چارې پـه بـاره کـې ورته سونډه په غاښ ده. یا واکن سیاسي ډلو ته سونډه په غاښ.

سونډی څمل : وایي پ- پ ته سونډی څتي ورتـه تمـه دار ده یـا ډېرې سـونډی دور ته وختلې یا دا چې پ سړی پلانی ښځې ته سونډی څتي یا هغه شي "څیز" ته سونډی څتي یا هغوی لویدیز پلکي ته سونډي څتي.

سونډې ځړېدل: پ په هغه خبره خفه شو سونډې يې ږې وځړېدې يا ولې په دې چاره خفه شوی سونډې د پرې وځړېدلې. يا د لويديزوالو شونډې ځوړندې شوې.

سونډې مرۍ مرۍ کېدل: وايي دا څو ورځې کېږي چې پ ناجوړه ده سونډې بې مرۍ مرۍ کېږي ياوګي ده له لوګی يې سونډې مرۍ مرۍ کېږي.

سونډې وتل: وايي پ شته لرې د ډېرو خلکو سونډې ورته ووتې يا د خلکو سونډې به ورته ووزي يا ښه مهربونه يا ښې ښځې لرې د خلکو سونډې ورته ووتې يا وزي يا پ په د چاره خفه ده له خفګان نه يې سونډې وتلې دي يا ناروغه ده سونډې يې وتلې دي.

سوندو پورې سپېره لاس مښل: لکه کوچنی "کراڅی" څه خوړلي دي اوس په خوله پورې سپېره لاس مښي چې څوك راباندې پوهه نه شي يا پ تولـه دنيا وخوړه اوس يې په خوله پورې سپېره لاس مښلي دي يا د پ هستي يې وخوړه په خوله پورې يې سپېره لاس ومښه يايي پ په خوله پورې سپېره لاس ورمښي.

سونګ مونګ: وايي پ په هغه چاره يا خبره سونګ مونګ مرور ده يا پ سونګ مونګ شه. يا د سونګ مونګ ناروغي يا واکمن سونګ مونګ.

سونګټ : لکه کوچنی وزرل اوس سونګټ وهي يا سبا به په سترګه سوك غړوي سونګت به هم وهي يا پ د پ له لاسه هر چا ته سونګټ وهي يا پ په هغه باره کې پ ته سونګټ وهي.

سوڼ : هسې خو دا خبره داسې کېږي چې پ منغوزې يا نسوار سوڼوي خو دا خبره داسې هم کېږي چې پ تولـه ډوډۍ سوڼ کړه يا هرڅه يې سوڼ کړه يا د قوم شته يې سوڼ کړه.

سوه کی : لکه په دې چاره کې پ سوه کی وهلی انګار يې تازه کړي يا پ په پ پسې سوه کی رڼا کړي چې غلا يې وکړه يا دا کار ما کړی يا نه کړی تا سوه کی راپسې رڼا کړی وو يا په هغه باره کې په پ پسې سوه کی مه رڼا کوه يا پ د قوم په مينځ کې سوه کی وشړل ګواکي داسې کړه وړه يې وکړل چې قوم يې ږې اتفاقه کړ.ياسياسي او قانوني سوه کې.

سوه ليدل : لکه پ ډوډۍ ته سوه ليګی يا پ غوښې يا نورو خوړو ته سولګي يا پ سرې پلانۍ ښځې ته يا ښځه سړي ته ډېره سولېګي يا پ هغې خبرې يا چارې ته سولېګي چې هرشي ته سوليګي داسې انسان تـه سولند وايي لکه پ ډېر سولند سړی يا سوه لنده ښځه ده. د خوارو هيوادونو سولند واکمن چې هغوي ته سوه ليګي.

سړی تره پی: دا ټکی په دوه ډوله "حیله" یادېږي لکه پ ډېر "خبنته" بدمرغه سوی تره پی انسان ده یا قدم یې سپیره ده سوی تره پی ده یا دا چې پ کله یوې خوا و کله بلې خوا ته منډې وهي سوی تره پی ده. یا د ټاکنو په وخت کې واکمن سوې تره یې منډې وهي ویني نن دلته سبا هلته.

سوی غالی: د پ کور کور نده هسې یو سوی غالی ده ګواکې تنګ ده سوی غالی ته د سوي بغری هم وایي لکه دا چې ځینې خلك یې نوروته وایي سویه چې دا لنډی لرګي د ماوې او دا بغري د تاوي یوه ورخ خو به ستا په لنډه ولګېږي یا والوزی ګواکي کـه دا چارې د تاوي او دا توان زما وي یوه ورخ به داسي وشي چې وار به دربانډې وشـي. یا د لویدیز پلکي سوي غالي هغه هیوادوو؟

سویګه: وایي پ سویګه لټوي یا سویګه یې پیدا کړی ده یا سویکي ته خان سیخوي یا پ او پ د هغې خبرې یا چارې لپاره سویګه غواړې چې سوی ګه یا غلی ځای پیدا کړی. یا هغه د سوي ګي منښته وه.

سویه غلی ول: وایي پ له پ سره څه سویه غلی کړی ده ګواکي له خلکو پټ یې څه مقصد سره ساتلی ده یا په هغه بیلبره کې پ- پ ته سویه غلیکړی وه یا له پ سره د څه سویه غلی ده

سوی مرغی: دا ټکی هم د بدمرغه بد شاګوم خان نیسي وایي پ ډېر سوی مرغی انسان ده یا سوی مرغی ده په مخه یې نه چلېږي یا د پ ټول کارونه سوي مرغه دي یا په هغه باره کې سوي مرغه شو.

سیال: لکه تا لـه خان نـه د پ سیال جوړ کـه یـا پ د پ سیال ده سیالي ورسره کوي یا دا چې سیال مې یې مګر مخی مـې نـه یې یا پ هېڅ سیال نده.

سیالي کښ: وایي پ ډېر سیالي کښ انسان یا سیالي کښ حیوان دی.

سیب: لکه د پ کېږدی زړه ده د ژمي سیب نه لري یا پ له برانـه هسې سر په سیب کو یا دا ښېرا چې وایي تا د سر سیب ده ټول قوم به سیب تـه کړي. یا هغه غواړي چې د خان لپاره سیاسي سیب جوړ کړي یا پ د قوم د سر سیب ده خداي را بانډي ودروي.

سیسره: لکه په هغه کور کې ټولې ښځې دي سیسرې دي یا په هغـه کلي کې سم "سبت" سړی نـه شـتـه ټول سیسـره خلك دي. یـا سي سره سیاسي ډله اوپلکي.

سیغون: لکه په خپل ژوند کې په پ بانډې ډېرې سترې ستونځې لوګې او تندې تېرې شوې ډېر سیغون یې تېر کړ یا سیغون یې تېر شو یا د پ له لاسه سیغون یې تېر شو یا په هغه باره کې یا لـه هغـه املـه سیغون

پې تېر شو. یا هغه غوارې چې له مالي او سیاسي سیغون سره ئې مخ کړي.

**سیك**: لکه د پ په زړه کې زور نه شته ډېر بې سیکه ده یا د پ د زړه سیك ختلی ده یا پ ډېر ستړ ی شو بې سیکه شو یا دا ښهرا چې وایي د زړه سیك د وخیخه. یا له مالي او سیاسي پلوه حکومت بې سیکه کول

**سیکن**: له اوښ ته مې اوړه ډېر ورکړي پې سیکن کړي مې ده یا پ ډېر خراړه خړلي دي سینکن ده یا پ دهغه ل یدو سیکن کړي دي له بریده اوښتي مړ ده سیکن یا سیکن مړه خوا اقتصاد.

**سیلوی**: ګواکي ساه لکه پ مړ شو سیلوی یې وخته یا له د چارې سره به یې سیلوی وخیخي یا حکومت او سیاسي ډلي یې سیلوي کول.

**سیلۍ**: هغو بادونو ته سیلۍ وایي چې وخاورې ورسره ملګرې وي که یو څوك دروغژن وي وایي پ سختې سیلۍ کوئ یا دا خبره هسې سیلۍ وه یا پ په سیلۍ سپور شو. یا د ستونځو سیلۍ.

**سیمه**: وایي بوتی هم سیمه لري یا پ سړی سیمه لري چې سیمې ته یې ورشي هر څه به د ساتلي او خوندي وي یا پ د پ په سیمه شو یا د پ په سیمه یم. یا سیاسي سیمه ور وړل.

**سینه دربول**: وایي پ- پ ته سینه ودربوله ویل یې چې څه د په وس کې وي هغه راسره وکوه یا پ هغې خبرې یا چارې ته سینه دربوي.

**سینې ته سور ورکول**: وایي پ سینې ته سور ورکړی خبرې زغمي.

**سي - يې**: لکه هلته کوچني راروان وو سي يې سي يې کېدل. یا پ په سي يې وړه کی ده خو ډېر ښه سړی یا ښه ښځه ده سي يې ته يې مه ګوره وښیه قد ته یې مګوره.

**سیالګی**: بده به نه وي چې د سین په بنډ پسې سیالګۍ ور پیلوزي کړم د لاس د لکړې یا کونډې په کوز سر پورې وړې جوړې کړي وسپني ته سیالګۍ وایي دا نوم د خوست یا کرړي په خلکو پورې اړه پیدا کوي لاس لکړه یا سیالګي ده وینې سیاله پې کوم سیاله یا دمه بیا ډیره پراخه خبره ده.

# ش

شاتشه : یا شاخالي یا شاوخوا تشه وایي د پ شا تشه ده بېرته قوم نده پسې ولاړ چې د چا شاوخوا تشه یا خالي وي هغه هېڅ نشي کولی یا دا دوعا چې شا د مشه خالي.

شاتوری : دا خبره داسې کېږي لکه په اوښ یا خره کته نه شته شا توری ده بیا داسې هم کېږي وایي د پ له پ سره جنګ شو سم لاسي یې قمیص یا واسکټ ورته وښکه ورته شاتوری شو.

شاخوګی : لکه پ ډېر کاله پ په شا وګرزاوو ګواکي مرستې او کومکونه یې ورسره وکړه اوس یې شاخوګی که وي غورځاوو یا پ تر هغه پورې سرې ته وریښا وي مګر یې شاخوګی کړي.

شاسره اړول: پخوانیو خلکو به چې په تورو جنګونه سره کول نو د خان د ساتلو لپاره به خپلو ملګریو شا سره واړوله اوس دا خبره داسې یادېږي وایي یو له بله شا سره واړوي یا دا ښه ده چې یو له بله مو شا سره اړولې ده یا پ او پ شا سره واړوله ینې یو له بله سره مرسته کوي.

شاله : دا ټکی په داسې وخت کې کېږي چې یوه خبره یا یوه چاره چا ته ښه پوره جوته نه وي لکه موږ سم نه یو پرې خبر خو دا چاره شاله پ کړی وه خو لاتر اوسه یې شاله نده کړې.

شان په سرکېدل: لکه موږ له پ یوه ټوکه کې غوښته د ده شان په سر شوله بېګا پورې یې ټوقې کولې یا د پ او پ سره جنګ شو موږ پ ونیو له نیولو سره د ده لاشان په سره شو نه درېده یا د کوچني شان په سرشو. یا د واکمنو او سیاسي ډلو شان په سر کېدل.

شاندازی : لکه پ څوك ولې نه هسې شاندازی کوي تېره پورته پورته کوي یا د ټوپك خوله شاندازي نه پېژني. یا واکمن چاري نه کوي د خلکو د تیر ایستلو لپاره یو شاندازي کوي، یا هغه یو سیاسي سترګتوري او شاندازي وو نور هیڅ نه وو.

شپینه شپېنه: لکـه پ یې پـه تـوپکـو وویشـتـه شـپېنه شـپېنه یـې ودراوو یـې شـپېنه شـپېنه بـه دي کـړي یـا دا ښېرا چـې وایـي- خـدای(ج) د شپېنه شپېنه کړه. یا سیاسـي ډلـي شـپینه شـپینه وینـي شـلیدلي سوري سـپينه.

شپیلول : لکـه د خـوار تانته وشـپیلوه یـا یـې وشـپیلوله بیـا دا خـبره داسـې هـم کـېږي لکـه پ د پ کـور وشـپیلاوو د کـار کـالي هـر څه یـې تـرې یـوړل یـا پ قـوم وشـپېلاوو هرڅه یـې تـرې وخـوړه.

شـت یـا شـوت: لکـه پ او پ د هغـې چـارې پـه بـاره کـې شـوت سـره وهـي یـا د شوت وهلـو تـه سره تیـار دي یـو ورتـه وایـي تـه بـه دا کـار کـوې بـل ورتـه وایـي تـه بـه یـې کـوې. یـا لـه هغـې قـانوني مـادي څخـه یـو سیاسـي شـوت جـوړ شـوي دي.

شت په شت : لکـه پ جـوار یـا غنـم تویـه کـړه شـت پـه شـت یـې کـړه یـا د پ قـوم شـت پـه شـت ده. یـا شـت پـه شـت اداره.

شخ : پ نیغـه شـخه شـمله پـرې ایښې ده یـا پ پـه هـره خـبر کـې شـخ ولاړ وي یـا پ ډېر شخ نالـه ده هغـه څوک نـه شـي ایـل کولـی.

شـخلی تـوپـك لـه خانـه جـوړول: وایـي پ شـخلی تـوپـك لـه خانـه جـوړ کـړی ده کلـه یـو خاي ولـي کلـه بـل خای ولـي ګواکـي خـبرې یـا کـره وړه نـې پـه واك نـدي یـا شـخلی تـوپـك لـه خانـه مـه جـوړوه. یـا شـخلي سیاسـت.

شډل : لکـه رسـی شـډله غبتـه شـوې ده مئینـه نـده یـا هغـه شـی ځیـز مئیـن نـده شـډل ده یـا د پ شـډل بـدن ده یـا پ شـډل شـډل وغـړېده.

شرتیدلی : وایـي پ قـران کـړی شـرتیدلی یـا د خلکـو ازار یـې وړی شـرتېدلی ده یـا پ پخـوا ښه سـړی وو ښه ښه کارونـه ښې ښې خبرې یې کولې اوس شرتیدلی بـدو کـارونو او بـدو خـبرو تـه یـې زور ورکـړی ده یـا ولـې وشـرتېدې یـا دا ښېرا چـې وایـي خدای(ج) د وشـرتوه. یـا د واکمنـو شـرتیدلي چـارې.

شرم ورا ړول: لکـه پ سـړی پلانـی ښځې تـه شـرم ورواړاوو.

شریر : پ سـړی یـا ښځه ډېر شـریر دي شـر کـوي.

شړپ : لکـه د اوبـو شـړپ یـا پ خـوړو اوبـو تـه شـړپ ورکـه وښیـه ډېر یـې وخوړه یـا بـه شړپ ورکي وبه یې خوري یا کـه یـوازي شـړه یـاده کـړه نـو د تیرا خلك هغې پشـي تـه شـړه وائي چې پـه مینـده راشـي.

شړېيدل : لكه اوبه يا يي په لوښي كي وشړېيدي يا له ي ځخه قوم وشړېيده يا يې قوم وشړپاوو يا كلي وشړېيده يا قوم له هغه امله په هغه خبره وشړېيده يا واكمن هغه سياسي ډله شړېول غواړي.

شرت : خلك چې گېځ په روژي پسې شرت شي تر بيگا پوري منډي پسې وهي يا په وركه پسې ټول كلي وال شرت دي يا قوم سره شرت شو يو يو شو. شرت د تيت او شيندلي په مانا هم د ارت په مانا راتلاي شي.

شړك : لكه په بزار كي عسكرو خلك وشړكول يا پ چې خوړو ته سيخ شي د خوړو شړك باسي يا يې خوړو اوبو ته شړك وركه ډېر يې وخواره.

شړونى : پ شړونى كړي ټول قوم شړونى كړي ده يا په هغه باره كې پ قوم شړونى كړى دى.

شړېدل : لكه پ ياغي كووي نيولي وو غوښي يې ټولي وشړېدې يا زخم وشړېده يا پ په هغه خبره داسي وشړېده لكه په لوټه چې اوبه تويه كړي يا په هغه چاره كړو وړو وشړېده يا د قوم گډي وشړېدي يا گډي مه شړوئ. يا د واكمنو گېډي وشړېده.

شغ : پ تر ځو نه سمېږي چې د مردكي يا د تيگي شغ يې له غوگه تېر شي په ځپله به سم شي

شغندى : لكه پ شغندى تيگې ولي يا پ او پ په بزار كې په مخه سره ورغله شغندي سره تېر شول يا پ له بدو چارو شغندى تېرېږي يا پ په پ باندې شغندى ورځي يا پ له هغې خبرې سره شغندى ولاړ يا پ- پ ته شغندى ورغى.

شكارل : لكه پ سپي سره وشكارل يا پ او پ يې لكه سپي سره وشكارل يا پ يې پ ته وروشكاره يا ټول كلي وال سره شكاري يو له بل سره يې جنگوي يا پ هغې چارې ته ورشكاري يا يې هغې خبر ي ته شكاري.

شكيدلى ځپلى "كيړى" : وايي پ شكيدلى ځپلى "كيړى" ده هرځاى له سړي پاتې وي يا په هغه ببلبره كې پاتې شوې و يا شكيدى وه، شكيدلى ځپلي "كيړى" يا شكيدلى ځپلى "كيړى" له ځانه مه جوړوه. يا هغه سياسي ډله شليدلي چوټه اوكيړي ده.

شكيل : كله چې د اوبښ يا اوښي "بوده" لمړى دواړه پښې په ځپل مينځ كې سره وتړي لپاره د دې چې ځركولى شي ولې لري

تکه نه شي کولی هغه ته شکيل او پچاړي وايي. په خبرو کې پچاړي ډيره پراختيا لري.

شګارې : لکه پښی شګارې لګوي يا پ او پ شګارې سره ولګولې يا هره ورځ سره په شګارو وي يا د هغې خبرې د حل لپاره پ ډېرې شګارې ولګولې يا يې په پ شګارې ولګولې پ ته يې څه ترې وشکول. د نوکانو کارول شګارې يا د پلکې تر منځ شکاره د زلل او زيان په مانه يادېدلي شي.

شګړه : هغې ښځې ته شګړه واي چې بې دوعا او بې سبوته له يو چا سره ولاړه شي وايي پلانی شګړه شوه يا دا پېغور چې شګړې يا د شګړې زويه يا د شګړې وروره.

شګه له غاښ لاندې کول: لکه پ- پ ته د پيسو لپاره ورغلی وو هغه شګه له غاښه ورته لاندې کړې وه چې پيسې نه لرم يا يې غله ترې غوښته هغه شګه له غاښه ورته لاندې کړې وه يا هر چا ته شګه له غاښ لاندې کوي څه نه ورکوي.

شَل : کله چې د يو چا مړی وشي يا خپلوان دوستان د مړي د دوعا کولو لپاره د مړي کور ته ورځي ځيني خلک له خان سره يو پسه مېږ وزه وزيي يا مړی ورولي هغه پسه ته شل وايي.

شل : لکه دونيا په نولس ولاړه ده چې هر څو خواري وکړې نه شل کېږي هېڅا شل نه کړه يا پ له پ سره شل کړه ګواکې ورسره خړه يې کړه يا پ او پ به يې هم ډېره زر سره شل کړي ګواکې سره بې خونده به يې کړي يا تا هم راشل کړه دربانده راشل يې مه کړي.

شل شل : وايي د پ قوم دوښمنو سره شل شل کړي دي.

شل شل کېدل: لکه پ چې کله کور ته ننوت شل شل کېده يا پ د چارې ته شل شل کېږي يا په هغه باره کې شل شل کېږي.

شلم : لکه زی له اوبو پوره ډک نده شلم ده يا ډول شلم هل کېږي يا دا چې د پ کار ډېر شلم ده شلم يې کوي. ګواکې زر يې نه کوي يادا د سپکاوی خبره چې په هغه باره کې پ- پ ته شلم شو. يا د واکمنو او سياسي ډلو شلمي په مدار چاري.

شمله : لکه پ شمله لکه لکه کوي يا په هغه خبره يا چاره د پ شمله لکه شوه يا په ټول قوم کې پ شمله خان بولي. يا د هغه سياسي شمله

ACKU

شمنځي - یا ښمنځي ینې لنډه لکه پ په کونډ کیناست په ښمنځي "لنډه" کیناست یا له هغه امله پ په شمنځي کیناوو یا یې په هغه باره کې په شمنځي کیناوو یا د شمنځي خړه شوه یا په ښمنځي کیناست. یا هغه سیاسي ډله په ښمنځي او لنډه کینول غواړي.

ںډه - هسې خو هغې زمکې ته شنډه ویله کېږي چې ونکرل شي خو هغې ښځې ته هم شنډه ویله کېږي چې اولاد یې نه کېږي لکه پلانۍ ښځه شنډه ګرزي یا د پ ښځه شنډه شوه.

ګړي - دا نوم د غړه هغې برخې ته وایي چې تیګه نه وي ولې خو انسان پکې ښوېږي پکې لوېږي بیا دا تکی داسې هم یادېږي لکه په هغه خبره یا چاره بیلبره، کې پ شنګړي ته سیخ شوی ده یا په هغه باره موضوع کې پ- پ شنګړې ته سم کړ.

شنګي - لکه پ پیسي وګټلي په پیسو ئي شنګي وکړي یا ښه خواړه یې وخواړه شنګي ئي وکړي یا خلك ئي وګي کړه شنګي ئي وکړي یا تیره تمامه ئي ورسره وکړه شنګي ئي وکمړي یا واکمنو او سیاستوالو د خلکو په شتو شنګي وکړي وینې ډېر څه کړي شنګي شوي.

شواړ - لکه انسان یا حیوان یوه پښه له بلې ډېره لرې "وریا" ایښې شواړ ولاړ ده یا وری "بار" شواړ ده یا چا ته د سپکاوی په خاطر داسې ویل کېږي وایي ای شواړه یا د پ کار شواړ دی یا په هغه باره کې پ- پ ته شواړ شو. شواړ منې ارت بیرته شرت.

شوپو - لکه پ په هغه خبره یا چاره هیران شوپو شو یا په هغه باره کې خلك شوپو دی چې څه وکړو.

شوته - لکه سابو چې په یوی ورځې واوري شوته کېږي یا پ په هغه خبره یا چاره ډېر شوته شو یا پ له هغې بیلبرې راهیسې شوته ده. یا سیاسي ډله شوته کیازه جنجړ وبوله خازه ښکاري.

شود یاري - وایي پ شودیارې کوي ګواکي بد کارونه کوي یا پ شودیارې کوي ګواکي بد کوي ورور یې مالي پسې څکوي یا مالي پې تېروي ګواکي بدروغوي یا سیاسي او نظامي شودیاري.

شوربشره - وابي پ ډېر شور بشره ده. شور بشره سیاسي ډله.

شوروشغب - لکه د خلکو له مینځه شورو شغب وو

شوره : وايي په پ غلا شوره شوه ټول خلك پرې خبر شول چې غلا يې ده کړې ده يا هغه خبره شوره شوه. يا په خپله ئې هر څه شوره کړل.

شورېدل : وايي پ وشورېده چې دا کار ما کړی يا په هغه بيلېره کې وشورېده چې داسې وهسې شول. شوريدل د اطراف خاي نيسي.

شوكي پوكي : لکه دا شی "څيز" سپيو شوكي پوكي كړی ده يا هغه شی خلکو شوکی پوکی کړ د پ کور غلو شوکی پوکی کړی وو. يا شوکي پوکي سياست وال.

شولي پروړی: لکه قوم مې خپل ده د هغه بدی او نيکی مې خپله ده په د کې د چا هېڅ کار نه شته شولي پروړی مې خپلې دي يا هرڅه د هغه خپل دي شولي پروړی يې خپلې دي.

شوم : لکه پ په هغه خبره ډېر شوم شو يا شو وو. يا شوم تيا او نه خوړو لاس پوري کول.

شوم خور : وايي پ شوم خور ده ګواکي بدی خوري

شومي : د مړي د لمړی ورځې خيرات ته كله كله شومې نوم هم يادېږي لکه دا ښېرا چې وايي د زوی يا ورور په شومې موړ شې يا د پ په شومې موړ شې.

شيرله : لکه په هغه باره کې پ خلکو تير ايسته يوه شير له يې ورته جوړه کړه يا پ ته يې يوه شير له جوړه کړه له هغه ځايه يې وشاړه يا پ قوم ته يوه شيرله جوړه کړه يا سياسي اداري د عدليې په مرسته يوه شيرله جوړوي يا هغه يوه قانوني ماده نده يوه شيرله ده.

شيشكي ښكاره كول: د هغې چارې په باره کې پ خلکو ډېر وډار که شيشکی يې ورته ښکاره کړی يا پ په دې خبرونه ډارېږې شيشکی مه ورته ښکاره کوی يا پ- پ ته په هغه باره کې شيشکی ښکاره کوي. يا سياسي ډلو ته شيشکي ښکاره کول.

شين غړی : پ د پاخه عمر ده شين غړی ده. يا نيم ځاله.

شين مچ پری بنول: وايي كه نن وي كه سبا وي د پ په خوله به شين مچ وبنوي ګواکي مړ به يې کړي.

# ښ

ښاد مړی : دا ټکی ډېر متي يادېږي لکه پ ښاد مړی هم راغی يا وه: ښادمړیه ته له کومه وي. يا هغه ښاد مړی کار مې هم نده کړی.

ښالنګ : وايي پ يې په لنډه وواهه ښالنګ يې که يا په هغه باره کې پ هغه خبره يا هغه کار وکړ پ يې ښالنګ کړ يا پ په هغه بيلبره کې له هغه امله ښالنګ شو يا په خپلو کارونو کې ښالنګ شو.

ښخونکی : وايي پ ښخونکی سړی دی يا ښخونکي کارونه ئې دي يا پ په هغه باره کې ښخونکی ښخونکی وغړېده يا پ- پ ته ښخونکی ښخونکی غړېده يا ورته ښخونکی ښخونکی کيده يا دا ويل چې وايي وه! ښخونکيه. يا ښخوتو کي رول او سياسي چلند يا ښخونکي دريځ.

ښکر سره ارم کول: لکه پ او پ په دې خبره ښکر سره ارم کړي دي.

ښکر سره تمبه کول: پ او پ ښکر سره تمبه کړي يا له هرې خبرېسره ده ښکر تمبه کړي وي

ښکرکول : لکه د پ سړي "مېړونه" ډېر شوي دي ښکرېې کړي دي يا دولت يې ډېر شوی ښکر يې کړي دي يا دا چې وايي پ له بزرګۍ ښکر کړي دي دلته بايد ووايو چې بزرګ نوم تقوی دارو او زاهدانو خلکو ته يادېږي. يا د سياسي ډګر ښکرور

ښکر اچول : وايي پ- پ ته ښکر ورواچاوو ګواکي بد کړه يا بده خبر يې ورته وکړه يا پ نور ښه انسا . خو کله وارې ښکر اچوي. يا سياسي او قانوني ښکر اچونه

ښکر ورغوړول: وايي پ- پ ته ښکر ورغوړوي ګو ځي باتوي يې يا پ ته يې دا ډېر وخت ښکر ورغوړ کړه اخر يې خلکو ته په جنګ ورواچاوو يا د هغې خبرې يا چارې په باره کې پ ته ښکر مه ورغوړوه.

ښنګړ : د ښېښې د تلي بوخار "تخیدو" ته ښنګړ وايي چې ځینو ښځو ښنګړ په ښه یا په بد شاګوم ګڼلی "بللی" وي وايي ښېښه مې په ښنګړ شوه چې څه به کېږي یا ښېښه مې په ښنګړ شوه اوس داسې وشوه.

ښنل : لکه په دغه چاره کې ې ډېرې پیسې وښنلې ګواکې پیسې یې وشیندلې یا پیسې وښنه.

ښوخي : له ښېښې څخه وروسته به ووایو چې ښوخي د ښځې او د ښځینه حیواناتو هغه ځای ته وايي چې هغوی له نارینه وو څخه بېلوي لکه د ښځې، مېږې، غوا او اوښې ښوخي.

ښورند : وايي ې ښورند سړی دی یا دا متل چې وايي له تړلي زمري نه ښورند ګیدړ ښه دی.

ښوره ماغه زمکه: هغې تروشې زمکې ته ښوره ماغه وايي چې سپینه یا خړه د ځګک په څېر کولیدلي وي. کولیدل ویني ځګیدل او خولیدل

ښویدل : لکه په دې چاره کې د ې ښېښه وښویده یا ې ته د ې ښېښه وښویده یا په هغه باره کې ې وښویده یا دا ښېرا چې وايي خدای(ج) د ښویوه. یا سیاسي او قانوني ښویدل.

ښویدلی : وايي ې یو ښویدلی سړی یا ښویدلی ښځه ده یا ې قران وهلی ښویدلی ده یا ازاري ده ښویدلی ده. یاوه! ښویدلیه.

ښوینډی : وايي ې- ې ته سپینه خبر نه کوله هسې ښوینډی یې ورسره کولی یا ې له هرچا سره ښوینډی کوي یا په هغه باره کې یې ډېرې ښوینډی وکړې یا ې ښوینډی جوړه کړی وه ې یې ولواوو.یا ملګرو ملتونو د افغانستان په اړه یوازې ښوینډې کوي.

ښویه کاسه : وايي د ې په خوله مه تېروزه هغه ښویه کاسه ده یا له [illegible] ښویه کاسه مه جوړوه. یا ځیني سیاس وال او ډلګې ښویې کاسې دي.

ښه سترګه : وايي ې د ې ښه سترګه ده یا دا ښیرا چې وايي ته مې ښه سترګه وي دا سترګه مې وباسې یا دوي د باندنیو دوښمنانو ښې سترګې وي ځکه خو یې ورکړه کوله.

ښه میړی : دلته یوه ښېرا هم شته چې وايي خدای(ج) د ښه میړی ډېر کړه ګواکې په قوم کې د دا د عوا کونکی ډېر شه چې هر یو ځان ښه مېړه بولي یا دا چې هغه قوم ځکه بې اینتیپاخه ده چې ښه مېړې پکې ډېر دي یا په هغه باره کې ښه میړي ټول شوي وو.

ښېرازه : وايي د ې له لاسه به ښېرازه نه شي یا دا بوټی ډېر ښېرازه ده.

ښبګړه : ې ډېره ښبګړه راسره وکړه یا د ې به کومه ښبګړه به په زړه کړي یا له ې سره ښه مکوه هغه د ښګړې انسان نده.

ښی وکیږ وايي پ له هغې چارې ښی وکیږ کیده د هغې چارې کولو ته يې زړه نه وو يا پ له دې خبرې ځان ښی وکیږ کوي.يا د سيمې سياست وال له ټاکنو څخه وروسته له خلکو څخه ښي و کيږ کيږي منې ځانْ تړي الوتيا او پنا کوي ځان نه ورکوي.

# ط

**طبه** : وایي د پ دې خبرې ته طبه ده یا پ داسې خبره وکړي چې د سړي ورته طبه شي یا د پ د چارې ته سړه لري طبه ده یا پ د کار ته سړه لري طبې اخیستې یا د هغې چارې یا خبرې بیلبرې سره پ په طبه نیولی دی یا له هغه شي سره پ طبه نیولی دی. یا ډیر خلك د سیاست او واکمني طبي نیولي دي یا دا چې وایي په طبه به د ونیسم مرګ ته به راضي شي.

# غ

غارغوني : وايي پ غارغوني انسان ده وينني هرڅه پټوي په غار يې مندی يا غارغوني ده د هرچا کره وزي ننه وزي

غارمندوني: وايي پ غارمندوني دی هرڅه پټوي په غار يې مندي يا يې هرڅه ومندل غارمدوني. يا غار غوني او غار مندوني درباريان.

غاري : پ غاري دی هروخت ننه وتلی وي يا غاري شو.

غاړبوجن : وايي پ يې په ستوني کښې ونيوه غاړبوجن يې کړ. يا غاړه بوجن اقتصاد.

غاړ وښی: لکه د پ غاړه يا مري وتخيده غاړو ښي يي وکړ يا هغه خبره هغه ته سمه سبته ښکاره نه شوه سوخرجن غاړ وښي يي وکره يا هغه حکومت داسي غاړوښي يا خر خشي ښکاره کړي ده.

غاړه سره وړل: وايي په دې چاره کې پ لـه پ سره غـاړه وړي يـا کمزوري لـه زورور سره غاړه نشي وړی. يا سياسي غاړه وړنه.

غاړي : لکه پ په ويش کې غاړي وکړي خپله برخـه يـې ډېره کړه يا پ هروخت غاړي کوي. يا په سياست او ټاکنو کي غاړي.

غاړي جن : پ غاړي جن ده غاړي کوي. يا غاړي جـن لويديـز پلکـي چـې لـه افغانانو سره يې غاړي وکړي.

غاړي بندول: لکه پ په د شي يا د چاره کې غاړي بندي کړي د خان لور ته يې ترخخ ووهله يا غاړي د بندې چې دا چاره به نه کوي ګوا دا ټکی د لوري په څای هم يادېږي.

غاړي پري خلاصول: لکه په پ باندې يې دوخته غاړي خلاصې کړې وې چې دا کار نه کوم څو واري يې غاړي پرې خلاصې کړې بيا يې لـه هغه وروسته

کار ورپرېښود یا د هغې خبرې یا چارې په باره کې یې غاړې پرې خلاصې کړې. یا سیاسي ډلو غاړه خلاصه کړې وه.

غاړې ته وراچول: وایي مرۍ پ وکړ خو د بل غاړې ته یې وروچاوو یا یې تاوان د بل غاړې ته وروچاوو یا یې د ګډوډۍ پړه یې د واکمنو غاړې ته ور واچوله.

غاړې سره ختل: لکه پ مړ شو د دواړو بنو غاړې سره وختې یا د پ او پ د دونیا او دولت شراکت سره وشکېده غاړې یې سره وختې.

غاړي غچې : پ له پ سره پوښتنه کوله سره غاړه غچې شوه یا غاړه غچې مالي او سیاسي چارې یا ښځه او نارینه مار د نیږدې والي په وخت سره غاړه غچې. غښتلي تاوراتاو ول ول سره اوښتي وي سره غاړه غچې وي.

غابښ څرخیدل: لکه د پ په کور کې د پ غابښ څرخېږي وښیه خواړه اوبه ورته رسېږي یا یې په هغه چاره یا خبره "بیلبره" کې غابښ نه څرخېږي وښیه ګټه نه ورته رسېږي یا به یې غابښ څرخ شي یا که لړ اپلو ولاړ شو نو ویلی شو چې د پ او پ غابښ سره څرخ شوه وښیه سره جنګ یې شو یا به یې په هغه بیلبره کې غابښ سره څرخ شي یا د پ غابښ په پ نه څرخېږي یا په هغه بازه کې د غابښ څرخیدل.

غابښ چچل : لکه غابښ وچچه دا لګ خوګ دی زر به دربانديې تېر شي یا غابښ وچچه ګواتینګ شه لوګه به دربانديې تېره شي یا تینګ شه غابښ وچچه غم او بده ورځ به دربانديې تېره شي.

غابښ چچوني: دا خبره په ډېرو ځایونو کې یادېږي لکه پ پ ته په غوصه وو غابښ چچونی یې ورته کاوو یا په د چاره غابښ چچونی ورته وکړه یا پ سړي یا ښځه ډېره غابښ چچونی ده یا دا کور ډېر غابښ چچونی کور دی یا هغه شی "څیز" ورغابښ چچونی کړه..

غاوره : پ سړی یا ښځه ډېره غاوره ده زړه ور ده.

غاو غړو : لکه د شپې یې کلي ته مرۍ راوړ په ټولو کلیوالو غاوغړو تېره شو یا په کلي کې بده ورځ وه په ټولو کلیوالو غاوغړو وو یا له هغه امله په خلکو کې غاوغړو ده. یا فوځي او سیاسي غاو غړو

غام چي : د مېړو او وزو "غیلو" هغه ډول مزدوري ته غام چي وایي چې په یو چا یې ګډې کړې د میاشتې یا کال و چه ککړه نغده مزدوري ورکوي د شپانه له خوراکه پوښاکه هرڅه شکه "څخه" خلاص وي وایي مېږې یا غیلی مې په پ غام چې ګډې کړې یا غام چي خو به یې نه

راباندې پیاېږي. یا سیاسي او نظامي چارې غام چې ورته سپارل یني هر څه د یوه لورې په غاړه.

غبېج : لکه کوچنی "کړاڅي" وژړل یو ناڅاپه یې غبېج وهل بدبد وغبېږده.

غبرګ لون : لکه د لیمځې غبرګلون د ټغر او داسې نورو غبرګ لون.

غبن : لکه پ په دونیا او دولت کې له پ سره غبن وکړ یا په هغه چاره کې یې غبن ورسره وکړ یا دا چې وایې په حساب کې غبن نه وي غبن په سړي "انسان" کې وي.

غبندی : یا مرغیړی خو د انسان او حیوان په بیلو بیلو ځایونو کې وي خو د مېږو وزو "غیلو" او نور مال په روستیو ورنو کې دوه غبندي وي چې د هغوی خوراك منعه یادېږي په د ارتباط وایي پ د پسه مردار غبندی دی. یا هغه بیلبره د خلکو تر منځه مردار غبندي شوه.

غتې خبرې : وایي پ غتې غتې خبرې کوي. یا سیاسي غتې خبرې

غتې سپکې چچلې: وایي پ وړه کې سړی مه بولی. هغه نن سبا غتې سپکې چچلې دي یا پ داسې ورې سپکې نه دي چچلې چې داسې کار کوي غتې سپکې چچلې. یا سیاستوال غتې سپکې چیچلي.

غج : لکه په هغه کار کې پ له پ څخه خپل غج واخیسته غج بیا دلته بله مانا هم ورکوي لکه په هغه کور او کلي کې هر وخت غج وي متي جنګ دا وه وهل ټکول وي یا هغه بیلبره بې غچه خلاصه نه شوه.

غدې : لکه د دوښمن په لورې غدې تللې پ د غدې مشر دی یا دا چې وایي: چې تل خې په غدې یوه ورځ به وي د بدې.

غردیسي : هسې خو دا خبره د مال په باره کې کېږي وایي غوایي مکان یا وزګورې غردیستې سره وهي خو په د پورې وایي پ او پ غردیسي سره وهي چې کوم یو به زورور شي یا میندان خو غردیسي سره وهي خسیان به سره مړه کړي هغه یې په مینځ کې څه کوي. یا د لویدیز او ختیز د نظریاتو او ګټو ترمنځ غردیسه خامخا وه.

غرغریي : پ یو غرغریي سړی یا ښځه ده په هېڅيا نده بندوواز یا غرغریي سړی "انسان" ورك مه کې یا هغه غر غریي سیاست او سیاسي چلند

غرغره : د اوښ یا اوښې لور "جګ" غګ ته غرغره وایي نو کـه چېرته د انسان له خولې له غمه ودرده ډك اواز ووزي هغه ته هم غرغره وایي.

غروغیسي : لکه پ له کوره وتلی غروغیسي تللی ده یا کوم لور ته غروغیسي شو یا دا ښیراچې وابي خدای(ج) د غروغیسي کړه یا له کومه راغروغیسي شوې.

غره : لکه پ دغې خبرې یا کیسې ته ډیر غره ده چې پلار یې د ګلې ملك ده یا پ په هغه خبره ډیر غره شو یا په هغه چاره غره شو یا خپل مال دولت او میړو ته غره ده یا هیڅ نه شي کولای هسې ځان ته غره یي.

غریو : وایي پ ژړا ته نیژدې شوی وو له غریوو راډك ډك کېده.

غړاسکی : دکیګدی بر لور ته کوچیان برستنې لیمخې او نور شیان په یوه ځای اوګده سره تولوي چې غړاسکی او کور ځای هم ورته وایي وایي پ دا شی ګتلی بولي داسې یې بولي لکه په غړاسکي اینبی یا هلته یې خپل وبوله چې په غړاسکي یې درته کېږدي یا په غړاسکي اینبی مې باله. غړاسکي له غړیدلو راغړیدلو نه اخیستل شوي تکي ده غړاسکي پیا ډیر خایه کار ولي شو لکه د هیوادونو ترمنځ خبرې رواني دي خو د خبرو د منځ تکي یا غړاسکي به هغه بیلبره وي خکه خبرې به پي غړیګي را غړیګي.

غړانګی : که یو څوك په لوړ غګ وژاړي یا په جګ غګ سندرې ووایي وایي پ غړانګی وکړي یا غړانګی ترې ووتي.

غړل : په اصل کې د پړې جوړولو او تاوولو ته غړل وایي بیا غړل داسې یادوي وایي له ما سره دومره خبر مه غړه یا د خبره ډېره راسره وغړله یا په هغه باره کې پ او پ هغه خبره ډېره سره وغړله.

غړوسکه : لکه کوډی اور واخیست غړوسکه لمبه پورته ترې ووته یا غړوسکه دوګ ترې ووت یا غړوسکه غړوسکه خلك راغله.

غړونی : د مالګې هغه واړه کندك ته غړونی وایي چې د اوړو د په مالګه کولو لپاره یې اوړه لمدونکي په اوبو کې وهي یا غړوي غړونې بیا داسې هم یادوي لکه په هغ موضوع "بیلبره" کې نور غړوني مه وهه یا په هغه بیلبره کې پ غړونې ویلي دي.

غړند : وایي د پ طبه اوس غړنده شوه یا پ په د چاره کې غړند ده یا پ په هغه خبر غړند شو یا پ هغه خبره غړنده پرې ښوده ګواکي سسه یې پرې ښوده. یا هغه سیاسي چارې غړندې پریښودې.

غړیج : یونکړې په دا ښېرا او خیرو چې وایي خدای(ج) دې د هستي غړیج نه درباندې کاږي یا دا چې پ تول ژوند د هستي غړیج ونه کیښ یا به پ د پ له لاسه : مړې خیتې غړیج ونه کاږي یا به پ له هغه امله د مړي خیتې غړیج ونه کاږي.

غړېدلي : لکه په ساري رنځ اخته کلي یا کور ته چې یو څوك تګ او راتګ وکړي هغه کس غړېدلی یادېږي وایي پ غړېدلی ده د وچکی په رنځ

اختـه کلي ته ورغلي وو بل داسې چا تـه هم ويـل کـېږي چې پـه زللی خایونو کې ناست ولاړ کوي وايـي پ ډېر غرېدلی انسـان دی لـه بدو خلکو سره ناسته ولاړه لري.

غرېندی : لکه پ د پ د بدو کړو وړو له امله هرچا تـه غرېندی کـوي يـا د هغـه کار يا خبرې په باره کې وايي چې نه يې شم کولی څرنګه بـه يـې کـوم څوك به يې راسره وکړي ډېرې غرېندی يې وکړې يا په هغـه بـاره کـې هره ورځ غرېندی کوي يا سياسي غرېندی.

غړی : کوچيان يو ډول ارمست اوره لمدوي بيا له هغه څخه يـو خيـل "خيـل" پسته ډوډی پخوي چې هغه ته غړي وايي زيات وختونه غړي د مړيـو په ارواح خيرات کېږي لکه دا ښېرا چې د مـاښام غړي د ورك شـه يـا دا خبرې چې اولاد ته کېږي وايي د ماښام غړي د شـم يـا دا خبره چې کېږي وايي غړي د بـلا مخې تـه رغړي يـا دا چې کـه دا چاره خدای وکړه وه خولې غړي بـه وباسم يـا دا چې پ مړ کړي پ يې د مـاښام غړي کړي.

غړي تښت : وايي پ ډېر غړي تښت سړي يـا ښځه ده هرې چارې تـه يـې غـړي تښتې يا د خلکو غړي تښتوي غړي تښت دی.

غړي تښتول : وايي پ د چارې تـه هسې غړي وتښتـاوو يـا د چارې تـه غړي مـه تښتوه ولې غړي تښتوې يا سياسي چارو ته غړي تښتول.

غړي وتل : لکه دوښمن پ سې نيژدې شو د پ نړي وواته نشوای تلايي پل يې لـه پله نشوايي پورته کولی با د پ د چارې تـه غړي وتلي دي يـا پـه دې خبرې يـا چاره يې غړي وواتـه. غړي وتـل د زبون وهلي پـه څير يـو خانګړي کيفيت وي.

غړي خيګه : لکه د شپې مې تور څه وليـده غړي مې ترې خيګه شوه ترې ووار شوم يا پ د پخوا وختو د پيريـانو دېوانـو قيصې کوي د سړي غړي ترې خيګه شي يا پ ګنده ګنده وغـګېده غړي مې ورتـه خيګه شـوه ګواکې ورته په غوصه شوم يا سره طبه راباندې راتله غړي مې خيـګه خيګه کېده يا په د خبره مې غړي خيګه شول.

غړي غرپ : وايي پ څه سړی دی هغه غړي غرپ دی يا پ د پ غړي غرپ دی.

غس ميدل : وايي پ- پ ته په غوصه دی هر وخت ورتـه غـس مېږي يـا پ چې دا خبره وکړه پ له خانه سره وغسميده څه يې وويل.

غګ کول : وايي پ- پ ته د کبر غګ وکه يا درته غګ ميـده چې څه د لـه وسـه کېږي هغه وکړه يا پ- پ مر که غګ يې پ وکړ.

غگندویه : وایي پ هر ځای غګیدي شي ډیر غګیدویه سړي ده یا د پ غګندویه پ ده هر ځای غګوي یا په هغه قوم کي پ غګندویه ده یاسیاسي او د هیواد په کچه غګندویه.

غګ نه سره تلل: وایي د پ اوپ د سندري غګ نه سره ځي ګواکي چاري او ادت یې سمون نه سره خوري یا په هغه بیلبره کې د دواړو غږ نه سره ځي یا په سیاسي میدان کي د دواړو غږ نه سره ځي.

غلا وراخیستل: لکه دښمن ته یې د شا له لوري غلاور اخیستي وه یا غلا ورواخله. یا د قانون له پردې لاندې پټوني او غلا ور اخیستل.

غلبیل : لکه خلك یا پ یې په ټوپکو غلبېل غلبېل کړه یا د پ زړه د پ له لاسه غلبېل غلبېل دی یا له ډېره غمه غلبېل غلبېل دی یا دا ښېرا چې وایي خدای(ج) د غلبېل غلبېل کړه یا غلبېل غلبېل راولېږدل شي یا وایي چې ما ته روزي یا څه راکوي په غلبېل کې یې راواچوه چې له ما پورې راونه رسېږي یا پ دا خبرې غلبېلوي یا پ په هغه بېلبره پسې غلبېل راخیستی ده یا یې هغه خبره موضوع غلبېل کړه. یا هغه سیاسي یا قضایه غلبیل چاڼ یا پرویزي ده.

غلچکی : لکه پ غلچکي کارونه کوي یا غلچکی غلچکی مه ګرزه را ډګر ته شه یا خبره غلچکي مه کوه راجوته "ښکاره" یې کړه.

غلګنډی : لکه په دې سیمه کې یو نیم غلګنډی پیدا کېږي یا پ د کم دلګ شي غلګنډی دی یا پ په هغه باره کې غلګنډی غلګنډی ګرزي.

غلنی : لکه پ مې غلنی ځای ولیده یا په هغه باره کې مې غلنی کیناوو یا پ غلنی غلنی ګرزي. یا په سیاست او نورو چارو کې غلني او پټوني.

غلوغدویي : وایي په هغه لار کې غلوغدویي پیدا کېږي خلك له غلو غدویه وېرېږي. یا سیاسي غګنډي او غلو وغدویي

غلیمتك : ځیني داسي میګډي وي چې د خپلي اوبلي رمي توپیر نه کوي په کومه رمه چې ور برابره شي په هغه کي ځي هغي ته غلیمتکه وایي که له یوې رمې بلې رمې ته میګ ور شي هغه ته هم د غلیمتکي نوم یادیږي بیا دا نوم ځیني خلکو ته هم یادوي لکه پ غلیمتك انسان ده یا غلیمتك ګرزي یا هلته لکه غلیمتك راغي بیا وروسته ورك شو یا په هغه باره کي غلیمتك ګزي وینی بیل ګرزیي یا پټو پنا یو ځاي بل ځای ګرزي یا ملګرو ملتونو د افغانستان په شکل کلن جنګ کي غلیمتك رول ادا کړ یا هغه سیاسي ډله په ټاکنو کي برخه نه اخلي غلیمتك سیاست کوي یا هغه سیاست وال په یو او بل

هیواد کې اوسیږي په خپل هیواد کې غلیمتك سیاست کوي یا د غلیمتك رول خاوند او غلیمتك چلند.

غم خور : وايي پ د پ غمخور دی یا د خلکو غمخور له خانه جوړ کړه.

غم کوري : دا دوعا چې وایي خدای(ج) د له غم کوري وساتهٔ یا دا چې وايي پ ته غم کوري ورجوړه شوه د خپلې غم کورۍ له امله داسې شو.

غمونه ګالل: وايي پ د پ ډېر غمونه ګاللي دي یا ته به د چا غم ګالي یا خپل د خپل غم ګالي.

غمول : وایي پ په د چاره خلك غموي یا دا ښېرا چې وایي خدای(ج) د وغموه.

غنجالی : هسې خو غنجالی یو متی یاده شوي ده خو غنجالی بیا داسې هم یادېږي لکه د پ کور غنجالی ده هره کړي جنګ وي ورکړه یا له کوره غنجالي مه جوړوه یا سیاست غنجالي ده چې سیاست وال یې غنجوي.

غنج ما غنج: لکه د پ په کور کې هر وخت غنج ما غنجوي وښیه جنګوي دعواوې یا په کلي قوم کې غنج ماغنج وي یا د پ او پ تل سره غنج ماغنج وي. یا سیاسي او قانوني غنج ما غنج

غنګالي : وايي په هروخت غنګالي کوي ګواکي داسې خبرې کوي چې هم دی په خپله خورېږي هم بل خوروي یا پ د پ له لاسه هرچا ته غنګالي کوي یا پ ته ډروند غم ورپېښ دی هر وخت غنګالي کوي. یا سیاسي او قانوني د خور غم او ګیلو خبرې غنګالي.

غنګبدا : کله چې اوښ یا اوښه "بوده" شومه یا اوبه غواړي یو خیل "خبل" ټیټ اواز کوي هغه ټیټ اواز ته غنګبدا یا غنګبدل وایي غنګبدا د خلکو لپاره داسې یادوي وایي دا ډېرې ورځې کېږي پ هروخت غنګبېږي وايي چې زه ناروغه یم یا د پ د بدو کړو وړو له امله پ هر وخت غنګبېږي چې داسې یې راسره وکړه. دا ټکي د هیله ګر په مانا هم یادیدي شي.

غنې پرې لکه: لکه له هغې خبرې یا چارې څخه پ ودار شو غنې پرې "پې" لکه شوه یا له پ سره داسې وشو هغه پرې "پې" په غوصه شو یا خفه شو غنې پې لکه شوه یا پ دا څو ورځې ایسې را ایسې ګرزي نه پوهېږم چې څه غنې پرې لکه ده. یا په سیاست والو غنې لکه شوه. غوټه لکه پ غوټه وکړه څه ګټه یې وکړه یا غوټه یې وکړه خواره یې وخواره یا دا چې سپي په انسان غوټه وکړه یا پ په دوښمن غوټه وکړه یا پ په پ د خبرو غوټه وکړه.

غوټه غوړ یاسه: پ ټول کارونه سره سم کړل غوټه غوړیاسه یې کړل یا سبا ته کډې کوو هرڅه سره غوټه غوړیاسه کړئ یا د پ غوټه غوړیاسه کار دی یا هغه خبره یا چاره غوټه غوړیاسه کړه.

غوټه کول : ټول قوم دا خبر سره غوټه کړه یا څو ورځې سره ناست وئ کومه خبر مو سره غوټه کړه یوه خبره سره غوټه کړئ.

غوجل غود : وایي پ ډېر غوجل غود سړی دی کله له یو خپلوان سره بدو ته ملا وتړي کله له بل سره ګواکې غوجل غود هغه څوك یادېږي چې له خپلوانو او ګاونډیانو سره بد کوي هغه که هر ډول "خپل" بد وي هغه سړی غوجل غود یادېږي.

غوچوړی : لکه هغه زمکه غوچوړي غوچوړي ده.

غوراب : وایي پ غورابونه غاړي ته اچولي دي وینې مشکلات یې غاړې ته اچولي دي یا غوراب غاړې ته مه اچوه یا د ګنده ملګري ملګرتیا غوراب ده ګنده ګوانډي غوراب ده او داسې نور شوه.

غوه – رازه : وایي پ ډېر غوه رازه غوه رازه غګیده یا پ ډېر غوه رازه سړي ده هر خاي غورازه غورازه کیږي وینې په خوله او بدن کې وچته چوست غښتلي زر زري غورازه.

غوربېړ : وایي هلته ډېر خلك وو د خلکو غور بېړو وو یا پ خلکو واهه د خلکو پرې غوربېړ وو یا پ تراوسه پورې د مېړو یا تربرو غور بېړ نده لیدلی. یا سیاسي مالي او قانوني غوربېړ.

غورخنګ : دا ټکي په ډېرو ځایونو کې د حملي یا غوټې ځاي نیسي لکه پ په هغه شي غورخنګ وکه.

غ ږهي بلل : لکه په اتڼ کې چې پ ودرېږي غورځي تللی کوي یا په پ چې غورځي تللي وکړي په خپله به ودار شي یا د پ په کور کې هر وخت غورځي تللي وي.

غورز : لکه د شپې په لارې خلك تېرېده غګېدا یې وه ډېر خلك وو غورز یې خوت یا په پ پسې لاخره غورز نشته ګواکې مېړونه نه لري. یا سیاسي او د ټاکنو غورز.

غور لاټه : کوم لوښی چې ډېر غوړ او خیرن شي لکه غور لاټه لوښي که یو څوك ډېر ناولی خیرن وګڼي هغه ته هم غورلاټه لوښی وایي.

غورمبېدل یا "غرمبېدل" : وایي پ- پ ته په غوصه ده ورته غور مبېږي یا چا ته په غوصه ده له خان سره غورمیبېږي. یا سیاسي او فوځي غورمبېدنه.

غورن : وایي پ غورن سړی دی ډېرې غورې کوي.

غورنداز : د کوچنیانو "کړاڅیو" هغه د لوبو لرګي ته غورنداز وایي چې د سنې. یا تار په مینځ کې یې غوټه کړي د تار یا سنې یو سر د لاس په یوه ګوته کې بند کړي بل سر یې په بل لاس بله ګوته کې بند کړي بیا د دوارو لاسوتر مینځ غورنداز تاووي غورنداز بیا داسې هم یادېږي لکه پ سړی یا ښځه غورنداز غورنداز کېږي یا غورنداز غورنداز غرېږي. یا هغه د کار کولو نه .... یو سیاسي غورنداز ده غوري دربي ډیري کوي.

غورولی : پ غورولی سړي یاغورولی ښځه ده ګواکي د توري ننګ او نور صیفتونه پکې دي یا پ په مخه راغی غورولی راباندې تېر شو.

غورياچي : پ غورياچي سړی دی ښې غورې کوي یا هسې غورياچي دی هېڅ نشي کولی. یا د سیاسي مالي او فوځي میدان غورياچیان اوغورن.

غورې : پ له بله ځایه راغلی ډېرې غورې یې راوړې دي یا پ غورې کولې چې داسې مې وکړه هاسې مې وکړه یا دا چې د دې چارې غوره پ راته کړي ده ویل دا به زه درته وکړم یا پ- پ ته په هغه باره کې غورې ورلېږلي دي چې دا به درسره وکړم ها به در سره وکړم.

غوړنجي : لکه غره اور اخیستی وو ټول غر سره غوړنجه وو یا اورغوړنجي وهلی. یا د جنګ اور او غوړنجي.

غوړیچ : وایي پ غوړیچ زلمی ده ګواکي د سورت "بدن" جوړښت یې توان من ده.

غوړیشي : لکه یو ځه اور اخیستی وو او رغوړیشي ویلي یا پریښنا و غوړیشي وي یا د مردکیو "غیټیو" غوړیشې وي.

غوړي : وایي پ- پ ته غوړي کولې ګواکي داسې خبرې یې ورته کولی چې له زوره ډکې وي یا پ- پ ته غوړي رالېږلي دي یا په دومره سړی نده هسې غوړي کوي وایي دا مې کړي- هامې کړي یا دا به وکړم ها به وکړم. یا سیاسي او مالي غوړي ویني غوري او دربي

غوز : دا ټکی د سزا ورکولو لپاره ویل کېږي وایي که دا کار د وکړ.غوز به د وکاګم یا غوز یې وکاګه یا غوز به د وباسم یا غوز به دې وباسي.

غوز یا غیژه: په مزریو کې چې کوم مزری ډېر پوخ او کلك وي هغه ته غوژه وایي، غوژ مزری داسې پېژندل کېږي چې د مزري دوه پاڼې لږ لګ سره ماتې کړې بیا یوه غوټه ورکړي، د پاڼې سرونه یې په لاز کې ور غوټه "ګنده" سره ومښي چې پاڼې و نه سکېږي، هغه مزرکی غوژه وي غوژه بیا داسې هم یادېږي لکه هلك ډېر غوژه ده څوك یې نه شي ځملولی، یاني بدن غو غړي یې غوژه دي، غوژه سیاسي اداره او واکمن هم یادولی شو یا د غوژه سیاسي چلند خاوند هم یادولی شو.

غوښې : لکه د پ اولاد سره خوري غوښې په خوله سره شکوي یا که پ- پ پیدا کړ غوښې به په خوله تري وشکوي یا پ غوښې وکړي خلك یې مړه کړه یا پ غوښې وکړې مال یې حلال کړ یا پ د قوم یا خلکو غوښې وخوړې یا یې غوښې څرڅې کړې.

غوګ باسي: لکه د پ ډېر ګنده ادت ده غوګ باسي کوي ګواکې څوك چې سره غږېږي دی پټ غوګ ورته نیسي یا د دې خبرې غوګ باسي یې کاوو یا غوګ باسي مې وکړ هلته هېڅوك نه وو یا په هغه چاره یا خبره پسې غوګ باسي کوه چې څه کېږي یا ولاړ شه په هغه باره کې غوګ باسي وکړه. یا سیاسي او فوځي غوګ باسي.

غوګ بریدل : وایي د دې خبرې لپاره د پ غوګ بریده چې اوس به څه اورم یا که کېږي یا له د چارې خان خلاص کړه تر څو پورې به د غوګ پرېږې یا غوګ مې بریده چې دا زیري به رابانديې کیږي یا په هغه باره کې د پ غوګ بریګې.

غوګ پرې نیول: وایي پ دومره ووهه چې په ساه "سیلوی" یې غوګ ونیسي چې مړده که ژوندی یا پ په پ باندې غوګ ونیوه.

غوګ تاوي : لکه په هغه خبره یا موضوع هر وخت د پ غوګ تاووي غوګ تاوي ورته کوي یا پ ته دا خبره یا چاره غوګ تاوي شوه یا پ د پ غوګ تاوي کوي. یا هغه یو سیاسي مالي او فوځي غوګ تاوي وو.

غوګ ته خبر اچول یا نه اچول: وایي پ د پ خبره غوګ ته واچوله یا د پ خبرې بابیزه تېره کړه یا خبر یې یو غوګ ته واچوله په بل کې یې کلکه ونیوه وساتله یا پ داسې خبرې غوګ ته نه اچوي که داسې خبرې یې غوګ ته اچولې څه خواري به وه یا د پ خبر غوګ ته اچوي یا واکمنو غوګ ته خبر اچولې یانه اچولې.

غوګ کښول : پ په ډېرو خبرو غوګونه کانه کړي دي یا په هغه خبره یې غوګ کوڼ واچاوو. یا واکمن او سیاسي ډلي غوګونه کښوي

غوګ نه ورته نیول: وایي د پ خبرو ته هیڅا غوګ ونه نیوه یا دا د زور خبره چې خبرې ته د غوګ نه نیسم.

غوګند رویي : لکه پ له پ سره غګېده خو خبره یې بل ته وراوروله هغه ته یې غوګندرویي کولې یا په هغه باره کې پ – پ ته غوګندرویي وکړې

غوګ پزه یې پرې کول: وایي په دې چاره د پ غوګو پزه د پرې کېدو دي چې غوګو پزه یې څوك پرې کړي یا دا چاره مه کوه څوك به د غوګ او پزه دړېرې کړي

غوګو سترګې وایې دوښمنان راپسې غوګو سترګي دي یا په پ پسې ټول خلك
غوګو سترګي دي دوی وایي چې څه به ورسره کیږي یا څه به کوي یا
په هغه باره کې یا هغې چارې ته ټول خلك غوګو سترګي دي یا واکمن
په سیاسي ډلو پسې غوګ او سترګي دي
غوګونه پیځوله کول وایي پ غوګونه پیځوله کړي دي په کلي کې جنګ ده دی
خان نه خبروي یا په هغه خبره یې غوګونه پیځوله کړه خان یې پرې
کوڼ کړ یا په هغه باره کې یې غوګونه پیځو له کړه خان نه خبروي. یا
واکمنو او سیاسي ډلو غوګونه پیځوله کړه
غوګ یې خلاص یا نه خلاص: وایي د پ په هغه خبره ښه غوګ خلاص کړه یا د پ
په داسې ورو خبرو غوګ نه خلاصیږي.
غول تورن : پ په هغه چاره پورې خلکو غول تورن که هرڅا ورته وویل چې بد د
کړي دي یا په هغه خبر پورې خلکو غول تورن که چې ولې د وکړل یا
بد پ وکړل خلکو پ غول تورن که.
غول پونګي: د ځینو خلکو د بدو یادولو لپاره دا ټکی داسې کېږي وایي پ غول
پونګی انسان یني د کارونو له پلوه غول پونګی انسان ده یا د کړو
وړو له پلوه غول پونګی انسان ده. یا غول په غول سودا کارونه یې
دي د غول پونګي.
غولموه : لکه هلته مال متیازې کړې دي هغه سیمه غولموه ده یا هلته ډېران
ده زمکه غولموه ده یا دا چې پ په هغه ځای کې کینني ولاړیږي هغه
ځای غولموه کوي ويني له چا سره چې کښني ولاړیږي هغه خلك خفه
کوي او بد ورسره کوي یا دا متل چې وایي یوه غوا چې په غوجل
کې میتیازې وکړي ټوله غوجل غولموه کړي وبوله په یوه ټولنه کې
چې یو کس بد کار وکړي نورو ته هم تاوان رسي غولموه کوي یې.
غولنګي : پ هره ورځ د خلکو غولنګي اروي ګواکي بد یې بیانوي یا د پ
غولنګي د اړولي یني غیبت د یې کاوو یا د خلکو غولنګي مه اروه.
یا ځړي او جاسوسي اداري د سیاسي نظام غولنګي وارولي.
غومبوڅي : پ په لاړ غومبڅي کډه تېره کړه یا پ مال روان کړې وو غومبوڅي
یې بوته. یا غومبو چې سیاسي ډله یا یوه خوله غومبوڅي قوم
غومبوڅي د ډېر ښه نظم او سمون په مانا راتلای شي.
غونج : کوچیان وچ وابښه په پیځوله کې واچوي د پیځوله درخونه په
سپیرخیو بند کړي هغه ته غونج وایي وایي پ په غونجو وابښه راوړه
ګوا ډېر یې راوړه. یا شل کاله وشول چې افغانان د ویري تراګه او
وژني په غونج کې اچول شوي دي.

غونجلك : لکه پ سرو "یخني" غونجلك کړی وو یا پ په غولي کې غونجلك پروت وو یا هلته څوك سوي وو غرنجلك غونجلك پراته وو یا پ سرې یا ښځه غونجلك ده هېڅ کار نه شي کولی ګواکي بې لاسه بې پښو ده. یا غونجلك اقتصاد او سیاسي اداره.

غونج منج : لکه پ چاره نه کوي غونج منج ناست وي یا په هغه خبرو کې غونج منج ناست ده. یا غونج منج نري وال دریځ.

غونځ ماغونځ : لکه میګې چنجي کړي وو د چنجیو پکې غونځ ما غونځ وو یا په پ کې د سپګو غونځ ماغونځ وو یا هلته د خلکو غونځ ماغونځ وو. یا واکمنو خلك راپورته او وغونځول سیاسي غونځ ماغونځ ده.

غیر : وایي پ په دې خبره غیر کړي یا پ په هغه چاره کې خپل غیر تر سره کوي یا پ له پ سره په هغه باره کې غیر وکړ. یا پ په هغه شي "څیز" غیر کړی دی. یا هغه غواړي چي خپله سیاسي منډه او غیر تر سره کړی کیږي.

غېګ : لکه پ- پ د پ لپاره په غېګ کې نیولي دي یا د هغې خبرې یا موضوع لپاره یې پ په غېګ کې نیولي دي.

غیګ ترې تاوول: وایي پ له ټولې دونیا غیګ تاو کړي چې زما ده یا د پ له ماله یې غیګ تاو کړې یا پ له پ غیګ تاو کړې هېڅ نه یې نه ورکوي.

(غ ...) په لویست کول: وایي په هغه خبره یا چاره کې پ له پ سره "غ..." په لویست کوي یا یې ورسره په لویست که یا له پ سر "غ..." مه په لویست کوه له هغه بل سره یې په لویست کړه.

غېګې ته اچول: وایي پلانی ښځه به یې بیا غېګې ته وانه چوي وشوه اولاد به غېګې ته وانه چوي.

غ...) نه ترې پتېدل: وایي د پ له پ څخه غین نه پتېږي ګواکي حیا یې نه ترې کېږي.

# ق

**قیامت** : وایي پ په خلکو قیامت راوستلی ده یا یې په هغه باره کې قیامت یې جوړ کړی ده یا پ خلکو ته په دې دونیا قیامت وروليده یا د هرشيِ ګراني ده خلکو قیامت راوستلی ده.

**قدم اخیستل** : ډمرې دا خبره چې وایي- چې توره د لنډه شي قدم پرې وړواحله یا په هغه باره کې پ قدم یې وړواخیست

**قدم وهل** : وایيِ پ له پ سره څو کاله قدم وهلی هرڅه یې بنه وړته جوت دي یا له پ سره د قدم نده وهلی د هغه په ادت نه یې پوهه

ACKU

# ک

کاآله: پ کا آله شو چې هغه کار ما کړی ده یا پـه هغـه خبره نـه کاآلـه کېده یا په هغه شي "څېز" کاآله شو

کابو: لکه دا سی کابو دومره ده ګواکي انداژه تـن یا تقریباً دومره ده یا کابو دومره وو ډېر پښتانه داسې هم وایي چې داسې یې په کابو کې که یا په کابو کې یې راوست یا دا شی ونیسه کابو یې کړه. یا هغه سیاسي اداره له کابو وتلي ده.

کارپوره: پ ډېر کارپوره ده یا پ خان کار پوره کار پوره کوي یا پلانی ښځه کار پوره ده. یا کار پوره اداره او نظام.

کار ګوډبدل: وایي لـه دې امله د پ کار ګوډ شو یا پ د پ کار ورګوډ کـه یا د پ به ډېر کارونـه ګوډ شي

کاړ: لکه په د زمکه ډېره تېګه پرته ده یو مخ کاړ ده خو کاړ داسې هم یادېږي وایي هلته کاړ کاړ خلك ناست وو یا دلته د څه له پاره کاړ کاړ ناست یې. یا د ټاکنو په وخت کاړ کاړ خلك.

کاکو: لکه د پ کور ګڼ ده هر وخت یې په کور کې کاکو وي یا هلته مړی شوی وو ورو غتیو ژړل کاکو یې وو.

کاګه: وایي نور ټول قوم سم ده پ په د خبره کې کاګه کوي یا کارونه سم کوه په هر کار کې کاګه مه کوه تر څو پوري به کاګه کوي ډېر کاګه د وکړه یا هغه سیاسي فوځي او اقتصادي کاګه دي چې دوی یې کوي؟

کالي تړي ټولول: پ له د چارې خپل کالي ټول کړي دي یا له بدانو څخه یې خپل کالي ټول کړي دي دا وایي چې څاڅکي راوا نه لوزي یا پ له پ څخه کالي ټول کړه

کانګري : په کوم لوښي کې چې هر وخت اوبه ایشول کېږي هغه کانګري نیسي یا دا چې پ پیک ده سر یې کانګري نیولي دي یا دا چې د پ زړه کانګري نیولي دي.

کاڼي : لکه په پ ښې کاڼي وشوې بواریې کور غلو وواهه اوس یې کور اور واخیست داسې کاڼي د خدای(ج) په بل چا نه کوي یا په پ ښه کانه وشوه اوبو ته ولوېده پرتوګ اوبو تري ویوړ یا پ ډېرې کاڼي وکړې یا د پ له لاسه په پ باندې دا کاڼي وشوې یا څه کاڼي د راوکړې زه خبر نه وم چې داسې کاڼي به کوي یا د هغوی... له لاسه په افغانانو هغه کاڼي وشوې.

کانی : وایي پ اوس د پاخه عمر شوی کانی یې سپینې شوې یا دا چې پ هر وخت ناري راوهي د غوګو کانی یې راشکه وښکې یا ناري مه راوهه د غوګو کانی مه راکاګه.

کاڼي کوري کول: لکه پلانی ښځې چه لور ودوله یا پلانی ښځه ودیـد ډېر یې ژړل کاڼ یې کوري کول یا د پ خبرو کاڼي کوري کول. کاڼي کوري کول د حالتو رټ سختوالي.

کاڼي کودی: وایي پ اوس زوړ شو سورت یې کاڼي کودی شو یا پ د ډېرو غمو له لاسه کاڼي کودی شو یا پ د ډېرو خواریو له لاسه کاڼي کودي دی. یا هغې واکمنې خلك کاڼي کودي کړه.

کبرجن : وایي پ ډېر کبرجن سړی یا کبر جنه ښځه ده.

کبرجنې خبرې: وایي پ- پ ته کبرجنې خبرې وکړې.

کبډی : لکه په هغه خبره یا له هغه امله د پ له پ سره کبډی ته زړه شوی ده یا له پ سره کبډی مه کوه یا هره ورځ د پ او پ سره کبډی وي. یا هغوي غواړي ي له سیاست څخه کبډي جوړه کړي یا دا یوه سیاسي کبډي وه.

کپ کوپ : وایي پ اوس هغه پ نده اوس زوړ شوی کپ و کوپ دی.

کپس : وایي زړه مې داسې تنګ ده ته به وایې چې په کپس کې بند ده یا په کور کې داسې تنګ یم ته به وایې چې په کپس کې ناست یم یا په پ : داسې تنګه راوستلې ده په کپس کې د کشینولی دی.

کپند : لکه پ ډېر کپند سړی یا کپنده ښځه ده خوړو ته کپند کېږي. یا پ سیاسي میدان او ټاکنو ته کپند ده.

**کېيدل** وايي پ خوړو ته ډېرو کېږده يا پ هغې خبرې يا چارې ته کېږي يا هغه شی ته ډېر وکېږده يا پ د پ وهلو ټکولو ته کېږي چې کله به يې وهم يا دا چې ښځو ته کېږي.

**کتابي خبرې**: لکه هغه يوه کتابي خبره وه په کتابي خبرو کې پند او خوند وي کتابي خبرې راته کوه يا پ کتابي خبرې وکړې.

**کته يې په اوبو کې کېښودل**: وايي د خپل کته په اوبو کې مه ګده وبوله خپل خپلوان چا ته مه ټيټوه يا يې بد مه بيانوه يا هغه ورځې پ- پ ته د پ کته په اوبو کې اېښې وه يا په هغه باره کې پ د پ کته په اوبو کې ګدې.

**کټ مټ** : لکه پ کټ مټ پ ته ورته دی يا تا کټې مټې داسې خبرې وکړې لکه پ چې کولې يا تا کټ مټ داسې کار وکړ لکه پ چې کړي وو. يا کټ مټ هغه سياست.

**کتېدل** : لکه هلته خلك ناست وو يو يو وکتېده ټول ولاړ يا ټول خلك روان دي ته هم پسې کتېږه يا زه به درنه وکتېږم.

**کته پيس** : وايي په پ باندې چا د کته پيس وار هم نده کړی يا په کته پيس به د هم څوك ونه وهي يا پ په کته پيس څوك ونه وهل.

**کته مير** : لکه پلانی ښځه ډېره کته ميره ده هېڅوك خپلې مخې ته نه پرېږدي يا په هغه باره کې پ کته مير وغږېده يا د پ خبرې کته ميرې دي.

**کجك** : وايي پ سرو کجك کړي وو يا ساره به د کجك کړي يا پ خوسي کجك سرې يا ښځه ده. يا کجك اقتصاد او اداره.

**کچاري** : وايي پ تراوسه پورې په کچارې کې ده ګواکې زلې ده يا په بله وينا په کچه عمر کې ده کچاري هغه زلمي توب ته وايي چې ژنکي له خانه ناخبره ګڼونديې وي.

**کچه** : لکه دا شی مې په کچه کړی ده يا دا شی او هغه يوه کچه دي يا دا لوښی په کچه کړه.

**کچی** : کچی هغه انسان ته وايي چې د پښو پونديې يې سره نيږدې او څېرې يې سره لرې وي ګواکې کږې شانته وي هغه حيوان ته هم کچی وايي چې ورستی بيدی يې سره نيږدې او يا سره لګېږي.

**کخوکوخ** : لکه خلك ټول والګې نيولې دي توخيګې کخوکوخ يې دی يا ښنی غاړې نيولې کخو کوخ يې دی.

ACKU

**کڅوړه** : لکه د پ په خوله یې کڅوړه ووغړوله مړیې که یا که پ درته ژوندی وو په خوله به د کڅوړه د روغړوي یا دا چې پ جب کڅوړه کړي دي یا پ زور شو مخ یې کڅوړې کړې دي یا سترګو یې کڅوړې کړې دي یا د پ سر په کڅوړه شو وینې مړ شو. یا هغه غواړي چې د واکمنی سر په کڅوړه کړي.

**کراری** : وایي دا چاره په کراری وشوه یا په هغه ځای کې اوس کراره کراری ده یا پ په خلکو کراري راوسته

**کراګند** : لکه په بدن کې مې د ناروغی نښې دي بدن مې کراګند دی یا پ کراګند ولاړ وو وشوه خفه یا توري ته یاجنګ ته تیار یا دارن کراګند ولاړ وو یا پ له هغه امله کراګند ده.

**کرچ مال** : وایي پ کرچ مال دی چې لګ بد څه په خوړو کې ووینې اغیرل کېږي یا په بد موړ لوښي کې خواړه نه خوري کرچ مال دی یا پ کرچ مال سړی دی له هر چا سره خبرې نه کوي

**کرغېړن** : وایي ډېر کرغېړن کارونه مه کوه یا پ کرغېړن ونیسه غوړپیسن خیرن ګرزي ځان او جامې نه شي پیجوولی.

**کرکړې** : وایي پ نن سبا دولتي دی یا میرونه لري داسې کرکړې کوي ګواکي جګ غړېږي یا غوړې کوي کرکړې کوي یا پ له کرکړو ولوېده. یا د سیاسي میدان لوبغاړي د ټاکنو په وخت کې کرکړې وهي.

**کرکه** : وایي پ له مرضه "ناروغی" څخه کرکه کوي یا له بدو څخه کرکه کوي یا له پ څخه مې کرکه کېږي یا دا ښېرا چې وایي خدای د کرکه کښي وکړه.

**کرمړي** : لکه پ څه سړی دی هغه کرمړي هغه کرمړي په چا کې دی هغه نه سړ دی هغه کرمړی.

**کرمن** : وایي پ له خوبه راجګ شوی دی داسې کرمن دی سړی چې له خوبه راجګ شي کرمن وي یا په هغه خبره یا چاره ډېر کرمن دی یا د ناروغی د نښو له امله کرمن دی.

**کرنه** : وایي پ دا څو کاله ښه کرنه کړې ده ګواکي ښه یا بد کړه وړه یې کړې دي یا پ خلك مړه کړل کرنه یې وکړه یا د پ د کرنې له امله داسې کېږي.

**کروتی** : پ هر وخت تنده توره نیولې وي یو وخت یې تنده ونه غوړېده کروتې تنده یې ده ډېر کروتی ده یا پ کروتی ناست وو یا کروتې خبرې کوي

کرول : وایي پ دوښمن نه شي وژلی هسې کرول کوي وښیه دوښمن ځان ته بیداروي یا دا چې وایي- چې غل نه یې نو کرېږي ولې.

کروېږي : لکه له مرداري مې ډېر کروېږي کېږي یا له پ څخه مې کروېږي کېږي یا له بدو څخه کروېږي پکار دي یا له هغې خبرې یا چارې مې کروېږي کېږي.

کره : لکه په هغه خبره یې کره ځان پوهه که یا هغه شی یې کره که کره پوښتنه یې کړې وه یا په پ یې هغه دولت کره که یا د پ خبره کره ده هغه خبره کره ده هغه کره سړی یا کره ښځه ده.

کریابه : وایي په هغه شي د ما کریابې ده د ما کریابې وچلوه یا په هغه شي کار کریابه کېږي یا پ کریابه ناست دي

کریغي : لکه د شپې خزنده په میګو کې شو شپانه کریغې پې پسې ویلې یا پ یوه کریغه وکړه یا خلکو کریغې ویلې.

کریل : لکه پ په پ باندې هغه شی "ځیز" یا خبره ډېره وکریله وینې پې کره یې کړه پې وې کریېله د کره روستی برید کریل شوه.

کړاپنده : هغې سیمې ته کړاپنده وایي چې ډېره تیګه ولري یا کړاپنده داسې هم یادوي وایي د پ ډېرې کړاپندې په مخ کې دي وشوه. ډېر مشکلات یې په مخ کې دي یا په خپل عمر کې یې ډېرې کړاپندې ولیدې یا له هغې کړاپندې تېر شو.

کړاخ : وایي کړاخ سپین ګیري وو منې د پ غټ غټ اندامونه وو کړاخ سپین ګیري یا کړاخه سپین سړې وه.

کړاسو : هغې ځرمنې یا پاخه ته کړاسو وایي چې کلکه او بې ښې شي منې زر زر ماتېږي په د پسیره کړاسو نوم په نورو ځایونو کې هم یادېږي.

کړاو : لکه پ یې ډېر په کړاو که یا پ ډېر کړاونه ولیده یا له هغه امله په کړاو دته

کړپ کړوپ : لکه د لوښیو کړ پ وکړو پ ده یاهلته د خلکو کړپ وکړوپ و، یا په هغه کور کې غم کوري ده هلته تل کړپ وکړوپ وي یا کړپ مه سره کوئ.

کړچوکړوچ : لکه پسرلی په غره کې د زرکو کړچ و کړوچ وي یا د ښځو کړچ و کړوچ ده یا د ښځو سره کړچ و کړوچ وو وشوه خبرې یې سره کولې.

**کړز** : هغه مال یا هغه غوښې ته کړز وایي چې ډېر ډنگر او مړزې وي وایي دا مېږ یا وزه "غیله" کړز ده یا دا غوښه کړز ده دا کړز د خوراك دی؟

**کړغیجن** : وایي سړو کړغیجن کړی لاس له خوانه شي بېرته کولی یا دا چې وایي پ لاځه سړی ده هغه کړغیجن وشوه د هېڅ ښې نده کړغیجن دی. یا کجك او کړغجنه اداره.

**کړم** : وایي د پ سونده کړمه ده او داسې نور.

**کړند** : وایي د خوږ په دې خای کې اوبه کړندې تېرېږي یا پ کړند رابانډې تېر شو یا چېرته کړند تېرېږي یا پ خبرې کولې په هغه خبره کړند تېر شو.

**کړنگ** : وایي کړنگ ژمی ده یا سهار د وخته ملایانو ازانونه کړنگ ویل یا پ سندر کړنگ ویله یا د پ کړنگولی غگ ده.

**کړېدل** : پ د چارې ته ډېر کړېږي یا د خبرې ته ډېر وکړېده یا د پ په غمونو کې ډېر وکړېده. یا د هغه شي را گابو کولو ته کړېدل.

**کړول** : وایي پ یې په د چاره اور ته وکړاوو یا داشی اور ته وکړوه یا تر څو به یې په اور کړوي یا پ توپك کړاو یا پ لوټو نه کړول یا خوله کړوي. یا د تورو او چړو کړول.

**کړولی** : وایي پ په هېڅ نده بند لوي کړولی ده.

**کړهانده** : وایي پ خوږو ته ډېر وگی ده ډېر کړهانده ده یا د خبرې یا چارې ته ډېر کړهانده ده. یا افغانان سولې ته کړهانده دي.

**کړه پړه** : وایي پ ښه ده له هر چا سره یوه کړه پړه کوي وشوه ښې خبرې ورسره کوي یا پ خوارې مزدورې کوي کړه پړه کوي.

**کړه وړه** : قوم دا کړه وړه سره وکړه یا دا کړه وړه د راسره کړي وو.

**کړیت** : لکه پ له پ سره په هغه باره کې داسې کړیت یني کړه وړه کړي دي یایې داسې کړیت ویل ورسره کړي دي یا ټول قوم هغه کړیت سره وکه موږ ویلي شو چې کړیت لوظ نامه، یې سره لاس لیك کړه یا په هغه باره کې داسې کړیتونه وشول.

**کړینده** : د نس د خوگو یا د نورې بې نظمۍ په وخت کې له نسه څخه یو رنگ تینگ شیان خي چې ځیني ډاکټران بلغم ورته وایي لکه د کراچي "کوچني" له نسه کړینده خي کړینده تري بهېږي بل داسې هم ویل کېږي وایي پ کړینده کړینده کېږي وشوه مړاوي کېږي یا ناروغه دی کړینده کړینده کېږي.

کسکر : په اصل کې د وریزو نا پاکه مېده ګي ته کسکر وایي خو دا ټکی داسې هم یادېږي لکه د پ په ډېرو خوارویو مزدوریو کې هډوکي کسکر شو یا هلته خلك مره شول کسکر شول یا موټر یا په بل څه کسکر شول یا ناروغه دي کسکر پراته دي یا پ ډېر خلك مړه کړل کسکر یې کړل.

کسیدي : وایي پ په د خبرې کې خپلې کسیدې پخوي یا دومره ډېر مه راسره غږېږه کسیدي مه راسره پخوه یا هلته یې کسیدي پخې کړې دي.

کشروپ : وایي غانبونه یې تویه دي کشروپ دی خوله یې کشروپه ده.

کشوکړپ : وایي د پ او پ ترمینځه کشو کړپ شوی وو منې جنګ یې سره کړی وو. یا سیاسي کش کړپ.

کښه اخیستل: وایي پ له خلکو غلی و تښتېده کښه یې تري واخیسته یا له پ د کښه واخیسته یا په هغه باره کې یې کښه واخیسته.

کښې پښې: پ دا چاره نه کوي هسې کښې پښې کوي په کښو پښو خلك تېر باسي یا په هغه باره کې کښې پښې کوي. یا سیاسي کښې د پښې.

کښۍ : که څه هم کښۍ د خای والو په کار کېږي خو بیا هم کښۍ په کوچیانو کې ډېر یادېږي ځکه چې دوی ډېر وختونه ورسره مخ کېږي کښۍ کښت ساتونکي ته وایي کښۍ داسې یادېږي وایي پ دې چارې ته کښۍ کړی یا هغې خبرې ته کښۍ ولاړ وم. یا د افریقایي ځنګلونو کښیان یادولي شو

کغوکوغ : وایي په مرداره د کاغانو کغوکوغ وو یا هلته کړاځیو "کوچنیانو" زړل کغوکوغ یې وو.

کغن : وایي پ کغن سړی دی په نه خبره هر چا ته کغېږي یا پ کغن سړی دی که په ورونی نېسي هم کغېږي که په زوره یې نیسي بیا هم کغېږي لکه چرګ.

ککړې : وایي پ د خپلې ککړې پاکې "پیجوي" کړې د نورو خلکو په ککړو کې د نه غږېږي یا پ د خپلو ککړو د پاکولو "پیجاوولو" نه ده خپلې ککړې نه شي پیجاوولی.

ککړې ویل: پلانی ښځه له سړیو سره ککړې ویلې ګواکې خبرې دعوې یې ورسره ویلې یا پ له پ سره ککړې ویلې یا په هغه باره کې یې سره ککړې وې. د خوست خلك د زړك غاړو ته هم ککړې وایي یاسیاسي ککړې.

کګ حسابي  وایي پ له چا سره سم حساب نه کوي ډېر کګ حسابي انسان دی.

کګل : لکه پ د هفتې په ورځ له کوره تګ کګلی ده ګواري بد شاګوم او سپېره یې یې بللی دی. یا پ ټول قوم کګلی دی یا پ دا چاره کګلي دی یا یې هغه شی کګلی دی.

کګلیچونه : وایي پ چې دا چاره کوي یا تر هغه خایه رسېږي ډېر کګلیچونه یې په مخ کې دي. یاسیاسي او مالي کګلیچونه.

کګه خوله : وایي پ خوله راته کګه کړه منې سوال یې راته وکړ یا دا چې وایي خوله په سوال ګیګي یا په مرګ کګیګي یا دا چې وایي کګه خوله په سوك سمېږي وشوه کومه خوله چې ناوړه خبرې کوي هغه په سوك سمېږي.

کګه غنه : وایي پ کګه غنه ده هر خای هغه کوګ وي کګه غنه یا په هغه موضوع کې پ کګه غنه دي یا پ په قوم کې کګه غنه ده. یا په سیاست او اداره کې کګه غنه.

کګه غنې : پ په هره خبره کې کوګ وي کګه غنې دی یا کګه غنې له خانه مه جوړوه یا په هغه باره کې پ کګه غنې دی.

کګه میچن : وایي په پ قوم کګې میچنې تاءِ کړې یا کګې میچنې به درباندې تاو کړم وشوه وبه د خوروم.

کګینه : وایي پ خو ما سم سړی باله خو ډېره کګینه مې کې ولیده یا په دې خبره یا چاره کې پ کګینه وکړه یا په پ کې ما کګینه ونه لیده. یا سیاسي اقتصادي او فوځي کګینې کول.

کګی : پ ډېرې کګې وکړې یا دومره کګې مه کوه.

کلپه : وایي دا زمکه کلپه ده سړی پکې لوېږي یا پ دا خبره ډېره کلپه وکړه یا پ ډېره کلپه رانیولې ده وشوه د یوې چارې پروګرام یې ډېر درونډ رانیولی یا دا چې د پ په مخ کې ډېر ې کلپې دي یا پ کلپ سړی دی منې په هر کار کې خلك غولوي یا په هره چاره یا خبره کې کلپې کوي.

کلي پکو : دا نوم د هغه چا له پاره یادېږي چې بداخلاقه وي کلي کورتې په تنګ وي وایي پ کلي پکو ده ټول کلي یې پکو کړي دي. یا کلي او ولس پکو سیاست او سیاسي چلند.

کلي مبنت : وایي پ له موږ سره په کلي کې کلی مبنت دي.

کمندر : لکه دا شی یا دا هلك له هغه څخه لګ کمندر ده وشوه وړوکی یا کنې ده.

کمر : منې کاڼي تیګه بیا کمري داسې هم یادېږي وایې پ- پ ته ډېر په غوصه وو له کمره ورته لاندې کېده. منې تېرېږي یې ورته اخیستي یا کمري پرې والو ږوه یا کمري پرې واچوه یا کمري په ډډو وركړه یا دا چاره د كمرو په زور پرې وکړه یا په هغه باره کې پ د کمره سرته ختلی څوك یې راکته کولی نه شي یا پ- پ له كمرو ولواو د هغه یې منله یا په هغه باره کې یې له کمرو ولواوو. یا د کمره سرته خیځول.

کمه : وایې پ د پ کمه دوښمن ته وکړه یا د پ کمه د پ په مخ کې مه کوه وشوه د هغه بدي او کمۍ د هغه د وراندې مه وایه یا د پ کمه شوی.

کمۍ : لکه په نښو خلکو ډزونه کول ټولو توپکو کمۍ کاوو یا که پ دا چاره وکړه پ هم کمی ونه کړ یا که ما داسې وکړه تا له ما زیات وکړه تا کله کمۍ وکړ یا دا چې وایې. که مور د مېړه ونه که کمۍ یې هم ونه کړ.

کنج خور : دا خبره د هغه مال او انسان په باره کې کېږي چې حیوان وښیانه سمه نه خوري یا دا چې انسان خواړه سم نه خوري ګواري ادت یې دا وي خواړه نیولی خوري.

کنځړ : وایې دا زاړه توکری یا زاړه پیڅو له خوټول زاړه کنځردي زاړه کنځړ به څه کوو.

کندي کوري: لکه دا سیمه ټوله کندي وکوري ده یا دا چاره چې پ کوي په مخ کې یې ډېر کندي و کوري دي یا په هغه باره کې له کندو کوریو وخوت یا سیاسي او قانوني کندي کوري جوړول.

کنډك پرې ړول: پ چې دا چاره وکړه د پ د خوشحاله کولو لپاره یې وکړه په هغه پورې یې کنډك پرې ړاوو یا کنډك مه پرې ړوه یا په هغه خبرو د پ کنډك پرېړ شو. یا داسې نور

کنډو : لکه دا شی یې کنډو کړ یا دا چې وایې د میړانې ډېر وړه کی کنډوده یا دا چې پ سړی کنډو ته ګوري که کنډو ته یې نه کتی هر څه یې له وسه پوره دي وشوه دوست او دوښمن ته ګوري یا د قوم ته کنډو وژجوړ شو بله دا چې احمدزی له خینو شرایطو لاندې چې په کومه یوه ښخه سره بد شي بیا داسې ښځه په بل قوم ودوي دوی وایې په کنډوبې واړوي یا په کنډوبې واړوله یا دا بله خبره چې په کنډو راځخه واوره چې ندې وینم. یا د هغوي تر منځ نظریاتي کنډو او غاښې.

کنده : په غره کې چې کومه تیګه په واسطه یا بنځ، واسطې ورغړي هغه ته کنده وایي په دې ارتباط دا ښرا کېږي وایي کنده د کمره شي یا پ هم کندي رغړوي وشوه داسې خبرې کوي لکه کندي چې رغړوي یا په هغه باره کې پ هم یوه خبره وکړه کنده یې ورغړوله. په لږ توپیر سره کنده هم ویل کیږي کنده بیا اندازي او کچې ته وایي لکه دغه خواره اوبه د پ خپله کنده ده.

کنګریزي : لکه پ لوړ لوړ غږېده کنګریزي یې خوت یا هلته د ښځو کنګریزي وو ګوالي لوړې توري غږېدې یا یې سندرې ویلې. یا سیاسي زوګ او کنګریزي.

کنګس : وایي پ چاپورې واهه په کنګس شو نیږدې لوېدلی وو.

کڼ وغه : وایي پ ډېر کڼ وغه انسان دی خبره یې زر غوګ ته نه لوېږي یا په هغه باره کې پ خان کڼ وغه کړی دی هېڅ خان نه خبروي یا پ د ډېرو غمو ډېرو خبرو له امله کڼ وغه دی. یا شو یا په هغه باره کې کڼ وغه شو په څه نه پوهېږي.

کنه مرغی : وایي په سر د ګنه مرغی کړنګېدلي دي وشوه د ښه یا بد زیري یې درباندې کړی ده یا دا دوعا چې وایي خدای(ج) د عمر د کني مرغي کړه مني عمر د ډېر شه.

کنیازره : لکه په بزار کې هرڅه ګران دي هیڅ وال هرڅه په کنیا زره بیه کوي یا په کنیا زره هغه شی نه میندېږي.

کني پرې ګډېدل: لکه پ ودار شو کني پرې ګډه ده یا له مرضه ودار شو کني یې ګډه شوه یا له پ سره داسې وشو په پ هسم له داره کني ګډه شوه یا له هغه امله په پ هم کني ګډه ده. یا په اداره ویره خپریدل کني یې ګډېدل

کواتي : وایي پلاني بد لمنې ده د (غ. ښو) کواتي ده یا دا پیغور چې د (غ. ښو) کواتي

کواټ : کوم بوده چې پوره اوښ توب ته نه وي رسېدلی هغه ته ځیني کوچیان کواټ وایي داسې جونګیان هروخت لوبه به ورته ووایو لوبه سره کوي وشوه هر وخت خولې سره لګوي یو په بل چوګېږي چې کواټي ورته وایي کواټ داسې یادېږي وایي پ او پ هروخت لاس سره اچوي کواټي سره کوي.

کواکه : وایي کواکه ناست یې یا کواکه ځای ولاړ یې یا داشي د کواکه ودراوو. یا د ادارو او سیاسي ډلو کواکه کول او هم د پلانیو کاواکه کول.

کوبیل : وایي د پ په زړه کې هېڅ کوبیل نه ده پاتې یا د زړه کوبیل یې ختلی دی یا له هغې چارې یا خبرې سره یې کوبیل وخوت یا دا ښېرا چې وایي د زړه کوبیل د وخېږه. یا د واکمني کوبیل.

کوپته : وایي پ سړی هلك یا ښځینه ډېر کو پته انسان دی وښیه د بدیو لړونکی بې حیا انسان دی.

کوت : لکه لیمخی یا بل شی کوت کړي کوت یې وکاږي یا د پ په زړه کې کوتو نه دي یا د زړه کوتې نه لري یا دا چې شپانه وایي کوت ته مې مېږي نېغې کړې یا کوت ته مې راماتې کړي یا دا چې وایي په کوت کې مې لویولی یا د بل په کوت کې لوی شوی ده. له ده ښادي حرامه ده، یا پ د پ په کوت ننه وتلی ده. یا د واکمنو او سیاسي ډلو کوت یا کوتړي.

کوتړه : وایي په ډېر شیان په کوتړه ووهل، منې پټ یې کړه، یا په کوتړه یې مه وه، یا پ پ ته خپله کوتړه خلاصه کړې.

کوتونی : ځینې خلك چې لور و خور ودوي، د نوري خورې په ځای مال حلالوي، هغه ته کوتونی وایي. کلبه کوتوني وکړه.

کوټ : لکه غنم یا بل شی کوټ کوټ پراته دي.

کوټه : یو نکری به دا ښېرا وکسو چې وایي بخت د کوټه شه یا د پ بخت کوټه شوی ده یا دا پیسې کوټه دي، یا پ په هغه ځای کې کوټه شوی ده، څوك باور نه پې کوي. یا دا پیسې کوټه دي، ځای کې کوټه ده، څوك باور نه کوي یا د هغه خبرې کوټه دي. یا کوټه اداره او سیاسي چلند.

کوټ کوفار : وایي دا خبره مې په زړه داسې ولګېده لکه کوټ کوفار، یا هغه خبره یا چاره ولې کوټ کوفار درته ښکاره شوه. د پکتیا د کرړي خلك کوټ یا کوټکي خوني میلي یا ابادي ته وایي.

کوټۍ : وایي دا چاره چې کېږي ډېرې کوټۍ به خاورې شي، یا دا چې وایي یا پ غونډې کوټۍ هم خاورې شوه، یا په هغه قوم کې څوك کوټۍ لا شته.

کوټی : وایي د پ کوټی وخته یا په هغه چاره یې د قومونو رنګه بده کړه د قوم کوټی یې وښکه، یا هغه چاره به پرې نړدم، چې

کوټي مې پرې ښځي، يا دا چې کوټي د وښځه. يا سياسي کوټي.

**کوچنۍ**: کوم غاښونه چې واړه واړه تور تور وي او د ناروغۍ نښې پکې جوتېږي، هغوی ته کوچنۍ وايي، لکه د پ غاښونه کوچنۍ دي.

**کوچنډی**: لکه د سپي کوچنډی د لېوه ګي کوچنډۍ او داسې نور خو دا کيسه بيا د ځينو خلکو د سپکاوي لپاره هم کېږي، لکه پ د پ کوچنډی ده، يا پ په ځان پسې کوچنډی ګرځوي، يا د پ ډېر کوچنډی دی. يا د دربار کوچنډي.

**کوخک**: د انسان په پوچه کولمه کې چې يو خبل (ډول) سيزلو يا کوچنی بې خوبه کوي، يا ناروغي پيدا شي، هغه ته کوخک يا کيخک وايي، بيا دا خبره داسې هم کېږي وايي په هغه باره کې د پ په کونه کې کوخک وو.

**کوڅه ډب**: وايي پ کوڅه ډب سړی ده، يا له پ کوڅه ډب مه جوړوئ، يا پ څه سړی ده، هغه کوڅه ډب ده.

**کوڅې**: وايي د ښځې له هرې کوڅې لاندې سل شيطانان دي، يا دا چې وايي، د يوې کوڅې بلا يې در وګرځه، يا دا چې بدۍ له کوڅې ولاړې شوې دي، وشوه له ښځو ولاړې شوې دي، يا دا چې ټول غمونه په کوڅې کې دي، يا دا چې وايي بخت په کوڅې ده يا په کوټې ده.

**کوډې**: لکه په پ کوډې شوې دي، ډېر وخت کېږي، رنځور ده يا په خلکو يې کوډې وکړې دا کار يې پرې وکړ پ ډېر کوډګر سړی يا ښځه ده؟ يا د سياسي او قانوني کوډوله امله داسې وشول.

**کوډۍ**: کوډخه، کوډکی، کوډله، وايي پ د اوښو په کوډي کې ژمی تېر کړ، يا د پ څه کور ده يا څه کېږدی ده هغه کوډخه ده، يا کوډۍ کوډۍ غنم ولاړ دي، يا کوډۍ وبښتان يې دي يا پ هغه ورسو کې کوډی کوډی واښه ولاړ وو، يا دا ښېرا چې وايي کوډی دې ګډه شه.

**کوربلي**: لکه د پ هډ مات و، کور بلی يې کولې يا له ډېره غمه يې کوربلې وکړې. يا د وينا په بينا سياسي کور بلې ککړي او کاکو يا لوړزوګ.

کورت تنده : د پ تنده هر وخت کورت وي، یا تنده دې ولې کورت نیولې ده. یا د واکمنو او سیاسي ډلو تنده کورت.

کورجنګي : وایي په کورجنګي ده، هر وخت یې په کور کلي او خپلو خپلوانو سره جنګ او دعوی وي.

کورخې ښندل: وایي پ مرسته را سره وکړه، خو ډېر ځان یې را باندې وکنجاوو، خو رخې یې راباندې وښندلې، یا دا چاره په ښه مینه را ته وکړه، کورخې مه راباندې ښنده، یا په هغه باره کې پ په پ باندې کورخې وښندلې. یا سیاسي خورخي پي ښندل.

کورغ : دا یو بوټی ده، د افغانستان خلک یې کېدای شي، پېژني، ډېر زیات تریخ ده، چې په لاس ولګېږي، لاس ترخه وي، وایي په له ځان کورغ جوړ کړی ده، یا کورغ له خانه مه جوړوه یا پ خپله وربایي کورغ کړې ده دلته دې جوته وي، چې وواېو چې په کوچیانو کې کورغ نومونه هم شته وشوه کوچیان ډېر کورغ نومېږي. یا د سیاست سیمه جوس او وربایي کورغ کول.

کورغونځی: لکه د پ په نس یا زړه درد ووتوله، شپه، یې کورغونځي کولی، یا پ په ډېره اندېښنه کې و، توله شپه یې کورغونځي کولې یا یې د هغې خبرې یا چارې په باره کې کورغونځي کولې. یا سیاسي الون بلون کورغونځي کول.

کورګډی : دا ټکی هغه چا ته یادېږي چې ښځه یې مړه وي، وایي د پ کور ګډ ده یا دا ښېرا چې وایي، کور دې ګډ شه.

کورنده : کله چې فصل روغ وي، بشپړ وي، خو چې یوه خوله مال پرې تېر شي، کورنده شي، کورنده په ډېرو ځایونو کې یادېږي، لکه پ ټول وطن کورنده که یا پ بشپړه وخوړه کورنده یې خلکو ته پرې ښوده، یا دا چې وایي پ له ژبې ډېر کورند ده یا پ په خوله کې کورنده ده یا له وني کورند ده.

کوره کی : د کوچنیانو کراځیو، هغه کور ته کوره کې وایي چې تېرې یا بل څه له ځانه را تاو کړي، غولی یا کور جوړ کړی، کوره کې بیا داسې هم یادېږي، وایي له کوره کوره کی مه جوړه، یا په دې خبره خلک کوره کی کوره کی کېده یا کوره کی سره کښناسته وو. یا په هغه شي (څیز) سره کوره کې وو. یا د خلکو سیاسي کوره کې ټولني او ترنډي یا پرلیتي او پلکي.

کور یې په کلي کې ورک : لومړی دا ښېرا چې وایي کور دې په کلي کې ورک شه یا دا چې وایي د پ کور په کلي کې ورک ده یا له هغه امله د پ کور په کلي کې ورک شو.

کوړت : وایي پ د پ په مخکې کوړت نشي کولی، یا په هغه ځای کې د کوړت نه شوای کولی، اوس غړېږي، یا پ کوړ کوړ ډېر کوي، خو هګۍ نه اچوي، وشوه له خلکوسره خوړه خوله وهي، خو پایده چا ته نه رسوي، یا پ کوړ کوړ یو ځای کوي هګۍ بل ځای اچوي، یا دا د زور ویل چې کوړت و نه کړي. یا سیاسته وال د ټاکنو په وخت کې کوړت کوړت کوي.

کوړمه : وایي پ او پ سره یوه کوړمه دي، منې سره خپل دي، یا پ د پ کوړمه ده دا ډېره خراپه کوړمه ده یا ښه کوړمه ده.

کوښن : وایي پ هسې بنې وهي، هغه دروغ وایي. هغه کوښن ده یا کوښنه ورکوي کوښنده.

کوښه کرېدل : دا ښېرا چې وایي، کوښه دې کړه شه، یا دا چې وایي د پ کوښه کړه شوه. د ژوند یا د سیاست کوښه ګګیدل.

کوغالی : سپي ته چې اوبه پکې اچول کېږي، هغه ځای ته کوغالی وایي، کوغالی داسې یادوي، وایي که دا چاره مې وکړه، د سپي په کوغالي کې اوبه راته واچوه، یا دې سزا ورکولو، په وخت کې داسې ویل کېږي وایي تر څو یې پرې نه ږدې چې د سپي په کوغالي کې دې نه وي پرې څټلی یا سپی چې کوغالی تشوي د خځوزي لپاره.

کوغر : هغه ړانده ته کوغر وایي چې د سترګو ګاټې یې نه وي او د سترګو ځایونه یې غوچ غوچ وي لکه پ په یوه سترګه کوغر ده یا په دواړو سترګو کوغر ده.

کوکر : وایي پ کوکر زلمی ده یا داسې ډېر کوکر د پ له سیني لاندې شوه یا پ ډېر کوکر وګرځېده، یا پ په ټول قوم کې کوکر سړی ده. یا کوکر میړونه ورک مه کړي.

کوکړی : لکه پ هلته کوکړی پروت و، یا کښت سره وواهه، کوکړی یې تویه (تل) که یا خلک د ناروغی له امله کوکړی پراته (تل) دي. یا هغه اداره او واکمنې کوکړي کول غواړي.

کوکی تکی : دا تکی نېږدې ناست ولاړ او نېږدې خبرو ته یادېږي. لکه پ له پ سره ډېر کوکی تکی کوي، یا له پ سره ډېر کوکی تکی شوي، هېڅ دې ترې جوړ نه کړه یا پ له پ سره کوکی تکی

کـول چې څه يې ورتـه ويـل يـا پ او پ بيـا سـره کوکـې وتکـې شوه يا پ او پ پـه هغـه بـاره کې سره کوکـې تکـې کـېږي، د څه مطلب لپاره سره کوکي تکـې کـېږي.

کوکي غاړې: لکـه پ غمجـن ده، تـه د خوشـالي ښکـارېدونکي کوکـې غـاړې ورتـه کوي، يـا پ لـه ښځې سره پـه کوکيـو غـاړو غـېږي، کوکـې غـاړې ورتـه کـوي يـا پ لـه الـواد سـره کوکـې غـاړې کـوي پـه کوکيـو غـاړو غـږېده، يـا پ پـه هغـه بـاره کـې کوکـې غـاړې کولې. يـا د سياست خـوګې خـبري کوکـې غـاړې.

کوګه : وايـي پ پـه هغـه خـبره ډېر کـوګه ده، يـا پ لـه پ سـره کـوګه ده، يـا ولې کـوګه شوې، پـه دې پسـېره لـه لـېوه څخـه يـو لـوی خزنـده ده هغـه تـه هم کـوګه وايـي منـي نوم يې کـوګه ده.

کوګل : وايـي پ دی چـارو تـه کـوګل ورکـه يـا پ مـلا تولـو نـاروغيو تـه کـوګل ورکـه، تولـې يـې د خـدای پـه امـر سـره ورکـې کـړې يـا دا شـی پـورې وهـه کوګل ور کـړه.

کول : وايـي د پ ښه کول ده يـا ګنـده کـول ده يـا زمـوږ ورانـدې کـول يـا مـو را تونلونکی کـول يـا پ اوپ يـو کـول ده.

کولك : لـه سـترګو پـاس لـه تنـدي څخـه د غـوږ لـور تـه سيمې تـه کولـك وايـي وايـي د پ کولکونـه يـې ور سـره کـړه پـه کولکـو کولکـو يـې ووېشـته.

کولمې پـورې غـوټه : پ چـې چېرتـه ځي پ هـم ورسـره ولـې تـه بـه وايـي چـې کولمې يې ورسـره غـوټه دي، يـا لـه پ سـره دې څه کولمـې غـوټه دي. يـا د هغـو ډلـو سياسي کولمـه سـره غـوټه ده.

کولمې پـه کوري: وايـي د پ لـور ګنـده ځای واده ده، بـد عمـره ده د ده کولمـې پـه کـورې دي يـا دا ښـېرا چـې وايـي کولمـې دې پـه کـورې شـه. يـا د واکنـو او سياسي ډلـو کولمې پـه کـوري کـول.

کولمې خوړل : وايـي پ دې خـبرې تـه انديښنـه کـوي، کولمې ورتـه خـوري يـا پ هر وخت انديښنـه کـوي کولمـې خـوري.

کولمې ورته بلا : وايـي پ تـه خپلـې کولمـې بـلا شـوي، وشـوه خپـل لمسـی لـونه او زمـن ورتـه بـلا شـوه، يـا دا ښـېرا چـې وايـې: خـدای د خپلـې کولمې درتـه بـلا کـړي.

کولنې : يـا کولنـې يـو بـوتی ده چـې د مـال د خوړلـو لپـاره ډېر ګټور يـادېږي، مـال ښه پـرې څرېـږي، کولنـې داسـې يـادوي، وايـي پ کولنيـو تـه سيخ سوی ده وشوه پـه ښاديـو ګډ ده، يـا کـه خـبره سـر

ګڼه کړو وايي پ چې د پ منې يا اوري کولنيو ته به سم شي، ګواکې سترو ستونزو او تاوانونو ته به سم شي. د ګتې په بينا سياسي او اقتصادي کولني يا هيواد وال په کولنيوګډول.

کومي : وايي کومې يې شکولی وو، زړل يې، يا پلاتې بنځې په وازکومې له سرېو سره خبرې کولې، يا په وازکومې خبرې مه کوه، يا پ ناري وهي کومی يې وشکېده، يا له هغه امله په واز کومې خبرې نه شوکولی.

کوناستی : لکه کوچنی کراچی کوناستی ده، بيا کوناستی داسې هم يادوي وايي پ لاتر اوسه کوناستی ده، وبولـه د توان څښتن نه ده، يا پ د وخته کوناستی و، اوس درېسي راپورته يا ودرېده، يني د مېړو يا دولت څښتن شو، د توان څښتن شو.

کونده : وايي په دي خبره کې يې پ ته نوره هم کونده تيته کړه، يا د دې چارې په باره کې يې په کونده زور وکه يا په هغه باره کې پ پ ته کونده تيته کړه. يا د قانون په کونده اداره اړول.

کوندي کوندی: لکه د پ نس خوړېده، کوندی کوندی اوښته، يا يې کوچنی (کراچی) وواهه، کوندی کوندی يې واړاوه.

کونډې کېری : لکه هغه سيمه ډېرې کونډې کېرې لري، يا په هغه باره کې د پ په لاړه کې ډېرې کونډې کېرې ډي.

کونګر : وايي پ سپين ږيری و، جګ کونګر سړی و، يا سپين سری، جګه لوړه سوروره کونګره.

کونګری : په لوړ اواز ژړا او غمجن اواز ته کونګر وايي لکه د پ زوی مړ و، کونګری يې وکړي.

کونګه : وايي د پ کونګی لتيګی وشوه، صيفت يې د خلکو په منځ کې کېږي، يا دا چاره يې وکړه کونګه يې پرې چګه کړه يا دا چاره وکړه په خلکو کې به تل تر تله د تا کونګه وي.

کونوبه : اخر ته ويل کېږي لکه دمستوکونوبه د شودو کونوبه او داسې نورې کونو بې شوی. يا د سياسي ډلو او واکمني کونو به.

کونوړی : څوک چې په کونه ښويږي، وايي پ په کونوړی ځکېده، يا په کونوړي ولې ځکېږي. يا واکمني او اداره په کونوړي کول.

کونيستونی: وايي پ د خپل کور خبرې په ډاګ کې خلکو ته کوي کونه خلکو ته ښکاره کوي کونيستونی ده، يا خپل عيبونه خلکو

تـه وايـي کونيسـتونی ده، يـا دا پېغـور چـې وه کونيسـتونيه تـه خو کونيستونی يې. يـا کونيسـتوني سياسـي چـارې.

کونه بوکې : کوچيـان يـو ډول (خېل) کـېږدۍ دروي چـې د شـا لـوری يـې تيـټ وي هغـه تـه کونـه بوکـی وايـي.

کونه ترې پول : وايي پ لـه پ څخه ډارېږي، کونه تـرې پيـايي، يـا پـه هغـه بـاره کې پ لـه پ څخه ډېره کونـه پـووه.

کونه ترې ښکل : وايـي پ لـه دې ځايـه هسـې کونـه وښکـه، يـا پ لـه پ څخـه کونـه کـاږي، يـا دلتـه جنګ ده لـه دې ځايـه هسـې کونـه کـاږه، يـا لـه هغې خبرې يـا چارې کونه کـاږي.

کونه ټنډه : وايـي د پ لـه پ کونـه ټنډه ده، يـا پـه هغـه خبـره يـا چـاره يـې کونـه ټنډه ده.

کونه لېڅي : پ لـه پ څخـه څنګزن غونـدې شـو، تـرې کونـه لـېڅي شـو، يـا د تورې هـوا يـې وکـړه کونـه لـېڅی شـو، يـا د تـېښتـې هـوا يـې وکـړه کونـه لـېڅی شـو. يـا هغـه غـواړي چـې واکمن کونـه لـېڅي منـي يـو لوريـز پـه مخـه کـړي.

کونه ور ګرځول : وايـي پ تـه پـه هغـه بـاره کـې کونـه ور وګرځولـه، دلتـه يـوه کيسـه ده وايـي چـې لـېوه کلـه خـره تـه راشـي خر کونـه ورګرځوي، لـه دې خبـرې څخـه هـم د خـره بـې همتـي تـه اشـاره ده. يـا واکمـن ,خپلـو چـارو تـه کونـه ورګرزوي.

کونـې تـه يـې اور بلـول: ډېر وارې داسـې کـېږي چـې پـه ژمـي کـې بـوده ډنـګر (خوار) شـي بيـا د بـار پـه وخـت کـې يـا هسـې لـه ځايـه نـه پورتـه کـېږي، د پورتـه کولـو لپـاره د روسـتاړ لـور تـه اور ورتـه بلـوي دا خـبره بيـا داسـې يـادېږي لکـه پ چـې دا سـخت "ګران" کارونـه کوي کونـې تـه بـه يې اور بـل کـړي يـا چې دا خبـره يـا چـاره سـر تـه رسوي، کونـې تـه بـه يې اور بـل کـړي يـا د دې خـبرې پـه بـاره کـې د پ کونـې تـه اور بـل شـو يـا پ د پ کونـې تـه اور بـل کـه. يـا د واکمنو اوسپاي ډلو کونې ته اور بلـول يـا اور پسـې لـګول.

که وول : يـا کـهول وايـي دا د پ کـه ول ده يـا پ او پ سـره يـو کـهول ده.

کيازه : لکـه چـې وايـي شـنه وابښه ګيـا، چـې وشـکوله شـی زر کيـازه کـېږي، يـا پ پـه هغـه خبـره ډېر کيـازه شـو، يـا لـه هغـې چـارې سره ډېر کيـازه شوی ده. مني جنجړ او شـوتـه يـا بـتـه

کيڅی : لکه مخکې چې مـوږ يـاده کـړې ده د مچنوغـزې پـه کـوم ځايـګې کـې چـې تيـره ابښودل کـېږي هغـه تـه کـېڅی وايـي، څيـنې

بدلمنو ښځو ته ویل کېږي، وایي د (غ...ښ) کېځې ده. یا داسې هم ویلې شو چې د افغانستان په جنګ کې د لویدیزوالو لپاره هغه ... هېواد د یوې کېځې کار ورکه.

کیږ : کوچیان په ژمي کې د کېږدۍ دننه واړه مال ته د برړو یا غوریزه یا د زېږ ونو غوړکیو غوړاسکیو یو ډول ایسار جوړوي هغه ته کیږ وایي، د کیږ لاندې لورې په ځمکه کې ښخ وي پورته لوري یو په بل سره اوړي وشوه سره اوبدل کېږي، کیږ ډېر ځایه یادېږي، لکه هلته کیږ کیږ خلك ولاړ وو، وشوه لیکه لیکه ولاړ وو، یا دې چارې ته کیږ ودرېږي یا له دې شي کیږ تاو کړي یا له دوښمنه کیږ کیږ تاو شي. ٠

کیخلی : لکه هغه چرګ له دې چرګ ځخه لږ کېخلی (وړوکی) و، یا دا ښېږ له هغې مېږې شکه (ځخه) کېخلې ده، وښیه وړه ده په غوښه کې کېخلې ده یا په هډوکي کې تري کېخلې ده.

کیس : دا ټکی د ښېرا په ډول یادېږي، وایي کیس دې کم شه.

کیکاګل : لکه د پ لاس و پښې کېکاږه، چې سترتیا یې ووزي، یا پ ته مې اشاره ورکړه په ورانه مې کېکاږه، یا پ د پلار له داره کوچنی (کراځی) نه شو وهلی، له غوسې به یې کېکاږه، یا دا چې وایي کې ښکه.

کیمینه : وایي پ کبر نه لري، ډېر کیمینه انسان ده.

کیناری : لکه د خوږ کېناری د لېمځي کیناری د بړستنې کیناری ګوا ځنډې اوغاړې باید وریته شي چې ځینې کوچیان د بړستنې هغې ژی ته کیناری وایي چې د استر له لوري زیات رخت د بړستنې د مخ لور ته راواوړي.

کینایي : وایي پ له دې چارو کینایي نیولې ده، یا پ هر وخت په کینایي کې ناست وي.

کهوتل : پ هم په دې چاره کې کهوتلی ده، یا دا چې وایي د کبوتلې دار نه شته چې کېونی نو کهوتی. یا په تمبلي کې چې کیوتې نو پري وتې.

# ګ

**ګاګره** : يو ډول خره يا د هغې سيمې د خاورې رنګ تيره وي، چې ډېره سميه يې نيولې وي، هغه ته ګاګره وايي.

**ګاګيړي** : لکه پ څه سړی ده، يا څه ښځه ده، هغه ګاګيړي يا پ ګاګيړي راغی، ګاګيړي ګاګيړي وغړېده.

**ګام** : لکه پ د پلار او نيکه ګام اچوي، يا يې بېرته ګام اچولی ده، د مور لورې نيګو ته ورته ده، يا په هغه باره کې پ د پ ګام وهي يا په هغه باره کې پ ګام ته خلاص نه شو، يا پ پ ګام ته پرې نه ښوده. يا په سياسي هالي او فوځي چارو کې ګام.

**ګانډو** : لکه پ له پ سره په هغه باره کې ګانډو وهلی دئ، ويني خبرې ورسره کوي يا خدازده چې پ به له چا سره ګانډو ووهي، د ګانډو سړی جوت وي، يا پ د پ ډوډۍ ته ګانډوهلی دی. ويني ګونډي.

**ګايي** : لکه د دې چارې په باره کې پ لاد وخته يو څه ګايي کړی وو، مني څه يې ويلي وو، يا پ دا ګايي وکه، نور ولاړ يا په قوم کې يا قوم ته داسې ګايي وکړه.

**ګبني** : وايي پ له پ ډارېږي، په زړه يې ګبنی ګډه ده، يا پ داسې خبره يا چاره وکړه چې له غوسې مې په زړه ګبنی ورته ګډه شوه، يا دې چارې ته يې په زړه ګبنی ګډه ده، يا سړی چې ښځې ته ورننېژدې شي نو ګبنی يې واخلي، يا له هغې ورځې راهسې مې په زړه ګبنی ګډه ده.

**ګبه ولی** : وايي پ ګبه ولی سړی ده وشوه توريالی څواب غاړی او د نورو ښو خويونو لرونکی سړی ده. يا ګبه ولې دوره.

**ګټ** : ويوله لويه تيره (ډبره) بيا ګټ داسې هم يادوي، لکه په هغه خبره لوی ګټ کېږده، يا يې په هغه خبره ګټ ور اړولی ده.

گټه : لکه پ په هغه باره کې په گټه کیده یا په گټه کې روان ده، یا گټه په کټلې کېږي، یا دا چاره د پ په کټه وه، یا یې په کټه تمامه شوه یا پ ځان گټیالی بولي یا په هغه باره کې گټیالی ده. یا د سیاست د میدان گټیالی.

گډوله : وایي د دې چارې په باره کې پ هسې گډولې جوړوي یا پ گډوله جوړه کړه، هر څه یې سره گډ کړه، یا پ ټولې چارې یا ټولې خبرې سره یو ځای کړې په دې گډولو کې خپل خیر یا گټه لټوي یا په هغه باره کې پ گډوله جوړه کړه نور ډې ترې ولاړ. یا دودیز گډ گډو له سیاسي ډلې او حکومتونه.

گډویه : لکه پ ټوکې کوي گډویه ده یا له هر چا سره ښه ناسته ولاړه لري، گډویه ده.

ـډې وډې : لکه پ گډې وډې خبرې کوي، یا گډوډ وغږېده، یا د پ له سره ډېرې گډې گوډې تېرې دي.

گډې : هسې خو په قومونو کې گډې هم شته، خو بیا دا ټکی په لویو لویو قومونو کې د یوه نیم چا د سپکاوي لپاره یادېږي، لکه پ څه سړی یا څه ښځه ده، مور و پلار یې څوک دي، هغه گډې یا گډیان دي.

گربین : وایي پ ډېر د لوی گربین څښتن ده، گوارسیني څښتن ده.

گردگډول : لکه پ قوم څو کاله په هغه چاره گرد گډ کړ، یا پ په دې خبره دومره گرد مه گډوه یا دا ښېرا چې ښځې یې کوي وایي خدای(ج) د گرده تاو یا گرده گډه کړه، یا پ په هغه باره کې گرد گډېږي.

گردله : ځیني خلك هغه گرد یا تاوېدونکي باد ته گردله وایي چې یو نکرې مخ کې بوربوکی یاده شوه.

گردونه : گردونه خو یې ډېرې ده، خو گرد به را واخلو لکه هلته باد ده یا بلـه وجه ده خو گرد ده، یا دا چې پ دروغ وویل گرد یې وکړ یا پ په هغه باره کې گردونه کوي. یا د سیاست والو غورې دربې سیاسي گردونه.

گردی گوښه: یو متی به دا ټکی وگرو چې کوچنیانو (کراچیو) ته کېږي، وایي گردی گوښه دې شم، یا مې درنه گردی گوښه کړې، یا له دوښمن څخه گردی گوښه تاو شې، یا پ له هغه شي (څیزه) گردی گوښه تاوېږي.

**گرزاندی** : لکه د پ کوچنی کړاخی اوس گرزاندی ده، گرځېدی شي، یا پ گرزاندی سړی ده، گرځي.

**گرزندی** : د اوبو هغه خایکی ته گرزندی وایي چې گردې سره تاوېږي، گرزندی داسې یادوي وایي دا خبره یا دا چاره یې د اوبو گرزندي ته واچوله (وتریله).

**گرگه** : په اصل کې راړه لوی لړکي ته گرگه وایي، بیا دا نوم د ځینو مشرانو لپاره هم کارول کېږي، وایي په یو گرگه ده یا گرگه و.

**گرگسی** : وبوله عردیسي وایي پ او پ سره گرگسو دي.

**گرگیل** : لکه پ لړ خوړ ده، څرمن یې لړ گرگیل شوې ده، یا دا خایگی اغزي وهلی گرگیل شوې ده.

**گرلاځه** : د بوده یا خره د وري د بار لپاره یو خبل (دول) ترنگړ غړل کېږي، چې د واړه اندې یو ترنگړوي، هغه ته گرلاځه وایي، بیا دا کیسه داسې هم کېږي چې یو څوك خواره ډېر خوري هغه ته گرلځی وایي، لکه گرلځی.

**گرم سېل** : وبوله گرمه سیمه. یا لکه لوی هندوستان.

**گکرم** : وایي پ په پ ډېر گرم شو، وشوه پرې ملامت شو، یا خپله گرمه وگاله یا دا چې وایي، گرم نه یې له هېچا مه دارېږه.

**گرم** : په هغه خبرة ډېره گرمه کړې ده، تر اوسه پورې یې سړی پرې اینبی وه، یا پ یې ډېره گرمه وایي، منې توندې ترخې له زوره او پاله غوسې ډکې خبرې کوي یا پ په دې چاره کې ډېر گرم گرم گرځي، یا په هغه باره کې گرم گرم وگرځېده.

**گرو** : وایي انسان هم گرو گرو ده، د پ گرو چا ته نه ورگډېږي، یا پ ته مې گرو نه ورگډېږي.

**گرونی** : لکه ته ورشه که له پ ځخه دې څه راوړه، که څه گړولی دې تړې را وکړ، یا څه تړې بود کړه، گرونی تړې وکړه یا مې گرونی تړې وکړ. یا سیاسي او قانوني گروني وبوله گټه.

**گروي** : وایي پ ته هره ورځ ورځې او راځي، څه گروي دې ورسره اچولې ده، یا چې له سړي سره گروي واچوي بیا یې نه تړې شکوي.

**گړب** : لکه دا خمکه گړبونه گړبونه ده. گړب داسې هم یادېږي، وایي دا مال لوی گړلې ده، یا پ لوی گړبی ده، وشوه لوی نسی ده، یا پ چې تولله دونیا په گړب کې واچوي کړب یې نه پرې

ACKU

د کېږي، یا پ هر څه خپل ګرب ته واچوي، یا پ د خپل ګرب غم خوري.

ګرزګه : دېر بې غوښې (دنګې) حیوان ته د ګرزګې نوم هم یادوي.

ګرزند : ګرزند دولونه وهل کېدل، یا پ ګرزند غرېږي.

ګرم : پ هر څه و خواره ګرم ته یې کره، یا هر څه د ګرم کره.

ګرنګ : وایي دا غر دېر ګرنګونه لري، ګرنګ دېر خاینه یادېږي، وایي د پ ګرنګه خواني ده، یا پ دې خبر اوري له ګرنګو یې ولواوه، یا په پ پسې پ ځان له ګرنګو لووي، یا پ ته پ لار ور ښوده له ګرنګو به ولوېږي، یا له ګرنګو دې ولواوه، یا له ګرنګو دې ولولوم. یا دا ښېرا چې وایي خدای دې له ګرنګو ولولوه، یا خدای دې ګنګرنګ ته سیخ کره. یا سیاسي اقتصادي او پوځي لارو چارو کې ګرنګونه او پېچمني.

ګرندی : ځینې زیارتونه داسې یادېږي وایي دا دېر ګرندی مېرنی زیارت ده، یا د پ کار دېر ګرندی کارکوي.

ګروازه : کوم شی چې دېر ازاد (ارت) شي هغه ته ګروازه نوم هم یادوي لکه ټوپیك ګروازه شوی ده، یا له هغه شي ګروازه جوړه شوه.

ګروبی : لکه د غوا غولانځ ګروبی خوړنده وه، یا بل شی ګروبی ده.

ګروزی : لکه دا ځمکه اوبو ګروزی ګروزی کړې ده، یا دا ځمکه ګروزی ووه.

ګړی ګړب : وایي پ څه سړی ده، هغه ګړی ګړب.

ګز و ګام : وایي پ له پ سره ګز و ګام کره وشوه (دوستي او ناسته ولاړ یې ورسره پرې ښوده، یا پ له چا سره دومره نه پالي زر یې ورسره ګز و ګام کوي یا دا یاده (مشهور، وریته) خبره چې دا ګز و دا میدان.

ګز و من : پ پ ته ټول واك ورکړی، ګز و من د هغه په لاس کې ده یا په دې چاره کې ګز و من د تا په لاس، یا ښېرا چې وایي ګز و من دې خدای خوار لري، یا یې خدای خوار کړي.

ګزول : دا ټکی په داسې وخت کې کېږي چې دوه کسه په لانجه کې سره پرې ښودل شي، وایي سره ګزوئ چې څه سره کوئ، هغه سره وکړئ. یا هغه یوه سیاسي او قانوني ګزوله ده.

ګزه کی : هسې خو چې کله زخم زارمن شي هغه ته وایي ګزه کی، یې وکره، یا ګزه کی یې کړی ده، خو دا خبره داسې هم کېږي وایي پ دېر ګزه کی سړی یا ګزه کی ښځه ده یا پ سر له

نوکه ګزك ده يا د هغه ګزك هم را ورسېده، وښيه د هغه ضرر دلته را ورسېده. ډېره ګزه کې خبره ده، يا پ ګزه کې خبره وکړه، يا هغه ډېره ګزه کې چاره ده يا د پ ډېرې ګزه کې چارې دي.

**ګښ** : وايي پ په پ ډېر ګښ نه کوي، يا پ او پ په بزار کې په مخه سره ورغله هېڅ ګښ يې سره و نه کړ، سره تېر شول، يا پ په پ د ښه و بد کار نه لري، ګښ نه پرې کوي، يا پ هغه شي (ځيز) ګښ مه کوه يا پ په هغه باره کې هېڅ ګښ و نه کړ.

**ګک بګک** : لکه وابنه بوس د ګک بګک واچول يا د پ بدن ګک بګک ده.

**ګګر** : لکه ګګرو ونه يا پ ګګر سړی و، يا پ پخوانی ګګر پښتون ده، يا دا دعا چې وايي خدای دې ګګره ونه کړه.

**ګګر** : څرمنې ته ځينې ګګر نوم يادوي، خو د اوښ څرمنې ته لکه دا ښېرا چې بوده ته کېږي، وايي ګګر دې واوړه.

**ګګروزی** : لکه د پ سړه طبه ده، ګګروزی يې دی، يا د پ له داړه ګګروزی شوې، ګګروزيو واخيست، يا د پ دې خبرې ته يا چارې ته ګګروزی شوی يا پ په غوسه شو پ ته ګګروزو واخيست. يا حکومتونه ادارې او سياسي ډلې په ګګروزي کېدل.

**ګل** : وايي د پ ډېر لوی نوم و، خو چې د پ نوم پرې رابنکاره شو، د هغه نوم يې ګل که، يا دا ښېرا چې وايي خدای دې نوم ګل کړه يا داسې هم وايي چې پ په ټول قوم کې يو ګل ده، وشوه د ښو صفتونو څښتن ده يا خبره په دغه ځای کې ګل کړه يا سترګه ګل کړه ګواکي پټه يې ورکړه.

**ګلو ته سيخ** : وايي پ ګلو ته سيخ شوی ده، يا پ پ ګلو ته سيخ کړ، يا پ ټول قوم په ګلو ګډ کړ. يا واکمن او سياسي ډلې په ګلو ګډ.

**ګلو ګوچ** : وايي پ ډېرو غمونو ګلو ګوچ کړی ده، ګلو ګوچ ده يا په څه شوی ولې ګلو ګوچ شوې يا له دې امله ګلو ګوچ شو.

**ګله ګرکی** : ورې ورې ګلې ته هم ګله ګرکې وايي، خو چې له باران سره يوه نيمه ګلې لوېږي، هغه ته هم ګله ګرکې وايي.

**ګم** : وايي پ ټول خواره وخواره، هر څه يې ګم کړه يا پ د ټول قوم شته، ګم ته کړه.

گنده والی : وایي دا د دې شي گنده والی ده، مني عیب يې ده یا دا د پ گنده والی ده چې دروغ وایي یا پ په دې چاره یا خبره کې گنده والی وکه دومره گنده والی په کار نه و، لکه ده چې وکړ.

گنده : دا ټکی خو پښتو خو نورو خبرو ته به راشو، لکه دا چې وایي، غل چې پنډه وتړي او زاني چې گنده وتړي بیا يې څوك نه شي پرې اړولی یا کله احمدزي چې د گنډي غل وي که د پنډي غل وي گنده بل ډول هم یادیږي، لکه پ او پ سره یوه گنده ده، وشوه سره خپلوان دي، یا پ د پ گنده ده، دا ډېره خوسي گده ده، یا دا ډېره ښه گنده ده، مني ښه خلك دي، یا ښه کورنۍ ده.

گنګ : لکه پ والګي نیولی ګنګ ده (زکام ده، لنګ منګ ده).

گنگس : لکه د پ سخته (رټه) تبه ده، گنگس ده، یا په سر لګېدلی ده، گنگس ده یا پ ډېر غمونو گنگس کړی ده، یا د نیستي له امله گنگس ده، یا د ډېرو خبرو له امله گنگس ده، یا د بې خوبۍ له امله گنگس ده، یا په هغه باره کې گنگس شوی ده. یا واکمن او سیاسي ډلې له هغه امله په خپلو چارو کې گنگس دي، یو څوك غواړي چې گنگس يې کړي.

گنگه خوړ : لکه توی راغلی و، گنگه خړ يې راوړی و، یا دې ژوندي سره مال گنگه خوړ ده، وبوله مېړي، وزې (غلي اوښې او خره دې گنگه خوړ ده)، یا واکمن او سیاسي ډلې غواړي چې هر څه گنگه خوړ مني خلې خلې کړي.

گڼ : لکه گڼ خلك گڼ فصل، گڼه رمه، گڼ توی او گڼه گوڼه.

گڼه خور : لکه په هغه سیمه کې خنگلونه او ونیانه ده، گڼه خور ده، یا د پ په کور کې خلك ډېر دي، گڼه خور ده یا په بزار کې د هر څه گڼه خور وي، یا خلکو گڼه خور جوړ کړی و.

گواښ : وایي پ گواښ دې وه داسې مه کوه، یا پ ته گواښ وکړه، یا پ یا په هغه باره پ پ ته گواښ وکړ، چې دا به وکړم ها به وکړم، یا د دې خلکو گواښ به سره وکړي، هېڅوك يې گواښ نه شي کولی، یا په هغه باره کې پ گواښ غواړي.

گواښرندی : وایي پ هغسې گواښېږي، گواښرندی غواړي، یا دومره به دې ووهي چې گواښرندی ته به دې سترګې ووزي، یا پ چې گواښرندی ووینې، بیا نه تم کېږي، جنګ ښېلوونکي گواښرندي.

ګوانښېدل : پ پ ته ګوانښېږي، چې څه به ورسره وکړي يا پ هغې چارې ته ګوانښېږي، يا ځو به ګوانښېږي، غوټه پرې وکړه.

ګوته سيخه ول: لکه په هغه باره کې د خلکو ګوته پ ته سيخه شوه، يا پ د خلکو ګوتې په پ پسې سيخې کړې، يا د خلکو قوم کليوالو ګوتې په ځان پسې مه سيخوه.

ګوته په غاښ : وايي پ داسې کار وکړ چې ټولو خلکو ګوته په غاښ ورته کېښوده، يا خلك ګوته په غاښ سو، ورته ګوته په غاښ ورته ناست وو.

ګوته لکه : احمدزي چې کله د کبر د مړي روغه کوي، نو يوه ښځه پېغله ګوته لکه پکې ورکوي، وشوه ګوته لکه دا چې ښه پېغله به وي، په دې پسېره ګوته لك په ډېرو ځايونو کې يادېږي، لکه ګوته لکه مېږ يا ګوته لك اوښ، ګوا ښه اوښ يا دا چې ګوته لك شيان خوښ کړه ګوته لك شيان مه خوښوه. يا ګوته لك سياست اورول، يا ګوت لك سياست.

ګوته ورته ښورول : پ پ ته ګوته ښوروله، چې تا سره به ګورم، هغه ورته وويل چې د ګوتې له ښورولو دې نه ډارېږم، يا پ پ ته په هغه باره کې ګوته وښوروله، وې ډار که يا د دې لپاره ګوته ورته ښوروي. يا سياسي ډلو او واکمنو ته ګوته ښورول.

ګوته ورته نيول : وايي په دې شي کې دا عيب ده خلك دچوڅس ګوته ورته نيسي، يا دې ځاى ته يې خلکو ګوته ونيوه، يا د ګوتې د نيوو ځاى نه شته پکې، يا سياسي چارو ته ګوت نيول.

ګوته ورکول: لکه پ ته خلکو ګوته ورکړې، پ ته يې ورجنګوي. يا پ ته په هغه باره کې پ ګوته ورکړه.

ګوته ول : وايي پ مې وګوتاوو، هغه خبرې يې راته وکړې چې د کولو نه وې، که لږ مې نور ګوته ولې واى، خدا خبر ده څه به يې ويلي •و يا پ خلك ګوته وي خبرې يې له خولې کاږي.

ګوتې پټول : پ له پ سره د دې شي سودا کوله، ګوتې نې ورسره پټې کړې، يا پ دې چاره کې پ له پ سره ګوتې پټې کړې دي يا پ هغه باره کې پ له پ سره ګوتې پټې کړي

ګوتې پسې ترنګه ول : لکه پ چې شته لرل هر چا به يې صفت کاوه اوس چې بې وسه شو هر څوك ګوتې پسې ترنګه وي يا په هغه باره کې خلك په پ پسې له اخره ګوتې ترنګه وي.

ګوتې تړې ښکل : لکه پلار یې بل شپه نیسي زوی یې له پ څخه ګوتې ښکلي دي چې ارو مرو به دا شپه کوو یا د پ غلا خدای خیر چا کړې ده خو ده له پ ګوتې ښکلې چې تا کړې ده یا ټول قوم پ ښه بولي تا له پ ګوتې ښکلي چې نه دا ښه سړی ده، یا دې له هغه شي ګوتې ښکلې دي، ګوتې تړې ښکل د هغه سوریو په بینا دي چې ګوتې پکې نه ننوزي.

ګوتې نه ور سره ماتول : لکه هغه شي پ وړې یا پ وړې هغه دواړه ګوتې نه سره ماتوي یا په هغه باره کې پ له پ سره ګوتې نه ماتوي یا پ له تا سره کله ګوتې ماتې کړې دي چې ته دده خبره په ډاګ اچوې. یا د ګډو کتو به بینا واکمن او سیاست وال ګوتې نه سره ماتوي.

ګوځور : لکه ګوځور کالي اغوستي دي یا پ خیاله ګوځور کالي ګنډي ګوا ډېر ارت یې ګنډي.

ګوم : لکه پ په هغه خبره یاباره کې بې ګودره ګډ شو یا پ هر وخت بې ګودره ګډیګي، ګودر نه ګوري یا پ په هغه باره کې بې ګودره نه ده ګډ شوی.

ګوډل : لکه میګي د وښي رنګ نیولي دي ټولي ګوډلې دې منې پښې یې خو ګېګي یا د پ پښې خوګېګي ګوډل ګوډل ګېګي یا ډېر لږې مزل مو وکړ ټول ګوډل شوه. یا ګوډل اقتصاد او اداره.

ګوډه پورې ایستل : وایې چې پ له پ سره داسې کړه وړه کوي لپاره د دې چې خپله ګوډه له اوبو پې پورې باسي یا پ په پ باندې خپله ګوډه پورې ایسته نور یې څه کوي.

ګوډ ماته : وایي دا ډېر وخت کېږي د خدای (ج) فضل ده په کلي او قوم کې کومه ګوډه ماته نه ده پیښه شوې یا د دواړو قومونو تر منځ ګوډه ماته نه ده پیښه شوې یا د دوست کره سړي ورځې د ګوډې ماتې پوښتنه کوي یا دا دوعا چې وایي. "خدای (ج) د ګوډه ماته در پیښه نه کړي"

ګوډ ولاړول : وایې پ د چا ګوډه هم نه ده ولاړه کړې وبوله لګ ښه یې هم چا سره نه دي کړې یا د پ ګوډه پ ولاړه کړه وښیه مرسته یې ور سره وکړه یا یې په هغه باره کې د پ ګوډه ولاړه کړې.

ګوډې لګېدل : وایې په هغه موضوع باره کې د پ ګوډې ولګېدلې یا د پ زوی ورور مړ شو کور یې وسو یا مال یې مړ شو ګوډې یې

ولګیدي یا دا ښیرا چې وایي خدای (ج) د ګوډې ولګوه یا پ د پ ولګولي یا له هغه امله د پ ګوډي ولګیدي.

ګور وایي در سره به یم له کوره نه له ګوره، یا دا چې په پ باندې خپل کور ګور شوی ده یا د پ له لاسه کور یې ګور ده.

ګورت لکه یو ګورت وابښه یې وشکه ول، یا پ د پ له ګورنه ووت یا پ – پ په ګورت کې نیولی ده پ ته یې ور جنګه وي یا دا چاره د هغه له ګورته ووته یا په هغه باره کې پ په ګورت کې ونیسه. یا دا چې وایي میږه کله په غیګ کې نه ځایګي کله واري په ګورت کې ځایګي یا دا چې وایي له پ سره څوك هیڅ نه شي کولی له اوو ګورتو یا ګورتو لویدلی ده یا دا چې وایي پ له ګورتو لویدلی ده.

ګورج لکه پ مخامخ ووهل شو خوګ شو ګورج ودریده، یا میګ یا وزه غیله، تاجوړه ده ګورجه ولاړه ده یا پ له ډېره غمه ګورج ناست وو. یا ګورجه غونجلکه اداره او ټولنې.

ګورم لکه دا لرګي دره نه کوي ګورم ده، یا د ډېرو غموله لاسه مې زړه ګورم ده یا د پ له لاسه د پ زړه ګورم نیولی ده یا دا چې د پ ګورم وچاوده له خولې یې وینې وګرزولې

ګورم جن وایي پ ډېرګورم جن سړی یا ښځه ده له هیڅا سره یې ګورو نه ګډیګي ګورم جلی انسان ده، یا پ کینه ګرزوي ډېر یا ګورم جمن یا ګورم جلی انسان ده.

ګورنډی دا ټکي کله کله غارونو (سوړو) ته یادوي لکه هلته یې په زمکه کې ګورندي جوړې دي. یا ګورنډځي؟

ګوړابي، ګرزندي وایي په هغه باره کې پ په کړابي (ګرزندي) ګډ شو یا پ – پ په ګوړابي ګډ که، یا پ دې په خبره پوهه نه که تیګه دې کوړابي ته واچوله یا د غمو له امله ګوړابي ته لویدلی ده کوړابي د اوبو زور ځای چې هلته د اوبو ګرزندي هم جوړېږي.

ګوړابي د روزګان د ولایت یا د هغې سیمې خلك د پکتیا یا نور سوداګر پښتانه کوچیان د ګوړابیو په نوم بولي لکه کوړابیان راغله. کبدای شي دا نوم له ګوړې څخه اخیستل شوی وي.

ګوړاکي وایي په چلم کې ده ګوړاکی ده یا نسواري ده ګوړاکی ده.

ګوړچ لکه هغه زمکه کوړچونه لري یا د پ زړه ګوړچونه لري.

**ګوړنج** لکه په کلي کې داسې ګوړنج ده چې په مړ ده خو دا خبره پوره جوته نه ده وشوه اوازه ده یا ګوړنج مې اوریدلې ده یا په هغه باره کې ګوړنج ده.

**ګوړوبی** وایي چې د قومو تر منځ دا خبره اریګي د ډېرو په خوله کې به ګوړوبي ورتویه کړي یا ډېر به ګوړوبي پکې غړپ کړي - وشوه وبه وهل شي، یا دا وایي په دود به ګوړولي ور کول شي.

**ګوړه** وایي ګوړه ګوړه لره خوله به دې خوګه وي یا په ته یې په هغه چاره یا خبره په خوله کې ګوړه ورکیښوده یا دا خبره چې وایي هندو چې نیستمن شي پخوانې ګوړي په خوب وینې. یا د هغوی ګوړې ترخې شوې یا له خونې او خول خوندي سره د ګوړو وېشل یادولی شو.

**ګوړي باغي** وایي پ - پ ته ګوړي باغي جوړي کړي یا ګوړي باغي یې ورته ښکاره کړي یا په خوله یې ګوړي باغي ورته وکړي یا په هغه باره کې ګوړي باغي ورته ښکاره د وریتي کړه. یا سیاسي مالي او قانوني ګوړې باغي.

**ګوزموزي** وایي پ نه ښه خبره له چا سره کوله نه یې ګنده خبره له چا سره کوله تروش ګوزموزی ناست و. یا دا چې په خوله چاته بده خبره نه کوي خو په زړه کې ډېر کلپ ده. کینه کښ ده ګوزموزي ده. یا د سیاسي ډلو تر منځ ګیلې مانې او ګوزموزی پای ته ورسېدې.

**ګوسنه بلا** وایي له پ ځان ساتې ګوسنه بلا ده یا دا خبره چې وایي له ماره مار بچي زیږي له ګوسنې لټکه. یا سیاسي او قانوني ګوسنه.

**ګوګلن** وایې: پ داسې ګوګلن ولاړ و. یا اسمان په مور ګوګلن ولاړ ده.

**ګومارل** دا تکي خو هر څوک پېژني خو بیا دا خبره ډېر ځایه کیږي لکه خدای چې دې وګوماره چې بدو کارو ته به بینا نه ورکوي یا خدای د وګوماره چې پ په مړ نه کړي یا پ - پ دې چارې ته وګوماره.

**ګومان** وایي ګومان حرام ده یا په هغه باره کې پ داسې ګومان کاوه یا پ له ګومانه وغګیده یا له ګومانه داسې وایي یا دا خبره چې وایي ګومان کړی ایمان بایللی.

ونتي : کله کله ګونتي ټکي هغه چاته یادیګي چې له قده ټیټ فسادي یا کیسه کښ انسان وي، ګونتي انسان ده یا د ډېر وخت زړه بدګي ساتي. ګو - نه تي ساتي

ګونځې : هسې خو ګونځې په ډېرو ځایونو کې یادیږي، خو کوچیان پیغلو ته یو ډول پرتوګ جوړوي، چې ډېره برخه یې د مخ لور ته وتلې وي، هغې وتلې برخې ته یې ګونځې وایې لکه پیغله پرتوګ په ګونځو ګونځو وهي، یا پلانی پیغله شوه اوس پرتوګ په ګونځو وهي یا دا چې دې رخت ګونځه کړې ده یا پ زور شو مخ یې ګونځې وکړې، څرمن یې ګونځې ګونځې شوه. یا د زړونو او خبرو ګونځې او کوتې

ګوندي : لکه پ او پ سره بد دي ګوندي سره کوي، یا د پ او پ ترمنځ ډېره پخوا لا ګوندي بینا شوي ده، یا له پ سره ګوندي مه کوه هغه د تا د ګوندي ور نه ده له بل سره ګوندي وکړه یا پ او پ په هغه باره کې سره یوه ګوندي دي یا پ سړي یا ښځه د ګوندي وال دي. دلته ګوندي د سیاسي او اړوك په بنا ده.

ګوندي باز : وایي پ ډېر ګوندي باز سړي ده یا ګوندي بازه ښځه ده ګوندي کوي.

ګونډه کول : هسې خو چې کوچیان د اوښ (بوده) یوه پښه غبرګه وتړل وایي ګونډه مې کړ. خو ګونډه بیا داسې هم یادیږي وایي په هغه باره یا هغه چاره کې پ - پ ګونډه کړي. یا پ په دې خبره کې راته ګونډ کړه یا په په خپله خبره ځان ګونډه کړ. یا واکمن غواړي چې سیاسي ډلې د قامونو له مخې ګونډه کړي.

ګونډې : وایي پ له تر بره سره ګونډې نشي وهلي یا پ او پ ګونډې سره ووهلې ګوا - خبرو ته سره کیناسته یا دا چې راشه ګونډې را سره ووهه چې پر شوې پره وګاله که پر شوم خپله پره به وګالم یا ګونډې ور سره ووهه پرې وایي ږوه

ګونګړی : هسې خو ګونګړی د مان په غاړه کې اچول کیګي خو دا خبره بیا داسې هم یادیګي پ هسې هم توری و خلکو ګونګړي هم ور وتړل یا په ته خلکو په هغه باره کې ګونګړي ور وتړل. یا سیاسي ډلو ته د خلکو خبرونې او شرمونې ګونګړې ور اچول.

گونګوسې: لکه د شپې غګېدا اورېدل کېږد ګونګوسي و، یا څوك ته ښکاره کیده خو ګونګوسي و. چې څوك غګېده یا په هغه باره داسې ګونګوسې شته وینې پټه اوزاه ده.

ګونګه روژه: ویل له پ څه چې ګونګه روژه ونیسي بیا به د هم وروغګوي یا له هغه امله پ ګونګه روژه نیولې ده یا پ په خلکو ګونګه روژه نیسي. یا د سیاستوالو ګونګه روژه

ګوي ګك: لکه میګك یې ورکه وه دوه ورځې وروسته یې وګوي ګله یا لا تر اوسه یې نه ده ګوي ګلې یا په خلکو کې مې پ وګوي ګه چې نه ده را غلې بیا ګوي ګك داسې هم یادیږي لکه د پ خیرات وو ټول خلك یې را وګوي ګل هلته په ورکه کې ګوي ګل داسې باد شوه چې لاتر اوسه پورې دا نه ده ورته جوته چې د ما میګك ورکه ده هلته په خلکو کې دا جوته شوه چې پ نه ده راغلې وي ګوي ګه

ګیتي: د خره یو ډول تګ ته ګیتي وایي لکه خر ګیتي وهي یا دا چې وایې پ په هغه خبره کې ښته ګیتي ووهلې یا په هغه چاره کې ګیتي مه وهه مه یې خرابه کوه یا په هغه ګیتي وهلې هغه لنډي هغه یې ګیتي یا هغه سیاسي ګیتې دي.

ګیډه: لکه پ د پ په هستې ونیستي ګیډه واچوله یا د هغه په برخه ګیډه واچوله یا یې په شي ګیډه واچوله.

ګیډي: پ ټول قوم سره یو ګیډی کړ، یا د پ ګیډي وشړیده ګوا کوم خلك یې چې سره ګیډي کړي وو هغه سره بې انتیاخه شوه یا خلك یا مال ګیډي وله یا بوزه. یا سیاسي ګیډۍ او پلکې.

ګیره: لکه په مور و پلار ښه ګیره کړې دي یا په سوداګرۍ کې ښه ګیره ده یا پ – پ په هغه باره کې ښه ګیره کړې ده.

ګیره و پښې: لکه د هغې خبرې په باره کې پ د پ ګیره و پښې نیسي یا د هغه چارې په باره کې پ – پ ګیره و پښې کوي یا پ په پ باندې خان له ګیرې و پښو نیسي.

ګیرباندې: وایي په ډېرې ګیرباندې راته وکړې ګوا هغه خبرې یې راته وکړې چې د ده زړه پرې بد وو یا پ د پ له لاسه ګیرباندې کوي یا دا چې له ګیربانو یو څه نه جوړیږي.

ګیرې: کله چې د بدن له کومې برخې څه لګ څرمن یا د نوك یوه برخه را بیله او یو لورې یې په بدن پورې بند وي هغه ته کیرې وایي. بیا دا خبره داسې کیګي وائي په په هوا کې ګیرې شوې

ده وښیـه بیـل غونـدي هـم ده او کـه بیـا څه څه پـورې ولیګیـګي خوګک هم کـوي.

ګېله : وايـي پ تـه مـې ګیلـه پـه زړه کـې وه مـا ویـل زه بـه ګیلـه ورتـه وکـړم یـا پـه پ کـې د ګیلـې ځای نـه شـته یـا دا خبره یـوه ګیلـه هم نـه ارزي یـا دا چې وايـي ګیلـه لـه خپلـه کیـږي لـه پردیـو بـه څه ګیلـه وکړي یـا دا چې وايـي پښتـون مړ کـه خو ګیلـه مـه ورتـه کـوه پښتـون پـه ګیلـه مـري یـا ګیلـه لـه هوښیـارانو کیـګي یـا پ – پ تـه یوه ګیلـه ور لیګلي وه یـا پـه هغـه بـاره کې ګیلـه ورتـه وکـړه یـا دا بـه وايـي ګیلـي د ډېري راتـه وکـړي پـه دا وروسـتی ګیلـه د ور کـړم لـه وطنـه.

ګیله مانه : وايي د تـا بـه زړه تـه ګیلـه مانـه دریدلـې وي، ګیلـه مانـه زړه تـه مـه دروه. یا سیاسي ډلو او واکمنو تر منـځ ګیلې مـانې.

ګینده : هسې حپ د رخت یـو ډول ځانـګړی ګنـډل دي چې هغـه تـه ګینـده وايي بیا دا خبره ډیر متـي کیـګي لکـه پ او پـه مـې سـره ګینـده کـه یا پـه پـه هغـه بـاره کـې ګینـدي وهـي ولولـه خبره لـه بیخـه تـه اواروي توپونـه پکـې وهـي یـا داسـې هـم ویلـې شـو چـې هغـه زمکه او دا زمکه سره وګنډه یـا ګینـده شـوه.

ګیوني : کله چې یو پړی په یوه شي کې یو لوري او بـل لـوري تـه واچـول شي هغـه تـه ګیـل وایـي او هغـه پـړي تـه ګیونـي وايـي ګیونـي یـا ګیـل داسې یـادوي وايـي پـه د.پ پـه خولـه ګیونـي واچـاوه یـا یـې د پ خولـه وګیلـه یـا پـه بـدن یـې دانـه وخیـځي بـدن ټول ګیلـي وي یا داسې هـم ویلـې شـو چې هغـه زمکـه او دا زمکـه یـې سـره وګیلـه یـا یـې سره ګینـده کـړې ګنـډلي پـاده کـړي ده. همدغـه ور ځمکې سـره ګیـل ګینـده او پـاډه کـول ولوسـنه سـره ګیـل ګنډل او ګینـده کـول، همدغـه ور د سیاسـي ډلـو د یـو ځای کولـو وصولـو وسـیلې تـه ګیونـي ویلـی شـو، څکـه دوی لـوری یـې سـره ګیلـې ګدلـې ګینـده کـړې او پـاډه کـړي دي، بخـې لا بیـا بـل پـې تـېروي چې پخـه او ښکولي شـي.

# ل

لاټو: هسې خو لاټو د کوچنیانو د کراځیو، د لوبو شی ده، خو دا خبره وایي پ یوه خبره وکړي بیا ما خپلې خبرې ته لټ ورکړي لاټو ده یا په هغه باره کې یاد شو لکه لاټو.

لار: وایي پ چې پ ته دا خبره وکړه لار یې ورکه کړه، یا پ په خپل ځان لار تېره کړه یا پ بې لارې غګیده یا په لار غګیګه یا داحمدزیو په وینا دوه کسه چې سره بد شي لار دې سره وکړي یا په قومونو کې ډېرې لارې تېرې دي، یا په دې خبره کې پ ځان ته لار پیدا کوي یا په بې لارې کارونه وکړه، یا پ چې له موره پیدا ده په لار نه ده تللی یا دا چې وایي: که غر اِسار ده په سر یې لار ده.

لاروی: لکه دا خلك لاروي دي، ګوا په لار تیریګي

لارویوني: لکه په لار کې غله دي لارویوني دي، یا په له ځانه لارویونکی جوړ کړی ده، په لویه لار کې خلك شکه وي.

لار یې شیطان وهلی: وایي پ چې دا بد بد کارونه کوي لار یې شیطان وهلی

لاړي تري تاوول: وایي له دې شي پ لاړې تاو کړي دي هغه وایي چې دا به د ما وي، لا له ټولو میګو پلار لاړې تا وکړې وایي چې زمنو ته یوه هم نه ورکوم یا له پلاني ښځې څخه یې لاړې تاوکړې دي یا له ټولي دونیا څخ: لاړې مه تاووه.

لاړي تېرېدل: وایي پ ته دولت لاس ته ورغی لاړې یې پرې تېرې شوې یا په دومره لر شي دده لاړې نه تېرېږي یا په هغه خبره د پ لاړې تېرې شوې یا دا چاره چې داسې شوه د پ لاړې تېرې شوې.

لاړې ګنده: لومړی به دا د غوصې یا ښیرا وینا وګورو چې وایي لاړې د ګنده شه یا دا چې وایي په هغه خبره کې دې ولې لاړې ګنده شوې

يا دا چې وايي د تا خو لاړې ګنده وې زما دې لاړې ګنده کړي ګوا و دې شرمه ولم.

لاړې وچېدل: وايي پ وارخطا شو په خوله کې يې لاړې وچې شوې يا له هغه امله يې په خوله کې لاړې وچې شوې.

لاړې نيښت: لکه په هغه خبره د پ لاړې ونيښتې. يا د سياسي ډلو.

لاس ازاد: دا ټکي د غوصي او زور په وخت کې ياد پړې لکه لاس دې ازاد چې څه کولی شي هغه وکړه يا لاس دې په اوګده توره ازاد يا لاس دې له پ پورې ازاد يا دا چې د له لندنه پورې ازاد.

لاس اچول: دا ټکي په احمدزيو کې داسې کېږي چې پ سړي پلانې ښځې ته لاس ور اچولی ده- وشوه د هغې حيا يې تويه کړې ده، يا دا چې پ او پ لاس سره وچاوه يا داچې پ او پ هر وخت لاس سره اچوي، منې زلمي توب سره خلوي (جوتوي) وريتوي، يا واکمن او سياسي ډلې سره د لاس په اچولو کې دي. يا قانوني لاس اچونه.

لاس اوګده: لکه د حکومت لاس اوګده دي هر ځای ته رسي يا د پ ډېراوګده لاس دي. يا سياسي ډلې لاس اوګده ول غواړي.

لاس بندي: وايي په يې لاس بندي بوته يا پ يې لاس بندي په لاس کې ورکه. يا واکمن او سياسي ډلې لاس بندي کول.

لاس پرې ازاد: لکه د پ په پ ډېر لاس ازاد ده يا پ له تا سره ښه ده لاس به دې پرې ازاد وي ياني مرسته به ورسره کوي.

لاس پاکی: لکه پ د ټول قوم لاس پاکی ده، په قوم کې چې هر سړي يو کار وکړي وايي پ راته ويل يا په له خانه لاس پاکی جوړ کړي ده. يا د واکمنو لپاره د قانون هغه ماده يو لاس پاکی ده، د ډلو لاس پاکی.

لاس پرې تېرول: لکه په پ لاس تېروه بيا چې کوم امر پرې کوې هغه به يې په پټو سترګو منې يا په پ يې لاس تير کړ ټول کارونه يې پرې وکړه يا په هغه خبره يا چاره يې هسې لاس تير که يا يې دا نيت ده چې لاس پرې تېر کړي.

لاس پرې ولل: وايي پ له دې چارو اوس لاس پرې ولې يا پ له پ لاس پرې ولې ده، منې د ښه بد کار نه پرې لري يا له دې کارو زياتي لاس پريمنځه يا له هغه شي ځيزه لاس پريمنځه.

**لاس پسې تك وهل** : وايي پ په پ پسې له اخره لاس تك وهل يا دا چې وايي يو زه له عقله پلې بل موزېگې راپسې تك وهل لاسونه. يا په پ پسې لاس تك وهه نور خپله تبنتي.

**لاس پسې ورل** : وايي په پ پسې دوښمن لاس وري هركله چې وي مړ به يې كړي، يا په پ پسې د هركاله دوښمنو لاس يوور اخر يې مړ كړ. يا د مرستې لاس پسې ورل.

**لاس پكې غړول** : وايي د پ كورته بېگا شپه غله راغلي وو، ښه لاس يې پكې غړولي ده، يا په مال كې يې لاس وغړاوه چې كوم يې خوښ و، هغه يې ترې بېل كړ، يا پ په قوم كې لاس غړوي. يا واكمن په ډلو او قانون كې لاس غړوي.

**لاس پورې بنده ول** : وايي په هغه خبره يا چاره كې پ په پ پورې لاس بند كړى ده. يا سياسي ډلو په هغه قانوني ماده پورې لاس يا گوتې بندې كړې دي.

**لاس په توره** : پ له پ نه دريده منكر يې لاس ورته په توره كړه اوس يې له خانه ايگل كړ، يا دوښمن ته چې لاس په توره نه كړي هسې د نه پرې گډي. يا سياستوال لاس په توره شول.

**لاس په خاره** : لومړى دا چې وايي څوك چې نه مني د يار پندونه هغه به ولاړ وي تل لاس په څرونه وايي پ هيران لاس په څرو ودريده يا له هغه امله يا په هغه باره كې به لاس په څرو دريگي. له پښتنيو څخه لا نډې تر ډوډيو پورې دغې غوښې او سيمې ته څوړ وايي.

**لاس په ډوډيو** : لكه دي چارې ته به لاس په ډوډيو ودريگي يا په هيران لاس په ډوډيو ولاړ ده. يا هغه چارې ته قضايه هيرانه لاس په خړو يا په ډوډيو ده.

**لاس په گنډه** : وايي پ ته لاس په گنډه ووهه هغه لكه پيرى يا شيشكه به خپله درنه تبنتي يا پ څه سړى ده په گنډه چې لاس ورته ووهي دى تبنتي.

**لاس په گيره** : په احمدزيو كې چې كله په يو چا بد بښي يا د لاري كولو په وخت كې دريم واك ترې اخلي نو هغه ته ويل كيږي وايي لاس راته په گيره كړه بيا دا تكې داسې هم كيږي لكه پ او پ په هغه خبره لاس سره په گيره كړه يا دي چارې ته تول قوم لاس سره په گيره كړى ده.

لاس په لاس : لکه میګي یې لاس په لاس خرڅې کړي یا دا شی د چې پورګني ورکاوه ولې لاس په لاس دې نه پلوره

لاس په نامه : وایي پ ته ټول قوم لاس په نامه ولاړ وي یا د پ په مور قدر نه شته ټول بیګانه لاس په نامه ورته ولاړ وي.

لاس تر زنې : وایي پ د چارې ته لاس تر زنې ناست ده یا تر څو پورې به لاس تر زنې ناست وي، یا واکمن او سیاسي ډلې لاس تر زنې.

لاس تري اخیستل : لکه پ چې زلمي و ببیاکي او ټوکې به یې کولې اوس یې له دې چارو لاس اخیستی ده یا پ د پ پره اوس نه کوي لاس یې تري اخیستي ده.

لاس تري ختل : لکه د پ لاس له هغې زمکې وخاته یا د پ زوی و ورزو مر شو د تل لپاره یې لاس تري وخاته یا دا دعا چې وایي له ایمانه دې لاس ومه خیځه.

لاس تسي : وایي په لاس تسي ده وشوه دولت نهسته ورسره.

لاس تنګي : وایي په ډېر لاس تنګي ده پیسې نه لري یا په له هغه امله لاس تنګي شو یا پ - پ لاس تنګي که بیا دا خبره کله داسې هم کیګي وایي پ بنځه نه لري.

لاس تور سپي څټلي : وایي لاس مې تور سپي څټلي له خلکو سره چې هر څومره ښه وکړم څوك نه را نه خوښیګي یا د پ لاس تور سپي څټلي له پ سره یې ډېر ښه وکړه هغه یې نه مني. یا د واکمن یا سیاسي ډلو لاس تور سپي څټلي کارونه یې په بده اوري.

لاس تور- مخ پرې تور : وایي له بدانو سره مې ناسته ولاړه کوله یا مې مرسته ور سره کوله په مقابل کې بد را سره وشوه لاس مې تور و مخ مې پرې لکه تور شوه.

لاس ته ورکي : وایي زمن یا لونه مې ډېر دي خو پ مې لاس ته ورکې ده چې غګ پرې وکړم چې راکړه هغه شي راکړي یا دا چې پ د پ لاس ته ورکې ده یا پ له خانه د پ لاس ته ورکی جوړ کړی ده یا د ا ښیراچې وایي خدای ﷻ دې دا لاس ته ورکې دربانديې ودروي، یا د واکمنو لاس ته وکي سیاسي ډله او سیاست وال

لاس تکه ول : لکه پ په تیرو چارو پسې اوس لاس تکوي خو وار تري تیر ده یا که دا چاره د وکړه بیا په لاس تکه وي یا د بیکاره سري دا

کار وي چې لومړي پام نه کوي بيا وروسته لاس تکه وي يا پ
له خوشحالي لاس تکوي.

لاس سرو ول : لکه پ په هغه چاره اوس پښيمانه شو لاس سرو يې کار له
کاره تير شو اوس که لاس وسروئي څه به وکړي .

لاس کتويه : وايي پ لاس کتويه ده منـي د بل لاس ته ګوري يا پ د پ
لاس کتويه ده. يا د نړۍ هيوادونه د لوېديز پلکي لاس کتويه
دي.

لاس کته کول : لکه دا ډېر وخت کيږي چې پ د پ په کاسه کې لاس نه ده
کته کړي سره مرور دي يا هلته جنګ و، خلکو لاس سره کته
کړ يا پ - پ ته لاس کته که وشوه دوار لته يې وکړه.

لاس کول : وايي دا ډېر وخت کيږي چې پ له پ سره لاس کوي منـي.
ښېګړه ور سره کوي يا په د چاره کې له پ سره لاس وکه.

لاس کې اچول : وايي پ په قومونو کې لاس اچولی ده وبوله په چارو کې يې
مداخله کوي يا په هغه خبره کې لاس واچوه.

لاس ماتول :لکه پ او پ په دولت سره بد وو اوس يې له پ څخه ټوپك
واخيسته د هغه لاس يې مات کړ يا په هغه بيلبرې کې د هغه
لاس مات کړه، يو څه تري واخله يا په هغه سبب د پ لاس پ
ته ور مات شو يا د پ لاس پ ور مات که.

لاس منډوني : يو نکري به دا ښيرا وکسو چې ښځينه وو ته کيګي وايي
خدای ﷻ د لاس منډوني کړه يا داچې هغه لاس منډوني شوه
يا درباريان لاس منډوني دي.

لاس منبل : وايي پ په تېرو خبرو يا چارو پسې لاس منبي

لاس منل : لکه دا څلور بول بيخي لاس نه مني، چې لاس ورنيـږدي کړي
پورته پورته لويګي يا دا اشاره چې وايي پلاني ښځه لاس مني
ګوا بدلمني ده، بيا دا خبره داسې هم کېږي چې پ سرۍ د چا
لاس نه مني وښيه چې دده په چارو کې يې ووهي. يا سياسي
ډلې لاس نه مني.

لاس نيول : وايي له بد کارو نور لاس ونيسه يا پ له جنګه لاس نه نيسي
يا د پ لاس څوك نه شي نيولی زورور ده، يا پ له پ د
مرستې لاس نيولې ده لاس نيولې مرسته ورسره کوي.

لاس نيول : وايي پ له پ پيره لاس نيوی کړي وښيه مريد يې ده يا دا چې
وايي لاس نيوی مې نه در پورې کاوه يا لاس نيوی نه در پورې
کوه. يا سياسي او پوځي لاس نيوی چې يو له بله سره کېږي

لاس ورسره ورل : وايي پ لـه پ سـره لاس وري وښيـه هـر وخت مرستـه ور سـره کوي يا لـه پ سره ټول قوم لاس ورى ده، يا يې پـه هغـه بـاره کې لاس ور سـره يـوور.

لاس وندى : د واړه کـوچنـي، د لاسـونو د ښايسـتـه د ښکولـي کولـو لپـاره لـه مريـو څخـه يـو خيـل ډول، ځانـګړي شـيان جـوړوي چـې لاس وندى يا خپړي هم ورتـه وايـي.

لاس ورکول : لکـه پ هـر وخـت و پ تـا لاس ورکـول ګواکـي مرسـتـه ورسـره کوي يا دا چې پ پـه پ مـال خـرڅ کـه د پيسـو لاس پ ورکـه يـا د هغې خبرې لاس پ ورکړي ده چـې داسـې بـه کـوم.

لاس ويوني : وايـي پ ډېر لاس ويونـي سړي ده پـه هـر شـي کې لاس وهـي يـا د خلکو پـه مـال کې لاس وهـي يـا د خلکـو د نـاموس حيـا تويـه وي لاس ويونـى ده يـا پـه ټول قـوم کـې پ لاس ويونـى ده دقـوم پـه چارو خبرو کې لاس وهـي. يـا لاس ويونـي هېوادونـه.

لاس پښي وهل : لکـه پ پـه هغـه بـاره کې ډېر لاسـو پـښې ووهـل هغـه خبره يـا چـاره يې ويرانـه کړه يـا يـې لاس و پـښې ووهـل ځان يـې خـلاص کړ يـا د هغې بيلبړې د حل پـه لار کې لاسو پـښې وهـي.

لاسـو ګريـوان : وايـي پ لـه پ سره تـل لاسـو ګريـوان وي يـا پـه ټول عمـر لـه خـوارۍ سـره لاس ګريـوان ده.

لاسو لستوني : لـه د پ او پ کورونـه سـره نيـږدي دي سـره لاس لسـتوني دي يا هغه ځاى او زمـوږ کلـي سـره لاس لسـتوني ده.

لامده : لکـه پـه پ کـې دومـره لامـده نـه شـتـه چـې هغـه رټ او ګران کـار وکړي، يـا پـه پ کـې دومـره لامـده نـه شته چې قـوم سره انتـپـاخ کړي يـا پـه واکمنو او سـاسـ ـ دلـو کـې دومـره لامـده نـه شتـه چـې د قـوم درويلـي دوريلـي پچـارې او سـتونزې ور خلاصـې کـړي.

لانځکه : وينـي ګوډاګي هـم ورتـه ويـايي ښځي يـې پـاتو هـم بولـي وايـي ځان د لکـه لانځکـه جـوړ کـړى ده يـا پ د پ لانځکـه ده.

لاندي باندي : وايـي د پ او پ هيـڅ لانـدى بـاندى نـه شتـه سره وشـوه يـو پـه بل يـې هيـڅ نـه دي بـاندي.

لاندې کيدل : وايـي پ ډېر لانـدې شـوي يـا لانـدې شـو وښيـه د خلکـو دولـت پرې اوښتـى ده.

لبرزنګ : لکـه پ هسـې خوسـې لبرزنـګ ګرزي يـا لـه هـر څه نـاخبره لبرزنـګ ده.

لبه غړي : وايي پ پخوا پـه وس کـې نـه و، نـن سـبا بـې وسـه ده مـال او دولت نـه لري لبـه غـړي شـوي ده يـا ميړونـه تـه لـري د ميـړو لـه پلوه لبه غـړي ده.

لپړ : پـه دې تکـي کـې لپـړ د ژبـې ځای نيسـي لکـه پلانـي ښځه لـه سړيو سره لپړ وهي يا يې لپړ واهه

لپك : کله چې يو سپي له چا څخـه د خوړو تمـه لـري نـو لکـې ښوروي د لکـې ښوريـدو تـه لپـك وايـي بيـا دا داسـې کيـږي لکـه پ د پ لـه مخې سره ډېر لپـك وواهـه خـو هيـڅ يـې ور وانـه چـول يـا پ تـه دومره لپـك مـه وهـه يـا پ لـه پ سـره لپـك لپـك کيـږي يـا د ټاکنو پـه وخت سياست وال خلکو تـه لپـك وهـي يـا د دربـار لپـك وهونکي لپکـي.

لته : يو متـې بـه دلتـه د لګتـي يـا لغتـي پـه نـوم يـاده کـړو لکـه پ هغـه شي پـه لتـه وواهـه يـا يې هغـه بيلبره پـه لتـه ووهله يـا يـې پـه هغـه بـاره کې لتې ووهلې خو لتـه بيـا د سـيمې ځای هـم نيسـي وايـي پ د پ لتـې ده يـا د هغـې لتـې خلـك بلـې لتـې تـه ولاړ يـا هغـه ځای او هغـه ځای يـوه لتـه ده

لټ : ځينې خلك د تـوپك بيلـوټ تـه لـټ وايـي بيـا دا ټکـي داسـې هـم کـېږي وايـي پـه پـه هـر کـار کـې ډېر لـټ ده يـا پـه دې کـار کـې د لتـې وکـړه يـا خبري تـه لـټ ورکـړه يـا پـه مـې چـې هـر څو لـټ پـه لـټ واړاوو د زړه غوټه يـې راتـه ونـه رنځلـه

لټوکه : وايي پ لـه قومـه کـډه لټوکـه کـړه يـا وتيښتـي لټوکـه شـو يـا پـه ښځه وتښتـه ولـه لټوکـه يـې وکـړه.

لته پير : لکـه کوچنيـان لتـه پير کـوي يـا پـه هغـه بـاره کـې د پ لـه پ سـره لتـه پير تـه زړه کيـږي يـا يـې لتـه پير سـره وکـه يـا د پ او پ پـه لتـه پير کـې پ روغ خلاص شـو. يـا سياسـي لتـه پير منـې اوښتـل راوښتـل

لچر : وايي پ د چانـه منـي لچـر انسـان ده يـا بـې پـروا لچـر ګرزي يـا د پ زوی و ورور لچـر روګډي شـو يـا لچـري مـه کـوه.

لدړي : لکـه هغـه شيـان پـه لـدړو لـدړو ټوك ټـل دي پراتـه دي يـا پـه لـدړو لـدړو راوړه.

لډر : لکـه پ لـه هر څه نـا خبـره بـې پـروا ګرزي لـډر ګرزي يـا بـې خايـه يـا بـې کـاره اډر ګرزي بيـا لـګ ور چينـي ولاړ نـو د ځينـو خلکـو حکومـت تـه هـم د لډرو حکومـت ويلـي شـو.

لړسن : هسې خو لړسن د اوبو خوړنکي حیوان د لړي اوبو ته یا د لړي فاضیله موادو ته وایي خو بیا دا نوم ځینو هغو خلکو ته یادیګي چې خواره ډېر خوري وایي پ لړسن یا هغه لړسن لا په چا کیده. یا لړسني واکمني او اداري.

لروبر : دلته به له بښتني وروسته یوه کنځا هم ولیکو چې وایي لره بره یا لرو بر د داسې کړو وښیه پورته وکته خپل پېه کنځا کې یاد شوه یا د هغې خبرې یا چارې په باره کې ځان لرو بر مه کوه یا پ خان لرو بر کوي

لړي خند : وایي پ لړي خند ده وښیه ډېر خواره خوري یا دغه کورمه ټول لړي خند دي. یا لړي خنده او لړسنه واکمني او اداره.

لړي غم : دا خبره به سبته وي چې ووایو چې یو سړي غم او بل لړي غم یادیګي ګوالي د مال زیانو زوال ته لړي غم وایي لکه لړي غم بنه ده خدای ﷻ د سړي غم نه راوبني.

لړاوه : وایي پ په لاس کې ډېر لړاوو ده چې میلمه دې کړي هر څه لړاوه درته را اخلي وبوله ډېر درته را اخلي یا پ په هر کار کې لړاوه ده هره چاره لړاوه کوي یا هغه شي د څیز، لړاوه را واخله، یا واکمنو او سیاسي دلو د قوم شته لړاوه وروړل یا واخیستله.

لړیکه : لکه د پ رته، سخته، تبه ده لړیکي کوي یا د طبي لړیکه پې راغله یا په پ د نیستي لړیکه راغله یا یې تیره شوه یا پ ته کومه ستونځه یا تاوان ور پیښ شوی و لړکي یې کولې یا د هغې خبرې یا چارې په باره کې لړیکي کوي.

لړل : وایي دا اور پ لړلی ده چې اوس خلک سره وژني یا د قوم په لمنځ کې دا چاره پ ولړله یا پ خلک یه غم سره ولړل یا پ سور په وینو ولړل شو یا پ لړل کوي.

لړلي : دا تکي کله واري د هغه چا لپاره هم یادیږي چې په خپلو چارو کې پیاوړي وي وبوله چې خپلي چارې زر له سره او سامانوي وایي په لړلی سړي یا لړلې ښځه ده د داسې چارو یا خبرو سامانول ده ته هېڅ نه ښکاري بیا کله کله دا قیصه د هغه چا لپاره هم یادیږي چې د خلکو چارې او خبرې ور ویرانوي لکه پ لړلی سړی ده هسې خبرې سره لړي خلک په غم سره ککړوي. یا واکمن او سیاسي دلې لړلي دي هر څه ولړل

**لړمانښ** : کله چې د یسه اوښ او غوایي لړمون پوح (وریت) کړي هغه لمدبل ته لړمانښ وایي بیا داسې یادیږي وایي په ته چې د پ لړمانښ ورکړي لا به یې وخوري یا پوخې لړمانښ د خلکو زړونو وریته کول

**لړمون** : وایي داسې خبرو لړمون راپکې خوړین کړی ده په دې چارو لړمون مه راپکې خوړین وه یا ډېرو غمو د پ لړمون خوړین کړی ده یا پ په پ کې لړمون خوړین کړي ده یا لړمون خوړینې خبرې مه کوه یا د پ ټول کارونه لړمون خوړینې دي.

**لړو په** : کله چې کوچیان په لوښي کې بته وریزي وکاګي بیا په لمنځ کې څرخنې (خوزي) پکې جوړه کړي لمده بل پکې واچوي بیا خینې خلك له څرخنې څخه ورچنې د ځان لور ته لمده بل را اړوي خپلې مخې ته وریزي پرې تانده وي هغه ته لړوپه وایي لکه پ وریزي لړوپه خوري یا یې لړوپه پکې جوړه کړې ده؛ له دې خبرې پرته لړوپه ډېرو وختونو کې یادوي لکه پ په هغه خبره یا چاره کې د ځان لپاره لړوپه جوړه کړه یا په هغه بیلبېره کې لړوپه جوړوي یا پ ډېر بې خرکه پورونه کوي لړوپې وهي یا پ له خبرو لړوپه جوړه کړه یا په هغه باره کې پ د پ لپاره لړوپه جوړه کړه. یا دا ګټې او لړوپه بینا سیاسي ماي او پوخې لړوپې کول او جوړول

**لړې** : هغه باد ته لړي وایي چې ډېرې خاورې ور سره روانې وي یا داسې هم ویل کېږي چې هلته بم وچاوده توره لړه پورته شوه یا کو شي اور اخیستي وو توري لړي پورته کېدې هغې هوا ته هم لړه وایي چې د زمکې په مخ د اورو په څیر خپره وي بیا لړه داسې هم یادېږي لکه نن ټول قوم خپه غمجن ده په وطن لړه پرته ده یا به ډېري داسې لړي تېرې شي. منې خوښي او ښه ورځ به راځي.

**لړي کول** : وایي د پ هېڅ په وس کې نشته دي، وایي چې زه به دا وکړم ها به وکړم هسې لړي کوي یا پ لړې کوي وښیه دروغ وایي

**لړي لړي** : دا ټکي د هغه چا په باره کې یادیږي چې په اخلاقو ناست او ولاړ کې یې توپیر او بیل والی راځي لکه پ لړي لړي ده یوه شیبه یو څه کوي بله شیبه بل څه کوي، لړي لړي سړي یا ښځه ده یوار یو څه وایي بل وار بل څه وایي، یا په پ کله

وارې لـړه راځي لـړي لـړي ده يـا دا چـې پـه پ د نـاروغي يـوه لـړه راځي، يا لـړي لـړي سياسـي چلنـد.

لښته : وايـي د پ ډېره سـپېره لښتـه وه چـې د چا پـه ميـګو او وزو پسـې پـه پسـې شوه هغـه بـه يـې تـرې خـلاص وزګار کـړ، داسـې سـپېره لښتـه د بـل چا نـه وه لکـه د پ يـوه خـبره چـې رانـه پـاتې نـه شـي هغـه دا ده يـو شپه (شـپون) چـې د چـا پـه رمـه پسـې وي بيـا چـې پـه هغـه وخـت کـې پـه هغـه کـور کـې هلـك زېږېـږي، کـړاځي، پيـدا شـي هغـه شـپانه تـه وري يـا وري ورکـوي لکـه د پ ښـپانه پـه لښتـه کـې د پ زوی پيـدا شـو يـا دا چـې وايـي پ د چـا لښتـه نـه منـي، يـا دغـه قـانوني مـاده يـوه سياسـي لښتـه بلـل کـېږي.

لښکر : لکـه پـه قومونـو کـې چيغـې ګډې دي لښـکرې توليـګي يـا پلانـي قـوم پـه پ لښـکر وروکـړ ورويوسـت يـا پـه هغـه چـاره کـې پ د لښکر پـه سر کې منډې وهلې يا دا چـې وايـي پـه نـه د ابـا لښـکر مـاتوي نـه د ادې لښـکر مـاتوي هـر چـا تـه ښه ښه وايـي يـا پ لا څوك ده نـه د ابـا لښـکر ده نـه د ادې لښـکر ده يـا دا چـې وايـي دا د ګودر خـبرې نـه دي د لښـکر خـبرې دي يـا پـه د لښـکر سـرې نـه ده د تلبر سرې ده لښکر تـه يـې مـه غـواړه تلـبر تـه يـې غـواړه يـا پ او پ د پ لښـکر ده، يـا سياسـي لښکـر.

لغړ : وايـي پ بـې ميـړو ده لغـړ ده يـا بـې پيسـو ده لغـړ ده.

لغړ زنګ : لکـه پ هېـڅ نـه لـري لغـړ زنـګ ده يـا بـې پـروا لغـړزنـګ ګرزي يـا پ لـه پ سره لغـړ زنـګ ګرزي، يـا لغـړ زنـګ حکومتونـه.

لغړ مست : وايـي پ هيـڅ نـه لـري خـو مسـت ګرزي لغـړ مسـت ده يـا د هيـچـا پـروا نـه لـري لغـړ مسـت ګرزي.

لغړ ګيري : دا نـوم کلـه کلـه ښځـو تـه ياديـږي لکـه دا خـبره چـې وايـي خـدای چـې دې د لغړګيريـو لـه شـره و سـاته يـا د خـدای دې د لغړګيريـو لـه بې شرمی وساته.

لغی : لکـه پ هلتـه اوسـي اوښـان بـوده روان کـړي وو مـې نـه ګټل چـې څو لغـي وو يـا پـه هم دوه لغـي لـري.

لکړاو : وايـي پ هـم د خلکـو پـه لمنـځ کـې لکـړ او لکـړاو کيـده ويـنـې ډېنګ ډينګ يا لـوړ لـوړ کـېده.

لکړه : هغـه د لاس لرګي تـه لکـړه وايـي چې د مـا بنده لـه سـره لـګ جـګه وي وايـي پ د خلکـو پـه لمنـځ کـې لکـړه لکـړه کيـده ګوا ډېر جـګ و

لکړه پسې اخيستل   وايي پ په پ پسې لکړه اخيستې ده په کلي کې يې نه پريکوي يا په د خبره يې لکړي پسې اخيستي دي. يا واکمنو او سياست والو پسې لکړې اخيستل

لکړه وهل   وايي پ ټول کال لکړه ووهله وشوه کرده درويزه يې وکړه يا پ خواري کوي لکړه هم ورسره وهي

لکړې ترې لاندې کول: کله چې يو بوده د جګيدو وس ونه لري نو بيا لکړې ترې لاندې کوي د لکړو په زور يې پورته کوي، بيا دا خبره داسې کيږي وايي پ جګيدی نه شي لکړې ترې لاندې کړي چې پورته شي يا پ په هغه باره کې د لکړو شو ما که لګ وريا ولري ولاړ شو نو ويلی شو چې د پ حکومت د لکړو شو يا د پ له لاسه يا له هغه امله د لکړو شو. يا اقتصاد د لکړو لکړې ترې لاندې کول

لك و بوك   لکه پ ته په هر خای کې دوښمن لك و بوك کيږي يا په پرديو ښخو ته لك و بوك کيګي يا په هغه باره کې خلك ټول سره لك و بوك شو. يا واکمن او سياسي ډلې د ويرې يا خوښې له امله لك و بوك کيدل

لك و څك   وايي پ له دوښمنه ويريږي هر وخت لك و څك کيګي يا دا خبره شوي ده ټول خلك لك و څك دي يا له هغه امله لك و څك دي، يا حکومتونه او هېوادونه لك و څك دي.

لکه انار   وايي پ داسې ډك ده لکه انار وبوله د کمالاتو چينتن ده يا پ له خدای څخه د برخې څښتن ده لکه انار داسې ډك ده.

لکه اور چې مخته ور وشيندي : وايي په پ هغه خبره داسې بده ولګيده لکه اور دي چې مخ ته ور وشنيده

لکه اوښ دوه جايه حلال : وايي دا خبره به هلته هم راباندي ونه منې لکه اوښ چې دوه جايه مې حلال کړي يا په يې لکه اوښ دوه خايه حلال کړ منې دوه خايه تاوان يې ور واړاوه

لکه بنګالي لوښي   وايي پ څه سړي ده يا څه ښځه ده داسې شي ده لکه بنګالي لوښي. يا بنګالي لوښي سياست وال

لکه پويه   وايي پ داسې سړي ده لکه پويه هر خای ته لار پيدا کولی شي يا پ لکه پويه داسې شي ده له هغه سره يوه نه کيګي

لکه په لوټه چې اوبه تويه کړي : وايي پ ته د چې هغه خبره وکړه لکه په لوټه چې اوبه تويه کړي داسې سره وشړيده يا له هغې چارې سره پ داسې شو لکه په لوټه چې اوبه تويه کړي

لکه ترخې مولۍ : لکه هلته ډېر خلك مړه شول خلك داسې پراته وو لکه
ترخې مولۍ یا دا د زور خبره چې وایې داسې به مو تویه کړه
لکه ترخې مولۍ وبنیه داسې به مو د ځمکې په مخ ولوه وم.
لکه په جوارې کې ګوته : وایې دغې خبرې داسې زور راکه لکه په جوارې
کې چې ګوته ووهې (چوخ کړې) یا دا خبره مه راته کوه لکه
په جوارې کې ګوته په زړه مه رامنده په دې باره کې یوه وریته
کیسه شته.
لکه خواره غوښه : وایې په داخبره وکړه په یې کلك په خوله پورې لکه
خواره غوښه ورونښت یا په لکه خواره غوښه په نه خبره ده هر
چا په خوله پورې نیښتې وې لالکه خواره غوښه په خوله
پورې مه را نښله، یا د واکمنو په خوله پورې لکه خواره
غوښه نښت.
لکه د اسمان اوره : لومړې دا ښیرا چې وایې خدای چې دې د اسمان اوره
کړه یا داسې هم وایې پ به خدای چې د اسمان اوره کړې. یا
واکمن غوارې چې هغه سیاسې ډله د اسمان اوره کړې.
لکه د اودس ماتې لوټه : وایې داسې نه راته ښکارې لکه د اودس ماتې لوټه
یا پ – پ داسې نه بولې لکه د اودس ماتې لوټه یا پ د پ
د اودس ماتې لوټه نه ده.
لکه د اومو شودو اورګك : وایې پلانې ښځه داسې تنکۍ پنکۍ ده لکه د
اومو شودو اورګك.
لکه د بټ نینه : لکه کراچۍ د کوچې، په اور اوښ داسې وترکېده وژړل
لکه د بټ نینه یا داسې تویك وچلیده ډرونه وشول لکه د بټ
نینې یا په هغه خبره ب داسې پورته پورته ولویده لکه د بټ
نینه.
لکه د پښې نوك : وایې پ سړی یا ښځه داسې تنکۍ پنکۍ ده لکه د پښې
نوك، پښې یو بوتی ده. د پانې بیخ د پښې نوك شو.
لکه د توت پانې : وایې پ داسې ریګدیده لکه د توت پانې یا ولې
پرېکیګې لکه د توت پانې یا له غوصې پریګده لکه د توت
پانې، یا واکمن او سیاست وال لکه د توت پانه داسې
ریګدې.
لکه د توس بنه : وایې پ سړی یا پلانۍ ښځه داسې تازه وه لکه د توس بنه.
یا واکمن د توس بنه خلېږي.

لکه د تیټکي لینډي غیشي: لکه پ چېرته ولاړ داسې تونډ ولاړ لکه د تېنګي لنډي غیشي یا دا څو ورځې کیږي چې په داسې ګرزي لکه د تینګي لینډي غیشي یا د هغه امله داسې ولاړ لکه د تینګي لنډي غیشي.

لکه د چرګ لکې: وایي پ څه سړی ده هغه د چرګ لکه ده چې زور پرې راشي بل لورته کوږ شي ګوا له اخلاقي پلوه د تینګي نه ده د چرګ لکې له لګ باد سره کږه وي.

لکه د سوکول میږګ: وایي پ - ب، داسې وتاړه لکه د سوکول میږګ یا په یوه خبره په داسې درته وتړي لکه د سوکول میږګ یا یې په هغه باره کې داسې وتاړه لکه د سوکول میږګ. یا د هغې مادي له مخې واکمن لکه د سوکول میږګي وتړل شول.

لکه د سرګړي لمبه: وایي پ ډېر غوصه ناک ده داسې شي ده لکه د سرګړي لمبه یا په کین نه ګرزوي یو: لمبه یې ده لکه سرګړي.

لکه د غله له لاسه: لکه مال یې داسې ارزانه واخیست لکه د غله له لاسه یا داشي ډېر ارزانه ده د غله له لاسه ده.

لکه د غوایي لاندي باندي غابن: وایي دا چاره به پ، ضرور کوي داسې به یې کوي لکه د غوایي لاندي باندي غابن یا دا خبره به داسې مني لکه د غوایي لاندي باندي غابن.

لکه د تس خوږګي کونه: وایي پ بې خایه بې غګیګي لکه د تس خوږګي کونه یا هره ګړي غګیګي لکه د تس خوږګي کونه.

لکه سویې: لکه پ له هغه غمه وریا وتښتیده اوس خپلې پښې چپه وي لکه سویې یا که له دي خبري خلاص وزګار شو خپلې پښې به چپه (ښوکلوي) لکه سوي یا پ په پیچومي منډه به کوي لکه سویې یا لکه په رنو سترګو ویده وي لکه سویې یا پ، تښه وتلي وي لکه سویې.

لکه سیرلي په خپله خوله کې متیازي کول: وایي پ لکه سیرلي په خپله خوله کې متیازي کوي ګواکي بې لوظي کوي خپله خوله بې لمازه کوي یا یې په هغه باره کې په خپله خوله کې متیازي وکړي لکه سیرلي.

لکه غومبسو چیچلي: وایي پ په هغه چاره یا خبره ډیر په غوصه وو داسې ښکاریده لکه غومبسو چیچلي یا له هغه امله داسې شو لکه غومبسو چیچلي.

لکه (غ) ته نیولي لوټه: وايي پ – پ داسې نه بولي لکه (غ) ته نیولي لوټه. یا واکمن سیاسي ډلې داسې نه بولي...

لکه کاغ وايي پ هرې چارې ته لکه کاغ داسې بیدار ده یا داسې بیدار اوسه لکه کاغ.

لکه کونګ: وايي کونګ ټوله شپه الله الله ناري وهي چې سهر شي وايي خدای چې یو ده که دوه یا پ ټوله شپه الله الله نارې وهي سهر وايي خدای یو ده که دوه وايي لکه کونګ سترګې خو به نه رانه کاګي یا په هغه باره کې له پ تاوولې لکه کونګ به مینځ کې مو را ایسار کړي ده یا پ ننه وتلي وي لکه کونګ.

لکه ګیدړه: وايي خلك غلط وي خلکو ته لکی اچوي لکه ګیدړه چې له غاره یې را باسي. په پ پسې دوګ اچولی لکه ګیدړه.

لکه لوخه: وايي پ داسې سړي ده لکه لوخه د باد توان نه لري ګوا په هره یوه کې ناتوانه ده. یا لکه لوخه واکمنې.

لکه لګیدلي اوبښ: وايي په پ بد حال ده د بد حالي له امله خوسې خوسي کیګي یا په هغه باره کې هر چا ته کغیګي له لګیدلي اوبښ یا د پ له لاسه کغیګي لکه لګیدلي اوبښ.

لکه لنډي چنچه: وايي پ لنډي چنچنه ده د دیګي لمنځ ته لویګي وشوه د چاترې یا خبرې لمنځ ته خان ور اچوي یا لنډي چنچه له ځانه مه جوړوه چې د کاسې منځ ته لویګي.

لکه لیونـي سپي   وایي په هر لـور خولـه اچوي لکـه لېوني سپي وبولـه هر چا تـه زلـل رسوي يـا لېونـی سپی لـه خانـه مـه جوړوه، يـا سیاسـي ډلـې وایـي چې واکمن خولـې اچـوي

لکـه ماتــه زرنــده   وایـي پ تولــه ورځ چيـتې وغيـګېده لکـه ماتـه زرنـده يـا هـر ساعت ګډ يې لکه ماتـه زرنـده يـا بـې خایـه مـه غـاګه لکـه ماتـه زرنده، يـا هغوی مـاتې زرنـدي

لکه مشکنۍ  دا هـم لکـه د لوخـي او د چـرګ د لکـی پـه څېر یادیـږي وایــي پ لکـه مشـکنۍ چې لـه کومـه لـوري بـاد پـرې راشـي دي بـل لـور تـه زنګيـګي ينــې چــې لــه کومــه لــوري زور پــرې راشـي د زور پــه وړاندي تشــي تيګیـدی

لکه مې پـه يوه لوري غښت  وایي لـه هغـه قوم سره چې اوتـه بوتـه شـي تول ډر تـه يــو لــوري شـي تول پـه يـوه لـوري رغـږي لکـه مـی يـا پـه هغـه خبره کې تول پـه يوه لـوري ورغـښت لکـه مې يا پـه هغـه بـاره کـې تول پـه يوه لوري ورغـښت کلـه مـې

کله نسوار  وایـي پ د پ يـو نسـوار نـه ده داسـې نـه ورتـه ښکـاري لکـه يـو نوسـوار

لکې پسې جوړول  لکه دا خبره داسې نه وه خلکو لکې پسې جوړه کړه يـا پـه پ پسې خلکو لکې جـوړه کـړه

لکه جنډه     وایـي پ لکـې جنـډه درولـې ده يـا کـه پ لـه لـوګې مـري د تـا د ګیـګدي پـه غـوکې کې هم لکـې جنـډه نـه ده ولاړه

لکې شغرول  لکه پـه هغـه خبره کـې پ - پ تـه لکـې وشـغه ولـه، وشـوه د تمـې نښې يې ورتـه وریتـي کړي، يـا درباريـان لکـې شـخه وي

لکې غوړول   وابي پ د پ لکـې ورغـوړه کـړه هغـه کـار يې پـرې وکـې يـا د پ لکـې ورغوړه کـړه پ پـرې مـر کـه يـا د هغـې خبرې يـا چـارې پـه بـاره کـې پ د پ لکـې ورغـوړي

لکـي ورګمنـخه ول  لکـه پ د پ لکـې ګمنـخه ول پ پـرې وژنـي يـا د پ لکـې خود ډېره ګمنځ کړه خو هېڅ يې ونـه کـړه

لکـې يـې اوګده  وایـي د دې چـارې لکـې ډېره اوګده ده

لګاو   وايـي هغـه شـي تـه هـېڅ لـګاو نـه کيـګي ونښـه انـدازه نـه ورتـه کيـګي يـا دومـره خلـك وو چـې لـګاو نـه ورتـه کيـده يـا د پ کـاروتو تـه لګاو نـه کيـګي

لګرين   وايـي د پ لګريـن لـوبني وو يـا د پ لګريـن بـدن ده وښيـه بـې غـوښي لـوی دراتـه هـډوکي يـې دي

**لګړي**: لکه پلانی ښځي له سړي سره لګړي ويلي ښځي ته پکار نه دي چې له سړيو سره لګړي ووييي. يا دا سياسي لګړي داوې دنګلې

**لګن**: وايي پ که چا ته ډوډۍ نه ده ورکړې پ هم لاړې ته لګن ته ده ايستلي يا دا د لګنو خلك دي مېږه يې لګن ورته ډك کړه يا که ډوډۍ ورکوي پ به وهم لګن نه سوري کوي

**لګه وني**: لګه وني د خسو هغې برخې ته وايي چې اور بلوونکي لومړي اور پرې بلوي وايي په هغه باره کې خواور پ بل که خو لګه وتي د پ له لاسه وو يا واکمنو هغه خبره لګونې يا پته‌و بکر کړه.

**للوکه**: لکه پ يې للوکه که وشوه پسې وايي خيسته يا للوکه به د کړي پا يې پ په هغه باره کې للوکه کړ. يا سياسي للوکه او منډه.

**للوول**: وايي پ له پ سره ډېر للوول کيږي ګوالي د خوشامند حرکات ورته کوي يا له پ سره دومره مه للېږه يا په له الواد سره ډېر ليږي يا پ له لويو خلکو سره للوول کيږي. يا واکمن او سياسي ډلې سره للول کېږي يا درباريان له دربار سره للول کېږي

**لله ول**: لکه پ هره شپه پيسې شماري (ګني) لله وي يې منې خلکو ته يې ښکاره وي يا په هغه بيلېږه کې پ – پ ته پيسې ولله ولې.

**لمايي**: وايي پ نن ډېر لمايي کاوو وبوله ښه ښکارېده يا لمايي کوي ښه ښکاري.

**لمبه ول**: وايي پ پردۍ ښځ لمبه وي وښيه بدلمني ورسره کوي يا مړي يا ژوندي لامبي

**لمده خولي**: وايي پ هر وخت داسې خبرې کوي چې خلك خوشحاله کوي لمده خولي ده يا په هغه باره کې لمده خولي وغګيده يا پ لمده خولې ده چې دي راغي دده له راتګ سره بران وشو. يا واکمن او سياست وال لمده خولي وي، لمندې خبرې کوي.

**لمدې غورې**: وايي پ له هغه خايه لمدې غورې راوړې وې يا په ډېرې لمدې غورې کوي منې داسې خبرې کوي چې سړي پرې خوښېږي.

لمده خوله ویل : وایي پ لـه هغـو خبرو ډېره لمـده خولـه ویلـه یـا یـې لـه هغـې سیمې او لوري څه لمده خوله ویلـه یـا پ لـه پ څخـه لمـده خولـه ویې یا پ د هغې چارې په باره کې لمده خولـه وویلـه.

لمر کې اچول : وایي پ په پ کې لمر واچاوه هره یـوه یـې ورتـه وریتـه (جوتـه) شوه یا پلانـی ښځې پـه سـرې کـې لمـر اچولـی پـرې پوهـه ده چـې دومره سرې یې یا هغه قوم په هغه باره کې په دې قـوم کـې لمـر اچولي، یـا واکمنو پـه خپـل ولـس کـې لمـر واچاوه وې پـېژنـده.

لمن : وایي پ د پ لمـن نیولـې ده، یـا د بـد لمـن مـه نیسـه.

لمن اوګده : لکـه ددې قـوم لمـن اوګده ده ډېرې بـد رنـګي بدرنـګي پیـښېې کـې وشـې بیـا یـې پټې کـړې ینـي لمـن یـې اوګده ده امسـایه پـه کـې پټیـګي.

لمن پرې کته کول : وایي پ ته بدرنګه پیـښه ور وشـوه خـو پ لمـن پـرې راکتـه کړه یا په دوست باندې سرې لمن راکتـه کوي یـا پ پـه خپلـه پـه خان لمـن راکتـه کـړه.

لمن په شاور اړول : لکه پ ته دا خبره وپېښه شوه قوم لمـن پـرې راکتـه کـړه پ لمن په شاور واړولـه ګواري هغـه عیب یـې خلکـو تـه ښکـاره کـړ، یـا د اداري لمـن پورتـه کـول.

لمن تـړې تړول : لکه پ بدو سـړی ده پ لمـن تـرې تړولـه کـړه، یـا لـه دې چـارې پ لمن تړله وي چې څاڅکـي یـې ور وانـه لـوزي یـا پـه هغـه بـاره کې پ لـه پ څخه لمـن تړلـوي.

لمـن دې سـر پـه څیـرې کـې ورغـوټه کـول : وایـي پ لـګو ډېر لـوڅ شـوي وو ګوا بدرنګه ورپیـښه وه، په ښه بې پردې که لمـن یـې د سـر پـه څیـرې کـې ورغـوټه کـړه یـا دا ښیـرا چـې وایـي لمـن دې د سـر پـه څیـرې کـې غـوټه شـه.

لمن ګرزول : لکه پ په هغه بیلبرېه کې لمن ګرزوي هـر چـا تـه بیـل بیـل سـوال کـوي یـا یـې پـه هغـه بـاره کـې ډېره لمـن وګرزولـه بیـا دا خـبره داسـې هـم کیـګي وایـي پـه لمـن ګرزول لـه خلکـو د مرسـتې غوښتنـه کـوي یـا یـې ډېره لمـن وګرزولـه خـو چـای چیشـي پکـې ور وانـه چـول، یـا واکمـن او سیاسـتوال لمـن ګزوي.

لمن لنډه : لکـه د هغـه قـوم لمـن لنـډه ده چـې منګـي بدرنـګه خـبره پکـې پیدا شي بیا خلـك خـبروي یـا د دې قـوم لمـن لنـډه ده څوك نشـي پ کې پټه ولـی

لمن ورته اچول : لکه پ - پ ته سوال وکه لمن یې ورته واچوله چې دا ګار مه کوه یا په ته لمن واچوله چې دولت پ کې واچوه.

لمن ورته غوړول : وایي پ ته یې لمن وغوړه وله چې له بدو کارو لاس واخله یا سیاست او د لمنې غوړول.

لم ور غوټه کول : وایي ټول قوم پ وساره لم یې ور غوټه کړ ورته وویل چې ورځه لم دي غوټه.

لندي زن : لکه پ لندي زن پرارزلې شوي ده یا پ ښه لندي زن پوهه کړه یا په هغه باره کې لاندي زن وغګیده.

لنډ پاري : وایي پ نه ملګرتیا له چا سره کول شي نه دوستي له ځنډه در سره کولی شي ډېر لنډ پاري ده هر څه لنډ درسره پرې کوي لنډ پاري ده، یا د واکمنو او سیاستوالو تر منځ لنډپاري او لنډې منډې.

لنډ څرخیدل : لکه پ په خپل قوم کې بدي وکړه لنډ وڅرخېده.

لنډوبوچ : لکه دا شی دې پرې کړ لنډو بوچ دې پرې کړ یا پ سړي یا پلان برخه لنډو بوچ دی لنډې بوچې خبرې دي.

لنډون : هسې خو دا خبره داسې هم یادیګي وایي هغه کار ته لنډول ورکړه یا هغه خبره یا چاره لنډون نه کوي یا لاړ لنډون نه کوي یا هغې بیلبړي ته په لنډون ورکه خو دا ټکی به هلته یادیده کله به چې یو چا خورو لور ورکړه نو لومړي ورځ به یې د شرم یا له دې وجهې ولور نه معلوماوو چې انسان نه قیمت کیګي بیا به چې کله د واده وخت را نیږدې شو د خوسراني له لوري به سپین ګیري او تورګیري څو کسان د جلګې د پلار کورته ورغله یو مناسب ولور به یې و ټاکه هغه ته کوچیان لنډون وایي لکه پ او پ لنډون سره وکه یا د پ د خورو لور لنډون وشو یا لنډون کله سره کوي؟

لنډه غر : لکه پ د پ لنډه غر ده یا پ لنډه غر لنډه غر کیګي لنډه غر یې له ځانه جوړ کړي ده یا هسې خوسې لنډه‌غر سړی ده یا هلته د کلي ټول لنډه غر سره ټول شوي وه، یا د لنډه غرو واکمنې او سیاست.

لنډه کو : لکه د کډو لاړ اوګده وه پ په لنډه کو ورسره ته یا د دې خبرې په باره کې به دې پ په لنډه کو پوهه کړي.

لنډي او ګډي : وایي پ له پ سره ډېري لنډې او ګډې وویلې یا پ لنډې اوګډې خبرې ډېر زده کړي دي.

لنډۍ بوچۍ: وایي پ خوسی لنډۍ بوچۍ سړی یا ښځه ده یا خبرې یې لنډې بوچې دي

لنډې سك وایي پ د پ لنډې سك ده یا پ هر ځای لنډې سك لنډې سك ګرزي.

لنډې لیچې: وایي په هغه باره کې لنډې لیچې پ له ورانه لاندې که ونیسه ګټه یې له ورانه لاندې کړه یا لنډې لیچې پ خوښ که یا لنډې لیچې د تا یا پ لنډې لیچې پ ته ورکوي.

لنډك وایي پ له هغه شي څخه لنډك واهه ګرد تري تاویده یا پ له پ څخه لنډك واهه ګرد تري تاویده یا د پ څه په زړه کې ولنډك یې واهه. یا پ سړي پلانـي راڅخه لنډك وایه ګرد تري تاویده، یا درباریان له دربار څخه لنډك وهي.

لو لکه کومه کرنه یا ښه و بد چې د پ پلار کړي دي هغه به په ده لو شي یا هغه خبرې یا چارې ټولې په پ لو شوې یا به پرې لو شي. یا د تنظیمي مشرانو کرنه او لو کول یا نه کول...

لواړ غټ جوار یا غنم چې د خوراك له پاره په دیګي یا بل لوښي کې په اوبو کې وایشول شي هغه ته لواړ وایي دا خبره داسې هم کېږي لکه پ لواړ لواړ وغګیده یا یې د هغې خبرې یا چارې په باره کې لواړ لواړ پوهه که یا په بله لهجه دا کار پ لواړ کړي نه ده یا لواړ به یې ونه کړم. یا پ لواړ سړی یا ښځه ده.

لوبه ول هسې خو دا خبره داسې هم کېږي چې پ خپل الواد لوبه وي خو بیا دا ټکي داسې هم کېږي چې پ - پ لوباوه اوس خلك پرې وژني یا پ مه راته لوبه وه ډېر دې راته ولوباوه یا مې د پ له پاره لوبه وي یا دا ویل چې د الواد په باره کې ویل کیږي وایي چې اوروي لوبه وه یې چې لوی (ستر) شي ګوانښوه یې یا سیاسي ډله او قضایه لوبه ول.

لوټه لکه هلته خلك لوټه لوټه کیده چې د څه له پاره سره ټول شوي وو یا په د بیلبړه سره لوټه لوټه کېږي یا لوټه خلك راغله لوټه جګ شوه، یا هر څه په یوځای لوټه.

لوټ په اوبو کې کېښودل وایي پ - پ ته لوټه په اوبو کې کېښوده هغه ته وایي چې یې پورې وزه یا په هغه باره کې لوټه په اوبو کې ګدي ځان یې پورې باسي.



ACKU

لوښې: لکه هغه کلا یې په توپ وویشته لوټې لوټې یې توټه کړه یا د پ لوټه هواره یا رنګه شوه، منې مې شو

لوغ: لکه په هغه سیمه کې ګیا نه شته وطن د بر لوغ ده یا تیګې نشته وطن لوغ ده یا دا خبره چې وایي د لوغ له اوبو ډار نه شته، یا هر څه لوغول، یا د لوغ سیاسي چلند خاوند

لوځه کونه: لکه په هغه بیلبره کې قوم پ لوغ کونه ودراوه وبنیه داسې کړه یې ور سره وکړه چې دده د شرم سبب شوه یا داسې بدې چارې مه کوه سبا به لوځه کونه ولاړ یې

لوڅې پوڅې: لکه د پ په نس یا په زړه د مرد ده لوڅې پوڅې ګوي یا پ ـ پ څملاوه تری لاندې یې لوڅې لوڅې کولې یا پ په هغه خبره کې لوڅې پوڅې کوي یا په هغه باره کې لوڅې پوڅې کوي، یا لوڅې پوڅې الوان بلون کورغوښې ضدې کرارې اوار توري دي او ډېره پراختیا لري

لوڅې خبرې: وایې پ لوڅې خبرې وکړې د هغه خبرې تل لوڅې وې یا دا خبره مه لوڅه وه.

لور په لوټه اچول: یو متې به دا خبره وګورو چې وایې پ لوګرې چې رضا نه وي لور په لوټه اچوي یا تیره کوي یا دا چې پ په هغه بیلبره کې لور په لوټه اچوي، ځان پښن وي

لورو وانښه: وایې پ د خدای ﷻ ورته لور کړې پ د خدای ج ورته وانښه کړې یا پ لور شوي

لورېدل: لکه دا هستې په پ د چا نه لورېده یا په پ د چا دومره سپکه نه لوریګې یا پ ته یې څه ورولوریده یا داشې هغه درولورول یا له لورېښې بې ورکه

لوری لودن: لکه مال یې ورك ده لوری لودن یې نشته یا په ورك ده لوری لودن یې نه ده څرګند یا د هغې چارې یا خبرې په باره کې پ له پ څخه لوری لودن ورك که بې خوابه او بې وسه شو یا په وډار شو لوری لودن تري ورك شو یا دا ښیرا چې وایې لوری لودن دې ورك شه.

لوړې: لکه هغه زمکه اوبو لوړې لوړې کړې ده یا په هغه خبره یا چاره کې لوړې پیدا شوي یا دا چې وایي زمکه چې خواره شي لوړې کوي میړه چې خوار شي دعوې کوي

لوړیغې: د میګو را اړونکې (رأماتوونکي) شپه چې خپل ډانګ غځنږن و سړې هغه شړلو نه لوړیغې وایې یا لوړیغې داسې

هم یادېږي لکه ې د قوم په لمنځ کې لوړيغي وشړلي وبوله داسې کړه يې د قوم په لمنځ کې وکړه چې يو له بله يې سره بيل کړه يا په دي بيلړه کې د قوم په لمنځ کې لوړيغي ې وسړله يا خلکو خبرې کولې ې هم لوړيغي پکې وشړله يا په هر کار کې لوړيغي مه وله، يا سياسي يا قانون لوړيغي.

**لوړي ګيتي** : وايي ې په پردی دونیاو دولت کې دېري لوړې ګیتي وويلې يا يې په هغه جګړه يا بيليره کې لوړې ګيتي ووهلي يا تولـه ورځ هسې بيکاره ګډرزي لوړې ګيتي وهي.

**لوزي** : کله چې مزرې د پړي د غښتلو لپاره په کار کوي د پانې د ښو ايستو لپاره د نوك په واسطه د پانې له يوې او بلې ژی ځه لګ لګ بيلوي هغه ته لوزي وايي بيا لوزي داسې هم يادېږي لکه ې په لرګي مال وواهه لرګی يې پرې مات کړ پرې لوزي لوزي يې کړ يا داشی لوزي لوزي شو يا ډم په ډول لرګي لوزي لوزي کړ، يا لوزي لوزي سياسي ډلې يا لينې لينې قوم يا دا ښهرا چې وايي هيلې د نيلې شه.

**لوښي** : د پښتنو د کورمې او لور په لور سيمې ته په چې له بله ځايه بل ځايګه ځوك راتله د را غلو يې سړي سر او مال به په امن کې نه وو. بيا به بل ځايګه سړي د برخې (توحفـي) په ډول د سيمي استوګن ته ځه ورکول هغې برخې (توحفـي) ته به يې لوښي ويل د خبرو په لمنځ کې لوښي داسې يادول لکه ې په ې پوري لوښي اچولې ده چې لوښې وانه چوي دلته د شپه نه تيريګې لوښي واچوه.

**لوښي کپړې** : وايي ې لوښي کپړې بار کړه ې به هم لوښي کپړې درنه بار کړي، لوښي کودي، لوښي کپړې ينې وکاره.

**لووړ** : دلته به دا خبري يادي کړو چې وايي خبر کوه د خدایﷻ لپاره لووړوهه د ورور لپاره يا دا چې سل دوړ د يوه لووړ يا په ې پسې خلکو لووړ را واخيستـه په لووړو يې کـه يا چا خو لووړ نه دی در پسې اخيستی.

**لوغځه** : کله چې د مېګو او وزو د شودو کولو په وخت کې يو ځوك لنګه نه لري په وچه کاسه وي نو د ډېر مال ځښتن ځو پسه مال د شودو لپاره ورکوي چې کله يې د شودو وخت تېر شي او ژوندي پاتې شي بيا يې بيرته په خپل څښتن وسپاري دغسې لنګې ته لوغځه وايي لکه ې - ې ته خو ميګي يا

ACKU

وزي (غیلی) لوغخه ورکړي یا دا چې پ لښکه یا لوغخه نه لري یا دا چې په هغه باره کې پ د پ لوغخه ده یا د پ هغه لوغخه هم وچه شوه وښیه له چا یې چې ګټه کوله هغه لوغخه پرې وچه شوه

**لوغړك** کله چې شین (تاند) لرګي پرې شي هغه ته لوغړك وایي بیا دا تکي خینې وګړو ته هم کېږي لکه پ لوغړك لوغړك کېګي هېڅ چاره نه کوي یا تر څو پورې به لوغړك لوغړك کېګي

**لوکړ** لکه هلته پس ګیرې جګ لوکړ سړي وو یا پ سپین ګیرې لوکړ لوکړ کېګي

**لوګړ** هغه سړي ته لوګړ وایي چې ښځه وتښتي وي ښځه تښګړه سړي لوګړ شو، وبوله لوګ کار یې وکړ

**لوګه** هسې خو دا کیسه په کره کې ډېره یاب ده خو کوچیان یې هم هره ګینټه په خوله کې اړوي لکه دا ښیرا چې وایي خدای ﷻ د میله لوګ کړه یني څوك زمن لمسي د په میله پاتې مه شه یا د پ میله ل هغه المه یا د پ له لاسه لوګ شوه یا د مېړو له لوري د پ میله لوګ ده یا د پ کډه تللي میله یې لوګ پرته ده او کره بیا وایي لوګي چارې یا لوګې خبرې

**لوګه بوګه** وابي هغه کار مې پوره خلاص نه که، لوګه بوګه مې وکه یا لوګه بوګه مې که، یا هغه بېلبېره لوګه بوګه شود

**لولپه** لکه د پ کوډۍ اور واخیست، لولپه شوه. یا پ به ښېراپ درته وکړي لولپه به دې کړي

**لولی ښځه** وبوله بې حیا کنجرې کچنی ښځې ته لولی وایي، بیا لولی داسې یادوي. وایي پ لولی ښځه ده. په هېڅ نه شرمېږي، یا په هغه باره کې یې لولی ښځه له خانه جوړه کړې ده، یا پلانی ښځه لولی بې شرمه دد

**لومه** لکه پ پ نه لومه اچولې دد. چې کله به یې پکې بند کړي، یا پ یې په لومه کې بند کړ. یا په داسې لومه کې نه بندېږي. یا پ یا د پ په لومه کې به هم یوه ورځ ونښلي. یا پ دا خبر د په تې کولی نپه خوله کې نې ولمه ده، که په خوله کې بې بلومه نه وای، بیا به یې خامخا څه ویلي وای، یا پ په سخته لومه کې نښتی ده، خدای دې څوك په داسې لومه کې نه نښلوي. یا د پ ډېر بده ښځه ده ګنده لومه ده. یا

د قانون هغه ماده د هغه د خولي لومه ده يا سياسي او اقتصادي لومې

لونډه — هغه چا ته لونډ ويل کېږي چې ښځې يې ښځه نه وي کړې، بيا دا تکي داسې هم ويل کېږي، که چېرې يوې بدلمنې ښځې ته پېيغور ورکول کېږيو وايي د پلاني ډېر لونډان دي يا دا چې دغه کور د لونډانو کور ده، يو وخې بل نتوزي بيا که چېرته له يوه ژنکې ځخه د واده غوښتلو نښې ښکاره شي، وشوه يا کار سم نه کوي، يا خبره سمه نه مني او داسې نور نو هغه ته دا تکي داسې ياديږي چې پ کار نه کوي لونډي کوي، يا لونډي مه کوه د لونډی وخت دې لا پاتې ده، يا دا چې په له پلارپه په لونډو بيل شو د بدلمنو نارينه وو اداري ته د لونډانو اداره ويلی شو.

لونې — کله چې د مزري له خرانګې سره لوزي ښېلې شي هغوی ته لونې وايلينې او لوزي د مزري د پاڼې ور برخه.

لوی خانن ته لاس اچول: وايي، په دې خبره يا چاره کې پ لوی خانن ته لاس اچولی ده، وشوه په لويو خلکو پورې يې لاس بند کړی ده، يا لوی خانن ته لاس مه اچوه، که لوی خانن در پسې مات شي، نابود به دې کړي

لويه اچول — لکه پ په ټول قوم کې خان لوی سړی بولي، ډېره لويه يې اچوي، يا دومره لوی سړی نه ده، هسې لويه يې اچوي، يا يې په هغه باره کې پ لويه اچوي

لويه کونه — وايي پ خان لويه کونه ګڼي يا په دې قوم کې پ لويه کونه ده.

لوی زړه — لکه داسې چارې لوی زړه غواړي يا پ دا چاره وکړه لوي زړه يې وکړ يا پ د لوی زړه خښتن ده

لوی نيتي — وايي پ ډېر لوی نيتی ده لوی نيتي انسان ښه وي

له اخو تو خه لوه ول. لکه پ اوس ډېر زوړ شوي له اخه و تو خه لويدلی ده يا سخت ناروغه ده له اخه و توخه لويدلی يا پ دومره ووهي چې له اخه و توخه يې ولوه وي

له ارته لاسه — وايي پ – پ له ارته لاسه وواهه يا له ارته لاسه نوبرګي وواهه يا دا چاره له ارته لاسه وکړه يا يې له هغه املـه له ارته لاسه نشي کولی،يا له ارته لاسه لړاوه سياسي غوندي

له اوبو تنکي : وايي پ د پ هغه تيره له اوبو تنکي کړ له اوبو يې مه تنکې کوه يا د په هغه چاره له اوبو تنکي کړه يا د په داسې کړو وړو له اوبو تنکي که، يا واکمن له اوبو تنکي کول.

له اوبو نري : دا هم د تيرې خبرې په څير لکه په هغه چاره يا خبره د پ له اوبو نري کړ يا د په هغه ذکمړو وړو له اوبو نری کړ.

له اوره ايستل : وايي پ هغه خبره له اوره ويستـه يا يې هغه شي له اوره وايسته وبولېږ له غمه يې وايسته يا له پ سره په هغه باره کې وغږيـږه هغه خبره يا شي له اوره وباسه، يا د قانون ماده اه اوره ايستل.

له اوره وله اوبو ايستل : وايي پ هغه بيلبره له اوره وله اوبو وايسته.

له برمه لوېدل : يو نکرې به دا ښيرا وګورو چې وايي خداى ﷻ دې له برمه ولوه وه. يا پ زور شو له خپله برمه ولويده يا اوس دولت نه لري له برمه ولويده يا د ميړو زور نه لري له برمه ولويده يا په هغه باره پ - پ له برمه ولواوه.

له بده زړه : وايي پ دا خبره يا دا چاره له بده زړه وکړه.

له بسو : لکه پ له بسو خواړه وخواړه يا دا چاره يې له بسو وکړه يا دا شي په بسو ذرکوم چې کله تا وويل چې بس ده.

له پچې پيچومي جوړول : وايي پ له پچې پيچومي جوړ که ګوا وړه چاره د خان لپاره غټه بولي يا وړه چاره يې خان ته غټه کړه يا پ او پ وړه چاره سره ستره (لويه) (غټه) رټه کړه له پچې يې پيچومي جوړ که.

له پخو سره خوړل : لکه پ تول قوم ل پخو سره وخوړ يا پ - پ له پخو سره وخوړ يا خلك له پخو سره مه خوره يا دا خبره چې وايي خداى ﷻ دې وس نه درکوي چې وس درکړي خلك به له پخو سره خوري، يا درباريان خلك له پخو سره خوري.

له پخنخي ايستل : وايي پ له پخنخي ايستلي څوك داسې نه ورته وايي چې پټ يې کړه وښيه کبرجن کبرجن کارونه کوي خو په هغه کې څوك داسې نه ورته وايي چې مه کوه يا يې په هغه باره کې له پتنخي ويوست.

له پرتاګه سره په اوبو ګډېدل : وايي پ له پرتاګه سره په اوبو ګډ شو وبوله په يو چار، کې يې بې، وړه مداخله وکړه.

له پرګو کتل : د کيګدۍ او پيڅوله ترمنځ د يوه سپرخي په لمنځ کې پاتې چولي ته پرګه وايي لکه پلاسي ښځه له پرګو کوري يا د

کلیوالـو سـره جنـګک وو لـه بـې غـېرتـې ورځې پ لکـه ښځه لـه
پرګو ورتـه کاتـه.
له پړي مار جوړول . وایي پ ته خلکو لـه پـړي مـار جـوړ کـړي ګوالـي لـه هغـې
چارې یا خبرې ځخه (نـه) یـې ډاروي
لـه پښوتیـګي ښکل . لکـه د پ او پ سـره مقابلـه وه سـره ورتـه وو دریـم راغـی د
پ لـه پښو یـې تیـګي ورتـه ښکلـې- وشـوه داسـې کـړه یـې کـول
چې هغه یې ورتـه غـورخاوو یـا پ او پ یـو د بـل لـه پښو تیـګي
سره کاګي یا ت د ت لـه پښو تیـګې ښکلـې یـا دا داسـې قـوم ده
چې یو د بـل له پښو کاګي
له پښو ورتـه نیـول . لکه د پ او پ سره لتـه پیـر وو دریـم پ لـه پښو ورتـه نیـوه
یـا پـه هغـه چاره کې پ – پ لـه پښو ورتـه ونیـوه یـا پـه هغـه بـاره
کې پ – پ له پښو ورتـه ونیـوه.
لـه پـو لاندي کول . لکه پ او پ اوس دوستـي سـره کـوي آ پخوانـي دوښمنـي یـا
آ پخوانـي ټولـې خبرې یـې اوس لـه پښو سـره لانـدې کـړي دي یـا
پ لـه پ سـره ډېرښه کـړي د هغـه ټول ښه یـې لـه پـښو لانـدې
کړه.
پښو لویدل . لکـه پ زوړ ده یـا ناروغـه ده اوس تـلای نـه شـي لـه پښو لویدلـی
یـا پ ډېر مزل (تګ) کړي لـه پـښو ولویـده.
له پلالې لاندي . وایي پ له پلالې لاندې اوبه ولي وښیـه داسـې کـړه وړه کـوي
چې جـوت یـو څه دي تـري لانـدې بـل څه دي یـا پ دا خـبره لـه
پلالـي لانـدي وویلـه یـا لـه پلالـې لانـدې یـې مـه وایـه پ یـې لـه
پلالـې لانـدې وایـي. یـا واکمـن او سیاسـي ډلـې لـه پلالـې لانـدې
ډېر څه کـوي
له پلو لاندې . لکـه مـال یـې ورك ده تـا پـټ کـړی لـه پلـو لاندې یـې ورکـړه څوك
پـه خان مـه خبروه یـا پ لـه پلـو لانـدې بهیرونـه تـیروي یـا پ هغـه
چاره لـه پلو لانـدې وکـړه
لـه پیرکیـه ویرانـه . وایي دا چـاره لـه پیرکیـه ویرانـه ده یـا د دې چارې د ویرانـې
سبب پ ده لـه پیرکیـه ویرانـه ده.
لـه تخرګه غګیـدل . لکـه پ لـه تخرګه غګیـګي هسـې چیـچي خبرې کـوي یـا لـه
تخرګه مـه غګیـګه.
لـه تناره موری لویـه . وایي پـه هغـه بـاره کې د پ لـه تناره موری لویـه شـوه یـا پـه
هغـه بـاره کـې پ د پ لـه تنـاره مـوری لویـه کـړه یـا دا د زوړ ویـل
چې لـه تنـاره بـه د موری لویـه کـړم

له تیره زړه : لکه ې – ې ته هغه خبره له تیره زړه وکړه یا ې په ې مینت له تېره زړه و کړ، وبوله ځان یې ور دوستي باله.

له تیګي سخت : وایي په ې ډېر غمونه یا بد حالي تېرې شوي، خو دی له تیګي سخت ده یا ې ورکړه نه کوي له تیګي سخت ده. یا دا چې وایي بنده له تیګي سخت له ګل نازك ده، یا په خپل سیاسي چلند کې له تیګي سخت ده.

له ټاپي لوه ول : لکه د ې اوښ په لاړ کې ونګوښېده له ټاپي یې ولواوه یا د ې ډېر څه په زړه کې وو خو دې چارې له ټاپي ولواوه یا سړی داسې خبرې له ټاپي لوه وي یا چې د ګنده قوم چښتن وي.

له ټوپه لوه ول : وایي په هغې چارې له ټوپه ولواوه خپل ټوپ ته خلاص نه شو یا ې – ې له ټوپه ولواوه یا د ې ښه زوی یا ورور مړ شو هغه له خپله ټوپه ولواوه، یا واکمن له ټوپه غورځول.

له جندرې وتلي : لکه د ې له سره ډېر داسې کارونه تېر شوي دي له جندرې وتلی ده یا دا ګران کارونه هغه څوك کوي چې له جندري وتلي وي یا د ې ټول قوم له جندرې وتلی ده ستړې ستونځې یې لیدلي دي، یا سیاسي ډلې له جندی وتلی.

له خاورو اېرو سره بادول: لکه د هغې چارې په کولو باندې ې ټولو خلکو ګرم یاد کړ خلکو بدې ردې ورته وویلې له خاورو ایرو سره یې باد کړ یا ې ته یې پیغورونه ورکړه له خاورو ایرو سره یې باد کړ. یا واکمني له خاورو ایرو سره بادول.

له خاورو ایرو سره ګډ : وایي د ې ښه زوی یا ورور مړ شوی دی له خاورو ایرو سره ګډ شو، یا ښځه یې مړه شوه له خاورو اېرو سره ګډ شو یا په هغه چاره له خاورو ایرو سره ګډ شو یا په هغه باره کې له خاورو ایرو سره ګډ شو یا له هغه امله له خاورو ایرو سره ګډ شو یا ې د ې د کړو وړو له امله له خاورو ایرو سره ګډ شو، یا سیاسي ډله له خاورو ایرو سره ګډول.

له خبرې تیر : وایي په هغه باره کې ې له خبرې تیر شو داسې یې وویل بیا یې هغسې وکړه یا له خبرې مه تیرګه چې څه وایې هغه کوه، یا واکمن او سیاست وال تل له خبرې تېرېږي.

له خبري مات : لکه ې کوچنی (کراڅی) له خبرې مات ده چې خبره ورته وکړې خبر په ډاګ نه اچوي منې خبر منې؛ یا پخوا ې ډېر له خبرې مات وو یا ې د ې له خبرې مات ده وینې د هغه خبره منې، یا هغوی د لوېدیز پلکې د خبرې مات دي.

لـه خپــل ســيوري دارېدل : وايــي پ ډېر دارن ده تــر دې چــې لــه خپــل ســيوري دارېـږي.
لـه خپـل سـيوري تښتېدل : وايي پ دومـره دارن ده چې لـه خپـل سيوري تښتـي يـا نـن سبا پ ډېر دار اخيسـتي لـه خپــل ســيوري تښتــي يــا دارېـږي. يـا واكـن او سياسـي ډلـې كلـه ناكلـه لـه خپــل ســيوري څخه تښتـي.
لـه خپلي برستني سره پښه غځول : وايي پـه لـه هـر شـي سـره اواري (احتيـاط) كـوي لـه خپلي برستني سره پښه غـځوي يـا لـه خپلي برسـتنې سـره پښه غـځوه ګوالـي داسې چاره مـه كـوه چې د تـا لـه توانـه جګه وي. يـا درباريـان لـه خپلي برستني سره پښه نـه غـځوي.
لـه خيمرو خمير دان ډكه ول : وايي پـه دا ټولـي خبرې سره را يـوه ځاى تـه كـړي لـه خميرو يـې خميردان ډك كـه، يـا داخبرې سـره يـو ځاى كــوي لـه خميرو خمـيردان ډكـوي
لـه خوګ ګوتې نيول : لكه د پ پيسـې پكار وي پـه كور كـې يـې لـه پـلاره ورتـه يـا تي تـوپك وو ډېر يـې ګران وو د خـرځ زړه يـې نـه وو ورتـه پ لـه خوګ ګوتي ونيوه ورتـه وويـل چې تـوپك رابـاندې خـرځ كـړه لـه خوګ ګوتې يې ونيوه توپك يـې تري واخيست يـا پـه هغـه بـاره كـې پ، پ لـه خـوګ ګوتـې نيولـي ده هغـه چـاره ضـرور پـرې كـوي
لـه خولي تير : وايـي پ لـه خولـې تـېر ده يـوه خبره وكـړي بيـا لـه خپلـي خـبرې بېرتـه تښتـي يـا لـه خولې تـېر سو يـا پـه هغـه بـاره كـې لـه خولـې تـېر وغګيـده، يـا د ټاكنو پـه وخت كـې سياسـت وال لـه خولـې تـېرېږي
لـه خولي وتل : وايـي د پ جـوړه كـړې مـړي لـه خولـې ووتـه وښيـه ګټه تـرې خطـا شـوه يـا د هغــې خـبرې رنـخل او مسـخره ول دده پـه خولـه كې وو اوس دده لـه خولې وتلـې د نـورو پـه خولـه كې ده يـا هغـه چـاره دده لـه خولې ووتـه
لـه خولـي ولـه لمنـې : لكـه پـه كـوچنيـانو كراڅيـو (ورو) ډېره ګنـده ناروغـې لګېدلې ده ټول لـه خولـې و لـه لمنې دي
لـه ځپليو (كيړيو) سره پـه سترګو كې ورختـل : وايـي پ – پ تـه لـه ځپليـو سـره پـه سترګو كـې ور وخـوت ګوا د هغـه د وړانـدې يـې يـو كـار كـړى و هغـه تـه يـې ويـل چـې تـه مـې ده كـړى كلـه مـې كـړې ده دوه سترګې د هـا دوه سترګې د تـا،

له خانه تېرول: لکه پ له پ څخه څه وغوښتنه هغه ورته وويل چې بيا به يې درکړم هسې له خانه يې تېر کړ ورکړه نه کوي له خانه تېرول کوي يا په هغه باره پ - پ له خانه تېر کړ يا يې په هغه خبره له خانه تېروي

له خانه ړومبی کول: وايي پ هېڅ نه سپه موي دونيا دولت له خانه ړومبي کوي يا پ - پ مړ کړ له ځانه يې ړومبي کړ که څو ورځې ژوندي وي دېرې خلکې به يې له خانه ړومبي کړې وي، يا واکمن سياسي ډلې له خان ړومبی کوي

له دوسپمو پورې کول: وايي له دو سپمو پورې رسولی يم يا له دوسپمو پورې يې ډک کړي يم يني له دو سپمو ترې ډک يم

له ډاگي ويستل: وايي د پ ښه زوی و، ورور مړ شو، دې مړينې پ له ډاگي وويسته يا دا څو کاله پ - پ په سرگرزاوو اوس يې له ډاگې ويسته غاښونه يې هم وواته يا يې په هغه باره کې له ډاگي وويسته

له روستي پښي نيول: لکه د پ چاره دا وړ تېره شو اوس يې دي بل وړ کوي له روستي پښې يې نيسي يا اوس کار له کاره تېر شو له روستي پښي يې مه نيسه هغه خبره اوس له روستي پښې نه نيوله کيږي

له زبې لاندي: لکه هره خبره د چا په زړه کې وي سپيلته يې کوهن له زبي لاندي يې مه کوه يا پ هغه خبره له ژبې لاندې وکړه څوک ښه پرې پوهه نه شوه څو خبرې يې له زبې لاندې وکړي

له زړه: لکه هغه خبره دې له زړه وکړه که ټوقې کوي يا پ دا چاره له زړه نه کوي

له زوره لويدلي: وايي پ زوړ شوله زوره ولويده يا پ له هغه امله له زوره ولويده يا پ - پ له زوره ولواوه يا په پ هغه خبره يا چاره له زوره ولوه وي يا دا ښيرا چې وايي خدایﷻ دې له زوره ولوه وه يا سياسي ډلې له زوره غورځول

له زوره ډکې خبرې : وايي د پ خبرې ډېرې له زوره ډکې دي يا دومره له زوره ډکې خبرې مه کوه.

له سپيو سره ترل : لکه په هغه چاره پ ته ټول قوم بد رد وويل له سپيو سره يې وتاړه.

له ستني ختلی تار : لکه پ زوی بيل که له ستني ختلی تار يې هم ورنه که يا پ ډېر سوګت سړی ده له ستني ختلی تار به هم درنه کړي.

له سده وتل : لکه پ ډېر دولت لري له سده وتلي ده يا مزي (څورب) ده له سده وتلی ده منې د اندازې له بريده (حده) تېر ده.

له سرو پښو سره خوړل : وايي پ – پ له سرو پښو سره وخوړ، وشوه سته يې ترې وخواړه يا پ قوم له سر و پښو سره وخوړ.

له سره اوبه اوښتی : دلته ويل کېږي وايي او به چې له سره واوړي څه يوه نيزه څه دوه بيا داسې هم ويل کېږي لکه دا چاره وشوه اوس اوبه له سره و اوښتي.

له سره اوښتی : وايي پ له سره اوښتی پور هغه پرې که يا به له سره اوښتی پرې پرکې يا په هغه باره کې له سره اوښتی تاوان يا پورته تيار ده.

له سره اړول : وايي پ د مور پلار ښه خدمت وکړ له سره يې واړول وبوله سر ته يې وخيځول له سره يې لا واړول يا پ قوم له سره واړاوو.

له سره تير : لکه پ په دې چاره له خپله سره تېر ده يا دا چې دوښمن ته له خپله سره تېر شئ دوښمن به ورك کړئ يا په هغه خبره له خپله سره تېر ده.

له ښه نيته : لکه پ هغه چاره له ښه نيته وکړه يا دا خبره يې له ښه نيته وکړه.

له ښه زړه : وايي پ له پ سره دا چاره له ښه نړه وکړه يا دا خبرې يې له بده زړه نه دي کړي له ښه زړه يې وکړي.

له عقله پلي : وايي پ ډير له عقله پلي ده وشوه بې عقل ده يا دا خبره چې کيګي وايي له عقله پلی تل په غم نيولي.

له غاړې اړول : وايي هغه شي يا مال نه خرڅيده پ هسې له غاړې اړاوه بيا پ ورته پيدا شو په هغه يې خرڅ که يا يې ورکه له غاړې يې واړاوو يا پ خپله خورولور له غاړي واړوله.

له غله سره غلا کول له چښتن سره وير کول : وايي پ داسې سړی يا ښځه ده چې له غله سره غلا کوي له چښتن سره وير کوي يا له چښتن سره تندی وهي.

له (غ ....) سره ويل : وايي په يې له (غ ....) سره وايي د هيڅ نه مني وښيه زور يا کبر کوي يا يې په هغه باره کې له (غ...) سره ويله يا يې تل له (غ...) سره وايي.

له کاليو سره په سترګو ورننه وتل : وايي پ خلکو ته له کاليو سره په سترګو ورننه وزي چې يو کار يې کړی دی وايي نه ميده کړي سړي ته په سترګو ورننه وزي.

له کوره يې سپي په منډه وزي : وايي د پ په کور کې هيڅ نشته له کوره يې سپي په منډه وزي.

له کونډې ونې جارول : وايي پ د پ له لاسه ورك شو له کونډې ونې يې جارکه يا يې مړ که له کونډې ونې يې جارکه يا پ قوم له کونډې ونې چار يا يې مال و دولت له کونډې ونې جارکه يا پ خپل ملګري له کونډې ونې جارکه.

له ګيلې وتلې : لکه پ ته د سړي توب تمه مه کوي هغه له ګيلې وتلی ده يا له ګيلې ځان مه باسه.

له لاسه لاندې : وايي پ د هر چا له لاسه لاندې سړی ده د هر چا وس پرې بر ده.

له لمنې لاندې : لکه پ ته يې په هغه باره کې له لمنې لاندې څه ورکړه يا د پ غلا شوي وه کوم شي يې چې ورك وو غلو له لمنې لاندې بېرته ورکړه هغه له لمنې لاندې واخيسته هغه پټ په پرده کې واخيسته

له لوګي له خولې زيړې اوبه تلل : لکه پ به هيڅ کله غلا و نه کړي چې له لوګي يې له خولې زيړې اوبه ولاړې شي غلا ته به زړه ښه نه کړي يا چې له لوګي يې له خولې زيړې اوبه ولاړې شي چا ته سوال نه کوي

له لويو و يا لوګام اچول : وايي پ له لويو ويا لوګام اچولی دا چاره دده په مخ کې وروکی لښتی ده، ګوا غټې چارې يې کړې دي يا له ډېرو دور بلو روغ رمټ وزګار شوی ده.

له مچه کوچ ايستل : وايي پ له مچه کوچ باسي وبوله له چيتي يا نه شي يا بې ارزښته شي څخه د ګټې کوشش (هڅه) کوي يا له مچه کوچ مه باسه

له مخه خاورې بادېدل : لکه پ ډېر بد ښکاريده چې څه دور بله وريښنه وه له مخه يې خاورې باديدې يا تا به ويل چې له مخه يې خاورې باديګي.

له مرکبه لویدل : وایي په سپین ګري شو یا بي میړو یا بي دولته شو له خپله زوره ولویده له مرکبه ولویده یا پ - پ له مرکبه ولواوه دا ټکی بیا د مقصد ځای هم نیسي یا په هغه باره کې تا له مرکبه ولوولمه.

له مړه زمنه : دا ټکي هغه ښځې ته یادېږي چې مړ الواد یې پیدا شي لکه پلانۍ ښځه هر وخت له مړو زمنه وي یا پلانۍ له مړه زمنه ده یا ولې نه شې ولاړېدی له مړه زمنه خوښه نه یې.

له مزده شکرانه ډېره : وایي پ دا چاره وکړه له مزده یې شکرانه ډېره شوه یا له مزده شکرانه مه ډېر وه.

له منځکې ایستل : لکه پ یې په هغه خبره له منځکې ویسته یا په یوه خبر دی له منځکې ویسته نورې مه ورته کوه یا هغې چاره له منځکې ویوسته.

له موتې پاس لو : لکه پ له خپل دولت سره بیباکي کوي د یوې پر ځای دوه لګوي له موتې پاس لو کوي یا له پ څخه دوښمن یو کس وژلی و هغه ډیر پري مړه کړه له موتې پاس لو یې وکړ یا پ یوه خبره ورته وکړه هغه ډېرې ورته وکړې له موتې پاس لو یې وکړ.

له نظیره پاس ختل : وایي پ له نظیره پاس خېژي وبوله د هسې کس په نظیر مه ورته ګوري.

له نوکه وکوټیه پوري څوه ول : وایي پ داسې خبرې کوي چې سړی له نوکه وکوټیه پورې څوه وي وشوه د سړي غوصه له بریده ورته اوړي یا دا خبره داسې هم کیګي چې سخته طبه مې ده له نوکه وکوټیه پورې څوې ګم.

له نه زړه : وایي دا چاره پ له نه زړه وکړه یا له نه زړه دا چاره ولې کوي.

له وزو نیول : وایي په چې هره چاره کوي پ یې له وزو نیسي وینې داسې خبره یا کړه کوي چې کوي هغه هیمت له لاسه ورکوي یا په هغه خبره کې پ - پ له وزو ونیوه یا په هغه باره کې پ - پ په وزو وواهه.

له ولاړې لوه ول یا لویدل : لکه پ خلکو دومره وواهه چې له ولاړې یې ولواوه یا پ ناروغه و یا زور ده له ولاړې لوېدلی ده.

له هرې ښمرې وتلی : لکه هغه شي دومره ګنده شوي چې له هرې ښمرې وتلی

له هرې یوې وتل : لکه پ څوك په یو خروار لیتهي کې نه پښتي له هرې یوې وتلې یا پ نه سرې ده له هرې یوې وتلې ده. یا د قوم له غم او ښادۍ له هرې یوې وتلی ده.

له یوه کلمه : لکه دا چاره له یوه کلمه نه کوم لا له یوکلمه مې نده کړې یا له یوه کلمه ئې مه کوه.

له یوې کونې (غو...) سره کول : لکه پ او پ ډېر سره ځپل شوي دي له یوې کونې (...) سره کوي اوس ولې سره خپه شوي یا یې په دغه باره کې له یوې کونې (...) سره کول یا اوس هم له یوې کونې (...) سره کوي.

له یوې ګروي : وایي پ انسان حیوان یا بوټي له یوې ګروی واهه یا یې له یوه ګروې څو واره وواهه یا پ له یوه ګروی غګیده یا یې په هغه باره کې هغه خبره څو وارې له یوه ګروې وکړه.

لیباس : لکه پ خلکو ته ډوډۍ ورکوي خو د لیباس له پاره وشوه خلکو ته ځان ښکاره کوي یا پ لیباسي ده لیباس کوي ښې جامې اغونځي.

لیبوزي : د غره هغې برخې ته لیبوزي وایې چې غر د هوارۍ لور ته تماميګي وايي پ یې په لیبوزي پورې الوتیا که پ داسې داسې کارونه کوي یا پ په لیبوزي پورې دروغ وایي یا پ - پ ته یا هغه چارې یا خبرې ته لیبوزی په مخ کې ورکوي

لیځې : ډېرې ورۍ چې سره تاو کړې هغه ته لیځې او بوړې وايي خوا دا خبره بیا داسې هم یادیګي لکه په هغه خبره پورې خلکو لیځې وتړلې یا په پ پورې خلکو ډېرې خبرې عیبونه وتړل لیځي یې پورې جوړه کړه یا یې په هغه بیلبره پورې لیځي وتړله یا هلته لیځې لیځې خلك اوښته را اوښته

لیښوني : په خوړو ککړ لوښي چې پ پریمنځل شي هغو اوبو ته لیښونې وايي بیا لیښونې یا لیښلونې داسې هم یادیګي لکه پ په پردیو لیښو نیولوي شوي ده وبوله په پردیو خوړو اوبو لوی شوی ده یا په د پ لیښونیو ته سترګې نیولې وې

لیکه : لکه لیکه لیکه خلك ولاړ وو یا خلکو لیکه ښکلي وه یا لیکه راغله یا د زمکې په مخ لیکه ورته تیره کړه یا په خپله لیکه ودریګه وبوله په خپل حد برید ودریګه یا په هغه باره کې پ له پ څه لیکه تاوکړې په وده کړې یې ده یا لیکه یې تري تاو کړې ایسار کړی یې د ه یوه او بل لور ته یې نه پریګدي

لیکي : کوم سړی چې پردې زمکه وکري.

لینگته : هغې خو چې سړی په اسپه یا خره سپور شي وایي لینگته مې پې واړوله یا یې لینگته پې واړوله خو دا ټکی بیا/داسې هم کیکي وایي په هغه باره کې پ په پ لینگته واړوله وښیه پې له پاسه شو.

لینگتي : کله چې د دوو کسو سره غیګي او لته پېر شي کوم کس چې خپله پښه د ورته مقابل لوري د غورځولو له پاره د هغه له پښو تاووي هغه ته لینگتی وایي بیا لینگتی داسې یادیږي په هغه چاره کې پ - پ ته لینگتي کیښوده یا په دې چاړه کې که پ د پ لینگتي ته برابر (سیخ) شو پوخ به یې ولوه وي پیا لینگتي خو پ ته پرې گده هغه ښې لینگتي اچوي یا په هغه باره کې پ - پ ته لینگتي کیښیوده.

لیله : لکه پ وسي ده خو ښه کالي نه اغوندي ښه خواړه نه خوري ډېره بده لیله یې ده یا درووېزه کوي ډېره بده لیله یې راخیستي ده یا بې وایي څه نه لرو دغه یې لیله ده.

لیون ترنگ : لکه پ لیون ترنگ سړي یا لیون ترنګه ښځه ده یا لیون ترنگ ښکاري خو ډېر وېښیار ده سورت یې لیون ترنگ ده.

لېوه : لکه پ په قوم پسي لیوه شوي قوم یې له پخو سره وخوړ یا پ لوي لیوه ده څه چې په مخه ورځي هغه خوري یا دا چې وایي خر سپې د لېوه ورور ده وشوه پ که لېوه ده نو پ خر سپې یې هم ورور ده.

# م

**ماته** : ځیني خلك ژرنده کړیو اوړو ته هم ماته وایي لکه نن د پ ماته تمامه ده وشوه اوړه یې تمام دي یا ماته نه لرو له دي پرته ماته داسې هم یادیګي لکه د پ او پ په هغه خبره سره ماته شوه یا هلته چې سره خپه شوه لاتر اوسه یې سره ماته ده یا له پ سره مې ماته ده یا له پ سره دې ولې ماته کړه یا یې په هغه باره کې سره ماته ده.

• **ماتې** : هسې خو ماتي داسې هم یادیږي چې پ ماتي وخوړه خو ماتې په نورو ځایو کې داسې یادوي لکه د دوښمن په وړاندې نور کلك وو خو ماتې پ ګډه کړه ماتې د هغه له لوري شوه. یا په هغه چاره کې ماتې مه ورګډ وه یا په هغه خبره ټول قوم یوه سلاوو خو پ ماتې ګډه کړه یا ماتې په هره خبر کې د پ له لوري وي.

**مار دې لنډي که مړ د نه که** : ګوا پ ته د زیان ورو اړاوو خو ورك نه شو.

**مار له پزې ختل یا ښکل** : لکه پ د پ له پزې مار ښکلې ده چې اکه پکه به دا کار کوي یا د هغې خبرې یا چلی په باره کې د پ له پزې هم مارختلې هره ورځ یې خلك کشموي (ځکوي).

**ماریل** : کله دا شي پ راکړي وویل چې پ ته به یې ورکوي هغه ته یې ماریلي یا داشي چاته ورکړم چاته یې ماریې یا یې هغه چاره پ ته ماریلي ده یا یې هغه خبره پ ته ماریلي ده.

**ماسل** : وایي پ په پ پسې ماسل شو یا په هغه چاره پسې ماسل ده.

**مال ګوبي** : هسې خو ما لګه چې له اوبو سره ګډه شي نو مال ګوبي شي خو کله کله داسې ترو شي (تریو) مالګوبي جوړ کړي بیا یې کوچیان مال میګو وزو ته، په بوټي اچوي منې پې پوګ وهي یې دا په مالګوبي ترو شي بوټي بیا مال ډېر په مینه سره خوري د انسان د خوړلو لپاره کوچیان یو بل ډول مالګولي جوړوي هغه دا چې اوبه ښې پخې کړي مالګه ور واچوي بیا لګ یا ډېر دغولانځې غوړي چې دوی ځانې غوړي ورته وایي

دا ورګډ کړي په دي زومنه مالګوبي کې ډوډۍ ماته کړي بيا يې خوري د مال مالګوبي کله کله داسې هم يادېګي وايي خلك په هغه بيلبره يا په هغه ځاى داسې سره راټوليګي لکه مال ته چې په بوټي مالګوبي واچوي

ماله مال : لکه لوبني ما له مال ډك ده يا لګډه (خوږ) له اوبو ما له مال ده وبوله ډك ده په دې باندې پسره ما له مال داسې هم يادوي وايي ماله ماله خبرکوي ګوالي سپينه يې چوخسه خبره نه کوي يا دا خبره ما له ماله پرې شوده يا په هغه باره کې له سره هغه خبره ماله ماله بوتله

مالي څکول : لکه خبره له بيخه نه پرې کوي هسې مالي څکوي يا په دې چاره يې هسې ماله تېره کړه يا په هره چاره کې مالې مه څکوه سيا يا د قانون ماله يې څکول (کشول).

مامره : وايي مامره سړى ده يا مامره ښځه ده خو دلته درندو د ښو سيفتونو لرونکو خلکو ته هم مامره وويل کېږي او ځينو ته بيا د سورت (بدن) له پلوه هم مامره ويل کېږي لکه قواره تن مامره ښکاري يا مامره ځواني يې ده يا مامره ناست وو.

ماميره : هسې ماميره يو بوټي ده چې د سترګو له پاره دوايي يادېګي وايي د ماميري پلي يا تخم چې کله پوخ شي په دې وخت کې يې پلي ډېر په تونډي سره جوي بيا که يو قوم ډېر تيت و پرك شي وايي دا قوم لکه دماميري دانې داسې تيت شو

مانده : لکه د مېګي ډېرې مانده دي ګواکې ډنګرې دي يا له دې ناروغي سره ډېر مانده شوي ده يا مانده ګي اقتصاد.

ما یاره جانانه : وايي او هغه خبره په ما ياره جانانه کې سره پرېښوده يا هغه شې په مایاره جانانه کې ورکه يا په هغه باره کې او په ما ياره جانانه کې سره ولاړ.

مباده : وايي مباده دا کارونه کړي يا مباده داسې ونه شي

مت و برکت : دا خبره ښځې ډېره کوي لکه هغه ښه زيارت ده مت برکت يې راسره کړي يا مت و برکت يې راورسوي يا دا چې ويل کيګي وايي د مت و برکت چې نه وي درسره ته يو کار هم نه شې کولې

متراو : کله چې په پېو کې تکله يا جواري مات کړي په همدې وره چې په اتام باندې يې لګ ډېرې وي وشوه ارمست وي هغه ته متراو وايي

متړن : وايي پ څه سړي ده هغه په څه کېږده هغه متړن يا پ هم هلته متړن متړن ګرزيده يا پ خيرني ناپاکه ناولي جامې اغوندي متړن ګرزي، يا متړن سياسي چلند.

متروکه : وايي پ د پ له متره کې لاندې کار کوي يا پ پ ته په هغه باره کې بيا متروکه ور کړه يا يې ورکړي ده.

متره : وايي په بدن کې مې هېڅ متره نشته يا په زړه کې مې متره پاتې نه شوه يني توان پاتې نه شو يا په پ کې د سړي توب متره نشته.

مټ : لکه پ هغه کار ډېر مټ وکه يا پ ډېر مټ وغګېده يا په هغه خبره کې ډېر مټ وو يا پ د پ په لوري ډېر مټ ورځي يا دا چې بوده ډېر مټ ده تونده تګ نه کوي.

مټ : لکه پ قوم لري زورور ده د هغه مټ څوک نه شي نيولي پ مټ وکه وشوه د ميړو چنبتن شه يا د لوټو چنبتن شه.

مټ پرېړول : وايي پ په پ باندې خپل مټ پرېړوي يا په دې چاره خپل مټ پرېړوي يا په هغه باره کې له دې امله د پ مټ پرېړ شو. يا سياسي او قانوني مټ.

مټ يې اړول : لکه پ په پ مټ واړاوه ګواکې سړي يې پرې ډېر شوه يا يې دولت پرې ډېر شو يا په نور څه کې پرې زورور شو.

مټ يې کول : لکه پ په پ ډېر مټ کوي وبنيه خان ته يې نيژدې بولي يا مټ يې پې کاوو هر وخت به يې د ده پوښتنه کوله غګ به يې پرې کاوو يا پ په دې چاره ډېر مټ کوي او په دې خوړو ډېر مټ کوي، يا افغانان په جنګ ډېر مټ کوي.

متېه : لکه پ د قوم متېه وه خو رنګه شوه ګوا مړ شو يا ډېر زيانمن شو يا پ دې چارې ته متېه ده يا يوې خبرې ته متېه ده يا پ له هر چا سره متېه وي.

متېه کور چارماغ : وايي تول متېه کور چار ماغ د پ په سر ماتيګي ګوالې ستړې او ستونزې دده په سر تيرېګي يا متېه کور چار ماغ دده په سر مات شوه يا دا متېه کور چارماغ به د پ په ماتيګي ولې ستړې ستونځې کړاوونه او بدې ورځې به په هغه باره کې هغه ګالي.

متين : وايي پ ډېر متين متين غګېده يا پ متين ناست وو هر وخت متين ناست وي.

متینه : هغې جوړې کړې ښځې ته متینه وایي چې ښه جوړه او اغیګل شوې وي بیا متینه داسې هم یادیګي وایي د ب غټه ډېره متینه ده ګڼوا د ښو خلکو له لمنځه کورنۍ نه (ښځه) ده.

متې : لکه دا چاره کوه څوك به د متې ونیسي یا هغه ورځې د تامتې چا نیولې وي یا هر ځای ته متې ګډوي یا د خلکو په چارو کې د ډېرې متې تاو کړي.

متې پورته کول : لکه ب دې چارې ته متې پورته کوي یا د خلکو په چارو کې د متې پورته کړي دي یا په هغه خبره کې ب هم متې پورته کړې وي.

متې پې تاوول : لکه په ب یې متې تاو کړې وې تاړه یا په دې چاره کې یې متې پې تاو کړې یا ب دولت نه پرې کاوو بیا مال ترې ونیوه شو مټ یې پرې تاوکه په زور یې پې پریکه یا له ب ښځه یې هغه شي په تاو کړو متو واخیست ګوالي زور یې ور سره وکړ.

متې پې وچه ول : لکه ب – ب وواهه متې یې پرې وچې کړې یا ب له قوم ښځه دولت وخوړ متې یې پرې وچې کړې یا ب ډېر خواړه وخواړه متې یې پرې وچې کړې یا په دې چاره یې متې وچې کړې.

متې ځنډل : لکه ب – ب ته خپل زور ښکاره کاوه متې یې ورته ځنډلې یا ب دې چارې ته متې ځنډي.

متې نغښت : وایي ب دې خبرې ته متې نغښتې دي یا ب متې ورته نغښتې ب پې اخته شو یا ب په هغه چاره کې متې نغښتې وي.

متې نغاړل : دا هم ذ مخکې په څېر وایي ب دې چارې ته متې نغاړې یا یې ورته نغاړلې.

مچان پرې ښول : وایي مچان به در باندې وښه وي وښیه مړ به دې کړي یا د ب په خوله یې مچان وښول.

مچ : لکه پلانی ښځه په اخلاقي لیحاظه ډېره پاکه (پیجوه) ده مچ نه ده پرې ښیدلی یا په هغه شي (څیز) مچ نه ده ښیدلی ډېر نوی ده.

مچ کول : وایي ب په هغه خبره ډېر مچ وکه وینې بده پرې ولګیده یا دې ولې په هغه خبره یا چاره مچ وکه له دې پرته د وړیو او وزغنو جوړ کړي شي (څیز) که لګ زوړ شي وایي مچ یې کړي ده. یا د قانوني مادې له امله د سیاسي ډلو مچ کول.

مچ کې اچول : وايي په هغه چاره يا خبره کې پ مچ واچاوو يا پ چې په خبره کې مچ وانه چوي هسې يې نه پرې ګډي يا په هغه چاره کې مچ ولويده.

مچنو غزه : لکه پ په پ پسې مچنوغزه تڼکوي يا پ د قوم په منځ کې مچنوغزه تڼکوي داسې کړه وړه کوي چې د قوم د ويرې تيښتې او بې اتفاقي سبب ګرځي يا په هغه باره کې مچنوغزه تڼکوي.

مچوسي : وايي پ هر چاته له نه زړه چارو قربان هر کله راشه او داسې نورې تير ايستونکې خبرې کوي مچوسي وايي يا پ له پ سره په هغه باره کې ډېرې مچوسې وويستې يا د پ خبرې هسې مچوسې وې په هغه خبرو يې پ خوشحاله کاوو، يا سياسي مچوسي.

مچې پسې بنول : وايي پ دا چاره کړې وه پ خلك پسې خبر کړه مچې يې پسې وبنولې يا شرير انسان ده په هغه خبره خبر که مچې د وبنولې.

مخ پرته کول : دا ښيرا هم ده چې وايي مخ د پرته شه يا دا د غوصې خبره چې وايي مخ رانه پرته کړه له مخې مې لرې شه يا دا چې له پ څخه د پ مخ پرته شو بيا به يې نه ويني يا له بدو څخه مخ پرته کوه.

مخ په خوړ : لکه دوښمن يې مخ په خوړ کړې ده يا پ زوړ شوي ګډي يې مخ په خوړ دي يا سخت ناروغه ده ګډي يې مخ په خوړ دي.

مخ پيچومي : وايي پ ته دا چاره د مخ پيچومي منډه شوي يا په دې چاره کې اوس مخ پيچومي ته سم شو يا مخ پيچومي ته يې سم که.

مخ ترې پتول : دا خبره د سپيکاني په وخت کې سړي ته يادېګي وايي پ له پ څخه مخ پټوي.

مخ توري : يو نکري به دا ښيراوې وخيرو چې وايي خداى ﷻ د مخ توري کړه يا د خداى ﷻ له پ سره مخ توري کړه يا د خداى ﷻ هغه باره کې مخ توري کړه يا دا چې پ له هغه املهِ پ – پ قوم پورې مخ توري شو يا په هغه باره کې پ – پ ته مخ توري شو.

مخ ته لاړي ورتوکل : وايي که دا چاره د وکړه څوك به دې مخ ته لاړې درتو کړي يا په ته يې مخ ته لاړې ورتو کړې

مخ تیره — لکه سپکي مخ تیري وشرړه. ګوا مخ په پیچومي یې سره یا پ له پ سره خبره مخ تیره کړه یا ږ. هغه خبره کې پ له پ سره مخ تیره شو

مخ لري — لکه دا خبره لري پ کړي نه د یا دا چاره مخ لري هغه نه ده کړي یا پ له هغه ناروغي. څخه مخ لري نه ده جوړ یا په هغه خبره کې مخ لري ته مه غګیګه یا دا کار مخ لري پري ګده

مخ نه اوښتل — لکه د پ د مخ د اوښتو خاي نه شته ګوالي داسې خاي یې نشته چې دی کومه هیله ورته ولري یا پ د مخ د اوښتو خاي په خان په خپله درولي ده یا خلک تیک سترګي شوه د مخ د اوښتو خاي نشته چې مخ ور واړي او هغه در نه وشرمیګي

مخ نه پوري لرل — وایي پ په پ پوري مخ نه لري چې مخ ور واړوي ګواکې بد یې ورسره کړي دي یا په دي چاره کې مخ نه پوري لري یا په هغه باره کې مخ نه پوري لري

مخ نه ورسمېدل — لکه پ او پ سره خوا بدی دی د پ مخ نه ورسمیګي یا د پ مخ هیڅا ته نه ورسمیګي

مخ یې تورول — لکه پ ته وویل شوه چې په کلي دزونه وکړه لپاره د دي چې په کلي والو پوري یې مخ تور کړي یا په دي چاره به دې په قوم پوري مخ پاتې نشي مخ به دې پوري تور شي یا دا چې وایي مخ یې تور کړي په خره یې سپور کړي په خلکو یې وکړ زوي

مخه ایستل — وایي پ هر خاي په هر چا کې مخه ایستې شي یا په خبره یا چاره یا سیمه کې پ مخه ویوسته

مخه کول — لکه پ ولاړ مخه یې وکړه یا دې چاري اوس مخه وکړه یا په له پ مخه وکړه

مخه لرل — لکه په هغه سیمه کې پ ډیر اشنایان لري مخه لري یا پ له هر چاي سره مخه لري یا په خوا یې مخه نه لرله اوس مخه لري یا پ له پ سره مخه لري ګوا له نیژدې ورسره پیژني

مخه نه پې لیدل — لکه دوښمن زورور ده د غوتې مخه څوک نه یې ویني یا په هغه چاره څوک مخه نه ویني یا پ په پ د خبرو مخه ونه لیده

مخه نه کول — لکه د پ له لاسه کار مخه نه کوي یا هغه خره مخه نه کوي

مخه ور — وایي پ مخه ورسړي یا مخه وره ښځه ده مخه لري یا مخه ور دي خلک یې مخه مني په دې پسېره هغه چا ته هم مخه ور

ACKU

ویـل کېږي چې د یـوې خبرې د حوارولـو لـه پـاره چـا تـه ورځي لکـه پ لـه پ سـره بـد کـړي وو بیـا یـې خلـك ور مخـه ور کـړه هغـه د مخـه ورو لـه اخپاره وباښه یـا پ تـه پـه هغـه بـاره کـې مخـه ورو ورو لـه خلـك ور مخـه ورکـړه.

مخه ورکول : لـه پ شپه وساړه مخـه یـې ورکـړه یـا پ تـه مخـه ورکـړه چـې ځي یـا پ تـه یـې مخـه ورکـړه ورتـه وویـل چـې څه دي پـه وس کـې وي هغـه وکـړه.

مخه نه ورتـه لیدل : وایـي پ ګرانـو چارو تـه مخـه نـه ویني یـا دې خبرې تـه مخـه نـه ویني.

مدار : لکـه غـوښه دې پـه مـدار پخـه شـي یـا د پ کارونـه ډېر پـه سـیاله او مـدار دي یـا ددې خبرې غـوټه ډېره پـه مـدار (سـیاله) ورنـښل شـوه.

مد یې : لکـه پـه پ ډېره تـنګخه وه تـا هیـڅ مـد یـې ور نـه کـړه یـا پـه دې خبره کـې مـد یـې ورکـړه یـا لـه تـا مـې هېڅ مـد یـې ونـه لیـده مـډ یـې درانـه کـړه.

مذب ذبه : وایـي پ مذب ذبـه خـبره وکـړه یـا پ ډېر مـذب ذبـه انسـان ده یـا پـه هغـه بـاره کـې پیجـو او ښکـاره ونـه غګیـده مـذب ذبـه وغګیـده د پ هـر کـار مـذب ذب وي څرګنـد نـه وي.

مرانـده پـه مرانـده : وایـي د پ او پ کورونـه سـره نیـژدې دي سـره مرانـد پـه مرانده دي یـا لـه دوښمن سره مرانده پـه مرانـده مـه اړوه.

مرانـدې او ګده ول : لکـه پ نوره ورسو ونیـوه مرانـدې یـې اوګدې کـړې یـا هغـه بلـه میلـه یـې هـم ونیـوه مرانـدې یـې اوګدې کـړې.

مرانـدي ښکل : لکـه لـه دې ځایـه یـې د پ مرانـدې وښکلـي یـا د پ مرانـدې لـه قومـه وختـي یـا د پ مرانـدې پ وښکلـي ګوا داسـې کـړه یـې وکـړه چـې د هغـه د کـډه کولـو سـبب شـوه یـا دا ښیـرا چـې وای خـدایﷻ د لـه قومـه مرانـده وکـاګه پـه ټاکلـي راګڼ مـه کـړي یـا پـه تـا ډېره راپلنـه مـه کـړي مرانـدې دې وخیـځه.

مرانـدې ټولول : لکـه لـه دې ځایـه د پ مرانـدې ورټولـې کـړې یـا لـه هغـه ځایـه مرانـدې راټولـې کـړه یـا پـه دې چـاره کـې د پ مرانـدې ټولـې شـوې یـا پـه هغـه باره کـې د پ مرانـدې.

مرانـدې کـې اچول : لکـه پـه پ کـې ډېرو خلکـو مرانـدې اچولـې دي چـې پـه پښو یـې لـك کـړي یـا پـه هغـه چـاره (کیـګدي) کـې ډېرو خلکـو مرانـدې اچولـې دي، یـا سیاسـي او مـالي مرانـده.

مرانـدي مرانـدي : وايـي دا څه وخـت کـېږي چـې پ ناروغـه غونـدې ښکـاري تـارو نـار مُرانـدي مرانـدي ده.

مرڅلي يا مرسلي : کله چې مـرده کـي پـه تيـګه ولګيـګي نـو خـڅوزي خـڅوزي شـي هغـو ورو ورو خـڅوزيـو تـه مرڅلـي يـا مرسـلي وايـي مرڅلـي بيـا داسـې يـادوي لکـه د دې چـارې ځرڅلـي بـه پ تـه هـم وروالـوزې ګوالـــي د ضررنـاکې خـبرې زلـل بـه ده تـه هـم وروړسـيګي.

مردار ډنډ : وايي پ خو پـه مردار ډنډ کـې ولاړ ده تـه مـه پکـې دريـګه وشـوه هغـه خو پـه بدو کـارو کې اختـه ده تـه مـه کې اختـه کيـګه يـا دا چـاره مـردار ډنـد ده مـه کـې ګډيـګه يـا ګوره چـې پ د پـه مـردار ډنډ ورګډ نـه کـړي.

مردار ګډل : دا ټکـي هغـه چـا تـه يـاديګي چـې پـه خـوراک چکـاک او جامـه کـې د پـاکوالي خيـال نـه سـاتي لکـه پ سـړی يـا ښځه مـردار ګډل ده يـا مـردار ګډل خوارہ يـې جـوړ کـړه.

مرضي : لکـه پ پـه هـر ځای کـې خنـګر کـړي يـې ډېر مرضـي سـړي يـا ښځه ده يـا ټول غمونـه او مرضونـه لـه ده پيـدا شـوو ډېر مرضـي ده.

مرغ : يـو متـې بـه دا خـبره وکـسـو، چـې . چـا کـره ښادي يـا زوی پيـدا شـي وايي مرغ دې يې ښه وي يـا د هغـه شـي (څيـز) يـا مـال مـرغ درپـورې ښه کـړي يـا دا چـې قـوم پـه خپـل مشـر پـورې مـرغ نيولـي و، چـې دده لـه مشـری سـره قـوم نيکمرغـه کيـګي کـه بدمرغـه کيـګي يـا پ پـه هغـه مـال يـا شـي پـورې مـرغ نيولـي و، چـې څه خپل يـا ډول کيـګي.

مرغ لاټه : دا ټکـي د چمـن زاري زمکـي لپـاره يـاديګي.

مرغلين : کله چې تـار يـا سنې يـو وارې تـاو کـړي بيـا چـې دا تـاو کـړي دوه خـوا سره ملګري او تـاو کـړي هغـه تـه مرغليـن وايـي بيـا مرغليـن داسـې هـم يـاديګي وايـي مـال مـزی څورب شـو، مرغليـن ښکـاري يـا انسـان مـزي څورب شـو مرغليـن ښکـاري يـا د پ ډېر مرغليـن بدن ده يـا پـه هغـه چـاره يـا خـبره يـا لـه هغـه املـه پ ډېر مرغليـن شـو، وښيـه تـازه شـو يـا داسـې هـم ويلـی شـو، چـې پ خبره کـړې وه پـه هغـه بـاره کـې پ هـم د هغـه پـه لـوري خـبره وکـړه. د پ خـبره يـې ډېره مرغلينـه کـړه يـا لـه هغـه املـه د پ خـبره مرغلينـه شـوه.

مرغيړي : وينې غودې مرغيړي بيا داسې هم يادېګي وايي پ په قوم کي مردار مرغيړى شوى ده وينې بدغونې ده.

مرغي شخول : داسې يوه قيصه ده چې کيګي وايي د يو چا باد پرې شو بيا يې د خلکو د تير ايستلو له پاره مرغه شخوله د مرغۍ شخول د خبرو په لمنځ کې داسې يادېګي وايي پ دا کار وکړ پ مرغې ورسره شغوي يا پ هغه کار وکړ اوس په نورو خبرو خلك تير باسي وايي داسې ما ندي کړي مرغۍ شغوي.

مرغۍ : لکه څرنګه مو چې وړاندې سپيني يادي کړي دي مرغۍ هم د پښو او لاسو پلو وړو ته وايي لکه په هغه باره کې پ د پ مرغي پري کړي يا پ ته چې څوك سم شي د سړي مرغۍ پرې کوي.

مرنډه : په احمدزيو کې که چېرته داسې پيښه شي چې دوه کسه په څه خبره په يوه ښځه وښيه پيغله سره بد شي نو دا پيغله له ورکړي څخه ايساره شي داسې ښځې پيغلې ته مرنډه وايي بيا دا مرنډه ټکی ډېر متي يادوي لکه هغه شي (څيز) پ مرنډ ايسار کړ نه يې راکوي يا د پ پيسې پ په بل خای کې مرنډي کړي يا له هغه امله د پ مالونه مرنډ شوه.

مروړل : لکه رخت پيڅول برستن شيرك يا بل څه سره تاووي سره مروړي يې - مه يې سره مروړه، يا پ چې خواړه خوري هر څه سره تاوو سره مروړي بيا دا خبره داسې هم کيګي وايي پ په هغه شي يا خبره پسې د ارمان لاس مروړوي.

مروور : وايي ډېر وخت کيګي چې پ او پ سره خوا بدي (مروور) دي يا پ له پ څخه په هغه خبره يا چاره مروور ده، يا دا چې وايي د مروور برخه تلا ده.

مړاوي : لکه شين بوټي چې وشکه وي خامخا مړاوي کيګي مړاوي بيا داسې هم يادېګي لکه په هغه خبره پ ډېر مړاوی شه يا له هغه چارې را ايسي پ ډېر مړاوي ده.

ميراته سلاته : وايي د پ ميراته سلا ته ميله ده ينې زمن يې نه شته يا د پ په ستوميرو کي ميراته سلا ته ده وروڼه زمن يې چنداني سړي نه دي يا دابنرا چې وايي خدای ﷻ د ميراته سلا ته کړه.

**میره** لکه د پ د ماما واده ده په دې واده کې دده میره ده یا دا چاره د پ له پاره کټمنه ده دده میره ده یا په هغه باره کې د پ میره ده یا یې میره وه.

**مرتب** لکه پ سړي یا پلانی نسخه یا پلانی کراڅۍ مرتبت ده یا کله لګ وریا لري ولاړ شو نو وبه وایو چې د پ حکومت مرتبت ده یا د پ کارونه مرتبت دي.

**مرزګه** کله چې مال مړ شي مړه مال ته مړزګه ویله کیږي که لګ خبره سرګڅه کړي نو مانده او ناتوانه مال هم مړزګه یا دوی لکه د پ مال مړزګي وي یا دا تکی داسې هم کیږي وایي پ څه ده هغه مړزګه داسې شي ده لکه مړزګه.

**مرزوانده** لکه هغه اوښ میګ وزه (غیلـه) مرزوانده وه یني مرګ ته نیږدي وه یا دا چې پ مرزوانده روان وي

**مرغوک** لکه پ بدي بدي خبرې ورته کولې پ مرغوک ورته ناست و، یا خلك مړه غوګونه ورته ناست وو یوه غوګ ته شو ښوروله یا د هغه په خبرو یې غوګونه مړه کړه یا پ په هغه خبره یا له هغه امله مرغوک روان شو یا هغه خبره یا چاره یې مرغوګه پرایښې ده یا پ مرغوک پرې ګډي.

**مرغوګي** دا نوم یوه نیم کس ته یادیګي وایي پ څه سړي ده هغه مرغوګي

**مرغیچن** وایي کوچني تی وروده مرغیچن شو.

**مړه خوا** لکه د پ ډېر مړه خوا کور ده چې ور شي خوا به دې کې مړه شي یا پ له پ څخه ډېر مړه خوا ده یا پ ډېر مړه خوا انسان ده.

**مړي اوښي** وایي پ که په کوکو و نه ژاړم په مړو اوښو خو په یې وژاړم یا په هغه باره کې په خلك په خان نه دي خبر کړي خو په مړو اوښو یې ډېر ژړلي یا یې له هغه امله یا د پ له لاسه پ ته په مړو اوښکو ډېر ژړلي دي

**مړي بې کفنه** لکه د پ مړی بې کفنه پروت و، چا مرسته نه ور سره کوله یا چې مړی د بې کفنه پروت وي پ به څه درنه کړي یا چې مړی یې بې کفنه پروت وي چا ته سوال نه کوي

**مړیتا** داسې یې وبوله چې مړیتا هغه چا ته ویل کیږي چې ناست او ولاړ یې مړا

وي وي لکه پ مړیتا مړیتا کیږي یا مړي مړي خبري کوي مړیتا ده



ACKU

مړينښن : وايي پ مړينښن سړي يا پلاني مړينښنه ښخه ده يا مال مړينښن ده، يا د پ کارونه يا خبري مړينښني دي مړينښن مړينښن غګيګي.

مړينګا : وښيه مړينګا هم د مړيتا په ځبر يادېګي وابي پ مړينګا مړينګا کيګي يا مورږ دا ويلي شو چې د پ مړيتا يا مړينګا حکومت ده.

مړيي : وايي په مړيي سړي يا مړيي ښخه ده يا د پ خبرې يا چارې مړيي دي.

مزانکي : وايي خلك زړه بدي دي پ د خوند او خوشحالي خبرې کوي مزانکي ولي يا پ په هغه باره کې مزانکي ويستې يا پ په دونيا دولت کي مزانکي وکړي يا په په قوم کې مزانکي وکړي يا پ، په مزانکو ګډ شو

مزتيځ : لکه پ مزتي ناست ده يا د هغې بيلبرې لپاره مزتي ناست ده يا په مزتي مزتي غګيده يا يې تيګي ويستي له وار سره به مزتي شو يا له خبرې سره به مزتي شو وشوه ځان نه به يې زور ورکه.

مزغي : وبوله اورميک لکه دا ښېرا چې وايي مزغي دې مات شه بله دا چې کله ترنګړ جوړېږي د ترنګړ د سر له څړې ځخه نيولي د پاي تر څړې پورې په ترنګه کې يو پړې تاوېږي راتاوېږي په هغه پورې څړې اوبدل کېږي دې اوګده پړي نه مزغي ويل کېږي دلته موږ ويلي شو چې دا خبره يا چاره د هغه نورو تولو خبرو يا چارو مزغي ده يني نورې تولې پورې اوبدل شوي دي.

مزغين : لکه د پ مزغين بدن ده ويني توان من بدن يې يا پ مزغين ناست و. يا پ مزغين مزغين غګيګي مزغيني خبرې يې دي يا په هغه باره کې پ مزغين ده هغه څوك نشي ارولی.

مزلمي : لکه دا خلك قران خواره دي قرانونه يې کړي دي اوس بد کارونه کوي دا د قرانو مزلمي کې راپورته شوي يا پ داسې بد کار وکړ دا هم د قران مزلمه ده يا وايي که څوك قران وکړي تر اوو پيړيو پورې به د قران مزلمي پکې رواني وي

مستانه : لکه پ خاندي ډېر مستانه ده يا ټوکي ده مستانه ده.

مسك : لکه پ په هغه خبره مسك شو وښيه د خندا لومړي نښې ته مسك وايي يا پ مسکور کې شو.

مسیدل: لکه پ نري رنځ (بد) مرض نیولی مسیګي د توخي ډېرې ورې نښې ته مسیده (مسیدل) وایي.

میش مشي: لکه پ خپه زړه بدی ناست و، پ د خوشحالي او خندا خبرې ترې غوښتي مش مشي يې ترې غوښتي یا به ووایو چې له پ سره لانخکه ده کوچني کړاځی يې ترې غوارې پ لانخه کله ترې یو لوری ونیسي لکه ترې بل لوری کله بیا لانخه ورته ونیسي مش مشي ور سره کوي يني د کوچني له خور څخه خوند اخلي یا پ له پ سره په هغه باره کې مش مشي کوي یا په هغه باره کې د پ زړه ډېرې مش مشي غوښتي خو ما داسي نه کول هغه بېلبره مې خلاصوله.

مشوره: لکه پ بې طرتیبه اوګده ځیني برخي لنډ کالي اغوښتي و مشوره مشوره کیده یا هغه شي بې طرتیبه ځيري یا پریکړل شو مشوره تري جوړه شوه یا له هغې بیلبرې مشوره مه جوړوه.

مشه مشه: وایي مشه مشه چې داسې و نه شي یا مشه مشه چې پ دا کارونه کړي.

مبنلي: لکه تغر، پیڅول، لیمڅي یا بل داسې شي نوي نه ده مبنلي ده وښیه لګ و ډېر په کار شوي کاریدلي (استعمال) شوي دي یا مبنلي شي مه اخله نوي واخله.

مغربه بلا: په دې تکي کې لګ زیاتی کیګي لکه پ په هیڅا نه ده ترلی مغربه بلا ده له دې مغربي بلا ځان وساتي.

مکر: وایي څه د زړې بوډۍ مکر دې راخیستی ده یا پ مکر کوي.

مکرجن: لکه پ مکرجن ده ناروغه نه ده دي وایي ناروغه یم یا روند نه ده دي وایي روند یم مکرجن ده یا په هره چاره کې مکر کوي مکرجن ده.

مکس: لکه پ بد رد ورته وویل خو په ډېر مکس ورته وکه هېڅ يې ورته ونه ویل یا د ملګري په راتګ پورې مکس وکړه یا پ په هغه بیلبره کې ډېر مکس وکړ تلوار او بې صبري يې ونه کړه.

ملاپسي ترل: لکه په پ پسي دوښمنو ملاترلي وژني يې یا ملا پسې وتړي دا چاره وکړي یا يې په هغه باره کې ملا پسې وتړله.

ملاتړ: لکه د پ او پ چیغه یوه ده ملا تړ يې یو ده یا دي چارې ته ملا تړ کوي یا پ له پ سره ملا تړ وکه یا په هغه باره کې د پ ملا تړ کوي ګوا مرسته ورسره کوي.



ACKU

ملاتړلي	دا ټکي د هغه چا لـه پـاره پکـاريږي چې د دوښمـن پـه ضـد كـار تـرې اخيـستـل كيـږي لكـه پـلا نـي قـوم دومـره ملاتړلـي لـري يـا د پ زمـن ټول مـلا تړلـي دي ګوالـي زلمـي (زني) دي يـا پ چـې پـه غوره كې ده ملاتړلي لـري يـا دا چې وايـي د مـلا تړليـو خـدای ﷻ مـل ده يا د ملاتړليو د خـدای ﷻ مـل شـي.

ملاتشه	وايـي د پ ملاتشـه ده مـلا تـړ يـا ملـګري يـې نشـتـه يـا پـه هغـه بـاره كـې د پ مـلا تشـه ده غـتـې (كـالـتوس) اوښ يـا تـوره او بـې بودې يې لـه مـلا نشـتـه.

ملا خلاصي	پـه دې نامـه سـره زيـات واړې ښخې يـادېږي لكـه ښځه مـلا خلاصـي ده د مـلا خلاصـي پـه وس كـې څه دي مـلا خلاصـې د مـلا تړليـو پـه مقابل كې هـېڅ دي.

ملا سره ول	لكـه پ هغـې چارې تـه مـلا سـره كـړه ګوارې سـياله (دمـه) يـې ورتـه وكـړه.

ملا كول	لكـه پ مورو پـلار ښه مـلا كـړي ده. پـه هـر څه يـې پوهـه كـړې يـا پ پـه ټولـو خبرو ښه مـلا كـړه يا پ ښه مـلا كـړه بيـا يـې وليـګه يـا پ مـې ښه ملاكـه خو نـه مـلا كيـګي يـا دا خبره چې وايـې مـلا مې كـړي د خان بلا مې يا خان تـه بلا مې كـړي.

ملا ګوري	وايـي پ پـه خپلـه پوهـه يـا لـه خپلـه انـده كـوم كـار يـا خبـره نشـي كولای بـل تـه بـه ګوري بيـا بـه يـې كـوي هغـه مـلا ګوري ده يـا دا ويـل چې وه: مـلا ګوريـه تـه خو مـلا ګوري يـې.

ملا ورته تړل	وايـي پ دې چارې تـه مـلا تړلـه يـا مـلا ورتـه وتـړه يـا لا پـه خـوا يـې مـلا ورتـه تړلې وه يـا يـې هغـه خبرې تـه مـلا تړلـې ده.

مـلا ور خلاصـول	لكـه پ دا كـار كـاوه مـلا يـې ورتـه تړلـې وه خـو پ يـې مـلا ورخلاصـه كـړه يـا پـه پ مـلا تـړ ومـه كـړې خـو چـې د قـوم مـلا خلاصه نـه كـړې يـا پـه هغـه بـاره پـه هغـه كـړو وړو پ د قـوم مـلا خلاصه ورنخلـه.

ملا نه ټېټيدل	وايـي د پ هغـې چارې تـه مـلا نـه ټيټيـږي يـا مـلا يـې ورتـه ټيـټه نـه شـوه.

ملا يې ماته	لكـه د پ زوی و، ورور مـړ شـو مـلا بـې ماتـه شـوه يـا پ دا چـاره وكـړه د دوښمـن مـلا يـې ماتـه كـړه يـا پ د قـوم د ملاتـير ده چـې دا مـړ شي مـلا يې ماتـه ده يـا پـه هغـه بـاره كـې لـه دې املـه د پ مـلا ماتـه ده يـا پـه دې خبـره د پ مـلا ماتيـګه.

ملنه بیدي وایي پ له خانه ملنه بیدي جوړه کړي ده د قوم له غمه اوتاوانه خان ایسته وباسي یا په قوم کې ملنه بیدي شوي ده قوم په غم سره ککړ کړي په خپله خان تري وباسي یا دا ویل چې وه ' ملني بیدي له خانه ملته بیدي مه جوړوه، یا درباریان ملني بیدي.

مل عود دا خبره ده هغه چا په باره کې کیږي چې خپل ملګري ته زیان ور اړوي وایي پ مل غود ده له مل غود سړي لري ګرزه

ملنډي لکه پ داسي و داسي کړه وړه وکړه په قوم یې ملنډي ووهلي یا په هغه باره کې له پ سره داسي کوي ملنډي پرې وهي، مالي یا سیاسي ملنډي

مله غون که چېرته یو شي ډېر لک غوړ شي ګوا غوړ لاس پرې تېر شي هغه ته مله غون وایي لکه د سر ویښتان یې مله غون کړه

ممه ییز لکه هغه شي ته یې پ ممه ییز که چې ښه و ګنده را په ګوته کړه

منان دا تکي د وخت ځای نیسي لکه ته چې ورتلي هغه منان پ په کور کې نه وو یا هغه منان به دي دا چاره کړې وه یا هغه منان به د دا خبره کړې وه

من وایي نن سبا هر سړي من ده هر څوك وایي چې زه من یم یو هم خان نیمنی نه بولي یا پ هم من ده یا ته من له خانه مه جوړوه یا دا چې وایي تیګي ډېرې دي خو کار له منه ده وښیه ښځي یا سړي خو ډېر دي خو کار له پوره انسانه پوري ده.

من یې اموتیا وایي پ څه سړي ده په هغه به څه من اموتیا شي یا په دې خبره من نه اموتیا کیګي یا په هغه چاره څه من اموتیا شه یا په هغه شي من نه اموتیا کیګي

منجوملة لکه هغه شي (څیز) د قوم په منځ کې منجومل پاتي شو هېڅا ته یې ورنه که یا هغه خبره د قوم له مینځه یاده شوه خو خلاصه نه شوه منجومله پاتې شوه

منجوغړاتي لکه په هغه خبره کې پ له خانه منجوغړاتي جوړ کړي کله د یوه پرهه کوي کله بیا له بل سره ملګري وي یا منجوغړاتي له خانه مه جوړوه

منځکه اور تري اخیستل وایي له پ څخه زمکه اور اخلي وبوله ضرري او زللي ده خلکو نه یې ګزك رسیګي یا دا چې له کړاڅیو (کوچنیو) شکه منځکه اور اخلي

**منځکه تر لاندې سره** لکه هغه خبره يې چې واورېده پ تاکراره شو منځکه
تري لاندې سره شوه کيناسته ولاړې ده يا له هغې ورځې را
هيسې منځکه تري لاندې سره ده يا هغه کار يې چې کړی ده
منځکه تري لاندې سره ده په يوه ځای يې ناسته نه کيږي يا د
پ له يوې خبرې سره له پ لاندې منځکه سره شوه يا له هغه
امله له پ لاندې منځکه سره شوه يا د پ بېړه تريوار (تلوار)
ده منځکه تري لاندې سره ده

**منځکه چاودل** لکه پ تري تم ورك شو، منځکه وچاوده دی پرې ننوت يا
هغه ئی ورك شو منځکه وچاوده هغه پرې ننه وت

**منځکه ګرول** وايي پ په هغه خبره ډېر لړيتي شو منځکه يې ګروله يا دا
چارې چې د تا وي تل به منځکه ګروي يا په هغه خبره يې
منځکه وګروله

**منځکې ته کتل** لکه په هغه خبره يا چاره پ سترګي نه شوای جګه ولی
منځکې ته يې کتنه يا څوك چې ناوړه کارونه کوي تل به
منځکې ته ګوري يا د هغې چارې له امله ټول قوم ځمکې ته
ګوري

**منځ واړي** لکه د دو غرو له منځه زي يا د غره وړه پرغه پرته ده منځ واړي
ده يا يو لوري بل لوري اوبه دي په منځ کي وچه ځمکه منځ
واړي ده. يا د خبرو منځ واړی.

**منځه غړوتي** وايي پ له خانه منځه غړوتي جوړ کړي ده د خبرې يا چارې په
لمنځ کې ولوېګي يا يې هغه خبره منځه غړوتي کړه د خبرو په
لمنځ کې يې واچوله

**مندار** وايي پ مندار ته وتلي ده يا مندار ته مه وزه يا پ مندار
وښکه يا مندارونه مه کاګه وبوله ميدان يا درينګي ته وتلي
ده

**منډهه** وايي په هغه باره کې پ ډېره لنډه منډه وکړه يا د پ دا ادت
ده چې يوه منډه کوي يا په هغه باره کې د پ يوه منډه له هغه
او بله له هغه ځايه ده يا يې يوه منډله پ بله يې پ پورې ده
يا په هغه باره کې پ يوې منډې ته خلاص ده يا په هغه باره
کې پ - پ له خپلې منډې ولواوه يا له هغه امله له خپلې
منډې ولوېده

**منګ** لکه پ د پ په منګ ده وشوه د عمر له پلوه سره نيژدې دي يا
پ د تا په منګ ده

**منګړوسه** : د بتیه وریزو یوه شو خوند یا خولې ته یوې جوړې کړي مړي ته منګړوسه وایي منګړسه بیا داسي هم یا دیګي لکه پ د پ یوه منګړوسه ده یا به یې یوه منګړوسه کړي په خوله به یې کړي.

**منګوسي** : کله چې د غوړیو له زې څخه د غوړیو د ښکلو ضرورت پیښ شي نو د زې په خوله لاس ومنډي د پینځو او ګډو ګوتنر په لمنځ کې یوه اندازه یا یو لاس غوړي راوکاګي دا یوه لاس غوړیو ته منګوسي وائي.

**منګول** : لکه پ او پ منګولي سره واچولي یا هغه شي پ له پ څخه په منګول کي پورته کړ یا په هغه شي پ هم منګولي خښې کړي یا په هغه خبره چاره بیلبره کي د پ منګولي خښې بندي دي یا په هغه باره کي پ – پ په منګول کي نیولې ده یا یې د پ له پاره په منګول کې نیولې ده.

**منله** : وایي پ منله نه کوي یا د منلو چاره نه ده.

**مني خور** : کوچیان چې کله غوړي ویلي (رنه) کړي نو په یوه ژي کې د مني د خوراك لپاره غوړي واچوي منې چې له ژمي څخه لومړي یې وخوري هغه زي ته مني خور وایي.

**منډ** : کوم چاقو چوړکي (بیکي) چې ډېره پڅه شي داسې شي ته منډ وایي لکه د چوړکي خوله ډېره منډه ده دا خبره بیا داسې هم کیګي وایي پ په خوله کې ډېر منډ ده ګوا پڅ ده.

**منډه خور** : وایي په له قوم څخه لرې یو ځای بل ځای ګرځېدلی ده د تربرو منډه خور یې نه ده لیدلی یا په هغه باره کې به د قوم منډ خور ووینې یا هلته کوچنیانو منډه خور جوړ کړي وو یا د ښځو منډه خور وو.

**منډلي** : وایي پ نه ډېر جګ او نه ډېر ټیټ وو مزي منډلي سورت یې وو.

**منډو** : وهل شوي یوې غنو ته منډو وایي دلته به دا سندره وخیرو چې وایي اموخته خور به منې نه شي چې ورته واچوي پلوڅو منډوو نه په دې پ سیره منډو ډېر ځایه یادیګي لکه ددې خبرې یا چارې په باره کې د پ په مخ کې لا ډېر منډونه پراته دی یا په هغه باره کې پ دپ په مخ کې منډونه اچوي یا د پ په مخ کې پ ډېر لوی منډو ده دا منډو سي ماتولی

منډوکي : لکه پ ته يې په دې خبره يا چاره کې منډوکې وښوراوه ګوالي پيسي يې ورته ومنلي يا منډو کې ورته وښورووه. يا پ د منډو کې سرې ده ګوا د رشوت سرې ده.

منډه هسې خو د ونې خابن ته هم خينې خلك منډه وايي خو دلته چې کوم منډه يادېګي هغه دا ده چې کله له ونې څخه خاش برې شي د ونې په تنه پورې چې د خابنکومه برخه پاتې شي هغه منډه بېه وخيږو لکه دا چې وايي پ هر وخت تيغ راته ولاړ ... منډه يا د هغې خبرې يا چارې په باره کې پ د پ ... ته منډه ودريده.

منس که د مما (ما ما) له لورې خورېي ته څه برخه (توحفه) ورکوله شي هغه ته منس وايي لکه خورېي ته منس ورکړه.

موتې تينګ : لکه د پ موتې ډير تينګ ده چا ته هيڅ نه ورکوي يا يې په هغه شي موتې تينګ کړي ده پ ته يې نه ورکوي.

مورينځه وايي په د غلومورينځهده يا د قوم مورنيځه ده يا په هغه باره کې د تولو خبرو کوونکو مور ينځه پ ده هغه يې وربنيي يا دا ويل چې زما د دوښمنو مورينځه د له خانه جوړ کړي ده هغه درکره کيني ولاړيګي خوري وڅکي

مور زادي لکه د پ لاسو پښې مور زادي دي يني سم کار نشي پرې کېدی يا له موره پيدا مورزادی ده يا پ مور زادی سرې ده سم کار نه شي کولی

مول : تيموبوزې (تيمبورکه) مول هم يادېګي لکه پ مول وهلي تيمبورکه يې وهلي تيمبوزې يې وهلي.

مولې پسي سيخه ول وايي په پ پسې يې مولې سيخه کړه ګوالي شر يې پسې سيخ که يا يې کومه بده خبره پسې سيخه او جوړه کړه مولې يې پسې سيخه کړه يا په هغه باره کې مولې د پ کونې ته سيخه شوه، يا په خبرو پسې مولې.

مولې پسې جوړول وايي په پ پسې يې مولې جوړه کړه وينې داسې خبره يې پسې جوړه کړه.

مه : وايي په دې قوم کې مشر يا دمه سرې نشته چې څوك له بده کاره را ايسار کړې مه ورته ووايي يا دا دوعا چې وايي په کور او کلي کې دې دمه سرې ورك مه شه.

مياني : وايي چې پخوا وختو به شئې يا به ماتې روېې يکې پياتلې کيدې هغه ته به يې مياني ويله کله کله مياني داسې ... 

وایي د ې میاني تشه ده یا تشه شوه یا د ې میاني له هغه املـه یا ې تشه کړه

**میتیازه** وایي ې د ې میتیازه ده ګوا د هغه زوی لمسی یا کړوسی ده یا د ې بده یا نه میتیازه

**میتیازي** لکه ې د ې بد ایسي د هغه لورته میتیازي هم نه ورکوي یا دا خبره چې وایي بیا به هغه لورته میتیازي هم ورونه کړم یا ې ته د میتیازي ځګ نه کوي یا ې ته د میتیازي نه ځګ کوي یا دوښمن ته د میتیازي ځګ نه کوي بې وسه خلکو ته د میتیازي ځګ کوي

**میچ** یني جوته معلومه اندازه لکه اوبه له خپله میچه پورته لوړي یا ټیټي وي یا د عمر له پلوه ې په خپل میچ ولاړ ده نه ده پیـن ګیري

**میخ په تیګه بیول** لومړي به دا خبره وګورو چې وایي له بي عقل سره چې وایي لکه میخ چې په تیګه بیایي یا دا چې وایي ې دا چاره کوي میخ په تیګه بیایي

**میده بیز** لکه ې په خلکو پسې میده بیز را اخیستي یا په هغه حبرو پسې یې مده بیز را اخیستي

**میده ګي** لکه د توتو میده ګي د ګوري میده ګي او داسې نوره میده ګي

**میره خامیدل** لومړي دا خبره چې وایي تکله چې خامه شي پخه به یې کړي میره چې خام شي بیا نه پخیګي یا ې خام شوي یا د هغه خبره خامه ده

**میره سري** وایي ې ډېر میره سري ده میره سري ورك مه کړي

**میره ني** وایي په میره ني یا پلانکي میرهني ښځه ده یا په قوم اوولس کي میره ني پیدا کیګي میره ني ورك مه کړي

**میسته** لومړي دا خبره ګورو چې وایي کونه بلا نیولي یا بلا وهلي په میسته کلي ختلي یا دا چې دي چاري یا خبري ته کلي میسته دي یا خلك ورته میسته دي

**میښي میښکتي** وایي ې – ې ته میښي میښکتي کوي یا په هغه چاره یا خبره میښي میښکتي ورته کوي یا ې ته د ډېر میښي میښکتي وکړه یا ې ته میښي میښکتي مه کوه یا په هغه باره کي ې – ې ډېر میښي میښکتي وکړه

میله تورول : وایي پ میله توره کړه وبیه له خپله ځایه بې ځایه شو ولښته یا پ میله توروي ګوالـي لیـګدي

میله ډاګ : لکـه د پ پـه میلـه بنه زمـن نـه دي پـاتې میلـه یـې ډاګ ده یـا دا دوعـا چې وایـي میلـه د ډاګ مـه شـه یـا دا ښـرا چې وایـي میلـه د ډاګ شـه.

مینت بار : وایـي پ پـه هغـه چـاره یـا خبره مینـت بـار شـو یـا پ د پ مینـت بـار ده.

مینجیدل : هسـې خـو د بـدن شـورېدو تـه مـنجـېدل وایـي خـو مینجیـدل بیـا ډېر ځایـه یـادوي لکـه پ - پ لانـدې کـړي دي لـه پاسـه پـرې مینجیـګي یـا پـه هغـه بـاره کـې پ لانـدې پ برسـېره پـرې مینجیـګي

مینده : وایـي پ دا خبره مینـده کولـی نـه شـوه چې اوس یـې مینـده کـړه ورتـه خوشحاله ده یـا پـه هغـه بـاره کـې پ - پ تـه داخبره مینـده کـړه.

میـوګي یـا میـګوي : دلتـه بـه میلجیـده ټکـي بیـا وخیـرو چـې وایـي پ چـې مینجیـګي د پ پـه زور مینجیـګي خوسـی د میـګوي پـه زور مینجیـګي یـا د پ میـګوي لـه قومـه وخـوت یـا د پ سیاسـي میـګوی

# ن

**نابلده** : وايي په هغه سيمه کې نابلده ده يا په هغه کور کې نابلده ده يا پ له پ سره نابلده ده يا دا چې وايي نابلدي له هر څه بد ده يا نابلده غل په کدانه ننوزي ګواکي پ په هغه باره کې ناخبره و، څکه يې داسې وکړه.

**نا اندوله** : لکه دوري (بار) يو لوري درونډ بل لوري سپك ده نا اندوله ده نا اندوله بيا داسې هم يادېږي وايي پ نااندوله وغږېده نااندوله خبري يې وکړي يا د پ تولي چارې نااندوله دي يا يې په هغه باره کې داسې نا اندوله کړه وکړه.

**نابللي** : لکه پ نابللي ميلمه ده نابللي هغه ځای ته راغی يا دا چې وايي سل بللي خورول کيږي يو نابللي نه خورول کيږي يا په هغه چاره يا خبره کې پ نابللي وو.

**نا به سوري** : لکه رخت نا به سوري ده پيڅول نا به سوری ده يا زمکه نا بـه سوري ده.

**نا پولي** : دا ټکي هغه انسان او څلور پښې ته يادېږي چې په جسماني ليحاظ کمزوري وي (يي) لکه پ ډېر ناپولي يا ناپولکي ده يا داچې دا ميګ وزه غيله بوده ډېر ناپولي ده.

**ناتاکه** : وايي پ هغې چارې ته ډېرناتاکه ده ګواري ورته بي صبره ده يا هغه خبري ډېر ناتاکه که يا له هغه ورځې راهيسې ډېر ناتاکه ده يا پ ناروغه ده د خوځو له امله ډېرناتاکه ده يا په هغه باره کې ډېر ناتاکه و.

**ناخوالي** : وايي د پ له خولي مې ډېرې ناخوالې واورېدې يا ډېرې ناخوالې را باندې تيرې شوې.

**ناخورا** : لکه غر ډېر ناهوارهناخورا ده ياد پ بدن د جوړښت له پلوه ناخوار ده ينې مين نده يا د سيمي بوټي ناخورا ده. يا ناخورا خبرې.

ACKU

ناخوني — ويل توتان زررا توبه كړه د موګک لاندي در ته ناخوني شوي يا هغې خبرې يا چارې ته زمونږ ناخوني شوي يا د پ په كور كې خوشحالي او ښادي ده د پ ورته ناخوني شوي.

ناخوره — وايي پ ډېر ناخوره ده پ يې ډېر واري ليدلی و خو بيا يې هم نه پيژانده.

نادوريا — لكه پ هلته په هغه ځای كې ته وو نادور يا وو يا پ نادور يا پ داسې كار وكړ يا دا خبره چې كيږي وايي نادور يا پاچا ته هم كنځا (زياړه) كيږي يا پ په هغه بيلبره كې نادوريا وو.

نار يې — له پ ټول كلي ته نار يې وركه ګواري مړی (ډوډی) يې وركړه يا پ يې ميلمه كه ناري يې وركه.

نارامه — وايي پ ډېر نارامه سړی يا نارامه ښځه ده يا د پ ټول كارونه نارامه دي يا د پ خبرې نارامه دي نارامه خبرې يې كولي يا پ په هر كار كې نارامي كوي يا هغه چاره يې ډېره نارامه وكړه يا په هغه باره كې نور ټول قوم سم (سيخ) وو پ نارامه وو يا پ په كور و كلي كې نارامي كوي.

نارونه — له ښښني ځخه وروسته به ووايو چې د (غ) او (خ) ريښو ته نارونه وايي بيا نارونه داسې يادوي لكه پ خان ډېر لوی لوی سړی كاو خو پ نارونه تري وښكله ګواري داسې كړه وره يې ور سره وكړه چې هغه يې له توانه ولواوه يا له پ څخه اوس نارونه ختلي يا په هغه باره كې له پ څخه نارونه وكاګي. يا ښځينه نار چې ويلي يې دي تور يې په تور اينښی، خو نار يې په نار نه ده تللی دا ځك توره بولي...؟ دلته دوارو ته نار ويل كيږي.

ناز — لكه پ الواد ته ډېر ناز وركوي ياپ – پ ته ډېر ناز وركه يا يې په هغه باره كې ډېر ناز وركه يا پ د پ ناز وړي يا له هغه امله ناز وركوي.

نازولي — لكه پ د پلار نازولی زوی ده يا پ – پ ډير نازولی ده يا پ د پ نازولی ده.

ناسته — لكه په هغه خبره يې څو واري ناسته سره وكړه يا په هغه چاره يې ناسته سره كړي وي چې ناسته پرې ونه شي هسې نه كيګي.

ناسته ولاړه — وايي پ او پ ناسته ولاړه نه سره كوي دا ډير منان كيګي چې ناست ولاړلي يې سره بند دي يا يې په هغه باره كې څو واري ناسته ولاړه سره وكړه.

ناسور : کله چې په سره زخم زیات وخت تیر شي زیات متضرر شي هغه ته ناسور وایي بیا دا تو سي ډېر متې یادیګي، لکه هغه خبره ناسور ده هغې نه ګوتي مه ور وړه با ...یه قو... ناسور شوی ده یا هغه بیلبره پ ناسور کړه.

ناسوندي : لکه پ خوږو ته ډېر ناسوندي ده یني وړنه بې صبره ده یا پ هغې خبرې یا چارې ته ډېر ناسوندي ده یا دا چې ښځې ته ناسونده ده یا پ په هغه باره کې ناسوندي ناسوندي کېږي د ناسونده ی ګرځیده.

ناښاده : لومړي به دا ښیرا وګورو چې وایي خدای ... ناښاده کړه یا دا چې وایي په پ ډېر ناښاده ژوند تیر شو یا په پ د پ له لاسه ناښاده ژوندتیریګي.

ناغوږه : کوم مزري چې زر شکیګي هغه ته ناغوږه وایي ناغوږه بیا داسې یادیګي وایي د پ ناغوږه سورت (بدن) ده.

ناغیړي : وایي پ یو کار هم سم نه کوي په هر کار کې ناغیړي کوي یا په هغو خبرو کې یې ناغیړي وکړه یا یې په هغه باره کې ناغیړي کوله. یا سیاسي او قانوني ناغیړي

ناکسه : وایي پ ناکسه تربور ده یا ناکسه خیل ده یا دا خبره چې کیګي وایي د ناکسو ناکسي مې ژړوي.

ناکوجاته : وایي له پ سره ښه مه کوي هغه د چا ښه نه مني د ښو ناکوجاته ده یا دا ویل چې وه! ناکوجاته.

نالبدلي : وایي پ مړ شو چا و نه لیده نالبدلي ګور ... بلاړ یا په هغه بیلبره کې پ نالبدلي وګنې یا مونالبدلي وګانه

نامتو : لکه پ بد بدکارونه کوي خان یې نامتو کړي ده یا خان ولي نامتو کوي بیا دا ټکي داسې هم یادیګي وایي په ټول قوم کې پ نامتو سړي ده مشهور ده.

نامرده ګیره : دا ټکی د یوې ګیلې په وخت کې زیات کیګي لکه نامرده ګیره داسې خو ځوك نه کوي لکه تا چې له پ سره وکړه یا نامرده ګیره داسې به دي کړي وو.

نامنونکي : وایي په هغه خبره کې پ نامنونکي شو یا نامنونکي جوت کړي.

نامه توري : لکه په هغه باره کې پ نامه توري شو یا یې په هغه کیسه (خبره) پ نامه توري کړ یا یې له هغې ښځې سره پ نامه توري کړ یا یې په هغه باره کې هسې یا داسې نامه توري په پ پسې وکړه یا که د پ داسې نامه توري کړ تا به هم همداسې نامه توري کړي یا پ خان په خپله نامه توري کړ

**نامینده** لومړي دا شیرا چې وایي خدای ﷻ د نامینده کړه یا په له هغه شي اوس نامینده شو یا له هغه امله نامینده شو

**ناندري** وایي د ي او پ ترمنځه په څه خبره ناندری پېښې شوي وي یا پ له پ سره ناندري ویلي ویني داسې خبرې یې سره اړولې را اړولې چې زړه پرې بدیده یا یې په هغه باره کې ډېرې ناندری سره وویلې له ډېرو ناندریو وروسته بیا داسې وشول یا یې په هغه شي ناندری سره وویلې

**نانیغه** لکه کوچنیان د چا خبره نه مني ډیر نانیغه دي یعني د چا ادب نه کوي نانیغه دي یا پ - پ ته ډېره نانیغه خبره وکړه پ سړي یا ښځه ډیره نانیغه ده یا په هغه باره کې پ او پ ډېرې نانیغې خبرې سره وکړې

**ناورین** لکه د پ څوك یا زوی ورور مړ وو رټ سخت ناورین یې تیر شو یعني دروند غم پرې تیر شو یا پ ټن سبا له سخت (رټ) ناورین سره مخ یا له هغه امله یا د پ له لاسه له ناورین سره مخ شو

**ناهیله** دا شیرا ده چې وایي خدای ﷻ د هیله ناهیله کړه یا د پ هیله وشکیده ناهیله شو یا په هغه باره کې پ ناهیله ده یا له هغه امله ناهیله ده

**نانیسه** لکه پ - پ ډېر نانیسه که یا په هغه خبره یا چاره ډېر نانیسه شو یا چښتن چې سپي ته ووایي چې کوري هم نانیسه شي یا پ پ ته په هغه باره کې بدې ردې وویلې له هغه امله ډېر نانیسه شو یا کوچني کړاځي مه نانیسه کوه

**نائك** وایي پ -- پ نایك نیولی ده یا دا ویل چې له خانه د پ نایك مه راته جوړوه یا د پ نایك زورور ده یا دا چې وایي چې نایکیي زورور وي امسایه یې غنچه وي پردي کټونه یا په هغه باره کې پ په خپل نایك چیغه ګډه کړه یا پ خپل نایك ته خان ور ورساوو

**نبیره** وایي پ د پ نبیره ده یعني زوي لمسی یا کړوسی یې ده یا پ او پ سره بوه نبیره دی ویني سره خپل دی یا دا کنځا (زیاړه) چې وایي تا نبیره داسې کړم

**نته** دا ټکي دوه خیله (ډوله) یادیګي بیا دوه خایه پکار کیګي یو - نه - نه ده چې د اوښ له مار سره مو یاده کړي ده یو نته ده لکه پ د دوښمن مال داوست نته یې راوسته یا داخبره چې وایي نتې ته خپل حنتن دریګي یا له دوښمنه یې نته را خلاصه کړه

نخره : وايي پ هغه کار نه کاوه، نخره يې کوله، يا پ داسې نخره وکړه چې بل به داسې نخره و نه کړي، يا د واکمنو او درباريانو نخرې يا سياسي او نورې نخرې.

نخښه : هسې خو نخښه يا شناخښه په قبر دريګي خو بيا نخښه داسې هم ياديګي وايي که دا کار داسې وشو يا ونه شو بيا مې نخښې ته لاړې را توکه يا مې به نخښه لاړې توکه. يا که داسې وشوه يا ونه شوه نخښه مې را وټکوه.

نځيدل : وايي پ – پ ته نځيده يا پ چې کوابنندې ووينې نځيګي ګوارې زورنې کوې يا پ هغه چارې ته نځيګي منې ورته ګوابنيګي.

نرمخه : وايي پلانی نرمخ ښځه ده ګوا د سړيو خويونه پکې دي.

نرمچ : وايي پ نر مچ په پزه نه پرې ګدې ينې خان ډېر تکړه بولي يا دا ويل چې تاخو نر مچ په پزه نه پرې ښود اوس ولې داسې در سره وشول يا پ نن سبا د ميړو يا دولت چښتن ده نر مچ په پزه نه پريګدي.

نر ښځي : هسې خو نر ښځي هغه چاته وايي چې لـه نامـه لاندې پـه ښځه کې د سړي او پـه سړي کـې د ښځې نـښې وي، خـو ځينـې خلکـو تـه د سپکاوي او د ځينو د سپکاني له امله هغوی ته نر ښځې ويل کيګي لکه پ څه تړی ده نر ښځي.

نرغينده : په ځينې وخت کې خبره لګ سو غورځنه غوندې ياديګي لکه په کلي کې يو نرغينده نه شته ټولې ښځې دي يا دومره نرغينده نشته چې پسه حلال کړي يا پ هم سړي ده يو نرغينده ده.

نرکي لار : وايي په هغه باره يې پ ته يوه نرکې لار پرې ايښې ده يا پـه هغه بـاره کې د پ لپاره يوه نرکې لار جوړه کړې

نروا چوټ : وايي د پ يو کار هم سم دم نه ده ډېر نروا چوټ سړی ده يا نروا چوټه ښځه ده يا له نروا چوټ څخه هر څوك خان ساتي يا پ پـه هغـه خبره يا چاره (باره) کې نروا چوټي وکړه

نرولي : هغې ښځې او همداراز هغې اوښې ميګې او وزې غيلې ته نرولې وايي چې نران بچيان راوړي (زيګوي).

نری خبري : وايي پ – پ ته د هغې چارې يا خبر په باره کې نرې خبر يې ورکړي وو يا پ ته نرې خبر يې ور کړي.

نری ست : وايي پ – پ ته په دې باره کې نری ست کړی وو يا پ ته نری ست وکړه.

نرى کنډو : لکه پ - پ ته د بدی ملا تري هغه نرى کنډو ورته ښکاره شو ګوالي کمزوری ورته ښکاره شو یا پ نری کنډو مه بوله یا پ دي نری کنډو ولیده

نرى ورخ : وایي په نري ورخ اوبه زر اوري پ نري ورخ در ته ښکاره شو خکه دې مخه پرې ور وکړه یا پ نری ورخ مه بوله یا په هغه باره کې پ - پ ته نرى ورخ ښکاري

نري ویل : کله په هغه بیلبره کې پ - پ ته نري ویل کړي وو یا پ ته نري ویل وکړه

نس پرس : وایي پ چې چېرته خواړه ويني دده ورته سرګي وي ډېر نس پرس بد سولي ده یا نس پرس ده نه مړيږي

نس په اوبو کې کیښودل : وایي پ د پ ډوډي ته نس په اوبو کې ایښي ده یا پ د پ مال او دولت ته نس په اوبو کې ایښي وو

نس ته اچول : وایي پ د قوم شته نس ته واچول

نس خیشته ول : دا خبره هم نس په اوبو کې د کیښودلو په څیر کیږي لکه پ پردي مړې ته نس خیشت کړي ده یا د قوم ستو ته یې نس خیشت کړي وو

نس ګومانه : وایي پ ډېر نس ګومانه ده مور په لورو حبرو غږیدو پ راغی چې ره مو یادولم هسې نس ګماني کوي یا یې په هغه باره کې نس ګوماني کړي ده

نظیر تري تیرول : وایي پ له هغې چارې هسې نظیر تېروي یا پ ډېر توان من ده نظیر مه تري تیروه

نظیر تیري : وایي د پ نظیر په هر چا تېر ده ډېر نظر سري سري ده یا ډېر نظیر تیري نظیر تیري مه کیږه په دا سې خلکو به واوري چې هیران به یاني شي

نغاره : لکه دلته یا هلته به ولې داسې بې اثرى کار کیږي د اسلام نغاره ویله کیږي یا پ نغاره درته و بې ته به حیر یږي

نغاړل : لکه نغر یا پیخول سره و نغاړه وښوه سره د ساو بې کړه یا پ خواړه خوري هر څه سره نغاړي یا پ د پ لیمچې ورو نغاړه

نغرى : وایي خپل نغر یې جوړ کړه وسوه قوم سره ایننپاخه کړه یا د ا دوعا وایي خدای ج دې د خپل نغري له غمه وساته

نغړك : کله چې لاس سوك شي د کسي ګوتي په لوری که څوك ووهي وایي په نغړ کومي که یا په نغړکو یې کړه شي د کسي ګوتي لوري سوك ته نغړك وایي

نغند : لکه د پښنه خو کیګي نغند نغند ځي یا په دي چاره کې ولي نغند شوي یا په هغه باره کې پ نغند وو.

نغواله : د مال د خوراك له پاره چې لـه روټو اوړو او میـده جـوارو ځخه د مال خولي ته ګوله جوړه شي هغه ګولي ته نغواله وایي بیا نغوالي داسـې هم یادوي وایي پ د پ مال و دولت د خولې نغواله بولي.

نغوړګي : کله چې مزري میـوي ګواري پتخو تـه ځان تیـاروي یـو دول ډبـل نـار کوي هغه نار ته نغوړګي وایـي نغوړګي چې کله تنکې او تیـون وي خلك یې خوري هغه ته مازغه وایي کـه د یو چا لـه مزی (ځوربوالـي) ځخه ځټ پریږ شي وایي پ نغوړګي ځټ کړي یـا پ ځټ نغـوړګي نغوړګي کوي.

نګاره : وایي دا خبره ما کړي ده زه یې نګاره نه یم یا مې دا چاره کړې ده نـه پې نګاره کیګم یا پ له پ سره ښه کړي دي هغه یې نګاره ده.

نګاندل : لکه پ په سر ولګیده روان و ، ونګاندل شو یا پ روان و لـه پښنو یې ځه تاو شول ونګاندل شو یا په دې چاره یا خبره کې پ – پ ونګانـده یا په هغه باره کې له هغه امله ونګاندل شو.

نګښۍ : یو نکري دا ښیرا چې وایي خدای ﷻ د نګښي په قوم کې تینګ مـه کړه یا نګښي د له قومه وخیځه بیا داسې هم ویـل کیـګي وایـي د پ نګښي له هغه امله له قومه وخوت یا د پ نګښي پ له قومـه وښکـه یا د پ نګښي له قومه مه کاګه یـا د پ نګښي پ تینګ کړ یـا بې نګښي وکاګي

نګوښیدل : لکه د پ پښنه خو کیګي نګوښي بیا دا ټکي داسې هم یادیګي وایي پ په لګ تاوان نه نـګوښي یا پـه هغـه بیلبره کې پـه هغـه تـاوان ونـه نګوښیده یا په هغه خبره پ نه نګوښي.

نګه : وښوه ځاز ګري لکه نګه غوړي یا نګه مالګه نګه تیـل او داسـې نـور یا دا چې نګه پښتو . نګه فارسي نګه عربي یا پ نګه پ په هغه باره کې وغګیده نور ځه یې ونه ویل.

نمت : ویل ددې نمت مي نه وو چې زه به دومره کینم یا د هغې خبرې نمت مې نه و چې هغه خبره به یادوم .

نمود : لکه د هغه شي به بزار کې نمود هم نه و ، یا به یې نمود هم پیـدا نـه کړي

نندارځو : وایي پ هغه چارې ته نندار ځو ده یادوي دواړه سره غګیده پ نندار ځو ورته ناست و ، یاداچې نندار ځو باتوره ده یا ته ورته نندار ځوشه

**ننداره** لکه تا چې هغه چاره کوله هغه منان پ د تا ننداره کوله یا ته ننداره ورته کوه چې پ څه کوي

**ننگه کول** وايي پ د پ ننگه وکړه يا د پلار ننگه کوه د زوي ننگه مه کوه يا د قوم ننگه یې وکړه

**ننگه ول** لکه پ په هغه کار نه کاوه، خلکو وننګاوو ګوالي وي باتاوو هغه کار یې پرې وکړ یا پ چې وننګه وي هر کار کوي پ خلکو وننګاوه پ ته یې په جنګ ورواچاوو یا لیونی مه ننګه وي

**ننګېدل** لکه پ یوه خبره وکړه خلکو ورته وخندل دي وننګيده هغه خبره یې څو واري (بیا بیا) کوله یا خلکو ورته وويل چې دا چاره مه کوه دي وننګيده هغه چارې ته ولګيده يا پ ننګيدلي زيه ده.

**نوخول** لکه پ مال په شنو ونو خاوو وشوه پې روګدي یې که یا پ پ په دودي نو خولي هره ورځ د هغه په دوستار خان ناست وي يا پ پلاني ښځې نو خولې ده يا پ خولکو په پیسو ونوخاوه.

**نوخيدلي** لکه پ په پلانی ښځې نوخيدلي ده يا په هغه چاره نوخيدلي يني روګدي (اموخته).

**نوغي** لکه پ په هغه نشي کې نوغي پيدا کړ يا هيځ نوغي يني عيب نشته پکې يا د پ په خبرو کې پ نوغي پيدا کړ يا د پ په مال یا چارو کې نوغي نشته، نوغی دې زنګېږي هستي ته هم وايي.

**نوك بنديدل** لکه پ د پ بد خوا ده نوك به یې ورته بند نه شي که نوك یې ورته بند شو خپل وس به پوري وکړي يا په هغه چاره کې د پ نوك پ ته بند شو يا د پ نوك پ ته نه بنديګي

**نوك نيښت** دا هم د نوك بنديدو په څير يادیګي لکه په دي چاره کې د پ نوك درته ونيښت اوس خان ورته ټينګ کړه يا په هغه باره کې به یې نوك درته ونه نښلي

**نوك نيول** لکه پ د پ کورته ورته په وره کې نوك ونيوه يا پ د هغې خبري د اوريدو لپاره نوك ونيو يا یې هغې چارې ته نوك ونيوه يا یې په هغه بيلبره کې نوك ونيوه

**نوکرانې** دا تکې داسې هم کیګي وايي ګوتې مې یخې شوې نوکرانې شوې خوګ کوي بیا دا خبره داسې هم کیګي وایي پ په پ نوکرانې ولګولې یا پ په زمکه نوکرانې لګوی يا پ د هغې خبرې يا چارې د حل له پاره نکرانې لګوی

**نوکو اوري سره بیلول** وايي په نوك اوري سره بيلوي ګوالي خپلوان یو له بله سره بیلوي

نوکونښین لکه هغه شي او هغه شي نوکو نیښن سره ورسېده یا دواړه ځایه رخت نکونښن سره ورسېده یا نوك و نین چارې

نولوخول لکه پ دونیا و دولت ډېر په نولوخول ډېره کړه یا پـه نولوخول وګټله وبولـه پـه سـتړیو سـتونخو اندیښنو ـيې وګټله یـا ژونـدي سـره د نولوخول دونیـا ده پـه نولـوخول سـاتله کـېګي یـا هغــه چـاره ډېر نولوخول غواړي یا په هغه باره کې نولوخول يې تېر شو

نونخه وایي دا ډېر منان کیګي چې پ نونخه ده وښیـه ناروغـه ده یا ولـي نونخه يې څه ناروغي لري کوم ډاکټر تـه ځان وښیـه تر څو بـه نونخه يي

نوون لکه دا شي نوون ده ګواري لګ لوند ده نو ده پکې

نه سړي وابي پ نه سړي ده سړي بود نه لري

نه کسه لکه مشه مشه نـه کسـه چې دا چاره و نـه شي یـا نـه کسـه چې پ دا چاره ونه کړي

نه لاس ګونا نه پښه ګونا لکه نه لاس ګونا نه پښه ګونا پ حکومت ونیوه

نیسیا لکه پ مال په نسیا خرڅه کـه ګوالي پور ګني يې ورکـه یـا داغ چې وایي یوه مورخرڅه وله بل په نیسیا (پور ګني) ترې غوښته

نیښ اچول وایـي پ - پ تـه نیښ ورواچاوو وبولـه بـدي ردي خبري يـې ورتـه وکړي یا په هغه چاره یا خبره پ نه نیښ ورواچوه یـا يـې پ تـه نیښ ور واچاوه یا چې پ ته نیښ ور اچولي ده یا پ نیښ در اچوي

نیښنیخل لکه کالي (جامي) ونیښنیخه چې اوبه ترې تویه شي خو بیا نیښنیـخل داسې هم یادیګي لکه پ - پ ونیښنیخه دونیا و دولت يې ټول ترې یو ووړ یا پ قوم ونیښنیخه

نیغي خبري وایي پ - پ ته ډیري نیغي خبري وکړي یا د پ خبري ډیري نیغي دي

نیغي سترګي لکه د پ ډیري نیغي سترګي دي ګواکې بې حیاء دي

نیل لکه اسپه نیل شوه یا پ له پ سره نیـل شو یا په دي چاره یا خبره کې نیل شوي ده

نیلي زین کول لکه پ هغـه ځاي تـه ځي نیلي يې زیـن کړي ده یـا پ لـه کـوره ځي زوی يې هم نیلي ور سره زین کړي ده ور سره ځي یا پ پـه دې بیلبره کې نیلي زین کړي ده

نیم خاله وابي پ د پاخه عمر نیم خاله سړي یا نیم خاله ښځه ده

نیمبنه نیمښوره وایـي پ هغـه کـار نیمـبنه نیمـښوره وکـړ یـا خـبره يـې نیمـبنه نیمښوره وکړه یا سیاسي او مالي چارې نیمبنه نیم ښوره کول

ACKU

نیم ګړ: له پ نیم ګړ مسلمان ده یا له نیم ګړو مسلمانانو څخه لري ګرزي یا هغه شي نیم ګړ ده

نیمه خوا: لومړي به دا ښیرا وګورو چې وايي خدای ﷻ چې د نمسه خوا نیمګړي کړه یا دا چې پ خواني مرګ شو نیمه خوا شو یا د پ ټول کارونه نیمه خوا شوه

نینه ول: لکه پ له قوم سره د ټنګي ټنګي حساب کوي ډیره یې نینه وي یا په خوړو خان نه مړوي نه یې میلمه ته ورکوي ډېره نینه وي یا هغه شي (څیز) ونینه وه اوبه تري وباسه یا پ هغه خبره ونینه وله

نینۍ چچل: وايي پ له پ سره ډیري نینۍ وچچلي ښي د هغه په بدو کړو وړو یې صبر وکړ یا پ خواړه نه لري نینۍ چچي یا دا خبره وايي چې چیښتن یې نینۍ چچي سپي ته به څه واچوي یا پ چې په خپله نینۍ چچي پ ته به څه ورکړي

نینیدلي زر: وايي د پ خورولور نینیدلي زر ده یا پ تینیدلي زر نګور راوړه یا پ نینیدلي ده یا پ هغه خبره یا چاره بیلبره نینیدلي زر یا هغه چاره او خبره یې نیني ولي زر کړه

نیوکه: لکه پ ډېر ځایونه نیولي هر ځای یې نیوکه کړي ده یا یې په هغه شي کې نیوکه وکړه

نیڼ: د مزري پاني چې وتکولي شي بیا د غړ کې اوزي په کنړلو کې کار تري اخیستل کیګي هغه ته نیڼ وايي بیا نیڼ داسي یادوي وايي د پ خوله چې په نیڼ وګندي ببا به هم خبري کمي نه کري یا پ له خبرو نه ایساریګي منګر یې خوله په نیڼ وګنډو

نی: وايي د پ پوهه یا عقل د پ پوهي یا عقل ته نی وهي یا د پ خوانۍ د پ خوانۍ ته نی وهي یا د پ ژبه د پ ژبې ته یې وهي یا د پ دولت د پ دولت ته نی وهي

# و

**وار** : لکه د لاس وار چې پ وار وکه یا په هغه باره کې پ خپل وار ته گوري یا دا ویل چې وایي وار له غولي پارتیکیگي یا پ په هغه باره کې له پ څخه خپل وار واخیست یا دا خبره چې کله وار د ابا وي کله وار د ادې وي یا په هغه باره کې یا له هغه امله پ ته زړه وار نه ورکوي یا زړه وار ورته که.

**وار له واره** : لکه پ په نښه ډز وکه وار له واره یې نښه وویسته یا چې کله سره کیناستو وار له واره یې دا خبره یا ده کړه.

**وار کول لاس له شا نیول** : چې خبره ښه پیجوه (پاکه) شي نو به ووایو چې دا خبره د هغه چا په باره کې یادیگي چې یو کار وکړي بیا په هغه کار نگاره او خلکو ته دا وښیي چې ما دا چاره نه ده کړې لکه پ وار وکړي لاس له شا ونیسي چې ما هیڅ نه دي کړي.

**واره** لکه پ په هغه مال کې ښه واره وکړه یا په دي چاره کې د واره ده یا داچې وایي د واري له خایه یوازې خدایﷻ خبر ده یا پ په هغه شي کې واره لیدلي وه.

**واره گړي** چې یوې چارې ته د یو چاپر خای بل کس درو ولیگل شي هغه ته واره گړي وایي لکه پ په خپله دا چاره نه کوي پ یې واره گړي را لیگلي ده یا ته په خپل راځه واره گړي د نه منو بله دا چې واره گړي هغه چاته هم ویل کیگي چې بریدي او ویستندي وي لکه پ واره گړي سړي ده چې وار به یې وکړ سړي به یې ولواوو یا پ هم ځان واره گړي وار گړي کاني (کوي) خو واره گړي نه ده.

**واره من** لکه پ دا شي ښه واره من اخیستی ده یا دا خبره یا دا چاره واره منه ورته چوته شوه یا په هغه باره کې پ واره من ده.

**واري واري** لکه دلته ټول کارونه واري واري دي یا پ له پ سره جارې کوي خو واري واري.

ACKU

وازاپین: وايي پ پسې خلکو وازاپین نیولی دی. پسې ډېر ازې پسې کوي یا په پ پسې خلکو وازاپین نیولی. جبري پسې کوي یا کلونه کلونه وازاپین

وازهه: د پړي یا بوه بل څه د په کچه کولو لپاره وازه یې دوایه لاسونه چې له ځانه بیرته سره اوګده شي نو وازهه شي

واړهه: چې خبره پیچوه (پاکه) وکړو نو به ووایو چې کوچنیا کراڅي یا د کلي واړه مستي ته راوتلي وو کوره کې یې جوړ کړي وو یا ارګوړي برګوري یې کول واړه هلکان یا ړې جنګي وي

واړه: ګواري ټول لکه اواړه یا واړه سړي مشي یا واړه راغله

واك: لکه پ قوم ته د هغې خبري واك ورکه یا په هغه بیلبره کې له قوم څه واك وغوښت یا پ په کور کې د هیڅ واك نه لري یا پ – پ له واکه ایستلي ده یا دا تکي داسې هم یادیګي وايي د پ خوله په واك نه ده څه به ورته ووایي یا خوله دې په واك کړه یا له پ څخه خپلوانو واك تیر کړي یا په هغه باره کې پ له پ څخه واك تېر کړی ده

وامه: وايي پ وامه سړی یا وامه ښځه ده وبوله په هر منان کې ویره ورسره ملګري ده یا وامه وامه ولې کیږي څه شوي دي

واني: لکه په هغه خبره د پ واني ووړي وشوه وار خطا شو یا ولې وار خطا شوې چې واني د ووتې یا هغې پیاري د ده واني ه بستي یا دا کار وکړه د هغه واني وزي یا له دې امنه ټول قوم ... موېږ

وایم: وايي پ هغه خبره له وایمه وکړه یا له وایمه مه غځیګه یا له وایمه وغګیده

وایه: لکه پ له پلاره هیڅ وایه ونه کړه یا په هغه باره کې پ له پ څخه وایه نه کوي یا یې وایه نه تري کیګي

وایه د تا په ځان: وايي پ – پ ته وویل چې که داسې دې وکړه وایه د تا په ځان یا که داسې دې ونه کړه وایه د تا په ځان

وُب: وايي پ ته وب ور ولاړ شو داسې یې وویل وب ور ولاړ شو داسې یې وکړه یا پ ته وب ور ولاړیګي یو ناڅاپه بو کار یا خبره کوي

وُبي: وايي پ وبي تري یا وبي ښځه ده یا وُبي وُبي مه کیګه یا په هغه باره کې وبي وُبي کیده. وشوه په یوه حال نه وو کله به یې یو څه و کله به یې بل څه کول

وت: لکه د خلکو تر لمنځ وت پیدا شو یا وت کې ګوره یا په قومونو کې وتونه پیدا شوه په دې برسیره د میګو د شنا له ویره ته هم وت وایي بیا دا تکي داسې هم یادیګي وايي د قوم ایستې ... ګټ که

لومړي پ له هغه کرېته ووت د قوم وت يې وچاوو يا يې په هغه باره کې د قوم وت واچاوو يا وت مه اچوه.

وتي ننه وتي : وايي پ وزي ننه وزي چې دده په زړه کې څه دي وښيه وتي ننه وتي کوي يا پ له پ سره وتي ننه وتي کاڼلي کړل.

وټ : چې خبره پيجوه (پاکه) او وريته ياده کړو نو به ووايو چې وټ د عيب ځای نيسي لکه په هغه شي کې هيڅ وټ نشته يا د پ په خبرو کې د ګوتې د کينبودو ځای نه وو داسې روغ غړيده چې وټ نه وو پکې يا د پ په چارو او سړي توب کې وټ نشته.

وټکي : دا نوم د غره يوې وړې اوبو کې برخې ته يادوي لکه پ له وټکي پورې ترې پنا ده يا پ په وټکي پورې دروغ ووېل يا پ په هغه باره کې په وټکي پورې خان پناه کړې ده يا هغې چارې يا خبرې ته په وټکي پورې تيار ناست ده.

وټي : دا ټکي هم د غره يوې وړې برخې ته يادېګي لکه پ وټي ته نيغ شوي يا دا خبره هغه ته وټي شوه يا دا خبره يا چاره وټي مه درته ښکاره وه يا په هغه باره کې پ له هغه امله وټي ته وخوت وښيه نامنونکې شو يا خلکو ته جوت وريت شو يا په هغه باره کې پ خلکو وټي ته وخيځاوو وبوله کبرجن يې سابت که يا يې خلکو څرګند که (جوت که).

وجه : لکه د پ په پ نغدي پيسې وې وجه يې پکې واخيسته يا دا ښيرا چې مال ته ګيګي وايي خداي (ج) د بې وجې رانه راشکه واخله يا دې چارې وجه څه وه چې داسې وشوه.

وچ : لکه په هغه باره کې يا له هغه امله پ – پ ته وچ ودريده يا پ وچ سړی يا ښځه ده وچ ويل کوي يا هغه انسان يا حيوان وچ نيغ په غره وخوت يا وچه ښځه وچه اوښه وچه غوا او داسې نورې.

وچيبګن : لکه داشي په اوبو کې ولويده لمر ته يې واچاوه اوس وچبګن شو.

وچ په وچه : له پ – پ ته وچ په وچه کنځاوې (زياړې) وکړې.

وچ حق : په کوچيانو کې که د کوم چا ميګې وزې مال ور ګډ کړي بيا د نورو په خلاف شپانه ته دوه‌ی ورې يا بل څه نه ورکوي يوازې دا کوي چې پيسې ورکوي هغه ته وچ حق وايي لکه پ ميګي په وچ حق راته پيايي.

وچ خواب : لکه پ – پ ته ډېر وچ خواب ورکه ګواري هغه و دغه يې ور سره ونه کړيه يا وچ خواب بې ورکه يني ترې ونه شرميده نيغه خبره خواب بې ورکه

وچ ککړ : لکه د پیسو پ وچ ککړ زامن شو یا وچ ککړ مې هغه شي له نا سره شو یا په هغه باره کې پ وچ ککړ مدعي شو

وچ موری : که چېرته د یوې ښځې یو الواد تی روي، د تي د رو... ده کې یې که بل الواد په نس او خېټه شي. هغه مشر رو... یې وچ موری ده، لکه دمخوګی څه په سن ...، مشر الواد یې وچ موری که.

وچه خوله ویل : لکه پ له هغه کاره څخه خوشاله نه و، وچه خوله یې ترې ویله یا په هغه باره کې وچه خوله وېل یا هم له پ څخه وچه خوله ویل

وچوبه : لکه په هغه سیمه کې اوبه کمه یا نشته وچوبه ده

وچوړکي : دا ټکي د هغه چا له پاره یادیګي چې بدن یې نري او وچ غوندي وي لکه پ وچوړکي سړي یا وچوړکې ښځه ده یا پ هلته وچوړکی مخ ګرزیده.

وچولاندہ : وایي په وچولامده ګډ سره وسوه یا په دي چاره کې به وچولامده ګډ سره وسوزي.

وچوني : لکه پ د ډېر مال یا د ښه مال غلګن نده د وچوني غل ده یني وچوني په مال کې وروکې او کم توانه مال یاد شو یا په ډېرو چوني پټ کړه د وچوني غل ده یا وه ! د وچوني غله.

وچه پي تړل : وایي پ په پ وچه تهلي یا وچه یې مه پري تړه یا یې په هغه باره کې وچه پي تړلي

وچه تیګه : ویل پ له پ څخه څه وغوښته پ ورته وچه تیګه شو چې نه یې لرم چې ځوك څه ترې وغواړي دی خان وچه تیګه کړي یا د هغې خبرې په باره کې وچه تیګه ده چې نه یې منم یا مې نه ده کړې.

وچه تیګه له غاښ لاندي کول : لکه پ له پ څخه پیسي وغوښتې هغه وچه تیګه له غاښه ورته لاندي کړه چې نه لرم یا د هغې خبرې یا چارې په باره کې پ وچه تیګه له غاښ لاندي کول.

وچه خبر : وایي پ – پ ته وچه خبر وکړه وچه خبر د پ ادت ده.

وچه خوله : لکه د پ خوله ډېره وچه وه چې څه د وربله وریپښه وه یا دا شي وایي خوله د وچه شه یني مړي یا وچه خوله پ ته و لاړ وو د مر غوښتنه یې ترې کوله

وچې شونډې : لکه د پ سونډې وچې وي یا په د خبره د هغه سونډې وچې یا وچې سونډې سوال یې کاوه.

وخ : لکه پ خوګ شو وخ غګ یې وکړ یا پ د چا په ... ګړ وخ یې په غم وخ نه کوي

**وخت اړول** لکه پ په دي خبرو یا چارو وخت اړوی یا به خلکو وخت اړوي
ډوډی (مړی) ترې خوري یا لګ خواړه خوري هسې وخت اړوي

**وځري** وايي پ هغې چارې یا خبرې ته ډېر پیړوندي د وځري ده یا په هغه
باره کې ډېر وځري ده.

**وده** لکه کوچنی (کړاځي) یا بوټي وده کوي یا د پ په زړه کې دي خبرو
وده وکړه.

**وډ** لکه پ ځان ته وډمینده که یا په هغه چاره کې هغه ځان ته وډ
جوړوي یا پ په وډ پسې ګرزي یا په هغه باره کې پ وډ ته سیخ شو
یا پ وډ ته سیخ که. وډ (وټ) هغه ځمکه ده چې تیون کښت ترې
وربېل شي.

**ورابني** لکه یه هغه خبرو کې پ ورابني شو یا په هغه باره کې پ له پ سره
ورابني شوي وو یا پ له هر چا سره ورابني شوي وي یا له هغه امله
پ اوپ سره ورابني شوه.

**وراسه** دا ټکي د خولقت ځاي نیسي لکه د پ سړي یا ښځي ښه وراسه ده
یا د انسانیت وراسه نه لري یا په هغه باره کې پ ښه وراسه را وکړه
یا بې ښه وراسه را ونه کړه یا د پ کومه وراسه د سړي ده.

**وراورا** ویل ټول قوم هغه خبره جوړه کړه خو پ کې وړا ورا شو بیرته یې
رنګه کړه یا کې ورا ورا شو نه یې منله یا په هغه بیلبره کې پ ورا
ورا شوې ده یا د پ په مخ کې پ ورا ورا شي هیڅ ته یې نه پریګدي
یا د پ په مخ کې پ ورا ورا شو خلك یې نه ورته پریښود.

**وربایی** وایي دا د پ د کاله (کور) (خوني) سیمه ده د هغه وربایه ته څوك
نیګدې نشي ورتلایي. یا وربایی جوس.

**وربوز وهل** ګواري پ تیموبوزی [تیموبوزکه، (مول)] یا وربوز وهلي ده.

**وربوزکوګ** وایی په هغه خبره یا چاره د پ وربوز له پ څخه کوګ ده یا ولې دې
وربوز کوګ ده چا څه در سره کړي یا د پ او پ وربوز ونه سره کاګه
دي یا د پ وربوز چا ته نه ور سمیګي یا په هغه باره د پ وربوز پ
ته نه ورسیمګي.

**وربوی** د خونې ورچنې سیمې او وربایی ته وربوی نوم هم یادوي پ د پ په
وربوی لوی شوې ده لکه د پ له وربوی څخه لرې ګرزه یا د پ ګنده
وربویی ده هلته چې هر څ وګرزي بدخویه کیګي.

**ورته** لومړي دا چې وایي پ پ ته ورته ده یا دا شي هغه شي ته ورته ده
ورته بیا دا سې هم بادیګي لکه کوټې ته ستن ورته ده یا کیګدی ته
کمچې ورته دي یا : کړاځیو (زنکیو) په لوبه کې پ او پ سره ورته

(مقابل) دي بيا ورته داسې هم يادېږي لکه د پ په پ پور ده، دومره افغاني يې ورته دي يا د پ او پ هيڅ نه وو سره ورته يا دا چې وايي نه د څه راته دي نه مې څه درته دي.

ورته ورته : لکه کوچني (کړاڅي) بد بد ژړل ورته ورته کېده يا پ د پ له لاسه ورته ورته شو ويې ژړل يا په هغه باره کې پ پ ته ورته ورته کېده ورته ژړل يې.

ورړه : که يو انسان بل انسان يا يو حيوان بل حيوان پسې واخلي يا حيوان انسان پسې واخلي يا انسان حيوان پسې واخلي دخوست پښتانه وايي ورړه يې که وښيه پسې وايي خيسته بيا دا خبره په کوچيانو کې ډېره يادېږي لکه په هغه باره کې پ پ ورړه که يا يې په هغه خبره کې ورړه که يا يې په هغه چاره کې ورړه که وبوله پسې وايي خيسته، يا په سياست او قانون کې ورړه.

ورټ : ويل له بدو چارو مې ډېر ورټ کېږي يني نفرت مې ترې کېږي يا مې له بدانو خلکو څخه ورټ (کرکه) کېږي بيا دا ټکی داسې هم کېږي وايي له پ څخه مي ډېر ورټ کېږي يني ډار مې ترې کېږي يا مې له هغې چارې يا خبرې څخه ورټ (نفرت) يا ورټ (ډار) وشو

ورد : دا ټکي کله کله د شاګوم خاى نيسي لکه د هغه شي ورد يا شاګوم بنه در پسې ولاړ يني سپيره يې کړي يا په شپانه يا د کلي په مشر يا په ښځو يا په مال پورې ورد ونيسه يا شاګوم پورې ونيسه چې ستا له پاره نيك مرغه کېږي او که بدمرغه کېږي بيا په دې برسيره ور د داسې هم يادوي لکه پ اوګدي جامې (خطې) اغوستي اوس يې ورد واړاوو لنډې او تنګي جامې اغوندي يا ورد واړوه ميګي دې خرڅې کړه وزې د غيلي واخله يا پخوا د خيمه وه اوس ورد واړوه کېګدي پيدا کړه.

ور ربنکي : ويل رټه (سخته) طبه مې ده په سورت د بدن کې مې ور ربنکې دي يا مې د بدن کومه برخه خو کېږي په ټول بدن کې مې ور ربنکي دي بيا ور ربنکي داسې هم يادوي وايي په هغه خبره يا چاره په غوصه شوم بدن مې ور ربنکي وکړي يا ور ربنکي کې خبرې شوي يا داسې خبره به واورې يا داسې عمل (کړه) به ووينې چې په بدن کې به دور ربنکي ولاړې شي.

ور ريدل : دا ټکي د پاسته شي د څيريدو ډېرې لګ نبنې ته وايي لکه رخت څيرې نه شو خو لګ ووريده يا څرمن يا ګوډې يا کېګدي بيخول

وورريده دا ښه شوه چې ځيرې نه شو دا تيکې ځينو ښځو ته هم يادوي.

ور زور : لکه له بدو کارونو يا بدانو خلکو څخه د پ ډېر ور زور کيږي وينې کړ که او نفرت يې ترې کيږي يا له پ څخه د پ ور زور کيږي يا له پ څخه د چې ور زور (ډار) نه کيږي له چا به دوشي يا مې له هغې خبرې يا چارې څخه ور زور ينې ډار وشو.

ورسك : وايي پ په ورسك پورې دروغ وايي يا د ا چې له هغه خبرې يا چارې څخه پ په ورسك پورې ځان الونيا کوي يا پ بدو ته ورسك په مخ کې ورکوي يا هغې خبرې يا چارې ته په ورسك پورې تيار ناست ده.

ورشون : ويل پ مړ شو ور شون يې پ ته ور پاتې وينې څه يې چې لرل هغه ور پاته شو يا د ورور ورشون وروسته ور پاتې شو يا د دوښمن ورشون ورپاتې شو يا پ له څه امله ژوندي ولاړ ور شونړ يې پ ته ور پاتې شو.

ور غالي : خوزي او څرخنې چې مخ ته يا د شوي ور غالي هم د ښه وريځو (وريزو) د منځ ډنډ ته وايي لکه پ يې د لويو کې خلکو په ور غالي پورې کوي يا يې پ په هغه باره کې په ورغالي کې خوري وشوه نرمه او غوړه يې خوري

ورغړن : لکه کوچنی کړاځې له مور و پلاره څه غواړي ورغړن ورته کوي له دې پرته دا خبره داسې هم يادوي وايي له هغه امله پ پ ته ورغړن کوي ينې داسې کړه وروړه کوي چې زور ترې جوتيږي يا پ د هغې بيلبرې په ګنده ټولو کې ډېرې ورغړنې وکړې.

ورکړه : وايي پ ورکړه کوي ينې سخي ده يا دا چې وايي ورکړه د خدای ﷻ ده چات ه څه ورکړې چاته څه يا پ دور کړې زوې نده د ر اکړه زوې دد يا پ په ورکړه کې نده په ر اکړه کې د ه

ور که : لکه د پ ورکه شوې ګواړې څه يې ورك دي يا خپله ورکه لټولې يا د پ ورکه ميله ده وشوه زمن يې نشته يا يې زمن سرې بود نه لرې.

ورکې ودانې : لکه د خپل ژوند په اوګدو کې په پ ډېرې ورکې ودانې راغلې دي، يا تر سره يې ډېرې ورکې ودانې تيرې شوې دي يا دا چې له پ څخه د ورکې ودانې پوښتنه وکړه؟

ورګ ځيګه : وايي پ ته د پ ورګ ډېر ځيګه دي وينې ورته په غوصه ده يا له څه وخته راهيسې د پ ورګ ډېر ځيګه دي هيڅ پوهه نه يو چې ولې يې د ورګ ځيره دي يا په هغه خبره د پ ورګ ځيګه شوه يا د پ ورګ له پلار و له نيکه ځيګه دي ځيګه خلك دي



ACKU

ورګ مړه : لکه له هغه چارې راهیسې د پ ورګ ډېر مړه دي یا په هغه خبره د پ ورګ مړه شوه یا په هغه باره کې د پ ورګ مړه وو

ورګوته لاس لکه د پلاني ورګو ته چا لاس نه شو ور وړی. یا پ یې ورګو ته لاس ور وړ. یا په هغه بیلبره کې ورګو ته لاس ور وړل

ورنډ کول : لکه پ له پ څخه لور وغوښته هغه دا خبره ور ورنډ کړه چې څو کاله وړاندې تا خور ولې ماته نه راکوله چې اوس زه لوړ در کړم یا یې هغه چاره ور ورنډ کړه هغه یې پرې ایسارکه یا د هغه خبره یا کوم شي ور ورنډ که یا هغه شي ورته ورنډ که یا پ ته خپله خبره ور ورنډ شوه یا دا د زړېدې خبره چې زما او ستا تر منځه راشي ورنډ شو نه به راځي نه په درخم نه به را سره غیګیګي نه به در غګیګم

ورنۍ : لکه پ لاپخوا په ورنۍ کې ډار کړې ده یا پ یې په ورنۍ کې پیژندلې ده یا پ او پ لا په ورنۍ کې سره پیژندلي دي

ور ور : کله چې کوچیان له یوه ځای څخه بل ځای ته لیګدي او له یوه وار باریدو څخه یې کالي ډېر وي نو زیات یا نیم کالي لوښي کېږې یا بل څه باروي خپل ټاپي ته یې له کډې څخه وړاندې رسوي هغه ته ور ور وایي لکه پ ور ور بار که په پلاني ځای یې واچاوو بیا که یوه چاره یا یوه خبره د بل چا په غاړه کې ور واچوله شي بل چا ته وسپارل شي وایي د پ څه غم ده په پ یې ور ور واچاوه. یا په پ دا شي (څیز) ورور شو وینې یې زیات شو یا په پ مور و پلار ورور شوه یا په پ باندې میلمه ورور شو د پ کورته یې ورولیګه

ورو – تور : لکه پلار په الواد ورو تور وکړ مګر وي نه وهل یا پ – پ ورو تور کړي وو یا پ په پ ورو تور وکړه یا پ د چا له ورو توره نه ډاریګي یا په ته ورو تور وکړه پښې ورته ودربه وه یا په هغه باره کې پ په پ ورو تور وکړه هغه یې وډارکه یا هغه وډار شو

وروست : وایې د اخاوره ده چې خینې شیان ورسته وي او خینې ساتې زمکه چې کوم شي له ښې ښمرې وغورځوي هغه ته وروست وایي

وروغر : لکه پ له کوره وتلی وروغر تللی ده یا دا ښیرا چې وایي خدای ﷻ د وروغر ورك کړه

ورون ټپه ول : له پ – پ ته ورون و ټپاوو یا پ هر چا ته ورون ټپه وي یا پ درینګي یا مندار ته وتلي ورون ټپه وي یا په هغه باره کې پ ته ورون ټپه وي

وروني : وایي پ په هغه خبره یا چاره ډېر وروني وو ډېر وروني شو یا د چا په مرګ وروني شو. متې خوښ او خوشاله

**وره په پیوانده:** وایي د پ او پ کورونه ډېر سره نیژدې دي سره وره په پیوانده دي.

**وړ** ویل داسې څوك نه میندگي چې پړ ته یې ووایي او وړ ته وواېي یني وړ وړونکې له په هغه بیلبره کې پ پړ شو وې بایلله پ وړ شو وې گتیله یا وي یې وړه.

**وړاندې** وایي پ له پ سره ډېر وړاندې ده یا له هغه خلکو سره پ خان وړاندې وړاندې کوي یا په هر کار کې پ وړاندې وړاندې کیگې یا پ په پ خان ور وړاندې بولي.

**وړن** گواکې نیك شا گوم او نیك مرغه لکه پ د قوم مشر وو ډېر وړن مشرتوب یې و یا پ له پ سره شپه وو ډېره وړ نه شپني یې وه یا هغه شي پوري وړن نشو یا هغه کار پور ي وړن شو.

**وړنگانښ** لکه پ نن له خانه ډېر وړ نگانښ جوړ کړي وو وړانگه یې اچوله یا هغه شي وړانگه اچوي وړنگانښ ده یا پ ډېر وړنگانښ نه ده.

**وړیا** لکه هغه مال پ وړیا (ارزانه) اخیستي ده.

**وړي په سر پورې ورتړل:** وایي پ ته یې وړي په سر پورې ور وتړلې گواري وینگاوو داسې خبري یې ورته وکړي چې پري خوشحاله او مست یې کړ یا پ ته په سر پور ي وړي مه ورتړه یا پ - پ ته په هغه باره کې وړي په سر پورې ور وتړلې یا یې وړي په سر پورې ور وتړل خپل کار یې پرې روان کړ.

**وړي له سره ور تاوول:** وایي پ ته یې وړي په سر پوري ور تاو کړي لوي سړي یا لوویه ښځه یې تري جوړه کړه.

**وزر ویل** دا ادت په چرگ باپ کیده خو داخبره داسې یادیگې وایي پ – پ، ته وز وهې گواري داسې کړه و، وړه کوي چې له هغه څخه زور ښکاري، یا هم چارو او خبرو ته یا هم ښځې ته وزر ویل

**وزره جگ** لکه د پ له هغې چارې شکه (نه څخه) وزره جگ دي یا هغې چارې ته یې وزره ور جگ دي یا وزره مه جگوه

**وزره کول** وایي پ وزره کړي دي یني پیسې یې پیدا کړي دي یا سړي یې ډېر شوي دي خو د زور چینښتن شوي ده وزره یې کړي بد غوني شوي ده وزره یې کړي دي تن سبا ورکیگي یا دا د زور ویل چې وایي وزره ورکړي دي وزره به د مات کړم یا دا چې وایي میگي (میگتون) چې ور کېږي نو وزره وکړي

**وزن کول** مخکې مو یاده کړې چې د وزې څرمنې ته وزن وایي خو که چیرته یو څوك ووهل شي نو وایي پ پ ښه وزن که یا پ به د وزن کړي ویني

ACKU

وبه د وهي يا يې پ د وزنو كه وينې پسنو كې با وزني به ور اغوندي.

**وزه**: لكه د پ كره چې ميلمه شي له ميلمانه سره ډېره ښه وزه كوي يا پ له پ سره په هغه باوزه يې نو ښه وزه ونه كړه

**وزه مړه**: وايي په هغه باره كې د پ وزه ډېره مړه وه يا پ د مړي وزي چښتن ده يني د ميړنتوب او توريالي توب نښې نشته پكې يا يې له هغه امله وزه مړه شوه يا يې په هغه خبره يا چاره وزه مړه شوه.

**وزه يې**: وايي د پ اوپ خبري سره وزه يې شوي يني سره بدي او زړه بدونكى شيو يا د پ او پ چاره سره وزه يې شوه يا دا چاره او خبره مه سره وزه يې كوي.

**وس**: لكه په هغه خبره كې د پ هيڅ وس نشته يا دا چاره اوس د پ له وسه تيره شوه يا دي چارې ته يې له وسه نه كيږي يا په هغه خبره كې به خپل وس وكړي خپل وس به نه سپمه وي

**وښ**: لكه په هغه خبره د پ وښ وواته يا په هغه چاره د پ وښ وواته يا پ داسې خبري سړي ته وكړې چې وښ يې وباسي يا په هغه باره كې له هغه امله د ټول قوم وښ وواته يا پ دپ خبره مني د هغه پې يې خې يا په هغه باره كې پ د پ خبره ومنله د هغه وښ پې ولاړ يا دا ښيرا چې وايي وښ د ووزه

**وښئ**: د ښځو د لاسونو او ليچو لپاره زر كران يو ډول (خيل) شيان جوړوي هغوى ته وښبې يا وښئ وايي وښئ بيا داسې هم يادېږي لكه له د ښمن څخه وښئ تا وشوه يا وښئ تري تاوشي يا دا چې پ ډول ته كډيده وښئ وښئ كيده.

**وطن ورته غل**: لكه پ ته هغه ټوله سيمه يا وطن ورته غل ده له هغه ټوله وطنه ډاريږي يا وطن ولي درته غل ده يا هر بوټي هره تيګه ورته غل ده يا په پ كې دا ګونا ده اوس ټول وطن ورته غل ده يا له هغه امله وطن ورته غل وو باده.

**وكه**: لكه د پ هغه شي ته وكه شوه هر منان يې هغې يا پ ته يې وكه شوه چې كله په راخي يا د پ هغې چارې ته وكه ده يني ورته سودا يې ده يا يې په هغه باره كې د پ خبر وته وكه شوه چې څه يې وويل يا يې ولي وويل

**وګره**: لكه كوچني كراخي سوي ده غوښې يې وګره وګره توبه دي يا پ زوړ شو به وګره يې ساته يا دا چې وايي ابي په مرتبه شوه، چې په مام

وګره سړه شوه یا په هغه چاره کې پ اخته شو په وګره ګډ شو یا په هغه باره کې پ په وګره ګډ شو نور به هم یې ګډ کړي

وګمه : لکه سړه وګمه لګیده بیا وګمه داسې هم یادیګي وایي له هغه خبري سره د پ وګمه بدله شوه یا له هغه چارې سره د پ وګمه بدله شوه یا پ ته د پ وګمه بدله شوه.

وګه خالي : لکه د پ وګه خالي ده وسله نه لري يني په وګه کې يې څه نشته یا وګه يې خالي ده میرونه خپل خپلوان ملا تړلي نلري

وګه ورکول : وایي هغې چارې ته پ وګه ورکړه یا پ د مګري ناروغیو ته وګه ورکړه

وګیدل : کله کله مال باپ ټول خان وښورويي هغوی ښوروڵو ته وګیده وایي لکه اوښ میګ یا وزه وګیګي یا ووګیده یا پ پ ته وګیګي یا ورګه ووګیده ګواري د زور او بنچټ ښني تري جوتي شوي

ول : هسې خو ول په کوچیانو کې یو ډول ټك ته هم وایي خو چې کله مرغه ته لومه جوړیګي د لومي د سر ښونکې ځای ته هم ول وایي ول بیا داسې هم یادیګي لکه پ خبري ته ول ورکه یا دا چې وایي په خبرو کې ولو نه شته خبري ته ول مه ورکوه یا داسې هم ویلي شو چې په هغه باره کې د پ په وړاندي ډېر ولونه دي یا یې په مخ کې ول پروت ده همدغه وړ و لکه.

ول ول : لکه د پلانی ښځې ول ول ځني وي یا ویښتان يې وو

ولکې : وایي ډېر مزل مو وکړ ولکې مو ووهلي یا له هغه ځایه او تر دي ځایه پوري ولکې دي.

ولن : لکه د ښه مګه ښه اوښ یا ښه وزګوني ښه ولن وي ګوالي ښه الواد یې وي یا پ د پ ولن ده ګواري د هغه زوي لمسي وکړسي یا کودي ده.

ولي : لمړي دا ښیرا چې وایي ولې دو خیخه یا ولي د له قامه وخیخه یا دا چې د ب ولي له قومه پ وښکه یا يې له هغه امله له قومه ولي وختنه یا لنډه شوه یا یې له ځایه ولي وختنه یا په هغه خبره یا چاره د پ ولي خیخي یا وختنه

ولي اچول : کله کله داسې کیږي په خوړې کې یو بوده خان نه یو داسې حرکت ور کړي چې که پ شا یې څوك سپاره وي نو غورځه وي بې (تربې یې) د بوده دی کړو ته د ولي اچول وایي بیا دا خبره داسې هم کیګي وایي په هغه بیلبره یا چاره کې پ ولي واچاوو ګواري تیر ایسـونکې عمل یې وکړ یا په دي چاره کې ولي مه اچوه

ولي غل کول : لکه په هغه چاره یا خبره کې پ ولي غل کړه یا په دې چاره کې له پ څخه ولي مه غل کوه له هغه سره مرسته وکړه.

وُلي دولي : دا ټکي هم د خوستې لهجې ده خو په کوچیانو کې ډېره باپ ده خوستې دا ټکي داسې یا دوي لکه دا شي سم ونیسه چې درن وُلي دولي نه شي یا وُلي دولي مه ګرزه کوچیان وایي پ ډېر سم (سبت) سړي ده یا سمه سه ښخه ده وُلي دولي ندي یا وُلي دولي انسان ښه نده.

ولي ورکول : وایي هغې چارې ته پ ولي ورکه.

ونت : دواړه مال د لري په روستې برخه کې وړوکي بل لري ده هغه ته ونت یا کوت کوتي هم وایي بیا دا ټکي داسې هم یادوي وایي رخت ونت ونت شوي ده یا د پ ونت ونت ټنډه ده.

ونګه : لکه کالي (جامې) یې یوه ونګه اغوستي ګوالي یو وار یې اغوستې دي یا پ په کور کې یوه ونګه جامې (خطي) کالي لري.

ونې غني : لکه دا دوعا چې وایي خداي (ج) د ونې غني شین کړه یا دا چې په ټول قوم کې پ ونې غني شین ده یا شین شو.

ونډه : یتې برخه لکه دا شي د پ ونډه ده یا په هغه شي کې پ او پ یوه ونډه دي.

ونډې : وایي د پ غوا اوښه یا میګ مو حلاله کړه څلورو کسو سره ونډې کړه وینې څلور برخې یې کړه یا هلته کلي والو ونډې کړې وه.

وور : لکه په خلکو کې وور ګډ ده چې سګني کال قیمتي ده یا په هغه باره کې پ داسې وور ګډ کړې وو وښیه اوازه یې ګډه کړې وه یا وور ګډ و خلك تښتي.

ویاړه : وایي پ د قوم له پاره ویاړه وه یا دې چارې یا خبرې ته ویاړه وتړه.

ویتو واز : لکه پ ډېر بې حیاء ویتو واز انسان ده یا پ ویتو واز کیګي یا په هغه چاره یا خبره کې ډېر ویتو واز شو.

ویتې وازي : وایي پ ډېرې ویتې وازې خبرې وکړې یا له هغه سره وتې وازې خبرې مه کوه.

ویدي لتکي : وایي ویدي لتکي مه راوښه وه یا په پ پسې ویدي لتکي را ویښې شوي یني داسې خبرې یا داسې وګړي پسې بیدار شوو چې دده لپاره ازارمن شوه یا پ ویده لتکه ده ازار یې لګیګي.

ویر : لکه هلته مړي شوي وو په ټول کلي ویر پروت وو یا پ هر منان ویر کوي ګواکي ژاړي یا غمجني خبرې کوي یا پ هر منان ویر اچولي

وي يا د پ ورور وزوي مړ وو هيڅا وير ور سره ونه کړ يا پ هغه خبرې يا چارې ته وير کوي

**ويران** چې خبره پيجوه پاکه، يا ده کړو، تو هغې بنځې يا سړي ته ويران وايي چې پيريان پرې راخي لکه پلاني بنځه با پ پيريان لري ويرانيګي کله کله هغه چا ته هم ويران ېکي کيګي چې يو څوک تکړه شي لکه پ په مور چه خيخ ويران سړي ده با پ بنې خبرې وکړې ويران سړي ده يا ښه ښه کارونه کوي ويران سړي ده

**ويران کاري** وايي واړه . کوچنيان . کراڅي تول ويران کارې دي يا پ سړي يا پلاني ښځه ډېره ويران کارې ده

**وير** لکه هلته غم يا ښادي وه يو وير سړي او يو وير ښځمنې ولاړې وي يا دې چارې ته يو وير ودريګي

**ويره** بدلمنو ښځو ته ويل کيګي وايي پلاني ښځه هر ځاي يا هر چاته ويره وي يا پلاني ويره

**ويستندي** لکه پ ښه ولي ډېر ويستندي ده يا د حلکو مال او الواد په نظير کوي وار له واره يې ولي ويستندي ده ويني ويستنه کوي وستندي ده

**ويښو ويده** لکه پ ناروغه غوندي ده ويښو ويده ده پ ناپوهه ده ويښ ويده ده يا دې چارې ته ويښو ويده ده يا له هغې خبرې را وروسته ويښو ويده ده هيڅ په ځان نه پوهيګي

**ويلي** لکه پ ناروغه غوندي ده چې ورځ وزې ويليګي يا په هغه چاره يا خبره باره کې ويليګي يا پ چې ويلي غوړي شي د پ خوله کې ورتويه شي له پامه به يې ښه نه شي بد يې ايسي يا ځان ويلي غوړي کړه د پ په خوله کې يې ورتويه کړه.

**وينه** لکه په دين ناموس او وطن خلك وينه تويه وي يا په دې شي د پ وينه تويه شوي ده يا دې چارې يا پ مې د زړه وينه خولې ته راويستلې ده يا چې دا چاره کوي د زړه وينه به د خولې پورې راشي يا دا چې وايي وينه ژاړي که مينه ؟ وايي وينه ګواکې که پردي هر څو مينه در سره ولري بيا به هم دومره در باندې ونه خوګيګي لکه څومره چې خپلوان در باندې خوګيګي.

**ويږ** وايي پ ته درون غم ور پيښ شو ده ويږ هم ونه کړه يا پ د چا په غم ويږ هم نه کوي يا دا د ښه نيت خيره چې وايي د خپل او پردي يو ويږ ده

# هـ

**ها هو** : لکه په بزار کې داسې پيښه شوي وه د خلکو ها هو وو يا د پ په کور کې د کراڅيو ها هو وي يا د پ او پ تل سره جنګ وي سره ها هو يې وي يا په پ پسې لګ ورو تور وکه ها هو پسې وکړه نور په خپلو غبرګو ځي

**هبته** : مني مړاوي لکه پ ناروغه ده ډېر هبته مړاوي ښکاري يا فصل يا مال هبته ده يا پ په هغه چاره يا خبره ډېر هبته شو يا د پ له لاسه هبته شو

**هډوکي ځيګه کيدل** وايي ودار شوم هډوکي مي ځيګه شول يا له پلانـي ښځي يا پ سري څخه مي هډوکي ځيګه شو يا له دي چاري يا خبري څخه مي هډوکي ځيګه شوه يا دا چې پ ته په غوسه شوم هډوکي مي ورته ځيګه شوه

**هډوګوډ** وايي پ او پ سره خپل دي سره هډوګوډ دي يا دا کنځا (زياره) چې هړو ګوډ د داسې کړم يا دا ښيرا چې وايي هډو ګوډ د ورك شه.

**هډماتي** وايي هغه قوم او هغه قوم سره هډ ماتي دي يا قومونه سره هډ ماتي مه کړي يا پ خنګر وکړ قومونه يې سره هډ ماتي کړه.

**هر جائز** وايي پ هر جائز سړي يا ښځه ده په هر ځاي کې يا له هر چا سره ناست ولاړ کوي يا هر ځاي اوسيګي هر جائز ده.

**هرجل** لکه د دوکـان غنم هرجل دي ځکه له هري چولي يا هره کوره راخي يا پ هرجل وغيده هرجلي خبري يې وکړي يا پ هرجل سړي يا هر جله ښځه ده ګواري اخلاقي ميچ يې نيمکله ده

**همخولي** لکه پ او پ سره همخولي دي يني په يوه منان سره پيدا دي

همسنګ : لکه پ د پ همسنګ ده په زور کې يې همسنګ ده په دولت کې يې همسنګ ده په خواب او اړو کې يې همسنګ ده يا يې په ورکړه يا سخا کې همسنګ ده.

همغاړي : لکه پ او پ سره خيښان شوه سره همغاړي شوه يا سره بد شوه سره همغاړي شو يا په دي چاره يا خبره کې سره همغاړي شوه يا په هغه باره سره همغاړي دي يا پ له پ سره په هغه باره ځان همغاړي کوي.

هنډ : وايي په خوړو مې څکه نده کړي هنډ مي نده وهلي يا څو ورځې په هنډ را څخه ونه وهي.

هوا ګزول : وايي پ دروغ وايي هسي خوسي ګډ ده هواګزوي يا پ وغګيده زيات يې وويل هوايي ګز کړه يا په هغه باره کې هوا ګزوي.

هوس : لکه پ بدي ته هوس کاوو يا هغي چاري يا خبري ته هوس کوي يا يې په زړه کې ډېر هوس ده يا پ پ ته په هوس ورته.

هوس ورت ښکاريدل : وايي په ته هغه کار يا هغه کړه هوس ښکاريده يا بدي چې لمړي هوس درته ښکاريده اوس يې کوه يا دا چارهٔ هوس مه درته ښکاره وه.

هول : لکه پ د دونيا و دولت په ګټلو کې هول کوي يا هغي خبري يا چاري ته هول اخيستي ده يا په هغه کار کې هول کوي.

هيبت : لکه د پ ښه زوي يا ورور مړ وو هيڅا هيبت ور سره ونه کړ يا مالي تاوان ورته رسيدلي وو چا هيبت ور سره ونه کړ يا پ خپلې ورکې ويراني راته وويل هيبت يې راته وکړ يا پ د خپل ځان په هيبت کې وو يا د خپل ځان هيبت اخيستي وه.

هيځ بي هيځه : وايي پ هيځ بي هيځه بد رد راته وويل.

هيله : وايي پ پ ته په هغه باره کې يوه هيله جوړوي يا د هغه مال و دولت ته هيله جوړوي په هغه هيله يې تري خوري.

هيله ګرکي : وايي پ هيله ګر ده هر چا ته هيله ګر کې هيله ګر کې کيګي يا هغي خبري يا چاري ته هيله ګر کي ده.

هي توبه : لکه پ دا کار کړي ده اوس پې هي توبه ده چې دا کار بيخي بيلکول ما کړي نده يا په هغه خبره هي توبه ده يا په هغه شي هي توبه ده.

# ي

یاد : وايي پ یاد سړی ده، وشوه هر څوك يې پېژني مشهور ده.

یاغي ګړ : لکه دا پورته سیمه یاغي ګړه ده یا پ یاغي ګړ جوړ کړی.

یخ په اوبو پورې کول : وايي پ په خپلو خوړو اوبو خان نه مروي یخ په اوبو پورې کوي یا يې شته ډېر وسپمول یخ يې په اوبو پورې کړ.

یری : لکه پ او پ تولو ورخ يری نانديري سره وهي، یا پلاني ښځه تولـه ورځ له کليوالو ښځو سره يري وهي یا د هغې يرۍ ادت دی.

یغ : وايي هر ځای پ د پ مخې ته یغ ولاړ دی یا پ ډېر بې حيا يغ انسان ده، سترګې يې کته پورته نه کيګي ډېر یغ ده.

یغك : وايي د پ یغکه خواني ده یا یغك و.

یلغوز : لکه پ واده نه ده کړی، کور يې نه ده آباد کړی، لوند ده یا لغوز ده یا د پ زوی لاتر اوسه پورې يلغوز ګرځي

ینګ : دا تکی کټ مټ کله کله د ضد یا خپل ځای نيسي، لکه هغوی دا چاره داسې کوله، ولې پلانی ينګ کړی و، چې نه داسې کوم، هغه خپل ينګ سرته رساوه، یا زه خپل ينګ سرته رسوم، یا د مزدك د جوړولو ينګ يې کړی و، یا سیاسي هوډ منده او غبر یا ينګ سرته رسوي، ينګ یو پراخه تکی ده.

ینجه : لکه په پ کې دومره ینجه نه شته چې له دوښمن سره دوښمني وکړي، یا پ بدې بدې خبرې ورته کولې، په ده کې دومره ينجه نه وه چې ځواب يې کړی وای، یا د هغې خبرې یا چارې په اړوند په هغه کې ينجه نه شته.

ینه : وايي پ د پ ينه خوړلې ده، یا هغه چارو د پ ينه خوړلې ده یا دا چې ويلې يې دي، وايي کمکۍ ينه مې يې خوړلې ده ستړي ينې ته مې يې اوس لاړ (خوله) کړې ده

ینه کېږدل : لکه پ ته د پ ینه کېږگي. یا دې خبرې ته د پ ینه کېږګي یا هغه چارې ته د پ ینه کېږګي یا خوړو ته د پ ینه کېږګي.

یو بډوډی : وایي د پ له ډېره غیرته یو بډوډی شته یو یې نه شته یا ته کله دومره غیرتي یې چې یو بډوډی دې له غیرته نه شته

یو په بل پسې نه روانېدل : لومړی دا ښېرا چې وایي یو د بل پسې مه شه روان یا دا قوم ډېر (ځښته) بې انتیپاخه ده یو په بل پسې نه دی روان.

یو چك : وایي پ یو چك کړی ده، چې داسې نه کوم یا بې په هغه باره کې یو چك وکه.

یو ستوی : لکه رخت یا بل شی یوه ستوی ده، یا پ د مېړو له پلوه یو ستوی ده، یا پ یوه ستوی مه ګڼئ (بولئ) تربرونه یې ډېر دي یا په هغه باره کې یوه ستوي ده ملګري نه لري.

یو غر بل غره سره ویستل : وایي پ هسې غورې کوي وایي دا به وکړم ها به وکړم، یو غر او بل غر سره ولي یا پ په هغه باره کې یو غر و بل غر سره وویسته.

یو غوګ بل غوګ : لکه پ ته دا پېښه ور وشوه، خو یو غوګ بل غوګ یې په خان خبر نه کړ، یا په هغه خبره چې یو غوګ او بل غوګ درشکه خبر نه شي. یا په هغه باره کې دا هڅه کوي چې یو غوګ بل غوګ پرې خبر نه شي.

یو غوګ لاندې بل باندې (بندې) وایي پ په هغې چارې یا هغې خبرې یو غوګ لاندې بل باندې بې غمه پروت ده یا په هغه بېلبره کې یو غوګ در لاندې بل درباندې کړه کرار څمله

یو لاس وړاندې بل بېرته نیول : وایي پ یو لاس وړاندې بل بېرته نیولی ده وایي چې نه مې چا ته ور ولاړ شي او نه د چا را ولاړ شي. منې چې نه له چا سره بد وکړه او نه څوك بد راسره وکړي یا دا چې یو لاس وړاندې بل بېرته وبیسه اوس د دې منان ده چې پ په هغه باره کې یو لاس وړاندې بل بېرته نیولی ده.

یو لوریز : لکه دا تنی یو لوریز ده یا د پ ټول کارونه یو لوریز دي یا د پ خبرې یو لوریزې دي یو لوزیز وغږېده یا پ په هغه باره کې یو لوریز کړي

یو له بله بې : وایي دا شیان یو له بله بې دي یا پ او پ یو له بله بې دي یا یو له بله بې خان بې بولي

یو له بله تېر : وایی دا شیونه یو له بله تېر دي یا دا وګړي کلیوال یو له بله تېر دي منې یو له بله ښه دي



ACKU

یو له موره بل له میرې : وایي چې څوک (دوی) یو له موره بل له میرې کړي وي چې یې له موره چې یې له میرې کړی دی.

یو بوټی غوښه : لکه چې زوړ ده یوه بوټی غوښه ده یا په لاسو یا پښو نیمګړی ده یوه بوټی غوښه ده، یا چې خواري بدرنګي نه کوي یوه بوټی غوښه دی یې له خانه جوړه ده یا چې ته چې یوه بوټی غوښه ښکاري حوړلو ته یې تیار ناست ده وایي چې لکه به یې خولې ته کوم.

یوه خولګی یوه ګوتګی : وایي چې یوه خولګی یوه ګوټی ده په کور کې نور خوراك نه لري یا په کور کې یې ګنه خور نه شته.

یوه څو : لکه یو څو کسان دلته راغله یا چې څو خایه وزونه وشوله یا چې یوه څو خبرې وکړې

یوه خری : وایي چې سړي نه لري یوه خري ده یا دي چارې ته یوه خري ده، ملګري نه لري یا په هغه باره کې یوه خري ده

یوه دوې : لکه بېګاه د شي یوه دوه وزونه وول یا خلك وروسته وړاندې یو یو دوه راغلل یا یوه دوې چارې

یوه هګی : وایي چې تولـه دنیا و دولت یوه هګی کړه په دیوال یې وویسته یا څه یوه هګی کړه له هغه امله یا په هغه باره کې یې په دیوال وولـه

PROPERTY OF ACKU 6970



